په پښتو ژبه د نورالإیضاح آسانه او جامع شرحه

فتح الإیضاح

پښتو شرح

نور الإیضاح

① لومړی ټوک

کتاب الطهارة- باب إدراك الفریضة

تألیف و ترتیب:

مولوی حبیب الرحمن مدني
فاضل وفاق المدارس العربیه
مولوي محمّدصادق کامران
فاضل جامعه محمّدیه کوئټه

صداقت کتبخانه

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت

تمام فنون

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

په پښتو ژبه د **نورالإيضاح** آسانه او جامع شرح

فتح الإيضاح

پښتو شرح

نور الإيضاح

لومړی ټوک

کتاب الطهارة - باب إدراك الفريضة

تأليف او ترتيب:

مولوی حبيب الرحمن مدني

فاضل وفاق المدارس العربيه

مولوي محمّدصادق کامران

فاضل جامعه محمّديه

بسم الله الرحمن الرحيم

فتح الإيضاح پښتو شرح نور الإيضاح (لومړی ټوک)

تالیف او ترتیب: مولوي حبیب الرحمن مدني او مولوي محمد صادق کامران

خپرندوی: صداقت کتب خانه

چاپ کال: ۱٤۰۰ش - ۲۰۲۲ م.

د خپرونو لړ: ۳۹۹

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت کتب خانه

اوله ناحیه، نوی سړک - کریم اعتماد مارکېټ - کندهار

☎ ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷ / Sadaqat.books@gmail.com ✉

کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه- ارګ بازار- قلم او کتاب مارکېټ **هلمند** :تاج منور خپرندویه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه ګدام. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د دې کتاب ټول حقوق په خپرندوی پوره لري؛

بسم الله الرحمن الرحیم

د پیل خبري

رسول الله ﷺ فرمایلي دي "مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ" چې الله تعالیٰ د کوم چا د خیر اراده وکړي او د خیر فیصله یې وکړي، هغه ته د دین فهم (پوهه) ور نصیب کړي، هغه ته د "فِقْه فِي الدِّيْنِ" علم ورکړي، علمُ الفقه د اسلامي تعلیماتو عطر دی او د اسلامي ژوند رهبر او لار ښوود دی، همدا وجه ده چې د علمُ الفقه و طرف ته خاص پاملرنه سوې ده، د دیني مدرسو په نصاب کې د هغه اهمیت او ارزښت بیان ته محتاج نه دی، د فقه د نصابي کتابونو په سلسله کې یوه کړۍ د ابو الاخلاص حسن بن عمار وفائي شرنبلالي رَحِمَهُ الله تصنیف نور الایضاح دی، دا کتاب خاص د عباداتو، طهارت، صلاة، زکاة او حج پر احکامو مشتمل دی. په دې کتاب کې د جزئیاتو او صرف د صحیح، راجح او مفتیٰ بهٖ مسائلو د ذکر کولو خاص خیال ساتل سوی دی.

نور الایضاح له مقبوله کتابونو څخه شمېرل کیږي او د دې مقبولیت له دې څخه اندازه کېدلای سي چې له ډېري مودې څخه د مدرسو په نصاب کې شامل دی او زیات شروح یې لیکل سوي دي، په عربي ژبه کې د نور الایضاح تر ټولو جامع او مفصّل شرح خپله د مصنف رَحِمَهُ الله له قلم څخه مراقی الفلاح ده او په مراقی الفلاح باندي د علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله حاشیې "حاشیة الطحطاوي" نور مقبولیت او ښکلا ور بخښلې ده، په پښتو ژبه کې هم د دې کتاب څو شروحات لیکل سوي دي او هره شرح ځان ته حیثیت لري. خو له هغوی څخه په انفرادي توګه په جلا طرز د عصري خصوصیاتو مطابق په آسانه پښتو ډیر جامع شرحي لیکلو ضرورت محسوس سو چې د هغه غوښتنه صداقت کتب خانې والا "قاري محمد اسماعیل صاحب" له بنده "مولوي حبیب الرحمن مدني" او "مولوي محمد صادق کامران"

څخه وکړه. نو موږ هم د هغه غوښتني ته لبيک ووايه او تر ډيرو هڅو وروسته مو د "فَتْحُ الْإِيْضَاح" په نامه د دې کتاب يوه جامع شرح وليکله او پوره کوښښ مو دا وو چي د کتاب هر عبارت په پوره توګه حل سي او د طالبانو لپاره آساني پيدا سي.

او زياتره استفاده مو له ① "انوار الايضاح" ② او "شفاء الارواح" څخه وکړه (چي دا کتاب زياتره له همدې دوو اردو شروحو څخه اخيستل سوی دی) او د دې تر څنګ مو له ③ ثمرة النجاح، ④ عون الفتاح. ⑤ نور الإصباح او داسي نورو شروحو څخه هم استفاده وکړه او په دې کي چي کومو شروحو له نورو کتابونو څخه اخذ کړی وو، د دوی د صراحت مطابق مو د هغه حوالې هم وليکلې چي په اعتماد کي اضافه وي او د علماؤ او طلباؤ لپاره په مراجعت کي آساني وي.

له لوستونکو حضراتو څخه دا خواست دی چي په کوم ځای کي څه غلطي او تېروته محسوس کړي، نو د هغه اطلاع دي د خپروونکي ادارې "صداقت کتب خانې" په واسطه سره موږ ته حتماً راکړي چي په آينده چاپ کي يې اصلاح وسي. په آخر کي له رب تعالیٰ څخه سوال کوو چي په دې کي موږ ته اخلاص رانصيب کړي او په خپل فضل سره يې مقبول وګرځوي او زموږ لپاره يې د اُخروي نجات او د رضاءِ الهي د حصول ذريعه وګرځوي "آمين يا رب العالمين".

حبيب الرحمن "مدنی"

......*

﴿ د فتح الايضاح خصوصيات ﴾

(۱)... د عربي عبارت د هري جملې تر څنګ آسانه ژباړه، او په کوم ځای کي چي جمله او عبارت مشکل وي، نو په قوسينو کي په آسانه الفاظو سره د هغه وضاحت.

(۲)... هري مسئلې ته نمبر (رقم) ورکړل سوی دی، او په دې توګه له کتابُ الطهارة څخه تر کتابُ الحج پوري په ټوله کتاب کي (۱۴۸۲) ارقام په وجود کي راغلي دي، لهذا داويل کېدلای سي چي په نُور الايضاح کي (۱۴۸۲) مسائل دي، خو بعضي وخت مو داسي هم کړي دي چي يوه اوږده مسئله وي او تر هغه لاندي څو نور ضمني مسائل هم وي، نو کله مو هغه ضمني مسائلو ته جلا نمبر ورکړی وي او په بعضي ځايو کي مو جلا کول ضروري نه وي ګڼلی، بلکي ټوله مو د هغه يوې مسئلې په ضمن کي په يوه نمبر سره مرقّم کړي وي.

(۳)... د عربي عبارت بشپړ د هر حرف اعراب، په پوره تحقيق او تدقيق سره.

(۴)... د لغاتو پوره، کافي حلّ او د هغوی صرفي تحقيق.

(۵)... د هري مسئلې تشريح او بشپړ وضاحت.

(۶)... د عنواناتو اضافه.

(۷)... د ضروري مسئلو اضافه، په بعضي عباراتو کي د مسئلې تر تشريح وروسته د هغه عبارت سره مناسبه مسئلې هم اضافه کړل سوي وي، د دې لپاره چي د عبارت د مسئلې تر څنګ په نورو مسئلو باندي هم علم راسي، هلته مو تر تشريح وروسته دا نښه ليکلې وي:

(❀❀❀)

مُقَدِّمَه

مبادیات (بنیادي خبري)

د هر فن او کتاب تر شروع کولو مخکي د هغه فن یو څو شیان پېژندل ضروري دي، د دې لپاره چي د هغه فن او کتاب سره مناسبت پیدا سي، لکه څرنګه چي خطیب تر بیان کولو مخکي د شروع (سریز) کلمات وایي، د دې لپاره چي مناسبت پیدا سي (ماحول جوړ سي)، همدې مبادیاتو ته مقدمه ویل کیږي. په پخوا زمانه کي چي به کله لښکر یو خوا ته روانېدی، نو د هغه له روانتیا څخه مخکي به یوه کوچنۍ ټولۍ (ډله) د دې مقصد لپاره (مخکي) روانه کړل سوه چي هغوی مخ ته ولاړ سي او د لښکر د پړاؤ کولو او د داسي نورو ضروریاتو او سهولیاتو لپاره انتظام وکړي، دغه ټولۍ (ډلي) ته مقدمة الجیش ویل کېده، نو مقدمة الکتاب د کتاب هغه ابتدائي حصه سوه کوم چي د اصل کتاب تر شروع کولو مخکي د کتاب د وضاحت او مقصد په هکله ولیکل سي.

څرنګه چي دا کتاب د فقهي دي، نو د دې تر شروع کولو مخکي هم د څو شیانو پېژندل ضروري دي: ① د فقهي تعریف، ② موضوع، ③ غرض او هدف، ④ د دې فن حکم، ⑤ د مصنف ژوندلیک.

د دې شیانو پېژندل ولې ضروري دي؟: ① د تعریف پېژندل ځکه ضروري دي چي طلب د مجهول مطلق رانه سي، ځکه د نامعلومه شي طلب کول عبث او بې فایدې کار دی. ② د موضوع پېژندل ځکه ضروري دي چي د دې فن مسئلې له بل فن څخه علیحده او جلا کړل سي. ③ د غرض پېژندل ځکه ضروري دي چي طلب د عبث شي رانه سي، یعني د لوستونکي لپاره د فن د هدف معلومېدل ځکه ضروري دي چي د عبث او بې فایدې شي طلب کونکی نه سي. ④ د مصنف د ژوندلیک پېژندل ځکه ضروري دي، چي د هغه د علمي ژوند او علمي مقام په پېژندلو سره د هغه د تصنیف علمي مقام معلوم سي.

د فقهي لغوي تعریف: فقه مصدر دی، له کَرُمَ او سَمِعَ دواړو بابونو څخه راځي، کله چي له سَمِعَ څخه راسي، یعني فَقِهَ یَفْقَهُ فِقْهًا، نو معنیٰ یې ده: العلم بالشئ، په یو شي پوهېدل، پېژندل. یا په بله وینا "پوهه" او "یو شی څرګندول، واضح کول". او کله چي له کَرُمَ څخه راسي، یعني فَقُهَ یَفْقُهُ فَقَاهَةً، نو معنیٰ یې ده: فقیه او عالم کېدل، هوښیار کېدل. فَقِیْه هغه پوه او زیرک عالم ته وایي چي شرعي احکام واضح کوي، او د هغوی حقیقت او پېچلي مسئلې په ښکاره توګه بیانوي.

د فقهي اصطلاحي تعريف: د شريعت په اصطلاح کي د فقهي تعريف دا دی: « هُوَ الْعِلْمُ بِالْأَحْكَامِ الشَّرْعِيَّةِ الْفَرْعِيَّةِ الْمُكْتَسَبُ مِنْ أَدِلَّتِهَا التَّفْصِيلِيَّةِ ». (يعني په تفصيلي دلائلو سره شرعي فرعي حکمونه معلومول. يا په بله وينا: فقه د شرعي و فرعي احکامو هغه علم ته وايي کوم چي د دې شرعي و فرعي احکامو په تفصيلي دلائلو سره حاصل کړل سي. د کومو احکامو تعلق چي د عمل سره وي، هغه ته فرعي احکام وايي او د کومو تعلق چي د عقيدې سره وي، هغه ته شرعي او اصلي احکام وايي).

تفصيلي دلائل: تفصيلي دلائل يا په بله وينا د شرعي احکامو د ثبوت دلائل څلور دي: ① قرآن، ② سنت، ③ اجماع، ④ قياس. هر شرعي حکم به حتماً په دې کي په يوه دليل سره ثابتيږي. يعني دا انسان د يو عمل په هکله دا حکم چي هغه حرام دی، يا مکروه دی، يا مباح دی، يا فرض دی، يا واجب دی، يا سنت دی، دا ټوله به يا په قرآنِ کريم سره ثابتيږي، يا په سنت (يعني په حديثو) سره، يا په اجماع او قياس سره، له دې څخه پرته د شرعي حکم ثابتولو بله هيڅ ذريعه نسته.

أدلتها التفصيلية: يعني فقه هغه علم دی چي په هغه کي دا حکامو تفصيلي دلائل هم معلوم کړل سي (د تفصيلي دلائلو وضاحت پورته وسو)، مثلاً يو څوک ووايي چي حج فرض دی، نو دليل به يې هم ورته معلوم وي چي دا آيت دی: ﴿ وأتموا الحج والعمرة لله [البقرة: ۱۹۶] ﴾. يا مثلاً دا مسئله بيان کړي چي لمونځ او زکاة فرض دی، نو دا به هم ور ته معلومه وي چي دليل يې دا آيت دی: ﴿ أقيموا الصلوة و آتوا الزكوة واركعوا مع الراكعين [البقرة: ۴۳] ﴾. لنډه دا چي دا انسان د اعمالو پر هره جزئيه د حِلت، حُرمت، کراهت او د وجوب حکم لګولو او د هر يوه دليل بيانولو ته علمِ فقه ويل کيږي.

له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه روايت دی چي د حلال و حرام او د جائز و ناجائز د پېژندلو نوم فقه دی، او د صوفياؤ په نېز د علم او عمل د مجموعې نوم فقه دی.

د فقهي موضوع: « فِعْلُ الْمُكَلَّفِ ثُبُوتًا أَوْ سَلْبًا ». (يعني د مُکلف انسان له فعل او عمل څخه دا بحث کول چي: ① دا فرض دی، ② واجب دی، ② سنت مؤکده او غير مؤکده دی، ③ نفل او مستحب دی، ④ يا حرام دی، ⑤ يا مکروه تحريمي او مکروهِ تنزيهي دی، ⑥ يا مباح دی؛ د مُکلف انسان د يو عمل په هکله دا حکمونه کول د فقهي موضوع ده).

د مُکلف په قيد يې له نابالغه کوچني او مجنون څخه احتراز وکړی. ځکه په شريعت او فقه کي د دوی پر اعمالو نه يو حکم کول کيږي او نه له دوی څخه بحث کيږي. فقط د مُکلف انسان له اعمالو څخه بحث کيږي.

د فقهي غرض او هدف: « الْفَوْزُ بِسَعَادَةِ الدَّارَيْنِ ». (يعني د فقهي د زده کولو غرض او هدف دا دی چي د دې په ذريعه د دنيا او آخرت کاميابي او نېکبختي ترلاسه کړل سي). د دنيا کاميابي خو دا ده

چي فقیه د خدای مخلوق ته دیني فایده رسوي، چي د هغه په وجه به د احترام او عزت مقام ترلاسه کړي، او د آخرت کامیابي او نېک بختي ښکاره ده چي له حرامو کارونو څخه د ځان ساتلو او پر مأموراتو د عمل کولو په وجه به په آخرت کي شفاعت او جنت حاصل کړي او د خپل پروردګار په مقدس دیدار سره به مُشرّف سي.

د فقهي حکم: د فقهي زده کول فرضِ عین هم دي او فرضِ کفایي هم دي.

په فقه کي دومره معلومات حاصلول فرض عین دي چي په دین کي هغه ته ضرورت او احتیاج پېښېږي (مثلاً د طهارت مسئلې، د لمانځه مسئلې او داسي نور)، او تر خپل ضرورت زیات د نورو خلګو د نفعي او فایدې لپاره علم حاصلول فرض کفایي دي یعني چي نور خلک هم پر مأموراتو عمل وکړي او له محرماتو څخه ځان وساتي. او په بشپړه توګه د فقهي د ټولو أنواعو زده کړه یعني د ټولو عباداتو او معاملاتو علم حاصلول مستحب دي.

همدارنګه پر هر انسان د خپلي شعبې او ځانګي سره د اړوند احکامو زده کړه هم ضروري ده، مثلاً پر تاجر کس د کاروبار سره د اړوند مسئلو زده کړه ضروري ده، د دې لپاره چي په دې شعبه کي له محرماتو او منهیاتو څخه وژغورل سي، له دې مسئلو څخه چاره نسته او د دې حاصلول ضروري دي؛ ځکه له دې څخه بغیر خو یو مسلمان د اسلام مطابق نه خپلي ذمه واریاني اداء کولای سي او نه خپل حقوق حاصلولای سي: نو ځکه پر هر مسلمان لازم دي چي هغه له ضروري دیني مسائلو څخه غافل نه سي.

په بعضي کتابو کي د فن د مأخذ پېژندل هم ضروري کڼل سوي دي کوم چي له تعریف څخه خپله معلومېږي، نو د فقهي مأخذ کتاب، سنت، اجماع او قیاس دي.

د "نور الایضاح" د مصنف لنډ ژوند لیک

نوم او نسب: د نور الایضاح د مصنف نوم حسن دی، کنیت يې ابو الاخلاص دی، د پلار نوم يې عمّار دی او د نیکه نوم يې علي دی، په وفائي سره مشهوره دی.

د پیدایښت ځای او نسبته: دغه عظیم فقیه په سنه ۹۹۴ھ کي په "شبرابلوله" کي دې نړۍ ته سترګي پرانیستلې، "شبرابلوله" د مصر د صحرا په علاقو کي د یو علاقې نوم دی، د همدې وطرف ته په نسبت کولو سره مصنف رَحِمَهُ الله ته شرنبلالي ویل کیږي، خلافُ القیاس؛ ځکه د قیاس په اعتبار سره شبرابلولی کېدل پکار دي.

تحصیل: مصنف رَحِمَهُ الله فقط د شپږو کالو وو چي پلار محترم هغه د تعلیم لپاره مصر ته راوستی، همدلته يې قرآن شریف حفظ کړی او د خپل وخت د غوره علماؤ لکه د شیخ محمد حَمَوِی، شیخ عبد الرحمن المَیسری، امام عبد الله نحریري، شیخ الاسلام نور الدین او داسي نورو سره يې علم حاصل کړی او له دې څخه بغیر نور هم له ډېرو علماؤ څخه يې کافي استفاده وکړه.

فضل وکمال: دنور الايضاح دمصنف رَحِمَهُ الله فقهي مقام خو مُسلم دی، د دې ترڅنګ د خپل وخت په نامتو محدثينو کي د ده شمار وو، له دې څخه بغيرېې په نورو علومو او فنونو کي هم مهارت تامه درلوده، خصوصاً په فتاویٰ کي د ځانګړي شان مالک او مرجعُ الخلائق وو.يوه ډېره موده يې د مصر په لويه علمي درسګاه "جامعه ازهر" کي تدريس کوی.

د ده د شاګردانو فهرست ډېر اوږدی چي له هغوی څخه ځيني دا دي: ① علامه احمد عجمي. کوم چي د شافعي مسلک له سترو علماؤ څخه وو، ② سيدُ السند احمد الحموي. کوم چي په مختلفه علومو کي يې بېلا بېل تصانيف کړي دي، ③ شيخ شاهين الازمناوی. کوم چي د قاهرې ستر فقيه او د متونِ کثيره مثلا د کنز، شاطبيه، الرحبيه او داسي نورو حافظ وو.

وفات (مړينه): په سنه ۱۰۶۹ھ کي په ۱۱/ د رمضانُ المبارک د جمعې مبارکي په ورځ د مازيګر تر لمانځه وروسته يې د ۷۵ کالو په عمر کي داجل پېغام ته لبيک ووايی او له دې فاني نړی څخه يې د تل لپاره سترګي پټي کړې.

مصنف رَحِمَهُ الله د سترو علماؤ په نظر کي: علامه محمد امين المحبي رَحِمَهُ الله د مصنف رَحِمَهُ الله په شان کي ليکي:

"دئ د زمانې محقق او د فضلاؤ سردار وو، په فقهي ملکه کي احسنُ المتأخرين وو، په فقهي قواعدو او نصوصو زيات عالم وو".

شيخ علامه محمد المحبي رَحِمَهُ الله د مصنف رَحِمَهُ الله په هکله ليکي: که چيري صاحب د سراجُ الوهاج دئ (يعني مصنف رَحِمَهُ الله) ليدلي وای، نو ده له نور (علم) څخه به يې اکتساب کولای. يا که صاحب د ظهيريه ليدلي وای، نو د ده د ښکاره کېدو په وخت کي به پټېدلای. دئ غوره اخلاقو والا او د فصيح ژبې مالک وو، د زمانې په غوره علماؤ کي د ده شمار وو. دئ د نېکانو او مجذوبانو معتقد وو. او د دوی له طرفه به ده ته د بعضي حالاتو او واقعاتو (غيبي) اشارې هم ورکول کېدې، لکه څرنګه چي ويل سوي دي چي يوه صالح ده ته وويل: اې حسن! له نن څخه وروسته ته د خپل ځان او د خپل اهل وعيال لپاره کپړې (جامې) مه رانيسه!، نو له هاغه ورځې څخه به ده ته غوره کپړې راتللې او تر هغه وروسته يا هيڅکله کپړې رانيولو ته محتاج نه سو.

تصنيفات وتاليفات: د علامه شرنبلالي رَحِمَهُ الله تصنيفات، تأليفات، رسائل او کتابونه کوچني او لوی ټوله له اويا (۷۰) څخه هم زيات دي، اکثر په دوی کي پر فقه او فتویٰ مشتمل دي، د اکثرو نومان او سنه د تأليف په "ثمرة النجاج" او "ظفر المحصلين" کي مذکوره دي، خو په دوی کي "حاشيهٔ دُرَر و غُرَر" او "نور الايضاح و نجاةُ الارواح" تر ټولو اعلیٰ و ارفع، معروف و مقبول دي، "امدادُ الفتاح"

هم غوره كتاب دی خو نايابه دی، "حاشيهٔ دُرر وغُرر" ډېره مقبوله حاشيه ده. غُرر الاحكام (د ملا خسرو محمد بن علي رَحِمَهُ الله) مشهوره متن دی، خپله مصنف رَحِمَهُ الله د "دُرر الحكام فی شرح غُرر الاحكام" په نامه سره د دې شرح ليكلې ده كوم چې په دوو جلدونو كې مطبوعه ده. علامه شرنبلالي رَحِمَهُ الله پر همدې متن دا حاشيه وليكله كوم چې د ده په ژوند كې يې غيرِ معمولي شهرت ترلاسه كړی، او پاته سو نور الايضاح. نو هغه په فقه كې داسې امتيازي شان او مقبوليت ترلاسه كړی چې تر اوسه د مدارسو په نصاب كې داخل دی. مصنف رَحِمَهُ الله دا اولاً تر كتابُ الاِعتكاف پوري وليكی چې له هغه څخه په ۲۴ د جمادی الأولی په سنه ۱۰۳۲ هـ كې د جمعې په ورځ فارغ سو. تر هغه وروسته يې مسائل زكاة او مسائل حج هم ور سره يو ځای كړل او په دې توګه يې عبادات خمسه پوره كړل.

د علمُ الفقه فضيلتَ

تر تفسير، حديث او عقائدو وروسته تر ټولو غوره علم "علمُ الفقه" ده. لوی څښتن ﷻ فرمايي: «مَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا». [سورة البقرة: ۲۶۹]. (يعني چا ته چې پوهه او حكمت وركړای سو. په تحقيق سره هغه ته ډېر خير وركول سو)، ځينې مفسرينو د "حكمت" تفسير په علمُ الشرائع سره كړی دی، او له علمُ الشرائع څخه مراد همدا د فقهي علم دی.

نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: «مَنْ يُّرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ»، (ترمذي شريف. باب إذا أراد الله بعبد خيرا.... حديث شمېره: ۲۶۴۵). (چا ته چې الله ﷻ د خير اراده ولري، نو هغه ته د دين پوهه ور نصيب كړي)، له دې حديث څخه معلومه سوه چې د كوم بنده په باره كې لوی څښتن ﷻ د خير فيصله وكړي، هغه ته د "فِقْه فِي الدِّيْن" علم وركوي.

په بل حديث كې ذكر سوي دي: «فَقِيْهٌ وَاحِدٌ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ»، (ترمذي شريف. باب ماجاء في فضل الفقه.... حديث شمېره، ۲۶۸۱)، (يو فقيه عالم پر شيطان تر زرو بزرګانو هم بوج او سخت دی).
لهذا فقه زده كول او پر هغه عمل كول ډېر د فضيلت مقام لري.
يو شاعر د فقهي په تعريف كې ويلي دي:

① إِذَا مَا اعْتَزَّ ذُوْ عِلْمٍ بِعِلْمٍ فَعِلْمُ الْفِقْهِ أَوْلٰى بِاعْتِزَازٍ
② فَكَمْ طِيْبٍ تَفُوْحُ وَلَا كَمِسْكٍ وَكَمْ طَيْرٍ يَطِيْرُ وَلَا كَبَازٍ

ژباړه: ① كله چې يو عالم په خپل علم سره وياړ كوي؛ نو د وياړ او فخر وړ د فقهي علم دی.
② څكه څومره خوشبويانې پورته كېږي، خو يوه خوشبويي هم د مُشكو په څېر نه ده؛ او څومره مارغان الوزي، خو يو هم د باز په څېر نه دی.

یعني د نورو علمونو په مقابله کي علمُ الفقه داسي فضیلت لري، څرنګه چي مُشک د نورو عطرونو په مقابله کي او باز د نورو مارغانو په مقابله کي فضیلت لري.

او بل شاعر ویلي دي:

① وَ خَیْرُ عُلُوْمٍ عِلْمُ فِقْهٍ لِأَنَّهُ   یَکُوْنُ إِلٰی کُلِّ الْمَعَالِيْ تَوَسُّلًا
② فَإِنَّ فَقِیْهًا وَاحِدًا مُتَوَرِّعًا   عَلٰی أَلْفِ ذِيْ زُهْدٍ تَفَضَّلَ وَاعْتَلَا

ژباړه: ① له ټولو علمونو څخه غوره علمُ الفقه دی، چي هغه د لوړو رُتبو وسیله ده

② همدا وجه ده چي یو پرهېزګاره فقیه پر زرو زاهدانو فضیلت لري.

حضرت علي کَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهٗ به د خپل تعلم او علم په هکله په وياړ سره ویل:

① رَضِیْنَا قِسْمَةَ الْجَبَّارِ فِیْنَا   لَنَا عِلْمٌ وَلِلْجُهَّالِ مَالٌ
② لِأَنَّ الْمَالَ یَفْنٰی عَنْ قَرِیْبٍ   وَإِنَّ الْعِلْمَ بَاقٍ لَا یَزَالُ

ژباړه: ① موږ د لوی څښتن ﷻ پر تقسیم راضي یو؛ چي موږ ته یې علم رانصیب کړی دی، او جاهلانو ته یې مال.

② ځکه چي مال به ډېر ژر فناء سي؛ او علم به تل تر تله پاته وي.

د علم فقه تدین (او د علم فقه مدون او باني)

که څه هم د اسلامي علومو پیل د اسلام سره یو ځای وسو او د نزولِ وحي له زماني څخه د عقائدو، حدیث، تفسیر او فقه تعلیم شروع سو، خو څرنګه چي په ځانګړي ترتیب او خاص طرز سره په اوله هجري سدۍ (پېړۍ) کي د "علم الفقه" تدوین نه دی سوی او نه هغه ته دیو ځانګړي فن حیثیت حاصل وو، نو ځکه په اوله پېړۍ کي دیو خاص کس وطرف ته د فقه تدوین نه منسوب کېږي، خاص همدغه حال د نورو علومو او فنونو هم دی.

لیکن کله چي په دویمه هجري پېړۍ کي تر ټولو مخکي امام اعظم ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰه (مولد سنه: ۸۰ھ. متوفی سنه: ۱۵۰ھ) په ځانګړي انداز او ترتیب سره تر أصولو او ضوابطو لاندي "فقه" مدوّنه کړه، او هغه ته یې د مستقل فن شکل ورکړی، نو ځکه هغوی ته د دغه اهم فن باني ویل کېږي.

لکه څرنګه چي حافظ جلالُ الدین سیوطي شافعي (متوفی سنه: ۹۱۱ھ) په خپل کتاب (تبییض الصحیفة بمناقب أبي حنیفة) کي له ځیني سترو علماؤ څخه رانقل کړي دي چي: "د امام صاحب له ځانګړي مناقبو څخه دا هم دي چي امام صاحب تر ټولو مخکي هغه کس دی چي د

شريعت علم يې سره راټول او مدون کړی او هغه ته يې د فقهي بابونو ترتيب ور کړی. بيا د هغه په اتباع کي امام مالک رَحِمَهُ الله (موطأ امام مالک) وليکی". (تبييض الصحيفة ص: ۳۶)

ښکاره دي وي چي له تدوينِ شريعت څخه مراد د شريعت مسائلو ته د فقهي بابونو ترتيب ور کول دي (يعني بابُ الطهارة، بابُ الصلاة، بابُ الصوم، بابُ الزكاة..... إلخ). چي د هغه دويم نوم "تدوينِ فقه" دی. همدارنګه د صحاح سته وو مشهور راوي او محدث نضر بن شميل فرمايلي دي چي: "خلک له علمِ فقه څخه غافل وو، د امام صاحب انقلابي حرکت دوی راويښ کړل".

له دې معتبرو روايتونو څخه ښکاره سوه چي د علم فقه باني او مدوّن امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله دی.

مشهور محدث د ترمذي راوي خلف بن ايوب رَحِمَهُ الله فرمايي چي: له الله تعالى څخه علم حضرت محمد ﷺ ته ورسېدی، نبي ﷺ صحابه وو ته ورسوی، صحابه وو تابعينو ته ورسوی. تر تابعينو وروسته امام ابو حنيفه او د هغه ملګرو ته ورسېدی. په دې خبره که څوک خوشحاله کيږي، او که ناراضه کيږي! (همدا خبره په معارف السنن ج: ۲، ص: ۲۶۱ کي هم ذکر سوې ده).

د فقه د تدوين يا په بله وينا د حنفي فقهي د سند نقشه داسي ښوول سوې ده: "اَلْفِقْهُ زَرَعَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ ﵁ وَ سَقَاهُ عَلْقَمَةُ وَحَصَدَهُ النَّخْعِيُّ وَ دَاسَهُ حَمَّادٌ وَ طَحَنَهُ أَبُوْحَنِيْفَةَ وَ عَجَنَهُ أَبُوْيُوْسُفَ وَ خَبَزَهُ مُحَمَّدٌ فَسَائِرُ النَّاسِ يَأْكُلُوْنَ مِنْ خُبْزِهٖ" يعني د فقهي کښت حضرت عبد الله ابن مسعود ﵁ وکړی (مطلب دا چي د اجتهاد طريقه له هغه څخه شروع سوه)، او حضرت علقمه بن قيس رَحِمَهُ الله دغه کښت ته اوبه ور کړې او اوبه يې کړی (يعني د هغه وضاحت او تشريح يې وکړه). ابراهيم نخعي رَحِمَهُ الله دا کښت ورېبی (يعني فوائد متفرقه يې جمع کړل). غوبل يې حماد بن ابی سليمان رَحِمَهُ الله وکړی (يعني هغه يې ښه منقح او مرتب کړی). او امام ابو حنيفه رَحِمَهُ الله ميده کړی او اوړه يې څني جوړه کړه (يعني امام صاحب رَحِمَهُ الله د دېرشو کالوو په موده کي د خپلو نامتو شاګرانو کوم چي د فن ماهرين وه چي شمېر يې څلوېښت وو. مثلاً امام ابو يوسف، امام محمد، امام زفر، داؤد طايي رحمهم الله او داسي نورو په ګډه تقريبا دوولس لکه نيوي زره مسئلې مستنبط کړې او د فقهي بابونو ترتيب يې ور کړی يعني باب الطهارة، باب الصلاة، باب الصوم...... الخ. په همدې وجه امام صاحب رحمه الله ته د فقهي مدوّن لقب ورکول کيږي). امام ابو يوسف يعقوب رَحِمَهُ الله دا اوړه خيشته کړل (يعني د امام صاحب رحمه الله په اصولو کي يې ښه غور وکړی او له هغه څخه يې فروعي مسائل مستنبط کړل). او امام محمد بن الحسن الشيباني رَحِمَهُ الله له دې څخه ډوډۍ پخې کړې او اوس يې ټوله خلک خوري (يعني هغه د امام صاحب رحمه الله مذهب ښه منقح او مهذب کړی او په قاعده سره يې کتابي شکل ورکړی او خلکو ته يې پېش کړی. تر دې چي بعضي علماء فرمايي چي نهه سوه نهه نيوي ۱۹۹۹ کتابونه يې تصنيف کړل).

د امام محمد رَحِمَهُ الله تصانیف په حنفي فقه کي اوله مرجع ګڼل کیږي. خو څرنګه چي ټوله کتابونه یې د استناد په اعتبار سره مساوي نه دي، نو ځکه علماؤ هغوی پر دوو قسمونو تقسیم کړي دي: اول قسم "کتب ظاهر الروایة" دي او هغه دا شپږ کتابونه دي. د فقهي حنفي اعتبار پر همدي کتابونو دی: ① المبسوط. ② الزیادات. ③ الجامع الصغیر. ④ الجامع الکبیر. ⑤ السیر الصغیر. ⑥ السیر الکبیر. دې ته أصول هم وایي او ظاهرُ الروایة ځکه ورته وایي چي دا له امام محمد رحمه الله څخه د تواتُر په توګه مروي دي. او دویم قسم "کتب غیر ظاهر الروایة" دي کوم چي د امام محمد رَحِمَهُ الله و طرف ته په منسوب کېدلو کي د اول قسم سره برابر نه دي. هغه دا دي: ① کیسانیات. ② هارونیات. ③ جرجانیات. ④ الرقیات. ⑤ زیادة الزیادات. دې ته "نوادر" هم وایي.

ځیني ضروري اصطلاحات

ائمه اربعه: کله چي د فقهي په کتابو کي دا لفظ ذکر سي؛ نو له دې څخه څلور ستر امامان مراد وي. یعني: امام ابو حنیفه. امام مالک. امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمُ الله.

شیخین: کله چي دا لفظ ذکر سي. نو له دې څخه مراد امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رَحِمَهُمَا الله وي. ځکه دا دواړه د امام محمد رَحِمَهُ الله أستاذان دي.

صاحبین: امام ابو یوسف او امام محمد رَحِمَهُمَا الله ځني مراد وي؛ ځکه دوی دواړه له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د علم په زده کړه کي ملګري (یاران) ول.

طرفین: امام ابو حنیفه او امام محمد رَحِمَهُمَا الله ځني مراد وي؛ ځکه دوی دواړه دوو طرفونو ته دي. یعني امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله لوړ طرف ته. یعني استاذ دی. او امام محمد رَحِمَهُ الله لاندي طرف ته. یعني شاګرد دی.

امام صاحب: له دې څخه مراد امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله وي.

سلف وخلف: له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه تر امام محمد رَحِمَهُ الله پوري چي کوم فقهاء حضرات دي. هغوی ته "سَلَف" وایي. او له امام محمد رَحِمَهُ الله څخه وروسته تر شمس الائمه حلواني رحمه الله پوري چي کوم حضرات دي. هغوی ته "خَلَف" وایي.

ظاهرُ الروایة: مخکي هم د دې وضاحت سو. ظاهر روایت د امام صاحب. امام ابو یوسف او امام محمد رَحِمَهُمُ الله هغو اقوالو او هغو مسئلو ته وایي کوم چي د امام محمد رَحِمَهُ الله په دې شپږو مشهوره کتابو کي را نقل سوي وي؛ ① مبسوط. ② زیادات. ③ جامع صغیر. ④ جامع کبیر. ⑤ سیر کبیر. ⑥ سیرِ صغیر. دا درجه په مسائلو کي تر ټولو اعلیٰ او اقویٰ ده.

غیر ظاهرِ الروایة (یا نوادرُ الروایة): کوم اقوال، مسئلې او روایتونه چې د امام محمد رَحِمَهُ الله په پورتنیو شپږو کتابو کې ذکر سوي نه وي، هغوی ته غیرِ ظاهر الرّوایة یا نادر الرّوایة وایي. د دوی سند د ظاهر الروایة په څېر معروف نه دی. د دغه درجې روایاتو مرتبه له ظاهر روایت څخه کمه ده. نو ځکه د تعارض په وخت کې به ظاهر روایت راجح وي. مګر دا چې دیو علت پر بناء متأخرین د هغه په خلاف (غیر ظاهر روایت) راجح وګرځوي.

فتاویٰ: هغه مسئلې دي چې د هغوی په هکله په ظاهر روایت یا په غیرِ ظاهر روایت (نادر الروایة) کې له اهلِ مذهب څخه هیڅ حکم منقول نه وي او مجتهدینو د اُصولو په رڼا کې د هغوی استنباط او استخراج کړی وي. داسې مسائل د اُصولو په اصطلاح کې په فتاویٰ سره تعبیرول کیږي.

مسائلِ نوازل: همدا د منهب د مجتهدینو امامانو وفتاویٰ وو ته وایي.

متونِ معتبره: په حنفي فقه کې چې څومره کتابونه دي. ځیني په هغوی کې متن وي او د یو کتاب شرح نه وي، لکه مختصرُ القدوري، کنز او داسې نور، او ځیني د یو متن شرح وي لکه هدایه او شرحُ الوقایه؛ نو په متونو کې تر ټولو مشهوره او معتمد متون د فقهاؤ په نېز درې دي: ① مُخْتَصَرُ الْقُدُوْرِیْ. ② کَنْزُ الدَّقَائِق. ③ وِقَایَه؛ دې ته "مُتُوْنِ ثَلَاثَه" وایي. متأخرینو علماؤ پر همدغه کتابو اعتماد کړی دی. ځیني علماؤ "مُخْتَار" او ځینو "مَجْمَعُ الْبَحْرَیْن" هم په متونِ معتبره وو کې شمار کړی دي. نو د هغوی په نېز متونِ معتبره څلور دي.

د متونِ معتبره وو مصنّفین ستر او منل سوي فقهاء دي. نو د تعارض په وخت کې به و دې متونو ته رجوع کیږي.

ببلا ببلې فایدې

فایده: د "مَکْرُوْهٌ" یا د "یُکْرَه" لفظ چې کله د فقهاؤ په کلام کې مطلق ذکر سي. نو عموماً له دې څخه مراد مکروهِ تحریمي وي، خو دا چې د کراهتِ تنزیهي په هکله څه صراحت یا دلیل موجود وي.

فایده: کله نا کله د سنت لفظ ذکر سي او له هغه څخه مراد مستحب وي، او کله د دې برعکس کیږي. یعني له مستحب څخه مراد سنت وي. او دا به له قرائنو څخه معلومیږي. او کله نا کله واجب ذکر سي او له هغه څخه عامه معنیٰ مراد وي کوم چې فرض او واجب دواړو ته شاملیږي.

فایده: کله نا کله د "یَجُوْزُ" لفظ استعمال سي. خو مراد ځني هغه شی وي چې په شریعت کې ممنوع نه وي. په داسې وخت کې "یَجُوْزُ" واجب، مندوب، مباح، مکروه ټولو لره شاملیږي او دا به په قرینه سره معلومیږي. همدا وجه ده چې په مکروه طریقه سره د لمونځ اداء کولو په هکله ځینې وختونه علماء "جَازَ" لیکي، نو له دې څخه مراد نفسِ صحت وي بغیر د کراهت له خیال څخه.

فایده: د "یَنْبَغِيْ" لفظ د متأخرینو په عُرف کې زیاتره په مندوباتو او مستحباتو کې استعمالیږي. لیکن د متقدمینو په عُرف کې د عامې معنیٰ لپاره استعمالیږي، چې هغه واجب ته هم شاملیږي.

علامات افتاء: څرنګه چي مصنف رَحِمَهُ الله په خپل دې کتاب "نور الایضاح" کي د یو قول د تصحیح لپاره مختلف الفاظ استعمال کړي دي او همداسي د فقهي په نورو کتابو کي د یو قول د تصحیح او ترجیح لپاره مختلفه الفاظ مذکوره وي، نو د فایدې په خاطر د دوی وضاحت هم پېشول کیږي. په فتاویٰ خیریه کي د مضمرات په حواله سره لیکلي دي چي علاماتِ افتاء په لاندي توګه دي: ① علیه الفتویٰ، او به یُفتیٰ ② علیه الاعتماد. ③ علیه عمل الیوم. ④ هو الصحیح. ⑤ هو الأصح. ⑥ هو الأظهر. ⑦ هو المختار. ⑧ هو فتویٰ مشائخنا. ⑨ هو الأشبه. ⑩ هو الأوجه. او داسي نور الفاظ په حاشیهٔ بزدوي کي هم ذکر سوي دي. علامه خیرُ الدین وروسته فرمایي چي له دوی څخه بعضي الفاظ د نورو په مقابله کي زیات وزندار دي، لکه څرنګه چي لفظ د فتویٰ له صحیح، اصح، اشبه او داسي نورو څخه زیات مؤکد دی. او به یفتیٰ د الفتویٰ علیه په مقابله کي راجح دی، او لفظ د اصح د صحیح په مقابله کي زیات مؤکد دی او لفظ د احوط له احتیاط څخه زیات مؤکد دی. بعضي علماؤ ترتیب داسي پېش کړی دی: ①علیه عمل الیوم. علیه عمل الأمة. ② علیه الفتویٰ. به یُفتیٰ. علیه الاعتماد. به ناخذ. هو فتویٰ مشائخنا. ③ الفتویٰ علیه. هو الأصح. هو الأشبه. هو الأوضح. هو الأظهر. هو الأحوط. هو الأرفق. ④ هو الاحتیاط. هو الصحیح.

په دې کي اول او دوېم قسم الفاظ زیات مؤکد دي، تر دې وروسته د درېیم او څلورم قسم درجه ده. د تعارض په وخت کي عموماً د همدې ترتیب اعتبار کول کیږي. او که تعارض نه وي، نو محض تصحیح کافي ده.

وجوهِ ترجیح: ① که یو طرف ته لفظ د صحیح وي او بل طرف ته لفظ د اصح وي، نو په دې صورت کي به لفظ د اصح لره ترجیح وي.

② که یو طرف ته لفظ د فتویٰ وي او بل طرف ته نور الفاظ وي، نو لفظ د فتویٰ لره به ترجیح وي.

③ که دواړو طرفونو ته تصحیح برابره وي، نو کوم طرف ته چي د متن قول وي، هغه لره به ترجیح وي.

④ د مساوي تصحیح په صورت کي به د ظاهر روایت موافق قول اخیستل اولیٰ وي.

⑤ په متعارضه تصحیحاتو کي چي د کومي تصحیح اکثره حضرات قائل وي، نو هغه به اختیارول کیږي.

صاحب د نور الایضاح بعضي ځایونه د ظاهر روایت، ظاهر مذهب او داسي نور الفاظ هم ذکر کړي وي چي د هغوی وضاحت هم څه مخکي وسو. ښکاره دې وي چي په اوله درجه کي به د ظاهر الروایة اعتبار کول کیږي او په دوېمه درجه کي د نادرُ الروایة او بیا به د فتاویٰ اعتبار کول کیږي. او

دتعارض په صورت کي به د طبقهٔ اولی روایت لره ترجیح وي، مګر دا چي مشائخو په یو بل روایت باندي د فتوی ورکولو صراحت کړی وي.

له پورتني بحث څخه دا پوره اُمید لرم چي د نور الایضاح مصنف رَحِمَهُ الله چي کوم د افتاء علامات لیکلي دي، د هغوی د پېژندني په هکله به دا بحث معاون ثابت سي.

د فقهي اصطلاحات

(د شرعي احکامو قسمونه)

احکامِ شرعیه پر پنځه قسمه دي:

(١) **فرض**: هغه حکم ته وایي کوم چي په قرآن او حدیث دواړو سره یا صرف په قرآن سره یا په بې شمېره حدیثونو سره (یا په بله ژبه په متواتر حدیث سره) ثابت وي او په هغه کي هیڅ شبهه نه وي، هغه فرض دی، مثال: لکه د پنځو لمنځونو د فرضیت حکم چي په قرآن او حدیث سره ثابت دی، همدارنګه لکه زکاة، روژه، حج او داسي نور عبادات.

د فرض حکم: د فرضو انکار کونکی کافر کېږي، او بېله عذره پرېښوونکی یې فاسق او د سخت عذاب مستحق ګرځي.

فرض پر دوه قسمه دي: ① فرض عین، ② فرض کفایه.

فرض عین هغه دی چي د هغه اداء کول د هر یوه لپاره ضروري دي.

فرض کفایه هغه دی چي د هغه اداء کول خو د هر یوه لپاره ضروري دي، لېکن که څه خلک یې اداء کړي، نو عام خلک به له ګناه څخه بچ سي.

(٢) **واجب**: هغه حکم ته وایي چي په ظني دلیل سره ثابت وي یعني په داسي دلیل سره چي په هغه کي یو بل ضعیف احتمال هم وي (یعني په خبرِ واحد حدیث سره یا د مجتهد په قیاس سره ثابت وي): مثال: لکه د وترو لمونځ، ځکه وتر چي په کوم حدیث سره ثابت دي، هغه خبرِ واحد دی، متواتر نه دی، او خبر واحد ظني دلیل دی؛ نو ځکه وتر به واجب وي.

د واجب حکم: د دې درجه که څه هم د فرضو برابره ده، خو دومره فرق یې سته چي د دې انکار کونکی نه کافر کېږي، بلکي فاسق ګرځي، او بېله عذره پرېښوونکی یې فاسق او د سخت عذاب مستحق ګرځي لېکن تر فرضو د کم عذاب مستحق ګرځي؛ نو د فرض او واجب تر مېنځ فقط د عقیدې په اعتبار سره فرق سته. یعني د فرضو منکر کافر دی او د واجبو منکر کافر نه دی بلکي فاسق دی. لېکن د عمل په اعتبار سره چي څرنګه فرض ضروري دي، همدلسي واجب ضروري هي، همدا وجه ده چي خینې ختونه واجب ته فرض هم ویل کېږي.

(۳) **سنت**: سنت هغه حکم ته وايي چي زموږ له ستر پيغمبر ﷺ څخه ثابت وي.

سنت پر دوه قسمه دي: ①. سنت مؤکده، سنت غير مؤکده.

سنتِ مؤکده: هغه حکم ته وايي چي پر هغه نبي ﷺ هميشه عمل کړی وي، او خلکو ته يې هم د هغه ترغيب ورکړی وي؛ مثال: لکه د اودس په شروع کي مسواک وهل، د جمعې په ورځ غسل کول، لمونځ په جماعت سره کول، شل رکعته تراويح کول او داسي نور.

د سنتِ مؤکده حکم: د دې اداء کونکی د ثواب مستحق ګرځي، او د پرېښوولو عادت يې جوړول د ګناه او عتاب لامل ګرځي، او بيله عذره پرېښوول يې د ګمراهۍ لامل ګرځي.

سنتِ غيرِ مؤکده: دې ته مستحب هم ويل کيږي، دا هغه حکم ته وايي چي ځيني وختونه پر هغه نبي ﷺ عمل کړی وي، او خلکو ته يې د هغه ترغيب هم ورکړی وي؛ مثال: لکه د آذان په وخت کي کار او خبري نه کول؛ د اذان جواب ورکول؛ له راسته طرف څخه شروع کول او داسي نور.

د سنتِ غيرِ مؤکده حکم: د دې اداء کونکي د ثواب مستحق ګرځي، او پرېښوونکی يې نه ګناهګاره کيږي، خو بيا هم له غټ خير او فضيلت څخه محروم پاتيږي.

د فقه په اصطلاح کي دې ته نفل، مندوب، تطوّع (او سننِ زوائد) هم وايي، ځيني علماؤ د مستحب او سنتِ غيرِ مؤکده په مينځ کي څه فرق هم کړی دی.

(۴) **حرام**: کوم شی چي په قطعي دليل (يعني په آيت، يا متواتر حديث) سره ممنوع ګرځول سوی وي، هغه ته حرام وايي؛ مثال: لکه لمونځ تر خپل وخت وروسته اداء کول، د بل چا مال غصب کول، پر خلکو ظلم کول، غلا کول، شراب چيښل، سود خوړل، دروغ ويل، لمنځونه پرېښوول او داسي نور ټول حرام دي.

د حرام حکم: د دې منکر کافر کيږي، او بيله عذره کونکی يې فاسق او د سخت عذاب مستحق ګرځي، او نه کونکي يې د ثواب مستحق ګرځي.

مکروه: هغه حکم ته وايي چي له هغه څخه په شريعت کي منع سوې وي، لېکن د روايت دليل يې هم موجود وي، د دې دوه قسمه دي: ① مکروهِ تحريمي، ② مکروهِ تنزيهي.

مکروهِ تحريمي: د کوم څه حُرمت چي په غيرِ متواتر يا په غيرِ مشهوره رواياتو سره ثابت وي (يا په بله وينا: په دليلِ ظني سره ثابت وي)، هغه ته مکروهِ تحريمي وايي، مکروهِ تحريمي حرام ته نژدې دی او د واجب په مقابل کي دی، نو ځکه امام محمد رَحِمَهُ الله هغه ته حرام هم وايي؛ مثال: مکروهِ تحريمي لکه د بل چا په غصب سوې ځمکه کي لمونځ کول؛ د ماز يګر لمونځ وړ ځنډول او په خپل آخري وخت کي اداء کول؛ د قضاءِ حاجت د درونډوالي په وخت کي لمونځ کول؛ د اخترونو په ورځ روژه نيول؛ د سپينو او سرو زرو لوښي استعمالول؛ دا ټول مکروهِ تحريمي دي.

د مکروهِ تحريمي حکم: د دې منکر فاسق ګرځي؛ او بيله عذره کونکی يې ګنهکار او د عذاب مستحق ګرځي.

مکروهِ تنزیهي: هغه څه چي شریعت ناخوښه ګڼلی وي، لېکن د کوونکي په هکله یې د سزا او عذاب څه یادونه کړې نه وي (یعني د ممانعت څه دلیل یې نه وي)، دا د جواز او روایښت په دائره کي دی او کراهت طبعي لري او د سنتِ غیر مؤکده په مقابل کي دی؛ **مثال**: د اوداسه په اوبو کي اسراف کول. د جمعې غسل نه کول او داسي نور.

د مکروهِ تنزیهي حکم: د دې پرېښوونکی د ثواب مستحق دی او کوونکی یې د سزا مستحق نه دی.

(٥) **مباح**: له دې څخه مراد هغه کار دی چي شریعت یې نه د "کولو" حکم کړی وي او نه یې د "نه کولو" حکم کړی وي.

د مباح حکم: په دې کي نه ثواب سته او نه څه سزا سته او انسان ته یې په کولو او پرېښوولو کي اختیار دی. خو که داسي کار په ښه نیت سره وکړای سي، نو د مستحب درجې ته رسېږي او کوونکي به یې د اجر او ثواب مستحق وګرځي، مثلاً په لاره کي د مسافرانو د خدمت لپاره درېدل. د میلمه د عزت لپاره له هغه سره ډوډۍ خوړل، یا په ورځ کي په دې نیت بیدېدل چي د شپې به عبادت وکړم. یا ښه کالي په دې نیت اغوستل چي د الله نعمتونو اثر ښکاره کړم.

* * *

مُقدمة الكِتَاب

بِسْمِ اللّٰهِ په نامه دالله (شروع کوم) الرَّحْمٰنِ چي ډېر مهربانه الرَّحِيْمِ (او) زيات رحم کونکی دی.

تشريح : په "بسم الله الرحمٰن الرحيم" سره د کتاب شروع کولو څو وجهي دي: ① د کتابُ الله د اتباع کولو لپاره؛ ځکه قرآنِ کريم په "بِسْمِ اللّٰهِ" سره شروع کيږي (بلکي هر سورت يې په بسم الله سره شروع سوی دی). ② د حديثو د اتباع کولو لپاره؛ ځکه په حديث مبارک کي هم په بسم الله سره د شروع کولو ترغيب ورکول سوی دی؛ په حديث کي راځي: "كُلُّ أَمْرٍ ذِىْ بَالٍ لَمْ يُبْدَأْ بِبِسْمِ اللّٰهِ فَهُوَ أَقْطَعُ" (صحيح ابن حبان. باب من صفته ﷺ وأخباره. حديث شمېره: ٣٦١٧). (يعني کوم اېه شان والا کار چي په "بِسْمِ اللّٰهِ" سره شروع نه کړل سي، هغه بې برکته وي [يعني ناقص او نابشپړ پاتيږي]). همدارنګه په بل حديث کي راځي " كُلُّ أَمْرٍ ذِىْ بَالٍ لَا يُبْدَأُ بِذِكْرِ اللّٰهِ فَهُوَ أَقْطَعُ " (دار قطني. كتاب الصلاة ج:١، ص:٢٢٥. حديث شمېره: ٨٧٢). او بسم الله هم ذکر دی. ③ د سلفِ صالحينو د اتباع کولو لپاره: ځکه مخکينيو اکابرينو او صلحاؤ به هم خپل کتابونه وغيره په بسم الله سره شروع کول. ④ د برکت لپاره. (همدا بول په ځينو کتابو کي نوري وجهي هم ليکل سوي دي: مثلاً: ⑤ اولنی وحي چي راغلې، نو په هغه کي د الله په نامه سره د ويلو حکم سوی دی: ﴿اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ﴾. ⑥ او بل دا چي د نبي کريم ﷺ ټول خطوط او ټول خطبات په بسم الله سره شروع کيږي. ⑦ سليمان ؑ چي وبلقيس ته کوم خط ليکلی دی، نو هغه هم په بسم الله سره شروع کيږي.

بيا مصنف رَحِمَهُ الله تر "بِسْمِ اللّٰهِ" وروسته په "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" سره خپل کتاب شروع کوي. په دې کي يې مقصد هم د قرآنِ کريم، حديث شريف او د سلفِ صالحينو تابعداري ده. ځکه په قرآن کريم کي هم تر "بِسْمِ اللّٰه" وروسته "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" ذکر سوې ده. همدارنګه په حديث کي د "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" په باره کي راځي: " كُلُّ كَلَامٍ لَا يُبْدَأُ فِيْهِ بِحَمْدِ اللّٰهِ فَهُوَ أَجْذَمُ " (ابو داؤد شريف. باب الهدى فى الكلام ج: ٢. ص: ٣١٧. حديث شمېره: ٤٨٤٠. ابن ماجه شريف. باب خطبة النكاح. ص: ٢٧٢. حديث شمېره: ١٨٩٤). (يعني هر هغه کلام چي په "حمد" سره شروع نه کړل سي، هغه ناقص او بې برکته وي)

➢ بَاء: په بسم الله کي حرفِ جر دی. او "باء" د پنځلسو (١٥) معانيو لپاره استعماليږي. لېکن په بسم الله کي د "الصاق" لپاره ده. يا د "استعانت" لپاره ده: "الصاق" وايي "مېلولو" ته. نو د الصاق

د باء معنیٰ دا سوه چي: وروستنی کلام به یې د مخکیني کلام سره "مُلصَق" (یعني موښتی) وي، او استعانت وایي "د مرستي طلب کولو" ته، نو د باءِ استعانت معنیٰ دا سوه چي: وروستنی کلام به یې د مخکیني کلام لپاره مرسته (مدد) او ذریعه وي (یعني دالله د نامه په مدد سره شروع کوم).

ځرنګه چي باء حرفِ جر دی، نو ځکه دلته به یو محذوف فعل مقدّر (پټ) منل کیږي چي دا حرفِ جر تعلق ور سره ونیسي، او غوره دا ده چي دلته "اَبْتَدِأُ" محذوف ومنل سي، نو مطلب به یې دا وي: دالله په نامه سره شروع کوم.

"ب" خو متعلق سو او "اسم" خو دالله تابع دی، نو ګواکي لفظ دالله تر ټولو مقدّم (مخکي) سو، او په ﴿اقرأ باسم ربك﴾ کي همدغه حکم سوی دی چي دالله په نامه سره یې ووایه!، نو ګواکي همدا دالله نوم تر ټولو مقدّم سو.

➢ **الله**: نوم دی د هغه ذات کوم چي واجبُ الوجود دی او تمام صفاتِ کمالیه وو لره جامع دی، د الله ﷻ نهه نوي (۹۹) صفاتي نومونه دي، او یو یې ذاتي نوم دی چي هغه "الله" دی، دالله د لفظ معنیٰ ده: "معبود" (یعني هغه ذات چي عبادت یې کیږي).

د "الله" او "إله" په مینځ کي فرق: د دوی تر مینځ فرق دا دی چي دالله پر لفظ الف لامِ عهدي سته، لېکن پر "إله" نسته، نو ځکه دالله لفظ خاص د "معبودِ برحق" لپاره استعمالیږي او د "إله" لفظ عام دی د هر "معبود" لپاره استعمالیدی سي، هغه که پر حق وي لکه الله ﷻ، او که پر ناحقه وي لکه بُتان او باطل خدایان.

➢ **الرَّحْمٰن الرَّحِیْم**: الرَّحْمٰن د مبالغې صیغه ده، د فَعلَان پر وزن دی، له رحمت څخه مشتق دی، د رحمت معنیٰ ده: "د زړه نرموالی"، لېکن کله چي یې الله ﷻ ته نسبت وسي، نو د دې معنیٰ راځي: "فضل او مهرباني کول، احسان کول".

"الرَّحِیْم" د فَعِیْل پر وزن دا هم د مبالغې صیغه ده، دا هم له رحمت څخه مشتق دی. خو په دې لفظ کي د "رَحْمٰن" په نسبت مبالغه کمه ده او په "رَحْمٰن" کي مبالغه زیاته ده، ځکه چي د "رَحْمٰن" حروف زیات دي چي ټوله حرف یې پنځه (۵) دي، او د "رَحِیْم" ټوله حروف څلور (۴) دي، نو ځکه په "رَحْمٰن" کي مبالغه زیاته ده، چي د حرف زیاتوب د معنیٰ پر زیاتوب دلالت کوي، لکه قَطْعًا معنیٰ پرېکول او تَقْطِیْعًا معنیٰ په ښه توګه پرېکول، نو د "رَحْمٰن" په معنیٰ کي زیاتوب دی یعني رحم عام دی کافر او مؤمن ټولو لره شامل دی، "الرَّحِیْم" خاص دی، د دې تعلق د آخرت سره دی، یعني په هغه وخت کي به صرف پر مؤمنانو رحم وي.

د "رَحْمٰن" او "رَحِيْم" په مينځ کي فرق: صاحب د "كمالاتُ الوحيدية" د رَحْمٰن او رَحِيْم په مينځ کي څلور (۴) فرقه ذکر کړي دي:

① رَحْمٰن: صرف د الله ﷻ د غټو رحمتونو لپاره راځي، او رَحِيْم: د کوچنيو رحمتونو لپاره راځي.

② رَحْمٰن: د دنيا او آخرت دواړو لپاره راځي، او رَحِيْم: صرف د آخرت لپاره راځي.

③ رَحْمٰن: د هغه عمومي او خصوصي صفاتو لپاره راځي چي هغه د ټوله انسانيت لپاره عام دي، او رَحِيْم: د هغه خصوصي صفاتو لپاره راځي چي هغه فقط د مؤمنانو لپاره خاص دي، او هغه چي په ځانګړي توګه د قيامت په ورځ څرګنديږي؛ لکه څرنګه چي د نبي کريم ﷺ په دعاء کي ذکر سوي دي: « يَا رَحْمٰنَ الدُّنْيَا وَرَحِيْمَ الآخِرَةِ ».

④ رَحْمٰن: د "الله" د لفظ په څير اسمِ عَلَمْ دی، پر مخلوق د دې اطلاق نه سي کېدلای، لېکن رَحِيْم: اسمِ علمْ نه دی، بلکي صفت دی او پر مخلوق يې اطلاق کېدلای سي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ټوله تعريفونه (صفتونه [خاص]) الله تعالىٰ لره دي رَبِّ الْعَالَمِيْنَ چي رب (پالونکی) د ټولو مخلوقاتو دی وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ او درود (رحمت) او سلام دي وي عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ زموږ پر سردار محمد ﷺ باندي کوم چي آخر (آخري) د نبيانو دی وَعَلٰى آلِهِ الطَّاهِرِيْنَ وَصَحَابَتِهِ أَجْمَعِيْنَ او (درود او سلام دي وي) د هغوی پر پاک آل او پر ټولو صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ (يعني د نبي ﷺ پر اولاد او کورنۍ او د هغوی پر ټولو صحابه کرامو دي د الله تعالىٰ رحمت او سلامتيا وي).

تشريح: تر بسم الله وروسته په حمد سره د شروع کولو وجه مخکي د بسم الله په بحث کي بيان سوه.

د "حمد" تعريف: د "حَمْد" لغوي معنیٰ ده: "تعريف کول" (ستاينه)، او اصطلاحي معنیٰ يې ده: "د يو چا اختياري ښېګڼه (صفت) په ژبه سره بيانول (يا په بله وينا: د تعظيم او اکرام په اراده سره په ژبه [په خوله] تعريف کول)، هغه که د نعمت په بدله کي وي او که نه وي"؛ د الله له طرفه هر وخت پر موږ د بېلابېلو نعمتونو او انعامونو باران اوريږي، نو موږ چي د الله ﷻ لپاره کوم حمد هم وايو، هغه د نعمت په بدله کي دی. يو لفظ د "مَدْح" او "شُکر" دی چي د هغه تعريف به څه وروسته ذکر سي.

د "الحمد" الف لام، په الحمد کي چي کوم الف لام دی، په دې کي څو احتمالات سته.

(۱) اللام للجنس: يو احتمال دا دی چي دا الف لام د جنس لپاره دی، يعني تمام جنس د حمد يا په بله وينا جنسِ ثناء او صفت الله تعالىٰ لره دي. صاحب د کشاف دغه قول خوښ کړی دی.

(۲) اللام للعهد: دويم دا چي دا الف لام د عهد لپاره (معهود) دی، يعني مراد ورڅخه هغه حمد دی کوم چي الله تعالیٰ پخپله پر خپل ځان ويلی دی، لکه په حديث شريف کي چي راغلي دي "كما أثنيتَ على نفسك" (مشكوة المصابيح ج:۱)، يا په بله وينا دا چي الف لام معهود ذهني دی، يعني کوم چي د متکلم په ذهن کي دي هغه مراد دی، صاحبؒ د مجمع الف لام د عهد لپاره کېدل خوښ کړي دي؛ ځکه چي عهد پر استغراق باندي مقدّم وي.

(۳) اللام للاستغراق: او دريم احتمال دا دی چي د استغراق لپاره دی، يعني هر قسم تعريف او تحسين (تمام تعريفونه) الله تعالیٰ لره خاص دي، برابره ده د هغه تعلق د خالق تعالیٰ د ذات سره وي او که د مخلوق سره وي، ټول به د رب تعالیٰ مِلک کيږي ټول په حقيقت کي د الله تعالیٰ تعريف دی. يا په بله وينا: هغه تعريف برابره ده بلاواسطه وي يعني چي خاص د الله تعالیٰ د ذات تعريف وکړي. او که بالواسطه وي، لکه په مخلوق کي په يو کمال باندي د چا تعريف او صفت وکړل سي، نو دا په حقيقت کي د الله تعالیٰ تعريف دی؛ ځکه دغه صفت الله تعالیٰ ورکړی دی. جمهوره عالمان الف لام د استغراق لپاره کېدل خوښوي.

د "مدح" او د "شکر" تعريف: ديو چا ښېګڼه (صفت) په ژبه سره بيانول. دا ښېګڼه که د هغه په اختيار کي وي او که نه وي، لکه د ملغلري د ښېګني او ښايسته والي تعريف کول. او ښکاره ده چي دا ښېګڼه د هغې په اختيار کي نه ده. يو لفظ د "شُکر" دی:

د "شکر" تعريف: هغه فعل (کار) ته وايي چي د مُنعِم (انعام کونکي) د تعظيم خبر ورکړي. هغه فعل که په ژبه سره وي او که په زړه يا په اندامو سره وي.

نو د شکر او حمد په مېنځ کي فرق دا سو چي په حمد کي نعمت او انعام شرط نه دی، لېکن په شکر کي شرط دی، همدارنګه حمد صرف په ژبه سره ويل کيږي او شکر عام دی له ژبي څخه پرته په زړه او نورو اندامو سره هم کېدلای سي.

➢ رَبّ: د اسم فاعل صيغه ده، په اصل کي "رَابِبٌ" دی، الف حذف کړی سو او باء په باء کي مدغم کړل سوه. د "رَبّ" معنیٰ ده: "پالونکی". او بعضو ويلي دي چي مصدر دی. په اصل کي د تربيه په معنیٰ سره دي (يعني د تفعيل د باب اسم مصدر دی) او تربيه وايي "په کراره کراره ديو شي پالنه کول او د کمال حد ته رسول". او که سوال وسي چي کله ربْ مصدر دی، نو دا د الله صفت څنګه وګرځول سو. نو جواب دا دی چي دا د "زَيْدٌ عَدْلٌ" له قبيل څخه دی، يعني بطورِ مبالغه د رب صفت ګرځول سوی دی. او الله ﷻ و ټولو جهانو او مخلوقاتو ته په کراره کراره (او په تدريج) خوراک او

غذا ورکوي او د هغوی پالنه کوي. نو ځکه هغه ته ''رَبّ'' وايي. ''رَبّ'' بغیر له اضافت څخه صرف د الله لپاره استعمالیږي او د اضافت سره د نورو لپاره هم استعمالیدی سي، لکه د قرآنِ کریم په دې آیت کي چي د غیر لپاره دی: ﴿اُذْكُرْنِىْ عِنْدَ رَبِّكَ فَاَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهٖ﴾ [سورة یوسف: ۴۲]، دلته ''رب'' په اضافت سره استعمال سوی دی او مراد ځني ''باچا'' دی.

➢ **الْعَالَمِيْنَ**: له الله تعالیٰ څخه ماسوا نور ټول مخلوق. ''عالَمِين'' جمع د ''عَالَمْ'' ده. ''عَالَم'' اسمِ آله ده، یعني ''هغه شی چي په هغه سره بل څه پېژندل کیږي (یعني د بل شي د پېژندلو آله)''، لکه ''خَاتَم'' (د مُهر [ټاپې] لګولو آله)؛ وروسته بیا پر هغه شیانو د ''عَالَم'' اطلاق وسو چي په هغوی سره د ''صَانِع'' (جوړونکي) یعني د الله تعالیٰ پېژندنه کیږي (یا په بله وینا: هغه شیان کوم چي د خپل خالق او مربّي په وجود باندي علامت او دلالت دي)، یعني له الله ﷻ څخه ماسوا هر شي ته ''عَالَم'' وايي. د دنیا تمام اجناس په دې کي داخل دي، لکه آسمان، سپوږمی، لمر او تمام ستوري، فرشتې، جنات، حیوانات، نباتات او داسي نور، یعني د ''عالَم'' ډېر قسمونه دي: عَالَمُ السَّمٰوٰت، عَالَمُ الأَرْض، عَالَمُ الإِنْس، عَالَمُ المَلَائِكَة، عَالَمُ الجِن، عَالَمُ الحَيَوَانَات او داسي نور. د دغه بېلابېلو قسمونو د ښوولو لپاره يې د جمع صیغه یعني ''عَالَمِيْن'' ذکر کړه (دا ټول د خپل خالق او مربّي په وجود باندي نښه او دلالت دي).

➢ **وَالصَّلَاة**: بیا مصنف رَحِمَهُ الله تر حمد وروسته په ''صلٰوة'' (درود) شروع وکړه چي د ټول انسانیت پر مُحسن او پر غوره د تمام مخلوق رسولُ الله ﷺ او د هغه پر پاک آل او ټولو صحابه وو باندي یې درود او سلام پېش کړی؛ ځکه په قرآن کي هم پر نبي ﷺ د ''صلٰوة و سلام'' حکم سوی دی: ﴿إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ [سورة الأحزاب: ۵۶]، (بېشکه الله [ﷻ] او د هغه فرښتې درود وایي [رحمت لېږي] پر نبي [ﷺ]، اې مؤمنانو! درود ووایئ! پر هغه [نبي ﷺ] او سلام [پرې] ووایئ په سلام ویلو سره).

په دې آیت کي د صلوٰة او سلام دواړو حکم سوی دی: د تعجب او فضیلت خبره دا ده چي الله ﷻ خپله پر نبي ﷺ درود او رحمت رالېږي.

همدارنګه په بل آیت کي راځي: ﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾ [سورة الانشراح: ۴]، (او ستا لپاره موږ پورته کړی ذکر ستا). په تفسیر کي راځي چي د ''ذکر له پورته کېدو'' څخه مراد دا دي چي الله ﷻ د خپل نامه سره د نبي کریم ﷺ نوم پېوست کړی دی. لکه په ''کشاف'' کي چي ذکر سوي دي چي

له دې څخه مراد دا دي چي الله ﷻ په کلمه، اذان، اقامت، التحيات، خطبه همدارنګه د قرآن په ډېرو آيتونو او په داسي نورو ځايونو کي د خپل نامه سره د نبي کريم ﷺ نوم يو ځای ذکر کړی دی.

او په حديث کي راځي چي له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسوه چي موږ به څرنګه پر تاسو درود وايو. نو نبي ﷺ وفرمايل ووايئ! : «اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى أَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ..... (الخ)». اسلم شريف. ص: ۱۵۷، حديث شمېره: ۱۴۰۷

دويمه وجه دا هم ده چي الله تعالیٰ مُحسنِ حقيقي دی او نبي کريم ﷺ مُحسنِ مجازي دی؛ ځکه چي د الله او بندګانو په مينځ کي وسيله او ذريعه ده، نو کله چي مصنف د مُحسنِ حقيقي حمد او ثناء بيان کړه، نو مناسب يې وګڼله چي د مُحسنِ مجازي د حق اداء کولو لپاره "صلوٰة عَلَی النَّبِي" هم ذکر کړي.

د "صلاة" تعريف: د "صلوٰة" لغوي معنیٰ ده: "دعاء"، او په اصطلاحي معنیٰ کي يې تفصيل دی. هغه دا چي که د "صلوٰة" نسبت الله ﷻ ته وسي، نو مراد ځني "رحمت" (نزول رحمت) وي، او که ملائکو ته وسي نو مراد ځني "استغفار" وي، او که بندګانو ته وسي، نو مراد ځني "دعاء" (طلبِ رحمت) وي، او که مارغانو ته وسي، نو مراد ځني تسبيح او ذکر وي.

➢ والسَّلام: په معنیٰ سره د سلامتی (سلامتيا) دی، يعني هر قسم سلامتي (له هر مکروه څخه سلامتي)، همدارنګه دا په معنیٰ سره د تحيه هم کېدلای سي.

➢ سيِّدنا: په معنیٰ سره د سردار او بادار دی، دا لفظ نبي کريم ﷺ د ځان لپاره او د نورو لپاره هم استعمال کړی دی، لکه د نبي ﷺ دا فرمان "أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ"، همدارنګه د سعد بن معاذ ؓ لپاره يې وفرمايل "قُوْمُوْا لِسَيِّدِكُمْ...الخ". لهذا د سيّد لفظ د هر لوی او مشر لپاره استعماليږي، برابره ده د رُتبې په اعتبار سره لوی وي او که د بزرګۍ په اعتبار سره لوی وي، خو (عموما) د سيّد لفظ د نبي کريم ﷺ د خاندان والا وو لپاره ويل کيږي.

➢ مُحَمَّد: له "حمد" څخه مشتق دی، معنیٰ يې ده: "تعريف کړی سوی"، يعني چي د هغه د غوره صفاتو او ښېګڼو په وجه يې تعريف کيږي، چي په هغه کي فضائلِ محموده او ښه اوصاف په کثرت سره جمع وي. د نبي کريم ﷺ صفاتي نومونه ډېر ښځي ډېر دي، ليکن تر ټولو مشهوره يې "محمد او احمد" دي، د "محمّد" نوم پر نبي کريم ﷺ خپل نيکه يا مور ايښی وو.

مصنف رَحِمَهُ الله نور نومونه پرېښوول او لفظ د "محمد" يې راوړی، د دې لپاره چي د کلامُ الله اتباع وسي، يعني د قرآن کريم مطابق سي. الله تعالیٰ فرمايلي دي ﴿مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا مَعَهٗ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ...الخ﴾.

➢ **خاتم**: ددې لفظ له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: (دهر شي) آخر، آخري، دنبي کريم ﷺ له کمالاتو څخه یو کمال خاتمُ النبي کېدل دې چې تر نبي کريم ﷺ وروسته به بل هيڅ نبي او رسول نه راځي، نبوت پر نبي کريم ﷺ ختم سو، وروسته تر دې چې هرڅوک دعوه دنبوت کوي، هغه دروغجن، دجّال او کافر مطلق دی لکه څرنګه چې خپله دنبي کريم ﷺ فرمان دی "لَانَبِيَّ بَعْدِيْ"، او دا دنبي کريم ﷺ یو داسې صفت دی کوم چې پر ټولو صفاتو درونددی؛ ځکه رسول الله ﷺ ته یو داسې شريعت ورکول سو چې تر هغه وروسته بل هيڅ کتاب او شريعت ته ضرورت پاته نه سو، دا صفت فقط د محمد مصطفیٰ ﷺ لپاره مخصوص دی ، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله همدا صفت اختيار کړی.

➢ **النبيّين**: جمع دنبی ده، نبي له نبأ څخه مأخوذ دی چې دهغه معنیٰ ده "خبر ورکول" اودنبي لغوي معنیٰ ده "دالله له طرفه خبر ورکونکی" (دغيبو خبر ورکونکی). دمفعول په معنیٰ سره هم راځي (يعني خبر ورکړل سوی)، لکه څرنګه چې دقتيل معنیٰ قاتل او مقتول دواړه راځي، او اصطلاحي معنی يې داسې نقل سوې ده: "من أوحى إليه وحيا خاصا من الله بتوسط ملك أو بإلهام في قلبه أو بالرؤيا الصالحة".

په نبي او رسول کې فرق سته، که نه؟، بعضي علماء فرمايي چې دواړه يو دي، او بعضي فرمايي چې په دواړو کې فرق دی، هغه دا چې رسول هغه دی چې نوی شريعت او کتاب ورکول سوی وي، او نبي هغه دی چې نوی شريعت او نوی کتاب نه وي ورکول سوی، بلکې هغه دمخکيني شريعت تبليغ کوي.

دلته مصنف رَحِمَهُ الله لفظ د "نبي" ځکه ذکر کړی دی چې دا مقام د رسولُ الله ﷺ په نعت کې دی يعني د درود او سلام تذکره کوي او په قرآن کې چې چيري هم "صلاة" ذکر سوی دی، هلته لفظ دنبي دی لکه څرنګه چې دالله تعالی فرمان دی ﴿إِنَّ اللهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ، يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾.

➢ **آلِه**: دا له "أهل" څخه مشتق دی، له "آل" څخه څوک مراد دي، په دې کې اختلاف دی. ① د بعضي حضراتو (لکه دحضرت جابر بن عبد الله، ابو سفيان او داسې نورو) قول دا دی چې په آل کې هغه ټوله خلک شامل دي کوم چې دنبي ﷺ اتباع او پيروي کوي، يا په بله وينا له "آل محمد" څخه مراد هغه ټوله امت دی کوم چې دنبي کريم ﷺ دعوت قبول کړی دی، په دې کې له صحابه وو څخه واخله تر

قیامته پورې ټوله مؤمنان شامل دي (یالکه بعضو چې ویلي دي چې له دې څخه هر تقوی داره مؤمن مراد دی).
او څرنګه چې دا مقام د دعاء دی، نو ځکه له دې څخه عام مؤمنان مرادول زیات بنه دي. ② د امام شافعي رحمه الله قول دا دی چې له آل څخه بنو هاشم او بنو عبد المطلب مراد دي، ③ د امام صاحب رحمه الله قول دا دی چې صرف بنو هاشم ور څخه مراد دي، یعني د نبي ﷺ هغه خاندان چې د هغو لپاره زکاة اخیستل حرام دي. ④ د بعضو په نیز په دې کې صرف د نبي ﷺ اهل او عیال او ازواج مطهرات شامل دي.

صاحب د شفاء الارواح لیکلي دي چې دلته ځني مراد تمام مسلمانان دي لکه مخکې چې ذکر سوه: ځکه چې دا مقام د دعاء دی.

فایده: د نبي ﷺ د نامه سره د هغه پر آل او اصحابو "صلوٰة" ویل صحیح بلکې مستحب دي. او د هغه له نامه څخه پرته مکروه دي. خو پر انبیاؤ او ملائکو جائز دي؛ پر دغه حکم د سلفو اجماع ده. په خلاف د روافضو.

➢ **الطَّاهِرِينَ**: په دې کې اشاره کې ده چې د نبي کریم ﷺ آل به هاغه جماعت وي کوم چې له شبهاتو او شکوکو څخه پاک وي. صاحب د تکمیلُ الایضاح دا خبره په دې توګه کړې ده چې د دې قید یعني د "طاهرین" فایده دا ده چې د نبي کریم ﷺ آل متقي دی لکه څرنګه چې حدیث دی (« آلِي كُلُّ مُؤمِنٍ تَقِيٍّ ») یعني کوم چې متقي (پرهیزګاره) وي له امراضِ باطنیه او ظاهریه وو څخه: ځکه چې د نبي کریم ﷺ آل به هاغه جماعت وي کوم چې له شرک څخه پاک وي. او ښکاره ده چې له شرک څخه بچ کېدل او له هغه څخه پرهېز کول له امراض باطنیه وو څخه د پاکوالي دلیل دی. او په دې سره په فرقهٔ باطله باندې رد هم مقصود دی کوم چې د نبوي آل د عصمت قائله دي چې د دوی وهم و ګومان غلط دی. والله أعلم.

➢ **صَحَابَتِهِ**: د "صَاحِب" جمع ده. لغوي معنی یې ده "ملګری". او په اصطلاح کې د نبي کریم ﷺ صحابه وو ته ویل کېږي. صحابي هغه چا ته وایي چې نبي کریم ﷺ یې د ایمان په حالت کې لیدلی وي او پر هغه ایمان مړ سوی وی: نو پر دوی ټولو دې درود او سلام وي.

اولاً مصنف رحمه الله آل ذکر کړی چې په هغه کې تمام اُمتِ محمدیه راغلی. چې په هغه کې صحابه کرام هم شامل دي. خو د صحابه وو ځانته مقام او مرتبه ده: نو ځکه دوی یې په خاصه توګه ذکر کړل. ځکه چې الله ﷻ د "رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ" په وینا سره دوی له ټولو خلکو څخه ممتاز کړي دي. نو ځکه مصنف رحمه الله هم دوی بطور خاص بیان کړل.

➢ **أَجْمَعِينَ**: دا د "آل" او "أصحاب" دواړو د تأکید او سجع لپاره دی: د صحابه وو تأکید ته ځکه ضرورت سو چې بعضي ګمراه فرقې د اکثره صحابه وو په شان کې بې ادبي او ګستاخي کوي او د دوی په عدالت کې شک و شبهه کوي لکه روافض یعني صرف د حضرت علي رضي الله عنه له کورني څخه

بغير نور ټولو ته ښکنځا کوي، نو "أجمعين" يې ذکر کړی چي په دې قيد سره پر دوی رد وسي. او همدارنګه د خوارجو ترديد هم مقصود دی چي دوی د نبي کريم ﷺ د آل سخت ترين دښمنان دي او هغوی د صلاة مستحق نه ګڼي، په خلاف د اهل سنت والجماعت چي د اهل سنت والجماعت په نيز ټوله صحابه عادله دي او ټوله پر خپل، خپل ځای قابل د اتباع دي.

قَالَ الْعَبْدُ الْفَقِيْرُ إِلٰى مَوْلَاهُ الْغَنِيِّ ويلي دي بنده کوم چي محتاج دی و خپل بادار بې نيازه ته أَبُو الْإِخْلَاصِ حَسَنُ الْوَفَائِيُّ الشُّرُنْبُلَالِيُّ الْحَنَفِيُّ ابو الاخلاص حسن شرنبلالی حنفی (يعني چي د هغه کنيت ابو الاخلاص دی. نوم يې حسن. مشرب يې وفائی. وطن (د پيدايښت) يې شرنبلال او مذهب يې حنفي دی) إِنَّهُ الْتَمَسَ مِنِّيْ بَعْضُ الْإِخِلَّاءِ [عَامَلَنَا اللّٰهُ وَإِيَّاهُمْ بِلُطْفِهِ الْخَفِيِّ] (هغه ويلي دي) چي زما څخه مطالبه (غوښتنه) وکړه بعضو مخلصو دوستانو [الله تعالیٰ دي پر ما او دوی باندې خپلي پټي مهرباني وکړي] أَنْ أَعْمَلَ مُقَدِّمَةً فِي الْعِبَادَاتِ چي زه د عباداتو په باره کي يوه مقدمه (مختصره کتاب) تيار کړم تُقَرِّبُ عَلَى الْمُبْتَدِيْ مَا تَشَتَّتَ مِنَ الْمَسَائِلِ فِي الْمُطَوَّلَاتِ کوم چي نژدې کړي پر ابتدائي طالب (يعني د شروع کونکي طالب العلم و ذهن ته نژدې کړي) هغه مسائل کوم چي بېلا بېلي ذکر سوي (پاشل سوي) دي په اوږدو (لويو) کتابونو کي (يا په بله وينا دا چي: نژدې کړي مبتدي طالبان (د عباداتو او هغه بېلا بېلو مسئلو ته کوم چي په لويو کتابونو کي دي) فَاسْتَعَنْتُ بِاللّٰهِ تَعَالٰى نو ما له الله تعالیٰ څخه مدد وغوښتی وَأَجَبْتُهُ طَالِبًا لِلثَّوَابِ او (د دوستانو) مطالبه مي قبوله کړله په داسي حال کي چي د ثواب طلبګار يم (يعني د ثواب حاصلولو په غرض سره) وَلَا أَذْكُرُ إِلَّا مَا او زه به نه ذکر کوم (په دې کتاب کي) مګر صرف هغه مسائل جَزَمَ بِصِحَّتِهِ أَهْلُ التَّرْجِيْحِ چي د هغوی په صحيح والي باندې صاحبانو د ترجيح يقين کړی وي (يا په بله وينا چي اهل الترجيح د هغه مسئلو د صحيح والي قطعي فيصله کړې وي. يعني کوم علماء چي تحقيق والا دي او په اختلافي مسئلو کي ترجيح ورکولای سي. هغو چي کوم مسائل بالکل صحيح ګرځولي دي. صرف هغه مسائل په دې کتاب کي ليکم) مِنْ غَيْرِ إِطْنَابٍ بغير له اوږدوالي څخه (يعني په مختصره عبارت سره. چي بلا ضرورت ته اوږدوالی به پکښې نه وي) وَسَمَّيْتُهُ: "نُوْرَ الْإِيْضَاحِ وَنَجَاةَ الْأَرْوَاحِ" او ما نوم کېښودی

دغه کتاب ته نور الایضاح (د رڼا څرګندونکی) و نجاة الأرواح (او روحونو ته نجات ورکونکی) وَاللهَ أَسأَلُ او صرف له الله تعالیٰ څخه سوال کوم أَنْ يَّنْفَعَ بِهٖ عِبَادَهٗ چي د دې کتاب په ذریعه خپلو بندګانو ته نفع (فایده) ورسوي وَيُدِيْمَ بِهِ الإِفَادَةَ او د دې کتاب په ذریعه فایده رسول همېشه جاري وساتي.

تشریح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله اولاً د خپل نوم، کنیت، مذهب او وطن یادونه کړې ده، چي د تألیف او تصنیف حقیقت معلوم سي؛ ځکه د کتاب مؤلف چي معلوم کړل سي، نو د مؤلف د حالت سره سم د را روان مضمون او را روان کلام معتمد یا غیرِ معتمد مقام هم ښکاره کېږي.

بیا یې وروسته د تألیف وجه بیان کړې ده چي دا کتاب یې د خپلو بعضو مخلصو ملګرو په خولست او غوښتنه باندي تصنیف کړی دی.

ابو الاخلاص: دا د مصنف رَحِمَهُ الله کنیت دی، حسن: د مصنف رَحِمَهُ الله نوم دی، الوفائي: دا (نسبت) د تصوف او طریقت په اعتبار سره دی، الشرنبلالي: د مصنف رَحِمَهُ الله وطن ته اشاره ده، په "مصر" کي د یو سیمي نوم دی، شرنبلالي خلاف القیاس دی؛ ځکه د قیاس په اعتبار سره "شبرابلولي" کېدل پکار دي. لکه څرنګه چي خپله مصنف رَحِمَهُ الله د خپل کتاب "دُرّ الکنوز" په آخر کي د دې صراحت کړی دی.

الأَخِلَّاء: جمع د خَلِيْلٌ ده. لکه څرنګه چي أَطِبَّاء او أَحِبَّاء جمع د طَبِيْبٌ او حَبِيْبٌ ده، معنیٰ یې ده: دوست.

عاملنا الله: دا جملهٔ معترضه او جملهٔ دعائیه ده، په دې سره یې وهغه ملګرو ته دعاء کړې ده کومو چي د دې تألیف مطالبه کړې وه. في العبادات: هغه احکام او مسائل چي د هغوی تعلق د عباداتو سره دی. تَشَتَّتَ: د تفعّل له باب څخه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده؛ متفرق کېدل، بېلېدل.

المطوّلات: د فن لوی کتابونه مراد دي. یعني د عباداتو سره متعلق هغه اهم مسائل کوم چي په لویو کتابونو کي موجود دي. چي هغوی په اختصار سره بلا یو ځای کړل سي چي مبتدي ته آسانه سي.

استعنت: ما د کتاب په تصنیف کي له الله ﷻ څخه مدد وغوښتی. ځکه چي د الله ﷻ له مدد او نصرت څخه بغیر هیڅ یو کار سر ته نه سي رسول کېدای، موږ ته پکار دي چي کله هم یو کار کوو، نو له الله ﷻ څخه مدد طلب کړو او د کار تر پوره کېدلو وروسته د الله ﷻ شکر اداء کړو.

طالبًا للثواب: د دې تصنیف غرض معلمینو او متعلمینو ته فایده رسول دي، کوم چې یو ډېر لوی نېک کار دی او د دې نېک کار په ترسره کولو کې بنده ته د الله ﷻ له طرفه ثواب حاصلېږي.

أهل الترجیح: دا د فقهاؤ له اُوو طبقو څخه یوه طبقه ده. یعني هغه علماء چې هغو د احنافو مختلفه روایات د راجح او مرجوح په نومونو سره جمع کړي دي او دا یې ښوولي دي چې له دې روایاتو څخه کوم یو افضل دی او کوم یې مفضول دی. کقولهم: هٰذا اولی، هٰذا أصحّ روایةً، هٰذا أوضح، هٰذا أوفق بالقیاس، هٰذا أرفق للناس (شرح عقود رسم المفتي ص: ۵۶). داسې علماؤ ته اهل الترجیح ویل کېږي. لکه امام قدوري رَحِمَهُ الله، علامه مرغیناني (صاحب الهدایه) رَحِمَهُ الله او داسې نور.

إطناب: د إطناب معنیٰ ده: په زیاتو الفاظو سره مراد پوره کول یا په بله وینا خبره اوږدول. نو د "من غیر إطناب" مطلب دی: په مختصره عبارت سره.

سمّیته نور الایضاح إلخ: د نُور معنیٰ ده: رڼا، څلا. کوم څه چې نور شیان ښکاره کړي. د دې جمع انوار ده. د ایضاح معنیٰ ده: واضح کول، څرګندول، ښکاره کول. نو د نُور الایضاح معنیٰ سوه: ښکاره کونکې رڼا. او ارواح جمع د روح ده. د نجات معنیٰ ده: خلاصون، لو عذاب روح لره وي. مطلب یې دا سو چې کوم څوک د عباداتو له مسائلو او طریقه څخه ناواقفه وي؛ د هغه لپاره دا مسائل نُور او لارښوونه ده چې په دې بلدي په عمل کولو سره انسان د الله له عذاب څخه نجات تر لاسه کولای سي (خلاصون موندلای سي).

مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چې په دې کتاب کې موږ صرف اقوال مرجّحه بیان کړي دي چې "ولا أذکر إلا ما جزم بصحته أهل الترجیح" یعني زه په دې کې صرف هاغه قول نقل کوم چې د هغه پر صحت اهل ترجیح اعتماد او وثوق کړی وي.

والله أسئل إلخ: یعني اهلِ علم حضرات کوم چې له دې کتاب څخه استفاده کوي. نو چې هغوی نورو ته هم فایده ورسوي، د دې لپاره چې دا سلسله جاري پاته سي.

د مصنف رَحِمَهُ الله دا دعاء داسې قبوله سوه چې د تصنیف له دَور څخه تر نن سبا پورې په لکلونو بندګانو له دې څخه نفع اخیستې ده او د دې فایده د اُمت ومخ ته ښکاره ده. له رب تعالیٰ څخه خولست کوو چې زموږ دا حقیر کوښښ هم په خپل دربار کې قبول کړي او خلک له دې څخه استفاده وکړي او زموږ د نجات ذریعه هم وګرځي. آمین یا أرحم الرّاحمین.

* * *

كِتَابُ الطَّهَارَةِ

(دا) كتاب د "پاکی" (داحكامو په بيان كي) دی

تشريح: د فقهاؤ او محدثينو دا طريقه ده چي كله دوی يو كتاب ليكي، نو د عنوان (سرليک) په توګه يو څو شيان ذكر كوي: "كتاب، باب، فصل"، چيري چي لفظ د "كتاب" ذكر كړي، هلته جنس مسائل په لحاظ كي ساتي. مثلاً د طهارت (پاکی) داحكامو جلا جنس دی چي تر هغه لاندي څو انواع دي، د صلاة (لمانځه) داحكامو يو جلا جنس دی، او زكاة، روژه او داسي نور جلا، جلا جنس دی. او چيري چي لفظ د "باب" استعمال كړي، هلته انواعِ مسائل په لحاظ كي ساتي. مثلاً د طهارت په مسائلو كي د وضوء (اودسه) مسائل، د تيمم مسائل او داسي نور. دا يې انواع دي. او چيري چي لفظ د "فصل" استعمال كړي، نو هلته له ماقبل مسائلو څخه جدايي په لحاظ كي ساتي. يعني له ماقبل څخه بعضي جزئيات جلا كوي او جلا يې بيانوي. مثلاً د وضوء (اودسه) په بيان كي فرائضِ وضوء له سنن وضوء څخه د فصل په ذريعه جلا كوي.

په لنډه وينا دا چي د فقهي په كتابو كي د عنوان (سرليک) لپاره دري قسمه الفاظ ذكر كيږي: ① كتاب ② باب ③ فصل. په كتاب كي د يوه جنس د مختلفو اقسامو او انواعو مسئلې ذكر كيږي. په باب كي د مخكيني جنس سره اړوند د يوه قسم بحث او مسئلې ذكر كيږي او په فصل كي د هغه مخكيني قسم سره اړوند جلا بحث او مسئلې (جزئيات) ذكر كيږي.

كتاب الطهارة: په دې جمله كي دري خبري دي: (۱) نحوي تركيب. (۲) د كِتَاب د لفظ مطلب. (۳) د طهارة د لفظ مطلب.

(۱)... **نحوي تركيب**: د نحوي تركيب په اعتبار سره (په دې جمله كي) دري احتماله دي: ① اول دا چي كتابُ الطهارة خبر دی د محذوفې مبتداء چي "هٰذا" دی يعني: هٰذا كتابُ الطهارة. ② دويم دا چي مبتداء ده د محذوف خبر يعني كتابُ الطهارة هٰذا. ③ دريم دا چي مفعول دی د محذوف فعل يعني: خذ كتابَ الطهارة يا اِقرأ كتابَ الطهارة.

(۲)...کتاب:

د کتاب لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د کتاب او کتابت لغوي معنی ده: "یو شی سره جمع کېدل" "جمع کول". لکه كَتَبْتُ الشَّيْءَ أَيْ جَمَعْتُهُ. او کتاب ته هم ځکه کتاب ویل کیږي چي په دې کي حروف سره را جمع کیږي، او کتاب د مکتوب په معنیٰ سره هم استعمالیږي. لکه څنګه چي د مجموع په معنیٰ سره استعمالیږي (په کتابُ الطهارة کي د مجموع په معنی سره دی). نو د کتابُ الطهارة معنی ده "جَمْعُ (مَجْمُوْعُ) مَسَائِلِ الطَّهَارَةِ".

او په اصطلاح کي کتاب د مسائلو هغه "مجموعه" ته وایي چي هغه مستقله عنل سوي وي (مستقلاً معتبره وي). برابره ده مختلفه انواعو لره شامله وي. لکه کتابُ الطهارة چي په دې کي طهارة الوضوء. طهارة الغسل. طهارة بالماء او طهارة بالتراب یعني د طهارت (پاکی) ټوله نواع په کتاب الطهارة کي داخل دی. یا مختلفه انواعو لره شامله نه وي. لکه کتابُ اللقطه. یا کتابُ الآبق. یا کتاب المفقود چي تر دې هر کتاب لاندي نه یو باب سته او نه یو فصل.

(۳).... طهارة:

د طهارت لغوي او اصطلاحي معنیٰ: طَهارت مصدر دی معنیٰ یې ده: پاکول. پاکوالی. او په اصطلاح کي طهارت له حدث (حکمي مرداري) یا له نجاست او خبث (حقیقي مرداري) څخه پاکېدلو ته وایي. او ځیني علماؤ ویلي دي چي طهارت د دریو (۳) اندامونو پرېوللو او د سر مسح کولو ته وایي. کتابُ الطَّهارة اضافت په معنیٰ سره د لام دی او تر لام وروسته دوه مضافه محذوف دي. ټوله عبارت به داسي وي "هٰذا كِتَابٌ لِبَيَانِ أَحْكَامِ الطَّهَارَةِ" (دا کتاب د پاکی د احکامو په بیان کي دی).

او طُهارت د طاء په ضمه سره هغه اُوبو ته ویل کیږي چي په هغوی سره پاکي حاصله کړل سي، او طِهارت په کسره د طاء سره د پاکولو آلې ته ویل کیږي. لکه اوبه او خاوري.

کتابُ الطهارة ولي مخکي کړی سو؟: مصنف رَحِمَهُ الله په شروع کي وویل چي دا مختصره کتاب په عباداتو کي لیکل کیږي. په عباداتو کي یې خپل کتاب په کتابُ الطهارة سره شروع کړی. نه په کتابُ الصلاة. کتابُ الصوم او داسي نورو سره (حال دا چي صلاة. صوم او داسي نور هم عبادات دي). د دې څه وجه ده؟.

د دې جواب دا دی چي د لمانځه لپاره طهارت ضروري دی، له هغه څخه بغیر لمونځ نه سي کېدلای. نو ځکه یې اول طهارت ذکر کړی او تر هغه وروسته به په عباداتو کي لمونځ ذکر کړي.

او ځکه چې دا خبره معلومه سوه چې د لمانځه لپاره طهارت ضروري دی، نو اوس دا پېژندل ضروري دي چې په کومو، کومو شیانو سره طهارت حاصلول کېدای سي؟. لهذا مصنف رَحِمَهُ الله هغه شیان ذکر کوي چې په هغوی سره طهارت حاصلول کېدای سي.

په کومو اوبو سره طهارت (پاکي) حاصلول جائز دي؟

﴿۱﴾ اَلْمِيَاهُ الَّتِيْ هغه اوبه يَجُوْزُ التَّطْهِيْرُ بِهَا چې په هغوی سره پاکوالی (پاکي حاصلول) جائز دي سَبْعَةُ مِيَاهٍ اووه قسمه اوبه دي مَاءُ السَّمَاءِ ① د آسمان اوبه (یعني باراني اوبه) وماءُ الْبَحْرِ ② د سمندر (دریاب) اوبه وَمَاءُ النَّهْرِ ③ د ویالې (والې) اوبه وَمَاءُ الْبِئْرِ ④ د څاه اوبه وَمَاءٌ ذَابَ مِنَ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ ⑤ .⑥ او هغه اوبه چې له واورې او ږلیو څخه ویلې سوي (ترلاسه سوي) وي وماءُ الْعَيْنِ ⑦ او د چینې اوبه (دغه پورته ذکر سوي اووه قسمه هغه اوبه دي چې په هغوی سره پاکي حاصلېدلی سي).

لغات: ﴿مياه﴾ جمع د ماءٌ ده، اوبه. ﴿يجوز﴾ د "يصح" په معنیٰ سره دی. یعني په دغو اوبو سره پاکي حاصلول صحیح دي. د "يَحِلُّ" په معنیٰ سره نه دی؛ ځکه خبره د هغو اوبو په باره کي ده چې په هغوی سره پاکي حاصلول صحیح دي که څه هم په یوه وجه حلالي (روا) نه وي. لکه یو چا چې د ځان لپاره د باران یا د سمندر یا ملسي نوري اوبه جمع کړي وي، نو د هغه له اجازې څخه بغیر دا اوبه استعمالول حلال (روا) نه دي. لېکن که بیا یې هم د اودس لپاره استعمال کړي، نو اودس یې صحیح کېږي. ﴿بحر﴾ سمندر، دریاب. جمع: بِحَار. ﴿بئر﴾ څاه. جمع: آبَار. ﴿ذاب﴾ د نصر له بابه د واحد مذکر غائب ماضي معلومي صیغه ده. ذَابَ يَذُوْبُ ذَوْبًا و ذَوَبَانًا: ویلي کېدل (ویلېدل)، مایع کېدل. ټینګه ماده د حرارت په واسطه اوبه کېدل. ﴿عَيْن﴾ په عربي ژبه کي بعضي الفاظ لسګونه معناوي لري او بعضي سلګونه معناوي لري. عَين له هماغه الفاظو څخه یو لفظ دی چې زیاتي معناوي لري چې د لغتپوهانو د وینا مطابق تقریبًا سلو معناوو ته رسېږي، چې له هغوی څخه صاحب د تاج العروس پنځوس معناوي ذکر کړي دي. مثلاً سترګه. مُخبِر (جاسوس). متعَین شی. ذات. دلته د دې لفظ معنیٰ ده: د اوبو چینه. ﴿البَرَد﴾ (د راء په فتحه سره)؛ ږلی. واحد: البَرَدَةُ (یوه ږلی). (مصباح اللغات)

یادونه: په عبارت کي له "مَاءُ السَّمَاءِ" څخه تر "مَاءُ الْعَيْن" پوري د "مَاءُ" لفظ مرفوع او مجرور دواړه ویل کېدای سي. د مرفوع ویلو په صورت کي به د مبتداءِ محذوف لپاره خبر وي چې هغه "أحدها"، "ثانيها" تر "سابعها" پوري دي (یعني أحَدُهَا مَاءُ السَّمَاءِ، ثَانِيْهَا مَاءُ الْبَحْرِ... الخ). او د مجرور په صورت کي به له "مِيَاهٍ" څخه بدل وي.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د هغه اوبو اقسام بيانوي چي په هغوی سره طهارت او پاکي حاصلول جائز دي، نو فرمايي: په کومو اوبو سره چي پاکوالی جائز دی، هغه اووه قسمه اوبه دي: ① دآسمان اوبه (مراد ځني دباران اوبه دي). ② د سمندر اوبه. ③ د نهر (لويي ويالې) اوبه. ④ د څاه اوبه. ⑤ د واوري اوبه. ⑥ دږليو اوبه. ⑦ د چينې اوبه.

دغه اووه قسمه اوبه دي کوم چي پاکي دي او په دوی سره جسم، جامه او داسي نور پاکول جائز دي، يا په بله وينا دا چي دوی خپله هم پاکي دي او بل لره هم پاکونکي دي، برابره ده دا اوبه خوږې وي او که تروې وي.

د اوبو قسمونه

> ﴿٢﴾ ثُمَّ الْمِيَاهُ بيا اوبه عَلٰى خَمْسَةِ أَقْسَامٍ پر پنځه قسمه دي طَاهِرٌ (اول قسم هغه اوبه دي) چي (په خپل ذات کي) پاکي وي مُطَهِّرٌ (اوبل شي لره هم) پاکوونکي وي (يعني بل شی چي په پرېولل سي، نو هغه هم پاک ګرځوي) غَيْرُ مَكْرُوْهٍ مکروه نه وي (استعمالول يې) وَهُوَ الْمَاءُ الْمُطْلَقُ او هغه مطلقي اخالص ا اوبه دي (يعني چي څه داسي شی ورسره ګډ سوی نه وي چي هغه مُقَيَّدي وګرځي).

تشريح: د طهارت او نجاست په اعتبار سره د اوبو لاندېني پنځه قسمونه دي: ① "طاهر مطهر" يعني هغه اوبه کوم چي خپله هم پاکي وي او د بل څه د پاکولو صلاحيت هم لري، لکه "ماء مطلق" (يعني "علمي خالص اوبه"، په دې شرط چي له پورتني مذکوره اوو قسمونو څخه وي) چي په هغوی بل شی ګډ سوی نه وي، مثلا: د سمندر او نهر اوبه يا د چينې اوبه.

> ﴿٢﴾ وَطَاهِرٌ او (دويم قسم هغه اوبه دي) چي (په خپله) پاکي وي مُطَهِّرٌ (بل شي لره هم) پاکوونکي وي مَكْرُوْهٌ (لېکن استعمالول يې) مکروه وي وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ الْهِرَّةُ وَنَحْوِهَا او دا هغه اوبه دي چي پيشي اوبه ورڅخه څښلي وي او ايا د پيشي په څېر بل حيوان وَكَانَ قَلِيْلًا حال دا چي هغه اوبه لږ (هم) وي.

لغات: ﴿هِرَّة﴾ پيشي، جمع: هِرَرٌ. او د بعضو په وينا د هِرٌّ اطلاق په مذکر او مؤنث دواړو باندي کيږي او د هِرَّةٌ اطلاق صرف په مؤنث باندي کيږي.

تشريح: په دې عبارت کي د طهارت او نجاست په اعتبار سره د اوبو دويم قسم بيان سوی دی ② "طاهر مطهر مکروه". لکه هغه لږ اوبه چي کورنۍ پيشي خوله پکښې ووهي، يا مثلاً چرګه (کوم چي آزاده پر ېښوول سوې وي) يا موږک او داسي نور خوله پکښې ووهي، د دې اوبو حکم دا دی چي که

نوري نامكروه اوبه موجوده وي، نو دا اوبه استعمالول مكروه تنزيهي دي. لېكن كه له دوی څخه بغير نوري اوبه نه وي، نو بيا په دوی سره پاكي حاصلول صحيح دي، هيڅ پروا پكښي نشته.

ماء مستعمل

﴿۴﴾ وَطَاهِرٌغَيْرُمُطَهِّرٍ او (دريم قسم هغه اوبه دي) چي (په خپل ذات كي خو) پاكي وي (لېكن بل شي لره) پاكونكي نه وي وَهُوَمَا اسْتُعْمِلَ لِرَفْعِ حَدَثٍ او دا هغه اوبه دي كوم چي استعمال سوي وي د بې اودسيا ليري كولو لپاره (مثلا بې اودسه كس اودس په وكړي) أَوْلِقُرْبَةٍ كَالْوُضُوْءِ عَلَى الْوُضُوْءِ بِنِيَّتِهٖ يا (استعمال سوي وي) د ثواب حاصلولو لپاره لكه په اوداسه د پاسه (بل) اودس كول د اوداسه په نيت سره.

لغات: ﴿رفع﴾ د فتح د باب مصدر دی: پورته كول، ليري كول (ختمول). ﴿حدث﴾ نجاست حكمي، بې اودسيا (بي اودسي). ﴿قربة﴾ د نېكي او ثواب كار چي په هغه سره د خدای تعالیٰ قربت (نژدېكت) او ثواب حاصلول كيږي (يا په بله وينا هغه څه چي په هغه سره د الله تعالیٰ قربت او رضاء ترلاسه كول كيږي). نېكي او ثواب، عبادت. جمع: قُرَب و قُرُبَات.

تشريح: په دې عبارت كي د اوبو دريم قسم بيان سوی دی ③ "طاهر غير مطهر" يعني هغه اوبه كوم چي خپله خو پاكي وي، لېكن هغوی د حدث (بې اودسيا) ليري كولو صلاحيت نه لري، لكه ماء مستعمل (استعمال سوي اوبه) يعني چي په هغوی سره يو حكمي حدث (حكمي بې اودسيا) ليري كړل سوې وي يعني كوچني بې اودسيا يا لويه بې اودسيا. يا په بله وينا دا چي په هغوی سره اودس يا د جنابت غسل كړل سوي وي، همدارنګه هغه اوبه چي بې اودسيا خو په ليري نه كړل سي. بلكي د اوداسه د پاسه بل اودس په وكړل سي د ثواب او عبادت په نيت سره. همدارنګه هغه اوبه چي لاس په پرېولل سي د خوراك او داسي نورو لپاره، نو د هغوی هم دغه حكم دی (چي طاهر غير مطهر دي). خو په ماء مستعمل سره نجاست حقيقي (حقيقي نجاست) ليري كول مثلاً مرداره كپړه په پرېولل صحيح دي.

❀ ❀ ❀

د اودس د پاسه بل اودس كول

مسئله: كه څوك په اول اوداسه باندي يو عبادت وكړي، نو نوی اودس كول (تازه كول) [illegible] دی همدارنګه كه يې د اول اوداسه ډېر وخت كيږي، نو هم نوی اودس كول مستحب دي، كه څه هم په اول اوداسه

یې یو عبادت نه وي کړی، او که چیري وخت هم زیات نه وي تېرسوی او یو مقصودي عبادت یې هم په اوداسه نه وي کړی، نو بیا اودس کول مکروه کاردی؛ ځکه چي دا اسراف دی. (تحفة الالمعي. جلد۱ ص۲۹۲. طحطاوي. ص۱۴)

اوبه کله مستعملي ګرځي؟

﴿۵﴾ وَيَصِيْرُ الْمَاءُ مُسْتَعْمَلًا او ګرځي اوبه مستعملي بِمُجَرَّدِ انْفِصَالِهٖ عَنِ الْجَسَدِ محض له بدن څخه په را جلا کېدو سره (یعني هر کله چي اوبه مازي له بدن څخه را جلا سي، نو مستعملي سوې).

لغات: ﴿انفصال﴾ دانفعال د باب مصدر دی: جلا کېدل، بېلېدل.

تشریح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله دا خبره بیانوي چي اوبه کله مستعملي شمېرل کیږي؟ نو فرمایي چي له بدن څخه تر جلا کېدو وروسته سمدستي اوبه مستعملي ګرځي، دویم قول دا دی چي له بدن څخه تر جلا کېدو وروسته چي کله اوبه یو ځای ودرېږي، نو بیا اوبه مستعملي شمېرل کیږي، نه تر هغه مخکي، خو مفتیٰ بهٖ اول قول دی. (طحطاوي ج:۱. ص:۱۴)

❀ ❀ ❀

د استعمال سوو اوبو حکم

مسئله (۱): په اوداسه او غسل کي چي کومي اوبه استعمال سوي وي، که په هغوی یو ښکاره نجاست ګډ سوی نه وي. نو داسي اوبه که څه هم خپله پاکي دي، لېکن په هغوی سره بل وار پاکي حاصلول یعني اودس یا غسل په کول صحیح نه دي. خو ناپاکه جامه په هغوی سره پاکول کېدای سي له نجاست څخه.

مسئله (۲): که چیري د اوداسه یا غسل مستعملي اوبه په جامه او کالیو باندي ولوېږي، نو په هغه سره جامه او کالي نه مردارېږي، خو بیا هم احتیاط ضروري دی. (البحر الرائق بیروت ج:۱. ص:۹۸. فتاویٰ محمودیه جدید ج:۵. ص:۱۲۵)

مسئله (۱): مړي ته د غسل ورکولو لپاره چي کومي اوبه استعمال سي، هغه ناپاکه دي. لهذا که مړي ته د غسل ورکولو پر مهال پر کالیو زیات څاڅکي ولوېږي، نو کالي ناپاکه کیږي. (کتاب المسائل. مطبع عثمانیه ج:۱. ص۱۸۳. زکریا ج:۱. ص:۳۴۹)

په کومو اوبو سره پاکي حاصلول جائز نه دي؟

﴿۶﴾ وَلَا يَجُوْزُ او جائز نه دي (پاکي حاصلول) بِمَاءِ شَجَرٍ وَثَمَرٍ د درختي (وني) په اوبو سره او د مېوې په اوبو سره وَلَوْ خَرَجَ بِنَفْسِهٖ مِنْ غَيْرِ عَصْرٍ که څه هم هغه بغیر له نچوړلو څخه په خپله (له درختي یا مېوې څخه) وتلي وي فِي الْأَظْهَرِ د ظاهر روایت مطابق (یعني ظاهر روایت همدا دی چي دا اوبه که څه هم په خپله راوتلي وي، نو هم په دوی سره پاکي حاصلول جائز نه دي).

لغات: ﴿شَجَر﴾ درخته (ونه)، اسم جنس دی، پر واحد، تثنیه او جمع ټولو یې اطلاق کیږي، واحد: شَجَرَةٌ، جمع: اَشْجَارٌ و شَجَرَاتٌ. همداسې ثَمَرٌ هم اسم جنس دی، واحد: ثَمَرَةٌ، جمع: ثِمَارٌ.

﴿عصر﴾ د ضرب د باب مصدر دی: نڅوړل (په فشار او زور له مېوې او داسې نورو څخه اوبه کښل).

تشریح: کومې اوبه چې له درختي یا مېوې څخه ایستل سوي (کښل سوي) وي، مثلاً د کېلې له درختي څخه اوبه ایستل سوي وي، یا مثلاً له ګني څخه ایستل سوي اوبه (رَس) یا د هینډوانې اوبه، نو په دا قسم اوبو سره بالاتفاق اودس او غسل جائز نه دي، همدارنګه که له درختي یا مېوې څخه خپله په قطره، قطره اوبه را څڅېدلي وي، نو د اصح قول پر بناء په هغه سره هم اودس او غسل جائز نه دي او غیر اصح قول دا دی چې جائز دي.

یادونه: له دې ځایه د هغه اوبو یادونه سوې ده کوم چې په اضافت تقییدي سره نومول کیږي یعني "ماء مقید". یعني هغه اوبه چې پر خپل اصلي طبیعت پاته نه وي، بلکې د هغوی سره داسې شی ګډ سوی وي چې اوبه د هغه شي د نوم (په قید) سره یادول کیږي، مثلاً له هینډوانې یا له انګورو څخه ایستل سوي اُوبو ته د هینډوانې یا انګورو اوبه (رَس) ویل کیږي، همدارنګه له درختي څخه ایستل سوي اُوبو ته عرق او رَس ویل کیږي، نو فرمایي چې د ظاهر روایت مطابق په داسې اُوبو سره اودس او غسل کول او پاکي حاصلول جائز نه دي.

﴿۷﴾ وَلَا بِمَاءٍ زَالَ طَبْعُهُ او نه په هغه اوبو سره (پاکي حاصلول جائز دي) چې د هغوی طبیعت زائل سوی (ختم سوی) وي بِالطَّبْخِ د پخولو په وجه (زائل سوی وي) أَوْ بِغَلَبَةِ غَيْرِهِ عَلَيْهِ یا پر هغوی د بل شي د غالب کېدلو په وجه (زائل سوی وي).

لغات: ﴿طبخ﴾ د فتح د باب مصدر دی: پخول، غیره، علیه: د دواړو ضمیر مَاء ته راجع دی.

تشریح: د اوبو دوه طبیعته دي: ① رِقّة (باریکوالی، نری والی). ② سیلان (بهېدل، جاري کېدل).

صورت د مسئلې دا دی چې که په اوبو کې یو شی مثلاً لوبیا یا داسې بل شی واچول سي او پوخ کړل سي چې د هغه په وجه اوبه ګاټه (خټدي) سي او د رقت او سیلان طبیعت یې ختم سي، نو داسې اوبه "ماء مطلق" پاته نه سوې، لهذا طهارتِ حکمي یعني اودس او غسل په داسې اوبو سره نه جائز کیږي.

همدارنګه په هغه اوبو سره هم طهارتِ حکمي حاصلول جائز نه دي چې په هغوی کې له اوبو څخه بغیر بل پاک شی په زیات (غالب) مقدار ګډ سوی وي چې اوبه یې له خپل طبیعته ایستلي

وي، لکه هر ډول شربت، سرکه، ښوروا، دلوبیا اوبه، دزردکي او ګلاب اوبه، ځکه پر دې شیانو عرفاً د اوبو اطلاق نه کول کیږي. په متن کي د "غلبة غیره" قید ځکه لګول سوی دی چي که اوبه مغلوبه نه وي بلکي غالبه وي، نو په هغوی سره طهارت جائز دی.

﴿٨﴾ وَالْغَلَبَةُ فِيْ مُخَالَطَةِ الْجَامِدَاتِ او غالب والی د جامدو (وچو) شیانو په ګډېدلو کي (یعني کله چي په اوبو جامد وچ شی ګډ سي لکه اوړه، زعفران، رېګ او داسي نور جامدات، نو په دې صورت کي دې جامد شي د غالب والي اعتبار) بِإِخْرَاجِ الْمَاءِ عَنْ رِقَّتِهٖ وَسِيْلَانِهٖ په ایستلو سره د اوبو دی له خپل باریک والي او بهېدلو څخه (یعني کله چي د هغه جامد شی په وجه اوبه خټي او ګاټه سي او رقت او سیلان یې ختم سي، نو په دې صورت کي هغه شی غالب شمېرل کیږي) وَلَا يَضُرُّ تَغَيُّرُ أَوْصَافِهٖ كُلِّهَا بِجَامِدٍ او نقصان نه کوي د جامد شي په وجه د اوبو د ټولو اوصافو بدلېدل (یعني که د هغه جامد شي په وجه د اوبو ټوله اوصاف [رنګ، خوند او بوی] بدل سي، خو رقت او سیلان یې باقي پاته سي، نو پاکي په حاصلول جائز دي) كَزَعْفَرَانٍ وَفَاكِهَةٍ وَوَرَقِ شَجَرٍ (جامد شیان) لکه زعفران، مېوه او د درختو پاڼي (بلګونه).

لغات: ﴿مخالطة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: یو د بل سره ګډېدل. ﴿زعفران﴾ مشهوره خوشبویه ژړ رنګ لرونکی ګل دی، جمع: زَعَافِرُ.

تشریح: مخکي دا خبره تېره سوه چي په ماء مطلق سره طهارت (پاکي) حاصلول جائز دي او که ماء مطلق نه وي، نو په هغه سره طهارت حاصلول جائز نه دی. اوس دلته دا خبره بیانوي چي اوبه کله مطلقي "ماء مطلق" (خالص اوبه) شمېرل کیږي او کله نه شمېرل کیږي، نو په دې بابه کي اعتبار غلبې لره دی یعني چي په اوبو ګډېدونکی شی په زیات مقدار سره وي چي پر اوبو غالب وي. اوس دلته صاحب د کتاب رَحِمَہُ اللہ د غلبې صورت د قاعدۀ کلیه په توګه بیانوي، او د ټولو شیانو یې دوه قسمه بیان کړي دي: ① جامد یعني سخت شی یا په بله وینا وچ شی، ② مائع یعني بهېدونکی شی.

په دغه عبارت کي د جامداتو بیان دی، حاصل یې دا دی چي که یو جامد یعني وچ شی مثلاً اوړه، نیني یا داسي بل شی په اوبو ګډ سي چي د هغه په وجه د اوبو رقت او سیلان دواړه طبیعتونه ختم سي، نو هغه ته مطلقي اوبه "ماء مطلق" نه ویل کیږي او په هغوی سره اودس او غسل جائز نه دي، لېکن که دا مذکوره شیان په دومره لږ مقدار په اوبو ګډ سي چي د هغه په وجه خو د اوبو رنګ یا بوی بدل سي، لېکن د اوبو رقت او سیلان باقي پاته وي، مثلاً د جاري (بهېدونکو) اوبو سره چي څه

رنګ ګډ سي. یا مثلاً په اوبو کې زعفران واچول سي او د هغوی له رنګ ښکاره سي، یا مثلاً د مَني (خزان) په موسم کې د پاڼو د رالوېدلو په وجه د حوض د اوبو ټوله اوصاف بدل سي. نو په دې ټولو صورتونو کې په هغه اوبو سره اودس او غسل جائز دي. (مراقی الفلاح: ۱۵)

﴿۹﴾ وَالْغَلَبَةُ فِي الْمَائِعَاتِ او غالب والی په بهېدونکو شیانو کې (یعني کله چې په اوبو یو مائع ابهېدونکی اشی ګډ سي لکه شیدې، نو د غالب والي اعتبار) بِظُهُوْرِ وَصْفٍ وَاحِدٍ د یوه وصف په ښکاره کېدلو سره دی (یعني کله چې د هغه مائع شي یو وصف (مثلا رنګ) په اوبو کې ښکاره سي. نو پر اوبو غالب شمېرل کېږي) مِنْ مَّائِعٍ لَهٗ وَصْفَانِ فَقَطْ له هغه بهېدونکي شي څخه [یعني مراد هغه مائع شی دی ا چې هغه لره صرف دوه وصفونه وي كَاللَّبَنِ لَهُ اللَّوْنُ وَالطَّعْمُ لکه شیدې چې هغه لره رنګ او خوند سته وَلَا رَائِحَةَ لَهٗ او بوی ورلره نسته (بوی نه لري).

لغات: ﴿لبن﴾ شیدي، جمع: أَلْبَانٌ، ﴿لون﴾ رنګ، جمع: أَلْوَان، ﴿طعم﴾ خوند، لذت (مزه).

تشریح: مخکې په جامداتو کې د غلبې صورت بیان سو، اوس له دې ځایه په مائعاتو کې د غلبې صورتونه بیانوي، مایعات (بهېدونکي شیان) درې قسمه دي: ① یو هغه چې درې سره وصفه پکښې وي (یعني خوند، رنګ او بوی)، ② دوهم هغه چې صرف دوه وصفه پکښې وي (مثلا خوند او بوی)، ③ درېیم هغه چې هیڅ وصف پکښې نه وي.

په دغه عبارت کې د دوهم قسم بیان دی، حاصل یې دا دی چې که په اوبو ګډ سوی شی مایع (بهېدونکی) وي او د اوبو له جنس څخه نه وي، نو د غلبې اعتبار به د اوصافو په لحاظ سره کېږي، لکه شیدې چې مایع شی دي او د اوبو له جنس څخه نه دي، او په شیدو کې صرف دوه وصفه دي (رنګ او خوند. درېیم وصف "بوی" پکښې نسته). نو که د شیدو یو وصف پر اوبو غالب سي، نو هغه اوبه نه پاتېږي، بلکې اوس د اوبو پر ځای هغه ته شیدې ویل کېږي، نو ځکه په هغه سره اودس او غسل نه صحیح کېږي.

﴿۱۰﴾ وَبِظُهُوْرِ وَصْفَيْنِ مِنْ مَّائِعٍ لَهٗ ثَلَاثَةٌ او (د غالب والي اعتبار) د دوو وصفونو په ښکاره کېدلو سره دی له هغه بهېدونکي شي څخه چې هغه لره درې وصفونه وي (یعني کوم مائع شي لره چې درې سره وصفه وي. که د هغه دوه صفته په اوبو کې ښکاره سي. نو هغه پر اوبو غالب شمېرل کېږي) كَالْخَلِّ لکه سرکه.

لغات: ﴿خل﴾ سرکه، جمع: اخُلٌ و خِلَالٌ.

تشریح: په دې عبارت کې د اول قسم بیان دی، فرمایي چې په کوم مایع شي کې چې درې سره وصفونه وي (خوند، رنګ او بوی). که هغه شی په اوبو ګډ سي او دوه وصفه یې ښکنې ښکاره سي، نو په هغه اوبو سره او دس او غسل جائز نه دي، لکه سرکه چې هغه یو مایع (بهېدونکی) شی دي او په هغه کې خوند، رنګ او بوی درې سره اوصاف سته، لهذا که سرکه په اوبو کې واچول سي او په اوبو کې د سرکې دوه وصفه ښکاره سي، نو هغه اوبه نه پاتېږي، بلکي د سرکې په حکم ګرځي (ګواکي سرکه سوه)، خو که صرف یو وصف یې ښکنې ښکاره سي، نو بیا په هغه اوبو سره اودس او غسل جائز کېږي. (مراقی الفلاح: ۱۶)

﴿۱۱﴾ وَالْغَلَبَةُ فِي الْمَائِعِ الَّذِيْ لَاوَصْفَ لَهٗ او غالب والی په هغه بهېدونکي شي کې کوم لره چې هیڅ وصف نه وي (یو صفت هم نه لري) كَالْمَاءِ الْمُسْتَعْمَلِ لکه مستعملي اوبه وَمَاءِ الْوَرْدِ الْمُنْقَطِعِ الرَّائِحَةِ او لکه د ګلاب (ګل ګلاب) هغه اوبه چې خوشبویي یې ختمه سوې وي (هیڅ خوشبویي نه لري) تَكُوْنُ بِالْوَزْنِ (نو په داسې اوبو کې غالب والی) په وزن سره کېږي (یا په بله ویناداچې په داسې مائع شي کې به د غالب والي اعتبار په وزن سره کول کېږي، یعني په داسې مائع اوبو کې غلبه د وزن په اعتبار سره حاصلېږي کوم لره چې هیڅ وصف نه وي) فَإِنِ اخْتَلَطَ رِطْلَانِ مِنَ الْمَاءِ الْمُسْتَعْمَلِ نو (مثلاً) که ګډې سي دوه رطله (یا مثلاً دوه سېره) مستعملي اوبه بِرِطْلٍ مِّنَ الْمُطْلَقِ په یوه رطل (یا په یوه سېر) مطلقو (خالصو) اوبو لَايَجُوْزُ بِهِ الْوُضُوْءُ نو په داسې اوبو سره اودس نه جائز کېږي وَبِعَكْسِهٖ جَازَ او د دې په برعکس صورت کې (مثلاً چې ماءِ مستعمل یو سېر وي او ماءِ مطلق دوه سېره وي) جائز دی.

لغات: ﴿رطل﴾ یو خاص وزن دی کوم چې څه کم نیم کېلو کېږي (په پاکستاني حساب سره) ځکه نیم کېلو پنځه سوه (۵۰۰) ګرامه کېږي او رطل (۴۴۲) کېږي (نو رطل له نیم کېلو څخه ۵۸ ګرامه کم سو). رطل یو قسم لوښی ور چې په هغه سره به مکیلې شیان یعني غنم او داسې نور پیمانه کېدل. صاحب د احسن الفتاویٰ لیکلي دي چې یو رطل د اوسني وخت په حساب سره (۴۴۲) ګرامه کېږي او (۸) رطله یو صاع

کیږي او یو صاع (۳۵۳۸) ګرامه کیږي یعني تقریباً دري نیم کیلو. یا د عراقي رطل مقدار دی کوم چې د فقهاؤ په نیز معتبر دی. ﴿الماء المستعمل﴾ استعمال سوي اوبه (کارول سوي اوبه). برابره ده د نجاست حکمي د زوال لپاره استعمال سوي وي یا د قربت او ثواب لپاره.

تشریح: په دې عبارت کې د دریم قسم بیان دی، فرمایي چې که بې وصفه مایع شی په اوبو ګډ سي (مثلا ماء مستعمل په خالص اوبو ګډي سي)، نو په دې صورت کې به د وزن په اعتبار سره حکم کول کیږي، د کوم یوه وزن چې زیات وي، نو اوبه د هغه په حکم سره ګرځي؛ ځکه اوس له دې څخه بغیر بل د توپیر صورت ممکن نه دی، مثلاً دوه سېره مستعملي اوبه (ماء مستعمل) یا د ګلاب اوبه په یوه سېر خالص اوبو ګډي سي، نو داسي اوبه له ماء مطلق (خالص اوبو) څخه وځي او ماء مقید ګرځي او په هغه سره اودس او غسل نه جائز کیږي، لیکن د دې په برعکس صورت کې جائز کیږي یعني چې ماء مقید (یعني مستعملي اوبه یا د ګلاب اوبه) په لږ مقدار سره وي او ماء مطلق (خالص اوبه) په زیات مقدار سره وي، او که دواړه سره برابر وي، نو په داسي صورت کې مشایخو احتیاطاً د عدمِ جواز حکم کړی دی. (مراقی الفلاح: ۱۶)

د "ماء نجس" (مردارو اوبو) بیان

﴿۱۲﴾ وَالرَّابِعُ مَاءٌ نَجِسٌ او څلورم قسم ناپاکه (مرداري) اوبه دي وَهُوَ الَّذِیْ حَلَّتْ فِیْهِ نَجَاسَةٌ او دا هغه اوبه دي چې یو ناپاکي (مرداري) پکښې لوېدلې وي وَکَانَ رَاکِدًا قَلِیْلًا حال دا چې هغه ولاړي (درېدلي، لو) لږ اوبه وي وَالْقَلِیْلُ مَا دُوْنَ عَشْرٍ فِیْ عَشْرٍ او لږ هغه اوبه دي کوم چې د لس په لس څخه کم وي (یعني لس شرعي ګزه اوږدوالی او لس شرعي ګزه پراخوالی نه لري، بلکي له دې څخه کمي اوبه وي. نو هغه ماءِ قلیل دي) فَیَنْجِسُ وَإِنْ لَّمْ یَظْهَرْ أَثَرُهَا فِیْهِ نو داسي اوبه (د نجاست په ورلوېدلو سره) مرداریږي که څه هم د نجاست اثر په اوبو کې ښکاره سوی نه وي أَوْ جَارِیًا وَ ظَهَرَ فِیْهِ أَثَرُهَا یا اوبه جاري (بهېدونکي) وي او په هغوی کې د نجاست اثر ښکاره سوی وي (نو هم اوبه مرداریږي) وَالْأَثَرُ طَعْمٌ أَوْ لَوْنٌ أَوْ رِیْحٌ او اثر خوند یا رنګ یا بوی دی.

لغات: ﴿راكِدًا﴾ د نصر له بابه فاعل دی. ولاړ، درېدلی. رَكَدَ يَرْكُدُ رُكُوْدًا: درېدل. حرکت بندېدل (ساکن کېدل). ﴿لَمْ يَظْهَرْ﴾ (بفتح الهاء دی. او بضم الهاء ویل د قاعدې مطابق نه دي) د فتح له بابه د واحد مذکر غائب جحد نفي بِلَمْ صیغه ده، مصدر: ظُهُوْرًا: ښکاره کېدل، بهر راتلل.

تشريح: له دې ځایه د طهارت او نجاست په اعتبار سره د اوبو څلورم قسم بیانوي او هغه "ماء نجس" (مرداري اوبه) دي، یعني هغه اوبه چې یو نجاست (مرداري) په ګډه سوې وي. اوس که هغه ولاړې اوبه وي او لږ وي نو د نجاست په ورلوېدلو سره سملستي ټوله اوبه مردارېږي، که څه هم د هغه هیڅ وصف بدل نه سي، مثلاً په لوی ستل یا ټپ کې یو څاڅکی متیازې ولوېږي نو هغه مردارېږي، که څه هم د متیازو اثر پکښې ښکاره نه سي.

او که چیري ماء کثیر وي لکه د لوی حوض یا تالاب اوبه، نو د نجاست حکم به هغه وخت کول کېږي کله چې د نجاست اثر یعني رنګ، خوند، بوی په اوبو کې ښکاره سي.

د ماء کثیر تعریف: "د کومو اوبو مقدار چې لس په لس کې وي (یعني لس ګزه یې اوږدول وي او لس ګزه یې بَر وي)". لکه لوی حوض یا لوی تالاب، نو هغه ماء کثیر (زیاتي اوبه) دي، یا په بل تعریف "دومره اوبه چې د لیدونکي په نظر کې کثیر (زیاتي) وي چې د هغه اندازه لس په لس کې تاکل سوې ده". ماء کثیر هم د ماء جاري په حکم کې دي. (کتاب المسائل ص: ۸۶)

ځیني علماء وایي چې ماء کثیر یا غټ حوض یا تالاب هغه دی چې د یوه طرف په ښورلو سره یې بل طرف نه ښوري، مثلاً که یو څوک یې په یوه طرف کې اودس وکړي، نو هغه بل طرف یې په هغه ګړي نه ښووري (وروسته ښورېدل معتبر نه دي؛ ځکه اوبه نرم بارېک شی دی چې د باد وغیره له امله هم په حرکت کې راځي).

د ماء قلیل تعریف: "د کومو اوبو مقدار چې د لس په لس څخه کم وي". لکه د ځاه اوبه یا د کوچني تالاب اوبه. نو هغه ماء قلیل (لږ اوبه) دي، داسې اوبه د لږ نجاست په ورلوېدلو سره هم مردارېږي، که څه هم وصف یې بدل نه سي. (در مختار ج:۱، ص:۱۷۱، طبع: مصري)

د ماء جاري تعریف: بهېدونکې اوبه کوم چې جاري او رواني لیدل کېږي، چې یو علامت یې دا هم دی چې که خاشه یا پاڼه ور واچول سي. نو هغه وړي، او که دومره رفتار هم په اوبو کې نه وي (چې خاشه یا پاڼه یووړل سي) نو هغوی ته جاري نه ویل کېږي. (در مختار ج:۱، ص:۱۷۱)

د اوسني زماني په حساب سره د ماء کثیر اندازه: دلته له ګز څخه مراد شرعي ګز دی. کوم چې یو لاس کېږي (یعني د ګوتو له سر څخه تر څنګلي پوري). نو مطلب دا چې د کومو اوبو مقدار په اوږدول هم

لس لاسه وي او په پلنوالي هم لس لاسه وي، نو هغه ماء کثیر دي، او داوسنی زمانې د ګز په اعتبار سره یو لاس نیم ګز کیږي، نو لس لاسه پنځه ګزه سوه، لهذا که داوبو مقدار پنځه ګزه اوږد او پنځه ګزه پراخ وي، هغه ماء کثیر دي. او د "فوټ" په حساب سره یو لاس "یو نیم فوټ" کیږي کوم چې اتلس (۱۸) اینچه کیږي، نو د کومو اوبو مقدار چې پنځلس فوټه اوږد او پنځلس فوټه پراخ وي، هغه ماء کثیر دي او داسي حوض یا تالاب ته لوی حوض او لوی تالاب (غدیرِ عظیم) ویل کیږي.

د "ماء مشکوک" بیان

﴿ ۱۳ ﴾ وَالْخَامِسُ مَاءٌ مَشْكُوكٌ فِيْ طَهُوْرِيَّتِهٖ او پنځم قسم هغه اوبه دي چې د هغوی په پاکونکي کېدو کې شک سوی وي (یعني په دې کې شک وي چې دا اوبه بل شی پاکوي او که نه) وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ حِمَارٌ أَوْ بَغْلٌ او دا هغه اوبه دي چې چیښل (څښل) ور څخه کړي وي خره یا غاتري.

لغات: ﴿طهوریّة﴾ مُطهر کېدل، پاکونکي کېدل، یعني چې خپله هم پاک وي او بل لره هم پاکونکي وي، هر طهور طاهر دی لیکن هر طاهر طهور نه دی، ﴿حمار﴾ خر، د دې دوه قسمه دي: اهلي او وحشي (یعني کورنی خر او ځنګلي خر)، دلته اهلي (کورنی) خر مراد دی، جمع: حُمُر، ﴿بغل﴾ غاتره، یعني چې له خرې او آس څخه پیدا وي (یا په بله وینا دا چې پلار یې آس وي او موریې...)، نو پسخورده یې مشکوکه ده، او که له خره او آسې څخه پیدا وي، نو په دې صورت کې د غاتري پسخورده پاکه ده؛ ځکه د حیواناتو په نسبت کې اعتبار مور لره دی، نه پلار لره.

تشریح: په دې عبارت کې داوبو د پنځم قسم بیان دی او هغه ماء مشکوک دي یعني هغه اوبه چې په مُطهِر والي کې یې شک وي او دا هغه اوبه دي چې خره یا غاتري خوله پکښې وهلې وي. د دې حکم دا دی چې که نوري پاکي اوبه وي، نو په دوی سره دي اودس وغیره نه کوي او که نوري اوبه نه وي، نو په دوی سره دي اودس وکړي، لیکن وروسته دي تیمم هم وکړي. (شامي ج:۱، ص:۲۰۹، طبع: مصري)

مشکوک ځکه ورته وایي چې په پاکوالي او ناپاکوالي کې یې شک دی. یعني دا شک هم پکښې سته چې دا اوبه به پاکي وي، نو ځکه اودس په جائز دی. او دا شک هم پکښې سته چې ناپاکه به وي، نو ځکه اودس په جائز نه دی او تیمم به وهي.

او د مشکوک کېدلو وجه يې دا ده چې د خره د غوښو او خولې (عرق) په باره کې دوه قسمه دلائل سته، يو دا چې نبي ﷺ د خره د غوښو له خوړلو څخه منع وکړه (بخاري شريف. باب غزوة خيبر ج: ٢. ص: ٦٠٦. حديث رقم: ٤٢١٩)، او کله چې د خره غوښه حلاله نه ده، نو د خره ناړي (لاړي) به هم مرداري وي؛ ځکه چې ناړي له غوښې څخه پيدا کېږي، نو په دې اعتبار سره پکار دا ده چې د خره پسخورده دې مرداره وي، او بل روايت دا دی چې نبي کريم ﷺ پر خره سپور سوی دی (بخاري شريف، باب اسم الفرس والحمار. حديث رقم: ٢٨٥٦) چې د هغه په وجه به د نبي کريم ﷺ پر جامه د خره خوله (عرق) لګېدلې وي، او خوله هم له غوښې څخه پيدا کېږي او حکم يې هماغه دی کوم چې د ناړو حکم دی. لهذا کله چې نبي ﷺ د خره له خولې څخه جامه نه ده مينځلې او خوله يې پاکه ده، نو په دې اعتبار سره د هغه ناړي هم پاکېدل پکار دي (او له دې څخه بغير يو بل حديث هم په ابو داؤد شريف کې نقل سوی دی کوم چې د خره د غوښې پر حلت دلالت کوي. (ابو داؤد شريف. باب في اکل لحوم الحمر الأهلية ص: ١٥٤٣)، ګواکې د خره په باره کې دوه قسمه دلائل نقل سوي دي، نو ځکه د خره پسخورده مشکوکه ګرځول سوې ده.

* * *

فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ أَحْكَامِ السُّؤْرِ)

(دا) فصل (د پسخوردې داحکامو په بيان کې) دی

د پسخوردې بيان

﴿۱۴﴾ وَالْمَاءُ الْقَلِيْلُ إِذَا شَرِبَ مِنْهُ حَيَوَانٌ او لږ اوبه کله چې چيښل کړې وي له هغه څخه يو حيوان يَكُوْنُ عَلٰى أَرْبَعَةِ أَقْسَامٍ نو هغه پر څلور قسمه کيږي (يعني داسې اوبه پر څلور قسمه دي) وَيُسَمّٰى سُؤْرًا او هغه په پسخورده سره نومول کيږي (يعني داسې اوبو ته پسخورده اوبه وايي).

تشريح: په دې فصل کې مصنف رَحِمَهُ الله د پسخوردې احکام بيانوي، کله چې اوبه لږ وي مثلاً په يو لوښي کې وي او له هغه څخه يو حيوان (ساکښ) اوبه وڅيښي، نو تر څيښلو وروسته چې کومې اوبه پاتې سي، هغه ته پسخورده اوبه وايي، دلته يې ځکه دلږو اوبو "ماء قليل" قيد لګولی دی چې که اوبه ډېرې وي او له هغه څخه يو حيوان اوبه وڅيښي، مثلاً يو حيوان په نهر (ويالة) کې خوله ووهي، نو هغه ته پسخورده اوبه نه وايي. او څرنګه چې د پسخوردې په پاکوالي او ناپاکوالي او د پسخوردې په مکروه والي او مشکوک والي کې د حيوان اعتبار کول کيږي، نو ځکه پسخورده څلور قسمه کيږي.

څلور قسمه پسخورده په يوه جدول کې

شمېر	پسخورده	حکم
(۱)	دانسان پسخورده	پاکه ده
(۲)	د سپي، خنزير وغيره پسخورده	مرداره ده
(۳)	د پيشي او آزادې (ايله) چرګې وغيره پسخورده	مکروه ده
(۴)	د خره او غاترې پسخورده	مشکوکه ده

دانسان د پسخوردې حکم

﴿۱۵﴾ اَلْأَوَّلُ طَاهِرٌ مُطَهِّرٌ اول قسم (هغه پسخورده اوبه دي چې خپله هم) پاکې دي او (بل لره هم) پاکونکې دي وَهُوَ مَا شَرِبَ مِنْهُ آدَمِيٌّ او دا هغه اوبه دي چې څيښل ور څخه کړې وي انسان

أَوْ فَرَسٌ أَوْ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ يا آس يا هغه حيوان چي غوښه يې خوړل کيږي (يعني حلال څاروي څښل ور څخه کړي وي).

لغات: ﴿مُطَهِّر﴾ د تفعيل د باب فاعل دی کوم چي متعدي باب دی: (بل څه لره) پاکونکی. ﴿ما يؤكل﴾ دلته مَا د حيوان په معنیٰ سره دی.

تشريح: د انسان پسخورده او د هغه نارې (لاړې) شرعاً پاکي دي او په دې کي د مسلمان [illegible] حائضه او غيرِ حائضه، با اودسه او بې اودسه تر مينځ هيڅ فرق نشته. د ټولو پسخورده او نارې پاکي دي، په دې شرط چي په خوله کي يې ښکاره مرداري نه وي، همدا وجه ده که څوک شراب وڅښي، يا يې په خوله کي وينه راسي او بيا سملستي له يو لوښي څخه اوبه وڅيښي. نو د هغه پسخورده مرداره شمېرل کيږي، ها! که څه ګړی وروسته يا د لاړو (نارو) له تېرولو څخه وروسته اوبه وڅيښي، نو بيا نه مرداريږي. ليکن که د شراب خوره برېتونه اوږده وي، نو هغه که څه هم لږ ګړی وروسته اوبه وڅيښي بيا هم پسخورده يې مرداره ګرځي؛ ځکه په دې حالت کي د برېتو د ککړتيا احتمال شته. همدا رنګه د حلال حيوان او حلال مرغه پسخورده پاکه ده. لکه پسه، بزه، غوا، ګلمينه، طوطي، کوتره يا داسي نور، همدارنګه د آس پسخورده هم پاکه ده. (البحر الرائق ج:۱. ص: ۱۳۳، مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۱۷)

❀ ❀ ❀

د مړي او بيده کس د نارو (لاړو) حکم

مسئله (۱): تر مرګ وروسته چي د مړي له خولې څخه کومي نارې او اوبه را ووځي. هغه شرعاً ناپاکه دي.

مسئله (۲): د بيده کس له خولې څخه راتونکي اوبه پاکي دي. (در مختار ج:۱. ص:۱۲۸. ط. مصري)

د سپي وغيره د پسخوردې حکم

﴿۱۶﴾ وَالثَّانِيْ نَجِسٌ لَايَجُوْزُ اِسْتِعْمَالُهُ او دويم قسم (هغه پسخورده اوبه دي چي) ناپاکه دي چي د هغوی استعمالول (کارول) جائز نه دي وَهُوَمَا شَرِبَ مِنْهُ الْكَلْبُ أَوِ الْخِنْزِيْرُ او دا هغه اوبه دي چي څښل ور څخه کړي وي سپي يا خنزير أَوْ شَيْءٌ مِّنْ سِبَاعِ الْبَهَائِمِ كَالْفَهْدِ وَالذِّئْبِ يا له درندګانو څخه يو درنده (څښل ور څخه کړي وي) لکه پړانګ او لېوه (شرمښ).

لغات: ﴿كلب﴾ سپی، برابره ده ښکاري سپی وي، يا د حفاظت لپاره ساتل سوی وي، عام دی. جمع: كِلَاب. ﴿خنزير﴾ خنزير (خنځير)، خوګ، سوډر، جمع: خَنَازِيْر. ﴿شيء﴾ دلته د حيوان په

معنیٰ سره دی. او د سباعُ البهائم قید احترازي دی؛ چي په دې سره ځیرونکي مرغان (ښکاري مرغان) ایستل مقصود دي. ﴿سباع﴾ جمع د سَبُعٌ ده، درنده، ځیرونکی حیوان. (ځناور). ﴿البهائم﴾ جمع د بَهِيمَةٌ ده: چارپای. څاروی. ﴿فهد﴾ پړانګ. یو ځیرونکی ځنګلي ځناور دی چې برګه څرمن لري. یا په بِل وینا: تکي تکي څرمن لرونکی یو ځیرونکی ځناور (پښتو قاموسونه). یادونه: پړانګ څو قسمه دی چي له هغوی څخه یو قسم پر بدن تور تکي (تور خالونه) لري کوم چي زیاتره وخت د هوسیو ښکار کوي په عربي کي همدې قسم ته "فَهد" وایي او په انګریزي کي ورته "Cheetah" وایي. او بل قسم یې پر بدن توري اوږدې لکي لري او په عربي کي هغه ته "نَمِر" وایي او په انګریزي کي ورته "Tiger" وایي. خو په پښتو قاموسونو کي د دواړه قسمونو لپاره د پړانګ لفظ استعمال سوی دی. صرف یو قاموس مي داسي ولیدی چي د "فهد" (Cheetah) لپاره یې په پښتو کي د "یُوز" نوم استعمال کړی دی. د قاموس نوم دی "د پښتو دلغتنلو قاموس".

تشریح: د احناف په نیز د هر قسم درنده (ځیرونکي حیوان) پسخورده مرداره ده. برابره ده سپی وي، یا زمری وي، یا پړانګ او داسي نور وي. لهذا د درنده په پسخوره سره پاکي حاصلول، یا هغه استعمالول جائز نه دي.

❀ ❀ ❀

مسئله: په کوم لوښي کي چي درنده خوله وهلې وي، هغه لوښی په درې ځله پرېوللو سره پاکیږي. خو اُووه ځله پرېولل یې مستحب دي او په خاوري سري پاکول هم ضروري نه دي. صرف مستحب دي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص،۱۸)

﴿۱۷﴾ وَالثَّالِثُ مَكْرُوْهٌ اِسْتِعْمَالُهُ مَعَ وُجُوْدِ غَيْرِهٖ او دریم قسم هغه (پسخورده لوبه) دي چي استعمالول یې مکروه دي د نورو اوبو د موجود والي سره (یعني د نورو اوبو د شتون په وخت کي یې استعمالول مکروه دي) وَهُوَ سُؤْرُ الْهِرَّةِ وَالدَّجَاجَةِ الْمُخَلَّاةِ او هغه پسخورده ده د پیشي او د ایله کړي (کوشه ښتي) چرګي وَسِبَاعِ الطَّيْرِ كَالصَّقْرِ وَالشَّاهِيْنِ وَالْحِدَاءَةِ او د درنده (ځیرونکو) مرغانو لکه باز. شاهین او تپوس وَ سَوَاكِنِ الْبُيُوْتِ كَالْفَأْرَةِ لَا الْعَقْرَبِ او (همدارنګه) په کورونو کي د اوسېدونکو حیواناتو (پسخورده) لکه موږک. نه لړم.

لغات: ﴿الهرة﴾ پیشي. دلته مراد کورنی پیشي ده. نه وحشي او ځنګلي پیشي. ځکه د هغې حکم جلادی ﴿الدَّجَاجَة﴾ او دُجَاجَة او دِجَاجَة (یعني پر دال درې سره حرکات ویل کېدای سي)؛ چرګه.

﴿الدجاجة المخلاة﴾ هغه چرګه چې آزاده (خوشې) ګرځي راګرځي، چې په کور کې یا دباندې په مردارو او په هر شي کې خوله وهي، ﴿سباع الطیر﴾ څیرونکي ښکاري مرغان (کوم چې نور حیوانان ښکاروي او خوري)، ﴿صقر﴾ د باز په قسم یو ښکاري مرغه دی، بعضو د دې معنیٰ په باز او بعضو په باښه او بعضو په ځرخک سره کړې ده، ﴿شاهین﴾ یوه سپین رنګه ښکاري مرغه دی. شاهین. شند. جمع: شَوَاهِیْن. ﴿حداءة﴾ ټپوس (ټپوځ)، جمع: حِدَأٌ، حِدَاءٌ، حِدْآن، ﴿فأرة﴾ او فَارَة: موږک جمع: فِیْرَان، ﴿عقرب﴾ لړم، نر او ماده دواړو لره شامل دی، اکثره مؤنث راځي، اسم کنیت یې اُمُّ عریط او اُمُّ ساهرة دی، ویل سوي دي چې نر ته یې عُقْرُبَانٌ او ماده (ښځې) ته یې عَقْرَبَةٌ ویـ کیږي جمع یې عَقَارِبُ ده .

تشریح: په دې عبارت کې د ماء سؤر دریم قسم "مکروه" بیان سوی دی، دریم قسم هغه اوبه دي چې د هغه استعمالول او څښل مکروه تنزیهي دي، د هریوه تفصیل په لاندې ډول دی:

(۱) د کورنی پیشي د پسخوردې حکم: که کورنی پیشي په اوبو کې یا د خوړا کـ کې خوله ووهي، نو هغه اوبه او شی خو نه مرداریږي، لېکن مکروه کیږي. غوره دا ده چې په هغه سره اودس نه وسي، بیا هم که اودس په وکړي، نو صحیح کیږي، لېکن که پیشي پر موږک حمـ وکړي او هغه وخوري او بیا سمدستي په لوښي کې خوله ووهي، نو هغه لوښی او اوبه مرداریږي. (المحیط البرهانی ج:۱، ص:۲۸۶، تبیین الحقائق ج:۱، ص:۳۳)

(۲) د آزادي چرګې حکم: کومه چرګه چې آزاده (خوشې) پرېښودل سوې وي، د هغې پسخورده هم مکروه ده؛ ځکه هغه له مردارو څخه ځان نه ساتي او په هر شي کې مښوکه وهي. هـا که چرګه تړل سوې وي او د هغې مښوکه مردارو ته نه رسیږي، نو بیا مکروه نه ده. ځکه په دې صورت کې پورتنی خطره نسته. (شامي ج:۱، ص:۲۰۶)

(۳) د ښکاري مرغانو حکم: ښکاري مرغان لکه باز، شاهین وغیره، د هغوی پسخورده هم مکروه ده. لېکن کوم ښکاري مرغان چې کورني وي (چې په کور کې پالل کیږي) او مردار شی نه خوري او نه یې په مښوکه کې د مرداری (نجاست) شبهه وي، نو د هغوی پسخورده پاکه ده. او کوم شیان چې په کور کې اوسیږي لکه مار، موږک، ځرمښکی وغیره، د هغوی پسخورده هم مکروه ده.

مصنف رحمه الله د لړم حکم جلا بیان کړی دی چې د هغه پسخورده مکروه نه ده: ځکه چې د هغه ناړي (لاړې) مرداري نه دي. (مراقی الفلاح ص:۱۸)

❀ ❀ ❀

د وحشي او ځنګلي پیشي حکم

مسئله (۱): د وحشي او ځنګلي پیشي پسخورده مطلقاً مردار ده. لهذا که هغه په اوبو کي خوله ووهي، نو اوبه مرداربږي. (مراقی الفلاح ص:۱۸)

د پیشي د پسخورده خوراک حکم

مسئله (۲): که پیشي د شیدو په لوښي کي خوله ووهي لو څه شیدې څني وخوري، یا له کټغ (سالن) څخه څه وخوري، نو پاته شیدې او پاته کټغ خوړل مکروه دي، غوره دا ده چي پرهېز څني وسي. (کتاب المسائل ص:۱۰۲، تبیین الحقائق ج:۱، ص:۳۲)

﴿۱۸﴾ وَالرَّابِعُ مَشْكُوْكٌ فِيْ طُهُوْرِيَّتِهٖ او څلورم قسم هغه (پسخورده اوبه) دي چي د هغه په پاکونکي کېدو کي شک سوی دی (یعني چي هغه بل شي لره پاکونکي دي که نه؟) وَهُوَ سُؤْرُ الْبَغَلِ وَالْحِمَارِ او هغه د قاتري او خره پسخورده ده فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ غَيْرَهٗ نو که چیري له هغه څخه بغیر نوري اوبه پیدا نه کړي تَوَضَّأَ بِهٖ وَتَيَمَّمَ ثُمَّ صَلّٰى نو په هغه سره دي لودس وکړي او تیمم دي (هم) وکړي، بیا دي لمونځ وکړي.

لغات: ﴿لم یجد﴾ د ضرب له بابه د جحد صیغه ده، فاعل یې اَلْمُحْدِثُ (بې لودسه کس) محذوف دی او په غَيْرَهٗ کي هاء ضمیر و سُؤر البغل والحمار ته راجع دی.

تشریح: د دې تفصیل په ﴿۱۲﴾ نمبر مسئله کي تېر سو.

❁ ❁ ❁

فَصْلٌ (فِي التَّحَرِّىْ)

(دا) فصل (د تحرّی په بیان کي) دی

تشريح: التحرّی د تفعّل د باب مصدر دی، اصل معنیٰ یې ده: طلبُ الأحریٰ، د زیات لایق، اولیٰ شي طلب او پلټنه کول. یعني په څو شیانو کي د اولیٰ شي طلب او غور کول چي کوم یو یې اولیٰ او زیات مناسب دی، صاحب د "شفاء الأرواح شرح نور الایضاح" دلته د تحري معنیٰ داسي بیان کړې ده: "له غیرِ طاهر شئ څخه د طاهر شئ د جلا کولو لپاره په خپل غور او فکر سره پوره کوشش کول"، په آسانه وینا دا چي د طاهر او غیرِ طاهر شئ تر مینځ د توپیر لپاره پوره غور او فکر کول. یا په بله وینا دا چي که پاک او ناپاک شیان سره ګډ وي، نو په هغوی کي د پاک شي طلب کول.

د تحرّي بیان

﴿۱۹﴾ لَوِاخْتَلَطَ أَوَانٍ أَكْثَرُهَا طَاهِرٌ که چیري سره ګډ سي څو داسي لوښي چي په هغوی کي اکثره پاک وي (یعني له اوبو څخه ډک څو پاک او ناپاک لوښي سره ګډ سي چي اکثره یې پاک وي) تَحَرّٰى لِلْوُضُوْءِ وَالشُّرْبِ نو تحرّي (غور و فکر) دي وکړي د اودس او څښلو لپاره (یعني د اودس او څښاک لپاره دي له هغه لوښو څخه د پاکو لوښو د طلب او معلومولو لپاره غور او فکر وکړي) وَإِنْ كَانَ أَكْثَرُهَا نَجِسًا او که په هغوی کي اکثره لوښي ناپاک (مردار) وي لَا يَتَحَرّٰى إِلَّا لِلشُّرْبِ نو تحري دي نه کوي مګر صرف د څښلو لپاره وَفِي الثِّيَابِ الْمُخْتَلِطَةِ يَتَحَرّٰى سَوَاءٌ كَانَ أَكْثَرُهَا طَاهِرًا أَوْ نَجِسًا او په ګډو سوو کالیو (جامو) کي به (په هر صورت کي) تحرّی کوي برابره ده اکثره یې پاک وي او که ناپاک وي.

لغات: ﴿اختلط﴾ د افتعال د باب ماضي ده: سره ګډ شول، مخلوط کېدل. ﴿أوانٍ﴾ جمع د آنِيَةٌ ده: لوښي، اَوَانٍ دلته فاعل دی د اِخْتَلَطَ فعل لپاره، په اصل کي أَوَانِيُ وو، ضمه پر یاء ثقیله وه، نو یاء

ساکنه کړی سوه، بیا یاء او تنوین دوه ساکنه سره جمع سوه، یاء حذف کړی سوه، أوَان سو، نو أوانٍ دلته د فاعلیت پر بناء مرفوع دی، رفع یې په تقدیر د ضمې سره ده.

تشريح : **صورت د مسئلې** : دا دی که یو ځای څو لوښي له اوبو څخه ډک موجود وه او مثلاً ټوله لوښي یو ډول وه او په هغوی کې دا کثره لوښو اوبه پاکې وې او د لږو لوښو اوبه مرداري وې او دا نه معلومېده چې د کوم لوښي اوبه پاکې دي او د کوم یوه اوبه مرداري دي، نو په دې صورت کې تر تحري کولو (غور او فکر کولو) وروسته د اوبو استعمالولو اجازه سته، یعني د کوم لوښي په هکله چې د لیدونکي زړه ووایي چې د دې لوښي اوبه پاکې دي، نو له هغه څخه اوبه چینلای سي، اودس او غسل په کولای سي. او که په موجوده لوښو کې دا کثره لوښو اوبه مرداري وې او د لږو لوښو اوبه پاکې وې، نو بیا د تحرّی (غور او فکر) هیڅ ضرورت نسته، بلکې تیمم دي وکړي، خو تر تحرّي وروسته یې (صرف) اوبه چینلای سي.

وفي الثياب إلخ : یعني که یو څو پاک او نا پاک کالي سره ګډ وډ سوه او دا نه معلومېده چې کوم کالي پاک دي او کوم مردار دي، نو تحرّي دي وکړي او له تحري څخه وروسته چې کوم کالي د ده په نېز پاک ثابت سي، هغه اغوستلای سي، برابره ده په مذکوره صورت کې د کالیو (جلمو) شمېر زیات وي او که کم وي، ځکه د اوبو بدل خو تیمم وو، لېکن د کالیو او کپړو هیڅ بدل نسته چې ستر په پټ کړی سي. (مراقي الفلاح ص ۲۰۱، ط، مصري)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِیْ مَسَائِلِ الآبَارِ

(دا) فصل د څاهانو د مسئلو په باره کي دی

که څاه ته بهیدونکی نجاست (باریکه مرداري) ولوېږي

﴿۲۰﴾ تُنْزَحُ الْبِئْرُ الصَّغِیْرَةُ بِوُقُوْعِ نَجَاسَةٍ وَإِنْ قَلَّتْ راکښل کیږي به کوچنی څاه (یعني تولي اوبه د کوچني څاه) په ورلوېدلو سره د نجاست (مرداری) که څه هم لږ نجاست وي مِنْ غَیْرِ الْأَرْوَاثِ بغیر له خوشایو څخه (یعني کوچنی څاه کوم چي دلس په لس څخه کم وي که هغه ته له خوشایو او پچو څخه بغیر بل نجاست لږ هم ولوېږي. نو تولې اوبه به یې را کښل کیږي) کَقَطْرَةِ دَمٍ أَوْ خَمْرٍ لکه د وینو او شرابو یوه قطره (یو څاڅکی).

لغات: ﴿آبار﴾ جمع د بِئْرٌ ده، څاه (څا)، کوهی. ﴿تُنزح﴾ د فتح له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع مجهولي صیغه ده، راکښل (را کاږل)، راوباسل، البئرُ نائب فاعل دی او د "تُنزَح" اسناد و "البئرُ" ته اسناد مجازي دی او مراد له البئرُ څخه د څاه اوبه دي او دا یې د مبالغه په توګه ویلي دي چي د تولو اوبو د راکښلو تعبیریې په دې توګه کړی دی چي څاه دې راکښل سي، ګواکي د محل په ذکر کولو سره حال مراد سوی دی. ﴿الصغیرة﴾ کوچنی، دا د البئرُ صفت دی، ځکه بئر مؤنث سماعي دی. ﴿أرواث﴾ جمع د رَوْثٌ ده: خوشایي (په اصل کي "رَوْث" د ذواتُ الحافر یعني د آس، خرده او داسي نورو فضلې ته وایي چي هغه ته په پښتو کي خرشینه وایي او "خِثْي" د غوا. غویي او فیل فضلې ته وایي. او کله نا کله دا الفاظ یو د بل پر ځای هم استعمالیږي). مِنْ غَیْرِ الأَرْوَاثِ د نَجَاسَةٍ لپاره بیان دی او د قَلَّتْ مثال یې په كَقَطْرَةِ دَمٍ أَوْ خَمْرٍ سره ور کړی دی او د قَلَّتْ د ضمیر مرجع نَجَاسَة دی.

تشریح: که په یو کوچني څاه کي څه مردار شی ولوېږي که څه هم هغه له یوه څاڅکي څخه کم وي. نو د څاه تولې اوبه مردارېږي او تولې اوبه یې راکښل ضروري دي. کوچنی څاه مطلب دا چي لس په لس کي نه وي ملکه، له دې څخه کم وي او څاهان عموماً له دې څخه کم وي. ځکه لس په لس کي

څاه یا تر دې غټ څاه دېر شاذ ونادر وي، نو که په کوچنې څاه کې له خوشایو او پوچو څخه بغیر بل څه مردار شی ولوېږي، مثلاً د ونو یا شرابو یو څاڅکی (یوه قطره) ور ولوېږي، نو ټوله څاه مرداریږي، لهذا د هغه ټوله اوبه به را ایستل کیږي، او همدا حکم د هر هغه مقدار داوبو دی چې لس په لس کې نه وي بلکې کم وي، مثلاً په لوی ستل (بالټی) یا ټب کې یو څاڅکی متیازې ولوېږي، نو هغه مرداریږي، که څه هم د متیازو اثر پکښې ښکاره نه سي (در مختار ج:۱، ص:۱۷۱)، مصنف رَحِمَهُ اللہ أرواث ځکه جلا کړي دي چې له هغه څخه بچ کېدل ممکن نه دي (ځکه د صحرا پر څاه کانو سرونه نه وي او څاروبان د هغوی شلو خوا ته پچې کړي وي چې بیا د باد او هوا په وجه هغوی څاه ته لوېږي. نو ځکه د پچو لږ مقدار د ضرورت په وجه معاف کړی سوی دی). ها! که هغوی په زیات مقدار څاه ته ولوېږي، نو هم څاه مرداریږي.

څاه ته د خنزیر د لوېدلو حکم

﴿۲۱﴾ وَبِوُقُوْعِ خِنْزِیْرٍ او (راکښل کیږي به ټولې اوبه) په ورلوېدلو سره د خنزیر (سرکوزي) وَلَوْخَرَجَ حَیًّا وَلَمْ یُصِبْ فَمُهُ الْمَاءَ که څه هم ژوندی را ووځي او خوله یې (هم) اوبو ته نه وي رسېدلې.

تشریح: که په څاه کې خنزیر ولوېږي که څه هم هغه بیرته ژوندی را ووځي او خوله یې اوبو ته ورسیږي، یا نه ورسیږي، په هر حالت کې اوبه مرداریږي او ټوله به را ایستل کیږي؛ ځکه چې خنزیر نجس العین دی. (مراقی الفلاح ص:۲۱)

څاه ته د انسان، یا د پسه او سپي د لوېدلو حکم

﴿۲۲﴾ وَبِمَوْتِ كَلْبٍ او (همدارنګه راکښل کیږي به ټولې اوبه) په مرګ د سپي سره (چې په څاه کې مړ سي) أَوْ شَاةٍ أَوْ آدَمِيٍّ فِیْهَا یا (په مرګ) د پسه یا د انسان سره (په دې ټولو صورتونو کې به هم د څاه ټولې اوبه راکښل کیږي، همدا یې د پاکېدلو طریقه ده).

تشریح: که یو څاه ته انسان، یا سپی، یا پسه، یا د پسه په اندازه بل حیوان ولوېږي او مړ (مردار) شي، نو د څاه ټوله اوبه مرداریږي، لهذا ټوله به را ایستل کیږي، او که له څاه څخه بهر مړ سي بیا څاه ته ولوېږي، نو هم دغه حکم دی. (درمختار ج:۱، ص:۱۹۸)

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): که څاه ته سپی ولوېږي او د هغه نارې (لاړې) په اوبو ککړې سي او بیرته ژوندی را ووځي، نو بیا هم څاه مرداریږي او د ټوله څاه اوبه را ایستل ضروري دي. (مراقی الفلاح ص:۲۱. سحب المسائل ص:۱۲۳)

مسئله (۲): که یو پاک انسان څاه ته ولوېږي او هلته مړ سي، نو هم د ټوله څاه اوبه را ایستل ضروري دي، برابره ده انسان هلته پکښي پړسېدلی او شوربدلی وي او که نه وي. (المحیط البرهانی ج:۱، ص:۲۵۶، کتاب المسائل ص:۱۲۲)

مسئله (۳): که یو پاک کس داوبو را اخیستلو یا د څاه صفا کولو یا د یو بل غرض لپاره څاه یا تالاب ته شوه سي، بیرته را وخیږي او د هغه پر بدن هیڅ نجاست نه وي، نو د څاه یا تالاب اوبه را ایستل ضروري نه دي. (المحیط البرهانی ج:۱، ص:۲۵۳، کتاب المسائل ص:۹۶)

﴿۲۳﴾ وبِانْتِفَاخِ حَيَوَانٍ او (همدارنګه راکښل کېږي به ټولي اوبه په څاه کي) د یو حیوان د پړسېدلو په وجه وَلَوْ صَغِيْرًا که څه هم هغه حیوان کوچنی وي.

لغات: ﴿انتفاخ﴾ دافتعال د باب مصدر دی: پړسېدل، ټنډېدل، ﴿حیوان﴾ ساکښ، له دې څخه مراد د ځمکي حیوان دی چي په هغه کي وینه وي او د اوبو اوسېدونکی نه وي. صغیرًا: دا د محذوف کَانَ خبر دی.

تشریح: که چیري یو حیوان (ساکښ) په څاه کي ولوېږي او مړ سي. بیا وپړسېږي یا وشوربېږي، نو د هغه څاه ټوله اوبه مرداربېږي او ټوله به را کښل کیږي، برابره ده هغه کوچنی حیوان وي لکه موږک وغیره، یا لوی حیوان وي لکه آس وغیره (د ټوله اوبو را کښلو مطلب دا دی چي دومره را وکښل سي چي تر دې وروسته نیمه سولاغه نه سي په ډکېدلای اشفاء الأرواح ص:۱۳۲).

د جاري څاه حکم او تفصیل

﴿۲۴﴾ وَمِائَتَا دَلْوٍ او (را کښل کیږي به) دوه سوه (۲۰۰) سلواغي لَوْلَمْ يُمْكِنْ نَزْحُهَا که چیري ممکن نه وي د هغه (څاه د ټولو اوبو) راکښل.

لغات: ﴿دَلو﴾ سولاغه، سلواغه، جمع: دِلَاء.

تشریح: که یو څاه چینه داره او جاري وي چي له هغه څخه ټوله اوبه را کښل ممکن نه وي یعني څومره اوبه چي ځني را وکښل سي، هغومره یا تر هغه زیاتي نوري اوبه پکښي پیدا سي، نو په دې صورت کي حکم دا دی چي له داسي څاه څخه به دوه سوه (۲۰۰) سولاغې را کښل کیږي، بیا هغه پاکیږي، دا حکم د واجب په درجه کي دي او درې سوه (۳۰۰) سولاغې مستحب دي، دا د امام محمد رَحِمَهُ الله قول دی.

او په دې باره کي د فقهي زیات موافق هغه قول دی کوم چي له امام ابو نصر محمد بن محمد بن سلام رَحِمَهُ الله څخه نقل سوی دی کوم چي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه هم یو روایت دی او هغه دا

دی چي دوه نیک دینداره کسان کوم چي د اوبو د مقدار او اندازې په پېژندنه کي مهارت لري، هغوی دي اندازه ولګوي چي اوس وخت په څاه کي څومره اوبه دي او هغوی چي څومره سولاغې وښيي، هغومره دي را وکښل سي، همدا صحیح او د فقهي زیات مشابه قول دی او پر همدې فتویٰ ده، نو مثلاً که هغه دوه کسان داسي ووايي چي اوس وخت په دې څاه کي پنځه سوه (۵۰۰) سولاغې دي، نو همدومره اوبه دي را وکښل سي (او دا به په مینځوی سولاغه سره را کښل کيږي او له دې څخه مراد هغه سولاغه ده کوم چي عموماً پر دغه څاه استعمالیږي، او د سولاغې د کښلو ضروري نه دي بلکي له نصف څخه زیات بدل کافي دي. (شفاء الأرواح ص: ۳۲)

څاه ته د چرګي یا پیشي د لوېدلو حکم

﴿۲۵﴾ وَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا دَجَاجَةٌ أَوْهِرَّةٌ او که مړه (مرداره) سي په څاه کي چرګه یا پیشي أَوْ نَحْوُهُمَا یا د چرګي او پیشي په څېر (بل حیوان په جسم وجثه کي) لَزِمَ نَزْحُ أَرْبَعِيْنَ دَلْوًا نو د څلوېښتو سولاغو را کښل لازمیږي.

لغات: ﴿دَجَاجة﴾ (په ضمه او کسره د دال سره هم منقول دی)، واحد د "دجاج" دی، د چرګ او چرګي لپاره مستعمل دی، جمع: دَجَاج، دَجَاجَات او دُجُج. فيها: د ها ضمیر البئر ته راجع دی.

تشریح: که د اوبو څاه ته چرګه، یا پیشي، یا کوتره، یا د دوی په اندازه بل شی ولوېږي او هلته مردار سي، یا مخکي مردار سوی وي او بیا څاه ته ولوېږي او تر پړسېدلو او شوړېدلو مخکي را وکښل سي، نو څلوېښت سولاغې را کښل واجب دي او پنځوس سولاغې مستحب دي.

❀ ❀ ❀

مسئله: که چیري پیشي د څاه یا تالاب اوبو ته شوه سي او بیرته ژوندۍ را ووځي، نو غوره دا ده چي د څلوېښتو سولاغو په اندازه اوبه را وکښل سي، او همدا حکم د هغه چرګي دی کوم چي آزاده پرېښودل سوې وي او هر ډول پاک او ناپاک شیان خوري. (المحیط البرهاني ج۱، ص۲۵۴)

د موږک او مرغۍ حکم

﴿۲۶﴾ وَإِنْ مَاتَتْ فِيهَا فَأْرَةٌ أَوْنَحْوُهَا او که مړ سي په څاه کي موږک او یا د موږک په څېر (بل کوچنی حیوان) لَزِمَ نَزْحُ عِشْرِيْنَ دَلْوًا نو د شلو (۲۰) سولاغو را کښل لازمیږي.

لغات: ﴿فَأْرة﴾ او فَارَة (په همزه او بغیر له همزې دواړه دوله ویل کېدای سي. وَتَقَعُ عَلَى الذَّكَرِ وَالأُنْثَى، وَالجَمْعُ فَأْرٌ مِثْلُ تَمْرَةٍ وَتَمْرٍ) موږک (مصباح المنیر). ونحوها: مثلاً مرغۍ (چوغکه).

تشریح: که څاه ته موږک یا مرغۍ ولوېږي، نو که هغه له پړسېدلو او شوړېدلو څخه مخکي را وکښل سي، نو په دې صورت کي کم از کم شل سولاغې اوبه را کښل فرض دي او که دېرش سولاغې راوباسي، نو غوره ده.

ښکاره دې وي چې په دې ټولو صورتونو کي د اوبو راکښلو شروع له هغه وخت څخه معتبره ده کله چې هغه نجس شی را وکښل سي چې د هغه په وجه چې څاه مردار سوې وي لکه په مذکوره صورت کي موږک یا مرغۍ. او د نجس شي له را کښلو څخه مخکي چې کومې اوبه را کښل سوې وي، هغه بې فایده دي او هېڅ اعتبار ورلره نسته.

❀ ❀ ❀

که ور لوېدلی نجس شی له څاه څخه را کښل نا ممکن وي، نو څه حکم دی؟

مسئله (۱): د کوم شي په وجه چې څاه مردار سوې وي (مثلاً موږک)، که د هغه را کښل ممکن نه وي مثلاً څاه ډېر ژور (غوځ) وي، یا هغه شی په څاه کي ورک سي، یا مثلاً څاه ته نجس لرګی یا نجسه کپړه ولوېږي او پکښې ورکه سي او د هغه را کښل ناممکن وي وي، نو په دې صورت کي صرف د واجب مقدار اوبو په را کښلو سره څاه پاکیږي او د څاه د پاکېدلو سره هغه ناپاک لرګی یا کپړه هم پاکیږي۔ (حاشیه)

د اوبو په ماشین سره څاه یا تالاب خالي کول

مسئله (۲): په کومو صورتونو کي چې د شلو، یا څلوېښتو یا داسې نورو سولاغو د را ایستلو، یا د څاه خالي کولو حکم سوی دی، هلته د سولاغې قید صرف د اندازې لپاره دی، اصل مقصد صرف هغومره مقدار اوبه را ایستل دي، لهذا دا مقصد که په غټه سولاغه سره یا په اوسني وخت کي د اوبو په ماشین سره حاصل کړی سي، نو هېڅ حرج پکښې نسته، بلکي دا زیات آسانه دي. (المحیط البرهانی ج۱، ص۲۶۵)

❀ ❀ ❀

﴿۲۷﴾ وَكَانَ ذٰلِكَ طَهَارَةً او دغه راکښل د اوبو پاکي ده (پاکونکی دي) لِلْبِئْرِ وَالدَّلْوِ وَالرِّشَاءِ وَيَدِ الْمُسْتَقِي لپاره د څاه او سولاغې او رسۍ او د اوبه راکښونکي د لاس.

لغات: ﴿الرِّشَاء﴾ (بکسر الراء): رسۍ، د سولاغې رسۍ، جمع: أَرْشِيَة. ﴿المستقي﴾ د استفعال (استقاء) له باب څخه اسم فاعل دی: د اوبو طلب کونکی، د اوبو را اخیستونکی (را کښونکی). (معجم الوسیط)

تشریح: کله چي له څاه څخه واجب مقدار اوبه راوکښل سي، نو څاه او د څاه دېوالونه پاک کیږي او د څاه د پاکېدلو تر څنګ سولاغه، رسی او داوبو را کښونکي لاس هم پاکیږي. لهذا بل وار د هغوی پاکولو ته ضرورت نسته. همدارنګه په هر صورت کي د واجب مقدار اوبو په راکښلو سره چي څرنګه څاه پاکیږي، همداسي مذکوره ټوله شیان هم پاکیږي.

څاه ته د پچو او خوشایو وغیره د لوېدلو حکم

﴿۲۸﴾ وَلَاتَـنْجِسُ الْبِئْـرُ بِالْبَعْـرِ وَالـرَّوْثِ وَالْـخِـثْيِ او څاه نه مرداریږي په (ورلوېدلو دلږو) پچو او خوشایو او خرشینو سره إِلَّا أَنْ يَّسْتَكْثِرَهُ النَّاظِرُ مګر دا چي لیدونکی هغه (ورلوېدلي پچي یا خوشایي...) زیات وګڼي أَوْ أَنْ لَّا يَخْلُوَ دَلْوٌ عَنْ بَعْرَةٍ یا (هغه په دې اندازه وي چي) هیڅ یوه سولاغه له پچي څخه نه خالي کیږي.

لغات: ﴿البعر﴾ اسم جنس دی: پچي (د څارویو کلک ګردي غایطه مواد)، واحد بَعْرَةٌ: یوه پچه. ﴿الروث﴾ خوشایي، ﴿الخِثْيُ﴾ (بکسر الخاء) او الخُثْيُ (بضم الخاء): خرشینه. (په اصل کي "رَوْث" د ذوات الحافر یعني د آس، خره او داسي نورو فضلې ته وایي چي هغه ته په پښتو کي خرشینه وایي او "خِثْي" د غوا او فیل فضلې ته وایي، خو د ضعیف بنده (شارح) د تحقیق مطابق په اصطلاحي عربي کي د دې زیاترو څارویو د فضلې لپاره د "رَوْث" لفظ استعمالیږي او د "خِثْي" لفظ اوس چنداني نه استعمالیږي.

لکه څرنګه چي په اصطلاحي پښتو کي د دې زیاترو لپاره د "خوشایو" لفظ استعمالیږي، والله أعلم).

تشریح: که پچي، خوشایي او خرشینه په لږ مقدار څاه ته ولوېږي، نو څاه نه مرداریږي، برابره ده څاه په آبادۍ کي وي او که په دښت او صحرا کي وي او برابره ده د څاه چاپېره دېوال پورته وي او که کښته وي، لږ (قلیل) مقدار شرعاً معاف کړی سوی دی، ها! کوم مقدار چي خلګ زیات (کثیر) وګڼي، یا دومره وي چي په هره سولاغه کي پچه راخېږي، نو په دې دواړو صورتونو کي څاه مرداریږي. (مراقی الفلاح ص:۲۲)

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): که په لږو اوبو (ماء قلیل) کي د پسه وغیره وچه یا لنده پچه ولوېږي، نو اوبه نا پاکه کیږي. (شامي ج:۱، ص:۲۰۴، ط: مصري)

د موږک د پچو حکم

مسئله (۲): که په پوخ سوي خوراک مثلاً په وریجو یا کټغ کي د موږک لږ پچي وموندل سي، نو څه حرج نسته، هغه دي څنې لیري کړل سي او خوراک دي وخوړل سي او که هغه پچي خوړیني

سوي او سره تللي وي، نو تر څو چي د هغوی رنګ یا خوند په خوراک کي ښکاره سوی نه وي، تر هغه وخته خوراک ته ناپاک او مردار نه سي ویل کېدلای، خو کله چي په خوراک کي د هغوی اثرات [illegible] بوی یې ښکاره سي، نو بیا به خوراک ناپاکه شمېرل کېږي. (درمختار ج:۶. ص:۷۳۲. [illegible] شتی، ط، کراچي)

مسئله (۳): که د اوړه کولو په وخت کي د غنمو یا اوربشو سره د موږک لړ پچي میده سي، نو اوړه نه مرداریږي، لیکن که پچي په زیات مقدار سره وي، په دې توګه چي کله میده سي نو په اوړو کي د هغوی رنګ یا خوند ښکاره سي، نو اوړه مرداریږي. (کتاب المسائل ص:۱۰۰، حلبی کبیر ص:۱۵۰)

مسئله (۴): که د لوښلو پر مهال د شیدو لوښي ته پچه ولوېږي او بیا هغه سملستي را وکښل سي، نو شیدې نه مرداریږي. (شامي ج:۱، ص:۲۰۲، ط: مصري، کتاب المسائل ص:۹۷)

* * *

د مرغیو د ګندګی (فضلې) حکم

﴿۲۹﴾ وَلَا يَفْسُدُ الْمَاءُ او نه فاسدیږي (مرداریږي) او به بِخُرْءِ حَمَامٍ وَعُصْفُوْرٍ په ګندګی د کوترې او چوغکې سره.

لغات: ﴿خُرْءٌ﴾ ګندګي (ښخاله)، فضله، غایطه مواد.

تشریح: که د کوترې یا چوغکې ګندګي څاه یا تالاب ته ولوېږي، نو په دې سره هغه نه مرداریږي او دیو مقدار اوبو را ایستل نه لازمیږي، تر هغه وخته چي د ګندګی اثر پکښې غالب نه سي. (در مختار ج:۱. ص:۲۰۳)

* * *

د ماهي او د اوبو د حیوان حکم

﴿۳۰﴾ وَلَا بِمَوْتِ مَا لَا دَمَ لَهُ فِيْهِ او نه (مرداریږي او به) د داسي حیوان په مرګ سره چي په هغه کي وینه نه وي كَسَمَكٍ وَضِفْدَعٍ وَحَيَوَانِ الْمَاءِ لکه ماهي او چونګښه او د اوبو حیوان (کوم چي په اوبو کي اوسیږي) وَبَقٍّ وَذُبَابٍ وَزُنْبُوْرٍ وَعَقْرَبٍ او (لکه) منګور او مچ او غالبوزه او لړم.

لغات: ﴿دَمٌ﴾ مراد ځني بهېدونکې وینه ده، نه مطلقه وینه، او د ماهي وینه حقیقي وینه نه ده؛ حقیقي وینه چي لمر ته واچول سي نو هغه توره ګرځي (توریږي)، حالانکي د ماهي وینه داسي نه ده.

﴿ضفدع﴾ چونګښه، دلته دریابي (د اوبو) چونګښه مراد ده، نه دښتي (د وچې) چونګښه، ځکه د دښتي غټي چونګښې وینه بهېدونکې وي (لهذا که دښتي غټه چونګښه په څاه کي مرداره سي نو او به مرداریږي. خو په

کوچنی چونګښه کې یې بهیدونکې وینه نه وي، لهذا دغه په مرګ سره اوبه نه مرداریږي) او د دوی تر مینځ فرق دا دی چې د دریابي چونګښې د ګوتو په مینځ کې پرده وي او د دښتي چونګښې د ګوتو په مینځ کې پرده نه وي. ﴿حیوان ماء﴾ د اوبو حیوان، لکه چونګاښ، کیشپ، دریابي مار او داسې نور. ﴿بَقّ﴾ منګوږ (منګوړه) چې په پښتو قاموس کې خسک او کتمل هم ورته ویل سوي دي، ﴿ذُباب﴾ اسم جنس دی، واحد یې ذُبَابَةٌ دی: مچ، ﴿زُنبور﴾ (د راء په ضمه سره): غالبوزه، غومبسه، جمع: زَنَابِیْر، غالبوزه څو قسمه ده: ① ژړه غالبوزه ② سره تنده غالبوزه ③ مچمچی، او لړمان هم قسما قسم دي خو په یوه قسم هم اوبه نه مرداریږي.

تشریح: په دې عبارت کې څو مسئلې یو ځای بیان سوي دي، تفصیل یې دا دی چې د کوم ښکاروي پیدایښت او استوګنه په اوبو کې وي، لکه ماهی، دریابي چونګښه، چونګاښ او داسې نور، نو د دوی په مرګ سره اوبه نه مرداریږي، او پر اُوبو د پاسه اوسېدونکي مرغان لکه د اوبو هیلۍ او داسې نور که په اوبو کې مړه سي او اوبه په لږ مقدار سره (ماء قلیل) وي، نو د دوی په مرګ سره اوبه مرداریږي.

او که په اوبو کې داسې حیوان او خزنده مړه سي چې په هغه کې بهیدونکې وینه نه وي، نو اوبه نه مرداریږي، لکه غوماشه، مچ، لړم او داسې نور.

فایده: د لړم څخه ځان ساتنه: ابوهریره ﷺ له نبي کریم ﷺ څخه روایت کوي چې کوم څوک سهار دغه کلمات ووایي، نو تر ماښامه پوري به د لړم چیچلو له ضرر څخه خوندي وي او که ماښام یې ووایي، نو تر سهاره پوري به ځني خوندي وي، هغه کلمات دا دي: أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ. او همدغه مسنونه طریقه ده د لړم څخه د ځان ساتني په هکله. (سنن ابن ماجة، باب رقیة الحیة والعقرب، حدیث نمبر: ٣٥١٨ -، وفي الزوائد: اسناده صحیح، رجاله ثقات)

که انسان یا ښکاروی څاه ته ولوېږي او ژوندي را ووځي، نو څه حکم دی؟

> ﴿٢١﴾ وَلَا بِوُقُوْعِ آدَمِيّ اونه (مرداریږي اوبه) په ور لوېدو سره د انسان وَمَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ او (په ورلوېدو سره) د هغه حیوان چې غوښه یې خوړل کېږي إِذَا خَرَجَ حَيًّا کله چې (له څاه څخه) ژوندی را ووځي وَلَمْ يَكُنْ عَلَى بَدَنِهِ نَجَاسَةٌ او پر بدن یې هیڅ نجاست نه وي.

تشریح: که پاک انسان چې پر اندامو یې هیڅ نجاست (مرداري) نه وي، یا داسې حیوان چې غوښه یې حلاله وي څاه ته ولوېږي او بیرته ژوندی را ووځي، نو اوبه نه مرداریږي، او که ناپاکه انسان د څاه اوبو ته ور ننه سي، یا داسې کس ور ننه سي چې پر اندامو یې نجاست وي، مثلاً هغه صرف په نیروبا

لوټو سره استنجاء کړې وي او ځان یې پرېولی نه وي، نو د هغه په وجه ټوله اوبه مردارېږي، لهذا د ټولو اوبو را ایستل ضروري دي. (کتاب المسائل ص:۱۲۲، المحیط البرهاني ج:۱، ص:۲۵۵)

که غاتره، خر او داسې نور څاه ته ولوېږي او ژوندي را ووځي، نو څه حکم دی؟

﴿۳۲﴾ وَلَا بِوُقُوْعِ بَغْلٍ وَحِمَارٍ او نه (مردارېږي څاه) په ورلوېدو سره د غاترې او خره وَسِبَاعِ طَيْرٍ وَوَحْشٍ او (په ورلوېدو سره) د درنده مرغانو او وحشي حیواناتو فِي الصَّحِيْحِ د صحیح قول مطابق وَإِنْ وَصَلَ لُعَابُ الْوَاقِعِ إِلَى الْمَاءِ او که ورسېږي د ورلوېدونکي حیوان ناړې (لاړې) اوبو ته أَخَذَ حُكْمُهُ نو اخلي (د څاه اوبه) د هغه ناړو حکم (یا په بله وینا د څاه اوبه د هغه حیوان د ناړو په حکم سره کېږي یعنې کوم حکم چې د حیوان د ناړو دی، هغه حکم د دې اوبو هم دی).

لغات: ﴿بَغْل﴾ غاتره (خچره)، ﴿سباع الطیر﴾ درنده (څیرونکي) مرغان (ښکار کونکي مرغان)، ﴿وَحْش﴾ جمع د وَحْشِيٌ ده او د وَحْش جمع بیا وُحُوْش ده: وحشي (ترهېدونکي) حیوان، ځنګلي حیوان. جمع وَحْشِيٌ وَهُوَمَا لَایَسْتَأْنِس مِن دَوَابِ الْبرِّ (یذکر ویؤنث) جمع: وحوش ووحشان، وَیُقَال: حمار وَحش وحمار وَحْشِيّ (معجم الوسیط)، ﴿أخذ﴾ فاعل یې ضمیر محذوف دی کوم چې الماء ته راجع دی.

تشریح: که غاتره یا خر یا یو درنده (څیرونکي) مرغه لکه شاهین وغیره یا یو وحشي حیوان لکه بیزو وغیره څاه ته ولوېږي او بیرته ژوندي را ووځي او پر بدن یې هېڅ نجاست نه وي او نه یې خوله اوبو ته رسېدلې وي، نو د صحیح قول مطابق هغه اوبه نه ناپاکه کېږي؛ ځکه چې د دې شیانو بدن پاک دی او په مرګ سره نجس کېږي، او که دا یقیني سې چې د هغه خوله او ناړې (لاړې) اوبو ته رسېدلې دي، نو اوس اوبه د هغه د ناړو (لاړو) په حکم سره ګرځي، لهذا اوس به د هغه د ناړو اعتبار کول کېږي چې د هغه مطابق به د اوبو د راکښلو یا نه راکښلو حکم کول کېږي، نو که د هغه ناړې پاکې وي لکه د انسان او د هغه حیواناتو ناړې چې غوښه یې حلاله وي، نو اوبه پاکې دي، او که ناړې یې ناپاکه وي لکه د درندګانو ناړې، نو اوبه هم ناپاکه کېږي، او که ناړې یې مکروه وي لکه د ښکاري مرغانو، نو اوبه هم مکروه کېږي، او که ناړې یې مشکوکه وي لکه د خره او غاترې، نو اوبه هم مشکوکه کېږي.

که مردار سوی حیوان په اوبو کې وپړسېږي نو څه حکم دی؟

﴿۳۳﴾ وَوُجُوْدُ حَيَوَانٍ مَيِّتٍ فِيْهَا او په څاه کې د مړه (مردار سوي) حیوان موجودېدل يُنَجِّسُهَا مِنْ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ هغه څاه مرداروي له یوې ورځې او یوې شپې څخه (یعنې که په څاه کې مړ حیوان وموندل سي او د لوېدلو وخت یې معلوم نه وي، نو هغه څاه به له یوې ورځې او یوې شپې څخه ناپاک شمېرل کېږي)

> وَ مُنْتَفِخٍ مِنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَ لَيَالِيْهَا او (په څاه کي) د پړسېدلي (شوړېدلي) حيوان (موجودېدل څاه مرداروي) له دريو ورځو او دريو شپو څخه إِنْ لَمْ يُعْلَمْ وَقْتُ وُقُوْعِهٖ که چيري د هغه د ورلوېدلو وخت معلوم نه وي.

تشريح: که يو مردار سوی حيوان چي په هغه کي بهيدونکې وينه وي په څاه کي وموندل سي او د هغه د لوېدلو وخت خلکو ته معلوم وي، نو له کومه وخته چي هغه ور لوېدلی وي، له هغه وخته به اوبه ناپاکه شمېرل کيږي او که د ورلوېدلو صحيح وخت يې معلوم نه کړی سي او هغه حيوان تر اوسه پړسېدلی او شوړېدلی نه وي، نو له يوې ورځي او شپې څخه مخکي به د هغه څاه د ناپاکه کېدلو حکم کول کيږي، لهذا احتياطاً دي د يوې ورځي او يوې شپې لمونځونه راوګرځول سي يعني کومو خلکو چي د دې څاه په اوبو سره اودسونه کړي وي، همدارنګه کوم شی چي په دې اوبو سره پرېولل سوی وي، هغه دي پرېولل سي.

او که چيري هغه حيوان پړسېدلی او شوړېدلی وي، نو احتياطاً به د دريو ورځو او دريو شپو لمونځونه راګرځول کيږي او کوم شی چي په دې اوبو سره پرېولل سوی وي، هغه به پرېولل کيږي. دا ټوله تفصيل د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز دی.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په مذکوره صورت کي (يعني کله چي د حيوان د ورلوېدلو وخت معلوم نه وي نو) حکم دا دی چي له کوم وخت څخه چي خلک د حيوان په ورلوېدلو خبر سوي وي. له هماغه وخت څخه به د اوبو د مردار والي حکم کيږي، نه تر هغه مخکي، لهذا تر هغه مخکي هيڅ نه لازميږي، نه دي لمونځونه راګرځوي او نه دي هغه شيان پرېولي کوم چي يې د مذکوره څاه په اوبو سره پرېولي وي.

❀ ❀ ❀

که د شيانو له پرېوللو څخه وروسته معلومه سي چي تالاب مردار دی؟

مسئله: که د تالاب په اوبو سره کالي يا لوښي پرېولل سي يا په خوراک کي وکارول سي، وروسته معلومه سي چي تالاب ته نجاست يا نجس شی لوېدلی دی، نو پر دغو کاليو، لوښو او خوراک به د ناپاکۍ حکم نه کول کيږي د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په قول باندي په عمل کولو سره، لهذا د دې کاليو اغوستل او د خوراک خوړل به صحيح وي. (کتاب المسائل ص: ۱۲۰، حاشيه شرح الوقاية)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِی الاسْتِنْجَاءِ

(دا) فصل په (بیان د احکامو د) استنجاء کي دی

تشریح: د لغت په اعتبار سره لفظ د استنجاء له "نَجْوٌ" څخه اخیستل سوی دی چي د هغه معنی ده: "له نس څخه راوتلی نجاست"، نو د استنجاء لغوي معنیٰ ده: د دې نجاست (یعني د نَجْو) ځای مسح کول یا پرېولل او نجاست یې لیري کول او صفا کول. او د استنجاء اصطلاحي معنیٰ ده: "د متیازو یا غائطو له ځای څخه چي کوم نجاست راووځي هغه له مخرج څخه لیري کول او صفا کول. د اوبو په ذریعه سره وي او که د لوټي یا ډبري او داسي نورو په ذریعه سره وي". (طحطاوي ص: ۲۴)

استبراء ضروري ده

﴿۳۲﴾ يَلْزَمُ الرَّجُلَ پر سړي لازم دي (له متیازو کولو څخه ورسته) الْإِسْتِبْرَاءُ حَتّٰى يَزُوْلَ أَثَرُ الْبَوْلِ وَيَطْمَئِنَّ قَلْبُهُ عَلٰى حَسْبِ عَادَتِهٖ استبراء (صفایي حاصلول) تر دې چي د متیازو اثر لیري سي او د خپل عادت مطابق د ده زړه مطمئن سي (چي څاڅکي ودرېدل) إِمَّا بِالْمَشْيِ أَوِ التَّنَحْنُحِ أَوِ الْإِضْطِجَاعِ أَوْ غَيْرِهٖ (یعني) یا په تګ سره (د ده زړه مطمئن سي) یا په غاړه تازه کولو سره یا په پرېوتلو (او څنګ وهلو) سره وَلَا يَجُوْزُ لَهُ الشُّرُوْعُ فِي الْوُضُوْءِ حَتّٰى يَطْمَئِنَّ بِزَوَالِ رَشْحِ الْبَوْلِ او د ده لپاره اودس شروع کول جائز نه دي تر دې چي د متیازو د څاڅکو د ختمېدلو (درېدلو) په باره کي مطمئن سي.

لغات: ﴿الاستبراء﴾ د دې وضاحت به په تشریح کي وسي، ﴿المَشْي﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تګ کول. پیاده (په پښو) تلل. ﴿التَّنَحْنُح﴾ د تَفَعْلُل د باب مصدر دی: د دې لفظ دوې معناوي نقل سوي دي، ① د اح اح یعني د ټوخي آواز کول (ټوخل اټوخېدل)، ② غاړه تازه کول (معجم لغة الفقهاء)، ﴿اضطجاع﴾ د افتعال د باب مصدر دی (وضع الجنب علی الأرض): پر بغل پرېوتل. بغل پر ځمکه اېښودل. یا په بله وینا د بغل پر طرف څنګ وهل. ﴿رَشْح﴾ د فتح د باب مصدر دی: څڅېدل. الرَّشْح: مَا يَرْشَحُ (کوم څه چي راڅڅېږي) یعني څاڅکي.

تشریح: تر متیازو وروسته د سړي لپاره استبراء ضروري ده یعني په دې باره کې اطمینان حاصلېدل ضروري دي چې اوس متیازي وچې سوې او په پوره توګه یې څاڅکي ودرېدل، د دغه اطمینان په باره کې د خلکو عادتونه بېلا بېل دي چې بعضو ته په یوه عادت سره دا اطمینان حاصلېږي او بعضو ته بیا په بل سره اطمینان حاصلېږي او هغه دا دي: ① تر متیازو وروسته څو قدمه تلل (بعضي علماؤ د دې مقدار څلوېښت قدمه ټاکلی دی. خو صحیح دا ده چې په هر څو قدمونو سره اطمینان ورته حاصل سي. هغه کافي دي)، ② غاړه تازه کول (یا ټوخل)، ③ پر څنګ پرېوتل، ④ پر ځمکه پښه وهل، ⑤ ذکر په نرمي سره کښېکښل، ⑥ تر هغه وخته پوري کښېنستل تر دې چې څاڅکي په یقیني توګه قطع سي، ⑦ ورون په ورون باندي اېښودل او کښېکښل.

خلاصه دا چې تر یقیني اطمینان وروسته دې استنجاء وکړی سي، د استبراء پرېښودل ګناه کبیره ده او دا د استبراء حکم د سړیو لپاره دی، د ښځو لپاره تر متیازو وروسته د استبراء ضرورت نسته (ځکه د ښځي منفذ په قدرتي توګه وسیع وي)، ښځه دې تر فارغېدلو وروسته څه ګړی توقف کوي بیا دې استنجاء وهي.

ولا یجوز له الشروع إلخ: یعني تر څو چې د متیازو د څاڅکو د بالکل ختمېدلو په هکله مطمئن نه سي، تر هغه وخته پوري په اودس شروع کول جائز نه دي؛ ځکه محض د لوند والي په ښکاره کېدلو سره هم اودس ماتېږي. (شفاء الارواح)

فایده: فقهاء دلته درې لفظونه استعمالوي؛ ① استنجاء، ② استنقاء، ③ استبراء، استنجاء دا ده چې نجاست (ناپاکي) په اوبو یا په ډبره او لوټه سره پاک کړل سي، او استنقاء دا ده چې سړی د استنجاء کولو په وخت کې ډبره یالوټه پر مخرج ښه ومږي یا اوبه پر واچوي او په ګوته سره یې ښه ومږي چې بوی یې ختم سي همدارنګه ذکر په لاس کښېکاږي او نڅوړیې کړي تر دې چې ظن غالب ورته حاصل سي چې اوس نو څاڅکي ختم سوه، او د استبراء وضاحت خو وسو چې تر متیازو وروسته داسي کړنه چې د متیازو پاته څاڅکي لیري سي او په پوره توګه متیازي وچې سي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

د وسوسې مریض به څه کوي؟

مسئله: کوم څوک چې د متیازو د څاڅکو په باره کې په وهم او وسوسه مبتلا وي، هغه ته پکار دي چې د استبراء د مذکوره طریقې تر اختیارولو وروسته دې خپل اندام ونڅوړي او استنجاء دې وکړي (یعني د استنجاء پر مهال دې استنقاء هم کوي)، تر دې وروسته که بیا هم د ده شک باقي پاته وي، نو په هغه دې هیڅ پروانه کوي او تر ولاړېدو مخکي دې پر سبیلینُ د اوبو څاڅکي پلشي چې د

وسوسې په لیرې کولو کښې یې مرسته وکړي، بیا که څه محسوس سي، نو دهغه ته دې بالکل هیڅ توجه نه کوي. (طحطاوي ص۲۲، عالمگیري ج۱، ص۴۹، کتاب المسائل ص:۱۱۴)

د استنجاء حکم

﴿۲۵﴾ وَالْإِسْتِنْجَاءُ سُنَّةٌ مِّنْ نَجَسٍ يَخْرُجُ مِنَ السَّبِيْلَيْنِ او استنجاء سنت ده له هغه نجاست څخه کوم چې را ووځي له دوو لارو (دمخ یا شا دلاري) څخه مَالَمْ يَتَجَاوَزِ الْمَخْرَجَ تر څو چې له مخرج څخه تېر نه سي (یعني را وتونکی نجاست د راوتلو له ځای (مخرج) څخه بغیر شاوخوا ته تېر نه سي، یا په بله وینا له مخرج څخه بغیر نور ځای ککړ نه کړي، نو استنجاء سنت ده) وَإِنْ تَجَاوَزَ وَكَانَ قَدْرَ الدِّرْهَمِ او که (له مخرج څخه) تېر سي او د درهم په اندازه وي (یعني دیوه درهم په مقدار له مخرج څخه بغیر نور ځای ککړ کړي) وَجَبَ إِزَالَتُهُ بِالْمَاءِ نو په اوبو سره د هغه لیرې کول (صفا کول) لازم دي وَإِنْ زَادَ عَلَى الدِّرْهَمِ او که پر درهم زیات سي (دیوه درهم تر مقدار تېر سي) اِفْتَرَضَ غَسْلُهُ نو د هغه پرېولل فرض دي.

تشریح: په دې عبارت کي صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د استنجاء حکم بیان کړی دی چې استنجاء سنت ده په اوبو یا په ډېره او لوټه سره، او دا هغه وخت سنت ده کله چې تر اودس ماتولو وروسته نجاست صرف پر مخرج وي او له مخرج څخه یې تجاوز نه وي کړي، دلته د "نجس" قید لګول سوی دی ځکه که له سبیلینُ څخه یو پاک شی ووځي مثلاً باد، نو د هغه په وتلو سره استنجاء کول سنت نه دي، بلکي بدعت دي.

وان تجاوز الخ: او که نجاست له خپل مخرج څخه دیوه درهم په اندازه تېر سي، نو بیا د هغه پرېولل واجب دي، د ډېري او داسي نورو استعمالول کافي نه دي. ها! که نجاست له خپل مخرج څخه بالکل تېر نه سي یا له یوه درهم څخه کم تېر سي، نو د هغه د پاکوالي لپاره ډېره او لوټه وغیره استعمالول کافي دي. (طحطاوي ص۲۵)

❀ ❀ ❀

د اوسني او پخواني حساب مطابق د درهم اندازه: د درهم د تقدیر په سلسله کي له علماؤ څخه دوه روایتونه نقل سوي دي: ① یو روایت د مساحت دی، یعني د لاس د ورغوي د پلنوالي په اندازه. مفتي رشید احمد صاحب رَحِمَهُ الله په احسن الفتاویٰ کي لیکلي دي چې فقهاؤ د ورغوي د پلنوالي معلومولو لپاره دا طریقه لیکلې ده، چې په ورغوري کي دي اوبه را واخیستل سي او ورغوی دي

وغوړول سي نو په خومره ځای کي چي اوبه ودريږي، هغومره پلنوالی مراد دی او تر هغه کم نجاست معاف دی. او د پپ ايښت په اندازه سره د درهم اندازه ۱. ۱ اينچ ده (يعني تر يوه اينچ لږ غونډي زيات) يا ۷۵. ۲ سينټي ميټره ده (احسن الفتاویٰ ج: ۲، ص: ۸۹). ② دويم روايت دا دی چي له يوه درهم څخه مراد ديوه درهم وزن دی او ديوه درهم وزن يو مثقال دی.

د جنابت د غسل حکم

﴿٣٦﴾ وَيَفْتَرِضُ غَسْلُ مَا فِي الْمَخْرَجِ او فرض دي د هغه نجاست پرېولل کوم چي په مخرج کي دی عِنْدَ الْاِغْتِسَالِ مِنَ الْجَنَابَةِ وَالْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ د جنابت او د حيض او نفاس د غسل کولو په وخت کي وَإِنْ كَانَ مَا فِي الْمَخْرَجِ قَلِيْلًا که څه هم هغه نجاست کوم چي په مخرج کي دی لږ وي.

تشريح: د جنابت په غسل کي ټوله بدن پرېولل فرض دي، که ديوه وريښته په اندازه هم څه حصه وچه پاته سي، نو غسل نه کيږي، پر همدې بناء فرمايي چي که سړی د جنابت غسل کوي يا ښځه له حيض يا نفاس څخه غسل کوي، نو کوم څه نجاست او ګندګي چي په مخرج کي وي (يا په بله وينا کوم څه ګندګي چي پر مخرج لګېدلې وي)، که څه هم کمه وي، د هغه پرېولل ضروري دي، کنې غسل نه صحيح کيږي.

د استنجاء اقسام

﴿٣٧﴾ وَ (يُسَنُّ) اَنْ يَسْتَنْجِيَ بِحَجَرٍ مُنَقٍّ وَنَحْوِهٖ او (سنت دي) چي استنجاء وکړي په داسې ډبره سره کوم چي صفا کونکې (د نجاست لېري کونکې) وي او [يا] په داسې بل شي سره وَالْغَسْلُ بِالْمَاءِ اَحَبُّ او په اوبو سره پرېولل زيات ښه (مستحب) دي وَالْاَفْضَلُ الْجَمْعُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالْحَجَرِ او افضل د اوبو او ډبرو (لوټو) تر منځ جمع کول دي (يعني په اوبو او ډبره لوټه او دواړو سره استنجاء کول افضل دي) فَيَمْسَحُ ثُمَّ يَغْسِلُ نو (په دې صورت کي اول) دې (يې په ډبره سره) وچ کړي بيا دې پرېولي وَيَجُوْزُ اَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى الْمَاءِ اَوِ الْحَجَرِ او جائز دي دا (هم) چي پر اوبو اکتفا وکړي يا پر ډبره (لوټه).

لغات: ﴿مُنَقٍّ﴾ د تفعيل له بابه اسم فاعل دی: ښه صفا کونکی، په اصل کي مُنَقِّيٌ وو. ضمه پر ياء ثقيله وه، هغه وغورځول سوه، بيا ياء او تنوين دوه ساکنه سره جمع سوه، نو ياء هم وغورځول سوه.

مُنَقِّ سو. له مُنقِّ څخه مراد هر داسي شی دی چي په هغه کي د صفا کولو او پاکولو صلاحیت وي. چي هغه نه زیات څېر او تېره وي او نه زیات ښوی وي.

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي په استنجاء کي ډبره او لوټه یا داسي شی کوم چي د هغه قائم مقام وي یعني خپله پاک وي او د نجاست لیري کولو صلاحیت لري (لکه د ګودر ټوټه یا په اوس وخت کي تشناب کاغذ وغیره) د هغه استعمالول سنت دي، لهذا په کوم شي کي چي د پاکولو صلاحیت نه وي (لکه څیره او تېره ډبره وغیره)، که په هغه سره استنجاء وسي، نو سنت نه اداء کیږي.

تر دې وروسته پوهیدل پکار دي په دې چي د استنجاء درې طریقې دي:

①... ډبره او اوبه سره جمع کول، یعني اول په ډبره او لوټه سره مخرج پاکول، بیا په اوبو سره پرېولل، دا تر ټولو افضله طریقه ده، لکه څرنګه چي همدا د اهل قباء طریقه وه چي په قرآن کریم کي د دوی تعریف سوی دی.

②... صرف اوبه استعمالول، دا پر دویمه درجه دي په فضیلت کي.

③... صرف ډبره او لوټه استعمالول، دا هم جائز دي، په دې کي څه فضیلت نسته، کوم کس چي صرف اوبه استعمالوي، هغه ته د استبراء خیال ساتل پکار دي او وروسته تر استبراء په اوبو سره پرېولل پکار دي، که له استبراء کولو څخه بغیر ذکر پرېولي او بیا وروسته قطره راووځي، نو کپړه به يې ناپاکه سي، لهذا احتیاط ضروري دی.

❀ ❀ ❀

د تشناب کاغذ حکم

مسئله: کوم حکم چي د ډبري او لوټي دی، هغه حکم د تشناب کاغذ (استنجایي منديل) هم دی. ځکه تشناب کاغذ د همدې استنجاء او صفايي د غرض لپاره جوړول کیږي. (كتاب المسائل ص: ۱۱۲. طحطاوي ص: ۲۵ ط، مصري)

❀ ❀ ❀

په استنجاء کي معیّن عدد

﴿۲۸﴾ وَالسُّنَّةُ إِنْقَاءُ الْمَحَلِّ او سنت دي د (استنجاء) ځای صفا کول وَالْعَدَدُ فِي الْأَحْجَارِ مَنْدُوْبٌ او شمېر په ډبرو کي مستحب دی (چي درې ډبري به وي) لَا سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ سنت مؤکده نه دی فَيَسْتَنْجِيْ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ نَدْبًا نو استنجاء دي وهي په درېو ډبرو سره د مستحب والي پر

بناء (یعني په درېو ډېرو سره استنجاء وهل مستحب دي) إِنْ حَصَلَ التَّنْظِيْفُ بِمَا دُوْنَهَا که چیرې تر درېو په کمو ډېرو سره (د ځای) پاکوالی حاصل سي.

لغات: ﴿إنقاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: صفا کول. ﴿التنظيف﴾ د تفعیل له بابه اسم مصدر دی: پاکوالی.

تشریح: یعني په ډېرو او لوټو سره په استنجاء کولو کي یو مسنون عدد نسته، بلکي سنت صرف د نجاست محل صفا کول او پاکول دي، تر دې چي که په یوه ډېره او لوټه سره صفایي او پاکي حاصله سي، نو سنت اداء کیږي او که په درېو ډېرو سره هم پاکي حاصله نه سي، نو سنت نه اداء کیږي، خو که له درېو ډېرو څخه په کمه پاکي حاصله سي، نو د درېو عدد پوره کول مستحب دي او که په درېو ډېرو سره پاکي حاصله نه سي او څلورمي ډېري ته ضرورت وي، نو بیا طاق عدد استعمالول مستحب دي.

د استنجاء طریقه

﴿٣٩﴾ وَكَيْفِيَّةُ الْإِسْتِنْجَاءِ او د استنجاء طریقه دا ده أَنْ يَّمْسَحَ بِالْحَجَرِ الْأَوَّلِ مِنْ جِهَةِ الْمُقَدَّمِ إِلَى خَلْفٍ چي په اوله ډېره سره دي (د نجاست) وچول (او صفایي) وکړي د مخ له خوا څخه د شا و طرف ته (یعني اوله ډېره (لوټه) دي پر مخرج د مخ لخوا څخه د شا پر طرف بوځي (کش کړي)) وَبِالثَّانِيْ مِنْ خَلْفٍ إِلَى قُدَّامٍ او په دویمه ډېره سره دي (وچول او پاکول وکړي) د شا لخوا څخه د مخ و طرف ته وَبِالثَّالِثِ مِنْ قُدَّامٍ إِلَى خَلْفٍ او په درېیمه ډېره سره دي (وچول او صفایي وکړي) د مخ له خوا څخه د شا و طرف ته إِذَا كَانَتِ الْخُصْيَةُ مُدَلَّاةً کله چي خایې ځړېدلي وي (یعني دا پورتنی طریقه هغه وخت ده کله چي خصیتین ستي لولاندي ځړېدلي وي) وَإِنْ كَانَتْ غَيْرَ مُدَلَّاةٍ او که خایې ځړېدلي نه وي يَبْتَدِئُ مِنْ خَلْفٍ إِلَى قُدَّامٍ نو بیا به شروع د مخ لخوا څخه د شا و طرف ته کوي (یعني اوله ډېره (لوټه) به له مخ څخه د شا پر طرف کشوي) وَالْمَرْأَةُ تَبْتَدِئُ مِنْ قُدَّامٍ إِلَى خَلْفٍ او ښځه به شروع د مخ لخوا څخه د شا و طرف ته کوي خَشْيَةَ تَلْوِيْثِ فَرْجِهَا د هغې د شرمګاه د ککړېدو له بیرې څخه (ځکه که اوله ډېره د شا لخوا څخه د مخ پر طرف را کش کړي نو شرمګاه (فرج) به یې ککړ سي) ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَهُ أَوَّلًا بِالْمَاءِ بیا دي اتر استنجاء وروسته اول خپل لاس په اوبو سره

پرېولي ثُمَّ يَدْلُكُ الْمَحَلَّ بِالْمَاءِ بِبَاطِنِ إِصْبَعٍ أَوْ إِصْبَعَيْنِ بيا دي د نجاست ځای (مقعده) په اوبو سره ومږي په مخ سره د يوې ګوتي يا دوو ګوتو أَوْ ثَلَاثٍ إِنِ احْتَاجَ يا (په مخ سره) د درېو ګوتو که چيري ضرورت وي (درېو ګوتو ته، کنې صرف په دوو ګوتو دي اکتفا وکړي) وَيُصَعِّدُ الرَّجُلُ إِصْبَعَهُ الْوُسْطَى عَلَى غَيْرِهَا فِي ابْتِدَاءِ الْإِسْتِنْجَاءِ او سړی (نارينه) دي د استنجاء په شروع کي خپل منځنۍ (مينځوی) ګوته تر نورو ګوتو لوړوي (پورته ساتي) ثُمَّ يُصَعِّدُ بِنْصَرَهُ بيا دي د ګوتمې ګوتمه (کوم چي د وُسطیٰ څنګ ته ده هم) لوړه کړي وَلَا يَقْتَصِرُ عَلَى إِصْبَعٍ وَاحِدَةٍ او صرف پر يوې ګوتي به اکتفا (بس والي) نه کوي وَالْمَرْأَةُ تُصَعِّدُ بِنْصَرَهَا وَأَوْسَطَ أَصَابِعِهَا مَعًا ابْتِدَاءً او ښځه به له ابتداء (شروع) څخه خپل د ګوتمې او منځنۍ ګوته (دواړي) يو ځای لوړوي خَشْيَةَ حُصُولِ اللَّذَّةِ د خوند حاصلېدو له بېري څخه (ځکه صرف په يوې ګوتي سره استنجاء وهل د ښځي د شهوت را پارولو امکان لري) وَيُبَالِغُ فِي التَّنْظِيفِ حَتَّى يَقْطَعَ الرَّائِحَةَ الْكَرِيهَةَ او په پاکوالي (د ځای) کي دي ښه مبالغه وکړي تر دې چي بد بويي ختمه سي وَفِي إِرْخَاءِ الْمَقْعَدَةِ إِنْ لَمْ يَكُنْ صَائِمًا (همدارنګه مبالغه دي وکړي) د مقعدي په سستولو کي که چيري روژه دار (روژتي) نه وي فَإِذَا فَرَغَ بيا چي کله (له استنجاء څخه) فارغ سي غَسَلَ يَدَهُ ثَانِيًا نو دويم وار دي خپل لاس پرېولي وَنَشَفَ مِقْعَدَتَهُ قَبْلَ الْقِيَامِ إِنْ كَانَ صَائِمًا او خپل مقعده دي تر ولاړېدلو مخکي وچه کړي (احتياطا) که چيري روژه دار وي (ځکه که وچه يې نه کړي نو کېدای سي چي د استنجاء باقي مانده اوبه په جذب سره نس ته ولاړي سي کوم چي د روژې ماتېدلو سبب ګرځي، نو ځکه احتياطاً وچول او څنډل پکار دي).

لغات: ﴿يمسح﴾ د فتح د باب مضارع ده. د دې باڅو معناوي دي: مثلاً که د دې باب په صله کي حجر اسود يا داسي بل شی ذکر سي نو معنیٰ يې ده: مسه کول او مچول. که يې په صله کي وېښتان ذکر سي نو معنیٰ يې ده ږمنځول او داسي نور. لنډه دا چي د صلې په بدلون سره يې معنیٰ بدلېږي. دلته يې معنیٰ ده: نجاست وچول او ليري کول، يعني لاس يا ډبره يا داسي بل شی باندي تېرول چي د نجاست اثر ځني ولاړ سي (إمرار اليد عليه لإذهاب ما عليه من أثر) (معجم). ﴿خصية﴾ خايه (خوټه)، تثنيه

خُصْيَتَان: خايې (خوټې) جمع، خُصَى. ﴿مُدَلَّاة﴾ د تفعيل له بابه اسم فاعل دی: ځوړنده، راځړېدلې. ﴿يُصْعِدُ﴾ د تفعيل له بابه مضارع معلومه ده: خېژول، لوړول، پورته کول. ﴿إِصبع﴾ ګوته، دلته د ګوتو يادونه سوې ده، نو مناسبه ده چې په عربو کې د ټولو ګوتو نومان وپېژندل سي. بټې ګوتې ته په عربي کې "إِبْهَام" وايي، د شهادت ګوتې ته "سَبَّابَة" وايي، د هغې څنګ والا يعني مېنځوې ګوتې ته "وُسْطٰى" او د هغې څنګ والا يعني د کوتمې ګوتې ته "بِنْصَر" وايي او تر ټولو کوچنۍ يعني خچې ګوتې ته "خِنْصَر" وايي. ﴿إِرخاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: سستول او نرمول، ايله کول (ډيله کول). ﴿نشف﴾ د نصر له بابه د واحد غائب ماضي معروف صيغه ده: وچول.

تشريح: په دې عبارت کې د استنجاء طريقه بيان سوې ده چې سړی به د دُبر استنجاء څنګه کوي؟، فرمايي چې اول دې درې ډبرې را واخلي، اوله ډبره دې پر مخرج د مخ له طرفه د شا و طرف ته کش کړي او بيا دې دويمه ډبره له شا څخه د مخ پر طرف را کش کړي او درېيمه ډبره دې هم د مخ له طرفه د شا پر طرف کش کړي او دا طريقه د ګرمۍ د موسم ده؛ ځکه د ګرمۍ په موسم کې عموماً خصيتين (خوټې) لاندې ځړېدلې وي، نو که په دې وخت کې اول وار ډبره له شا څخه مخ ته را کش کړل سي، نو د خصيتينو د ککړتيا خطره سته، او که ديخ او ژمي موسم وي يعني خصيتين ځړېدلې نه وي، نو بيا دې د پورتنۍ طريقې برعکس وکړي چې اوله ډبره دې پر مخرج د شا لخوا څخه د مخ پر طرف را کش کړي او دويمه ډبره دې شا ته کش کړي او درېيمه ډبره دې بيا مخ ته را کش کړي.

او ښځه به همېشه هغه طريقه اختياروي کوم چې يې سړی په ګرمۍ کې اختياروي، يعني ښځه به په هر موسم کې د مخ لخوا څخه د شا و طرف ته لاس کشوي؛ ځکه که د شا لخوا څخه مخ ته لاس را کش کړي، نو په نجاست سره د فرج د ککړتيا خطره سته.

ثم يغسل يده اولاً الخ: په ډبرو سره تر استنجاء کولو وروسته دې خپل لاس تر مړوند پورې پرېولي (دلته زياتره احنافو د "يَدَيه" لفظ استعمال کړی دی يعني خپل دواړه لاسونه دې پرېولي). بيا دې د نجاست محل په اوبو سره ومږي او په دې مږولو کې به په اول کې يوه يا دوې ګوتې استعمال کړي، نه زياتې، که په دوو ګوتو سره ضرورت پوره نه سي، نو درېيمه ګوته دې هم استعمال کړي او له درېو څخه دې زياتې ګوتې نه استعمالوي؛ ځکه عموماً په هغې سره ضرورت پوره کېږي.

ويصعد الرجل الخ: د استنجاء په شروع کې دې مېنځوې ګوته له نورو ګوتو څخه پورته (لوړه) ساتي چې اول په هغې سره د نجاست محل پرېولي او کله چې معمولي پرېولل سي، نو بيا دې د

ګوتمې ګوته (بنصر) هم ورپورته کړي او د نجاست ځای دي په پرېولي، او که ضرورت وي نو بیا دي خنصر او بیا سبابه هم ور سره ملګرې کړي او ځای دي ښه صفا کړي لو فقط پر یوه ګوته دي اکتفا نه کوي چي له شروع څخه تر آخره صرف یوه ګوته استعمال کړي؛ ځکه له دې څخه مرض پیدا کیږي. (شفاء الارواح)

والمرأة تصعد إلخ: او ښځه به د استنجاء له شروع څخه بِنصر او وُسطیٰ دواړي ګوتي یو ځای پورته کوي؛ ځکه د ښځي لپاره یوازي په یوې ګوتي سره د محل په پاکولو کي د لذت حاصلېدلو خطره سته.

ویبالغ فی التنظیف إلخ: د مبالغه کولو مطلب دا دی چي په پرېوللو کي دې پوره زیاتوب وکړي تر دې چي د نجاست بوی له محل او له هغه ګوتو څخه لیري سي چي په هغوی سره یې استنجاء کړې ده. او دا به څنګه معلومیږي چي بوی لیري سو؟ نو د دې لپاره څه خاص عدد نه دی ټاکل سوی بلکي د پاکوالي (طهارت) یقین یا غالب ګومان حاصلېدل کافي دي، او که څوک وسواسي وي، نو د ځان لپاره دي درې ځله یا اووه ځله د پرېوللو مقدار وټاکي. (شفاء الارواح)

ولي إرخاء المقعدة إلخ: استنجاء وهونکی که روژه داره (روژتي) نه وي، نو د استنجاء کولو پر مهال دي مقعده ډېره نرمه او سسته ایله (ډیله) ساتي او که روزه داره وي، نو په دې کي دي مبالغه نه کوي چي هسې نه اوبه په مقعده کي جذب سي او روزه فاسده سي.

* * *

فَصْلٌ (فِيْمَا يَجُوْزُ بِهِ الإِسْتِنْجَاءُ وَمَا يُكْرَهُ فِعْلُهُ)

(دا) فصل (د هغه څه په بیان کي دی چي په هغه سره
استنجاء کول جائز دي او هغه چي کول یې مکروه دي)

تشریح: په دې فصل کي مصنف رَحِمَهُ الله دا بیانوي چي په کوم څه سره استنجاء کول جائز دي او په کوم څه سره استنجاء کول مکروه دي او کوم کار د قضاء حاجت په وخت کي مکروه دی او استنجاء باید چیري وکړل سي؟

د استنجاء په وخت کي پرده ضروري ده

﴿٢٠﴾ لَا يَجُوْزُ كَشْفُ الْعَوْرَةِ لِلْإِسْتِنْجَآءِ جائز نه دي د استنجاء لپاره عورت لڅول.

تشریح: د استنجاء کولو په وخت کي پرده کول ضروري دي، لهذا د استنجاء لپاره دي داسي ځای ولټول سي چي هلته د پردې پوره انتظام وي لکه بیت الخلاء، یا د لاري څخه ګوښه ځای چي د هیچا نظر پر هغه نه پرېوځي او هلته څوک نه تیرېږي، لهذا که بیت الخلاء وي یا داسي ځای وي چي د چا نظر پر هغه نه پرېوځي او څوک نه ور سره تیرېږي، نو هلته د عورت په ښکاره کولو کي څه حرج نسته. او که داسي ځای وي چي د خلکو نظر پر استنجاء کونکي پرېوځي او هلته خلک تیرېږي، نو بیا د استنجاء لپاره عورت ښکاره کول جائز نه دي؛ ځکه چي عورت ښکاره کول د خلکو مخ ته حرام دي او حرام کار کونکی فاسق دی، لهذا که په داسي صورت کي نجاست له مخرج څخه تجاوز نه وي کړی، نو په کپړه (کالیو) کي دننه دي په ډېره وغیره سره استنجاء وکړي.

همدارنګه که څوک په خلاص ځای کي قضاء حاجت کوي، هغه دي ناستي ته نژدې یعني په ټیټه عورت لڅ کړي، چي د لیري ولاړ کس نظر د ده پر عورت نه پرېوځي، همدارنګه له ضرورت څخه تر فارغېدلو وروسته او له ولاړېدلو څخه مخکي دي سملستي عورت پټ کړي، د دې عمل فایده دا هم ده چي عورت به یې کم وخت ښکاره وي کوم چي په شریعت کي مطلوب دي.

څومره نجاست معاف دی؟

﴿٢١﴾ وَإِنْ تَجَاوَزَتِ النَّجَاسَةُ مَخْرَجَهَا او که نجاست له خپل مخرج څخه تېر سي (تجاوز وکړي) وَزَادَ الْمُتَجَاوِزُ عَلَى قَدْرِ الدِّرْهَمِ او هغه تېر سوی نجاست تر یوه درهم زیات وي لَا

تَصِحُّ مَعَهُ الصَّلٰوةُ إِذَا وَجَدَ مَا يُزِيْلُهُ نو د هغه سره لمونځ نه صحیح کیږي کله چي داسي شی ومومندي کوم چي هغه (نجاست) لیري کولای سي.

تشریح: د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز له یوه درهم څخه کم نجاست معاف دی. د هغه د پاکوالي لپاره په ډبري او لوټي اکتفا کول جائز دي، د داسي کس لمونځ بلا کراهته صحیح کیږي او که نجاست د درهم په اندازه وي، نو د هغه پرېولل پکار دي، کنې لمونځ مکروه تحریمي کیږي او که نجاست له یوه درهم څخه زیات وي، نو پرېولل یې واجب دي، که بغیر د هغه له پرېوللو لمونځ وکړي، نو لمونځ یې نه کیږي.

مایزیله: له دې څخه مراد هر هغه پاک شی دی کوم چي نجاست صفا کولای سي او قابلِ احترام شی نه وي، لکه د خاورو لوټه، ګوډر، تشناب کاغذ او داسي نور، په نوې او سمه کپړه سره استنجاء کول مکروه دي، همدارنګه د کتابچې وغیره د لیکني په کاغذ او ورقه سره هم استنجاء کول مکروه دي.

❀ ❀ ❀

په کوم صورت کي بغیر له استنجاء څخه لمونځ صحیح کیږي؟

مسئله: که نجاست له مخرج څخه تجاوز وکړي او دا نجاست د یوه درهم له مقدار څخه زائد وي، نو په اوبو سره استنجاء کول واجب دي، بغیر له استنجاء لمونځ نه صحیح کیږي، صرف په دوو صورتونو کي بغیر له استنجاء لمونځ صحیح کیږي: ① یو دا چي اوبه یا بل بهیلونکی هیڅ پاک شی نه وي چي په هغه سره دا متجاوز نجاست لیر کړل سی، په داسي صورت کي بغیر له استنجاء لمونځ صحیح کیږي، ② او دویم دا چي زیاته ګڼه ګوڼه وي او د استنجاء لپاره هیڅ ځای او امکان نه وي او د خلکو مخ ته له عورت لڅولو څخه بغیر استنجاء کول ممکن نه وي، نو په دې صورت کي هم بغیر له استنجاء لمونځ صحیح کیږي، داسي کس به د طهارة النجاسة په پرېښودلو کي معذوره ګڼل کیږي؛ ځکه د چا مخ ته عورت لڅول حرام کار دي. (شفاء الارواح)

د استنجاء په وخت کي د عورت پټولو یوه حیله

﴿۴۲﴾ وَيَحْتَالُ لِإِزَالَتِهِ مِنْ غَيْرِ كَشْفِ الْعَوْرَةِ او حیله دي کوي د نجاست لیري کولو لپاره له عورت لڅولو څخه بغیر عِنْدَ مَنْ يَرَاهُ په هغه وخت کي چي څوک ورته ګوري (یعني دیو چاد کتلو په وخت کي دي په داسي حیله او تدبیر سره نجاست لیري کوي چي عورت یې لڅ نه سي).

لغات: ﴿یحتال﴾ د ضرب د باب مضارع ده، حیله کول، چل او تدبیر کول.

تشریح: که یو څوک د داسي صورت سره مخامخ سي چي که استنجاء وکړي نو نژدې یو کس یې ویني. نو په داسي صورت کي دي اول هغه کس ته ووایي چي پرده وکړي او سترګي پټي کړي. که هغه انکار وکړي، نو بیا دي په یو حیله او تدبیر سره نجاست لیري چي په کپړه (کالیو) کي دننه دي په ډبره یا په تشناب کاغذ وغیره سره هغه صفا کړي، او به دي نه استعمالوي. په متن کي له عِند من إلخ څخه مراد اجنبي سړی او اجنبیه ښځه ده، خو که خپله ښځه یې وي، بیا څه حرج نسته.

په هډوکو او داسي نورو سره د استنجاء کولو حکم

﴿۴۲﴾ ویُکرَهُ الاِستِنجَاءُ او مکروه ده استنجاء کول (وهل) بِعَظمٍ په هډوکي سره وَطَعَامٍ لِآدَمِيٍ أو بَهِیمَةٍ او د انسان یا چارپای (حیوان) د خوراک په شي سره وَآجُرٍ او (مکروه ده استنجاء) په پخه خښته سره وَخَزَفٍ او په کودي (کودري) سره وفَحمٍ او په سکرو سره وَزُجَاجٍ او په ښیښه سره وجَصٍّ او په ګچو سره وَشَيءٍ مُحتَرَمٍ او (همدارنګه مکروه ده استنجاء) په هغه شي سره چي محترم وي (خیال یې ساتل کیږي او د احترام قابل وي) کَخِرقَةِ دِیبَاجٍ وَقُطنٍ لکه د وریښمین ټوکر ټوټه او پنبه وبِالیَدِ الیُمنٰی إلّا مِن عُذرٍ او (مکروه ده استنجاء) په راسته لاس سره مګر د یو عذر په وجه (او که یو عذر وي مثلاً چپه لاس کوړ سي. نو بیا په راسته لاسه بېله کراهته استنجاء کولای سي).

لغات: ﴿عَظمٌ﴾ هډوکی، جمع: عِظَامٌ ﴿بهیمة﴾ هر چارپای بغیر له درندګانو او مرغانو څخه، جمع: بَهَائِم. ﴿خَزَفٌ﴾ دا لفظ په "زاء" سره دی، په "ذال" سره غلط دی. کودی (کودری)، د خاورین لوښي ماته سوې ټوټه، واحد: خَزَفَةٌ. خاورین لوښي ته هم وایي. ﴿فَحمٌ﴾ سکاره (د لرګیو وغیره سکاره)، جمع: فُحُومٌ و فِحَامٌ ﴿زُجاج﴾ ښیښه (شیشه)، ﴿جصّ﴾ ګچ (یو ډول سپینه معدني مشهوره خاوره ده)، ﴿دیباج﴾ خالص وریښمي ټوکر. ﴿قُطن﴾ پنبه (پمبه)، یوې ټوټې ته یې قُطنَةٌ وایي.

تشریح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله هغه شیان بیانوي چي په هغوی سره استنجاء کول مکروه دي، نو فرمایي چي په هډوکي سره استنجاء کول مکروه دي؛ ځکه چي هغه د جناتو (پېریانو) خوراک دی او نبي کریم ﷺ له دې څخه منع کړې ده، همدارنګه د انسان او چارپای په خوراک مثلاً په غوښه یا په واښو وغیره سره استنجاء کول مکروه دي؛ ځکه چي په دې کي د الله د نعمت سپکاوی

دی او د الله د نعمت ضایع کول دي، همدارنګه په پخه خښته او کودري سره؛ ځکه په دې سره پوره پاکوالي نه راځي او لاس او محل هم ککړ کیږي. همدارنګه په سکرو سره؛ ځکه چې په دې سره محل ککړ کیږي، همدارنګه په ښیښه او ګچ سره؛ ځکه دا شیان محل ته زیان رسوي، همدارنګه په داسي شي سره چې هغه لره قیمت او ارزښت وي، لکه وریښمین توکر، پنبیي توکر؛ ځکه چې دا بلا وجه مال ضایع کول دي، همدارنګه بلا عذره په راسته لاس استنجاء کول مکروه دي، ها! که څه عذر وي چې په چپه لاس استنجاء نه سي کېدلای، نو بیا په راسته لاس بلا کراهته جائز دي.

❀ ❀ ❀

مسئله: په راسته لاس د استنجاء کولو د کراهت حکم صرف د استنجاء سره خاص نه دی، بلکي عام دی، هیڅ وخت هم شرمګاه ته راسته لاس وروړل پکار نه دي، بایدهر وخت د ضرورت پر مهال چپه لاس استعمال کړي، او دا د محاسن الاخلاق تعلیم دی، ټوله ښه کارونه لکه خوراک، څښاک، قرآن یا کتاب نیول، د دې لپاره راسته لاس کارول پکار دي، او ټوله حقیر کارونه لکه بغل یا سپوخڅه (سپوخته) کرول، په پزه یا غوږ کي ګوته اچول، پزه پاکول، او وره یا لویه استنجاء کول، د داسي کارو لپاره چپه لاس کارول پکار دي، او دا د شریعت اسلامي ښېګڼه ده چي د داسي غوره خبرو ښوونه یې کړې ده، انساني عقل دې ته نه سي رسېدلای. (تحفة الالمعی ج:۱، ص:۲۲۰)

❀ ❀ ❀

د قضاء حاجت او بیت الخلاء آداب

﴿۴۴﴾ وَيَدْخُلُ الْخَلَاءَ بِرِجْلِهِ الْيُسْرٰى او داخل دي سي بیت الخلاء ته په خپل چپه پښه سره (یعني بیت الخلاء ته به اول خپل چپه پښه دننه کوي) وَيَسْتَعِيْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ قَبْلَ دُخُوْلِهٖ او بیت الخلاء ته تر داخلېدلو مخکي دي له رټلي شیطان څخه پناه وغواړي (ځکه بیت الخلاء د خبث او خبائثو استوګنځی دی) وَيَجْلِسُ مُعْتَمِدًا عَلٰى يَسَارِهٖ او پر چپه پښه دي تکیه کونکی کښېني وَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا لِضَرُوْرَةٍ او خبري دي نه دي مګر د ضرورت په وجه.

لغات: ﴿الخَلَاء﴾ مراد ځني بیت الخلاء ده، الخَلَاء خالي ځای ته وایي چي هلته هیڅوک نه وي او تنهایي وي، څرنګه چي په تشی (خلای تشناب) کي هم تنهایي وي، نو ځکه په بیت الخلاء سره ونومول سوه.

تشریح: د قضاء حاجت په وخت کي د څو خبر خیال ساتل پکار دي: ① بیت الخلاء ته په پټ سر تلل پکار دي چي خپل سر به یې پټ کړی وي او په لڅ سر دي نه ځي، ② بیت الخلاء ته له تللو

ځکه مخکې دي دا دعاء وايي: "اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ". د "الخبث" پر باء ضمه او سکون دواړه جائز دي، د ضمې يعني د "خُبُث" په صورت کې دا د خبيث جمع ده او مراد ځني مذکر شياطين دي او له خبائث ځخه مراد مؤنث شياطين دي، او ترجمه يې به دا وي: (اې الله! زه ستا پناه غواړم له مذکر او مؤنث شريرو جناتو ځخه)، او د سکون "خُبْث" په صورت کې د دې معنیٰ ده: ګندګي، ناپاکي، اوس به د دعاء ترجمه دا وي: (اې الله! زه ستا پناه غواړم له ګندګۍ ځخه او له مذکر او مؤنث شريرو جناتو ځخه) په دې صورت کې به مذکر شياطين د مؤنث شيطانينو تابع وي.

يادونه: د بيت الخلاء د مذکوره دعاء د اهميت په باره کې د شيخُ الوظائف محمد طارق عبقري دا يوه خبره کافي ده چې "نن سبا زياتره نفسي ناروغۍ لکه بې ځايه وهم، وسواس، له اندازې زيات شهوتي خواهش او داسې نور له همدې بيت الخلاء (بيتُ الخبث والخبائث) ځخه پيدا کيږي" له کوم چې ځخه نبي کريم ﷺ پناه غوښتې ده او خپل اُمت ته يې د هغه لارښوونه کړې ده، لهذا بيت الخلاء ته د ننوتلو او راوتلو دعاء حتماً يادول او ويل پکار دي او بايد په خپلو بچيانو هم ياده کړل سي.

③ بيت الخلاء ته د ننوتلو پر مهال دې اول چپه پښه دننه کوي، ④ د کښېنستلو پر مهال دې پر چپه پښه تکيه او زور کوي؛ ځکه په داسې کولو سره و تونکی شی په آسانۍ سره وځي او په فارغېدلو کې آساني راځي (او دا ځکه له آدابو ځخه شمېرل سوي دي چې په دې وخت کې پر ځان زور راوستل او په تکلف او زور سره غائط کول د ډېرو مرضونو سبب ګرځي کوم چې د حکمت او سائنس بحث دی)، ⑤ بلا ضرورته دې خبرې نه کوي.

د قضاء حاجت مکروهات

﴿۲۵﴾ وَيُكْرَهُ تَحْرِيْمًا او مکروهِ تحريمي دي (د استنجاء کولو په وخت کې) اسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ وَاسْتِدْبَارُهَا مخامخ کېدل د قبلې و طرف ته او (يا) شا کول د قبلې و طرف ته وَلَوْ فِي الْبُنْيَانِ که ځه هم په آبادۍ کې (دننه) وي وَاسْتِقْبَالُ عَيْنِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ وَمَهَبِّ الرِّيْحِ او (همدارنګه مکروه دي) مخامخ کېدل د لمر و تکۍ ته او سپوږمۍ ته او (مخامخ کېدل) د باد چلېدلو وطرف ته وَيُكْرَهُ أَنْ يَّبُوْلَ أَوْ يَتَغَوَّطَ او مکروه دي دا چې متيازې (بولي) يا ګندګي (لويې بولي) وکړي فِي الْمَاءِ وَالظِّلِّ وَالْجُحْرِ وَالطَّرِيْقِ وَتَحْتَ شَجَرَةٍ مُثْمِرَةٍ په اوبو او سايه او غار (سوري) او لاره کې او تر مېوه داره درختې لاندې وَالْبَوْلُ قَائِمًا إِلَّا مِنْ عُذْرٍ او (همدارنګه مکروه دي) په ولاړه متيازې کول مګر د يو عذر په وجه.

لغات: ﴿البلیان﴾ آبادي، عمارت، ﴿مَهَبّ﴾ د اسم ظرف صیغه ده: د باد (هوا) چلېدلو ځای، د باد چلېدلو ظرف، ﴿یتغوّط﴾ د تفعّل له بابه د واحد مذکر غائب مضارع معروف صیغه ده: غائط کول، لوی اودس ماتول، ﴿ظِلّ﴾ سایه، جمع: أظلال، ﴿جُحْر﴾ غار، د خزندو او کوچني حیوانانو د اوسېدلو غار. (معجم الوسیط)

تشریح: ① د استنجاء کولو پر مهال قبلې ته مخ یا شا کول مکروه تحریمي دي، برابره ده استنجاء کونکی په خلاص ځای کې کښېني او که په بیت الخلاء وغیره کې کښېني؛ ځکه په حدیث شریف کې له دې څخه منع سوې ده، او که د بیت الخلاء "قدم ځای" د قبلې وطرف ته جوړ سوي وي او مجبوري وي، نو څومره چې ممکنه وي مخ کړځول پکار دي، تر دې چې بچیان هم د قضاء حاجت لپاره د قبلې پر طرف نه کښېنول پکار دي، ② همدارنګه په داسې ځای کې استنجاء کول چې لمر یا سپوږمی د ده مخ ته وي، مکروه دي، او که په بند ځای کې د لمر یا سپوږمۍ استقبال راځي او هغوی نه لیدل کیږي، نو بیا مکروه نه دي، دلته د استقبال قید لګول سوی دی، له دې څخه معلومه سوه چې د لمر یا سپوږمۍ وطرف ته شا کول مکروه نه دي، ④ د هوا (باد) وطرف ته مخ کول مکروه دي؛ ځکه په دې صورت کې به ګندګي د ده پر طرف راسي او دئ به ناپاکه کړي، ④ په روانو یا ولاړو اوبو کې یا د یو حیوان په غار کې قضاء حاجت (تشي یا ډکي متیازي) کول مکروه دي، په دې کې څه تفصیل دی: په ولاړو لږو اوبو کې حرام دي، په ولاړو ډېرو اوبو کې مکروه تحریمي دی او په روانو (جاري) اوبو کې مکروه تنزیهي دی (عمدة الفقه)، ⑤ په کومه سایه کې چې خلک کښېني، هلته قضاء حاجت کول، ⑥ په عامه لاره کې قضاء حاجت کول، ⑦ تر مېوه داره درختې لاندي، ځکه که مېوه را ولوېږي، نو ککړه او خرابه به سي او مال به ضایع سي، ⑦ بېله عذره په ولاړي متیازي کول، خو که یو عذر او مجبوري لري (مثلا ملا یې درد کوي)، نو بیا په ولاړي متیاز کول مکروه نه وي. (عالمګیري ج:۱، ص:۵۰، مراقي الفلاح مع الطحطاوي ص:۲۹)

﴿۳۶﴾ وَيَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ بِرِجْلِهِ الْيُمْنٰى او له بیت الخلاء څخه دي را ووځي په خپل راسته پښه سره ثُمَّ يَقُوْلُ او بیا دي (دا دعاء) ووایي اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَذْهَبَ عَنِّي الْأَذٰى وَعَافَانِيْ ټول له تعریفونه (خاص) هغه الله ﷻ لره دي چې ناپاکي (یا تکلیف) یې را څخه لیري کړی او عافیت (صحت) یې راکړی.

لغات: ﴿الأذی﴾ ضرر من شی، تکلیف ور کونکی شی، والضرر الذی یصیب الانسان فی بدنه أو فی نفسه (معجم لغة الفقهاء)، مراد ځني فضلات دي چې که د انسان په بدن کې پاته سي نو بدني او نفسي

تکلیف لو مرض ورته رسیږي، ﴿عافاني﴾ د مفاعلې له بابه د واحد مذکر غائب صیغه ده: له آفاتو او امراضو څخه خوندي کول. صحت (روغتیا) ورېخښل، یعني د غذا د مفیدو اجزاؤ په باقي پرېښوولو سره یې ما ته صحت وبخښی چې که د فضلاتو سره هغه خاص اجزاء هم وتلي وای. نو د هلاکت خطره وه. (مراقی الفلاح ص:۳۱)

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چې له بیت الخلاء څخه د راوتلو په وخت کې دې اول راسته پښه راباسي او مذکوره دعاء دې وايي "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّی الْاَذٰی وَعَافَانِیْ". یعني هغه الله جَلَّ جَلَالُهٗ لره دې حمد او ثناء وي چې دا فضلات یې ما څخه لیرې کړه چې که هغه خارج سوي نه وای نو قسما قسم ناروغۍ به پیدا سوي وای او کومه غذا چې زما لپاره مفیده وه، هغه یې باقي پرېښوده او صحت (عافیت) یې ته را وبخښی. له دې دعاء څخه مخکې به نبي کریم ﷺ "غُفْرَانَكَ" هم ویل چې اې الله تعالیٰ! بخښنه غواړم پر دې چې څومره وخت په بیت الخلاء کې تېر سو، په هغه کې مو د الله تعالیٰ ذکر نه وکړی سو. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِي الْوُضُوْءِ

(دا) فصل په (بیان د احکامو د) اوداسه کې دی

تشریح: مصنف رَحِمَهُ الله د استنجاء او د هغه له احکامو څخه تر فارغېدلو وروسته اودس او د هغه ملحقات بیانوي او تر دې وروسته بیا د غسل احکام بیانوي. اودس یې ځکه پر غسل مخکې کړی دی چې په قرآن کریم کې هم اول د اودس بیان سوی دی او بیا د غسل. الله تعالیٰ فرمایلي دي: ﴿فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ﴾ المائدة: ۶ او تر دېې وروسته یې فرمایلي دي ﴿وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا﴾ المائدة: ۶. او بله وجه یې دا ده چې د اودس محل (یعني د اودس اندامونه) د غسل د محل (یعني د بدن) جزء دی او جزء پر کُل مخکې وي، او درېیمه وجه دا ده چې د اودس ضرورت د غسل په نسبت زیات پېښېږي. (حاشیه)

د اودس فرضونه

﴿۴۷﴾ أَرْكَانُ الْوُضُوْءِ أَرْبَعَةٌ وَهِيَ فَرَائِضُهُ د اودس رکنونه څلور دي او همدا د اودس فرضونه دي اَلْأَوَّلُ غَسْلُ الْوَجْهِ اول د مخ پرېولل دي وَحَدُّهُ طُوْلًا مِنْ مَبْدَإِ سَطْحِ الْجَبْهَةِ إِلَى أَسْفَلِ الذَّقَنِ او د مخ حد په اوږدوالي سره د تندي د سطح د شروع کېدو له ځایه (یا په بله وینا د وربېښتو د شنه کېدو له ځایه) تر لاندې حصې د زنې پورې دی وَحَدُّهُ عَرْضًا مَا بَيْنَ شَحْمَتَيِ الْأُذُنَيْنِ او د مخ حد په پلنوالي (بر) سره هغه (ټوله) حصه ده کوم چې د دواړو غوږونو تر مېنځ ده وَالثَّانِيْ غَسْلُ يَدَيْهِ مَعَ مِرْفَقَيْهِ او دوهم فرض د خپلو دواړو لاسونو پرېولل دي د څنګلو سره وَالثَّالِثُ غَسْلُ رِجْلَيْهِ مَعَ كَعْبَيْهِ او درېیم فرض د خپلو دواړو پښو پرېولل دي د بجلکو سره وَالرَّابِعُ مَسْحُ رُبُعِ رَأْسِهِ او څلورم فرض د خپل سر په څلورمه حصه باندې مسح کول دي.

لغات: ﴿وضوء﴾ ① د واو په ضمه سره له وَضَاءَةٌ څخه اخیستل سوی دی چې هغه مطلق نظافت او پاکوالي ته وایي. ② د واو په فتحه سره هغه شي ته وایي چې د هغه په ذریعه پاکي حاصله کړل سي.

او د شریعت په اصطلاح کي د وضوء معنیٰ ده: په مخصوصه طریقه سره اعضاء ثلاثه پرېولل او سر مسح کول، ﴿غَسل﴾ (د غین په فتحه سره): پرېولل، ﴿حدّه﴾ د دې ضمیر الوجه ته راجع دی، جمع: حُدُوْد، او عَرضًا د طُولاً مقابل دی، ﴿سطح﴾ د هر شي ښکارنی (ظاهري) اړخ، پورتنی حصه، ﴿جبهة﴾ تندی، جمع: جِبَاهٌ، ﴿ذقن﴾ زنه، جمع: أَذْقَان، ﴿شحمق﴾ تثنیه د شَحْمَةٌ ده: د دې خپله معنیٰ ده: د وازګي توټه، کله چي یې نسبت د اُذُن (غوږ) وطرف ته وسي، نو معنیٰ یې ده: د غوږ پوځکی، نرمی، ﴿مِرفقیه﴾ تثنیه د مِرْفَقٌ ده: څنګله، جمع: مَرَافِق، ﴿کعبیه﴾ تثنیه د کَعْبٌ ده: بجلکه، د پښې ګیټی، جمع: کُعُوْبٌ و کِعَابٌ.

تشریح: ارکان جمع د رُکن ده، د رُکن لغوي معنیٰ ده: قوي طرف، او اصطلاحي معنیٰ یې ده: د شي هغه جزء چي شی (ماهیت) له هغه څخه جوړ سوی او پوره سوی وي، نو ارکان د شي هغه اجزاؤ ته وایي چي شی له هغوی څخه جوړ وي او په هغوی سره پوره وي، لکه اودس چي د اعضاء ثلاثه (مخ، لاسونو او پښو) له پرېوللو او د سر له مسح کولو څخه مرکب دی، نو ځکه دا د اودسه ارکان سوه او همدا ارکان د اوداسه فرائض دي، فرائض جمع د فرض ده، فرض هغه حکم دی چي په هغه کي د کمي و زیاتوب احتمال نه وي او په داسي قطعي دلیل سره ثابت وي چي په هغه کي هیڅ ډول څه شک وشبه نه وي. مصنف رَحِمَهُ الله اول د ارکان په ذکر کولو سره د هیئتِ ترکیبیه وطرف ته اشاره وکړه (چي اودس له همدې څلورو څخه مرکب دی) او بیا یې په فرائض سره د هغه شرعي حقیقت بیان کړی (چي د شریعت له رویه اودس په قطعي دلیل سره ثابت دی...).

لنډه دا چي په دې عبارت کي یې د اودسه ارکان او د مخ حدود بیان کړي دي، د اوداسه څلور فرضونه دي: ① ټوله مخ پرېولل. ② تر څنګلو پوري دواړه لاسونه پرېولل. ③ د سر څلورمه حصه مسح کول. ④ تر بجلکو پوري دواړه پښې پرېولل.

د مخ حدود: وحدہ إلخ: په اوږدل سره د مخ حدّ د تندي له شروع څخه یعني چیري چي د سر د مخ والا ورېښتان شنه سوي وي (یا په بله وینا دا د تندي پرلوړ طرف چي عموماً له کومه ځایه د سر ورېښتان شروع کیږي له همدې ځایه تندی او د مخ حد شروع کیږي برابره ده پر هغه ځای ورېښتان وي او که نه وي الکه پک (ګنجی)). نو په اوږدل له همدې ځایه مخ شروع کیږي) د زني (ذقن) تر لاندي حصي پوري (په دې شرط چي ږیره ډېره ګڼه نه وي)، او په بره (پلنوالي) سره د مخ حد د یوه غوږ له نرمی څخه د بل غوږ تر نرمی پوري دی. دا د مخ حدّ او اندازه ده او د دې پرېولل فرض دي.

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): د سترګو ظاهري حصه پرېولل ضروري دي، همدارنګه د سترګو هغه حصه کوم چي د پزي سره جوخته ده (یعني د سترګي د کونجانو ظاهره حصه) پرېولل ضروري دي، حتی که له سترګي څخه چخړي را ووځي او د سترګي په دې بنکاره کونج کي ودرېږي او کلکي سي، یا ختمي او داسي بل شی پکښي ودرېږي، نو هغه لیري کول او اوبه ور رسول ضروري دي.

څومره اوبه بهول (بیول) فرض دي؟

مسئله (۲): شرعاً د پرېوللو (غسل) مفهوم تر هغه وخته پوري نه ثابتېږي تر څو چي کم از کم د اوداسه د اندامو تر لندولو وروسته له هغوی څخه دوه څاڅکي نه وڅڅېږي، که دومره اندازه تقاطر هم نه وسي، نو د پرېوللو فرض نه ادا کېږي، مثلاً که څوک په واوره یا په یخي سره پښې او لاسونه لانده کړي او هیڅ څاڅکی نه وڅڅېږي، نو دا کافي نه دي. (در مختا مع الشامی ج:۱. ص:۱۸۷ ط: دار الکتاب. مراقی الفلاح ص: ۳۲، کتاب المسائل ص: ۱۳۲)

د ګڼو ووروڅو حکم

مسئله (۳): که دیو چا وروځي ګڼي وي چي لاندیني څرمن (پوستکی) یې نه ښکاري بلکي وروځو پټ کړی وي، نو صرف د وروځو د پاسه اوبه بهول کافي دي، څرمن ته اوبه رسول ضروري نه دي، خو که څرمن یې ښکاري، نو بیا د پاسه اوبه بهول کافي نه دي. (شامي ج:۱. ص:۲۱۱ ط: زکریا، شامي ط، دار الکتاب ج:۱، ص، ۱۹۰)

د اودس د فرضیت سبب

﴿۴۸﴾ وَسَبَبُهُ اِسْتِبَاحَةُ مَا لَا يَحِلُّ إِلَّا بِهٖ او د اوداسه (د فرضیت) سبب د هغه شیانو د اباحت (روایت) طلب کول دي کوم چي نه حلالېږي (نه روا کېږي) مګر په اوداسه سره (یعني کوم عبادت چي بغیر له اوداسه څخه روا نه دي مثلاً لمونځ او داسي نور، نو هغوی ځان ته روا کول د اوداسه د فرض کېدو سبب او دنیاوي حکم دی) وَهُوَحُكْمُهُ الدُّنْيَوِيُّ او همدا د اوداسه دنیاوي حکم دی وَحُكْمُهُ الْأُخْرَوِيُّ الثَّوَابُ فِي الْآخِرَةِ او د هغه اُخروي حکم ثواب (حاصلېدل) دي.

لغات: ﴿حکم﴾ الاثر المُرتَّبُ علی الشیء (هغه اثر کوم چي پر یو شي مرتب سي). ﴿استباحة﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د یو شي د روا کېدو (جائز کېدلو) طلب کول.

تشریح: د اوداسه د فرض کېدو سبب د هغه فعل د کولو اراده ده کوم چي له اوداسه څخه بغیر حلال نه وي (یعني لودس هغه وخت فرض کېږي او لازمېږي کله چي څوک د هغه فعل اراده وکړي کوم چي بغیر له لودس څخه حلال او روا نه وي) برابره ده هغه فعل فرض وي لکه لمونځ یا فرض نه وي لکه قرآن مجید مسه کول او داسي نور، نو په لوداسه سره د دې شیانو روا کېدل او حلال کېدل دا د اودس دنیاوي حکم دی چي

څوک اودس وکړي، د هغه لپاره په دنیا کي دا کارونه کول حلال سوه او په آخرت کي به د دې اوداسه په بدله کي ثواب ورته حاصل سي، دا د اوداسه اُخروي حکم دی.

د اودس شرائط

﴿۲۹﴾ وَشَرْطُ وُجُوْبِهِ الْعَقْلُ وَالْبُلُوْغُ وَالْإِسْلَامُ او د اوداسه د واجبېدلو شرط عاقل کېدل او بالغ کېدل او مسلمان کېدل دي (یعني اودس پر هغه چا واجب او فرض دی چي عاقل، بالغ او مسلمان وي)

وَقُدْرَةٌ عَلَى اسْتِعْمَالِ الْمَاءِ الْكَافِيْ او (بل شرط) قادر کېدل دي د کافي اوبو پر استعمال (یعني دومره اوبه کوم چي کافي وي) وَوُجُوْدُ الْحَدَثِ او د بې اودسیا موجودېدل دي (چي بې اودسه به وي)

وَعَدَمُ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ او د حیض او نفاس نشتوالي دی (چي په حیض او نفاس کي به نه وي)

وَضِيْقِ الْوَقْتِ او د وخت نه تنګېدل دي (او که دا جمله پر "عدم الحیض..." عطف نه وي بلکي جلا جمله وي، نو معنی یې دا: د وخت تنګېدل).

لغات: ﴿حَدَث﴾ بې اودسیا (بې اوسي). د فقهاؤ په اصطلاح کي هغه نجاست حکمیه ته وایي چي په هغه سره اودس، غسل او تیمّم ختمیږي (وروبې اودسي او لوبه بې اودسي).

تشریح: په دې عبارت کي د اوداسه د فرضیت شرطونه بیان سوي دي چي د اودس د فرض کېدلو لپاره دا شیان شرط دي: ① عاقل کېدل، لهذا پر لېوني اودس فرض نه دی؛ ځکه چي پر لېوني لمونځ فرض نه دی. ② بالغ کېدل، لهذا پر بچي اودس فرض نه دی. ③ مسلمان کېدل، لهذا پر کافر اودس نسته. ④ په دومره اندازه پاکو اوبو باندي قادر کېدل چي په هغه سره د اوداسه اندامونه یو، یو ځل پرېولل ممکن وي، لهذا که دومره اوبه وي لېکن اودس کوونکی د هغه پر استعمال قادر نه وي مثلاً مریض وي، یا دومره مقدار اوبه خو وي او هغه جوړ (روغ) هم وي لېکن هغه اوبه ناپاکه وي، یا اوبه هم پاکي وي لېکن دومره نه وي چي ټول اندامونه یو، یو ځل په پرېولل سي، نو په دې ټولو صورتونو کي پر هغه اودس فرض نه دی. ⑤ د حدث (بې اودسیا) موجودېدل یعني بې اودسه کېدل، لهذا که هغه اودس والا وي، نو بیا اودس ضروري نه دی. ⑥ له حیض او نفاس څخه پاکېدل، لهذا که ښځه د حیض یا نفاس په حالت کي وي، نو پر هغې اودس واجب نه دی. ⑧ د وخت نه تنګېدل، لهذا که وخت تنګ سي، نو بیا اودس واجب نه پاتېږي، مثلاً هر هغه لمونځ چي که هغه فوت سي نو قضاء یې نه راګرځي لکه د جنازې لمونځ، د اخترونو لمونځ، لهذا که وخت تنګ وي او دا بېره وي چي که

اودس وکړم، دا لمونځ به بالکل را څخه پاته سي، نو اودس دي پرېږدي او په تیمم سره دي داسي لمونځ اداء وکړي.

یادونه: د "ضَیقِ الوَقت" ترجمه اکثره شارحینو د پورته په څېر لیکلې ده یعني "وخت نه تنګېدل" چي دا پر "عدمُ الحیضِ والنفاسِ" د عطف کېدلو په وجه "عدمُ ضِیقِ الوقت" دی. خو صاحب د "شفاء الارواح" د دې ترجمه داسي کړې ده "د وخت تنګېدل" چي د لمانځه وخت به تنګ وي. یعني د وخت د داخلېدلو سره سمدستي اودس نه واجیږي بلکي کله چي وخت تنګ سي نو بیا پر هغه اودس واجیږي، لهذا که وخت زیات وي، نو پر هغه وجوب نسته. (شفاء الارواح ص: ۴۷)

د اودس صحیح کېدلو شرائط

﴿۵۰﴾ وَشَرْطُ صِحَّتِهٖ ثَلَاثَةٌ او د اوداسه د صحیح کېدلو شرطونه درې دي عُمُوْمُ الْبَشْرَةِ بِالْمَاءِ الطُّهُوْرِ عام کول (کښې ایستل) دي ټوله پوست په پاکو (پاکونکو) اوبو سره (یعني د اوداسه د اندامونو په ټوله ظاهري پوست او حصه باندي اوبه تېرول او لنول) وَانْقِطَاعِ مَا يُنَافِيْهِ مِنْ حَيْضٍ وَنِفَاسٍ وَحَدَثٍ او ختمېدل دي د هغه شیانو کوم چي د اوداسه منافي دي یعني حیض، نفاس او بې اودسیا وَزَوَالُ مَا يَمْنَعُ وُصُوْلَ الْمَاءِ إِلَى الْجَسَدِ كَشَمْعٍ وَشَحْمٍ او زائلېدل (نه موجودېدل) دي د هغه شیانو کوم چي بدن ته د اوبو رسېدل منع کوي لکه موم (شمه) او وازګه.

لغات: ﴿عموم﴾ د نصر د باب مصدر دی: عام کېدل، شاملېدل. او د دې په صله کي چي باء ذکر سي لکه دلته "بالماء". نو معنی یې ده: (ټولو لره) عاموول. (ټولو لره) شاملول. ﴿البشرة﴾ څرمن، پوست (پوستکی). د څرمني ظاهري حصه (د انساني پوستکي ښکاره سرېېرنه برخه). ﴿شمع﴾ موم (نرمه او غوړه مشهوره ماده ده). ﴿شحم﴾ وازګه (وازده).

تشریح: په دې عبارت کي یې د اوداسه د صحیح کېدلو درې (۳) شروطونه بیان کړي دي. یعني د اوداسه د صحیح کېدلو حکم به هغه وخت کیږي کله چي دا درې سره شرطونه موجود سي: ① په اوداسه کي چي د کومو اندامونو پرېولل فرض دي (یعني مخ، دواړه لاسونه تر څنګلو پوري او دواړه پښې تر

بجلکو پوري)، هغوی ته به په کامله توګه پاکي اوبه رسول کېږي یعني په پوره توګه به پرېولل کېږي. لهذا که دیوه ورېښته په اندازه هم څه حصه وچه پکښې پاتې سي، نو اودس نه صحیح کېږي. ② دویم شرط دا دی چې کوم شیان د اوداسه د صحیح کېدلو منافي دي، هغوی به د اوداسه پر مهال نه وي یعني کله چې اودس کوي. په هغه وخت کې به حیض یا نفاس یا حدث نه وي لکه د متیازو قطرات به جاري نه وي: ځکه په دې شیانو سره اودس ماتېږي، لهذا تر څو چې دا شیان بند سوي نه وي، د هغه اودس نه صحیح کېږي. ③ درېیم شرط دا دی چې کوم شیان بدن ته له اوبو رسېدلو څخه مانع وي، هغوی به پر بدن لګېدلي نه وي، لکه د نوکانو رنګ کوم چې یې ښځې استعمالوي چې د هغه په لګولو سره بیا نوکانو ته اوبه نه رسېږي، لهذا د اودس کولو په وخت کې د هغه لیري کول ضروري دي. کنې پاکي نه حاصلېږي، همدارنګه د شونډانو سورخي که سخته او ګاټه وي نو د اودس لپاره د هغه صفا کول ضروري دي. همدارنګه موم، وازګه او داسې نور کوم چې بدن ته د اوبو له رسېدلو څخه مانع وي. که هغوی پر بدن لګېدلي وي، نو غسل یا اودس نه صحیح کېږي. (کتاب المسائل ص: ١٣٥، درمختار مع الشامي ج: ١، ص: ١٤٣ ط: مصري)

※ ※ ※

فَصْلٌ (فِيْ تَمَامِ أَحْكَامِ الْوُضُوْءِ)

(دا) فصل (داوداسه داحکامو په تتمه کې) دی

تشریح: په دې فصل کې د اوداسه د فرائضو تتمه بیانوي.

تمام: د ضرب د باب مصدر دی: تَمَامُ الشَّيْءِ: مَا يَتِمُّ بِهِ الشَّيْءُ (په کوم څه سره چې شی پوره کېږي): یعني د شي بشپړېزه، د شي تتمه. التمام: بشپړ والی، پوره والی.

د ګڼې ږیرې او ناګڼې (رنګړې) ږیرې د پرېوللو حکم

﴿٥١﴾ يَجِبُ غَسْلُ ظَاهِرِ اللِّحْيَةِ الْكَثَّةِ واجب دي د ګڼې ږیرې ظاهري حصه پرېولل فِيْ أَصَحِّ مَا يُفْتٰى بِهٖ په هغه صحیح ترین قول کې چې په هغه باندې فتویٰ ورکول سوې ده وَيَجِبُ إِيْصَالُ الْمَاءِ إِلٰى بَشَرَةِ اللِّحْيَةِ الْخَفِيْفَةِ او د اوبو رسول واجب دي د سپکې (ناګڼې) ږیرې وڅرمني (پوست) ته وَلَا يَجِبُ إِيْصَالُ الْمَاءِ إِلَى الْمُسْتَرْسِلِ مِنَ الشَّعْرِ عَنْ دَائِرَةِ الْوَجْهِ او واجب نه دي د اوبو رسول (د ږیرې) و هغه وروېښتانو ته کوم چې د مخ له دائرې څخه (لاندې) ځړېدلي وي.

لغات: ﴿واللحية الكثة﴾ ګڼه ږيره، جمع: لُحَى، ﴿البَشَـرة﴾ (بفتح الباء والشين): دانسـان د څرمني ظاهري حصه، ظاهري پوستکی، ﴿مسترسل﴾ داستفعال له بابه دفاعل صيغه ده، استرسل الشعر: ورېښتان سيده او را ځوړند کېدل (راځړېدل)، مراد ځني دږيري را ځړېدلي ورېښتان دي کوم چي لاندي سيده تللي وي، ﴿دائرة﴾ دايره، په معنیٰ سره د احاطه.

تشريح: ږيره دوه قسمه ده او د دواړو حکم جلا جلا دی: ① اللحية الكثة (ګڼه ږيره): که دږيري ورېښتان دومره ګڼ وي چي لاندیني څرمن (پوستکی) يې نه ښکاره کيږي، نو حکم يې دا دی چي د هغې صرف ظاهري (پاسنی) حصه پرېولل فرض دي، تر ږيري لاندي څرمني ته اوبه رسول فرض نه دي، همدا صحيح او مفتیٰ به مذهب دی.

② اللحية الخفيفة (سپکه ارنګړې ږيره)، که دږيري ورېښتان ګڼ نه وي او تر ورېښتانو لاندي څرمن ليدل کيږي، نو په دې صورت کي لاندیني څرمني ته اوبه رسول فرض دي.

ولايجب ايصال إلخ: يعني دږيري کوم ورېښتان چي دمخ له دايرې او احاطې څخه وتلي يا په بله وينا لاندي تللي او ځړېدلي وي، دهغوی پرېولل يا مسح کول فرض نه دي، بلکي دهغوی صرف مسح کول سنت دي، او پرېولل دهغو ورېښتانو فرض دي کوم چي دمخ په محاذات کي راځي.

يادونه: په عبارت کي د "مَا يُقَالُ" په قول سره يې غيرِ مفتیٰ به اقوال ايستلي دي او هغه دا دي: ① دګڼي ږيري درېيمه حصه پرېولل فرض دي، ② څلورمه حصه يې پرېولل فرض دي، ③ فقط مسح يعني لوند لاس پرې تېرول کافي دي، لېکن صحيح او مفتیٰ به قول هغه دی کوم چي په عبارت کي ذکر سو چي د ګڼي ږيري صرف ظاهري پاسنی حصه پرېولل ضروري دي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۳۴)

د ښونډانو ښکاره حصه پرېولل

﴿ ۵۲ ﴾ وَلَا إِلَى مَا انْكَتَمَ مِنَ الشَّفَتَيْنِ عِنْدَ الِانْضِمَامِ او نه وهغه حصې ته (داوبو رسول واجب دي) کومه حصه چي دشونډانو پټيږي (دشونډانو) ديو ځای کولو (بندولو) په وخت کي.

لغات: ﴿انكتم﴾ دانفعال دباب ماضي معروفه ده، إِنْكَتَمَ يَنْكَتِمُ إِنْكِتَامًا: پټېدل، ﴿انضمام﴾ د انفعال دباب مصدر دی: (يو شی دبل شي) سره يو ځای کېدل، سره جوختېدل (سره بندېدل).

الانضمام: اسم مصدر دی: سره يو ځای والی.

تشريح: دشونډانو دبندلو په وخت کي چي دشونډانو کومه حصه ښکاره (ښتنې) پاتيږي، دهغه پرېولل فرض دي او دبندولو په وخت کي چي دشونډانو کومه حصه پټيږي، دهغه پرېولل فرض نه دي، ځکه هغه دخولې ددننی حصې سره متعلق ده.

که ګوتې سره لګېدلې وي یا نوکان اوږده وي؟

﴿۵۳﴾ وَلَوِ انْضَمَّتِ الْأَصَابِعُ او که ګوتې سره یو ځای سوې (سره مښتې) وي أَوْ طَالَ الظُّفُرُ فَغَطَّى الْأَنْمِلَةَ یا نوک اوږد سوی وي چې د ګوتې سر یې پټ کړی وي أَوْ كَانَ فِيهِ مَا يَمْنَعُ الْمَاءَ كَعَجِينٍ یا په نوک کې داسې شی وي کوم چې اوبه منع کوي لکه اوړه وَجَبَ غَسْلُ مَا تَحْتَهُ نو واجب دي د هغه حصې پرېولل کوم چې تر هغه لاندې ده (یعنې تر نوک او هغه شي لاندې حصې ته اوبه رسول واجب دي).

لغات: ﴿انضمت﴾ د انفعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي معروفي صيغه ده: سره یو ځای کېدل، سره جوختېدل. ﴿الظفر﴾ نوک. جمع: أَظْفَار. جمع الجمع: أَظَافِيرُ. ﴿غَطَّى﴾ د تفعیل د باب ماضي ده: پټول. ﴿العجين﴾ خیشته سوي اوړه. جمع: عُجُن. وچو اوړو ته "دَقِيق" وايي.

تشریح: که ګوتې په څه وجه دومره سره جوختې او سره لګېدلې وي چې بغیر له جلا کولو څخه اوبه خپله د هغوی مېنځ ته نه رسېږي، نو بیا د هغوی مېنځ ته اوبه رسول فرض دي، او که ګوتې په پیدایښي توګه سره مښتې وي، نو د هغوی مېنځ ته اوبه رسول فرض نه دي، همدارنګه که نوکان دومره اوږده وي چې تر هغوی لاندې د ګوتو سرونه پټ وي، نو تر هغوی لاندې اوبه رسول فرض دي او تر څو چې د ګوتو سرونو ته اوبه نه ورسول سي، تر هغه وخته پورې اودس نه صحیح کېږي، همدارنګه که داسې شی په نوکانو کې لګېدلی وي کوم چې بدن ته د اوبو له رسېدلو څخه مانع وي، نو د هغه لیرې کول او نوکان په اوبو سره لندول ضروري دي، لکه ښځه چې کله د اوړو اخښل (اغږل) کوي، نو په نوکانو کې یې اوړه لګېږي او بندېږي، نو په دې صورت کې اوړه پاکول او نوکانو ته اوبه رسول ضروري دي. (مراقی الفلاح ص:۳۵)

د خیرو حکم

﴿۵۴﴾ وَلَا يَمْنَعُ الدَّرَنُ وَ خُرْءُ الْبَرَاغِيْثِ وَنَحْوِهَا او نه منع کوي (د اوبو رسېدل ایا په بله وینا صحت د اودس) خیرې او د کیکو او داسې نورو (خزندو) ګندګي (مثلاً د مچانو ګندګي).

لغات: ﴿الدَّرَن﴾ خیره، چټلي، ﴿خُرْء﴾ ګندګي، فضله، غایطه مواد. ﴿براغیث﴾ جمع د بُرْغُوْث ده: کیکه، مشهوره خزنده ده.

تشریح: یعنې خیره او د کیکې، غوماشې، مچ او داسې نورو ګندګي بدن ته د اوبو له رسېدلو څخه مانع نه دي. لهذا که د چا په نوکانو کې خیره بنده وي یا د چا پر اندامونو خیره یا د مچ، غوماشې او داسې نورو ګندګي لګېدلې وي، نو د هغه لیرې کول فرض نه دي او که په اودس سره دا شیان لیرې نه سي، نو اودس صحیح کېږي.

تنګه ګوتمې وغیره ښوررول

﴿ ۵۵ ﴾ وَيَجِبُ تَحْرِيْكُ الْخَاتَمِ الضَّيِّقِ او واجب دي د تنګي ګوتمې ښوررول (حرکت ورکول).

تشريح: كه ګوتمې تنګه وي، نو په اوداسه كي د هغې ښوررول ضروري دي چي تر هغې لاندي ګوتي ته اوبه ورسيږي. او كه ګوتمې تنګه نه وي، نو بيا يې ښوررول مستحب دي، ضروري نه دي، همدا حكم د ګړۍ (ساعت) او بنګړيو دی.

د درمل له پاسه د اوبو تېرولو حكم

﴿ ۵۶ ﴾ وَلَوْضَرَّهُ غَسْلُ شُقُوْقِ رِجْلَيْهِ او كه نقصان كوي اودس كونكي ته د خپلو دواړو پښو د چاودو پرېولل جَازَ اِمْرَارُ الْمَاءِ عَلَى الدَّوَاءِ الَّذِىْ وَضَعَهُ فِيْهَا نو جائز دي د اوبو تېرول پر هغه دواء كوم چي يې په چاودو كي اېښې وي.

تشريح: كه ديو چا په پښو كي چاودي وي چي په هغه كي يې دوا اچولې وي او تر دوا لاندي يعني چاودو ته اوبه رسول نقصان كوي. نو صرف د پاسه د اوبو په تېرولو سره د ده اودس كيږي او كه پر چاودو اوبه تېرول هم نقصان كوي. نو مسح كافي ده او كه له مسح څخه هم عاجزه وي. نو هغه ځای دي پرېږدي. لنډه دا چي له دې شيانو څخه كوم شی كه نقصان نه كوي نو څومره قدر چي نقصان نه كوي هغه به كوي. تر دې چي كه يخي اوبه نقصان كوي او ګرمې اوبه نقصان نه كوي او پر ګرمو اوبو هغه قادره وي. نو پر هغه د ګرمو اوبو استعمالول لازميږي. (حاشيه)

تر خرېيلو وروسته به مسح او پرېولل نه راګرځول كيږي

﴿ ۵۷ ﴾ وَلَايُعَادُ الْمَسْحُ وَلَا الْغَسْلُ عَلٰى مَوْضِعِ الشَّعْرِ بَعْدَ حَلْقِهٖ او نه به را ګرځول كيږي مسح او پرېولل د وربېښتانو پر ځای، د هغوی له خرېيلو څخه وروسته (يعني كه له اودس كولو څخه وروسته يو ځای وخرېيل سي. نو هغه ځای به بيرته نه پرېولل كيږي يا به نه مسح كول كيږي اګه چي هغه د مسح ځای وي) وَلَا الْغَسْلُ بِقَصِّ ظُفُرِهٖ وَشَارِبِهٖ او نه (به راګرځول كيږي) پرېولل د نوكانو او برېتونو په پرېكولو سره.

لغات: ﴿حلق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: خرېيل (خريل).

تشريح: كه څوك اودس وكړي. بيا سر وخريي. يا تر غسل كولو وروسته سر وخريي كه څه هم د جنابت غسل وي، نو دويم وار د سر مسح كول يا پرېولل ضروري نه دي. همدارنګه كه تر اودس كولو وروسته نوكان پرېكړي، يا برېتونه پرېكړي. نو دويم وار تر نوكانو لاندي حصه پرېولل يا برېتونه پرېولل ضروري نه دي.

فَصْلٌ فِيْ سُنَنِ الْوُضُوْءِ

(دا) فصل په (بیان د) سنتونو د اوداسه کي دی

د اوداسه سنتونه

﴿۵۸﴾ يُسَنُّ فِي الْوُضُوْءِ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَيْئًا سنت دي په اوداسه کي اتلس (۱۸) شیان غَسْلُ الْيَدَيْنِ إِلَى الرُّسْغَيْنِ (۱) دواړه لاسونه تر مړوندو پوري پرېولل.

لغات: ﴿ثمانية عشر﴾ دا شمېر د حصر لپاره نه دی یعني د دې مطلب دا نه دی چي د اوداسه سنتونه صرف همدا اتلس (۱۸) دي، بلکي د طالبانو د آسانۍ لپاره یې دا فرمایلي دي. حصر مقصود نه دی.

﴿الرسغين﴾ تثنیه د رُسْغ ده: مړوند.

تشریح: له دې ځایه د اوداسه سنتونه او مستحبات بیانوي. د اوداسه په شروع کي دواړه لاسونه تر مړوندو پوري پرېولل سنت دي، بعضي علماؤ دا حکم د "استیقاظ" په قید سره مقیّد کړی دی، یعني کله چي څوک له خوب څخه راویښ سي نو اول دي خپل لاسونه پرېولي، مصنف رَحِمَهُ الله دا مطلقاً سنت ګرځولي دي او په دې کي د خوب او علمِ خوب هیڅ قید نسته، همدا صحیح ده، لېکن له ویښېدلو څخه وروسته د دواړو لاسونو د پرېولو تأکید په حدیث کي راغلی دی. (حاشیه)

❀ ❀ ❀

مسئله: که دیو چا دا یقین یا یې غالب ګومان وي چي لاس مي ناپاکه دی، نو په اوبو کي د لاس اچولو څخه مخکي د لاسونو پرېولل فرض دي، بغیر له لاس پرېوللو څخه که اوبو ته لاس دننه کړي، نو اوبه مرداريږي او که د لاس د ناپاکوالي صرف احتمال وي، نو لاس پرېولل سنت مؤکده دي، که له پرېوللو څخه بغیر اوبو ته لاس واچوي. لوبه نه مرداريږي او که لاس بالیقین پاک وي، نو بیا هم اوبو ته د لاس اچولو څخه مخکي پرېولل مستحب دي.

بسم الله ویل

﴿۵۹﴾ وَالتَّسْمِيَةُ اِبْتِدَاءً او (د اوداسه په شروع کي) بسم الله الرّحمٰن الرّحیم ویل.

لغات: ﴿التسمية﴾ د تفعیل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: بسم الله... ویل.

تشریح: داوداسه په شروع کي بسم الله ویل مطلقاً سنت دي او د هر اندام د پرېوللو په وخت کي بسم الله ویل مستحب دي؛ ځکه په دریو امورو سره داوداسه شروع کول سنت دي: ① نیت، ② بسم الله ویل، ③ او د لاسونو پرېولل (د نیت ذکر به وروسته راسي). او دلته د الله په هر ذکر سره د بسم الله سنت اداء کیږي، لهذا که داودس په شروع کي د بسم الله پر ځای الله أکبر یا الحمدلله یا لا إله إلا الله ووایي، نو هم د بسم الله ویلو سنت اداء کیږي (طحطاوي)، او له اسلافو څخه دا الفاظ نقل سوي دي "بسم الله العظیم والحمد لله علی دین الاسلام" او بعضي علماء فرمایي چي دا الفاظ له نبي کریم ﷺ څخه منقول دي، (حاشیه) او صاحب د "انوار الایضاح" لیکلي دي چي په بعضي احادیثو کي پر دې موقع د "بسم الله والحمد لله" ویلو فضیلت وارد سوی دی. (طبرانی صغیر ج:۱، ص:۱۳۱، حدیث رقم:۱۹۶)

❀ ❀ ❀

که په شروع کي د بسم الله ویل هېر سي؟

مسئله (۱): که داوداسه په شروع کي له چا څخه بسم الله هېره سي، نو غوره دا ده چي کله ور په یاد سي، نو بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَ آخِرَهُ دي ووایي. (شامي ج:۱، ص:۱۰۲، ط: مصري. کتاب المسائل ص:۱۴۰)

که د اوداسه ځای په بیت الخلاء کي وي نو د بسم الله ویلو حکم

مسئله (۲): که داودس کولو ځای په بیت الخلاء کي وي (کوم ته چي تېج باترروم وایي)، نو هلته که نجاست مخامخ نه وي، نو داودس کولو په وخت کي په ژبه سره بسم الله ویلای سي، لېکن که نجاست ښکاره وي، نو په ژبه سره دي بسم الله نه وایي، بلکي په زړه کي دي یې وایي، همدارنګه د عورت ښکاره کېدلو په حالت کي په ژبه سره بسم الله ویل منع دي. (تحفة الألمعي ج:۱، ص:۲۰۲. کتاب المسائل ص:۱۴۰)

مسواک وهل

﴿۶۰﴾ وَالسِّوَاكُ فِي ابْتِدَاءِهِ او داوداسه په شروع کي مسواک وهل وَلَوْبِالْإِصْبَعِ عِنْدَ فَقْدِهٖ که څه هم په ګوته سره وي د مسواک د نشتوالي په وخت کي.

لغات: ﴿السواك﴾ د غابښونو صفا کولو لرګی، جمع: سُوُك، همدا معنیٰ د الِمسْواك ده، جمع: مَسَاوِيْك.

تشریح: په صحیح حدیث سره دا خبره ثابته ده چي کوم لمونځ په مسواک سره سوی وي، هغه د غیرِ مسواک والا لمونځ څخه اویا چنده زیات فضیلت لري، په اوداسه کي د مسواک وهلو وخت له

اودس شروع کولو څخه مخکي دی چي مخکي ووهل سي (حاشيه). او په عمدة الفقه کي يې د نهايه او فتح القدير په حواله سره ليکلي دي چي وخت يې دا دی چي د خولې پرېوللو په وخت کي ووهل سي او دا اکثرو عمل پر همدې قول دی؛ ځکه په دې کي صفايي ښه راځي. دواړه قولونه راجح دي او پر دواړو د عمل ګنجايش سته. غوره دا ده چي د کوم چا اوری (ووری) او غاښونه ونه کوي، هغه دي له اودس شروع کولو څخه مخکي مسواک وهي او که د چا اوری ونه کوي، هغه دي يې د خولې پرېوللو په وخت کي وهي.

که مسواک موجود نه وي، نو ضرور تا دي ګوته يا برش وکارول سي، په دې سره هم د مسواک ثواب حاصلېږي، لېکن که مسواک موجود وي، نو بيا په مذکوره شيانو سره د سنت ثواب نه حاصلېږي. دا خبره هم ياد ساتل پکار دي چي څرنګه د سړيو لپاره مسواک وهل سنت دي، همدارنګه د ښځو لپاره هم مسواک وهل سنت دي، خو بيا هم که يوه ښځه د طبعي ميلان په وجه د مسواک پر ځای بل شی لکه برش وغيره د مسواک په نيت استعمال کړي. نو ان شاء الله هغې ته د مسواک ثواب حاصلېږي.

د مسواک له آدابو څخه دا دي چي مسواک به له ترخې درختې څخه وي: ځکه په داسي مسواک سره بلغم په ښه توګه لیري کيږي او سينه صفا کيږي او خوراک ښه هضم کيږي. د هري درختې په لرګي سره مسواک وهل صحيح دي، ماسوا له انار او بانس څخه چي فقهاؤ له هغه څخه منع کړې ده؛ ځکه له هغه څخه د نقصان خطره سته. او د مسواک اوږد والی بايد په شروع کي يوه لوېشت وي، تر لوېشت به زيات نه وي او پلنوالي (پنډوالي) به يې د ګوتې په اندازه وي. همدارنګه له خوب څخه د راويښېدلو په وخت کي، يا يو مجلس او مجمع ته د تللو په وخت کي، يا د قرآن شريف يا حديث شريف د ويلو په وخت کي هم مسواک وهل مستحب دي او د مسواک ډېر فضايل دي.

د مسواک وهلو طريقه: دا ده چي مسواک دي په راسته لاس داسي ونيسي چي خچې ګوته تر مسواک لاندي راسي او بټه ګوته د مسواک د سر پر برابر راسي او پاته درې ګوتې د مسواک د پاسه راسي. بيا دي اول پر پاسني غاښونو له راسته طرف څخه مسواک مږل شروع کړي کله چي پر پاسني غاښونو مسواک ومږي. بيا دي همدارنګه پر لانديني غاښونو له راسته طرف څخه مسواک ووهي، دا يو وار سو. همداسي دي درې واره وکړي او هر وار دي مسواک له خولې څخه راباسي او هغه دي نځوړي او په نوو اوبو سره دي يې لندوي، ژبه او تالو دي هم په مسواک سره صفا کوي او مسواک دي د غاښونو پر عرض (بر) باندي وهي نه پر طول يعني مسواک دي پورته او کښته پر غاښونو نه مږي؛ ځکه په دې سره اوری (ووری) زخمي کيږي او وينه راوځي. (شفاء الارواح)

خوله او پزه پرېولل

﴿۶۱﴾ وَالْمَضْمَضَةُ ثَلَاثًا وَلَوْبِغُرْفَةٍ او درې واره خوله پرېولل (په خوله کې اوبه اچول او رغړول) که څه هم په یوه لپه سره وي وَالْإِسْتِنْشَاقُ بِثَلَاثِ غُرَفَاتٍ او پزه پرېولل (په پزه کې اوبه اچول) په دریو لپو سره.

لغات: ﴿اَلْمَضْمَضَة﴾ د فعللې د باب مصدر دی: په خوله کې اوبه اچول او ښورول، چې زموږ په اصطلاح "خوله پرېولل" ورته وایي، ﴿إِسْتِنْشَاق﴾ د استفعال د باب مصدر دی: په پزه اوبه کښول، یعني پزه پرېولل. ﴿غُرفَة﴾ د دې لفظ له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: په لپه کې را اخیستل سوي اوبه. یوه لپه اوبه.

تشریح: په اصطلاح کې د مضمضه معنیٰ ده: اوبه په ټوله خوله کرځول. مضمضه سنت مؤکده ده، که څوک بېله عذره د هغه د پرېښوولو عادت جوړ کړي، نو ګنهګاره کېږي، د مضمضه حدّ دا دی چې دننه ټولې خولې ته اوبه ورسېږي، اوبه په خوله کې کرځول او دباندې پاشل شرط نه دي. لېکن دباندې پاشل یې افضله دي. او "درې واره خوله پرېولل" او "هر وار نوې اوبه را اخیستل" سنت دي، دا دوه جلا، جلا سنتونه دي. نو که یو وار په لپه کې اوبه را واخلي او په هغه یوه لپه سره درې واره خوله پرېولي، نو په دې سره "د خولې پرېوللو" سنت خو اداء کېږي، لېکن "د هر وار نوې اوبه را اخیستلو" سنت نه په اداء کېږي.

والاستنشاق إلخ: د استنشاق اصطلاحي معنیٰ ده: دننه پزې ته اوبه رسول. استنشاق هم سنت مؤکده دی. پزې ته د اوبو د اچولو په وخت کې په ساه سره اوبه کښول شرط نه دي او د استنشاق سنت هغه وخت اداء کېږي. کله چې په دریو لپو سره اوبه په پزه کې واچوي. لهذا که یوه لپه اوبه را واخلي او هغه درې واره پزې ته کش کړي. نو د استنشاق سنت نه اداء کېږي. (شفاء الارواح)

﴿۶۲﴾ وَالْمُبَالَغَةُ فِي الْمَضْمَضَةِ وَالْإِسْتِنْشَاقِ لِغَيْرِ الصَّائِمِ او مبالغه کول د خولې په پرېوللو او د پزې په پرېوللو کې د غیر روژتي لپاره (د روژتي لپاره دا سنت نه دي).

لغات: ﴿مبالغة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: په یو کار او یو شي کې زیاتوب کول. پوره کوښښ پکښې کول.

تشریح: په مضمضه کې د مبالغه کولو مطلب دا دی چې اوبه غرغره کړي یعني حلق (ستوني) ته اوبه ورسوي او په خوله یې کرځوي، او په استنشاق کې مبالغه کول دا دي چې د ساه په ذریعه اوبه کش کړي لو د پزې دننه نرمې حصې ته یې ورسوي (یا په بله ویناء دا چې اوبه کش کړي تر دې د پزې بېخ ته

وخېږي)، خو که څوک روژه داره (روژتي) وي، نو هغه دي په مضمضه او استنشاق کي مبالغه نه کوي؛ ځکه په دوی کي په مبالغه کولو سره د روژې ماتېدلو احتمال سته.

د ږیرې خلالول

> ﴿ ٦٣ ﴾ وَتَخْلِيْلُ اللِّحْيَةِ الْكَثَّةِ بِكَفِّ مَاءٍ مِنْ أَسْفَلِهَا او د ګڼې ږیرې خلالول په یوه ورغوي (یوه لپه) اوبو سره د لاندي خوا څخه د ږیرې (یعني ګڼه ږیره په یوه لپه اوبو د لاندي طرف څخه خلالول، دا هم سنت دي).

لغات: ﴿تخليل اللحية﴾ لندې ګوتي د ږیرې د وړېښتانو په مینځ دننه کول، په ږیره کي لندې ګوتي تېرول. ﴿كف﴾ ورغوی سره د ګوتو، چي اصطلاحاً موږ ورته "لاس" وایو. جمع: أَكُفٌّ و كُفُوْفٌ.

تشریح: د مخ له درې واره پرېوللو څخه وروسته د خلال وخت دی، په ږیره کي د خلال سنت طریقه دا ده چي په راسته لاس کي اوبه را واخلي او تر زني لاندي یې په وړېښتانو ورننه کړي بیا دغه لندې ګوتي د زني لخوا څخه لاندي په ږیره ننه کړي او په ږیره کي یې تیري (را کش) کړي لوړ طرف ته یې راولي.

د ګوتو خلالول

> ﴿ ٦٤ ﴾ وَتَخْلِيْلُ الْأَصَابِعِ او د (ټولو) ګوتو خلالول.

لغات: ﴿تخليل الأصابع﴾ د ګوتو په مینځ کي اوبه تېرول.

تشریح: یعني د دواړو لاسونو او دواړو پښو ټوله ګوتي خلالول هم سنت دي، د لاس په ګوتو کي د خلال طریقه دا ده چي دیوه لاس ورغوی د بل لاس پر شا د پاسه کېښېږدي او د پاسني لاس لندې ګوتي د لاندیني لاس د ګوتو په مینځ کي واچوي او را کش یې کړي، او د پښې د خلال لپاره دي د چپه لاس خچې (خچنه) ګوته استعمالوي چي د پښې د ټولو ګوتو په مینځ کي دي هغه داخلوي او راکشوي او غوره دا ده چي د راسته پښې له خچې (خچني) ګوتي څخه خلال شروع کړي او د چپه پښې پر خچې ګوته یې ختم کړي. (در مختار مع الشامي ج۱، ص۲۱۴، ط۰ دار الكتاب. كتاب المسائل ص: ۱۴۲)

درې واره اندامونه پرېولل

> ﴿ ٦٥ ﴾ وَتَثْلِيْثُ الْغَسْلِ او پرېولل درې ځلي کول (یعني هر اندام درې واره پرېولل).

تشریح: په اودس کي چي د کومو اندامونو پرېولل فرض دي لکه مخ، دواړه لاسونه او دواړه پښې، هغوی درې، درې واره پرېولل سنت دي، یو وار ټوله پرېولل فرض دي، تر هغه وروسته دوه واره نور پرېولل د صحیح مذهب مطابق سنت مؤكده دي، او په مسح کي زمونږ په نیز تکرار نسته، نو ځکه یې

دلته "تثلیثُ المَسْح" نه دي فرمایلي، او بېله ضرورته له درېو وارو څخه زیات پرېولل پکار نه دي، لېکن که چا ته شک سي چي څو واره یې پرېولي دي، نو د زړه د اطمینان لپاره په زیاتو پرېوللو کي څه حرج نسته. (حاشیه، مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص، ۴۰)

❀ ❀ ❀

د وسوسې مریض به په شک عمل نه کوي

مسئله: کوم څوک چي د وسوسې او وهم په مرض مبتلا وي او په بار، بار پرېوللو سره هم هغه نه مطمئن کېږي، پر هغه لازم دي چي له درېو وارو څخه زیات یې بالکل نه پرېولي او په خپل شک باندي عمل نه وکړي، کنې وسوسه اچونکی شیطان به هغه هیڅکله په آرامه نه پرېږدي او که له درېو وارو څخه وروسته لوبه بهوي، نو دغه وسواسي کس ګناهګاره کېږي هم. (شامي ج:۱، ص:۲۱۶، ط: دار الکتاب)

د ټوله سر مسح کول

﴿۲۲﴾ وَاسْتِيْعَابُ الرَّأْسِ بِالْمَسْحِ مَرَّةً او (سنت دي) پوره سر نیول په مسح سره یو وار ایا په

بله وینا: ټوله سر یو وار په مسح سره کښېښل یعني په ټوله سر باندي مسح کول ا

لغات: ﴿استیعاب﴾ په پوره توګه اخیستل، پوره نیول، راګېرول، احاطه کول، کښې ایستل، صاحب د معجم یې داسي تعریف کړی دی: الاستیعاب: الأخذ بالشئ کله. یقال استیعاب العضو بالمسح: یعني مسحه کله أجمع. (معجم لغة الفقهاء)

تشریح: زموږ د احنافو په نېز که څه هم د سر د مسح فرض د څلورمي حصې په مسح کولو سره اداء کېږي، لېکن د ټوله سر یو وار مسح کول سنت دي، او که یو څوک بېله عذره د دې سنت په اداء کولو کي لا پروایي کوي، نو ګنهګاره کېږي.

د مسح طریقه: دا ده چي دواړه لاسونه په نوو اوبو سره لانده کړي او دواړه ورغوي او ګوتي د سر د مخ پر حصه کښېږدي او د شا طرف ته یې داسي کش کړي چي پر ټوله سره لاسونه وګرځي، بیا دي په دوو ګوتو سره دواړه غوږونه مسح کړي. (طحطاوي)

او بعضي علماؤ بیا بله طریقه بیان کړې ده چي د هر لاس درې ګوتي یعني خچې (خچنه) او د هغې د څنګ والا دوې ګوتي دي سره یو ځای کړي او د سر د مخ پر طرف دي یې کښېږدي او د شا یعني د څټ وطرف ته دي یې داسي کش کړي چي دواړه ورغوي او دواړه د شهادت ګوتي او بټي ګوتي له سر څخه لیري وي، تر دې وروسته دي دواړه ورغوي د شا (څټ) لخوا څخه د سر پر دواړو طرفونو کښېږدي او د مخ طرف ته دي یې را کش کړي چي د ټوله سر مسح وسي، بیا دي د شهادت په ګوتو سره د غوږو دننه حصه او په بټو ګوتو سره د غوږو دباندینی د شا حصه مسح کړي (حاشیه)

علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دغه طريقه کي تکلف او مشقت دی او په سنت کي د دې هيڅ اصل نسته، لېکن په عمدة الفقه کي يې د منحة الخالق على البحر الرائق په حواله سره ليکلي دي چي حضرت عائشې رضی الله عنها د نبي کريم ﷺ د مسح طريقه همداسي روايت کړې ده، نو ځکه صاحب د عمدة الفقه فرمايلي دي چي دواړه طريقې صحيح دي، که په هره يوه عمل کوي. (شفاء الارواح)

د غوږونو مسح کول

﴿٦٧﴾ وَمَسْحُ الْأُذُنَيْنِ وَلَوْبِمَاءِ الرَّأْسِ او دواړه غوږونه مسح کول که څه هم د سر (د مسح) په اوبو سره وي.

تشريح: د غوږو حکم د سر تابع دی، لهذا غوره دا ده چي په کومو اوبو سر مسح کړل سي. په هماغه سره غوږونه مسح کړل سي، بيا هم که څوک پر سر له مسح کولو څخه وروسته د غوږو لپاره جلا اوبه را واخلي نو هم صحيح دي، د غوږو مسح بالاتفاق سنت ده، لهذا په ښه توګه غوږونه مسح کول پکار دي. (کتاب المسائل ص: ۱۲۲، رافعی علی الشامي ج: ۱، ص: ۱۹، ط: دار الکتاب)

❀ ❀ ❀

مسئله: که پنبه (پمبه) يا داسي بل شی د غوږو په سوريو کي ايښوول سوي وي، نو را ايستل يې مستحب دي، د شهادت ګوتي د غوږو په سوريو کي اچول او بيا د غوږو په پېچونو کي ګرځول پکار دي، او په بټو ګوتو سره د غوږو د باندينی د شا حصه پوره مسح کول پکار دي يعني د غوږو له نرميو څخه بيا لوړ طرف ته تر آخره د غوږو ټوله شاتني حصه، د دې لپاره چي که په دې ځايو کي څه خيره وي، هغه صفا سي، بعضي خلک صرف غوږو ته ګوتي نږدې کړي او تش په نامه مسح وکړي، دا صحيح نه دي، په دې سره د مسح مقصد نه پوره کېږي. (تحفة الالمعی ج: ۱، ص: ۲۶۲)

﴿٦٨﴾ وَالدَّلْكُ وَالْوَلَاءُ او (د اوداسه اندامونه) مږل او پرلپسې پرېولل (يعني چي يو اندام لا وچ سوی نه وي بل اندام پرېولل، دا دواړه هم سنت دي).

﴿الدَّلك﴾ د نصر د باب مصدر دی: مږل (مَښل)، ﴿الولاء﴾ (د واو په کسره سره) د مفاعلې د باب مصدر دی، وَالٰى يُوَالِيْ مُوَالَاةً وَوِلَاءً: پرلپسې کول، د کارونو په مېنځ کي پرلپسې والی چي تر يوه وروسته سملستي بل کول چي په مېنځ کي يې څه ځنډ رانه سي (نو مطلب دا چي اندامونه يو تر بل وروسته متصل او پرلپسې پرېولل چي په مېنځ کي يې څه ځنډ رانه ولي په دې توګه چي يو لا وچ سوی نه وي، بل پرېولي). (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: صاحب د كتاب رَحِمَهُ الله فرمايي چي د اودس كولو پر مهال د اوداسه اندامونه په ښه توګه مږل (مښل) هم سنت دي، همدارنګه اندامونه يو تر بل وروسته متصل او پرلپسې (پرله پسې) پرېولل هم سنت دي چي د يوه اندام د لوندوالي له وچېدلو څخه مخكې بل اندام سمدستي پرېولل سي.

نيت كول

﴿۶۹﴾ وَالنِّيَّـةُ او نيت كول.

تشريح: له اودس كولو څخه مخكې د اوداسه نيت كول سنت مؤكده دي. د نيت لغوي معنىٰ ده: اراده كول او اصطلاحي معنىٰ يې ده: په زړه كي د يو كار كولو پخه اراده كول. د اوداسه د نيت طريقه دا ده چي اودس كونكى داسي ووايي: "زه د بې اودسى (بې اودسيا) د ليري كولو نيت كوم" يا داسي ووايي "زه د لمونځ قائمولو (اداء كولو) نيت كوم" يا "زه د اوداسه نيت كوم" يا "زه د الله د حكم پر ځاى كولو نيت كوم"، د نيت محل زړه دى يعني په زړه كي دي دا نيت وكړي، كه چيري د نيت الفاظ په ژبه سره هم اداء كړي چي د زړه سره د ژبي فعل هم جمع سي، نو مشايخو دا ښه ګڼلې ده (حاشيه). كنې له نبي كريم ﷺ او صحابه وو، تابعينو او سترو امامانو څخه د نيت الفاظ په ژبه سره اداء كول په هيڅ روايت كي نه دي وارد سوي. (طحطاوي، په حواله سره د شفاء الارواح)

په اندامونو كي د ترتيب خيال ساتل

﴿۷۰﴾ وَالتَّرْتِيْبُ كَمَا نَصَّ اللهُ تَعَالىٰ فِي كِتَابِهٖ او ترتيب (يعني په داسي ترتيب سره د اوداسه اندامونه پرېولل) لكه څرنګه چي الله تعالىٰ په خپل كتاب كي تصريح كړې ده (يا په بله وينا: د كتاب الله د بيان سوي ترتيب موافق اودس كول).

تشريح: د مذكوره عبارت مطلب دا دى چي څرنګه ترتيب په قرآن كريم كي ذكر سوى دى چي اول مخ پرېولل، بيا دواړه لاسونه تر څنګلو پوري پرېولل، بيا سر مسح كول، بيا دواړه پښې تر بجلكو پرېولل، د همدغه ترتيب مطابق اودس كول هم سنت دي.

له راسته طرف څخه شروع كول

﴿۷۱﴾ وَالْبِدَاءَةُ (الْبِدَايَةُ) بِالْمَيَامِنِ او (سنت دي) شروع كول له راسته طرفونو څخه (يعني لول راسته لاس، راسته پښه لومړي نور پرېولل) وَ رُءُوْسِ الْأَصَابِعِ او (شروع كول په لاس پښه كي) د ګوتو له سرونو څخه وَ مُقَدَّمِ الرَّأْسِ او (شروع كول د سر په مسح كي) د سر له مخكيني طرف څخه

وَمَسْحُ الرَّقَبَةِ لَا الْحُلْقُوْمِ او (صرف) غاړه مسح کول، نه ستونی (حلق) وَقِيْلَ: إِنَّ الْأَرْبَعَةَ الْأَخِيْرَةَ مُسْتَحَبَّةٌ او ویل سوي دي: چي دا آخري څلور مستحب دي.

لغات: ﴿البِدائة﴾ (البداءة، البدائة): په کسره د باء سره دی او په ضمه د باء سره هم یو لغت نقل سوی دی یعني البُدَائَة. او د عربو عام حضرات په خپل تلفظ کي دا لفظ په یاء سره وایي یعني البِدَايَة: د بَدَأَ يَبْدَأُ (فتح) له باب څخه اسم مصدر دی: شروع کول، مخکي والی (وړاندیتوب) کول (مصباح المنير). ﴿الميامن﴾ جمع د مَيْمَنَةٌ ده: راسته. ﴿الرقبة﴾ غاړه، جمع: رِقَاب. ﴿الحلقوم﴾ وچه مری، وچه غاړه، حلق (ستونی). صاحب د مصباح دي وضاحت داسي کړی دی: وَالْحُلْقُوْمُ هُوَ الْحَلْقُ وَمِيْمُهُ زَائِدَةٌ وَالْجَمْعُ حَلَاقِيْمُ بِالْيَاءِ...، قَالَ الزَّجَاجُ: الْحُلْقُوْمُ بَعْدَ الْفَمِ وَهُوَ مَوْضِعُ النَّفَسِ وَفِيْهِ شُعَبٌ تَتَشَعَّبُ مِنْهُ وَهُوَ مَجْرَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ. (مصباح المنير)

تشریح: دا وداسه هغه اندامونه کوم چي دوه، دوه دي او پرېولل کېږي لکه لاسونه او پښې، نو په هغوی کي راسته پر چپه مخکي کول یعني راسته لاس او راسته پښه له چپه لاس او چپه پښي څخه مخکي پرېولل سنت دي او کوم اندامونه چي دوه دي لیکن هغوی نه پرېولل کېږي بلکي مسح کېږي یعني غوږونه، نو هغه دواړه یو ځای مسح کول سنت دي، همدارنګه کوم چي یو اندام وي لکه مخ، نو هغه دي هم ټوله پر یوه ځای پرېولي، نه دا چي اول رسته طرف (راسته بلږخو) پرېولي او بیا چپه طرف. او د لاسونو او پښو په پرېوللو کي دي د ګوتو له طرفه شروع کوي.

ومسح الرقبة إلخ: او د دواړو لاسونو د ګوتو په شا سره غاړه مسح کول سنت دي او پاته سو حلق دي نه مسح کوي؛ ځکه دا بدعت دي.

وقيل أن الأربعة إلخ: بعضي علماؤ فرمايلي دي چي له "البداءة بالميامن..." څخه تر آخره چي دلته کوم څلور سنتونه بیان سوي دي، هغه د مستحب درجه لري.

❀ ❀ ❀

تر اوداسه وروسته په پرتوګ باندي اوبه پاشل

مسئله: تر اوداسه وروسته په پرتوګ او شرمګاه باندي څه اوبه پاشل (داوبو څاڅکي پري پاشل) ښه کار دی. چي وسوسه يې قطع سي. او داسي کول ضروري نه دي، وينبغي أن ينضح فرجه وإزاره بالماء إذا توضأ، قطعا لمادة الوسوسة حتى إذا أحس بشيء من ذلك، أحاله على ذلك الماء، وقد روى أنس ؓ أن النبي ﷺ كان ينضح إزاره بالماء إذا توضأ، وفي بعض الروايات قال: نزل علي جبريل ؑ وأمرني بذلك. (المبسوط للسرخسي)

فَصْلٌ فِیْ آدَابِ الْوُضُوْءِ

(دا) فصل په (بیان د) آدابو د اوداسه کي دی

تشریح: آدَاب جمع د أدبٌ ده. لغوي معنیٰ يې ده: ښه عادت، خوښ عادت. او په اصطلاح کي هغه کار ته وايي کوم چي نبي کريم ﷺ کله نا کله کړی وي (او په شرح هدايه کي دي: چي ادب هغه فعل دی کوم چي نبي کريم ﷺ يو وار يا دوه واره کړی وي، همېشتوب يې نه وي پرې کړی). حکم يې دا دی چي د هغه کونکي ته ثواب حاصلېږي او په پرېښوونکي باندي يې څه ګناه او ملامتيا نشته.

داسي قسم فعل ته مستحب وغيره هم وايي، صاحب د "عون الفتاح شرح نور الايضاح" دلته د "آداب الوضوء" ترجمه په "مستحبات الوضوء" سره کړې ده.

د اوداسه ادبونه

﴿۷۲﴾ مِنْ آدَابِ الْوُضُوْءِ أَرْبَعَةَ عَشَرَ شَيْئًا څوارلس (۱۴) شيان د اوداسه له آدابو څخه دي

اَلْجُلُوْسُ فِیْ مَكَانٍ مُرْتَفِعٍ په لوړ ځای باندي کښېنستل (چي مستعملي اوبه پر جامه نه ولګيږي).

تشریح: د اوداسه له آدابو څخه يو دا دی چي اودس کونکی په پورته ځای باندي کښېني. د دې لپاره چي د مستعملو اوبو له څاڅکو (تطراتو) څخه خوندي وي.

مخ پر قبله کښېنستل

﴿۷۳﴾ وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ او مخ د قبلې وطرف ته کول (مخ پر قبله کښېنستل).

تشریح: فرمايي چي مخ پر قبله اودس کول هم د اوداسه له آدابو څخه دي او د ثواب باعث دي.

❀ ❀ ❀

مسئله: نن سبا په ځيني کورونو کي د لاس پرېولو او داسي نورو لپاره په دېوال کي لوېه دوشي نصب کړل سوې وي او خلک بلا عذره په هغه کي په ولاړي اودسونه کوي، دا خلافِ ادب دي چي د اوداسه د آدابو خلاف دي، غوره دا ده چي د اودس کولو په وخت کي مخ پر قبله کښېني. (انوار الايضاح)

له بل چا څخه مدد نه اخيستل

﴿٤٤﴾ وَعَدَمُ الْاِسْتِعَانَةِ بِغَيْرِهٖ او مدد نه غوښتل له بل چا څخه.

تشريح: اودس خپله کول او له بل چا څخه مدد نه اخيستل هم د اوداسه له آدابو څخه دي. د مدد اخيستلو دوه صورتونه دي: ① يو دا چي خپله هيڅ نه کوي بلکي ټوله کار بل څوک کوي چي او به هم هغه ور اچوي او اندامونه هم هغه ور مږي او پرېولي. بلا عذره داسي کول مکروه دي. ② دوهم صورت دا دی چي او به بل څوک ور اچوي او اندامونه هغه خپله پرېولي. نو په دې کي څه حرج نسته او نه دې ته خلاف اولیٰ وايي؛ ځکه داسي نبي کريم ﷺ کړي دي، همدارنګه حضرت عثمان غني ﷜ او سترو تابعينو رحمهم الله کړي دي. (شامي ج:١. ص: ٢٢٥، ط: دار الکتاب. طحطاوي)

دنياوي خبري نه کول

﴿٤٥﴾ وَعَدَمُ التَّكَلُّمِ بِكَلَامِ النَّاسِ او خبري نه کول د خلکو په خبرو سره (يعني دنياوي خبري نه کول).

تشريح: د اودس کولو په دوران کي دي بلا ضرورته دنياوي خبري هم نه کوي، که څه خبري ته ضرورت وي او دا بېره وي چي که خبره نه وکړم، هغه ضرورت به فوت سي، نو په داسي حالت کي خبره کول د ادب خلاف نه دي.

﴿٤٦﴾ وَالْجَمْعُ بَيْنَ نِيَّةِ الْقَلْبِ وَفِعْلِ اللِّسَانِ او جمع کول د زړه د نيت او د ژبي د فعل (وينا) تر مېنځ (يعني په زړه او ژبه دواړو سره د اوداسه نيت کول)

تشريح: مخکي دا خبره ذکر سوه چي له اودس کولو څخه مخکي د اوداسه نيت کول سنت مؤکده دي او نيت د زړه ارادې ته وايي. او د زړه د نيت سره په ژبه هم د نيت الفاظ اداء کول ښه خبره ده چي د زړه سره د ژبي فعل هم جمع سي.

د اوداسه په دوران کي دعاګاني ويل

﴿ -- ﴾ وَالدُّعَاءُ بِالْمَأْثُوْرِ او منقوله (نقل سوي) دعاګاني ويل.

لغات: ﴿المأثور﴾ د سمع د باب اسمِ مفعول دی: نقل کړل سوي (منقوله دعاګاني).

تشريح: د اوداسه په دوران کي هغه دعاګاني ويل کوم چي له نبي کريم ﷺ څخه نقل سوي دي. باعث د خير او برکت دي. مثلاً د اوداسه په دوران کي دا دعاء ويل: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذَنْبِيْ وَوَسِّعْ لِيْ فِيْ

دَارِیْ وَبَارِكْ لِیْ فِیْمَا رَزَقْتَنِیْ (یا الله ! زما ګناه وبخښه ! او زما په کور کي زما لپاره پېراخي راوله ! او کوم څه چي دي په رزق کي راکړي دي، په هغوی کي برکت واچوه !) (ترمذي وغیره). دا ډېره جامع دعاء ده (حتی د شیخ الوظائف محمد طارق عبقري په وینا چي ځیني داسي خلګ چي خپل کوروته یې نه وه او د کرایې په کورو کي به اوسېدله. هغوی د دغه دعاء په مسلسل ویلو سره د خپلو کورونو خاوندان ګرځېدلي دي).

یادونه: د عبارت "الدعاء بالمأثور" تشریح صاحب د شفاءُ الارواح داسي کړې ده: د هر اندام د پرېوللو یا مسح کولو په وخت کي منقوله دعاګاني ویل (د اوداسه له آدابو څخه دي). له منقوله دعاګانو څخه مراد هغه دعاګاني دي کوم چي له نبي کریم ﷺ، له صحابه وو رضی الله عنهم او له تابعینو رحمهم الله څخه منقوله دي.

❀ ❀ ❀

مسئله: زموږ د حنفي فقهي په ځیني کتابو کي د اوداسه د هر اندام لپاره جلا دعاء نقل سوې ده. آیا هغه له حدیثو یا له آثارو څخه ثبوت لري، لکه د نورالایضاح په حاشیه او په زیلعي او هندیه کي چي همداسي لیکلي دي؟.

هو! ضعیف اسناد لري له مستغفري، ابن عساکر، مسند الفردوس او ابن حبّان څخه. چي تفصیل یې داسي دی: "ویستحب الدعاء بالوارد عنده ای عند کل عضو وقد رواه ابن حبان وغیره عنه علیه الصلاة والسلام من طرق. قال محقق الشافعیة الرملی: فیعمل به فی فضائل الأعمال وان ذکره النووی (الدر المختار ج۱. ص:۲۲)، وتعدد الطرق یبلغ الحدیث الضعیف الی حد الحسن. والحجة لاتتوقف علی الصحة بل الحسن کاف (حواش مشکوة ص:۹۲)

أما الدعاء علی الوضوء فلم یجئ فیه شئ عن النبي صلی الله علیه وسلم، وقد قال الفقهاء: یستحب فیه دعوات جاءت عن السلف. (کتاب الأذکار للنووی الشافعي رحمه الله ص: ۳۵. نقل منه الشلبي علی الزیلعي. جلد۱ ص۷)

ثم اعلم: أنه لایلزم من کون أذکار الوضوء غیر ثابتة عنه صلی الله علیه وسلم أن تکون مکروهة او بدعة مذمومة. بل انها مستحبة استحبها العلماء الأعلام والمشائخ الکرام. (الموضوعات الکبری لملاعلي القاري ص۳۴۶)

د هر اندام د پرېوللو په وخت کي بسم الله ویل

﴿۸﴾ وَالتَّسْمِیَةُ عِنْدَ کُلِّ عُضْوٍ او بسم الله ویل د هر اندام (د پرېوللو) په وخت کي.

تشریح: کله چي هر اندام پرېولي یا مسح کوي، نو له آدابو څخه دا دي چي لول بسم الله وایي او بیا تر هغه وروسته منقوله دعاء وایي (د هر اندام دعاء په لسم (۱۰) نمبر حاشیه کي ذکر سوې ده).

خچې ګوته د غوږو په سوریو دننه کول

﴿٧٩﴾ وَإِدْخَالُ خِنْصَرِهٖ فِي صِمَاخِ أُذُنَيْهِ او ګوته دننه کول د خپل دواړو غوږو په سوریو کې.

لغات: ﴿صِماخ﴾ (د صاد په کسره سره): د غوږ دننه سوری، جمع: أَصْمِخَةٌ وصُمُوْخٌ.

تشریح: د غوږو د مسح په وخت کې لنده خچې (خچنه) ګوته د غوږو په سوریو دننه کول مستحب دي. (در مختار ج:١، ص:٢٢٢، ط، دار الکتاب)

پراخه ګوتمې ښورول

﴿٨٠﴾ وَتَحْرِيْكُ خَاتِمِهِ الْوَاسِعِ او ښورول (حرکت ورکول) خپل پراخه ګوتمې ته.

لغات: ﴿خَاتِم﴾ او خَاتَم: ګوتمې، صاحب د معجم وايي: الخاتم: بکسر التاء ویجوز فتحها: ما یلبس فی الاصبع للتحلّی أو الختم. (معجم لغة الفقهاء)

تشریح: که ګوتمې تنګه نه وي، نو د هغې ښورول هم مستحب دي، د دې لپاره چې په پرېوللو کې مبالغه وسي. (مراقی الفلاح ص:٤٢)

مضمضه او استنشاق په راسته لاس کول او په چپه لاس پزه سونل

﴿٨١﴾ وَالْمَضْمَضَةُ وَالِاسْتِنْشَاقُ بِالْيَدِ الْيُمْنٰى او په راسته لاس سره خوله پرېولل او پزه پرېولل (یا په بله وینا: په راسته لاس سره خولې او پزې ته اوبه وراچول) وَالِامْتِخَاطُ بِالْيُسْرٰى او په چپه لاس سره پزه سونل (پزه سونړ کول).

لغات: ﴿امتخاط﴾ د افتعال د باب مصدر دی: ګرنګ پاکول، پزه سونل، پزه پاکول.

تشریح: مطلب يې څرګند دی.

له وخت داخلېدلو څخه مخکې اودس کول

﴿٨٢﴾ وَالتَّوَضُّؤُ قَبْلَ دُخُوْلِ الْوَقْتِ لِغَيْرِ الْمَعْذُوْرِ او اودس کول د وخت له داخلېدلو څخه مخکې د غیر معذور کس لپاره.

تشریح: د لمانځه د وخت له داخلېدلو څخه مخکې اودس کول هم د اودس له آدابو څخه دي؛ ځکه په دې سره د عبادت د شوق او رغبت اظهار کېږي، خو دا مسئله د غیر معذور لپاره ده او پاتې سو معذوره کس که د لمانځه له وخت څخه مخکې د بل لمانځه په وخت کې اودس وکړي، نو په هغه

اودس سره د را روان وخت لمونځ کول صحیح نه دي؛ ځکه د وخت په وتلو سره د معذوره اودس ماتیږي. (طحطاوي ص: ۴۲)

یادونه: معذور هغه کس ته وایي چي په داسي عذر مبتلا وي چي ده ته پر هغه عذر هیڅ واک نه وي، د هغه قابو کول د ده په وس او اختیار کي نه وي او د ده دا عذر دیوه لمانځه تر ټوله وخته پوري مسلسل پاته سي او دومره وخت ورته حاصل نه سي چي د هغه وخت فرض او واجب لمونځ په اوداسه وکړل سي، مثلاً پزه یې مسلسله وینه کوي او نه دریږي، یا ریح یا متیازي یې جاري وي (د معذور احکام به وروسته بیان سي).

تر اوداسه وروسته دعاء کول

﴿۸۳﴾ وَالْإِتْيَانُ بِالشَّهَادَتَيْنِ بَعْدَهُ او تر اودس وروسته شهادتین (د شهادت کلمې) ویل.

لغات: ﴿الإتیان﴾ د ضرب د باب مصدر دی: راتلل او کله چي د دې باب په صله کي باء راسي نو معنیٰ یې ده: راوړل.

تشریح: له اودس څخه تر فارغېدلو وروسته مخ پر لوري د قبلې شهادتین ویل او د ویلو په وخت کي د آسمان وطرف ته نظر پورته کول او د شهادت په ګوته اشاره کول مستحب دي (طحطاوي). له شهادتین څخه مراد دا کلمه ده: "أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ". کوم څوک چي له اودس کولو څخه وروسته مذکوره کلمه او دا دعاء "اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ" وایي، نو د هغه لپاره به د جنت اته سره دروازې خلاصي سي، په کومه دروازه چي د ده زړه غواړي، په هغه دي ورداخل سي. (ترمذی شریف: ۱۸، په حواله سره د انوار الایضاح)

تر اوداسه وروسته اوبه چیښل

﴿۸۴﴾ وَأَنْ يَّشْرَبَ مِنْ فَضْلِ الْوُضُوْءِ قَائِمًا او (مستحب دي) دا چي له اودس څخه پاته سوي اوبه په ولاړه وچیښي وَأَنْ يَّقُوْلَ او (سنت ده) دا (دعاء) چي ووایي: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ یاالله! ما له ډېر توبه کوونکو څخه کړې او ما له ښه پاکي کوونکو څخه کړې.

لغات، ﴿فَضْل﴾ بقیه: الخ، یعني له اودس څخه پاته اوبه.

تشریح: تر اودس کولو وروسته له اوداسه څخه پاتــه سوي اوبه چیښل مستحب دي، برابره ده په ولاړي یې چیښي او که په ناستي یې چیښي، په هر صورت کي دا مستحب اداء کیږي. خو د مفتي سعید احمد صاحب دامت برکاتهم رایه دا ده چي تر اودس وروسته پاته سوي اوبه په ولاړي چیښل پکار دي چي اثر یې تو له بدن ته ورسیږي، همدا حکم د زمزم د اوبو هم دی چي په ولاړه د هغوی چښیل ضروري نه دي، صرف مستحب دي، په ناسته یې هم چیښلای سي. (کتاب المسائل ص: ۱۴۸. تحفة الالمعي ج: ۱. ص: ۲۷۲). خو له دې دواړو اوبو څخه بغیر نوري اوبه په ولاړي چیښل مکروه تنزیهي دي او داوبو چیښلو په وخت کي دي دا دعاء ووایي "اَللّٰهُمَّ اشْفِنِيْ بِشِفَائِكَ وَدَاوِنِيْ بِدَوَائِكَ وَاعْصِمْنِيْ مِنَ الْوَهَلِ وَالْأَمْرَاضِ وَالْأَوْجَاعِ" (حاشیه بحوالهٔ شفاء الارواح، منیة المصلی)

او تر اوداسه وروسته دي دا دعاء ووایي کوم چي مخکي هم موږ د شهادتین سره ذکر کړه: "اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ".

التوابین: یعني له هري ګناه څخه رجوع کونکي، او بعضي حضرات فرمایي چي "توّابین" هغه خلک دي چي کله یو ګناه څني صادره سي، نو ژر د توبې و طرف ته رجوع کوي. او "توّاب" د الله صفت هم دی، ځکه الله تعالیٰ د خپل بنده توبه قبوله کړي د بنده و طرف ته په انعام سره رجوع وسي. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِي الْمَكْرُوْهَاتِ

(دا) فصل په (بیان د اوداسه د) مکروهاتو کي دی

تشریح: د فقهاؤ په نېز مکروه پر دوه قسمه دی: ① مکروه تحریمي، ② مکروه تنزیهي، د کوم شي حرمت چي په دلیل ظني (غیر متواتر یا غیر مشهور) سره ثابت وي، هغه ته مکروه تحریمي وایي، امام محمد رَحِمَهُ الله مکروه تحریمي ته هم حرام وایي او شیخین رَحِمَهُمَا الله هغه حرام ته نژدې ګڼي. یعني د هغه مرتکب لره د جهنم سزا نشته. بلکي عتاب دی لکه د نبي کریم ﷺ له شفاعت څخه محروم کېدل، او کله چي فقهاؤ مطلق مکروه لیکلي وي، نو په هغه سره د دوی مراد زیاتره مکروه تحریمي وي، مګر دا چي یو دلیل هغه د تنزیهي وطرف ته وګرځوي. نو هغه مکروه تحریمي نه پاتېږي، او که د ممانعت هېڅ دلیل نه وي بلکي د هغه پرېښوول د هغه له کولو څخه ښه وي. نو دې ته مکروه تنزیهي وایي (طحطاوي)، مکروه تحریمي د واجب او سنت مؤکده په مقابله کي دي یعني د واجب او سنت مؤکده پرېښوول مکروه تحریمي دي او مکروه تنزیهي د سنت غیر مؤکده یعني د مستحب په مقابله کي دي، نو د مستحب پرېښوول مکروه تنزیهي دي.

یادونه: مصنف رَحِمَهُ الله د اوداسه شپږ مکروهات شمېرلي دي، دا شمېر د حصر لپاره نه دی چي صرف همدا یې مکروهات دیم بلکي د مبتدي د آسانی لپاره دی. په حاشیه کي ذکر سوي دي "بل للتقریب للمبتدي" یعني په شپږو کي د مکروهاتُ الوضوء د منحصر کولو مقصد دا دی چي مبتدي طالب د هغوی حفظ (یادول) ته نژدې کړي او مبتدي هغوی یاد وساتي. یا په بله وینا دا چي دا وحفظ ته د طالب نژدې کونکي دي. نو تقریب د مُقرّب په معنیٰ سره دی.

د اوداسه د مکروهاتو بیان

﴿۵۸﴾ وَيُكْرَهُ لِلْمُتَوَضِّئِ سِتَّةُ أَشْيَاءَ او د اودس کونکي لپاره شپاړس (۱۶) شیان مکروه دي الْإِسْرَافُ فِي الْمَاءِ په اوبو کي اسراف کول (بېله ضرورت ته زیاتي اوبه صرفول) وَالتَّقْتِيرُ فِيْهِ او په اوبو کي کمي کول (ډیري لږ اوبه صرفول).

لغات: ﴿يكره﴾ د سمع له بابه مضارع معروفه ده، كَرِهَ يَكْرَهُ كَرَاهَةً: نا خوښول، چا ته څه شی نا خوښه كېدل، مكروه كېدل. ﴿إسراف﴾ د افعال د باب مصدر دی: اسراف كول، فضول خرچي، له حد څخه تجاوز كول. ﴿تقتير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: تنگي كول، بخل كول، كمي كول.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله داوداسه شپږ مكروهات ذكر كړي دي چي له هغوی څخه اول اسراف دی، له شرعي ضرورت څخه زياتي اوبه استعمالول اسراف دی او هغه دا چي اندامونه له سنت شمېر يعني له دريو وارو څخه زيات پرېولل سي، دا اسراف مكروه تحريمي دی، كه څه هم پر نهر (ويالـه) اودس كوي، يا د خپل ملكيت په اوبو سره اودس كوي، او پاته سو د وقف په اوبو كي اسراف كول لكه د مسجد او مدرسو اوبه، نو دا حرام دي. (حاشيه)

والتقتير فيه: او له سنت شمير يعني له دريو وارو څخه كم پرېولل هم مكروه دي، همدارنگه پر اندامونو ډېري كمي اوبه اچول مثلاً اندامونه د مسح په څېر پرېولل، دا هم په تقتير كي داخل دي، او په دې كي دومره لندول ضروري دي چي يو، دوه څاڅكي څني وبهېږي، كنې اودس نه صحيح كېږي.

كه څوک له دريو وارو څخه كم داوداسه اندامونه پرېولي، نو بعضي علماء فرمايي چي هغه گنهگاره كېږي او بعضي فرمايي چي نه گنهگاره كېږي او بعضي حضرات فرمايي چي كه له دريو وارو څخه د كم پرېوللو عادت جوړ كړي، نو گنهگاره كېږي. (حاشيه)

اوبه په زوره پر مخ وهل

﴿٨٦﴾ وَضَرْبُ الْوَجْهِ بِهِ او پر مخ (په زوره) اوبه وهل.

تشريح: اوبه داسي په زوره پر مخ وهل چي څاڅكي پر بل چا ولوېږي، دا مكروه دي؛ ځكه په دې سره بل چا ته تكليف رسېږي او دا حكم صرف د مخ سره خاص نه دی، بلكي د ټولو اندامونو په پرېوللو كي همدا حكم دی چي اول دي پر اندام په كراره اوبه اچوي بيا دي يې مږي. (مراقی الفلاح ص،٣٥)

دنياوي خبري كول

﴿٨٧﴾ وَالتَّكَلُّمُ بِكَلَامِ النَّاسِ او خبري كول د خلكو په خبرو سره (يعني دنياوي خبري كول).

تشريح: داودس كولو په دوران كي د خلكو سره بلا ضرورته خبري كول هم مكروه دي؛ ځكه كه د خلكو سره په مجلس مشغوله سي، نو له منقوله دعاگانو او د الله ﷻ وطرف ته له توجه څخه به محرومه سي (بعضي عارفانو فرمايلي دي چي كه په اودس كي استحضار وي لو اودس له دنياوي معاملاتو څخه خالي

وي، نو انسان ته په لمانځه کې هم استحضار حاصلیږي او که په اودس کې استحضار نه وي. نو په لمانځه کې هم استحضار نه حاصلیږي). (مراقی الفلاح. شفاء الارواح)

له بل چا څخه مدد غوښتل

﴿٨٨﴾ وَالْإِسْتِعَانَةُ بِغَيْرِهٖ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ او له بل چا څخه بیله عذره مدد غوښتل.

لغات: ﴿استعانة﴾ د استفعال د باب مصدر دی: مدد غوښتل (کومک غوښتل)، مدد اخیستل.

تشریح: د دې تفصیل په ﴿٧۴﴾ نمبر مسئله کې تېر سو.

درې واره مسح کول

﴿٨٩﴾ وَتَثْلِيْثُ الْمَسْحِ بِمَاءٍ جَدِيْدٍ او درې واره په نوو (جلا) اُوبو سره مسح کول.

تشریح: هر وار په نوو اوبو سره درې واره مسح کول هم د احنافو په نېز مکروه دي. او پاته سوه دا خبره چې د سر د مسح لپاره نوي (جلا) اوبه را اخیستل ضروري دي او که په لاس کې پاته لوندوالي هم د مسح لپاره کافي دی؟ د احنافو په نېز نوي اوبه را اخیستل ضروري نه دي، بلکې په پاته لوندوالي سره هم مسح کولای سي، خو نوي اوبه را اخیستل سنت دي. (تحفة الالمعی ج:١. ص:٢۶١)

* * *

فَصْلٌ فِيْ أَوْصَافِ الْوُضُوْءِ

(دا) فصل په (بيان د) اقسامو د اوداسه کي دی

تشريح: په دې فصل کي مصنف رَحِمَهُ الله درې قسمونه بيان کړي دي، لېکن دغه د دريو شمېر د حصر لپاره نه دی، بلکي له دې څخه بغير د اوداسه نور قسمونه هم کېدلای سي لکه مکروه او حرام. د مکروه اوداسه مثال لکه تر اودس کولو وروسته سملستي بل اودس کول چي تر اوسه پوري يې د اول اوداسه مجلس بدل سوی نه وي، يا چي تر اوسه پوري يې په اول اوداسه يو عبادت اداء کړی نه وي او د حرام اوداسه مثال لکه د وقف په اوبو او د مدرسو په اوبو سره اودس کول. (شفاء الارواح)

د اودس قسمونه، فرض اودس

﴿۹۰﴾ الْوُضُوْءُ عَلٰى ثَلَاثَةِ أَقْسَامٍ اودس پر درې قسمه دی اَلْأَوَّلُ فَرْضٌ عَلَى الْمُحْدِثِ لِلصَّلٰوةِ اول قسم اودس فرض دی (چي هغه) پر بې اودسه کس (فرض دی) د لمونځ کولو لپاره وَلَوْ كَانَتْ نَفْلًا که څه هم نفلي لمونځ وي وَلِصَلٰوةِ الْجَنَازَةِ او (فرض دی) د جنازې د لمانځه لپاره وَسَجْدَةِ التِّلَاوَةِ او د سجدهٔ تلاوت لپاره وَلِمَسِّ الْقُرْآنِ او د قرآن مسه کولو لپاره وَلَوْ آيَةً که څه هم يو آيت وي.

تشريح: اودس پر درې قسمه دی: ① اول قسم فرض اودس دی. چي هغه د هر لمانځه لپاره پر بې اودسه کس فرض دی. برابره ده هغه فرضي لمونځ وي او که نفلي لمونځ وي. يا د جنازې لمونځ وي. همدارنګه د سجدهٔ تلاوت او د قرآن مسه کولو لپاره پر هغه اودس کول فرض دي.

واجب اودس

﴿۹۱﴾ وَالثَّانِيْ وَاجِبٌ لِلطَّوَافِ بِالْكَعْبَةِ او دوېم قسم اودس واجب دی د کعبې د طواف لپاره.

تشريح: د بيت الله طواف د لمانځه په څېر دی او تاسي ته معلومه ده چي لمونځ د بې اودسه کس لپاره ممنوع دی. لهذا طواف کول به هم ممنوع وي، لېکن که څوک بې اودسه طواف وکړي نو جائز

کیږي خو د واجب تارک ګرځي او د واجب پر تارک کوم شی لازمیږي؟ ددې تفصیل به په کتاب الحج کي راسي. إن شاء الله تعالى.

د مستحب اودس مواقع

﴿۹۲﴾ وَالثَّالِثُ مَنْدُوْبٌ لِلنَّوْمِ عَلٰى طَهَارَةٍ او دریم قسم اودس مستحب دی د پاکوالي پر حالت د بیدېدلو لپاره وَإِذَا اسْتَيْقَظَ مِنْهُ او کله چي له خوب څخه راوېښ سي (له وېښېدو څخه وروسته اودس کول هم مستحب دي) وَلِلْمُدَاوَمَةِ عَلَيْهِ او پر اودس د همېشتوب کولو لپاره (چي کله اودس مات سي نو سملستي اودس کول مستحب دي چي همېشه په اوداسه اوسي) وَلِلْوُضُوْءِ عَلَى الْوُضُوْءِ او په اودس باندي د اودس کولو لپاره وَبَعْدَ غِيْبَةٍ وَكِذْبٍ وَنَمِيْمَةٍ او تر غیبت کولو، دروغو ویلو او چغلماري کولو وروسته وَكُلِّ خَطِيْئَةٍ او تر هري ګناه وروسته وَإِنْشَادِ شِعْرٍ او تر شعر ویلو وروسته وَقَهْقَهَةٍ خَارِجَ الصَّلٰوةِ او د لمانځه څخه بهر (په بل حالت کي) له په زوره خندا کولو څخه وروسته وَغُسْلِ مَيِّتٍ او مړي ته تر غسل کولو وروسته وَحَمْلِهِ او د مړي (جنازې) تر پورته کولو وروسته وَلِوَقْتِ كُلِّ صَلٰوةٍ او د هر لمانځه د وخت لپاره (یعني د اودس لرلو بلوجود د هر لمانځه لپاره نوی اودس کول مستحب دي) وَقَبْلَ غُسْلِ الْجَنَابَةِ او د جنابت له غسل څخه مخکي وَلِلْجُنُبِ عِنْدَ أَكْلٍ وَشُرْبٍ وَنَوْمٍ وَوَطْئٍ او د جنب کس لپاره د خوراک، څښاک او وطي کولو په وخت کي وَلِغَضَبٍ او د غصې په وخت کي (ځکه په دې سره د انسان غصه لږ څښم کرار یږي) وَقُرْآنٍ وَحَدِيْثٍ وَرِوَايَتِهِ او د قرآن او حدیث او د حدیثو د روایت کولو (نقل کولو) لپاره وَدِرَاسَةِ عِلْمٍ او دیو شرعي علم د درسولو (لوستلو) لپاره وَأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ او د اذان او اقامت کولو لپاره وَخُطْبَةٍ او د خطبه ویلو لپاره (که څه هم د نکاح خطبه وي) وَزِيَارَةِ النَّبِيِّ ﷺ او د نبي کریم ﷺ (د روضې مبارکي) د زیارت کولو لپاره وَوُقُوْفٍ بِعَرَفَةَ او په عرفات باندي د درېدلو لپاره (یعني کله چي د ذو الحجې په نهمه حاجیان په عرفات کي وقوف کوي. نو په دې دوران کي په اوداسه

لوېدل مستحب دي) وَلِلسَّعْيِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ او د صفا و مروه تر مينځ د سعی کولو لپاره (صفا او مروه په مکه مکرمه کي دوه غرونه دي کوم چي اوس د مسجدِ حرام سره يو ځای کړل سوي دي. د حاجي او عمره کونکي لپاره د صفا او مروه ترمينځ سعی يعني تګ کول واجب دي. نو د هغه لپاره هم اودس کول مستحب دي) وَ أَكْلِ لَحْمِ جَزُوْرٍ او د اوښ د غوښو تر خوړلو وروسته (ځکه د هغه تر خوړلو وروسته د هغه د وازګي بوی راځي، نو د بوی د دفع کولو لپاره اودس کول مستحب دي) وَلِلْخُرُوْجِ مِنْ خِلَافِ الْعُلَمَاءِ كَمَا إِذَا مَسَّ امْرَأَةً او د علماؤ له اختلاف څخه د وتلو لپاره (هم اودس کول مستحب دي) لکه کله چي يو څوک ښځه مسه کړي.

لغات: ﴿نميمة﴾ اصطلاحي معنیٰ يې ده: چغل خوري (چغلماري)، د فساد په غرض سره د يو چا خبري نورو ته رسول (نقل الكلام بين الناس على وجه الافساد)، يا په بله وينا د جنجال جوړولو لپاره د يوه کس غلطي خبري بل ته رسول او هغوی سره اخته کول، کوم چي ډېره لويه ګناه ده. ﴿قهقهة﴾ د فعللة د باب مصدر دی: په زوره خندل. ﴿إنشادٌ﴾ د افعال د باب مصدر دی، د دې باب له معناو څخه يوه معنیٰ ده: شعر ويل. ﴿غيبة﴾ د ضرب د باب مصدر دی: په يو چا پسي (پس ترشا) داسي بدي بيانول کوم چي په هغه کي نه وي. ﴿حديث﴾ د ګران پېغمبر ﷺ کلام، جمع: أحاديث. ﴿دراسة﴾ د نصر د باب مصدر دی، دَرَسَ يَدْرُسُ دِرَاسَةً (لكتاب أو العلم): لوستل، درس ويل، په توجه سره يادول (مصباح اللغات). ﴿جزور﴾ د حلالولو قابل اوښ، جمع: جَزَائِرُ و جُزُرٌ.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله د اوداسه درېيم قسم بيان کړی دی کوم چي مستحب دی او دلته يې د مستحب اوداسه څو مواقع بيان کړي دي: ① کله چي څوک د خوب اراده وکړي، نو اودس کول مستحب دي او دا استحباب هغه وخت ثابتېږي کله چي د اوداسه په حالت کي خوب ورته راسي، او که له خوب راتللو (بيدېدلو) څخه مخکي يې اودس مات سي، نو بيا د مستحب ثواب نه ورته حاصلېږي. ② کله چي له خوب څخه را ويښ سي، نو اودس کول مستحب دي. ③ همدارنګه پر اودس د همېشتوب کولو لپاره اودس کول مستحب دي، يعني چي کله يې اودس مات سي نو سمدستي بيا اودس وکړي، چي هر وخت په اوداسه وي. ④ او پر اودس د پسه اودس کول هم مستحب دي، دا هغه وخت کله چي يې په اول اوداسه يو عبادت اداء کړی وي. يا ډېر وخت

تږی سوی وي (لکه په شروع کي چي موږ ووېل)، ⑤ له هر قسم ګناه څخه وروسته هم اودس کول مستحب دي، د دې فایده به دا وي چي ګناهونه به یې پرېولل سي او له هغوی څخه د توبې توفیق به ورته حاصل سي، ⑥ همدارنګه که څوک مړي ته غسل ورکړي، او د مړي جنازه پورته کړي. نو د هغه لپاره هم اودس کول مستحب دي، ⑦ ناپاکه (جنب کس) لره د خوراک، څښاک، خوب او د دویم وار وطي کولو لپاره اودس کول مستحب دي، ⑧ د قرآن، حدیث وغیره د لوستلو لپاره هم اودس کول مستحب دي، ⑨ همدارنګه په اوداسه اذان کول هم مستحب دي، او که څوک بغیر له اوداسه څخه اذان وکړي، نو ګنجائش یې سته او بغیر له اوداسه څخه اقامت کول په هر حال کي مکروه دي. د حج کوونکي لپاره د ذی الحجې په نهمه (یعني د عرفات په ورځ) تر زوال وروسته اودس کول مستحب دي، ⑩ پر عرفات د درېدلو لپاره، ⑪ د اوښ د غوښو په خوړلو سره که څه هم اودس نه ماتېږي، خو د امام احمد رَحِمَهُ الله د اختلاف په وجه اودس کول مستحب دي، امام احمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي د اوښ د غوښو په خوړلو سره اودس ماتېږي، برابره ده پخې وي او که اومې وي، ⑫ همدارنګه که څوک تر اودس کولو وروسته خپلي ښځي ته یا بلي قابلِ شهوت ښځي ته لاس ور وړي، یا ښځه خاوند مسه کړي او مذي وغیره یې نه وزځي، نو په دې سره د احنافو په نېز اودس نه ماتېږي لېکن د ائمه ثلاثه وو په نېز ماتېږي، لهذا د ائمه ثلاثه وو له اختلاف څخه د بچ کېدو لپاره نوی اودس کول مستحب دي.

* * *

فَصْلٌ (فِيْ نَوَاقِضِ الْوُضُوْءِ)

(دا) فصل (د اودس ماتونکو شیانو په بیان کې)

په کومو شیانو سره اودس ماتیږي؟

﴿۹۳﴾ يَنْقُضُ الْوُضُوْءُ اِثْنَا عَشَرَ شَيْئًا دوولس شیان اودس ماتوي مَا خَرَجَ مِنَ السَّبِيْلَيْنِ (۱) هغه شی کوم چې (د مخ او شا) له دواړو لارو ځخه ووځي اِلَّا رِيْحُ الْقُبُلِ فِي الْأَصَحِّ مګر د صحیح ترین قول مطابق د مخ د لارې ځخه باد وتل (اودس نه ماتوي).

لغات: ﴿ينقض﴾ د نصر د باب مضارع ده: ماتول، فاسدول. ﴿سبيلين﴾ دوې لارې. مراد ځنې د مخ او شا شرمګاه ده (یا په بله وینا د متیازو لاره او د غائطو لاره) یعنې قُبُل او دُبُر. دې ته ځکه سبیلین ویل سوي دي چې دغه دواړه د راوتونکي نجاست وغیره لپاره لارې دي.

تشریح: فرمایي چې اودس په دوولسو شیانو سره ماتیږي: ① له هغوی ځخه اول دا دی چې له سبیلینْ یعنې د نر او ښځې د مخ یا د شا له شرمګاه ځخه یو شی ووځي. برابره ده هغه د عادت په توګه وتونکی شی وي مثلاً متیازې. غائط. باد وغیره. یا خلافِ عادت شی وي مثلاً چینجی. شګه او داسې نور.

الا ريح القبل الخ: یعنې له سبیلینْ ځخه چې کوم شی هم را ووځي، هغه اودس ماتوي. خو کوم باد چې د سړي او ښځې د مخ له شرمګاه ځخه ووځي، په هغه سره د صحیح مذهب مطابق اودس نه ماتیږي: ځکه هغه په حقیقت کې باد نه دی. بلکې هغه د مخ د شرمګاه اختلاج (اضطراب او رپېدل) دی یعنې په هغه کې ځه بنوربنت او حرکت راغلی او رپېدلی دی، باد نه دی. خو د امام محمد رحمه الله په نیز د قُبل په باد سره هم اودس ماتیږي پر دُبر په قیاس کولو سره. (شفاء الارواح)

﴿۹۴﴾ وَيَنْقُضُهٗ وِلَادَةٌ مِنْ غَيْرِ رُؤْيَةِ دَمٍ (۲) او (همدارنګه) اودس ماتوي د بچي پیدایښت (لنګوالی) بغیر له وینې لیدلو ځخه (هم).

تشریح: ② یعنې صرف د بچي په پیدایښت سره هم اودس ماتیږي که ځه هم تر پیدایښت وروسته وینه نه ولیدل سي. خو آیا دا ښځه نفاس والا شمېرل کیږي، که نه؟. دا مسئله مختلف فیه ده. د امام صاحب رحمه الله په نیز احتیاطاً پر هغې غسل لازم دی. (مراقي الفلاح ص:۴۸)

﴿۹۵﴾ وَنَجَاسَةٌ سَائِلَةٌ مِنْ غَيْرِهِمَا كَدَمٍ وَّقَيْحٍ (۳) او له سبیلین (دوو لارو) څخه بغیر (له بل ځایه) بهیدونکی نجاست لکه وینه او زوي (زړي اوبه).

لغات: ﴿قَيْح﴾ زوي، نو (السائل اللزج الاصفر الذی یخرج) غیرهما: د تثنیه "هما" ضمیر و سبیلین ته راجع دی.

تشریح: ③ یعني له سبیلینْ څخه بغیر که د بدن له یوې بلې حصې څخه وینه، زوي (نوونه) یا داسې بل بهیدونکی نجاست ووځي، نو هم اودس ماتیږي، لهذا که د ستنې یا داسې بل شي د جګیدلو په وجه څه وینه له بدن څخه ووځي او هغه پر خپل ځای پاته نه سي بلکې له خپل ځای (مخرج) څخه وبهیږي او تېره سي، نو اودس ماتیږي او که پاته سي او له خپل ځای څخه تېره نه سي، نو اودس نه ماتیږي؛ ځکه له غیرِ سبیلنُ څخه چي کوم نجاست را ووځي، په هغه سره علته اودس ماتیږي کله چي د بدن وهغه حصې ته وبهیږي چي په اودس یا غسل کي د هغه حصې پر پولل یا مسح کول فرض یا مستحب دي، نو مثلاً که د چا د سترګي له دننه زخم څخه وینه را ووځي او د سترګي له یوه کونج څخه وبل کونج ته وبهیږي، نو د هغه اودس نه ماتیږي؛ ځکه د سترګي دننه حصه پرېولل په اوداسه یا غسل کي فرض یا مستحب نه دي.

په ډکه خوله قی وهل

﴿۹۶﴾ وَقَيْءُ طَعَامٍ أَوْ مَاءٍ أَوْ عَلَقٍ أَوْ مِرَّةٍ (۴) او (اودس ماتوي) د خوراک یا د اوبو یا د ترینخي قی وهل إِذَا مَلَأَ الْفَمَ کله چي خوله ډکه کړي (په ډکه خوله وي) وَهُوَ مَا لَا يَنْطَبِقُ عَلَيْهِ إِلَّا بِتَكَلُّفٍ عَلَى الْأَصَحِّ او هغه (د ډکي خولې حد) د صحیح قول مطابق دا دی چي بېله تکلفه پر قي خوله نه سي بندولای (تینګولای) (یا په بله ژبنا چي بېله تکلفه په خوله کي قی نه سي ساتلی) وَيُجْمَعُ مُتَفَرِّقُ الْقَيْءِ إِذَا اتَّحَدَ سَبَبُهُ او جمع کول کیږي به بېلابېل (وهل سوي) قیونه کله چي یې سبب (خواګرځی) یو وي (یعني کله چي دیوه ولړ خواګرځېدلو په وجه څو واره بېلابېل قیان ووهي. نو ټوله به جمع کول کیږي لو یو قی به شمېرل کیږي).

لغات: ﴿عَلَق﴾ سخته ګاټه یا کلکه سوې وینه. یوې ټوټې ته یې عَلَقَة وایي. ﴿مِرَّة﴾ ژړ رنګه ترخې لوبه کوم چي په ترینخي کي وي. یا په بله وینا د صفراء اوبه. د ترینخي اوبه.

شریح: ④ که څوک په ډکه خوله د خواړاک یا د لوبو یا د کلکو وینو وغیره قی ووهي. نو د هغه اودس ماتیږي. برابره ده قی د شي تر خوړلو یا څیښلو وروسته سمدستي ووهل سي. یا د پېروخت

وروسته ووهل سي، په دې شرط چي په ډکه خوله وي. او که تر ډکي خولې کم قی ووهي، نو د هغه اودس نه ماتیږي.

او د خولې د ډکوالي په حدّ کي اختلاف دی، د اصح قول مطابق د هغه حدّ دا دی چي قی وهونکی له تکلیف او مشقت څخه بغیر خپل قی په خوله کي نه سي نیولای او یو قول دا دی چي هغه له خبرو څخه بند کړي. (شفاء الارواح)

ویجمع متفرق إلخ: او که څو واره لږ، لږ قی ووهل سي، مثلاً یو وار لږ قی ووهي کوم چي په ډکه خوله نه وي او څه ګړی وروسته لږ قی بیا ووهي او لږ تر هغه وروسته یې بیا ووهي او ټوله چي جمع کړل سي، خوله په ډکیږي، نو آیا دا هم اودس ماتوي، که نه؟ په دې باره کي حکم دا دی چي سبب ته به یې کتل کیږي، که چیري سبب یې یو وي، نو اودس ماتوي او که سبب یې مختلف وي، نو اودس نه ماتوي، په متن کي همدا مسئله بیان سوې ده. (مراقی الفلاح ص۴۹)

یادونه: د سبب د یو کېدلو مطلب دا دی چي که ټوله قیان د یوه خوا ګرځي په وجه ووهل سي، یعني کله چي د چا خوا وګرځي او سینه یې را ډکه سي چي د هغه په وجه یو وار قی ووهي بیا هغه خوا ګرځی یې لا نه وي ختم سوی چي (د هماغه خوا ګرځي په حالت کي) بل وقی ووهي، نو د دې دواړو قیانو سبب یو دی، او که له قي وهلو څخه وروسته خواګرځی لیري سي، بیا تر هغه وروسته د بل وار خوا ګرځېدلو په وجه قی ووهل سی، نو د دې سبب مختلف دی.

او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په نېز د مجلس یو والي لره اعتبار دی، نو که په یوه مجلس کي څو واره لږ، لږ قی ووهل سي او ټوله دومره وي چي که جمع کړل سي، خوله په ډکیږي، نو په دې سره اودس ماتیږي. (شفاء الارواح)

په نارو (لاړو) کي د ویني اثر راتلل

﴿۹۷﴾ وَدَمٌ غَلَبَ عَلَى الْبُزَاقِ أَوْ سَاوَاهُ (۵) او (اودس ماتوي د خولې) هغه وینه کوم چي پر نلړو(لاړو) غالبه سي یا ور سره برابره سي.

لغات: ﴿بُزاق﴾ لاړي (نلړي)، له خولې څخه راوتلې لاړي، او تر څو چي په خوله کي وي، نو هغه ته "رِیق" وایي. ﴿ساواه﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: یو د بل سره برابرېدل، مساوي کېدل.

تشریح: ⑤ که چیري خوله یا غابونه وینه وکړي او د ویني سوروالی پر نارو (لاړو) غالب سي یعني لاړي بالکل سرې غوندي سي، نو اودس ماتیږي او که وینه صرف ژړه وي، نو اودس نه ماتیږي؛ ځکه په دې صورت کي وینه مغلوبه ده او که نارې او وینه دواړه سره برابر وي، نو بیا هم احتیاطاً د اودس ماتېدلو حکم سوی دی. (مراقی الفلاح ص۴۹)

په کوم خوب سره اودس ماتیږي؟

﴿۹۸﴾ وَنَوْمٌ لَمْ تَتَمَكَّنْ فِيْهِ الْمِقْعَدَةُ مِنَ الْأَرْضِ (۶) او (اودس ماتوي) داسې خوب چې په هغه کې (دبیده کس) مقعده د ځمکې سره (ټینګه) نه وي لګېدلې وَارْتِفَاعُ مِقْعَدَةِ نَائِمٍ قَبْلَ انْتِبَاهِهِ (۷) او (اودس ماتوي) له بیداره کېدلو څخه مخکې دبیده کس مقعده پورته کېدل وَإِنْ لَمْ يَسْقُطْ که څه هم هغه لوېدلی (غورځار سوی) نه وي فِي الظَّاهِرِ دظاهر روایت مطابق (یعني ظاهر روایت همدا دی چې په دې حالت کې یې اودس ماتیږي).

تشریح: ⑥ همدارنګه هغه خوب اودس ماتوي په کوم خوب کې چې دبیده کس مقعده پر ځمکه لګېدلې نه وي، بلکې له ځمکې څخه پورته وي، مثلاً هغه پر اړخ پروت وي، یا پر مخې پروت وي، یا داسې بل صورت وي چې په هغه کې دبیده کس کوناټې دځمکې سره لګېدلې نه وي، نو دهغه اودس ماتیږي.

وارتفاع مقعدة إلخ: ⑦ مثلاً یو څوک په ناسته بیده سي او دخوب په حالت کې دمخ پر طرف جټکه ورمې یعني دمخ وطرف ته لړ کوږ سي، اوس که دکوناټیو له پورته کېدلو څخه مخکې هغه را وېښ سي، نو دامام محمد رَحِمَہُ الله په نېز دهغه اودس نه ماتیږي او که تر را وېښېدلو مخکې دهغه کوناټې له ځمکې څخه پورته سي، نو بیا دهغه اودس ماتیږي، که څه هم هغه پر ځمکه پوره لوېدلی نه وي، همدا خبره په متن کې بیان سوې ده. او دامام صاحب رَحِمَہُ الله په نېز حکم دا دی چې پر ځمکه دلوېدلو څخه مخکې یا پر ځمکه دبغل لګېدلو څخه مخکې که هغه را وېښ سي یا تر لوېدلو وروسته پر ځمکه دبغل لګېدلو سره سمدستي هغه را وېښ سي، نو دهغه اودس نه ماتیږي او که تر لوېدلو لږ ګړی وروسته را وېښ سي، نو دهغه اودس ماتیږي، او فتویٰ دامام صاحب پر قول ده. (طحطاوي بحوالۀ شفاء الارواح)

د بې هوښۍ، لېونتوب او نشې حکم

﴿۹۹﴾ وَإِغْمَاءٌ وَجُنُوْنٌ وَسُكْرٌ (۸) او (اودس ماتوي) بې هوښي (۹) او لېونتوب (۱۰) او نشه.

لغات: ﴿اغماء﴾ بې هوښي (بېهوښې). هغه مرض چې دانسان قوت پکښې زائل سي او عقل یې مغلوبه سي. ﴿جنون﴾ لېونتوب. هغه مرض چې عقل بالکل پکښې زائل سي او قوت زیات سي،

﴿سکر﴾ نشه کېدل. هغه مستی ته وايي چي د يو نشه داره شي په استعمالولو سره پر عقل غالبه سي چي د هغه په وجه د انسان د عقل موافق کار نه سي کولای، لېکن د هغه عقل بالکل نه زائلېږي، نو ځکه هغه د شريعت د خطاب قابل پاتېږي.

تشريح: په دې عبارت کي درې نواقض بيان سوي دي، مخکي تر دې نواقضِ حقيقيه بيان سول. اوس له دې ځايه د نواقض حکميه وو بيان دی.

(٨) که څوک بې هوښه سي، نو په هر صورت کي د هغه اودس ماتېږي. برابره ده لږ وخت بې هوښه وي او که ډېر وخت.

(٩) که پر چا د لېونتوب جټکه راسي او عقل يې کار پرېږدي، نو د هغه اودس هم ماتېږي.

(١٠) که د شرابو، يا د هيروينو، چرسو، تارياکو او داسي نورو په وجه څوک دومره نشه سي چي د هغه په چال ا و تګ کي فرق راسي يعني يوې خوا او بلې خوا ته کوږ او ځنګېدلی تګ کوي او پوچ ورد. بې ځايه خبري يې تر خولې راوځي، نو د هغه اودس ماتېږي. او که نشه معمولي وي، نو اودس نه ماتوي. (در مختار مع الشامی ج:١. ص:١٣٣. ١٣٤. کتاب المسائل ص:١٥٦)

يادونه: د نشې حد چي، په هغه سره اودس ماتېږي د بعضي مشايخو په نيز دا دی چي نشه کس د ښځي او نر ترمينځ توپير نه سي کولای، همدا قول صدر الشهيد اختيار کړی دی. او صحيح قول هغه دی کوم چي له شمس الائمه حلواني رحمه الله څخه منقول دی کوم چي په تشريح کي موږ ذکر کړی دی چي په چال او تګ کي يې فراق راسي...(حاشيه)

د خندا حکم

«١٠٠» وَقَهْقَهَةُ بَالِغٍ يَقْظَانَ فِيْ صَلٰوةٍ ذَاتِ رُكُوْعٍ وَّ سُجُوْدٍ (١١) او (اودس ماتوي) د بالغ کس په زوره خندل په ويښه لمانځه کي کوم چي رکوع او سجدې والا وي وَلَوْ تَعَمَّدَ الْخُرُوْجَ بِهَا مِنَ الصَّلٰوةِ که څه هم هغه په دې (قهقهه خندا) سره قصد کړی وي له لمانځه څخه د وتلو (يا په بله وينا که څه هم هغه د سلام ګرځولو پر ځای په قهقهه خندا سره د لمانځه څخه ووځي. نو هم يې اودس ماتېږي).

تشريح: (١١) که بالغ کس د رکوع او سجدې والا په لمانځه کي په ويښه دومره په زوره وخاندي چي ده ته نژدې ولاړ کس هغه واوري، نو اودس يې ماتېږي. برابره ده عمداً په زوره وخاندي او که سهواً (يعني هغه ته دا ياده وي چي زه په لمانځه کي يم او که ورته ياده نه وي). که څه هم هغه د تشهد په اندازه تر ناستي وروسته له لمانځه څخه د وتلو لپاره عمداً قهقهه کړې وي: ځکه چي هغه اوس په لمانځه کي دی او په لمانځه کي (تر تشهد وروسته) په قهقهه کولو سره اودس ماتېږي. لېکن لمونځ يې نه

باطلیږي: ځکه په دې وخت کې پر هغه د لمانځه هیڅ فرض باقي پاتې نه دی، او پاتې سو دا چي سلام يې پر ېښوولی، نو په دې سره د هغه په لمانځه کي څه داسي نقصان نه راغلی چي د هغه په وجه لمونځ باطل سي. (شفاء الارواح)

فایده: "قهقهه" هغه خندا ته وایي چي خندونکی يې خپله هم واوري او نژدې کس يې هم واوري او خوله يې ښه خلاصه سي. داسي خندا لمونځ او اودس دواړه ماتوي. "ضحک" هغه معمولي خندا ته وایي چي صرف خپله يې واوري. لېکن ور سره نژدې کس يې نه واوري. په دې سره لمونځ ماتیږي لېکن اودس نه ماتیږي. او "تبسم" مسکا ته وایي چي په هغه کي بالکل آواز نه وي یعني داسي خندا چي آواز يې نه خپله واوري او نه يې نژدې کس واوري. په دې سره نه اودس ماتیږي او نه لمونځ. (حاشیه)

یادونه: دلته د "بالغ" په قید سره نابالغ ووتی. نو معلومه سوه چي که نابالغه کوچنی د لمانځه په حالت کي په زوره وخاندي. نو د هغه اودس نه ماتیږي. او د "ویښ" په قید سره بیده کس ووتی چي که څوک په لمانځه کي د بیده والي په حالت کي قهقهه وکړي، نو صحیح دا ده چي اودس يې نه ماتیږي. لېکن لمونځ يې باطلیږي. او د "لمانځه" په قید سره د غیرِ لمانځه حالت ووتی چي که څوک له لمانځه څخه بهر قهقهه وکړي. نو په دې سره اودس نه ماتیږي. او د" رکوع او سجدې والا" په قید سره هغه عبادات ووتل کوم چي رکوع او سجدې والا نه وي. لکه د جنازې لمونځ او سجدهٔ تلاوت. لهذا که څوک د جنازې په لمانځه کي یا په سجدهٔ تلاوت کي قهقهه وکړي. نو اودس يې نه ماتیږي. (حاشیه)

د مباشرت فاحشه حکم

﴿١٠١﴾ وَمَسُّ فَرْجٍ بِذَكَرٍ مُنْتَصِبٍ بِلَا حَائِلٍ (١٢) او (اودس ماتوي) بغیر له څه حائل (پردې) څخه د ښځي فرج په ولاړه (منتشره) آله سره مسه کول (یعني چي ذَکَر يې له شهوت او مستۍ څخه ولاړ ادرېدلی اوي).

لغات: ﴿منتصب﴾ د افتعال د باب اسم فاعل دی: ولاړ، جګ، درېدونکی، مصدر يې انتصابٌ دی: ولاړېدل، جګېدل، درېدل. ﴿حائل﴾ د دوو شیانو تر مینځ مانع، پرده، خنډ.

تشریح: ⑫ مباشرت فاحشه یعني بغیر له څه حائل او مانع څخه یوه شرمګاه د بلې شرمګاه سره مسه کېدل. برابره ده د سړي شرمګاه د ښځي سره وي یا د ښځي او ښځي یا د سړي او سړي شرمګاوي سره مسه کړل سي، نو په دې سره هم اودس ماتیږي. ښکاره دې وي چي په متن کي د فرج قید اتفاقي دی: ځکه که ذکر او دُبر سره مسه کړل سي، نو هم اودس ماتیږي، او د بلا حائل مطلب دا دی چي د دواړو شرمګاوو تر مینځ هیڅ مانع او پرده نه وي، یا مانع خو وي لېکن هغه دومره نری او باریک وي کوم چي د جسم ګرمي (حرارت) نه سي منع کولای، نو په دې هر صورت کي اودس ماتیږي. (مراقي الفلاح مع الطحطاوي ص:٥١)

فَصْلٌ (فِيْمَا لَايَنْقُضُ الْوُضُوْءَ)

(دا) فصل دی (په بیان کي د هغو شیانو کوم چي اودس نه ماتوي)

په کومو شیانو سره اودس نه ماتیږي؟

﴿١٠٢﴾ عَشَرَةُ أَشْيَاءَ لَاتَنْقُضُ الْوُضُوْءَ لس شیان اودس نه ماتوي ظُهُوْرُ دَمٍ لَمْ يَسِلْ عَنْ مَحَلِّهٖ (١) داسي وینه ښکاره کېدل (راوتل) کوم چي له خپل ځایه نه وبهیږي.

لغات: ﴿لم یسل﴾ د ضرب له باب څخه د جحد صیغه ده چي په هغه کي د لَمْ په وجه فعل مضارع مجزومه ده. سَالَ يَسِيْلُ سَيْلًا: بهېدل.

تشریح: که د بدن پر کوم ځای وینه ښکاره سي یعني دومره وینه کوم چي بهېدونکې نه وي چي له خپل ځای څخه بلي خوا ته نه وبهیږي (یا په بله وینا دا چي صرف داغ یې ښکاره سي)، نو په داسي وینه سره اودس نه ماتیږي.

د غوښي پر بېلېدلو حکم

﴿١٠٣﴾ وَ سَقُوْطُ لَحْمٍ مِنْ غَيْرِ سَيَلَانِ دَمٍ (٢) او غوښه لوېدل بغیر له وینې بهېدلو څخه كَالْعِرْقِ الْمَدَنِيِّ الَّذِيْ يُقَالُ لَهٗ "رِشْتَهْ" لکه عرق مدنی کوم ته چي (په فارسي کي) "رشته" ویل کیږي.

لغات: ﴿العرق المدنی﴾ چي هغه ته "رشته" هم ویل کیږي: دا یوه ناروغي ده کوم چي د دانې په شکل پر بدن ښکاره سي او دا دانه له رګ څخه را پورته سي او له هغې څخه هر وخت د چینجي په شکل څه شی راوځي، او د دې نسب یې د مدینه منوره وطرف ته ځکه کړی دی چي دا ناروغي په مدینه منوره کي زیاته وه. (شفاء الارواح بحوالهٔ طحطاوي)

تشریح: که د یو چا له بدن څخه غوښه پرې سي ولوېږي او وینه نه وبهیږي. نو اودس نه ماتیږي؛ لکه څرنګه چي په "رشته" نامي ناروغي کي هر وخت څه، څه غوښه له بدن څخه لوېږي.

له زخم یا پزي او غوږ څخه د چینجي را وتلو حکم

﴿۱۰۴﴾ وَخُرُوْجُ دُوْدَةٍ مِنْ جُرْحٍ وَأُذُنٍ وَأَنْفٍ (۳) او (همدارنګه اودس نه ماتوي) د چینجي را وتل له زخم او غوږ او پزي څخه.

لغات: ﴿دودة﴾ چینجی، جمع: دُوْدٌ و دِيْدَانٌ. ﴿جُرْح﴾ زخم، پرهار، جمع: جُرُوْحٌ. ﴿أُذن﴾ غوږ، جمع: آذان. ﴿أنف﴾ پزه، جمع: أُنُوْفٌ و آنَافٌ.

تشریح: که له زخم څخه چینجی داسي را ووځي چي پر هغه څه نجاست مثلاً وینه یا د موادو اثر نه وي، نو محض د چینجي په را وتلو سره اودس نه ماتیږي، او که چیري د مخ یا د شا د لاري (قُبل یا دُبر) څخه چینجی یا بل شی را ووځي، نو په دې سره اودس ماتیږي، برابره ده په را وتونکي شي باندي د نجاست اثر وي او که نه وي. (در مختار ج:۱، ص:۲۳۷، ط: دار الکتاب. کتاب المسائل: ۱۵۲)

❀ ❀ ❀

له پزي یا سترګي څخه را وتونکي اوبه

مسئله (۱): د سخت زکام په وخت کي له پزي څخه را وتونکي اوبه، همدارنګه د سترګو د خوږیدلو په وخت کي را وتونکي اوبه ناقضِ وضوء نه دي، خو که دا ثابته سي چي دا اوبه دننه له یو زخم څخه راوځي، نو یقیناً اودس ماتوي. (کتاب المسائل ص: ۱۵۰)

مسئله (۲): هغه اوبه کوم چي د پیازو په وجه، یا د سختي ګرمۍ په وجه، یا د اربړمۍ، یا د ترخو رانجو په وجه له سترګو څخه ووځي، په هغه سره اودس نه ماتیږي. (در مختار ج:۱، ص:۲۵۰، ط: دار الکتاب)

له غوږ څخه را بهیدونکي مواد، وینه یا اوبه

مسئله (۳): که له غوږ څخه مواد یا وینه را وبهیږي او هغه حصې ته راورسیږي چي په غسل کي یې پرېولل فرض دي، نو اودس ماتیږي او که له غوږ څخه صرف اوبه را ووځي، نو دې ته به کتل کیږي چي دا اوبه په تکلیف او درد سره را وتلي دي او که بغیر له تکلیفه، که بغیر له تکلیف او درد څخه را وتلي وي، نو اودس نه ماتیږي او که تکلیف او درد ورسره وي، نو اودس ماتیږي.

مسئله (۴)، که د ښځي یا سړي له تیو یا له نامه (نوم) څخه د یو داخلي ناروغۍ په وجه اوبه را ووځي، نو اودس یې ماتیږي. (شامی ج:۱، ص:۲۵۱، ط: دار الکتاب. کتاب المسائل ص: ۱۵۱)

خپله شرمګاه یا ښځه مسه کول

﴿۱۰۵﴾ وَمَسُّ ذَكَرٍ وَمَسُّ اِمْرَأَةٍ (۴) او (اودس نه ماتوي) د ذکر مسه کول (۵) او د ښځي مسه کول.

تشریح: که اودس لرونکی کس خپل ذکر مسه کړي یعني لاس ور وړي، نو اودس یې نه ماتیږي، برابره د لمانځه په حالت کي یې مسه کړي یا له لمانځه څخه بهر یې مسه کړي، همدارنګه که اودس

لرونکی کس خپلې ښځې ته لاس ور وړي، یا مچه ځنې واخلي، یا ښځه خاوند مسه کړي او مذي وغیره نه ووځي، نو په دې سره هم اودس نه ماتیږي. (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص: ۵۱)

له ډکې خولې څخه کم قی وهل

﴿۱۰۶﴾ وَقَيْءٌ لَا يَمْلَأُ الْفَمَ (۶) او (اودس نه ماتوي) داسې قی کوم چې په ډکه خوله نه وي.

تشریح: که څوک داسې قی ووهي کوم چې په ډکه خوله نه وي، نو په دې سره اودس نه ماتیږي او که په ډکه خوله وي، نو اودس ماتوي. لکه څرنګه چې د دې پوره تفصیل په ﴿۹۶﴾ نمبر مسئله کې تېر سو.

د بلغمو قی وهل

﴿۱۰۷﴾ وَقَيْءُ بَلْغَمٍ وَلَوْ كَثِيْرًا (۷) او د بلغمو قی که څه هم ډېر وي (یعني په ډکه خوله وي).

لغات: ﴿بلغم﴾ خراشکې، خرپ، ګروړې (ګروبی). قال فی المعجم: (البلغم): المنعقد من اللعاب والمخاط المفرز من المجاری التنفسية.

تشریح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمایي چې د خالص بلغمو په قي سره هم اودس نه ماتیږي، هغه که هر څومره ډېر وي.

❀ ❀ ❀

مسئله: که په بلغمو یا د پزې په ګرنګو کې څه کلکه وینه را ووځي، نو په دې سره هم اودس نه ماتیږي او که بهېدونکې وینه ور سره را ووځي یا کلکه وینه په ډکه خوله را ووځي، نو اودس ماتیږي. (شامی ج: ۱، ص: ۲۳۹، ط: دار الکتاب. کتاب المسائل ص: ۱۵۱)

د ناستې په حالت کې بیدېدل

﴿۱۰۸﴾ وَتَمَايُلُ نَائِمٍ اِحْتَمَلَ زَوَالَ مِقْعَدَتِهٖ (۸) او (اودس نه ماتوي. د ناست) بیده کس داسې کږېدل (ښورېدل) چې (له ځمکې څخه) د هغه د مقعدې د لیرې کېدلو (صرف) احتمال وي.

لغات: ﴿تمایل﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: په تګ وغیره کې کږېدل او تال خوړل، په ناز و نخره تلل، زنګېدل.

تشریح: مثلاً که څوک د ناستې په حالت کې (یعني چې مقعدې پر ځمکه لګېدلې وي) بیده سي او په همدې د خوب په حالت کې بار، بار د ځمکې وطرف ته کوږ سي، چې د هغه پر بناء له ځمکې څخه د

مقعدي د پورته کېدلو احتمال وي. یعني په یقیني توګه مقعده له ځمکي ځخه پورته سوې نه وي، نو په دې سره هم اودس نه ماتیږي.

﴿۱۰۹﴾ وَنَوْمُ مُتَمَكِّنٍ (۹) او (اودس نه ماتوي) خوب د هغه کس کوم چي پر ځمکه ځان ټینګ (تکیه) کړی وي (یعني مقعده یې د ځمکي سره ټینګه لګېدلې وي) وَلَوْ مُسْتَنِدًا إِلَى شَيْءٍ لَوْ أُزِيلَ سَقَطَ که څه هم ده ورېو داسي شي ته تکیه وهلې وي چي که هغه شی لیري کړی سي نو دئ به ولوېږي عَلَى الظَّاهِرِ فِيهِمَا د ظاهر روایت (ظاهر مذهب) مطابق په دې دواړو صورتونو کي (اودس نه ماتیږي)

لغات: فیهما: د هما ضمیر مرجع مخکني مسئله او دغه مسئله ده یعني "تمایل نائم" او "نوم متمکن". (انوار الایضاح)

تشریح: مثلاً که څوک دېوال یا بالښت یا مثلاً د موټر سیټ او یا داسي بل شي ته تکیه وکړي چي دواړه کوناټي یې له ځمکي یا سیټ څخه پورته نه وي بلکي ورسره لګېدلي وي او په همدې حالت کي داسي بې خبره بیده سي چي که هغه شی ځني لیري کړی سي، دئ لوېږي. نو په داسي صورت کي د ظاهر مذهب مطابق د ده اودس نه ماتیږي.

خو متأخرینو فقهاء احنافو په داسي صورت کي احتیاطاً د اودس ماتېدلو فتویٰ ورکړې ده او که داسي د بې خبری خوب نه وي، نو بالاتفاق اودس نه ماتیږي. (فتح القدیر ج:۱، ص:۴۷، کتاب المسائل: ۱۵۴)

د خوب په حالت کي بیدېدل

﴿۱۱۰﴾ وَنَوْمُ مُصَلٍّ (۱۰) او (اودس نه ماتوي) خوب د لمونځ کونکي وَلَوْ رَاكِعًا أَوْ سَاجِدًا عَلَى جِهَةِ السُّنَّةِ که څه هم هغه د رکوع یا سجدې په حالت کي وي د سنت طریقې مطابق (یعني پر سنت طریقه رکوع او سجده کونکی وي) وَاللّٰهُ الْمُوَفِّقُ او صرف الله تعالیٰ توفیق ورکونکی دی.

تشریح: که څوک د لمانځه په حالت کي بیده سي، نو په دې سره اودس نه ماتیږي. تر دې چي که د رکوع یا د سجدې په حالت کي بیده سي، نو هم یې اودس نه ماتیږي. خو شرط دا دی چي سجده به په سنت طریقه سره وي یعني نس به یې له ورنو څخه جلا وي همدارنګه لاسونه (بازوګان) به یې له

بغلو څخه لیري وي، لهذا که د سنت طریقې په خلاف سجده کوي او په هغه کي بیده سي، نو اودس یې ماتیږي.

* * *

ښځه د سجدې په حالت کي بیدېدل

مسئله: که ښځه په سجده کي بیده سي چي د هغې په حق کي أفضل او أستر دا دي چي نس یې د ورنو سره لګېدلی وي، نو په دې حالت کي په بیدېدلو سره اودس ماتیږي؛ ځکه په دې حالت کي هم اندامونه سستیږي، او که نس له ورنو څخه جلا وي کوم چي د سړیو د سجدې هیئت دی. نو اودس نه ماتیږي.

د احنافو په نېز د لمانځه په حالتونو یعني په ولاړه، ناسته رکوع او سجده کي چي پر کوم حالت هم بیده سي، برابره ده په لمانځه کي بیده سي یا د لمانځه څخه بهر، اودس نه ماتیږي. (البحر الرائق ج:١، ص:٣٩، کتاب المسائل ص:١٥٦، شامي ج:١، ص:٢٢٣، ط: بیروت)

که مریض کس د ناستي په لمانځه کي بیده سي؟

مسئله: که څوک د مرض او کمزوری له کبله په ناسته لمونځ کوي او په همدې حالت کي بیده سي، نو اودس یې ماتیږي. (شامي ج:١ ،ص:٢٢٤، ط: بیروت، کتاب المسائل ص:١٥٦)

* * *

فَصْلٌ (فِيْمَا يُوْجِبُ الْاِغْتِسَالَ)

(دا) فصل دی (په بیان کي د هغو شیانو کوم چي غسل کول واجبوي)

تشریح: مخکي تر دې یې د اوداسه مسئلې او احکام بیان کړل، اوس دغسل مسئلې بیانوي او دلته اول هغه شیان بیانوي چي د هغوی په سبب غسل واجبیږي.

مني په شهوت سره وتل

﴿۱۱۱﴾ يَفْتَرِضُ الْغُسْلُ بِوَاحِدٍ مِنْ سَبْعَةِ أَشْيَاءَ فرض کیږي غسل په (واقع کېدلو د) یوه شي سره له اوو شیانو څخه خُرُوْجُ الْمَنِيِّ إِلَى ظَاهِرِ الْجَسَدِ (۱) د مني وراوتل د بدن ښکاره حصې ته إِذَا انْفَصَلَ عَنْ مَقَرِّهٖ بِشَهْوَةٍ مِنْ غَيْرِ جِمَاعٍ کله چي بغیر له جماع په شهوت سره له خپل قرار ځای (قرارگاه) څخه را جلا سوي وي.

لغات: ﴿غُسل﴾ د غین په ضمه سره: پر ټوله بدن اوبه بهول (بیول)، او د غین په فتحه سره غَسل: پرېولل، یعني خیره وغیره په اوبو سره لیري کول. ﴿جماع﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: د ښځي سره کوروالی. ﴿المنی﴾ هغه سپیني او سختي اوبه د گړنګو په څېر چي د انسان له بدن څخه راوځي او تر وتلو وروسته یې د انسان طبعي خواهش او شهوت ختمیږي. ﴿مَقَرّ﴾ د ظرف صیغه ده: د درېدلو ځای، د مني ور ځای په نر کي ملا ده او په ښځه کي سینه ده. ﴿شهوة﴾ د لذت د درک میل، زورور نفساني خواهش کوم چي هر قابلِ رغبت شي ته انسان مائل کوي، جمع: شَهَوَاتٌ.

تشریح: که مني له خپل ځایه په شهوت سره را جلا سي، نو وروسته د هغوی وتل که څه هم بلا شهوته وي، بیا هم غسل واجبیږي، مثلاً سړی د مني ور وله را وتلو څخه مخکي خپل ذکَر ونیسي او کله چي شهوت ختم سي، بیا یې ایله کړي او مني ووځي، نو هم غسل واجبیږي د راجح قول مطابق.

(در مختار ج:۱، ص:۲۶۵، ط، دار الکتاب)

من غیر جماع: یعني مخکنی حکم هغه وخت دی کله چي د مني وتل بغیر له جماع څخه وي، مثلاً احتلام کېدل یا ښځي لو داسي نورو ته په کتلو سره مني وتل؛ ځکه د وطي او جماع په صورت کي د غسل د وجوب لپاره مني وتل شرط نه دی. (طحطاوي علی مراقي الفلاح ص ۵۲)

حشفه پټېدل

﴿۱۱۲﴾ وَتَوَارِیْ حَشَفَةٍ وَقَدْرِهَا مِنْ مَقْطُوْعِهَا (۲) او (دېرې) حشفه پټېدل او (یا) د حشفه پرېکړل سوي کس د حشفې په اندازه (ذکر) پټېدل (داخلېدل) فِي أَحَدِ سَبِيْلَيْ آدَمِيٍّ حَيٍّ په یوه د دوو لارو کي (یعني په قُبل یا دُبر کي) د ژوندي انسان (یعني چي د ژوندي انسان د متیازو یا غائطو په لاره کي دېرې حشفه ادذکر سرا پټ سي. یا د مقطوع الحشفة کس یعني د چا چي حشفه پرېکړل سوې وي د هغه له پاته ذکر څخه د حشفې مقدار پکښې پټ سي، نو غسل فرض کېږي).

لغات: ﴿تواری﴾ د تفاعل د باب مصدر دی: پټېدل، نهاېدل (نیاېدل). ﴿حشفة﴾ د ذکر یعني د نارینه اندام سر، جمع: حِشَافٌ. ﴿آدمی﴾ انسان، د آدمي په قید سره چارپای او جنات ووتل. ﴿حیّ﴾ ژوندی، په دې قید سره مړه ووتل.

تشریح: کله چي دېرې حشفه یعني د ذکر سر د ژوندي انسان (برابره ده ښځه وي او که نر وي) په قُبل یا دُبر کي پټ سي، نو غسل واجبېږي، برابره ده مني ووځي او که نه ووځي. او د کوم چا حشفه چي نه وي مثلاً پرېکړل سوې وي، نو بیا د حشفه په اندازه حصه که پټه سي، نو غسل واجبېږي. (همدارنګه که په لواطت کي د لوطي ملعون صرف حشفه پټه سي. نو پر فاعل او مفعول به دواړو غسل واجبېږي. برابره ده انزال وسي او که نه وسي (المحیط البرهاني ج:۱. ص: ۲۲۷. کتاب المسائل ص: ۱۶۱))

د مړه یا چارپای سره وطي کول

﴿۱۱۳﴾ وَإِنْزَالُ الْمَنِيِّ بِوَطْئِ مَيْتَةٍ أَوْ بَهِيْمَةٍ (۳) او د مني وو انزالېدل په وطي کولو سره د مړې ښځي یا چارپای سره.

لغات: ﴿میتة﴾ مړه ښځه. همدارنګه مردار سوي حیوان ته هم ویل کېږي. ﴿بهیمة﴾ چارپای، د څلورو پښو حیوان. جمع: بَهَائِم.

تشریح: که څوک د مړه کس سره وطي وکړي. یا دیو چارپای سره وطي وکړي. نو په دې صورت کي د غسل واجبېدلو لپاره انزال شرط دی: بغیر له انزاله صرف په وطي سره غسل نه واجبېږي: ځکه دلته په شهوت کي قصور دی او په انزال سره شهوت تامه موجودېږي. (مراقی الفلاح ص: ۵۴)

تر خوب وروسته د اوبو لیدل

﴿۱۱۴﴾ وَوُجُوْدُ مَاءٍ رَقِيْقٍ بَعْدَ النَّوْمِ (۴) او له خوب څخه (تر ويښېدو) وروسته د نرېو (نرموه) اوبو موجودېدل إِذَا لَمْ يَكُنْ ذَكَرُهٗ مُنْتَشِرًا قَبْلَ النَّوْمِ کله چې له خوب څخه مخکې د هغه ذَکَر ولاړ (شک) نه وي.

لغات: ﴿رقيق﴾ باريک، نری، جمع: أَرِقَّاء.

تشريح: که څوک له خوب څخه راويښ سي او پر جامو لوندوالی ووينې، که څه هم خوب ورته ياد نه وي يا په خوب کې انزال ورته ياد نه وي، نو هم پر هغه غسل واجبېږي.

فايده: په عبارت کې د دې قيد "إذا لم يكن ذكره إلخ" فايده دا ده چې که له بيدېدو څخه مخکې ذَکَر متشر وي او بيا له راويښېدو څخه وروسته لوندوالی ووينې، نو ممکنه ده چې هغه مذي وي چې د هغه په وجه غسل نه واجبېږي. (مراقی الفلاح ص: ۵۴)

﴿۱۱۵﴾ وَوُجُوْدُ بَلَلٍ ظَنَّهٗ مَنِيًّا (۵) او (پر جامه) داسې لوندوالی موجودېدل چې پر هغه د منې وو گومان وکړي بَعْدَ إِفَاقَتِهٖ مِنْ سُكْرٍ وَإِغْمَاءٍ وروسته تر په سد کېدلو (..مېلو) له نشې او بې هوښۍ څخه (يعنې له نشې او بې هوښۍ څخه تر وتلو او پر سد کېدلو وروسته داسې لوندوالی موجودېدل هم غسل فرض کوي چې غالب گومان پکښې دا وي چې دا به منې وي).

لغات: ﴿إفاقة﴾ د افعال د باب مصدر دی: روغېدل، په هوښ کې راتلل (يا په بله وينا پر سد کېدل)، نشه ختمېدل. ﴿بَلَل﴾ د نصر له باب څخه اسم مصدر دی: لوندوالی، منيًا: د دې قيد فايده دا ده چې که گومان يې د مذي وي، نو غسل نه واجبېږي.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چې که څوک له بې هوښۍ يا د نشې له ختمېدلو څخه وروسته پر خپلو جامو داسې لوندوالی ووينې کوم چې يې هغه منې گڼي، نو پر هغه غسل واجبېږي. (مراقی الفلاح ص: ۵۴)

د حيض او نفاس پر ختمېدلو غسل واجبېدل

﴿۱۱۶﴾ وَبِحَيْضٍ وَنِفَاسٍ (۶) او (غسل فرض کېږي) په (ختمېدلو د) حيض (۷) او نفاس سره (يعنې د حيض او نفاس تر ختمېدلو وروسته هم غسل فرض کېږي) وَلَوْحَصَلَتِ الْأَشْيَاءُ الْمَذْكُوْرَةُ قَبْلَ

الْإِسْلَامِ که څه هم دا ذکر سوي شیان تر اسلام مخکي حاصل سوي (واقع سوي) وي فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق (یعني زیات صحیح روایت دا دی چي که څه هم دغه مذکوره څو شیان تر اسلام راوړولو مخکي واقع سوي وي. نو بیا هم اتر اسلام راوړلو وروسته اغسل واجبیږي).

تشریح: مسئله دا ده چي کله ښځه له حیض یا نفس څخه پاکه سي، نو پر هغې غسل فرض دی، تر دې وروسته فرمایي چي که څه هم مذکوره شیان (یعني کوم شیان چي پورته د غسل موجبات بیان سول مثلاً حشفه پټېدل، جنابت، حیض او نفاس... که څه هم دا) تر اسلام راوړلو مخکي سوي وي، نو هم د صحیح قول مطابق تر اسلام راوړلو وروسته غسل واجبیږي، لنډه دا چي که یو کافر مسلمان سي او هغه د جنابت په حالت کي وي، نو پر هغه غسل کول واجبیږي؛ ځکه د لمونځ کولو په وخت کي پاکي ضروري ده او د کفر په حالت کي تر جنب کېدلو وروسته غسل نه کول گواکي د جنابت په حالت کي باقي پاتېدل دي، لهذا کله چي د جنابت حالت باقي پاته دی، نو اوس غسل کول واجب دي، همدا مفتیٰ بهٖ قول دی او غیرِ مفتیٰ بهٖ قول دا دی چي غسل نه واجبیږي؛ ځکه غسل کول یو شرعي حکم دی او کافر د کفر په حالت کي په احکامو مکلف نه دی. (تبیین الحقائق ج:۱، ص:۱۸، البحر الرائق ج:۱، ص:۶۸)

مړي ته د غسل ورکولو حکم

﴿۱۱۷﴾ وَيَفْتَرِضُ تَغْسِيْلُ الْمَيِّتِ كِفَايَةً او فرض دي مړي ته غسل ورکول د فرضِ کفایه په توګه (یعني مړي ته غسل ورکول فرض کفایي دي).

تشریح: مسلمان مړي ته غسل ورکول فرض کفایي دي یعني که څو خلک دا کار وکړي، نو د نورو خلکو له غاړي څخه دا فرض ساقطیږي، او که یو هم غسل نه ورکړي، نو ټول له گنهکاره کیږي، او له غسل ورکولو څخه مخکي پر مړي د جنازې لمونځ کول جائز نه دي.

ښکاره دي وي چي باغي او کافر ته به غسل نه ورکول کیږي، همدارنګه شهید ته به غسل نه ورکول کیږي.

* * *

فَصْلٌ (فِيْمَا لَا يَجِبُ الْاِغْتِسَالُ مِنْهُ)

(دا) فصل دی (په بیان کې د هغو شیانو چې له
هغوی څخه غسل نه واجبیږي)

د مذي او ودي حکم او تعریف

﴿۱۱۸﴾ عَشَرَةُ أَشْيَاءَ لَا يُغْتَسَلُ مِنْهَا لس (۱۰) شیان دي چې غسل نه ور څخه کیږي (یعني چې د هغوی په وجه غسل نه واجبیږي) مَذْيٌ وَوَدْيٌ وَ احْتِلَامٌ بِلَا بَلَلٍ (۱) مذي (۲) ودي (۳) او احتلام بېله لوندوالي.

تشریح: په دې عبارت کې درې مسئلې بیان سوي دي: ① د مذي په وتلو سره غسل نه واجبیږي.

د مذي تعریف: لفظ د مذی په عربي کې د میم په زور او د ذال په سکون سره فصیح دی او په پښتو کي د میم په زور یا پېښ او د ذال په زېر سره ویل کیږي، مذي هغه نرۍ اوبه دي کوم چې د ښځي سره دلوبي کولو په وخت کي د متیازو له نالی څخه وځي، د هغه وتل څوک خاص نه احساسوي، مذي له مني وتلو څخه مخکي وځي، د دې لپاره چې د مني وو په وتلو کي څه خنډ را نه سي، د مذي په وتلو سره د طبیعت جوش نور زیات سي.

② د ودي په وتلو سره هم غسل نه واجبیږي.

د ودي تعریف: دا اوبه عموماً د طبعي مرض او عارض پر بناء له متیازو څخه مخکي یا وروسته وځي، دا د شکل او صورت په اعتبار سره د مني وو په څېر وي، د دې وتل هم نه احساسیږي.

③ که څوک احتلام سي مثلاً په خوب کي ووېني چې د ښځي سره جماع کوي او انزال هم سي، خو تر وېښېدلو وروسته پر جامو د مني وو اثرات نه ووېني، نو پر هغه غسل واجب نه دی؛ ځکه که انزال سوی وي، نو لوندوالی او اثرات یې چیري دي؟. (مراقی الفلاح علی الطحطاوی ص: ۵۵)

❀ ❀ ❀

یوه مسئله او د هغې شپږ صورتونه

مسئله: کله چې سړی له خوب څخه را ویښ سي او پر خپل ځای لوندوالی ووېني، نو د دې مسئلې شپږ صورتونه دي:

① اول صورت دا دی چې احتلام یې په یاد وي او دا یې یقین وي چې دا مني دي.

② احتلام يې په ياد نه وي او دا يې يقين وي چې دا مذي دي.

③ احتلام يې په ياد وي او په دې کې شکمن وي چې دا مني دي او که مذي دي.

په دې پورتنيو دريو سره صورتونو کې زموږ د علماؤ په اتفاق سره پر هغه غسل واجبيږي: ځکه په اول صورت کې خو د غسل وجوب ښکاره دی. او په دويم او دريم صورت کې ځکه غسل واجبيږي چې دا احتمال سته چې مني به د هواء يا د بدن د ګرمۍ په سبب نرى سوى وي، او داسې به معلوميږي لکه مذي. يا د مذي کېدو او مني کېدو فرق به يې نه معلوميږي.

④ څلورم صورت دا دی چې احتلام يې په ياد نه وي او دا يې يقين وي چې دا مني دي.

⑤ احتلام يې په ياد نه وي او شکمن وي چې دا مني دي که مذي.

په دې دوو صورتونو کې هم په اتفاق سره احتياطاً پر هغه غسل واجبيږي.

⑥ شپږم صورت دا دی چې احتلام يې په ياد نه وي خو دا يې يقين وي چې دا مذي دي. نو په دې صورت کې د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز غسل واجب نه دی، لېکن د طرفينو رَحِمَهُمَا الله په نيز په دې صورت کې هم غسل واجب دی.

له ولادت څخه وروسته وينه نه ليدل

﴿١١٩﴾ وَوِلَادَةٌ مِنْ غَيْرِ رُؤْيَةِ دَمٍ بَعْدَهَا فِي الصَّحِيْحِ (۴) او زېږونه (بچى زېږول) بغير له وينې ليدلو څخه تر زېږوني وروسته، د صحيح قول مطابق (يعني چې د بچي تر پېدايښت وروسته وينه ونه ليدل سي. نو هم د صحيح قول مطابق پر ښځي غسل نه واجبيږي).

تشريح: که د ښځي بچى پيدا سي او وينه ښکاره نه سي، نو د صحيح قول مطابق پر هغې غسل نه واجبيږي. دا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله مذهب دی، خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز احتياطاً پر داسې ښځي غسل واجبيږي. لکه په ﴿۹۴﴾ نمبر مسئله کې چې هم دا خبره ذکر سوه: ځکه د پيدايښت په وخت کې عموماً څه نا څه وينه ښکاره کيږي. (شفاء الارواح)

د مانع لذت شي حکم

﴿١٢٠﴾ وَإِيْلَاجٌ بِخِرْقَةٍ مَانِعَةٍ مِنْ وُجُوْدِ اللَّذَّةِ (۵) او ذکَر داخلول (دننه کول) د داسې توکر (ګوډر) سره کوم چې د لذت له موجود بدلو (احساسولو) څخه مانع (منع کونکى) وي.

لغات: ﴿إيلاج﴾ د افعال د باب مصدر دی: داخلول. ننه بلل. ﴿خرقة﴾ د توکر يوه ټوټه (ګوډر). ربنکى.

تشريح: يعني که څوک پر خپل ذکَر توکر وغيره ونغښتي او جماع وکړي. نو که توکر دومره پنډ وي چې د فرج ګرمي او لذت (خوند) ده ته محسوس نه سي، نو تر څو چې انزال نه سي. غسل نه پرې واجبيږي. او که توکر دومره نرى وي چې د فرج حرارت او لذت ور ته محسوس سي، نو که څه هم انزال نه سي. غسل پرې واجبيږي. او احتياط په دې کې دی چې په دواړو صورتونو کې غسل واجب سي. (شفاء الارواح)

د حقنه حکم

﴿١٢١﴾ وَحُقْنَةٌ (۶) او حقنه (اماله) کول (په دې سره هم غسل نه واجبيږي).

لغات: ﴿حقنة﴾ اماله، دستور، وضاحت به يې په تشريح کې وسي.

تشريح: حقنه ويل کيږي د پيچکارۍ وغيره په ذريعه د شا (مقعدې) لخوا نس ته دوا رسول يا فضلات خارجول (کوم ته چې اماله وغيره وايي او عموماً د تبضيت په صورت کې دا طريقه اختيارول کيږي)، په دې سره هم غسل نه واجبيږي. (ايضاح الاصباح)

په سبيلينُ کې ګوته وغيره داخلول

﴿١٢٢﴾ وَإِدْخَالُ إِصْبَعٍ وَنَحْوِهِ فِيْ أَحَدِ السَّبِيْلَيْنِ (٧) او ګوته او (يا) د ګوتې په څېر (بل) شی داخلول په يوه لاره کې د دوو لارو (يعني په قُبل يا دُبُر کې).

تشريح: يعني ګوته يا د ګوتې په څېر بل شی مثلاً مصنوعي ذکر وغيره که په قُبل يا دبر کې داخل کړل سي نو تر څو چې انزال نه سي، غسل نه پرې واجبيږي.

د چارپای يا مړې ښځې سره وطي کول

﴿١٢٣﴾ وَوَطْؤُ بَهِيْمَةٍ أَوْ مَيْتَةٍ مِنْ غَيْرِ إِنْزَالٍ (٨) او د يو چارپای (٩) يا مړې ښځې سره بېله انزاله وطي کول.

تشريح: که څوک د چارپای يا د مړې ښځې سره وطي وکړي او انزال نه سي، نو هم غسل نه واجبيږي.

د باکره ښځې سره د کور والي حکم

﴿١٢۴﴾ وَإِصَابَةُ بِكْرٍ لَمْ تَزَلْ بَكَارَتُهَا مِنْ غَيْرِ إِنْزَالٍ (١٠) او د باکره انجلۍ سره بېله انزاله داسې جماع کول چې د هغې (پرده د) بکارت زائل نه سي (څکه کله چې د بکارت پرده زائله نه سي، نو د دې مطلب دا سو چې د سړي ذکر د نه فرج ته داخل نه سو او حشفه يې پکښې غائب نه سوه. نو څکه تر څو چې انزال سوی نه وي، غسل نه واجبيږي).

لغات: ﴿إصابة﴾ د افعال د باب مصدر دی، د دې څو معناوې دي: رسېدل، لګېدل، سيده کول، نه خطا کېدل او داسې نور.

تشريح: که څوک د باکره ښځې و شرمګاه ته ذکر داسې داخل کړي چې د هغې د بکارت پرده څيرې نه سي، نو هم غسل نه پرې واجبيږي تر څو چې انزال نه سي. (مراقی الفلاح ص:٥٥)

فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ الْغُسْلِ)

(دا) فصل (په بيان كي د غسل) دى

تشريح: په دې فصل كي د غسل فرائض بيانوي او د ټولو فرائضو خلاصه دا ده چي د بدن كومي حصې ته بلا تكليفه اوبه رسول ممكن وي، هلته به اوبه رسوي، بيا هم دلته د تعليم په غرض سره يې يوولس (۱۱) فرائض بيان كړي دي.

دلته له غسل څخه مراد فرض غسل دى، يعني د جنابت، حيض او نفاس غسل؛ ځكه چي په سنت (مسنون) غسل كي خوله او پزه پرېولل فرض نه دي بلكي سنت دي؛ ځكه سنت غسل له دې دوارو څخه بغير هم اداء كيږي. (شفاء الارواح)

د غسل فرائض

﴿۱۲۵﴾ يَفْتَرِضُ فِي الاِغْتِسَالِ أَحَدَعَشَرَ شَيْئًا په غسل كي يوولس (۱۱) شيان فرض دي غَسْلُ الْفَمِ وَالْأَنْفِ وَالْبَدَنِ مَرَّةً (۱) پرېولل د خولې (۲) او (پرېولل) د پزې (۳) او (پرېولل) د (ټوله) بدن يو وار.

لغات: ﴿فم﴾ خوله، جمع: أَفْوَاهٌ.

تشريح: د خولې پرېوللو حد دا دى چي دننه ټوله خولې ته اوبه ورسول سي او د پزې پرېوللو حد دا دى چي د پزې ببخ (يا په بله ربنا خيشوم) ته اوبه ورسول سي او ټوله بدن يو وار پرېولل فرض دي.

دلته يو اشكال وارديږي چي د ټوله بدن په پرېوللو كي خو د پزې او خولې پرېولل هم راځي: ځكه دا دواړه هم په بدن كي داخل دي، نو بيا جلا د دوى ذكر كولو ته څه ضرورت دى؟. د دې جواب دا دى چي كه څه هم دا دواړه په بدن كي داخل دي، خو څرنګه چي په دې دواړو كي اختلاف دى. د امام مالك او امام شافعي رَحِمَهُمَااللّٰه په نېز خوله او پزه پرېولل په فرض غسل كي هم سنت دي، نو ځكه د دوى په جلا بيانولو سره يې دا ښكاره كړه چي دا دواړه هم د احنافو په نېز فرض دي.

د نا سُنته كس حكم

﴿۱۲۶﴾ وَ دَاخِلِ قُلْفَةٍ لَاعُسْرَفِيْ فَسْخِهَا (۴) او (پرېولل) د ذكر د سر پوستكي منځلې حصې (كله) چي د هغه په ليري كولو (خلاصولو) كي تكليف نه وي.

لغات: ﴿قُلفة﴾ او قَلَفَةٌ: هغه پوستکی چي د ناسُنته کس پر ذَکَر وي چي په هغه کي حشفه يعني د ذَکَر سر پټ وي، او دا پوستکی د سنت کېدلو پر مهال پرېکول کيږي. جمع: قُلَفٌ. لکه د غُرْفَةٌ جمع جي غُرَفٌ ده. ﴿عُسر﴾ د سمع له بابه اسم مصدر دی: سختي، تکليف او ستونزه.

تشريح: کوم څوک چي تر اوسه سنت کړی سوی نه وي او هغه د جنابت غسل کوي، نو که د حشفه د پاسه پوستکی (قلفة) له څه مشقت او ستونزي څخه بغير ليري کول او حشفه ښکاره کول ممکن وي، نو هغه ته اوبه رسول واجب دي، او که داسي کول ممکن نه وي مثلاً د دغه پوستکي (قلفة) سوری تنګ وي، نو د تکليف په خاطر اوبه ور رسول واجب نه دي؛ لکه په غوږو کي جوړ کړل سوي سوريان چي ډک او بند سي، نو د تکليف په وجه هغوی ته اوبه رسول واجب نه دي. (شفاء الارواح)

د نُوسوری پرېولل

﴿۱۲۷﴾ وَ سُرَّةٍ (۵) او (پرېولل) د نُو (ناف).

تشريح: په غسل کي د نُو سوري ته اوبه رسول فرض دي، همدارنګه د بدن هر هغه سوري ته کوم چي ډک سوی او بند سوی نه وي لکه په را روان عبارت کي چي به ذکر سي، مثلاً په غوږ يا پزه کي جوړ کړل سوي سوريان چي په هغه کي غوږ والي (لښتي) يا نته وغيره اچول کيږي، هغوی ته اوبه رسول فرض دي، خو کله چي هغوی ډک سي او غوښه پکښي راسي، نو بيا اوبه ور رسول فرض نه دي.

﴿۱۲۸﴾ وَ ثَقْبٍ غَيْرِ مُنْضَمٍّ (۶) او (پرېولل) د داسي سوري کوم چي سره يوځای سوی (ډک سوی) نه وي (يعني د غوږ يا داسي بل ځای سوری کوم چي په غوښه ډک سوی نه وي).

لغات: ﴿ثقب﴾ سوری، جمع: أَثْقُبٌ و ثُقُوبٌ و أَثْقَابٌ. ﴿منضمّ﴾ د انفعال له بابه مفعول دی: سره يو ځای سوی، سره مښتی.

تشريح: په تېر عبارت کي يې وضاحت وسو.

په غسل کي د نر او ښځي د کوځيو حکم

﴿۱۲۹﴾ وَ دَاخِلِ الْمَضْفُوْرِ مِنْ شَعْرِ الرَّجُلِ مُطْلَقًا (۷) او (پرېولل) د سړي د خپل ورډل سوو وربښتانو (کوځيو) داخلي حصه مطلقاً (په هر حال کي. يعني برابره ده د سړي د وربښتانو بېخ ته اوبه ورسيږي، که نه. هغه به مطلقاً په هر حال کي! خپل ورډل سوي وربښتان خلاصوي او دننی حصه به پرېولي) لَا الْمَضْفُوْرِ مِنْ شَعْرِ الْمَرْأَةِ إِنْ سَرَى الْمَاءُ فِيْ أُصُوْلِهِ نه (پرېولل) د ښځي د ورډل سوي

وربښتانو که چیري اوبه (د هغې) د وربښتانو بېخو ته ورسیږي.

لغات: ﴿المضفور﴾ د ضرب له بابه اسم مصدر دی: وودل سوي او چوټي کړل سوي وربښتان. کوڅۍ. ﴿سَرَیٰ﴾ د ضرب د باب ماضي ده: تلل. سرایت کول (ننوتل). ﴿أصول﴾ جمع د أصلْ ده چي د هغه یوه معنیٰ ده: بېخ.

تشریح: په دې عبارت کي دوې مسئلې ذکر سوي دي: ① که یو سړي اوږده وربښتان پرې ایښي وي او له هغوی څخه یې چوټي یا کوڅۍ جوړي کړي وي. نو د جنابت په غسل کي هغه وودل سوي وربښتان خلاصول فرض دي، محض د وربښتانو بېخونه لندول کافي نه دي. ② خو پر ښځي د جنابت. حیض او نفاس په غسل کي د چوټیو او کوڅیو خلاصول ضروري نه دي. صرف د وربښتانو لندول هم کافي دي. خو د وربښتانو بېخو ته اوبه رسول فرض دي. یو بېخ به هم وچ نه پرېږدي او که بغیر له خلاصولو د ټولو وربښتانو بېخو ته اوبه نه سي رسېدلای، نو هغوی دي خلاص کړي او ټوله دي پرېولي.

او که د سر وربښتان وودل سوي نه وي، برابره ده خلاص وي یا د سر شا ته یې ړل وي. نو ټوله وربښتان لندول او ټوله بېخو ته اوبه رسول فرض دي. که یو وربښتی هم وچ پاته سي یا د یوه وربښتي بېخ ته اوبه نه ورسیږي، نو غسل نه کیږي. (الفتاوی التاتارخانیه ج:۱. ص:۲۵۷. مسئله:۳۷۱. در مختار مع الشامی ج:۱. ص:۱۴۲)

د ږیري، بریتو وغیره څرمن ته اوبه رسول

﴿۱۳۰﴾ وَبَشْرَةِ اللِّحْيَةِ (۸) او (پرېولل) د ږیري د (لاندي) پوستکي وَبَشْرَةِ الشَّارِبِ وَالْحَاجِبِ (۹، ۱۰) او د بریتو او د وروځو د (لاندي) پوستکي وَالْفَرْجِ الْخَارِجِ او (پرېولل) د بهاندیني فرج.

لغات: ﴿بشرة﴾ دا لفظ د باء او شین په "فتحه" سره دی: د بدن د پوستکي ښکاره حصه. ظاهري پوستکی. ﴿لحیة﴾ ږیره، جمع؛ لُحَی. ﴿شارب﴾ بریت، جمع؛ شَوَارِب. ﴿حاجب﴾ وروځه، د سترګو د پاسه وربښتان.

تشریح: د خپلي ږیري د وربښتانو بېخ او مینځ ته اوبه رسول فرض دي، همدارنګه د بریتو او وروځو د وربښتانو بېخ او مینځ ته اوبه رسول فرض دي او پر ښځي د جنابت. حیض او نفاس په غسل کي د بهاندیني فرج پرېولل فرض دي؛ ځکه د بهاندیني فرج داسي دی لکه د بهاندیني خوله چي په مخ کي د هغه پرېولل فرض دي او داخلي فرج داسي دی لکه حلق چي د هغه پرېولل فرض نه دي. (انوار الایضاح. شتاء ۲۱ رواج)

⁂

فَصْلٌ فِيْ سُنَنِ الْغُسْلِ

(دا) فصل په (بیان د) سنتونو د غسل کي دی

د غسل سنت طريقه

﴿۱۳۱﴾ يَسُنُّ فِي الْاِغْتِسَالِ اِثْنَا عَشَرَ شَيْئًا په غسل کي دوولس (۱۲) شیان سنت دي اَلْاِبْتِدَاءُ بِالتَّسْمِيَةِ (۱) په بسم الله سره شروع کول وَالنِّيَّةُ (۲) او نیت کول وَغَسْلُ الْيَدَيْنِ اِلَى الرُّسْغَيْنِ (۳) او دواړه لاسونه تر مړوندو پوري پرېولل وَغَسْلُ نَجَاسَةٍ لَوْ كَانَتْ (۴) او نجاست پرېولل که چیري (پر بدن) وو بِانْفِرَادِهَا یوازي (جلا) نجاست (د بانفرادها تعلق د غسل نجاسة سره دی، د ټوله جملې معنیٰ دا ده چي: نجاست جلا پرېولل که چیري پر بدن لګېدلی وو، یعني له اودس او غسل څخه مخکي اول نجاست پرېولل، د دې لپاره چي بیا د اوبو لګېدلو په وجه نور منتشر نه سي) وَغَسْلُ فَرْجِهٖ (۵) او د خپل شرمګاه پرېولل ثُمَّ يَتَوَضَّأُ كَوُضُوْئِهٖ لِلصَّلٰوةِ فَيُثَلِّثُ الْغَسْلَ وَيَمْسَحُ الرَّأْسَ (۶) بیا دي اودس وکړي د لمانځه د اودسه په څېر، نو درې، درې واره دي پرېولل وکړي او پر سر دي مسح وکړي (یعني د اودسه هر اندام دي درې، درې واره پرېولي او پر سر دي مسح هم وکړي. لکه څرنګه چي د لمانځه په اودسه کي کېږي) وَلٰكِنَّهٗ يُؤَخِّرُ غَسْلَ الرِّجْلَيْنِ اِنْ كَانَ يَقِفُ فِيْ مَحَلٍّ يَجْتَمِعُ فِيْهِ الْمَاءُ لیکن دئ به د پښو پرېولل ځنډوي که چیري په داسي ځای کي ولاړ وي چي په هغه کي اوبه جمع کېږي ثُمَّ يُفِيْضُ الْمَاءَ عَلٰى بَدَنِهٖ ثَلَاثًا (۷) بیا دي درې واره پر خپل بدن اوبه وبهوي (توی کړي) وَلَوِ انْغَمَسَ فِي الْمَاءِ الْجَارِيْ اَوْ مَا فِيْ حُكْمِهٖ او که دئ غوټه سي په جاري (بهېدونکو) اوبو کي یا په داسي اوبو کي کوم چي د جاري اوبو په حکم کي وي وَمَكَثَ او (څه ګړۍ پکښې) پاته سي (یعني په هغه اوبو کي د لږ ګړي لپاره درنګ وکړي) فَقَدْ

أَكْمَلَ السُّنَّةَ نو هغه سنت پوره کړی (یا په بله وینا: په داسي کولو سره سنت پوره کیږي: ځکه په غسل کي دري واره پر بدن اوبه بهول سنت دي. نو په تالاب کي چي غوټه ووهي او د څه ګړي لپاره په اوبو کي دننه ودریږي. نو په دې د دریو سنت اداء کیږي) وَيَبْتَدِئُ فِي صَبِّ الْمَاءِ بِرَأْسِهِ (٨) او د اوبو په بهولو کي دي له سر څخه شروع وکړي (اول دي پر سر اوبه توی کړي) وَيَغْسِلُ بَعْدَهَا مَنْكِبَهُ الْأَيْمَنَ ثُمَّ الْأَيْسَرَ (٩) او تر هغه وروسته دي راسته اوږه پرېولي (١٠) بیا دي چپه اوږه (پرېولي) وَيَدْلُكُ جَسَدَهٗ (١١) او خپل بدن دي مږي وَيُوَالِيْ غَسْلَهٗ (١١) او خپل پرېولل دي پرلپسې کوي (یا په بله وینا غسل دي پرلپسې کوي یعني د بدن ټوله اعضاء او اندامونه دي پرلپسې پرېولي. داسي نه چي د غسل په مینځ کي دومره ځنډ وکړي چي اندامونه یې وچ او بیا غسل شروع کړي. پرلپسې پرېولل سنت دي ا.

لغات: ﴿رُسغين﴾ تثنیه د رُسْغٌ ده: مړوند. ﴿فَرْج﴾ شرمګاه (پر قُبُل او دُبُر دواړو یې اطلاق کیږي. خو اکثره د قُبُل یعني د مخ د شرمګاه لپاره استعمالیږي). قال صاحب المصباح: وَالْفَرْجُ مِنَ الْإِنْسَانِ يُطْلَقُ عَلَى الْقُبُلِ وَالدُّبُرِ؛ لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مُنْفَرِجٌ أَيْ مُنْفَتِحٌ وَأَكْثَرُ اسْتِعْمَالِهِ فِي الْعُرْفِ فِي الْقُبُلِ. ﴿یفیض﴾ د افعال د باب مضارع ده. افاض الماء افاضةً: اوبه بهول (توېیول)، اوبه اچول. ﴿انغمس﴾ د انفعال د باب ماضي ده: غوټه کېدل، ډوبېدل. ﴿مکث﴾ د نصر د باب ماضي ده: درېدل، ځنډ کول (وخت تېرول)، درنګ کول. ﴿منکب﴾ اوږه (وږه). جمع: مناکب. ﴿یُوالِي﴾ پرله پسې کول. د کارونو په مینځ کي پرلپسې والی چي تر یوه وروسته سمدستي بل کول چي په مینځ کي یې څه ځنډ را نه سي.

تشریح: په دې عبارت کي د غسل سنت طریقه بیان سوې ده. تفصیل یې دا دی چي اول دي په زړه کي د غسل نیت وکړي (یعني په زړه کي دي دا اراده وکړي چي دا غسل د جنابت لیري کولو لپاره کوم) او بسم الله دي ووایي. دواړه لاسونه دي تر مړوندو پوري پرېولي. بیا دي شرمګاه پرېولي. برابره ده پر شرمګاه نجاست وي او که نه وي. همدارنګه پر ورنو وغیره چي کوم ځای نجاست لګېدلی وي. هغه دي پرېولي. بیا دي اودس وکړي یعني خوله او پزه دي پرېولي. بیا دي مخ او لاسونه پرېولي او مسح دي وکړي او پښې دي پرېولي. بیا دي پر ټوله بدن اوبه وبهوي په دې توګه چي په ټوله بدن کي دي یو ویښته په اندازه هم وچ ځای پاته نه سي. نو غسل پوره سو.

پر بدن د اوبو اچولو طریقه مصنف رَحِمَهُ الله دا بیان کړې ده چې اول دې پر سر اوبه واچوي، بیا دې یې په راسته اوږه او بیا په چپه اوږه باندې واچوي. دویم قول دا هم نقل سوی دی چې اول دې په راسته اوږه باندې درې واره اوبه واچوي، تر دې وروسته دې یې په چپه اوږده باندې درې واره واچوي، بیا دې په سر باندې درې واره اوبه واچوي. درېیم قول دا دی چې اول دې په راسته اوږه باندې، بیا په سر باندې، بیا درې واره په چپه اوږده باندې اوبه واچوي. او ټوله اندامونه دې ښه مږي او مسلسل پرلپسې دې پرېولي. (حلبی کبیر ج:١، ص:٥٠)

قوله ولو انغمس إلخ: که یو جنب کس په جاري اوبو کي یا په ولاړو ډېرو اوبو (ماء کثیر) کي غوټه ووهي او ټوله بدن یې لوند سي، یا په باران کي یې ټوله بدن لوند سي، نو غسل وسو. په دې شرط چې خوله هم پرېولي او پزه هم پرېولي. (حلبی کبیر ج:١، ص:٥٢، تحفة الالمعی ج:١، ص:٣٧٣)

فَصْلٌ (فِيْ آدَابِ الْاِغْتِسَالِ وَمَكْرُوْهَاتِهٖ)

(دا) فصل (د غسل د آدابو او مکروهاتو په بیان کي) دی

د غسل ادبونه او مکروهات

﴿١٣٢﴾ وَ آدَابُ الْاِغْتِسَالِ هِيَ آدَابُ الْوُضُوْءِ او د غسل کولو آداب هاغه دي کوم چې د اوداسه آداب دي إِلَّا أَنَّهٗ لَا يَسْتَقْبِلُ الْقِبْلَةَ خو دا چې غسل کوونکي دې د قبلې وطرف ته مخ نه کوي لِأَنَّهٗ يَكُوْنُ غَالِبًا مَعَ كَشْفِ الْعَوْرَةِ ځکه چې غسل زیاتره په لڅ عورت سره کیږي (یعني غالبًا د غسل کوونکي عورت لڅ وي) وَ كُرِهَ فِيْهِ مَا كُرِهَ فِي الْوُضُوْءِ او مکروه دي په غسل کي هاغه شیان کوم چې مکروه دي په اوداسه کي.

لغات: ﴿العورة﴾ د بدن هره هغه حصه کوم چې یې انسان د شرم یا کراهت پر بناء پټوي. والعورة من الرجل: ما تحت السرة منه إلى الركبة.

تشریح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمایي چې کوم شیان په اوداسه کي مستحب دي. هاغه په غسل کي هم مستحب دي چې د هغوی بیان مخکي تېر سو. خو که څوک په لڅه غسل کوي. نو د قبلې

وطرف ته دي مخ نه کوي (يا په بله وينا دا چي نور آداب دغُسل هاغه دي کوم چي داوداسه آداب دي، خو په اوداسه کي قبلې ته مخ ګرځول ادب دي لېکن په غسل کي دسړي عورت لڅ وي، نو په دې وجه دا دغسل ادب نه دي، چي په دغه حال کي سړی قبلې ته مخ کړي).

خو که هغه په لنګ وغيره کي غسل کوي يعني عورت يې پټ وي، نو بيا په استقبالُ القبله کي څه حرج نسته.

بيا صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمايي چي کوم شيان په اوداسه کي مکروه دي، هاغه په غسل کي هم مکروه دي.

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): په غسلخانه (لمباځي) کي دمتيازو کولو دوه صورتونه دي: ① يو دا چي غسلخانه د متيازو ځای وګرځول سي، يعني د کور هر فرد په غسلخانه کي متيازي (بولي) کوي، د دې بالکل اجازه نسته. ② دويم دا چي له غسل کولو څخه مخکي متيازي وو ځي، ابن المبارک رَحِمَهُ الله فرمايي چي که غسلخانه کچه وي يعني اوبه پکښې جذب کيږي، يا متيازي په نالۍ کي جمع کيږي، نو هلته متيازي کول مکروه تحريمي دي، په حديثو کي دا دهېري او وسوسې د پيدا کولو سبب بنوول سوي دي. (تحفة الالمعي ج:۱، ص:۲۳۵، در مختار مع الشامي ج:۱، ص:۳۱۸)

مسئله (۲): دغسل په شروع کي اودس کول سنت دي، لېکن که څوک اودس نه وکړي او صرف غسل وکړي، نو بيا وروسته اودس کولو ته ضرورت نه پاتيږي؛ ځکه چي ټولو اندامونو ته داوبو رسېدلو په وجه د طهارت کبریٰ تر څنګ طهارت صغریٰ هم حاصليږي، خو په داسي صورت کي دي دغسل په وخت کي داوداسه نيت هم کول کيږي چي داوداسه ثواب هم ورته حاصل سي. (شامي ج:۱، ص:۱۴۶، کتاب المسائل ص:۱۶۶)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ

(دا) فصل (د سنت غسلونو په بيان كي) دى

سنت غسلونه

﴿۱۳۳﴾ يَسُنُّ الْاِغْتِسَالُ لِأَرْبَعَةِ أَشْيَاءَ سنت دي غسل كول د څلورو شيانو لپاره صَلوٰةُ الْجُمُعَةِ وَصَلوٰةُ الْعِيْدَيْنِ (۱) د جمعي د لمانځه لپاره (۲) او د دواړو اخترونو (كوچني اختر او لوى اختر) د لمانځه لپاره وَلِلْإِحْرَامِ وَلِلْحَاجِّ فِيْ عَرَفَةَ بَعْدَ الزَّوَالِ (۳) او د احرام لپاره (۴) او د حاجي لپاره په عرفات كي تر زوال وروسته.

لغات: ﴿إِحرامٌ﴾ د حاجي جامه كوم چي پر دوو كپړو مشتمله وي چي يوه پر ځان اچول كيږي او په بلي لنګ وهل كيږي (كوم ته چي احرام تړل وايي)، أَحْرَمَ يُحْرِمُ إِحْرَامًا: د افعال د باب مصدر دى: احرام تړل.

تشريح: څلور قسمه غسلونه سنت (مسنون) دي: ① د جمعي د ورځي غسل، ② د دواړو اخترونو غسل، ③ د احرام غسل، ④ د عرفات د ورځي غسل، تفصيل يې دا دى چي د جمعي د لمانځه او د اخترونو د لمانځه لپاره غسل كول سنت دي او دغه سنت د صحيح قول مطابق هغه وخت اداء كيږي كله چي تر لمانځه مخكي غسل وكړي، او بل د حج او عمري لپاره د احرام تړلو په وخت كي غسل كول سنت دي، همدارنګه د عرفات په ميدان كي تر زوال وروسته د حاجي لپاره غسل كول سنت دي. (مراقي الفلاح ص: ۵۷)

❀ ❀ ❀

مسئله: كه چيري جمعه او اختر په يوه ورځ واقع سي او په همدې ورځ د جنابت غسل ته هم ضرورت پيښ سي، نو صرف په يوه غسل سره د جمعي او اختر دواړو سنت اداء كيږي، لېكن د ثواب د حصول لپاره د ټولو نيت كول ضروري دي. (در مختار ج: ۱، ص: ۱۵۷، ط: بيروت)

مستحب غسلونه

﴿۱۳۴﴾ وَيُنْدَبُ الْاِغْتِسَالُ لِفِيْ سِتَّةَ عَشَرَ شَيْئًا او مستحب دي غسل كول په شپاړسو (۱۶) شيانو كي لِمَنْ أَسْلَمَ طَاهِرًا (۱) د هغه كس لپاره كوم چي د پاكوالي په حالت كي اسلام

راوړي وَلِمَنْ بَلَغَ بِالسِّنِّ (۲) او د هغه کس لپاره کوم چي د عمر په اعتبار سره بالغ سي (يعني سن اعمرا يې پنځلس کاله سي اد مفتی به قول مطابق) وَلِمَنْ أَفَاقَ مِنْ جُنُوْنٍ (۳) او د هغه کس لپاره کوم چي د لېونتوب څخه روغ سي (پرسد سي) وَعِنْدَ حَجَامَةٍ (۴) او د ښکر لګولو په وخت کي (يعني تر ښکر لګولو وروسته) وغُسْلِ مَيِّتٍ (۵) او د مړي د غسل په وخت کي (يعني مړي ته تر غسل ورکولو وروسته) وَفِيْ لَيْلَةِ بَرَاءَةٍ (۶) او د برات په شپه کي (يعني د شعبان د مياشتي په پنځلسمه) وَلَيْلَةِ الْقَدْرِ إِذَا رَآهَا (۷) او د شب قدر په شپه کي کله چي هغه ووېني (په کومه شپه کي چي د شب قدر يقين وي: په سبب د کشف کېدلو. يا يې ګومان وي: په سبب د هغه آثارو. علاماتو او احاديثو کوم چي د شب قدر په هکله وارد سوي دي) وَلِدُخُوْلِ مَدِيْنَةِ النَّبِيِّ ﷺ (۸) او د نبي کريم ﷺ ښار (مديني منورې) ته د داخلېدلو لپاره (ځکه چي هغه يو مقدس او متبرک ځای دی) وَلِلْوُقُوْفِ بِمُزْدَلِفَةَ غَدَاةَ يَوْمِ النَّحْرِ (۹) او په مزدلفه کي د درېدلو لپاره د قرباني (لوی اختر) د ورځي په سهار وَعِنْدَ دُخُوْلِ مَكَّةَ (۱۰) او مکې شريفي ته د داخلېدلو په وخت کي وَلِطَوَافِ الزِّيَارَةِ (۱۱) او د طوافِ زيارت لپاره وَلِصَلٰوةِ كُسُوْفٍ (۱۲) او د لمر د ترنګي نيولو د لمانځه لپاره وَ اِسْتِسْقَاءٍ (۱۳) او د استسقاء د لمانځه لپاره وَفَزَعٍ (۱۴) او د ډېري بېري (په وخت کي. يعني زيات خوف او بېره خپره سي) وَ ظُلْمَةٍ (۱۵) او د تياري (په وخت کي. يعني د ورځي پر وطن تياره وغوړېږي او سخته تاريکه جوړه سي) وَ رِيْحٍ شَدِيْدَةٍ (۱۶) او د سخت باد (په وخت کي).

لغات: ﴿کسوف﴾ د ضرب د باب مصدر دی، د لمر ترنګي نيول. ﴿اسکسقاء﴾ د استفعال د باب مصدر دی، د باران طلب کول. ﴿فزع﴾ د فتح د باب مصدر دی، بېرېدل، ډارېدل، له خوفناکه شي څخه ترهېدل.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله مستحب غسل بيان کړی دی. فرمايي چي په شپاړس (۱۶) صورتونو کي غسل کول مستحب دي: ① د هغه کافر لپاره غسل کول مستحب دي کوم چي د ياکوالي [illegible] اسلام

راوړي، نو پر هغه غسل کول واجب دي د جنابت لیري کولو لپاره. ② همدارنګه د هغه کس لپاره غسل کول مستحب دي کوم چې بالغ سي د عمر په اعتبار سره (او د بلوغ عمر پنځلس کاله دی)، خو کوم څوک چې په مني وتلو سره بالغ سي، یا په جماع سره بالغ سي، نو پر هغه د جنابت غسل کول واجب دي، ③ د هغه کس لپاره کوم چې له لېونتوب څخه روغ سي، نو د روغتیا پر نعمت شکرتاً غسل کول مستحب دي، ④ او له بېکر لګولو څخه وروسته هم غسل کول مستحب دي. ځکه په هغه کي له بدن څخه خرابه وینه وځي، نو کېدای سي چې څه وینه یې پر بدن لګېدلې وي. ⑤ مړي ته تر غسل ورکولو وروسته د غسل ورکونکي لپاره مستحب دي چې خپله هم غسل کړي. ځکه کېدای سي چې څه څاڅکي یې پر بدن لګېدلي وي (ثمرة النجاح). ⑥ د برات په شپه غسل کول مستحب دي کوم چې د شعبان پنځلسمه شپه ده؛ دغه شپې ته د برات ویلو وجه دا ده چې په دې شپه کي الله ﷻ هر مؤمن ته (کله چې هغه حقوقِ واجبه اداء کړي وي) له جنهم څخه برائت ورکوي (د جهنم له اوره یې بري کوي) او ګناهونه یې بخښي. نو په دې شپه کي هم غسل کول مستحب دي. ⑦ د شب قدر په شپه غسل کول مستحب دي، کله چې د شب قدر یقین وي مثلاً په کشف او الهام سره ورته معلومه سي. یا د شب قدر په علاماتو سره ورته معلومه سي کوم چې په کتابو کي ذکر دي. مثلاً هغه شپه نه زیاته ګرمه وي او نه زیاته یخه وي بلکي معتدله وي او داسي نور، نو په هغې کي غسل کول او په عبادت مشغولېدل مستحب دي. ⑧ مدینې منورې ته د داخلېدلو لپاره غسل کول مستحب دي؛ ځکه دا یو مقدس او معزز ښار دی. لهذا د مدینې منورې د تعظیم او احترام او د رسول الله ﷺ په خدمت کي د حاضرېدو لپاره غسل کول مستحب دي. ⑨ په لسم د ذی الحجې یعني د لوی اختر په ورځ په مزدلفه کي د درېدلو لپاره غسل کول مستحب دي، د وقوف مزدلفه وخت د ذی الحجې په لسمه ورځ له صبح صادق څخه تر طلوع الشمس پوري دی. ⑩ مکې معظمې ته د داخلېدلو لپاره غسل کول مستحب دي؛ ځکه الله ﷻ دغه مبارک ښار ته پر ټولو ښارونو فضیلت ورکړی دی. ⑪ د طواف زیارت لپاره غسل کول مستحب دي؛ ځکه دا هم یوه اهمه موقع ده. ښکاره دي وي چې وقوف مزدلفه، طوافِ زیارت او رمی جمار (چې بیان به یې وروسته راسي) دغه درې سره په یوه ورځ اداء کول کېږي کوم چې لسمه د ذی الحجې یعني د لوی اختر ورځ ده. نو ځکه صرف په یوه غسل سره هم د دغو درېو سره ور فضیلت حاصلېږي. په دې شرط چې د ټولو نیت یې کړی وي، ⑫ د لمر د ترنځي (تندري) او د سپوږمۍ د ترنځي لپاره غسل کول مستحب دي؛ ځکه دا دواړه د الله ﷻ له سترو نښو او علاماتو څخه دي (ثمرة النجاح)؛ ⑬ د استسقاء یعني د باران طلبولو د لمانځه لپاره غسل کول مستحب دي؛ ⑭ د زیات خوف او بیري پر موقع غسل کول مستحب دي. ⑮ په ورځ کي پر وطن د تیارې او تورتم غوړېدلو په وخت کي د لمانځه لپاره غسل کول مستحب دي. ⑯ د سخت باد او دوړي په وخت کي غسل کول مستحب دي؛ برابره په ورځ کي وي او که په شپه کي؛ ځکه دا ټوله مصائب او د عذاب شیان دي او د دعاګانو وختونه دي، نو چې اکمل د طهارت سره وي. دعاګانې به اجابت ته نژدې وي.

* * *

بَابُ التَّيَمُّمِ

(دا) باب د تیمم (په بیان کي) دی

تشریح: مخکي په اوبو سره د طهارت (پاکي) حاصلولو احکام بیان سول، او س تر هغه وروسته په خاورو سره د طهارت حاصلولو احکام بیانوي، د دوی تر مینځ مناسبت په دې توګه دی چي په اوبو سره طهارت حاصلول اصل دی او په خاوره سره طهارت حاصلول یعني تیمم کول د هغه بدل (خلیفه) دی، او بدل (خلیفه) تر اصل وروسته وي، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ الله داودس تر بیان وروسته تیمم بیان کړی دی، او "مسح علی الخفین" یې بیا تر تیمم وروسته بیان کړې ده. حال دا چي هغه په اوبو سره کول کیږي، نو د دې وجه دا ده چي تیمم په قرآن سره ثابت دی او "مسح علی الخفین" په سنت سره ثابته ده. (حاشیه)

د تیمم لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د تیمم لغوي معنیٰ ده: "مطلقاً اراده کول" او د شریعت په اصطلاح کي د تیمم معنیٰ ده: مخ او دواړه لاسونه په پاکي خاوري سره مسح کول د شرعي قاعدې مطابق د طهارت په نیت سره. (مراقی الفلاح ص: ۶۰)

تیمم د اُمتِ محمدیه خصوصیت دی: تیمم صرف د دې اُمت خصوصیت دي، په پخوانیو اُمتونو کي طهارت او پاکي فقط په اوبو سره حاصلېدله. لیکن اُمتِ محمّدیه چي څرنګه الله تعالیٰ په نورو خصوصي انعاماتو سره نازولی دی، له هغوی څخه یې یو انعام دا هم ورکړی دی چي د دوی لپاره یې خاوره هم د پاکۍ ذریعه ګرځولې ده. (بخاري شریف، حدیث رقم: ۳۳۵، کتاب المسائل ص: ۱۷۳)

د تیمّم صحیح کېدلو شرطونه

﴿۱۲۵﴾ يَصِحُّ بِشُرُوْطٍ ثَمَانِيَةٍ تیمم په اته (۸) شرطونو سره صحیح کیږي اَلْأَوَّلُ النِّيَّةُ

(۱) اول شرط نیت دی وَحَقِيْقَتُهَا عَقْدُ الْقَلْبِ عَلَى الْفِعْلِ او د نیت حقیقت (تعریف) د زړه اراده کول دي د یو کار پر کولو (یا په بله وینا: د زړه خوټه کول اتینګه اراده کول دي په یو کار باندي) وَوَقْتُهَا عِنْدَ ضَرْبِ يَدِهٖ عَلٰى مَا يَتَيَمَّمُ بِهٖ او د نیت کولو وخت د لاس وهلو وخت دی پر هغه شي په کوم سره چي تیمم کوي (یعني کله چي پر خاوره یا داسي بل شي لاسونه ووهي، نو په دې وخت کي دي د تیمم نیت کول کیږي).

تشریح: د تیمم صحیح کېدلو ته شرطونه دي: اول شرط نیت دی چي د ناپاکي لیري کېدلو نیت به کوي، بغیر له نیته تیمم نه صحیح کیږي او د نیت حقیقت دا دی چي انسان په زړه کي د یو کار کولو پخه اراده وکړي، مثلاً په تیمم کي دي په زړه کي دا اراده وکړي چي زه د بې اودسۍ یا جنابت لیري کولو لپاره. یا د لمانځه روا کولو لپاره تیمم کوم، د نیت لپاره څه خاص الفاظ ثابت او منقول نه دي، همدارنګه دا اراده په ژبه سره کول ضروري نه دي، خو بیا هم که زړه او ژبه دواړه سره جمع کړي، نو غوره ده.

ورقتها إلخ: د تیمم نیت به کله کوي؟ نو فرمایي چي کله پر خاوره وغیره د تیمم لپاره لاس ونه وهي، هغه وخت دي نیت وکړي.

د نیت صحیح کېدلو شرطونه

﴿۱۳۶﴾ وَ شُرُوْطُ صِحَّةِ النِّيَّةِ ثَلَاثَةٌ او د نیت د صحیح کېدلو درې شرطونه دي اَلْإِسْلَامُ ① اسلام (مسلمان کېدل) وَالتَّمْيِيْزُ ② تمییز (د ښه او بد تر مینځ توپیر. یعني پوه کېدل) وَالْعِلْمُ بِمَا يَنْوِيْهِ ③ او علم (پوهېدل) په هغه څه د کوم چي نیت کوي (یا په بله وینا: په نیت پوهېدل).

تشریح: د تیمم د نیت صحیح کېدلو لپاره درې شرطونه دي چي له هغوی څخه بغیر نیت نه صحیح کیږي: ① اول شرط دا دی چي نیت کونکی به مسلمان وي، ؛ لهذا که کافر د مسلمان کېدلو په نیت سره تیمم وکړي او مسلمان سي، نو په دې تیمم سره لمونځ نه سي کولای؛ ځکه کوم وخت چي ده تیمم کړی دی، په هغه وخت کي دئ د نیت اهل نه وو.

② دویم شرط تمییز او پوهه ده. یعني څه چي وایي په هغه به پوهیږي (په خپل کلام به پوهیږي).

③ درېیم شرط دا دی چي د کوم شي نیت کوي په هغه به علم او خبر لري. یعني دئ به په دې خبره هم علم لري او پوهیږي چي زه د کوم شي لپاره تیمم کوم، لهذا که نیت په عربي الفاظو سره اداء کړي او په مطلب یې پوه نه سي، نو هغه الفاظو ته اعتبار نسته. (ایضاح الاصباح)

د تیمم د نیت نور وضاحت

﴿۱۳۷﴾ وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ نِيَّةِ التَّيَمُّمِ لِلصَّلٰوةِ بِهٖ أَحَدُ ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ او په تیمم سره د لمونځ کولو د نیت صحیح کېدلو لپاره یو د دریو شیانو شرط دي (یا په بله وینا د لمانځه د تیمم (یعني په کوم تیمم سره چي لمونځ کول کیږي) د هغه د نیت صحیح کېدلو لپاره دا شرط دي چي له دریو شیانو څخه به یو وي) إِمَّا نِيَّةُ الطَّهَارَةِ ① یا به د طهارت (پاکۍ) نیت وي أَوْ اِسْتِبَاحَةِ الصَّلٰوةِ ② یا به د لمانځه د روا

کولو نیت وي (چي په دې تیمم سره د لمونځ د روا کېدو اجازه نیت کوم) أَوْ نِيَّةُ عِبَادَةٍ مَقْصُوْدَةٍ لَا تَصِحُّ بِدُوْنِ طَهَارَةٍ ③ یا به د داسي عبادتِ مقصوده نیت وي کوم چي بېله طهارته نه صحیح کیږي فَلَا يُصَلِّيْ بِهٖ إِذَا نَوَى التَّيَمُّمَ فَقَطْ نو په دې تیمم سره لمونځ نه سي کولای کله چي یې فقط د تیمم نیت (یکښي) کړی وي أَوْ نَوَاهُ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَلَمْ يَكُنْ جُنُبًا یا یې د تیمم نیت د قرآن لوستلو لپاره کړی وي په داسي حال کي چي جنب نه وي (نو په دې تیمم سره هم لمونځ نه سي کولای).

تشریح: د تیمم نیت هغه وخت صحیح کیږي یا په بله ویناهغه وخت په تیمم سره لمونځ اداء کولای سي کله چي په تیمم کي د لاندینیو دریو نیتونو څخه یو نیت وکړي:

① د پاکي حاصولو نیت، مثلاً داسي نیت وکړي چي: "زه د پاکي حاصلولو لپاره تیمم کوم"، اوس په دې تیمم سره لمونځ صحیح کیږي.

② یا د لمونځ روا کولو نیت، مثلاً: "زه د لمانځه د روا کولو (مباح کولو) لپاره تیمم کوم"، نو په دې تیمم سره لمونځ صحیح کیږي.

③ یا د داسي عبادت مقصوده نیت کوم چي بغیر له طهارت څخه نه صحیح کیږي، مثلاً د جنازې د لمانځه یا د سجدهٔ تلاوت په نیت سره تیمم وکړي، نو په دې تیمم سره فرضي لمونځ کول صحیح دي.

فلا يصلی الخ: لهذا که څوک صرف د تیمم نیت وکړي په دې شرط چي هغه جنب نه وي مثلاً صرف داسي ووایي چي "زه تیمم کوم"، نو په دې تیمم سره لمونځ نه سي کولای؛ ځکه چي له مذکوره دریو شیانو څخه یې د یوه شي نیت هم نه دی کړی.

فایده: عبادتِ مقصوده هغه عبادت دی چي هغه صرف د ثواب او الهي رضا لپاره مشروع سوی وي، د یو بل عبادت اداء کولو لپاره مشروع نه وي، لکه لمونځ، سجدهٔ تلاوت او داسي نور عبادات مقصوده دي، په خلاف د قرآن مجید مسه کولو چي په هغه سره صرف ثواب مقصود نه دی، بلکي په هغه سره بل عبادت اداء کول هم مقصود دي چي هغه تلاوت دی، لهذا که څوک د قرآن د مسه کولو لپاره تیمم وکړي نو په دې تیمم سره لمونځ نه صحیح کیږي؛ ځکه چي دا عبادتِ مقصوده نه دی. خلاصه دا چي عبادت به بالذات مقصود وي، د بل عبادت لپاره به وسیله نه وي. او د عبادتِ مقصوده سره یې د "لا تصح الخ" قید هم لګولی دی یعني هغه عبادتِ مقصوده به داسي وي کوم چي له طهارت څخه بغیر نه صحیح کیږي لکه لمونځ، سجدهٔ تلاوت او داسي نور.

او کوم عبادت مقصوده چي له طهارت څخه بغیر صحیح کیږي. هغه لکه د قرآن شریف زباني قرائت یا په بله وینا قرآن په یاده ویل (حفظا تلاوت کول). لهذا که څوک د زباني قرائت په نیت سره اودس وکړي چي قرآن شریف په یاده ووایي، نو په دې تیمم سره لمونځ نه صحیح کیږي.

ولم یکن جنبًا إلخ: د دغه قید فایده دا ده چي که هغه جنب وي، نو بیا خو په تیمم سره د هغه نیت د طهارت نیت وي (یعني په تیمم سره د ځان د طهارت نیت کوي. ځکه ناپاکه کس اول د خپل ځان د طهارت او پاکېدلو نیت کوي) او کوم تیمم چي د طهارت په نیت سره ووهل سي، په هغه سره لمونځ صحیح کیږي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

تیمّم کله جائز دی؟

﴿۱۳۸﴾ اَلثَّانِیْ الْعُذْرُ الْمُبِیْحُ لِلتَّیَمُّمِ (د تیمم صحیح کېدلو پاره) دوېم شرط هغه عذر دی کوم چي د تیمم مباح کونکی وي کَبُعْدِهٖ مِیْلًا عَنْ مَاءٍ وَلَوْفِی الْمِصْرِ لکه یو څوک له اوبو څخه یو میل لیري کېدل، که څه هم په ښار کي وي وَحُصُوْلِ مَرَضٍ او مرض موجودېدل (مریض کېدل) وَبَرْدٍ یُخَافُ مِنْهُ التَّلَفُ أَوِ الْمَرَضُ او (یا) داسي یخ موجودېدل چي له هغه څخه د هلاکېدلو (ضایع کېدلو) یا مریض کېدلو بېره وي وَخَوْفِ عَدُوٍّ وَعَطَشٍ او (یا لکه) د دښمن او تندي بېره وَاحْتِیَاجٍ لِعَجَنٍ لَا لِطَبْخِ مَرَقٍ او (لکه) داوړو خیشتولو (اخښلو) ضرورت، نه د ښوروا پخولو ضرورت وَلِفَقْدِ آلَةٍ او (لکه) د آلې (سولاغې او رسۍ) د نیستي والي (نه موجودېدلو) په وجه.

لغات: ﴿بَرْد﴾ یخ، یخني، ﴿عطش﴾ د سمع له بابه اسم مصدر دی: تنده، عَطِشَ یَعْطَشُ عَطَشًا: تږی کېدل. اوبو ته زړه کېدل. ﴿میل﴾ میل پر دوه قسمه دی، ① شرعي ② انګریزي. شرعي میل د ارسني ګزونو په حساب سره دوه زره (۲۰۰۰) ګزه کیږي او د کیلو متر په حساب سره یو کیلو متر او ۶۱۰ میتره کیږي او د میتر په حساب سره ۶۹. ۱۸۲۸ میتره کیږي، او د مینځوي ګامونو په اعتبار سره څلور زره ۴۰۰۰ ګامه کیږي، او انګریزي میل ۱۷۶۹ ګزه کیږي، نو انګریزي میل تر شرعي میل کوچنی دی او دلته شرعي میل مراد دی. نو که اوبه دوه زره ګزه یعني ۱۸۲۸ میتره لیري وي، نو بیا تیمم کولای سي

﴿مرق﴾ ښوروا (شوربا).

تشریح: د تیمم صحیح کېدلو دویم شرط دا دی چې انسان ته داسې عذر پېښ سي چې د هغه په وجه ده ته تیمم کول روا سي، مصنف رَحِمَهُ الله ټوله اووه (۷) عذرونه بیان کړي دي:

① اوبه یو میل لیرې کېدل. لهذا که د چا سره دومره اوبه نه وي کوم چې د بې اودسیا لیرې کولو لپاره کافي وي او د هغه کس او اوبو ترمینځ یو میل فاصله وي، برابره ده په ښار او آبادۍ کې وي یا له ښار څخه بهر وي، نو د داسې کس لپاره تیمم کول جائز دي؛ ځکه اوبه یو میل لیرې کېدل داسې عذر دی کوم چې د تیمم روا کونکی دی.

② وحصول مرض إلخ: که د چا سره کافي اوبه خو وي، لېکن هغه مریض وي او له اوبو څخه د مرض زیاتېدلو خطره وي (چې که اوبه استعمال کړي، نور به مریض سي)، نو په داسې صورت کې هم تیمم کول جائز دي، او له "وَبَرْدٍ يَخَافُ..." څخه چې کومه مسئله بیان سوې ده، هغه د جنب سره متعلق ده، نه د بې اودسه (محدث) سره، مسئله دا ده چې که جنب کس ته دا وېره وي چې د غسل کولو په وجه به د هغه یو اندام تلف او ضایع سي یا مریض به سي، نو د هغه لپاره تیمم کول جائز دي، لهذا که بې اودسه کس ته کوم چې روغ وي دا وېره وي چې که اودس وکړم، مریض به سم، نو د هغه لپاره تیمم جائز نه دی، همدا صحیح ده او پر همدې فتویٰ ده (او د مرض زیاتېدلو په باره کې د مریض خپله رایه هم معتبره ده یعني که هغه ته په خپل تجربه یا ظن غالب سره واقعي د مرض زیاتېدلو خطره وي، نو د هغه لپاره تیمم کول جائز دي). (حاشیه، شفاء الارواح، انوار الایضاح)

③ وخوف عدو إلخ: درېیم عذر د دښمن وېره او د تندي وېره ده او دا له دښمن څخه وېره پر خپل ځان وي او که پر خپل مال وي، یا په بله وینا دا چې اوبه داسې خطرناکه ځای وي چې که هلته انسان ولاړ سي نو د هلاکت یا سخت نقصان خطره وي مثلاً هلته یو دښمن ناست وي یا سخت اور پکښې بل وي یا هلته مار وغیره وي، یا مثلاً سړی داسې ځای وي چې که له هغه څخه لیرې سي بل ځای ته ولاړ سي، نو د مال ضایع کېدلو یې خطره وي، نو په دې صورتونو کې د هغه لپاره تیمم جائز دی.

وعطش: یا د تندي وېره وي، یعني اوبه صرف د چښلو لپاره کافي وي، خو که په هغوی سره اودس یا غسل وکړي، نو دا خطره وي چې هغه یا حیوان وغیره به یې له تندي څخه مړه سي.

④ واحتیاج لعجن إلخ: یعني اوبه دومره کمې وي چې که په هغوی سره اودس یا غسل وکړي، نو بیا د اوړو د خیشتولو او اخښلو لپاره اوبه نه پاتېږي، نو په داسې صورت کې دې هم اودس نه کوي بلکې تیمم دې وکړي، لېکن د ښوروا پخولو د ضرورت په وخت کې تیمم جائز نه دی؛ ځکه د غوښو د پخولو لپاره بله طریقه هم سته چې هغه کباب دي، لېکن د اوړو د پخولو لپاره بله طریقه نسته بغیر له خیشتولو او اخښلو څخه. (ایضاح الاصباح)

⑤ ولفقد آلة: يعني كه داوبو راكښلو سامان نه وي، نو په دې صورت كې هم تيمم كول جائز دي، مثلاً مسافر يو ځاه ته ورسيږي، خو هلته رسۍ او سولاغه نه وي او نه ځاه ته د ښوه كېدلو همت وي، نو د هغه لپاره تيمم جائز دى.

❀ ❀ ❀

د قيدي (بندي) لپاره د تيمّم حكم

مسئله (۱): كه په بنديخانه كې قيدي كس د اُوبو پر حصول قادر نه وي، نو د هغه لپاره حكم دا دى چې فى الحاله دې تيمم وكړي، خپل لمونځ دې وكړي او له خلاصون څخه وروسته دې په اوداسه هغه لمونځ راوګرځوي، همدا حكم د هر هغه كس لپاره دى كوم چې ناځاپه په خونه وغيره كې بند كړى سي. (كتاب المسائل ص: ۱۷۶، امداد الفتاوىٰ ج۱، ص۷۲)

په رېل ګاډۍ (اور ګاډۍ) كې د تيمّم حكم

مسئله (۲): كه په رېل ګاډۍ كې اوبه بالكل نه وي او په كوم تم ځاى (سټېشن) كې چې اوبه وي، هغه دومره ليري وي چې هلته په رسېدلو سره د لمونځ قضا كېدلو بېره وي، يا دا بېره وي چې كه زه پر تم ځاى (سټېشن) اوبه پيدا كوم او بيا اودس كوم، نو رېل ګاډۍ به را څخه ولاړه سي. نو د داسې مسافر لپاره تيمم كول جائز دي، او كه په رېل ګاډۍ كې دننه اوبه وي، لېكن درش وغيره په وجه اودس نه سي كولاى، نو هغه دې په تيمم سره لمونځ وكړي، خو وروسته يې قضاء راوړل لازم دي. (احسن الفتاوىٰ ج:۱، ص:۵۵)

د غسل تيمّم د اودس لپاره كافي دى

مسئله (۳): جنب كس چې د غسل په نيت سره كوم تيمم وكړي، هغه تيمم د اودس لپاره هم كافي دى، لهٰذا كه د دې جنب سره دومره اوبه وي چې په هغوى سره اودس كېدلاى سي، نو په هغوى سره اودس كول ضروري نه دي، ها! كه تر دې وروسته يې اودس مات سي، نو بيا به اودس كوي؛ ځكه دئ د اوداسه په اوبو باندي قادر دى. (شامي ج۱، ص۲۵۱، احسن الفتاوىٰ ج۱، ص:۵۶)

د كومو لمنځونو لپاره د تيمّم خصوصي اجازه سته

﴿۱۳۹﴾ وَخَوْفِ فَوْتِ صَلٰوةِ جَنَازَةٍ أَوْعِيْدٍ او (بل عذر لكه) د جنازې يا اختر د لمانځه د فوتېدلو بېره وَلَوْبِنَاءً كه څه هم د بناء كولو لپاره وي وَلَيْسَ مِنَ الْعُذْرِ خَوْفُ الْجُمُعَةِ وَالْوَقْتِ او د جمعې (فوتېدلو) بېره او د وخت (ختمېدلو) بېره عذر نه دى.

تشريح: ⑥، ⑦ كله چې جنازه حاضره سي او دا بېره وي چې كه په اوداسه لګيا سم، نو د جنازې لمونځ به را څخه تېر سي، همدارنګه كه د اختر لمونځ ودرېږي او دا بېره وي چې كه په اوداسه لګيا

سم، د اختر لمونځ به را څخه تېر سي، نو هغه ته د تیمم کولو اجازه سته چي تیمم وکړي او په لمانځه کي شرکت وکړي.

ولو بناءً: د "بناء" مطلب دا دی چي د لمانځه کومه حصه چي یې مخکي اداء کړې ده، پاته لمونځ پر هغه بناء کړي (یا په بله وینا دا چي د پاته حصې بنیاد پر هغه کښېږدي)، تفصیل یې دا دی چي که سړی په اوداسه سره د جنازې یا د اختر لمونځ شروع کړي، خو د لمانځه په مینځ کي بې اودسه سي او اوس هغه ته دا بېره وي چي که په اوداسه لګیا سم، نو د جنازې یا اختر لمونځ به را څخه تېر سي، نو اوس د هغه لپاره جائز دي چي تیمم وکړي او پاته لمانځه په تیمم سره پوره کړي یا په بله وینا دا چي پر پاته لمانځه په تیمم سره بناء وکړي، که څه هم دا تیمم د بناء کولو لپاره دی او که څه هم دا بناء پر اوداسه والا لمانځه ده (دا حکم د امام صاحب رَحِمَهُ‌الله په نېز دی او د صاحبینو رَحِمَهُمَاالله په نېز د هغه لپاره تیمم جائز نه دی. خو که چا له شروع څخه د جنازې یا اختر لمونځ په تیمم سره شروع کړی وي او بیا د لمانځه په دوران کي بې اودسه سي، نو بېله اختلافه په تیمم سره بناء کول جائز دي). (حاشیه. انوار الایضاح)

❀ ❀ ❀

د وقت د تنګۍ په وجه د تیمّم حکم

مسئله: که یو لمونځ له چا څخه دومره وځنډېږي چي هغه ته دا بېره سي چي که اوس اودس کوم، نو د لمانځه وخت به ووځي، او دومره وخت وي چي په تیمم سره هغه لمونځ اداء کېدلای سي، نو د امام زفر رَحِمَهُ‌الله په نېز حکم دا دی چي په هغه وخت کي دي په تیمم سره لمونځ وکړي، بیا دي وروسته په اوداسه سره هغه لمونځ راوګرځوي، احتیاطاً پر همدې فتویٰ ده. (شامي ج:۱. ص:۳۶۶. ط: بیروت)

پر کومو شیانو تیمّم جائز دی؟

﴿۱۴۰﴾ اَلثَّالِثُ أَنْ یَّکُوْنَ التَّیَمُّمُ بِطَاهِرٍ مِنْ جِنْسِ الْأَرْضِ (۳) (د تیمم صحیح کېدو لپاره) درېیم شرط دا دی چي تیمم په داسي پاک شي باندي (وهل سوی) وي کوم چي د ځمکي له جنس څخه وي کَالتُّرَابِ وَالْحَجَرِ وَالرَّمَلِ لکه خاوره، ډبره او ریګ لَا الْحَطَبِ وَالْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ نه لرګی (بوټي)، سپین او سره زر.

لغات: ﴿تراب﴾ خاوره، جمع: أَتْرِبَة وتُرْبَانٌ. ﴿رمل﴾ ریګ، جمع: رِمَال. ﴿حطب﴾ د سوځلو لرګي، بوټي، جمع: أَحْطَابٌ.

تشريح: د تيمم د صحيح کېدلو درېيم شرط دا دی چي تيمم په پاک شي سره وي، دلته طاهر د طهور (پاکونکي) په معنیٰ سره دی يعني هغه به پاکونکی شی وي، نو مثلاً که ځمکه مرداره سي بيا وچه سي او د نجاست (مرداری) اثر يې ولاړ سي، نو هغه ځمکه خو پاکه سوه او پر هغې لمونځ صحيح دی لېکن تيمم باندي صحيح نه دی؛ ځکه هغه پاکونکې نه ده.

او بله خبره دا ده چي هغه شی به د ځمکي له جنس څخه وي، بيا تيمم کول باندي جائز دي، او د هغه علامت دا دی چي کوم شی د ځمکي له جنس څخه وي، هغه په سوځولو سره نه ايره کيږي، همدارنګه په سوځولو سره نه ويلي کيږي او په ځمکه کي چي واچول سي نو ځمکه هغه نه خوري، لکه ډبره، رېګ، خاوره وغيره، دغه شيان نه ويلي کيږي او نه ايره کول کيږي او نه ځمکه دوی خوري، لهذا پر لرګي تيمم جائز نه دی؛ ځکه هغه سوځي، ايره کيږي، همدارنګه پر سرو او سپينو زرو تيمم صحيح نه دی؛ ځکه هغوی په اُور سره ويلي کيږي او نرمېږي، همدارنګه پر غنمو او پر داسي نور دانو او مېوو باندي تيمم نه صحيح کيږي؛ ځکه ځمکه هغوی خوري.

✿ ✿ ✿

پر ګرز (ګرد) د تيمم حکم

مسئله (۱): که پر اوسپنه يا پر لرګي وغيره باندي دومره ګرز پروت وي چي پر هغوی په لاس تېرولو سره د ګرز اثر ښکاره سي، نو پر هغوی هم تيمم صحيح دی. (شامي ج:۱. ص:۳۶۱. ط: بيروت. کتاب المسائل ص: ۱۸۰)

پر سمبټي دېوال او داسي بل شي باندي د تيمم حکم

مسئله (۲): سېميټ، ډبره، ګچ دا ټوله د ځمکي له جنس څخه دي، لهذا که هغوی پاک وي، نو تيمم باندي جائز دی، که څه هم پر هغوی ګرز نه وي. (الفتاوی التاتارخانيه ج:۱. ص: ۳۷۴. مسئله: ۷۹۶. بحواله انوار الايضاح)

د تيمّم طريقه

﴿۱۲۱﴾ اَلرَّابِعُ اِسْتِيْعَابُ الْمَحَلِّ بِالْمَسْحِ (۴) څلورم شرط پوره نيول دي (د مسح) د محل په مسح سره (يا په بله وينا په مسح سره کښې ايستل، يعني د مسح پر ځای پوره مسح کول).

لغات: ﴿استيعاب﴾ په پوره توګه اخيستل، پوره نيول، راګېرول، احاطه کول، کښې ايستل.

صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی: الاستيعاب: الأخذ بالشئ كله. يقال استيعاب العضو بالمسح: يعني مسحه كله أجمع (معجم لغة الفقهاء)، ﴿المحل﴾ ځای، د مسح له ځای څخه مراد مخ او دواړه لاسونه تر څنګلو پوري دي.

تشریح: په دې عبارت کې د تیمم صحیح کېدلو څلورم شرط بیانوي چې هغه استیعاب دی یعني داسې مسح به کوي چې هیڅ ځای پاتې نه سي، که د یوه ورېښته په اندازه ځای هم له مسح څخه پاتې سي، نو تیمم نه صحیح کیږي، لهذا که ګوتمۍ یې په ګوته وي، یا یې بنګړي وغیره په لاس کې وي، نو هغه دې وکاږي یا حرکت دې ورکړي یوې او بلې خوا ته چې تر هغه لاندې ځای هم مسح کړي او ګوتې دې خلال کړي او خپل ټوله مخ دې مسح کړي او د ږیرې هغه ورېښتان کوم چې پر مخ دي، نه هغه ورېښتان کوم چې لاندې ځړېدلي دي، همدارنګه کوم ځای چې د غوږونو او ږیرې تر مینځ دي، د هغه مسح هم ضروري ده. د بعضي علماؤ په نېز د مخ او لاسونو پر اکثره حصه مسح کول کافي دي، لهذا که ټوله مخ او ټوله لاسونه مسح نه کړي بلکې مثلاً یو ثُلث (دریمه حصه) پکښې پرېږدي، نو هم د دوی په نېز تیمم صحیح دی، لېکن اول قول د ظاهر روایت مطابق دی. (حاشیه شفاء الارواح)

په ټوله یا اکثره لاس سره مسح کول، نه په دوو ګوتو سره او د سر د مسح او د تیمم د مسح تر مینځ فرق

﴿١٢٣﴾ اَلْخَامِسُ اَنْ يَّمْسَحَ بِجَمِيْعِ الْيَدِ اَوْ بِاَكْثَرِهَا (٥) پنځم شرط دا دی چې په ټوله لاس یا د لاس په اکثره حصه سره مسح وکړي حَتّٰى لَوْ مَسَحَ بِاِصْبَعَيْنِ تر دې چې که په دوو ګوتو سره مسح وکړي لَايَجُوْزُ نو جائز نه دي وَلَوْ كَرَّرَ حَتّٰى اِسْتَوْعَبَ که څه هم (په دوو ګوتو سره) مسح دومره مکرّره کړي (بار، بارې وکړي) چې محل پوره ونیسي (یعني د مسح پر ټوله ځای پوره مسح وسي او لاس پر تېر سي) بِخِلَافِ مَسْحِ الرَّأْسِ په خلاف د سر د مسح.

تشریح: د تیمم صحیح کېدلو پنځم شرط دا دی چې مسح په ټوله لاس یا د لاس په اکثر حصه سره وکړي، د اکثر مطلب دا دی چې په دریو ګوتو یا زیاتو سره مسح وکړي، په یوه یا دوو ګوتو سره مسح صحیح نه ده. لهذا که په دوو ګوتو سره داسې مسح وکړي چې پر ټوله اندام یې وګرځوي، نو بیا هم مسح نه صحیح کیږي؛ ځکه په ټوله لاس یا د هغه په اکثره حصه سره مسح کول شرط دي، په خلاف د سر د مسح کولو یعني د سر د مسح حکم له تیمم څخه جلا دی، ځکه که څوک په دوو ګوتو سره د سر مسح وکړي تر دې چې د سر د څلورمې حصې په اندازه په دوو ګوتو سره مسح کړي، نو دا مسح صحیح ده. (شفاء الارواح)

د تيمم د نورو شرطونو بيان

﴿١٤٣﴾ اَلسَّادِسُ أَنْ يَّكُوْنَ بِضَرْبَتَيْنِ بِبَاطِنِ الْكَفَّيْنِ (٦) شپږم شرط دا دی چې تيمم به په دوو ضربونو (يعنې په دوه واره لاس وهلو) سره وي د دواړو ورغوو په نس (مخ) سره وَلَوْ فِيْ مَكَانٍ وَاحِدٍ كه څه هم په يوه ځای کې وي (يعنې كه څه هم دواړه ضربونه پر يوه ځای ووهي) وَ يَقُوْمُ مَقَامَ الضَّرْبَتَيْنِ إِصَابَةُ التُّرَابِ بِجَسَدِهٖ او پر بدن خاوره لګېدل (هم) د دوو ضربونو قائم مقام کيږي إِذَا مَسَحَهٗ بِنِيَّةِ التَّيَمُّمِ كله چې هغه د تيمم په نيت سره (پر بدن) مسح کړي (يعنې كه پر بدن خاوره اوږي ګرزا ولوېږي او د تيمم په نيت سره هغه پر بدن ومږي. نو داسې كول هم د دوو ضربونو قائم مقام کيږي).

لغات: ﴿ضربتين﴾ تثنيه د "ضَرْبَةٌ" ده، د "ضَرْبَةٌ" معنیٰ ده: يو وار لاسونه پر ځمكه وهل.

يكون: د دې ضمير تيمم ته راجع دی، ولو: تر دې وروسته فعل ناقص (كَانَ) او د هغه اسم محذوف دی، اصل عبارت داسې دی: ولوكان الضربتان في مكان واحد، مسحه: د دې ضمير مفعول د تُراب وطرف ته راجع دی.

تشريح: د تيمم صحيح كېدلو شپږم شرط دا دی چې دوه واره به پر ځمكه لاس وهي، په يوه ضرب سره به مخ مسح كوي او په دويم ضرب سره به دواړه لاسونه تر څنګلو پورې مسح كوي، لهذا كه صرف په يوه ضرب سره دواړه اندامونه مسح كړي، نو تيمم نه صحيح كيږي.

باطن الكفين: يعنې دواړه ضربونه به د دواړو ورغوو په دننۍ حصه سره وي او دا سنت دي او كه د ورغوو په ظاهري پورتنۍ حصه سره وي، نو هم كافي دي. (حاشيه شرح وقايه)

ولوفي مكان واحد: همدارنګه دواړه ضربونه كه صرف پر يوه ځای وي يعنې دواړه واره لاسونه صرف پر يوه ځای ووهل سي، نو هم كافي دي؛ ځكه په تيمم كولو سره خاوره مستعمله نه ګرځي.

ويقوم مقام الخ: يعنې كه څوک په خاوره کې لت پت سي او پر مخ او لاسونو يې خاوره ولګېږي او هغه د تيمم په نيت سره پر مخ او لاسونو لاس وګرځوي، نو د هغه تيمم صحيح كيږي او دا د تيمم په نيت سره لاس ګرځول د دوو ضربونو قائم مقام كيږي.

﴿١٤٤﴾ اَلسَّابِعُ اِنْقِطَاعُ مَا يُنَافِيْهِ مِنْ حَيْضٍ أَوْ نِفَاسٍ أَوْ حَدَثٍ (٧) اووم شرط منقطع كېدل (ختمېدل) دي (د تيمم په وخت کې) د هغه شيانو كوم چې د تيمم منافي (مخالف) دي يعنې

حیض یا نفاس یا بې اودسیا (یعني د تیمم کولو په دوران کې به د تیمم منافي شیان لکه حیض، نفاس او بې اودسي جاري نه وي).

تشریح: یعني څرنګه چې د اوداسه د صحیح کېدو لپاره دا شرط دی چې د اوداسه په دوران کې به د اودس منافي شی یعني حیض، نفاس او بې اودسیا (مثلاً د متیازو څاڅکي) نه وي، نو همداسي د تیمم د صحیح کېدو لپاره هم دا شرط دی، لهذا که د حیض، نفاس یا حدث په موجودیت کې څوک تیمم وکړي، نو تیمم یې نه صحیح کیږي.

﴿۱۳۵﴾ اَلثَّامِنُ زَوَالُ مَا يَمْنَعُ الْمَسْحَ كَشَمْعٍ وَشَحْمٍ (۸) اتم شرط زائلېدل (لیري کېدل) دي د هغه شیانو کوم چې مسح منع کوي لکه موم (شمه) او وازګه.

تشریح: اتم شرط دا دی چې د مسح پر اندامونو (مخ او لاسونو) به څه داسي شی نه وي کوم چې مسحې لره منع کونکي وي، لکه وازګه، موم او داسي نور، د مسح کولو په وخت کې د دې شیانو لیري کول ضروري دي؛ ځکه که لیري نه کړل سي، نو مسح به پر دوی راسي، نه پر بدن، لهذا پاکي به حاصله نه سي.

﴿۱۳۶﴾ وَسَبَبُهُ وَشُرُوطُ وُجُوبِهِ كَمَا ذُكِرَ فِي الْوُضُوْءِ او د تیمم سبب او د تیمم د واجبېدلو شرطونو هاغه دي کوم چې په (بیان د) اوداسه کې ذکر سول وَرُكْنَاهُ مَسْحُ الْيَدَيْنِ وَالْوَجْهِ او د تیمم دوه رکنه (دي) دواړه لاسونه او مخ مسح کول.

تشریح: د اودسه لپاره چې کوم اسباب او شرطونه ذکر سول (کوم چې په فصل في الوضوء کې تېر سول). هاغه اسباب او شرطونه د تیمم لپاره هم دي، او د تیمم ارکان دوه دي: ① پر توله مخ لاس تېرول. ② تر څنګلو پوري دواړه لاسونه مسح کول.

د تیمم سنتونه

﴿۱۳۰﴾ وَسُنَنُ التَّيَمُّمِ سَبْعَةٌ او د تیمم سنتونه اووه دي اَلتَّسْمِيَةُ فِي أَوَّلِهِ (۱) د تیمم په شروع کې بسم الله ویل وَالتَّرْتِيْبُ (۲) او ترتیب (په ترتیب سره تیمم کول) وَالْمُوَالَاةُ (۳) لو پرلپسې والی (یعني د تیمم اندامونه پرلپسې ابېدعندا مسح کول) وَإِقْبَالُ الْيَدَيْنِ بَعْدَ وَضْعِهِمَا فِي التُّرَابِ (۲) دواړه لاسونه په خاوره کې تر اېښوولو وروسته مخ ته بېول (مخ ته کښول) د

إِدْبَارُهُمَا (۵) او (بیا) شا ته راوستل وَنَفْضُهُمَا (۶) او دواړه لاسونه څنډل وَ تَفْرِيْجُ الْأَصَابِعِ (۷) او ګوتي خلاصي (پراخي) ساتل.

لغات: ﴿اقبال﴾ او ﴿ادبار﴾ دواړه د افعال د باب مصدرونه دي: مخته کول او شا ته کول. ﴿نفض﴾ د نصر د باب مصدر دی: څنډل، ښوروول چي ګرز ځني لیري سي.

تشریح: په دې عبارت کي د تیمم سنتونه بیانوي کوم چي اووه (۷) سنتونه دي: ① د تیمم په شروع کي بسم الله ویل، ② ترتیب، یعني اول مخ مسح کول، بیا دواړه لاسونه تر څنګلو پوري مسح کول. ③ پرلپسې (مسلسل) کول، یعني د تیمم په مینځ کي توقف نه کول، مثلاً داسي دي نه کوي چي د مخ تر مسح کولو وروسته په یو شي مشغوله سي او څه ګړی وروسته لاسونه مسح کړي، دا د سنت خلاف دي، ④ په خاوره کي د لاسونو د اېښوولو پر مهال هغوی مخ ته کښول ⑤ او بیا د شا طرف ته کښول. ⑥ دواړه لاسونه څنډل، یعني کله چي له خاوري څخه لاسونه را پورته کړي، نو دواړه دي سره وڅنډي، طریقه یې دا ده چي دواړه دي لاندي طرف ته کړي او دواړه بټي ګوتي دي سره وجنګوي چي زیاته خاوره ایله سي، ⑦ ګوتي خلاصي ساتل، یعني کله چي په خاوره کي لاسونه وهي، هغه وخت دي ګوتي نه سره یو ځای کوي بلکي هغوی دي خلاصي لري.

که د اوبو تر لاسه کېدلو امید وي، نو څه حکم دی؟

﴿۱۲۸﴾ وَنُدِبَ تَأْخِيْرُ التَّيَمُّمِ او مستحب دي د تیمم ځنډول (موخر کول) لِمَنْ يَرْجُو الْمَاءَ قَبْلَ خُرُوْجِ الْوَقْتِ د هغه کس لپاره کوم چي د وخت تر وتلو (تېرېدلو) مخکي د اوبو (تر لاسه کېدلو) امید لري.

لغات: ﴿یرجو﴾ د نصر د باب مضارع ده: امید کول، امید ساتل.

تشریح: که اوبه نه وي خو دا امید وي چي د لمانځه د وخت تر آخره به پیدا سي، نو لمونځ تر آخر وخته پوري ځنډول مستحب دي، که چیري اوبه پیدا سوې، نو په هغوی دي اودس وکړي او لمونځ دي وکړي، او که پیدا نه سوې، نو په تیمم سره دي لمونځ وکړي.

فایده: دلته له آخر وخت څخه مراد د بعضو په نېز د جواز آخري وخت دی او د بعضو په نېز د مستحب وخت آخر دی، همدا صحیح ده. (شفاء الارواح)

که څوک د اوبو راوړلو وعده ور سره وکړي، نو څه حکم دی؟

﴿۱۴۹﴾ وَيَجِبُ التَّأْخِيْرُ بِالْوَعْدِ بِالْمَاءِ او واجب دي (د تيمم) ځنډول د اوبو د وعدې په وجه (چي يو چا د اوبو وعده ور سره کړې وي چي د اودسه اوبه درکوم) وَلَوْ خَافَ الْقَضَاءَ که څه هم (د لمانځه) پر قضاء وېرېږي (يعني که څه هم د لمونځ د قضاء کېدلو بېره وي. بيا هم په دې صورت کي تيمم ځنډول واجب دي).

تشريح: مسئله دا ده چي که څوک د اُوبو د راوړلو وعده وکړي، نو تيمم ځنډول واجب دي، که څه هم لمونځ قضاء سي، دا حکم هغه وخت دی کله چي د وعده کولو والا سره اوبه په يو ميل کي دننه موجوده وي، لهذا که د وعده کونکي سره اوبه نه وي، يا هغه اوبه يو ميل ليري وي، نو بيا تيمم ځنډول واجب نه دي؛ ځکه شريعت پر همداسي موقع د تيمم اجازه ور کړې ده. (حاشيه)

په پورتني صورت کي د کپړې حکم

﴿۱۵۰﴾ وَيَجِبُ التَّأْخِيْرُ بِالْوَعْدِ بِالثَّوْبِ أَوِ السِّقَاءِ او واجب دي (د لمانځه) ځنډول د کپړې يا د ژي (يا مثلاً د سولاغې) په وعده سره مَا لَمْ يَخَفِ الْقَضَاءَ تر څو چي (د لمانځه) پر قضاء نه وېرېږي (يعني که د لڅ کس سره کپړه اصلاً نه وي او يو څوک د کپړې ور کولو وعده ور سره وکړي يا د اوبو را ايستلو اسباب نه وي لکه سولاغه او د لسي نور او يو څوک د هغه وعده ورسره وکړي، نو په دې صورت کي د لمونځ نه قضاء کېدلو تر وخته پوري تأخير کول واجب دي. لهذا کله چي د لمانځه د وخت آخره سي، نو تيمم دي وکړي او لمونځ دي وکړي، او لڅ سړی به په اشاره سره لمونځ کوي).

لغات: ﴿السِّقَاء﴾ ژی (هغه مضبوطه څرمنيزه خلته چي له څرمني (چمړې) څخه جوړه وي چي عموماً پخوا به د اوبو د حفاظت لپاره او د سولاغې په توګه استعمالېده.)، د اوبو مَشک، جمع: أَسْقِيَةٌ و أَسْقِيَاتٌ.

تشريح: يعني که د چا سره جامه نه وي، لڅ وي او يو څوک د هغه سره د جامې وعده وکړي چي زه يې درته راوړم ته انتظار سه!، نو د هغه لپاره ضروري ده چي جامو ته انتظار وکړي او په لڅه لمونځ نه وکړي، لهذا که په لڅه بغير د جامو له انتظار کولو څخه لمونځ وکړي، نو لمونځ يې نه کېږي، همدارنګه که د چا سره د اُوبو راکښلو هيڅ سامان نه وي او يو څوک د سولاغې او رسی راوړلو وعده ور سره وکړي، نو تيمم ځنډول ضروري دي، په دې شرط چي د لمانځه د قضا کېدلو بېره نه وي او که دا بېره وي، نو بيا دي په آخري وخت کي په لڅه (اشارتا) او په تيمم سره لمونځ وکړي. (مراقي الفلاح ص، ۶۶)

تر څومره ځایه پورې د اوبو تلاش واجب دی؟

﴿ ۱۵۱ ﴾ وَيَجِبُ طَلَبُ الْمَاءِ إِلَىٰ مِقْدَارِ أَرْبَعِ مِائَةِ خُطْوَةٍ او واجب دی د اوبو طلب (تلاش) کول تر دربو سوو (۳۰۰) گامو پورې إِنْ ظَنَّ قُرْبَهُ مَعَ الْأَمْنِ (په دې شرط) که گومان وي د اوبو د نژدې والي د امن سره (یعني که لاره په امن وي او دا گومان وي چې اوبه نژدې سته) وَإِلَّا فَلَا کنې نو (طلب واجب) نه دی.

لغات: ﴿الخُطْوة﴾ گام، د دوو قدمونو تر مینځ مسافه، جمع: خُطُوَات.

تشریح: یعني کوم مسافر ته چې په څه دلیل او علامت سره دا گومان سي چې اوبه به نژدې پیدا سي، مثلاً شنه گیاه (سبزه) په نظر ورسي، یا یو ځای مرغان سره گرځي، یا یو څوک د اوبو د نژدې والي خبر ورکړي، نو کوم طرف ته چې یې گومان وي، هغه طرف ته څلور سوه گامه تلاش کول واجب دي او که څلورو سره طرفونو ته یې گومان وي، نو څلور سره طرفونو ته څلور سوه گامه تلاش کول ضروري دي او دا تلاش کول هغه وخت واجب دي کله چې د ځان او مال هیڅ خطره نه وي. خو که د ځان یا مال د هلاکېدلو خطره وي، نو د هغه لپاره تلاش کول واجب نه دي، همدارنګه دا تلاش خپله کول د هغه لپاره ضروري نه دي، بلکي که په بل چایې وکړي، نو هم کافي دي. (حاشیه)

له ملگري څخه د اوبو طلب کول

﴿ ۱۵۲ ﴾ وَيَجِبُ طَلَبُهُ مِمَّنْ هُوَ مَعَهُ او واجب دي د اوبو طلب کول له هغه کس څخه کوم چې د ده سره (ملگری) وي (یا په بله ترجمه: له هغه کس څخه چې د هغه سره اوبه وي) إِنْ كَانَ فِي مَحَلٍّ لَا تَشُحُّ بِهِ النُّفُوسُ (په دې شرط) که په داسې ځای کې وي چې هلته پر اوبو خلک بخل نه کوي وَإِنْ لَمْ يُعْطِهِ إِلَّا بِثَمَنِ مِثْلِهِ او که ده ته اوبه نه ورکوي مگر په مثلي قیمت (عام قیمت) سره لَزِمَهُ شِرَاؤُهُ بِهِ نو پر ده په همدې قیمت سره د اوبو رانیول لازمیږي إِنْ كَانَ مَعَهُ فَاضِلًا عَنْ نَفَقَتِهِ (په دې شرط) که د ده سره دا قیمت وي په داسې حال کې چې د ده تر خرچې زیات وي (یا په بله وینا دا چې د ده سره د سفر تر خرچ زیات مال موجود وي).

لغات: ﴿لا تشحّ﴾ د نصر له بابه د فعل مضارع منفي معروف صیغه ده شحًّا: بخل کول، حرص کول.

﴿الثمن﴾ قیمت (پیسې)، نرخ. هغه ربښتیا قیمت کوم چې یې بائع او مشتري په خپل مینځ کي

وټاکي، ﴿ثمن المثل﴾ عمومي رېټ (دشي مناسب قیمت)، په بازار او منډی کي چي دیو شي څومره قیمت وي، هغه ته ثمن مثل وایي، دلته ځني مراد هغه قیمت دی کوم چي یې بائع او مشتري په خپل رضاء سره وټاکي. (انوار الایضاح)

تشریح: که دسفر دملګري سره اوبه وي، نو تر تیمم کولو مخکي له هغه څخه اوبه غوښتل ضروري دي، که هغه اوبه ورکړي، نو په اوداسه دي لمونځ وکړي، کنې په تیمم سره دي لمونځ وکړي، دلته د سفر له ملګري څخه مراد هغه کس دی چي د هغه سره اوبه وي، او که اوبه په قیمت سره پیدا کیږي او قیمت یې عام قیمت وي، ګران نه وي یا په غبن یسیر (یعني له عمومي [بازاري] قیمت څخه څه ګران) یې خرڅوي، نو بیا که د هغه کس سره تر خپل خرڅ زیاتي پیسې وي، نو په دې صورت کي د هغه لپاره تیمم جائز نه دي او قیمتاً اوبه اخیستل ضروري دي، او که په غبنِ فاحش سره یې خرڅوي، نو بیا د هغه لپاره تیمم جائز دی. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

په یوه تیمم سره هر څو لمنځونه کېدلای سي؟

﴿١٥٣﴾ وَيُصَلِّيْ بِالتَّيَمُّمِ الْوَاحِدِ مَا شَاءَ مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ او کولای سي په یوه تیمم سره څومره چي د ده خوښه له فرضي او نفلي لمونځونو څخه (یعني په یو تیمم سره هر څو فرضي او نفلي لمونځونه کولای سي) وَصَحَّ تَقْدِيْمُهُ عَلَى الْوَقْتِ او صحیح دي تیمم مخکي کول پر وخت (یعني له وخت څخه مخکي تیمم وهل هم صحیح دي).

تشریح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمایي چي په یوه تیمم سره هر څو لمونځونه کولای سي، برابره ده فرائض وي او که نوافل وي، اداء وي او که قضاء وي یا د نذر لمونځ وي، تر څو چي تیمم مات نه سي، وروسته فرمایي چي څرنګه له وخت څخه مخکي اودس کول صحیح دي، همداسي تیمم هم صحیح دی.

د اکثره اندامونو د زخمي کېدو په صورت کي د تیمم حکم

﴿١٥٤﴾ وَلَوْ كَانَ أَكْثَرُ الْبَدَنِ أَوْ نِصْفُهٗ جَرِيْحًا او که د بدن اکثره (زیاتره) حصه یا نیمه حصه زخمي (ټپي) وي تَيَمَّمَ نو تیمم دي وکړي (یعني په دې صورت کي تیمم کولای سي) وَإِنْ كَانَ أَكْثَرُهٗ صَحِيْحًا او که د بدن اکثره حصه صحیح وي غَسَلَهٗ وَمَسَحَ الْجَرِيْحَ نو هغه دي پرېولي او پر زخمي حصه دي مسح وکړي وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ الْغُسْلِ وَالتَّيَمُّمِ او د پرېوللو او تیمم تر مینځ دي جمع نه کړي.

لغات: ﴿جریح﴾ زخمي، ټپي، جمع: جرحیٰ.

تشریح: که د بدن اکثره حصه یا نیمه حصه (نیم بدن) زخمي وي، مثلاً پر هغه دانې وغیره وي، نو د غسل پر ځای به تیمم کوي، لکه څرنګه چې د اوداسه اندامونه یعني اعضاء اربعه (مخ، دواړه لاسونه او دواړه پښې) که اکثره زخمي وي مثلاً درې اندامونه زخمي وي، نو تیمم به کوي. لیکن که د بدن اکثره حصه روغه وي، یا په بله وینا له نیم څخه زیات بدن صحیح سلامت وي او څه حصه یې زخمي وي، نو په دې صورت کې به پر زخمي اندامونو مسح کول کیږي او صحیح اندامونه به پرېولل کیږي، او که پر زخمونو مسح نه سي کولای، نو پر جبیره دې مسح وکړي، کنې مسح دې پرېږدي.

ها! که زخم داسې ځای وي چې که روغه حصه پرېولل سي نو هغه زخمي حصه له اوبو څخه ساتل مشکل وي، نو هغه روغه حصه هم د زخم په حکم سره شمېرل کیږي او د هغه په وجه د مسح اجازه سته.

ولا یجمع الخ: صاحب د "شفاء الارواح" د دې عبارت تشریح داسې کړې ده چې کله د بدن اکثره حصه روغه وي، نو داسې دې نه کوي چې څه حصه پرېولي او پر څه حصې تیمم وکړي (ځکه په شریعت کې د بدل او مبدل منهٔ د جمع کولو هیڅ مثال نه ترلاسه کیږي امراقي الفلاح مع الطحطاوي ص: ۱۶۸)، مثلاً که صرف په پښو باندې زخم وي نو حکم دا دی چې مخ او لاسونه پرېولي او پر پښو مسح وکړي، او داسې نه دې کوي چې مخ پرېولي او پر لاسونو تیمم وکړي، دا پرېولل او تیمم سره جمع کول دي کوم چې جائز نه دي.

تیمم په کومو شیانو سره ماتیږي؟

﴿۱۵۵﴾ وَيَنْقُضُهُ نَاقِضُ الْوُضُوْءِ او تیمم ماتوي هغه شی کوم چې داودس ماتونکی وي (یعني په کومو شیانو سره چې اودس ماتیږي، تیمم هم په هغوی سره ماتیږي) وَ الْقُدْرَةُ عَلَى اسْتِعْمَالِ الْمَاءِ الْكَافِيْ او (همدارنګه تیمم ماتوي) قدرت لرل (قادر کېدل) پر استعمال د کافي اوبو (یعني دومره اوبه کوم چې د طهارت لپاره کافي وي).

تشریح: یعني په کومو شیانو سره چې اودس ماتیږي، په هماغه شیانو سره تیمم هم ماتیږي، همدارنګه که تیمم کوونکی د اوداسه د اوبو پر استعمالولو قدرت پیدا کړي، نو د هغه تیمم ماتیږي، د اوبو پر استعمال د قدرت لرلو مطلب دا دی چې اوبه موجوده وي او د څه دښمن یا درنده بېره نه وي او نه هغه داسې مریض وي چې اوبه تاوان ورته کوي، همدارنګه اوبه دومره کمې نه وي چې د اوداسه اندامونه یو وار هم نه په پرېولل کیږي.

که د یو چا دواړه لاسونه پرې وي او مخ یې هم زخمي وي

﴿۱۵۲﴾ وَمَقْطُوْعُ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ إِذَا كَانَ بِوَجْهِهٖ جِرَاحَةٌ او هغه کس چې دواړه لاسونه او دواړه پښې پرېکړل سوي وي کله چې د هغه پر مخ (هم) زخم وي يُصَلِّيْ بِغَيْرِ طَهَارَةٍ هغه دې بېله طهارته (بغیر له اودسه) لمونځ کوي وَلَا يُعِيْدُ او بیا دې (یې) نه راګرځوي.

لغات: ﴿جراحة﴾ زخم، پرهار، جمع: جِراح وجِراحات.

تشریح: که د کوم چا دواړه لاسونه تر څنګلو او دواړه پښې یې تر بجلکو پرې سوي وي او د هغه پر مخ هم زخم وي مثلاً دانې وي، نو له هغه څخه اودس او تیمم ساقط دي، بس هغه دې په همدې حالت کې چې څرنګه وي بغیر له طهارته لمونځ کوي او وروسته یې د راګرځولو ضرورت هم نسته. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): که د کوم چا دواړه لاسونه تر څنګلو پرې سوي وي او مخ یې روغ وي، نو کله چې هغه پر لاسونو تیمم کوي، نو د پرېکېدلو ځای دې مسح کوي. (حلبي کبیر ج:۱، ص:۶۴، عالمګیري ج:۱، ص:۲۶)

په بل چا تیمّم کول

مسئله (۲): که مریض خپله تیمم نه سي کولای، نو بل څوک هم د هغه تیمم ور کولای سي، په دې شرط چې حکم کونکی نیت هم وکړي. (درمختار مع الشامي ج:۱، ص:۲۵۷، ط: بیروت، کتاب المسائل ص:۱۷۸)

❀ ❀ ❀

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

(دا) فصل پر موزو د مسح کولو (په بیان کې) دی

تشریح: تیمم او مسح علی الخفین دواړه عارض دي؛ ځکه اصل غسل (پرېولل) دي. خو څرنګه چي تیمم په کتابُ الله سره ثابت دی او مسح په سنتو سره ثابته ده، نو ځکه تیمم اقویٰ دی او د دې مستحق دی چي له "مسح علی الخفین" څخه مخکې کړی سي. نو ځکه یې مخکې بیان کړی دی، لکه مخکې چي هم موږ ذکر کړه.

د مسح لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د مَسْح لغوي معنیٰ ده: «إِمْرَارُ الْيَدِ عَلَى شَيْئٍ» (یعني پر یو شي لاس تېرول) او د مَسْح اصطلاحي معنیٰ ده: لوند لاس پر هغه شي تېرول چي پر هغه د لاس تېرولو حکم سوی وي. نو د "مَسْح عَلَى الْخُفَّيْن" معنیٰ سوه: «إِصَابَةُ الْيَدِ الْمُبْتَلَّةِ الْخُفَّ الْمَلْبُوْسَ» (یعني پر اغوستل سوو موزو باندي لوند لاس تېرول).

د مسح علی الخفین ثبوت: د مسح علی الخفین مشروعیت په مشهوره حدیثونو سره ثابت دی. امام کرخي رَحِمَهُ الله فرمایي چي زما سره د هغه کس د کفر اندېښنه سته چي پر موزو مسح جائز نه ګڼي، د مسح د مشروعیت په لړ کي علامه ابو الفضل احمد بن علي عسقلاني رَحِمَهُ الله په "الدراية في تخريج أحاديث الهداية" کي تقریباً (۲۶) حدیثونه بیان کړي دي، چي له هغوی څخه موږ پر درېو حدیثونو اکتفاء کوو:

① «عَنْ عَمْرِو ابْنِ أُمَيَّةَ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ يَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ». (بخاري شریف، باب المسح على الخفين، حديث نمبره: ۲۰۴)

② «عَنْ بِلَالٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ». (مسلم شریف، باب المسح على الناصية، حديث نمبره: ۶۶۰)

③ «عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان رسول الله ﷺ يأمرنا أن نمسح على الخفين يوما وليلة للمقيم، وللمسافر ثلاثة». (نسائي، دار قطني)

دامام صاحب (امام اعظم ابو حنیفه) رَحِمَهُ الله په هکله نقل سوي دي چي يوه سړي له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه داهل السنة والجماعت د مذهب په باره کي پوښتنه وکړه، نو امام صاحب رَحِمَهُ الله ورته وفرمايل چي: أَنْ يُفَضِّلَ الشَّيْخَيْن وَيُحِبَّ الخَتَنَيْن و يَرَى المَسْحَ عَلَى الخُفَّينِ (يعني کوم څوک چي شيخين يعني حضرت ابو بکر صديق ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ له ټولو صحابه وو څخه افضل او غوره ګڼي او د نبي ﷺ د دواړو زومانو يعني د حضرت عثمان ﷺ او د حضر علي ﷺ سره مينه لري، همدارنګه مسح على الخفين جائز ګڼي، نو هغه لهاهل السنة والجماعت څخه دی).

د موزو د مسح بيان

﴿۱۵۷﴾ صَحَّ الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ فِي الْحَدَثِ الْأَصْغَرِ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ جائز ده مسح پر دواړو موزو په کوچنۍ بې اودسيا کي د سړيو او ښځو (دواړو) لپاره وَلَوْكَانَا مِنْ شَيْءٍ ثَخِيْنٍ غَيْرِ الْجِلْدِ که څه هم دواړه موزې له څرمي څخه بغير له يو (بل) پنډ شي څخه (جوړي) وي سَوَاءٌ كَانَ لَهُمَا نَعْلٌ مِنْ جِلْدٍ أَوْ لَا برابره ده د موزو تلی له څرمي (څرمني) څخه وي او که نه وي.

لغات: ﴿الخفين﴾ سخت، مضبوط، ډبل، پنډ، ﴿جلد﴾ څمړه، څرمن، چرم، ﴿النعل﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يې مشهوره معنیٰ ده: څپلۍ، او بله معنیٰ يې ده: هغه څمړه (څرمن) چي په هغه سره موزه ساتل کيږي، يعني چي د حفاظت لپاره موزه پکښي پوښل کيږي (معجم الوسيط)، او صاحب دانوار الايضاح يې يوه معنیٰ دا هم ليکلې ده (د څپلۍ تلی) کوم چي په قلموسونو کي نسته، جمع: نِعَال.

تشريح: د محدث (بې اودسه) لپاره پر موزو مسح کول جائز دي، محدث برابره ده سړی وي او که ښځه وي، دلته د حدث اصغر (کوچنۍ بې اودسيا) قيد لګول سوی دی، له دې څخه معلومه سوه چي کوم چا موزې اغوستي وي او بيا حدث اکبر (لويه بې اودسيا) ورته پېښه سي يعني غسل پرې واجب سي، نو په دې صورت کي مسح على الخفين جائز نه ده، بلکي موزې به کاږل کيږي او پښې به هم پريولل کيږي.

ولوکانا الخ: فرمايي که هغه موزې د څرمني (څمړې) نه وي، خو پنډې او سختي وي، نو بيا هم مسح جائز ده، د مسح على الخفين څلور صورتونه دي:

① يو دا چي دواړه موزې د څرمني (څمړې) وي، پر داسي موزو بالاتفاق مسح جائز ده.

② دویم دا چې د څرمنې نه وي خو له پنډې او ډبلې کپړې څخه جوړې وي او مُنَعَّلَيْن یا مُجَلَّدَيْن وي (د مُنَعَّل معنیٰ دا ده چې تلی یې د څمرې وي او پر تلي یې څمره لګېدلې وي او د مُجلد معنیٰ دا ده چې لاندې بانډې څمره وي یعنې پر هغه د پاسه او لاندې دواړو طرفونو ته څمره لګېدلې وي) چې زموږ په اصطلاح کې ماسې ورته ویل کېږي، نو په دې صورت هم کې بالاتفاق پر هغوی مسح جائز ده.

③ درېیم دا چې نه له پنډې کپړې څخه وي او نه مُنعلین وي، نو په دې صورت کې بالاتفاق مسح جائز نه ده.

④ څلورم دا چې له پنډې او سختې کپړې څخه خو وي یعنې له داسې مضبوطه او پنډې کپړې څخه جوړې وي چې بغیر له تړلو خپله پر پنډیو پاتېږي او دومره نرۍ نه وي چې بله خوا یې ښکاربږي، لېکن مُنعلین نه وي، نو په دې صورت کې د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله په نېز مسح جائز نه ده او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز جائز ده، او فتویٰ د صاحبینو پر قول ده؛ ځکه د امام صاحب په هکله دا روایت ذکر سوی دی چې هغه د خپل عمر په آخر کې د صاحبینو قول ته رجوع وکړه، د روایت الفاظ دا دي: «وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ الله أَنَّهُ مَسَحَ عَلَى جَوْرَبَيْهِ فِي مَرَضِهِ ثُمَّ قَالَ لِعُوَّادِهِ.... (الخ)». [العناية ج:۱، ص:۱۳۹]. (یعني امام ابو حنیفه رَحِمَهُ الله د وفات په مرض کې (تر مرګ لوه ورځې یا درې ورځې مخکې) پر [غیر مُنعلین] موزو مسح وکړه او بیا یې هغه خلکو ته وویل کوم چې د ده د پوښتنې لپاره راغلي وه: "ما [نن] هغه کار وکړی چې خلک به مې له هغه څخه منع کول")، نو په دې قول سره علماء د امام صاحب پر رجوع دلیل نیسي.

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): نن سبا چې کومې جراپې وغیره استعمالول کېږي، پر هغوی بالکل مسح جائز نه ده؛ ځکه په هغوی کې د جواز شرائط نسته. لهذا د اودس کولو پر مهال د هغوی کښل او پښې پرېولل ضروري دي. (المحیط البرهاني ج۱، ص۳۴۲)

د څو جراپو حکم

مسئله (۲): که یو چا څو داني (مثلاً درې یا څلور) نرۍ جراپې یو د بل د پاسه په پښو کړي وي، نو هم پر هغوی مسح جائز نه ده. (بحواله هندیه ج۱، ص۳۲)

پر موزو د مسح صحیح کېدلو شرطونه

﴿۱۵۸﴾ وَيُشْتَرَطُ لِجَوَازِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ سَبْعَةُ شَرَائِطَ او پر موزو د مسح جائز کېدو لپاره اووه شرطونه شرط دي الْأَوَّلُ لُبْسُهُمَا بَعْدَ غَسْلِ الرِّجْلَيْنِ (۱) اول شرط دواړه موزې د

دواړو پښو تر پړېوللو وروسته اغوستل دي وَلَوْقَبْلَ كَمَالِ الْوُضُوْءِ إِذَا أَتَمَّهٗ قَبْلَ حُصُوْلِ نَاقِضٍ لِلْوُضُوْءِ که څه هم د اوداسه له پوره کولو څخه مخکي وي (خو دا هغه وخت) کله چي يې د اودس ماتونکي شي له پېښېدلو څخه مخکي يې اودس پوره کړی وي.

لغات: لبسهما: د "هما" ضمير د خفين (موزو) وطرف ته راجع دی، اتمه: ضمير د وُضوْ (اودس) وطرف ته راجع دی.

تشريح: پر موزو د مسح د جائز کېدلو اول شرط دا دی چي د دواړو پښو تر پړېوللو وروسته به يې موزې اغوستي وي او دا ضروري نه ده چي اول ټول له اودس پوره کړي بيا موزې واغوندي. لېکن دا ضروري ده چي د بې اودسه کېدلو په وخت کي به د هغه اودس پوره وي، لهذا که څوک اول خپلي پښې پرېولي او موزې په پښو کړي بيا پاتې اودس پوره کړي، تر دې وروسته بې اودسه سي نو اوس هغه ته پر موزو مسح کول جائز دي؛ ځکه که څه هم د موزو د اغوستلو پر مهال طهارت کامله موجود نه وو (يعني اودس پوره سوی نه وو)، لېکن د بې اودسه کېدلو په وخت کي طهارت کامله موجود وو. لېکن که څوک اول خپلي پښې پرېولي او موزې په پښو کړي بيا د پاتې اودس له پوره کولو څخه مخکي بې اودسه سي، نو اوس پر موزو مسح جائز نه ده؛ ځکه د بې اودسه کېدلو په وخت کي طهارت کامله موجود نه وو.

﴿۱۵۹﴾ وَالثَّانِيْ سَتْرُهُمَا لِلْكَعْبَيْنِ (۲) او دوېم شرط د موزو پټول دي بجلکو لره (يعني موزې به داسي وي چي بجلکي پټوي، کنې مسح باندي جائز نه ده).

تشريح: پر موزو د مسح جائز کېدلو دوېم شرط دا دی چي هغه موزې به داسي وي چي پښې تر بجلکو پکښې پټې وي، بيا مسح باندي جائز ده، که چيري موزې تر پونډلو پوري وي، نو پر هغوی مسح جائز نه ده.

﴿۱۶۰﴾ وَالثَّالِثُ إِمْكَانُ مُتَابَعَةِ الْمَشْيِ فِيْهِمَا (۳) او درېيم شرط په دواړو موزو کي د پرلپسې تګ کولو ممکن کېدل دي (يعني په دواړو موزو کي به پرلپسې اسلسل اتلل ممکن وي) فَلَا يَجُوْزُ عَلٰى خُفٍّ مِنْ زُجَاجٍ أَوْ خَشَبٍ أَوْ حَدِيْدٍ نو د ښيښې يا لرګي (تختې) يا اوسپني پر موزو مسح جائز نه ده.

تشريح: درېيم شرط دا دی چي موزې به داسي وي چي په هغوی کي مسلسل تګ کول ممکن وي، يعني بلا تکلفه درې ميله تګ پکښې کېدلای سي (کوم چي څه د پاسه ۵ کيلو متره کېږي)، محشي رحمهٔ

الله فرمايي چي موږ د مذكوره شيانو (لرګي، اوسپني...) موزې نه دي ليدلي، كېداى سي له دوى څخه د موزې په څېر بل شى جوړول كيږي هغه به مراد وي، يا هسي مسئله به داسي فرض كړل سوې وي.

﴿١٦١﴾ وَالرَّابِعُ خُلُوُّ كُلٍّ مِنْهُمَا عَنْ خَرْقٍ (۴) او څلورم شرط د موزې خالي كېدل دي له داسي څيري والي (چاک) څخه قَدْرَ ثَلَاثِ أَصَابِعَ مِنْ أَصْغَرِ أَصَابِعِ الْقَدَمِ كوم چي په اندازه د دريو ګوتو وي د پښې له كوچنيو ګوتو څخه.

لغات: ﴿خَرْق﴾ سورى. چاک، څيري والى.

تشريح: د مسح جائز كېدلو څلورم شرط دا دى چي موزه به ډېره څيري نه وي او د ډېر څيري والي مقدار د پښې دري كوچنى ګوتي دي، لهذا كه موزه داسي وي چي په هغوى كي د پښې د دريو كوچنيو ګوتو په اندازه سورى (چاک) وي، برابره ده هغه سورى د موزې په لانديني حصه (تلي) كي وي، يا د پاسه وي، يا د پوندي وطرف ته وي، نو پر داسي موزه مسح جائز نه ده او د كوچنيو ګوتو اعتبار هغه وخت دى كله چي سورى له ګوتو څخه بغير پر بل ځاى وي او كه سورى پر ګوتو وي. يا په بله وينا ګوتي ښكاره وي، نو بيا مطلقاً دريو ګوتو لره اعتبار دى، لهذا كه بټه ګوته او د هغې څنګ والا ګوته ښكاره وي، نو هم مسح جائز ده؛ ځكه دري ګوتي نه دي كه څه هم دا دواړه د پښې د دريو كوچنيو ګوتو په اندازه دي، او كه بټه ګوته او د هغې څنګ والا دوې ګوتي ښكاره وي، نو مسح جائز نه ده.

❀ ❀ ❀ ❀

مسئله: كه د يوې موزې څو ځايه لږ، لږ څيري وي او هغه څيري ځايونه (چاكونه) مجموعتاً د پښو د دريو كوچنيو ګوتو په اندازه وي، نو مسح جائز نه ده او كه دواړه موزې داسي څيري وي چي مجموعتاً د دريو ګوتو په اندازه وي، نو د هغه اعتبار به نه كول كيږي، پر داسي موزو مسح جائز ده. (درمختار ج۱، ص ۴۰۰، ط؛ بيروت، كتاب المسائل ص ۱۹۱)

﴿١٦٢﴾ وَالْخَامِسُ اِسْتِمْسَاكُهُمَا عَلَى الرِّجْلَيْنِ مِنْ غَيْرِ شَدٍّ (۵) او پنځم شرط د دواړو موزو ټينګېدل دي پر پښو بغير له تړلو څخه (يعني دواړه موزې به داسي مضبوطه وي چي له تړلو څخه بغير پر پښو ټينګي پاته سي).

لغات: ﴿استمساك﴾ د استفعال د باب مصدر دى، د دې باب څو معناوي دي؛ بندېدل، ټينګ نيول كېدل، ټينګ نيول، منع كېدل، ﴿شدّ﴾ د نصر د باب مصدر دى: تړل.

تشريح: پنځم شرط دا دی چي دواړه موزې داسي مضبوطه او ټينګي وي چي بغير د يو شي له تړلو څخه خپله پر پښو ټينګي پاتيږي او نه خيږي، کنې مسح باندي جائز نه ده.

﴿۱۶۳﴾ وَالسَّادِسُ مَنْعُهُمَا وُصُوْلَ الْمَاءِ إِلَى الْجَسَدِ (۶) او شپږم شرط د دواړو موزو مانع کېدل (چي منع کوي به) بدن ته داوبو رسېدل (يعني که پر دوی اوبه ولوېږي، نو تر دوی لاندي حصې ته نه رسيږي).

تشريح: شپږم شرط دا دی چي موزې به داسي وي چي که پر هغوی اوبه واچول سي، نو پښو ته نه رسيږي، کنې مسح باندي جائز نه ده.

﴿۱۶۴﴾ وَالسَّابِعُ أَنْ يَبْقَى مِنْ مُقَدَّمِ الْقَدَمِ قَدْرُ ثَلَاثِ أَصَابِعَ (۷) او اُووم شرط دا دی چي د پښې مخکيني حصه به د دريو ګوتو په اندازه باقي پاته وي مِنْ أَصْغَرِ أَصَابِعِ الْيَدِ د لاس له کوچنيو ګوتو څخه (يعني د لاس د دريو کوچنيو ګوتو په اندازه به د پښې مخکيني حصه موجوده وي) فَلَوْ كَانَ فَاقِدًا مُقَدَّمَ قَدَمِهِ نو که د يو کس د پښې مخکيني حصه نه وي لَا يَمْسَحُ عَلَى خُفِّهِ نو هغه پر موزه مسح نه سي کولای وَلَوْ كَانَ عَقِبُ الْقَدَمِ مَوْجُوْدًا که څه هم د پښې پونده موجوده وي.

لغات: ﴿عقب﴾ پونده، د پښې د بېلې لانديني برخه، جمع: أَعْقَاب.

تشريح: د مسح جائز کېدلو اووم شرط دا دی چي د کوم چا پښه پرې سوې وي، نو کم از کم د لاس د دريو کوچنيو ګوتو په اندازه به د هغه د پښې مخکنۍ حصه پاته وي، او که مخکنۍ حصه يې غائبه وي، نو بيا پر موزې مسح کول صحيح نه دي، که څه هم شاتنۍ حصه پاته وي. (انوار الايضاح بحوالهٔ فتاوی تاتار خانية ج:۱، ص:۴۲۰، مسئله:۱۰۲۲)

يادونه: صاحب د "شفاء الارواح" د مذکوره عبارت تشريح داسي کړې ده: اووم شرط يې دا دی چي د مسح کونکي پښه به تر بجلکي لاندي د لاس د دريو کوچنيو ګوتو په اندازه روغه موجوده وي، لهذا که د چا پښه تر بجلکي لاندي پرې سوې وي او د مسح کولو ځای کم از کم (لږ تر لږه) د دريو ګوتو په اندازه پاته وي، نو پر دواړو موزو به مسح کوي، او که د فرض مقدار په اندازه يعني د دريو ګوتو په اندازه حصه پاته نه وي، نو بيا د دواړو پښو پرېولل ضروري دي؛ ځکه د مسح محل باقي نه دی، خو د غسل محل باقي دی، لهذا داسي به نه کوي چي د روغې پښې پر موزه مسح کوي او د پرې سوي پښې پاته حصه پرېولي؛ ځکه مسح او غسل (دواړه په يو وخت) په وظيفه کې د پښو نه سره يو ځای کيږي. (شفاء الارواح، مراقي الفلاح)

د مسح موده

﴿۱۶۵﴾ وَيَمْسَحُ الْمُقِيْمُ يَوْمًا وَلَيْلَةً او مسح به کوي مقيم کس يوه ورځ او يوه شپه وَالْمُسَافِرُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ بِلَيَالِيْهَا او مسافر کس درې ورځې د هغوی د شپو سره (يعني مسافر به درې ورځې او درې شپې مسح کوي).

تشريح: د مقيم لپاره يوه ورځ او يوه شپه (يعني ۲۴ ساعته) او د مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې (۷۲ ساعته) پر موزو مسح کول جائز دي.

د مسح د مذکوره مودې ابتداء له کومه وخته کيږي؟

﴿۱۶۶﴾ وَابْتِدَاءُ الْمُدَّةِ مِنْ وَقْتِ الْحَدَثِ بَعْدَ لُبْسِ الْخُفَّيْنِ او (د مسح) د مودې شروع د بې اودسيا له وخت څخه ده د موزو تر اغوستلو وروسته.

تشريح: د مسح موده (يعني د مقيم لپاره يوه ورځ او يوه شپه او د مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې، دا موده) له کومه وخته شروع کيږي، يا په بله وينا له کومه وخته شمېرل کيږي؟ په دې باره کې د علماؤ اختلاف دی، صحيح دا ده چې د موزو تر اغوستلو وروسته چې کله د سړي اودس مات سي، نو د همدې بې ودسيا (حدث) له وخته څخه د مسح موده شروع کيږي، او د امام اوزاعي رَحِمَهُ الله په نېز د موزې اغوستلو له وخته څخه دا موده شروع کيږي، او د امام احمد رَحِمَهُ الله په نېز د مسح له وخت څخه شروع کيږي. (شفاء الارواح)

مسح کونکی مقيم که مسافر سي؟

﴿۱۶۷﴾ وَإِنْ مَسَحَ مُقِيْمٌ ثُمَّ سَافَرَ قَبْلَ تَمَامِ مُدَّتِهٖ او که مقيم کس مسح وکړي بيا د خپل مودې (يوې ورځې او شپې) تر پوره کېدلو مخکې سفر وکړي (مسافر سي) أَتَمَّ مُدَّةَ الْمُسَافِرِ نو هغه دې د مسافر موده (درې ورځې او شپې) پوره کړي.

تشريح: که مسح کونکی مقيم له يوې ورځې او يوې شپې څخه مخکې مسافر سي، نو بيا به هغه تر درېو ورځو او درېو شپو پورې مسح پوره کوي. (دا يې مطلب نه دی چې له نوي سره به درې ورځې او شپې مسح کوي). (هنديه ج۱، ص۳۲)

مسح کونکی مسافر که مقیم سي؟

﴿۱۶۸﴾ وَإِنْ أَقَامَ الْمُسَافِرُ بَعْدَ مَا يَمْسَحُ يَوْمًا وَلَيْلَةً او كه چيري مسافر مقيم سي ديوې ورځې او يوې شپې تر مسح كولو وروسته نَزَعَ نو دي (موزې) وكاږي وَإِلَّا يُتِمُّ يَوْمًا وَلَيْلَةً كني يوه ورځ او يوه شپه دي پوره كړي.

تشريح: كه څوك د سفر په حالت كي مسح شروع كړي او بيا ديوې ورځي او يوې شپې له پوره كېدلو څخه مخكي مقيم سي، نو تر يوې ورځي او شپې پوري به مسح پوره كوي او كه ديوې ورځي او يوې شپې له پوره كېدلو څخه وروسته مقيم سي، نو بيا د اقامت په حالت كي د هغه لپاره مسح كول جائز نه دي، بلكي د موزو كښل او پښې پرېولل ضروري دي. (هنديه ج:۱، ص:۳۴. كتاب المسائل ص:۱۹۰)

د مسح فرض مقدار

﴿۱۶۹﴾ وَفَرْضُ الْمَسْحِ قَدْرُ ثَلَاثِ أَصَابِعَ او (د موزې) د مسح فرض (مقدار) د درېو گوتو په اندازه دی مِنْ أَصْغَرِ أَصَابِعِ الْيَدِ د لاس له كوچنيو گوتو څخه عَلَىٰ ظَاهِرِ مُقَدَّمِ كُلِّ رِجْلٍ د هري پښې د مخكيني حصې پر ښكاره (پاسنی) طرف باندي (يعني د هرې پښې د مخ پر پاسنی حصه د لاس د درېو كوچنيو گوتو په اندازه مسح كول فرض دي).

تشريح: په دې عبارت كي د مسح د فرض مقدار بيان دی او هغه دا چي پر هري موزې د لاس د درېو كوچنيو گوتو په اندازه مسح كول فرض دي، لهذا كه څوك پر يوه موزه د دوو گوتو په اندازه مسح وكړي او پر بلي موزې د پنځو گوتو په اندازه مسح وكړي، نو مسح نه صحيح كيږي او د هري موزې پر ظاهري (پاسنی) حصه مسح كول ضروري دي، د موزې د تلي پر طرف يا صرف د پوندي پر طرف مسح كول جائز نه دي او شرعاً هيڅ اعتبار ورلره نسته. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

د مسح سنت طريقه

﴿۱۷۰﴾ وَسُنَّتُهُ مَدُّ الْأَصَابِعِ مُفَرَّجَةً او (د موزې) د مسح سنتونه د گوتو كشول دي په داسي حال كي چي گوتي خلاصي (خورې ځلي) وي مِنْ رُؤُوسِ أَصَابِعِ الْقَدَمِ إِلَى السَّاقِ د پښې د گوتو له سرولو څخه تر پنډۍ پوري (يعني د مسح سنت طريقه دا ده چي پر پښه د گوتو له سر څخه تر پنډۍ پوري، د لاس خلاصي گوتي كش كړي).

لغات: ﴿مفرّجة﴾ د تفعيل له بابه مؤنث مفعول دی. فَرَّجَ يُفَرِّجُ تَفْرِيْجًا: پراخه ساتل. خلاصول. خلاص لرل.

تشریح: يعني فرض مقدار خو صرف دا دی چي د لاس د دريو ګوتو په اندازه د هري موزې ظاهري حصه لنده سي (لکه مخکي چي ذکر سوه). خو د مسح سنت طريقه دا ده چي دواړه لاسونه په اوبو سره لانده کړي او د خپل راسته لاس ګوتي د راسته موزې پر مخکنۍ حصه او د چپه لاس ګوتي د چپه موزې پر مخکنۍ حصه کښېږدي بيا دواړه لاسونه د پنډيو وطرف ته (تر بجلکو لوړ پوري) کش کړي او ګوتي دي خلاصي لري، صرف يو وار داسي کول سنت دي او که د ګوتو سره ورغوی هم يو ځای کړي نو غوره ده، او که ددې خلاف وکړي يعني د پنډيو له طرف څخه يا له بل طرف څخه ګوتي راکش کړي، نو مسح خو کيږي ليکن د سنت خلاف به وي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

❀ ❀ ❀

صرف په يوه ګوته سره مسح کول

مسئله (۱): که پر يوه موزه صرف يوه ګوته درې واره پر يوه ځای کش کړل سي، نو مسح نه صحيح کيږي، ها! که ګوته درې واره لنده کړل سي او پر درې جلا، جلا ځايو کش کړل سي، نو مسح صحيح کيږي. (کتاب المسائل ص، ۱۸۶، عالمګيري ج:۱، ص: ۳۲، ۳۳)

د مسح پر ځای په لندو وابنو باندي تګل

مسئله (۲): که څوک پر موزو د مسح کولو پر ځای په داسي وابنو باندي وګرځيږي کوم چي په پاکو اوبو سره لانده وي چي د هغه په وجه د موزو ظاهري پاسنۍ حصه په اوبو سره لنده سي، نو په دې سره هم د مسح على الخفين وظيفه اداء کيږي. (المحيط البرهانی ج:۱، ص:۳۴۱، کتاب المسائل ص، ۱۸۷)

په بل چا مسح کول

مسئله (۳): که څوک په مسح کي له بل چا څخه مرسته وغواړي او خپلي موزې په بل چا مسح کړي، نو هم مسح صحيح کيږي. (پورتنی حواله)

په کومو شيانو سره مسح ماتيږي!

﴿۱۷۱﴾ وَيَنْقُضُ مَسْحَ الْخُفِّ أَرْبَعَةُ أَشْيَاءَ او د موزو مسح څلور شيان ماتوي (په څلورو شيانو سره د موزې مسح ماتيږي) كُلُّ شَيْءٍ يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ (۱) هر هغه شی کوم چي اودس ماتوي وَنَزْعُ خُفٍّ (۲) او د موزې کښل وَلَوْ بِخُرُوْجِ أَكْثَرِ الْقَدَمِ إِلَى سَاقِ الْخُفِّ که څه هم د پښي د اکثره حصي په راوتلو سره وي د موزې و پنډۍ ته (يعني چي د قدم اکثره حصه د موزې تر پنډۍ پوري راووځي)

وَإِصَابَةُ الْمَاءِ أَكْثَرَ إِحْدَى الْقَدَمَيْنِ فِي الْخُفِّ (۳) او د يوې پښې اکثره حصې ته په موزه کي (دننه) اوبه رسېدل عَلَى الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق وَ مُضِيُّ الْمُدَّةِ (۴) او (د مسح) د مودې تېرېدل (هم مسح ماتوي) إِنْ لَمْ يَخَفْ ذَهَابَ رِجْلِهِ مِنَ الْبَرْدِ که چېرې له يخ څخه د پښې پر ضايع کېدلو نه بېرېږي (يعني کله چې د مسح موده پوره سي. نو هم مسح ماتيږي. نو پښې به پرېولي. لېکن که په پرېوللو سره د سخت يخ په وجه د پښو د ضايع کېدلو اندېښنه وي، نو بيا يې مسح نه ماتيږي او د جبيره (پټۍ) په حکم سره کرځي چې تر څو مجبوري وي، مسح دې کوي) وَ بَعْدَ الثَّلَاثَةِ الْأَخِيْرَةِ غَسَلَ رِجْلَيْهِ فَقَطْ او تر آخري دريو وروسته دې صرف دواړې پښې پرېولي (يعني تر آخري دريو صورتونو وروسته صرف د پښو پرېولل کافي دي).

لغات: ﴿نزع﴾ د ضرب د باب مصدر دی: کښل، کاږل، راکښول. ﴿خروج﴾ د نصر د باب مصدر دی: خپله وتل، بهر راتلل. علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمايي: چې اولاً نزع بيا خروج ذکر کول و دې خبرې ته اشاره ده چې موزه برابره ده کښل سوې (باسل سوې) وي او که خپله وتلې وي. د مسئلې حکم په دواړو صورتونو کي برابر دی.

تشريح: په لاندينيو صورتونو کي مسح على الخفين ماتيږي:

①... کوم شيان چې اودس ماتوي (نواقض وضوء)، هغوی د موزې مسح هم ماتوي. لهذا د نوي اودس کولو تر څنګ به موزې هم بيا مسح کول کيږي. او په لاندينيو صورتونو کي د موزو کښل او پښې پرېولل ضروري دي، صرف مسح کول کافي نه دي.

②... تول موزه کښل، يا د پښې اکثره حصه ښکاره کېدل هم مسح ماتوي، لهذا که څوک يوه موزه وکاږي او يا پښه يې خپله را ووځي او د موزې تر پنډۍ پورې راسي، نو په دې صورت کي مسح ماتيږي، لهذا دويمه موزه به هم کښل کيږي او دواړه پښې به پرېولل کيږي.

③... موزې ته اوبه داخلېدل او د پښې اکثره حصې ته اوبه رسېدل، يعني که يوې موزې ته اوبه ننوځي او توله پښه يا اکثره (يعني له نيمايي څخه زياته) پښه لنده سي، نو مسح ماتيږي، لهذا موزې کښل او دواړه پښې پرېولل واجب دي، مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چې دا قول صحيح دی، بل قول دا دی چې موزې ته د اوبو ننوتلو په صورت کي مسح نه ماتيږي. (حاشيه)

④... د مسح موده تېرېدل (پوره کېدل)، مثلاً که د مقيم کس د مسح يوه ورځ او يوه شپه تېره سي، نو مسح يې ماتيږي، په دې شرط چې د سخت يخ په وجه پښو ته د نقصان رسېدلو بېره نه وي، لهذا کله چې د مسح موده پوره سي نو موزې دې وکاږي او پښې دې پرېولي لمونځ دې وکړي. باقي اودس

راګرځول واجب نه دي، په دې شرط که یو ناقضِ وضوشی پښې سوی نه وي. لېکن که د موزې په کښلو کي دا ېېره وي چي پښې به یې د سخت یخ په وجه تاواني او ضایع سي، نو بیا موزې د پټی (جبیره) په حکم کي دي، لهذا پر هغوی مسح جائز ده. یعني څرنګه چي د زخم پر پټی مسح کول کېږي تر څو چي زخم وي، همداسي دي دواړه موزې مسح کوي تر څو چي مجبوري وي، او صاحب د شفاء الارواح د حاشیې په حواله سره لیکلي دي چي څرنګه پر پوزه پټی باندي مسح کول کېږي، همداسي دي پر پوره دواړو موزو لاندي باندي (د پلسه او لاندي او پوندي) تول مسح کوي. (حاشیه مخلصاً بحوالهٔ شفاء الارواح، ثمرة النجاح)

⑤ د پښې د دريو کوچنيو ګوتو په اندازه موزه څیري کېدل. (در مختار ج:١. ص:٢٠١ - ٢٠٢)

وبعد الثلاثة الأخيرة إلخ: یعني دلته چي کوم آخري درې صورتونه بیان سول (یعني موزه کښلېږه پښې ته اوبه رسېدل، موده پوره کېدل)، څرنګه چي په دې دريو سره صورتونو کي صرف مسح ماتېږي، لهذا که د هغه اودس وي، نو له نوي سره اودس تازه کول ضروري نه دي، بلکي فقط پښې پرېولل کافي دي. (شفاء الارواح)

پر لنګوټه وغیره باندي د مسح حکم

﴿١٤٣﴾ وَلَايَجُوْزُ الْمَسْحُ او مسح جائز نه ده عَلٰى عِمَامَةٍ وَقَلَنْسُوَةٍ پر لنګوټه او خولی (رخچینه) باندي وَ بُرْقَعٍ وَقُفَّازَيْنِ او پر چادري (بوغره) او دسکلو (دسکښو) باندي.

لغات: ﴿الْعَمَامَةَ﴾ لنګوټه، جمع: عَمَائِم، ﴿الْقَلَنْسُوَة﴾ خولی، توپی، جمع: قَلَنْسُوَات. ﴿الْبُرْقَع﴾ چادري، بوغره، بورقه، جمع: بَرَاقِع، ﴿الْقُفَّازَيْن﴾ تثنیه د "قُفَّازٌ" ده: دسکله، دسکښه، جمع: قَفَافِيْز.

تشریح: پر لنګوټه مسح کول جائز نه دي، همدارنګه پر خولی او د ښځي لپاره پر چادري (بوغره) مسح جائز نه ده، همدارنګه پر دسکلو (دسکښو) مسح جائز نه ده، برابره دسکلې دیخ د مخنیوي لپاره اغوستل سوي وي او که د یو حیوان او ښکار د نیولو لپاره، لکه ځیني خلک چي د ښکاري مرغانو د نیولو لپاره سختي دسکلې په لاس کوي چي د مرغانو د منګولو له ضرب څخه خوندي سي. (انوار الایضاح)

* * *

فَصْلٌ (فِي الْجَبِيْرَةِ وَنَحْوِهَا)

(دا) فصل (پر پټۍ د مسح او داسې نورو په بيان کې) دی

پر زخم د مسح کولو مسئلې

﴿۱۴۳﴾ إِذَا افْتَصَدَ کله چې رګ ووهي (يا په بله وينا له رګ څخه وينه وکاږي) أَوْ جُرِحَ أَوْ كُسِرَ عُضْوُهٗ يا زخمي سي يا يې يو اندام مات سي فَشَدَّهٗ بِخِرْقَةٍ أَوْ جَبِيْرَةٍ بيا هغه په يو رېبنکۍ يا پټۍ (پلستر، يا لرګي) سره وتړي وَكَانَ لَا يَسْتَطِيْعُ غَسْلَ الْعُضْوِ وَلَا يَسْتَطِيْعُ مَسْحَهٗ او هغه د اندام د پرېوللو طاقت نه لري او نه پر هغه د مسح کولو طاقت لري وَجَبَ الْمَسْحُ عَلٰى أَكْثَرِ مَا شَدَّ بِهِ الْعُضْوَ نو واجب دي مسح کول د هغه څه (پټۍ وغيره) پر اکثره حصه په کوم سره چې يې اندام تړلی دی وَكَفَى الْمَسْحُ عَلٰى مَا ظَهَرَ مِنَ الْجَسَدِ بَيْنَ عِصَابَةِ الْمُفْتَصِدِ او کافي ده مسح کول د بدن پر هغه حصه باندې کوم چې د رګ وهونکي د پټۍ تر مېنځ (ښکاره) پاته وي. (مثلاً چار طرفه پټۍ تړل سوې وي او په مېنځ کې ځای ښکاره اخلي) پاته وي چې له هغه څخه بدن ښکاره کيږي، نو دغه د مېنځ ښکاره بدن اپوست اپرېولل نه غواړي، بلکې پر هغه مسح کول کافي دي؛ ځکه مجبوري ده).

لغات: ﴿افتصد﴾ د افتعال د باب ماضي ده: رګ وهل، يعنې د علاج او درملنې په قصد ديو تېره آلې (نشتر) په ذريعه له رګ څخه خرابه وينه ايستل، د نشتر (نښتر) په ذريعه د بدن وينه لړول. نشتر يو تېره څوکه لرونکې آله ده، مُفْتَصِد له همدې بابه فاعل دی. ﴿جبيرة﴾ هغه څه کوم [illegible] پر مات هډوکي (مات اندام) تړل کيږي، هغه که پټۍ او پلستر وي وي او که لرګی وي، يا په بله وينا هغه پټۍ او يا هغه لرګی (د بانس [illegible]) کوم چې پر مات هډوکي لګول کيږي او تړل کيږي. جمع: جَبَائِرُ (معجم الوسيط، معجم لغة الفقهاء). ﴿عِصَابَة﴾ د دې لفظ څو معناوې دي چې له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: پټۍ، هغه رېبنکۍ وغيره چې پر اندام وغيره باندې تړل کيږي.

تشريح: په دې عبارت کې څو مسئلې بيان سوې دي: ① که څوک رګ ووهي يعنې د نشتر په وسيله له بدن څخه خرابه وينه وباسي، بيا پر هغه ځای پټۍ وتړي، نو که د اودس کولو پر مهال د پټۍ

په خلاصولو کي تکليف وي او اوبه د زخم لپاره تاواني وي، نو پر پټۍ مسح کول صحيح دي، ② که د زخم پر خوله پټۍ او پلستر لګول سوي وي، نو که د اودس کولو پر مهال د پټۍ او پلستر په ليري کولو کي تکليف وي او اوبه د زخم لپاره تاواني وي، نو پر پټۍ او پلستر مسح کول جائز دي، برابره ده پټۍ او پلستر په اوداسه لګول سوي وي او که بغير له اوداسه لګول سوي وي، ③ پر مات سوي هډوکي چي کوم پلستر اچول کيږي، هغه د پټۍ په حکم کي دی، پر هغه د پاسه مسح کول جائز دي. (عالمګيري ج:۱، ص:۳۵)

وجب المسح على أكثرالخ: د دې عبارت مطلب دا دی چي د پټۍ او پلستر پر اکثره حصه مسح کول واجب دي او د بدن هغه حصه کوم چي له پټۍ څخه ښکاره وي، پر هغه هم مسح کول کافي دي؛ د پرېولو ضرورت يې نسته؛ ځکه که په پرېوللو يې مکلف کړی سي، نو کېدلای سي چي هغه اوبه زخم ته ورسيږي او تاوان وکړي، نو ځکه هغه حصه پرېولل ضروري نه دي.

❀ ❀ ❀

تر پټۍ لاندي د اضافي حصې حکم

مسئله: که زخم داسي ځای وي چي په پټۍ کي له اصل زخم څخه بغير د بدن څه نوره حصه هم ور سره پټه وي، نو پر هغه ټوله حصې ضرورتاً مسح جائز ده. (شامي ج:۱، ص:۴۰۸، ط: بيروت، کتاب المسائل ص:۱۹۲)

د مسح على الجبيرة او مسح على الخفين تر مينځ فرق

﴿١٧٤﴾ وَالْمَسْحُ كَالْغَسْلِ او (د پټۍ) مسح د پرېوللو په څېر ده فَلَا يَتَوَقَّتُ بِمُدَّةٍ نو هغه په يو (ټاکلې) موده سره نه متعيّن کيږي (يعني د دې مسح لپاره څه موده ټاکل سوې نه ده لکه د موزې د مسح لپاره چي ټاکل سوې ده) وَلَا يُشْتَرَطُ شَدُّ الْجَبِيْرَةِ عَلٰى طُهْرٍ او پټۍ پر پاکۍ (پر اوداسه) تړل شرط نه دي وَيَجُوْزُ مَسْحُ جَبِيْرَةِ إِحْدَى الرِّجْلَيْنِ مَعَ غَسْلِ الْأُخْرٰى او جائز ده مسح د يوې پښې پر جبيرې د بلي پښې د پرېوللو سره (يعني د يوې پښې پر پټۍ مسح کول او بله پښه پرېولل هم جائز دي) وَلَا يَبْطُلُ الْمَسْحُ بِسُقُوْطِهَا قَبْلَ الْبُرْءِ او نه باطليږي مسح د پټۍ په لوېدلو سره تر جوړېدلو مخکي (يعني د زخم او مات ځای تر جوړېدلو مخکي د پټۍ په لوېدلو سره مسح نه ماتيږي) وَيَجُوْزُ تَبْدِيْلُهَا بِغَيْرِهَا او جائز دي دا (تړل سوې) پټۍ په بلي (نوي) پټۍ سره بدلول (يعني د پټۍ

بدلول هم جائز دي) وَلَايَجِبُ إِعَادَةُ الْمَسْحِ عَلَيْهَا او واجب نه دي پر هغه (نوې پټۍ) باندي مسح راګرځول وَالْأَفْضَلُ إِعَادَتُهُ (خو) راګرځول يې افضل دي.

لغات: ﴿يتوقّت﴾ د تفعّل د باب مضارع ده: مؤقت کېدل، په وخت سره متعيّن کېدل.

تشريح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمايي چي مسح على الجبيره د پرېوللو په څير ده. بدل او خليفه نه ده، په خلاف د مسح على الخفين چي هغه د پرېوللو (غسل) بدل او قائم مقام ده. په همدې وجه يوه پښه مسح کول او بله پرېولل صحيح نه دي (ځکه چي اصل او بدل به سره جمع سي. کوم چي صحيح نه دي)، تر دې وروسته مصنف رَحِمَهُ الله د مسح على الجبيره او مسح على الخفين تر مينځ فرق بيان کړی دی، نو د دواړو تر مينځ په څلورو اعتبارو سره فرق دی: ① د مسح على الجبيره لپاره هيڅ موده متعينه نه ده: ځکه هغه د پرېوللو په حکم کي ده او پرېولل په هيڅ موده سره متعيّن نه دي، په خلاف د مسح على الخفين. ② د زخم پټۍ په پاکي باندي تړل ضروري نه دي، يعني که بغير له اوداسه يې وتړي، نو بيا هم مسح پرې کولای سي، ③ که له دواړو پښو څخه يوه زخمي وي او بله روغه وي، نو پر يوې مسح کول او بله پرېولل جائز دي، ④ که د زخم له روغېدلو څخه بغير پټۍ خلاصه سي، نو دوباره دې يې وتړي او د مسح راګرځول ضروري نه دي: ځکه اوس هم عذر باقي دی. ها! که د زخم له روغېدلو څخه وروسته پټۍ خلاصه سي يا ايله سي، نو اوس زخم يعني تر پټۍ لاندي حصه پرېولل ضروري دي، په خلاف د مسح على الخفين چي په هغه کي د يوې موزې په کښل کېدلو سره مسح باطلېږي (عالمګيري ج:١، ص:٢٥)، او که چا پر خپل زخم دوچنده (ډبله) پټۍ تړلې وي او بيا له هغه څخه پورتنۍ پټۍ خلاصه کړي، يا د دواء لګولو لپاره بله پټۍ بدله کړي، نو د مسح راګرځول ضروري نه دي خو مستحب دي چي د پاسنۍ پټۍ تر ليري کولو وروسته والا پټۍ باندي مسح وکړی سي، همدارنګه پر نوې بدلي سوې پټۍ هم نوې مسح کول مستحب دي. (انوار الايضاح)

که د زخم والا لپاره اوبه تاواني وي نو څه به کوي؟

﴿١٧٥﴾ وَإِذَا رَمِدَ او کله چي سترګه خرابه سي (يا په بله ورنا، سترګه يې خوږ سي، درد او څخښې شروع کړي) وَأُمِرَ أَنْ لَّا يَغْسِلَ عَيْنَهُ او ده ته (د ډېر خبري) حکم وسي چي سترګه دي نه پرېولي (ځکه چي له اوبو څخه بد ورځي) أَوِ انْكَسَرَ ظُفُرُهُ يا د يو چا نوک مات سي وَجَعَلَ عَلَيْهِ دَوَاءً

عَلَكًا أَوْ جِلْدَةَ مِرَارَةٍ او دئ پر هغه باندي دواء او ګوند يا د ترېخي پوستکی کېښېږدي وَ ضَرَّهُ نَزْعُهُ او د هغه لېري کول ده ته ضرر (نقصان) کوي جَازَ لَهُ الْمَسْحُ نو ده لپاره مسح جائز ده وَ إِنْ ضَرَّهُ الْمَسْحُ او که مسح (هم) ضرر ورته کوي تَرَكَهُ نو مسح دي (هم) پرېږدي.

لغات: ﴿رَمَدْ﴾ د سترګو درد او چخني (چغړي) کول، سترګي خوږېدل او خرابېدل. ﴿علك﴾ هر هغه ګوند (کنډوري) چي ژوول کېږي او په ژوولو سره نه ويلي کېږي (نه ختمېږي)، جمع: عُلُوْك و أَعْلَاك. ﴿مرارة﴾ ترېخی، د انسان په نس کي د صفرا کڅوړه کوم چي د اينې سره لاندي لګېدلی وي او د خوړو په هضم کي مرسته کوي، جمع: مَرَائِر.

تشريح: که د چا سترګه خرابه سي او يو ماهر حکيم ورته ووايي چي له اوبو څخه يې ساته!، يا يې نوک مات سي نو هغه پر نوک دواء يا ګوند يا داسي بل شی ولګوي او د هغه زخم لپاره اوبه تاواني وي، نو په لانده لاس سره دي پر هغه مسح کوي او که مسح کول هم تاوان ورته کوي، نو بيا معاف دی، د مسح هم ضرورت نسته. (عالمګيري ج۱، ص:۳۵۱)

﴿١٧٦﴾ وَلَا يَفْتَقِرُ إِلَى النِّيَّةِ فِي مَسْحِ الْخُفِّ وَالْجَبِيْرَةِ وَالرَّأْسِ او نيت ته حاجت (ضرورت) نسته د موزي، پټۍ او سر په مسح کي.

تشريح: فرمايي چي د موزي، پټۍ او د سر په مسح کولو کي نيت ته ضرورت نسته؛ لهذا که څوک اودس وکړي او پر موزي يا پټۍ يا سر باندي مسح وکړي، خو د طهارت نيت نه وکړي، نو هم مسح صحيح سوه؛ ځکه چي نيت ور لره شرط نه دی. (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

* * *

بَابُ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ وَالْاِسْتِحَاضَةِ

(دا) فصل د حیض، نفاس او استحاضې (په بیان کې) دی

تشریح: مخکې مصنف رَحِمَهُ الله د پاکۍ (طهارت) هغه احکام بیان کړل چې په هغوی کې سړی او ښځه دواړه شامل دي، اوس هغه احکام بیانوي کوم چې صرف د ښځو سره متعلق دي.

حیض په لغت او اصطلاح کې: حیض په لغت کې "بهېدلو" ته وايي، او اصطلاحي معنیٰ یې ده: «دَمٌ يَخْرُجُ مِنْ رَحِمِ بَالِغَةٍ سَلِيْمَةٍ» (هغه وینه چې د روغې بالغې ښځې له رحم څخه وځي) کوم چې کم از کم له نهو کالو څخه وروسته تر پنځه پنځوس کالو پورې راځي، او تر پنځه پنځوس کالو وروسته عموماً ښځې ته حیض نه راځي، لهذا تر دې عمر وروسته که ښځې ته وینه راسي، نو بیا به د وینې رنګ ته کتل کیږي، که هغه خالص د وینې رنګ وي یعني ښه سور یا تور غوندې وي، نو حیض دی او که که بل رنګ وي، نو حیض نه دی، ها! که د دغه ښځې عادت له مخکې څخه د هغه بل رنګ وینې وي، نو د هغه رنګ وینه به هم حیض شمېرل کیږي.

نفاس په لغت او اصطلاح کې: نفاس په لغت کې "ساه کښلو" ته وايي، او اصطلاحي معنیٰ یې ده: «دَمٌ يَخْرُجُ مِنَ الرَّحِمِ عَقِيْبَ الْوِلَادَةِ»، (هغه وینه چې له رحم څخه د کوچني تر زیږېدلو وروسته وځي).

د استحاضه تعریف: "سِيْلَانُ الدَّمِ مِنَ الرَّحِمِ فِي غَيْرِ أَوْقَاتِهِ الْمُعْتَادَةِ" (یعني د عادت له ورځو (ایام الحیض والنفاس) څخه بغیر په نورو ورځو کې له رحم څخه بهېدونکې وینه)، او مستحاضه هغه ښځې ته وايي چې د خپل عادت تر ورځو وروسته یې هم وینه جاري وي د مرض په وجه. هره ښځه په دې مرض نه مبتلا کیږي بلکې ښځینه مرض والا ښځې د دې تکلیف سره مخامخ کیږي.

﴿١٧٧﴾ يَخْرُجُ مِنَ الْفَرْجِ حَيْضٌ وَنِفَاسٌ وَاسْتِحَاضَةٌ راوځي د ښځې له فرج څخه (درې قسمه وینه) حیض او نفاس او استحاضه فَالْحَيْضُ دَمٌ يَنْفُضُهُ رَحِمُ بَالِغَةٍ نو حیض هغه وینه ده کوم چې یې رابلسي (راباسي) دېو دلسي بالغې ښځې رحم لَا دَاءَ بِهَا وَلَا حَبَلَ چې په هغې

بالغه نه ځه ناروغي وي او نه حمل (يعني نه ناروغه وي او نه حامله وي) وَلَمْ تَبْلُغْ سِنَّ الْأَيَاسِ او نه هغه دناأميدۍ عمر ته رسېدلې وي.

تشريح: حيض هغه وينه ده کوم چې د روغې ښځې له رحم ځخه راوځي. او که د دواء په ذريعه دا وينه بنده کړل سي، نو تر څو چې وينه جاري سوې نه وي، ښځه پاکه شمېرل کيږي، لېکن که داسې کول د صحت لپاره تاواني وي لکه ځرنګه چې دا تجربه سوې دي، نو دا عمل دې نه کول کيږي. (کتب الفقه على المذاهب الاربعة ج:١، ص:١٢)

فوائد قيود: په عبارت کې دګر د جنس په درجه کې دی چې په هغه کې هر ډول وينه داخله ده، يعني سره وينه، ژړه وينه، خړه وينه او داسې نور، ينفضه: په دې سره هغه وينه ووتله کوم چې په رحم کې موجوده وي او راوتلې نه وي، رحم بالغة: په دې سره د زخم، رګ او د پزې وغيره وينه ووتله، لا داء بها: په دې سره د نفاس وينه ووتله؛ ځکه د نفاس والا ښځه د مريضه په حکم کې ده، سن اياس: د ناأميدۍ عمر د مفتیٰ به قول مطابق پنځه پنځوس (٥٥) کاله دی. (مراقي الفلاح ص:٧٥)

د حيض اقل او اکثر وخت

﴿١٧٨﴾ وَأَقَلُّ الْحَيْضِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ او د حيض کمه (کمتره) موده درې ورځې ده وَأَوْسَطُهُ خَمْسَةٌ او مينځوې (ميانه) موده يې پنځه ورځې ده وَأَكْثَرُهُ عَشَرَةٌ او زياته موده يې لس ورځې ده.

تشريح: د حيض کم از کم (لږترلږه) موده درې ورځې او درې شپې ده، له دې ځخه په کمه موده کې چې کومه وينه راوځي، هغه حيض نه ده، او د حيض اکثره موده لس ورځې او لس شپې ده، له دې ځخه زياته چې کومه وينه جاري وي، هغه حيض نه ده.

﴿١٧٩﴾ وَالنِّفَاسُ هُوَ الدَّمُ الْخَارِجُ عَقْبَ الْوِلَادَةِ او نفاس هغه وينه ده کوم چې د بچي تر پيدايښت (زېږېدنې) وروسته راوځي وَأَكْثَرُهُ أَرْبَعُوْنَ يَوْمًا او د نفاس زياته موده څلوېښت ورځې ده وَلَاحَدَّ لِأَقَلِّهِ او کمې مودې له يې هيڅ حد نسته.

تشريح: د کوچني تر پيدايښت وروسته چې کومه وينه راوځي، هغه ته نفاس وايي، د نفاس کمه موده متعينه نه ده، ځه ګړی وروسته هم دا وينه بندېدای سي، تر بندېدلو وروسته يې غسل واجبيږي او

د حمل تر اسقاط (نخسان) وروسته د راتلونکيويني حکم

مسئله (١): که ديوې ښځي حمل ساقط (نخسان) سي، نو د څلورو مياشتو يا له دې څخه زيات حمل په ساقطولو (نخساتولو) سره چي کومه وينه را وځي، هغه به نفاس شمېرل کيږي. (تنوير الابصار على الدر المختار ج: ١. ص: ٢٣٢)

د آپرېشن په ذريعه د بچي پيدا کېدلو په صورت کي د نفاس حکم

مسئله (٢): که ديوې ښځي بچی دآپرېشن په ذريعه له نس څخه واېستل سي، نو که وينه له بچه دانۍ څخه وبهيږي، هغه بنځه نفاس والا شمېرل کيږي او که له بچه دانۍ څخه د متيازو دلاري څخه وينه نه وبهيږي، نو دې ته نفاس نه ويل کيږي، بلکي دا به پر ظاهري زخم حمل کول کيږي. خو غسل په هر حال کي ضروري دی. (عالمګيري ج: ١. ص: ٣٧، ١۶، در مختار ج: ١. ص: ٢٣٠، ط: بيروت)

مسئله (٣): که دبچي اکثره حصه را ووځي، نو تر هغه وروسته بهېدونکې وينه به نفاس شمېرل کيږي. او که دبچي صرف يو، دوه اندامه را ووځي او اکثره اندامونه تر اوسه يې دننه پاته وي، نو په دې وخت کي بهېدونکې وينه استحاضه ده او په دې حالت کي هم پر هغې لمونځ کول فرض دي. (در مختار ج: ١. ص: ٢٣٠، کتاب المسائل ص: ٢١۶)

﴿١٨٠﴾ وَالإِسْتِحَاضَةُ دَمٌ نَقَصَ عَنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ أَوْزَادَعَلٰى عَشَرَةٍ فِي الْحَيْضِ او استحاضه هغه وينه ده کوم چي په (موده د) حيض کي تر دريو ورځو کمه سي يا تر لسو ورځو زياته سي وَعَلٰى أَرْبَعِيْنَ فِي النِّفَاسِ او په نفاس کي تر څلوېښتو ورځو (زياته سي).

تشريح: يعني کومه وينه چي د حيض له کم مودت (دريو ورځو) څخه کمه راسي، هغه استحاضه ده. همدارنګه کومه وينه چي دحيض له اکثره مودت (لسو ورځو) څخه زياته راسي، هغه هم استحاضه ده. لهذا که يوه ښځه داسي وي چي دا يې لول حيض وي او په همدې حيض سره بالغه سوې وي او دا وينه يې تر لسو ورځو زياته سي، نو اوس به لس ورځي د حيض شمېرل کيږي او تر لسو ورځو وروسته ورځي به استحاضه شمېرل کيږي، او که دا يې اول حيض نه وي، بلکي مخکي هم څو واره حيض ورته راغلې وي، خو په دې وار تر لسو ورځو زيات سي، نو که د هغې عادت مخکي معلوم وي مثلاً پنځه ورځي يا اووه ورځي، نو د عادت ورځي به په حيض کي شمېرل کيږي او پاته ورځي به د استحاضې وينه شمېرل کيږي. همدارنګه د نفاس له اکثر مودت (څلوېښتو ورځو) څخه زائده وينه استحاضه ده. (شفاء الارواح)

* * *

له نهو کالو څخه په کم عمر کي د راتلونکيويني حکم

مسئله: نجلۍ کم از کم د نهو کالو په عمر کي بالغه کيږي، لهذا که له نهو کالو څخه په کم عمر کي وينه راسي، نو هغه ته به حيض نه ويل کيږي، بلکي هغه به استحاضه شمېرل کيږي. (انوار الایضاح)

د پاکۍ (طهر) موده

﴿۱۸۱﴾ وَأَقَلُّ الطُّهْرِ الْفَاصِلِ بَيْنَ الْحَيْضَتَيْنِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا او د طهر (پاکۍ) کمه موده کوم چي د دوو حيضونو ترمينځ فاصل (جلا کونکې) ده پنځلس ورځي ده وَلَاحَدَّ لِأَكْثَرِهٖ او د طهر زياتي مودې لره هيڅ حد نسته إِلَّا لِمَنْ بَلَغَتْ مُسْتَحَاضَةً مگر د هغي ښځي لپاره کوم چي د مستحاضه کېدو په حالت کي بالغه سوې وي (يا په بله وينا: په داسي حالت کي بالغه سوې وي چي د هغې وينه جاري وي او نه بنديږي، نو د داسي ښځي لپاره د طهر موده شل (يا نولس) ورځي ده. يعني د هغې په حق کي د هري مياشتي لس ورځي د حيض شمېرل کيږي او پاته شل ورځي د طهر کيږي. نو گواکي د هغې لپاره د طهر حد مقرر سو).

تشريح: د دوو حيضو ترمينځ د پاکۍ موده پنځلس (۱۵) ورځي ده. له دې څخه په کمه موده کي چي کومه وينه راځي، هغه به حيض نه شمېرل کيږي، او د طهر اکثره موده معلومه او ټاکل سوې نه ده. بلکي تر څو چي وينه نه راځي، ښځه طاهره (پاکه) ده، لمونځ او روژه دي اداء کوي. که څه هم ټوله عمر را نه سي.

إِلّا لمن بلغت إلخ: لېکن که يو نجلۍ په داسي حالت کي بالغه سي چي وينه يې جاري وي او نه بنديږي، يا په بله وينا چي که يو نجلۍ اول وار وينه وويني او هغه تر لسو ورځو زياته جاري پاته سي، نو په داسي صورت کي به د شروع لس ورځي د حيض شمېرل کيږي او نوري شل (۲۰) ورځي به د پاکۍ (طهر) شمېرل کيږي چي پر هغه به د پاکۍ احکام جاري کول کيږي.

﴿۱۸۲﴾ وَيَحْرُمُ بِالْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ ثَمَانِيَةُ أَشْيَاءَ او په حيض او نفاس سره اته (۸) شيان حراميږي اَلصَّلوٰةُ وَالصَّوْمُ (۱) لمونځ (۲) او روژه.

تشريح: د حيض او نفاس په زمانه کي لمونځ کول او روژه نيول صحيح نه دي، دومره فرق دی چي لمونځ خو بالکل ورته معاف کيږي چي تر پاکېدلو وروسته هم د هغه قضاء نه واجبيږي، لېکن روژه نه معاف کيږي، تر پاکېدلو وروسته به د روژو قضا راوړل کيږي.

* * *

د حيض په حالت کي يو مستحب عمل

مسئله (۱): د ښځو لپاره د حيض په زمانه کي يو مستحب عمل دا دی چي د لمانځه په وختونو کي دي او دس کوي او پر يو ځای دي څه ګړی کښېني، تسبيح او ذکر دي وايي، د دې لپاره چي د عبادت اهتمام او عادت باقي پاتــه سـي او پـه زړه کي يې ور څخه څه بوج را نه سي. (کتاب المسائل ص: ۲۰۶، تاتارخانيه ج: ۱، ص: ۴۷۸، مسئله: ۱۲۷۴)

د لمانځه په دوران کي حيض راتلل

مسئله (۲): که د فرضي لمانځه په دوران کي حيض راسي، نو هغه لمونځ بالکل معاف دی او که د نفلي لمانځه په دوران کي حيض ورته راسي، نو وروسته به د هغه قضاء را وړل کيږي. (در مختار مع الشامي ج: ۱، ص: ۴۲۱، ط: بيروت، کتاب المسائل ص: ۲۰۵)

﴿۱۸۳﴾ وَقِرَاءَةُ آيَةٍ مِّنَ الْقُرْآنِ (۳) او د قرآن يو آيت ويل.

تشريح: د حيض او نفاس په حالت کي بالقصد د قرآن کريم تلاوت جائز نه دی، يعني يو آيت ويل هم جائز نه دي، تر يو آيت په کم کي اختلاف دی او مناسب همدا ده چي نه يې ووايي.

❀ ❀ ❀

د قرآن استاذه ښځه (معلمه) به د حيض په حالت کي څنګه سبق ورته وايي؟

مسئله (۱): که چيري د قرآن کريم د معلمي ښځي لپاره د حيض په حالت کي کوچنيانو ته درس ويل ضروري وي، نو د درس ټوله الفاظ به پر يوه ځای (روان) نه ورته وايي، بلکي هر لفظ او هره کلمه به جلا ورته وايي مثلاً قُلْ ـ هُوَ ـ اللهُ ـ أَحَدٌ، يعني د هري کلمې تر مينځ به فصل کوي، روان به يې نه ورته وايي. (تاتارخانيه ج: ۱، ص: ۴۸۰، مسئله: ۱۲۸۳، البحر الرائق ج: ۱، ص: ۲۰، کتاب المسائل ص: ۲۰۹)

د حيض په حالت کي د حديثو او د فقهي تدريس

مسئله (۲): د ښځو په مدرسو کي چي کومي ښځي استاذاني (معلمات) حديث، تفسير او فقه تدريسوي، د هغوی لپاره د حيض په ورځو کي د درس اجازه سته، لېکن د دوو (۲) خبرو خيال دي ساتي: ① يوه دا چي د قرآن کريم د آيت تلاوت دي نه کوي، ② او دويمه دا چي د کتابونو هغه حصې ته به لاس نه وروړي چي هلته يو قرآني آيت ليکلی وي. (طحطاوي ص: ۷۷، ديني مسائل ص: ۲۰)

د تلاوت له نيت څخه بغير قرآني آيتونه ويل

مسئله (۳): که چيري د تلاوت نيت نه وي، بلکي د دعاء او ذکر او د الله ﷻ د حمد په غرض سره د قرآن کريم آيتونه د حيض په حالت کي وويل سي، نو په دې باره کي تفصيل دا دی چي په دعاء او حمد باندي مشتمله آيتونه ويل مطلقاً جائز دي، برابره ده آيتونه اوږده وي او که مختصره وي، او که د

حمد او ثناء والا آيتونه نه وي مثل سورة اللهب (تَبَّتْ يَدَا)، نو د کوچنيو آيتونو د ويلو اجازه سته او د اوږدو آيتونو ويل منع دي۔ (شامی ج:۱، ص:۲۲۲، کتاب المسائل ص:۲۰۹)

د حيض په حالت کې قرآني او نبوي دعاګانې ويل

مسئله (۴): د حيض په حالت کې هر ډول دعاګانې ويل جائز دي، حتی هغه دعاګانې هم ويل کېدلای سي چې د هغوی الفاظ په قرآن کريم او احاديثو کې وارد وي، همدارنګه په دې حالت کې دعاءِ قنوت ويل هم صحيح دي۔ (در مختار ج:۱، ص:۲۲۴، کتاب المسائل ص:۲۱۰)

د حيض او نفاس په حالت کې قرآن کريم ته لاس وروړل

﴿۱۸۴﴾ وَمَسُّهَا إِلَّا بِغِلَافٍ (۴) او (همدارنګه حرام دي) د قرآن کريم مسه کول مګر د پوښ سره.

تشريح: د حيض او نفاس په ورځو کې قرآن کريم ته له پوښ څخه بغير لاس وروړل جائز نه دي او په کوم پوښ او بسته چې کې قرآن اېښوول سوی وي، هغه د پاسه نيول د ښځې لپاره صحيح دي، او پاته سو هغه پوښ کوم چې د قرآن کريم سره مښتې (ښلول سوی يا ګنډل سوی) وي، هغه د قرآن په حکم کې دی، او په لستوڼي سره قرآن مسه کول مکروه تحريمي دي، او په قلم يا داسې بل شي د قرآن پاڼي (ورقې) اړول جائز دي، خو بايد هيڅ قسم توهين پکښې رانه سي۔ (مراقی الفلاح مع الطحطاوي:۷۲)

❀ ❀ ❀

مسئله (۱): د حيض په ورځو کې ديني کتابونه مطالعه کول او درسول جائز دي، لېکن په هغوی کې چې چيري د قرآن کريم آيت ليکلی وي، هغه ځای ته لاس وروړل او په ژبه سره ويل جائز نه دي۔

مسئله (۲): د حيض په حالت کې قرآن کريم په کمپيوټر کې ليکل (کمپوزول) مکروه دي، د قرآن کريم د عظمت تقاضا دا ده چې تر کامل پاکوالي وروسته دا مبارک کار تر سره کړل سي۔ (انوار الايضاح)

د حيض په حالت کې مسجد ته تلل

﴿۱۸۵﴾ وَدُخُوْلُ مَسْجِدٍ (۵) او مسجد ته داخلېدل.

تشريح: د حيض او نفاس په حالت کې مسجد ته داخلېدل جائز نه دي، که څه هم په مسجد کې د تېرېدلو لپاره وي، په دې حکم کې ټول مسجدونه داخل دي، خو عيدګاه او جنازه ګاه (يعني په کوم ځای کې چې د لمانځه لمونځ يا د جنازې لمونځ کېږي، هغوی) په دې حکم کې داخل نه دي۔

د حیض او نفاس په حالت کي د طواف حکم

﴿۱۸۶﴾ وَالطَّوَافُ (۶) او (همدارنګه حرام دي) طواف کول.

تشریح: د حیض او نفاس په ورځو کي د کعبي شریفي طواف کول حرام دي، لیکن که کومه ښځه چي په دې حالت کي مجبوراً "طواف زیارت" وکړي، نو دا طواف یې معتبر دی، خو په جرمانه کي د یوه اوبښ قرباني لازمیږي او دا ښځه سخته ګناهګاره کیږي، او که تر پاکیدلو وروسته طواف راوګرځوي، نو جرمانه ساقطیږي. (مراقي الفلاح مع الطحطاوي ص:۸)

د حیض او نفاس په حالت کي د جماع حکم

﴿۱۸۷﴾ وَالْجِمَاعُ (۷) او جماع (کوروالی) کول.

تشریح: د حیض او نفاس په حالت کي د خاوند لپاره جماع حرامه ده، او کوم خاوند چي د حیض او نفاس په حالت کي د خپلي ښځي سره جماع وکړي او په دې حالت کي جماع حلاله ګڼي، نو هغه کافر کیږي، او که حرامه یې ګڼي، نو د ګناه کبیره مرتکب شمېرل کیږي او پر هغه توبه او استغفار لازم دي، او که ښځه مجبوره کړل سوې وي، نو پر هغې ګناه نسته. او د سړي لپاره مستحب دا ده چي که د حیض په شروع کي یې جماع کړې وي کله چي سره وینه روانه وي، نو یو دینار (یعني څلور نیمې ماشې او د ګرام په حساب سره ۴ ګرامه او ۳۷۴ ملي ګرامه) سره زر یا د هغه قیمت دي پر غریبانو صدقه کړي، او که د حیض په آخر کي یې وطي ور سره کړې وي، نو نیم دینار (یعني ۲ ګرامه او ۱۷۸ ملي ګرامه) سره زر یا د هغه قیمت دي صدقه کړي، او که څوک د دې په حُرمت خبر نه وي، یا بل چا مجبوره کړی وي، هیڅ قصد او هیڅ اختیار نه لري، یا حیض څني هېر وي، نو ګناه کبیره نه ده، یعني د هغه لپاره معافي سته. (شفاء الارواح)

د حیض او نفاس په حالت کي له ښځي څخه لذت حاصلول

﴿۱۸۸﴾ وَالِاسْتِمْتَاعُ بِمَا تَحْتَ السُّرَّةِ إِلَى تَحْتَ الرُّكْبَةِ (۸) او نفع اخیستل (خوند اخیستل) (د ښځي) له هغه حصې څخه کوم چي تر نامه لاندي ده (بیا) تر ځنګنو پوري (یعني د حیض او نفاس په حالت کي له نامه څخه لاندي بیا تر ځنګنو پوري له ښځي څخه خوند اخیستل هم حرام دي).

لغات: ﴿استمتاع﴾ د استفعال د باب مصدر دی: (له ښځي څخه) نفع او خوند اخیستل، مثلاً په مچولو یا مسه کولو سره خوند اخیستل. ﴿سُرّة﴾ نُو، نامه، جمع: سُرّات و سُرَر.

تشریح: د حیض او نفاس په وخت کي له نامه څخه تر ځنګنو لاندي حصې پوري له ښځي څخه لذت او نفع اخیستل هم منع او حرام دي، کله چي کپړه وغیره په مینځ کي حائل نه وي، خو که دلته

کپړه وغیره په مینځ کي حائل وي چي د ښځي د بدن حرارت (گرمايي) نه ورته محسوسیږي، نو بیا په پړېوتلو او مسه کولو کي څه حرج نسته، او پاته سوئو (سرة) او تر هغه لوړه حصه او له ځنګنو څخه بغیر له حائله هم مسه کول او لذت حاصلول جائز دي. (طحطاوي، شامي، کتاب الحائل)

د حیض په حالت کي له ښځي څخه ځای او بستره جلا کول

مسئله: د حیض او نفاس په وجه له ښځي څخه ځای او بستره جلا کول پکار نه دي، بلکي د عادت مطابق پرېوتل پکار دي، په دې حالت کي بستره جلا کول د یهودو فعل دی چي د هغوی له مشابهت څخه ځان ساتل ضروري دي. (شامي، کتاب الحائل)

د ویني تر انقطاع وروسته د جماع حکم

﴿۱۸۹﴾ وَإِذَا انْقَطَعَ الدَّمُ لِأَكْثَرِ الْحَيْضِ وَالنِّفَاسِ او کله چي (د حیض او نفاس) وینه د حیض او نفاس پر اکثره موده بنده سي (مثلاً د حیض اکثره موده لس ورځي ده او وینه هم پر لسمه ورځ بنده سي)

حَلَّ الْوَطْءُ بِلَا غُسْلٍ نو بېله غسل کولو څخه وطي (جماع) کول حلال دي.

لغات: ﴿انقطع﴾ د انفعال د باب ماضي ده: منقطع کېدل، ختمېدل، درېدل.

تشریح: که د حیض وینه پر لسو ورځو بنده سوې وي، یا د نفاس وینه پر څلوېښتو ورځو بنده سوې وي، نو که څه هم تر هغه وروسته سملستي جماع کول روا دي، لېکن مستحب همدا ده چي تر غسل کولو وروسته جماع وکړي. (در مختار ج:۱، ص:۴۲۴، مراقی الفلاح ص:۷۸)

❀ ❀ ❀

د دواء په ذریعه حیض بندول

مسئله: که د یوې ښځي حیض د عادت موافق شروع سي، بیا هغه یو دواء وخوري او په مینځ کي حیض بند کړي، نو محض د ویني په بندېدلو سره هغه نه پاکیږي، بلکي د خپل عادت تر ورځو هغه ناپاکه شمېرل کیږي. (منهل الواردین ص:۸۱)

تر لسو ورځو مخکي د حیض تر انقطاع وروسته د جماع حکم

﴿۱۹۰﴾ وَلَا يَحِلُّ إِنِ انْقَطَعَ لِدُوْنِهِ لِتَمَامِ عَادَتِهَا او حلال نه دي (وطي کول) که چیري له دې (اکثره مودې) څخه پر کمه موده وینه بنده سي د ښځي د عادت پوره کېدلو په وجه (یعني تر اکثره مودې مخکي د ښځي د خپل عادت مطابق وینه بنده سي، نو په دې صورت کي تر هغه وخته پوري جماع کول حلال نه دي تر څو چي له دریو شیانو څخه یو موجود نه سي) إِلَّا أَنْ تَغْتَسِلَ (۱) مګر دا چي غسل وکړي أَوْ تَتَيَمَّمَ وَتُصَلِّيَ (۲) یا تیمم وکړي او لمونځ وکړي أَوْ تَصِيْرَ الصَّلٰوةُ دَيْنًا فِيْ ذِمَّتِهَا (۳) یا

لمونځ د هغې پر ذمه قرض وګرځي (یا په بله وینا، دیوه وخت لمونځ ځني قضاء سي) وَ ذٰلِكَ بِاَنْ تَجِدَ بَعْدَ الْاِنْقِطَاعِ مِنَ الْوَقْتِ الَّذِیْ اِنْقَطَعَ الدَّمُ فِیْهِ زَمَنًا او دا (لمونځ د هغې پر ذمه قرض کېدل) په دې توګه دي چي ښځه وموندي (پیدا کړي) د وینې تر بندېدو وروسته له هغه وخت څخه چي وینه پکښې بنده سوې ده دومره زمانه (یعني د وینې له دربېدو څخه وروسته دومره زمانه اوخت اپیدا کړي) یَسَعُ الْغُسْلَ وَالتَّحْرِیْمَةَ فَمَا فَوْقَهُمَا چي (په هغه زمانه کي) ګنجایش وي د غسل کولو او تحریمه ویلو او (یا) تر دې دواړو د زیات (ګنجایش وي) وَلَمْ تَغْتَسِلْ وَلَمْ تَتَیَمَّمْ حَتّٰی خَرَجَ الْوَقْتُ او ښځه نه غسل وکړي او نه تیمم وکړي تر دې چي وخت ووځي (نو د هغه وخت لمونځ د دې ښځي پر ذمه قرض سو، او د دې سره وطي کول حلال سوه).

لغات: لایحل: د دې ضمیر د الوَطْءُ وطرف ته راجع دی، لدونه: د دې ضمیر د أکثر وطرف ته راجع دی.

تشریح: که تر لسو ورځو مخکي د عادت مطابق وینه بنده سوې وي، مثلاً د ښځي عادت اُووه ورځي وي او پر اُوومه ورځ وینه بنده سي، نو په داسې صورت کي تر هغه وخته پوري جماع نه حلالېږي ① تر څو چي ښځه غسل نه وکړي، ② یا د اوبو د نشتوالي په صورت کي تیمم او لمونځ نه وکړي که څه هم نفلي لمونځ وي (دا د لمانځه شرط صرف د تیمم سره دی، نه د غسل سره)، ③ یا دومره وخت تېر سي چي د ښځي پر ذمه کم از کم یو لمونځ لازم سي یا په بله وینا دیوه وخت لمونځ ځني قضاء سي (له دغه دریو شیانو څخه دیوه تر موجودېدلو وروسته جماع حلالېږي).

وذٰلك الخ: د ښځي پر ذمه دیوه لمونځ لازمېدلو صورت دا دی چي مثلاً دیوې ښځي وینه د عادت مطابق تر لسو ورځو مخکي بنده سوه او مثلاً تر صبح صادق وروسته بنده سوه، نو اوس د هغې سره بېله غسله وطي کول حلال نه دي، خو هغې غسل نه وکړی او د تیمم د جائز والي په صورت کي یې نه تیمم وکړی، حال دا چي دومره وخت سته چي هغه غسل کولای سي او تر غسل او جامې اغوستلو وروسته تحریمه یعني یو وار الله اکبر ویلای سي، بلکي تر دې زیات وخت پاته دی، تر دې چي لمر راوختی او د لمانځه وخت ووتی او د هغې لمونځ قضاء سو (پر ذمه یې لازم سو). نو د دې ښځي سره بغیر له غسله هم وطي جائز کېږي. په حاشیه کي یو بل صورت هم بیان سوی دی چي که وینه د عادت له ورځو څخه په کم وخت کي بنده سي، مثلاً عادت یې دلوو ورځو وي او وینه په پنځو ورځو کي بنده سي، نو په داسې صورت کي د ښځي سره وطي کول جائز نه دي، که څه هم دا ښځه غسل

وکړي، ترڅو چي د عادت ورځي پوره نه سي، لېکن احتياطاً پر داسي ښځي لمونځ او روژه لازم دي. (شفاء الارواح)

* * *

مسئله (١): که تر لسو ورځو مخکي وينه بنده سي او په داسي وخت کي بنده سي چي ښځه په تېزي سره تر غسل کولو وروسته تکبير ويلای سي، نو پر دغه ښځي له هغه وخت څخه لمونځ فرض سو چي د هغه قضا به راوړي، او که هغه وخت دومره تنګ وي چي غسل او تکبير تحريمه سر ته نه سي رسولای، نو د هغه وخت لمونځ پر هغې فرض نه دی. لعرا روان وخت څخه به لمونځ شروع کوي. (شامي ج:١، ص:٤٢٨، ط: بيروت)

مسئله (٢): که لس ورځي پوره سي او بيا د لمانځه بالکل په آخري وخت کي وينه بنده سي چي ښځه صرف الله اکبر پکښي ويلای سي، نو هم پر هغې د هغه وخت لمونځ فرض سو چي تر دې وروسته به يې قضا راوړي. (پورتنی حواله)

مسئله (٣): کله چي د حيض يا نفاس وينه له اکثره مودې څخه په کم وخت کي د يو لمانځه د شروع په وخت کي بنده سي، نو افضله دا ده چي په غسل کي تلوار نه وسي. بلکي د لمانځه تر آخري مستحب وخته پوري احتياطاً غسل وځنډول سي چي د بل وار ويني ښکاره کېدلو احتمال پاته نه سي. (تاتارخانيه ج:١، ص:٤٨٢، مسئله:١٢٩٥، کتاب المسائل ص:٢٠٧)

د حيض او نفاس په حالت کي د لمانځه او روژې حکم

﴿١٩١﴾ وَتَقْضِي الْحَائِضُ وَالنُّفَسَاءُ الصَّوْمَ دُوْنَ الصَّلٰوةِ او حيض او نفاس والا ښځه به (صرف) د روژې قضاء راوړي، نه د لمانځه.

لغات: ﴿دُوْنَ﴾ ظرفِ مکان منصوب دی: د دې لفظ څو معناوي دي، د مضاف اليه په بدلون سره يې معنیٰ هم بدلېږي، دلته په معنیٰ د غَيْر سره دی، يعني غير الصلاة، لکه څرنګه چي په دې آيت کي په همدې معنیٰ سره دی ﴿وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ﴾.

تشريح: د حيض او نفاس په حالت کي لمونځ بالکل معاف دی يعني د هغه قضاء هم نسته، او روژه که څه هم في الحاله جائز نه ده. لېکن وروسته د حيض د ورځو د روژو قضاء لازم ده.

علامه نووي رَحِمَهُ الله فرمايي: چي تمام اهل سنت والجماعت پر دې خبره متفق دي چي حائضه او نفاس والا ښځه به تر پاکېدلو وروسته د لمانځه قضاء نه راوړي، لېکن د روژو قضاء به راوړي، لېکن د خوارجو په نېز د روژو په څېر د لمنځونو قضاء هم پر ښځي لازم ده. اهل سنت والجماعت فرمايي چي که د لمنځونو قضاء لازمه سي. نو فرض به مکرر او دوچنده سي (څکه ښځه به

یو د خپل وخت لمونځ اداء کوي او بل به قضائي لمونځ اداء کوي)، چي په دې کي حرج او ستونزه ده او د روژو په قضا کي دا خرابي نه لازمیږي. (معارف السنن ج:۱. ص:۲۲۱)

د جنابت په حالت کي کوم شیان حرام دي؟

﴿ ۱۹۳ ﴾ وَيَحْرُمُ بِالْجَنَابَةِ خَمْسَةُ أَشْيَاءَ او د جنابت په وجه پنځه شیان حرامیږي اَلصَّلٰوةُ (۱) لمونځ کول وَقِرَاءَةُ آيَةٍ مِّنَ الْقُرْآنِ (۲) او د قرآن یو آیت ویل وَ مَسُّهَا إِلَّا بِغِلَافٍ (۳) او قرآن مسه کول مګر د پوښ سره (یعني له پوښ او جامې څخه بغیر قرآن ته لاس وروړل) وَ دُخُوْلُ مَسْجِدٍ (۴) او مسجد ته داخلېدل وَالطَّوَافُ (۵) او طواف کول وَيَحْرُمُ عَلَى الْمُحْدِثِ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ او پر بې اودسه کس درې شیان حرامیږي اَلصَّلٰوةُ وَالطَّوَافُ (۱) لمونځ (۲) او طواف کول وَ مَسُّ الْمُصْحَفِ إِلَّا بِغِلَافٍ (۳) او قرآن کریم مسه کول مګر د پوښ سره.

لغات: ﴿مَصْحَف﴾ او مُصْحَف: په اصل کي هر مجلد کتاب ته وایي (یعني هر هغه کتاب چي وقایې ورته لګېدلي وي). دلته څني مراد قرآن کریم دی او غالباً دا لفظ د قرآن کریم په معنیٰ سره مستعمل وي.

تشريح: د جنابت په حالت کي پنځه شیان حرام دي: ① لمونځ. بغیر له غسل کولو څخه لمونځ کول حرام دي، ② د قرآن پاک یو آیت لوستل، برابره ده پوره آیت وي یا کم وي. د تلاوت په اراده سره لوستل حرام دي. د دې په هکله مخکي هم تفصیل تېر سو، ③ له پوښ څخه بغیر قرآن کریم مسه کول. لهذا که پر دېوال، یا د کتاب پر یو پاڼه آیت لیکل سوی وي، نو د آیت ځای مسه کول حرام دي. خو له هغه څخه بغیر د بل ځای په مسه کولو کي څه حرج نسته، په دې هکله مخکي تفصیل تېر سو. ④ مسجد ته داخلېدل، ⑤ او طواف کول. په دې هکله هم مخکي تفصیل تېر سو.

ويحرم على المحدث الخ: او د بې اودسی په حالت کي درې شیان حرام دي: ① لمونځ. ② طواف. ③ او له پوښ څخه بغیر قرآن کریم مسه کول.

د استحاضه د وینې حکم

﴿ ۱۹۴ ﴾ وَ دَمُ الْإِسْتِحَاضَةِ كَرُعَافٍ دَائِمٍ او د استحاضې (د مرض) وینه د پزې د همېشنی (جاري) وینې په څېر ده (یعني داسې ده لکه د پزې وینه چي همېشه روانه وي) لَا يَمْنَعُ صَلٰوةً وَّلَا صَوْمًا وَّلَا وَطْئًا (نو د پزې د رواني وینې په څېر) نه منع کوي لمونځ او نه روژه او نه وطي.

لغات: ﴿رُعَاف﴾ د فتح او نصر له بابه مصدر دی: پزه ويني کېدل، له پزې څخه وينه روانېدل. هغه وينه چې له پزې څخه د ناروغۍ په وجه راوځي.

تشريح: د استحاضې وينه د رګ وينه ده، هغه له رحم څخه نه راوځي او علامت يې دا دی چې له رحم څخه چې کومه وينه راوځي، د هغه بوی ځي او د رګ په وينه کې بوی نه وي (حاشيه). دلته دا بيانوي چې د استحاضه حکم داسې دی لکه پزه چې همېشه وينه کوي. څرنګه چې د پزې وينې کېدل له لمانځه، روژې او جماع څخه مانع نه دي، همداسې د استحاضه وينه هم د دې دريو لپاره مانع نه دي، لهذا مستحاضه ښځه به لمونځ کوي، روژه به نيسي او د هغې سره جماع کول هم حلال دي.

د معذوره کس حکم

﴿١٩٣﴾ وَتَتَوَضَّأُ الْمُسْتَحَاضَةُ وَمَنْ بِهٖ عُذْرٌ او اودس به کوي مستحاضه ښځه او هغه کس چې هغه لره يو (جاري) عذر وي كَسَلَسِ بَوْلٍ وَاسْتِطْلَاقِ بَطْنٍ لکه مسلسل متيازې څڅېدل او نس چلېدل (له نس څخه ايله کېدل) لِوَقْتِ كُلِّ فَرْضٍ (دوی به اودس کوي) د هر فرض لمانځه د وخت لپاره وَيُصَلُّوْنَ بِهٖ مَا شَاءُوْا مِنَ الْفَرَائِضِ وَالنَّوَافِلِ او په دې (يوه) اودا سره دوی کولای سي څومره چې دوی وغواړي له فرضي او نفلي لمنځونو څخه (يعني په دې اودا سره دوی هر څو فرائض او نوافل کولای سي. د هر لمانځه لپاره جلا اودس تازه کول لازم نه دي).

لغات: ﴿سَلِس بول﴾ مشهور مرض دی چې په دې باندې مبتلا کس د خپلو متيازو (بولو) مخه نه سي نيولای او متيازې يې بې اختياره څاڅي، دا مرض يا د مثانې د کمزورۍ په وجه وي. يا د يخ پر بناء داسې کيږي. ﴿استطلاق﴾ د استفعال د باب مصدر دی: د نس ايله کېدل. بهېدل. اسهالونه راتلل. (د اسهالو ناروغي). دلته د محل (بطن) په ذکر کولو سره حال مراد کړی سوی دی يعني هغه شی کوم چې په نس کې دی د هغه بهېدل.

تشريح: مستحاضه ښځه او د کوم کس متيازې يا اسهالونه چې نه درېږي. د دغو معذورينو په باره کې حکم دا دی چې د هر لمانځه د وخت لپاره دې اودس کوي او په دې اودا سره چې په وخت کې دننه څومره لمنځونه وغواړي، هغه کولای سي، برابره ده فرض وي او که نفل وي.

فايده: معذور هغه کس دی کوم چې په داسې عذر مبتلا وي چې د هغه منع کول د ده په وس کې نه وي او د ده دا عذر د يوه لمانځه تر پوره وخت پورې باقي وي. يعني دومره وخت پيدا نه کړي چې د هغه وخت لمونځ په طهارت سره وکړی سي. نو مستحاضه ښځه او هغه کس چې هر وخت يې د متيازو څاڅکي روان وي. يا يې اسهال جار وي، دا ټول معذورين دي.

د معذورينو اودس کله باطليږي؟

﴿١٩٥﴾ وَيَبْطُلُ وُضُوْءُ الْمَعْذُوْرِيْنَ بِخُرُوْجِ الْوَقْتِ فَقَطْ او باطليږي د معذوره کسانو اودس صرف د وخت په وتلو سره.

تشريح: کله چي د فرضي لمانځه وخت ووځي، نو د دي معذورينو اودس باطليږي. اوس که معذوره کس بل فرضي لمونځ کوي، نو د هغه لپاره نوی اودس کول ضروري دي. لهذا که معذوره کس د لمانځه له وخت څخه مخکي د بل لمانځه په وخت کي اودس وکړي، نو په هغه اودس سره د راروان وخت لمونځ کول صحيح نه دي؛ ځکه چي د وخت په وتلو سره د معذوره کس اودس ماتيږي.

فايده: دلته په عبارت کي د "فقط" قيد لګول سوی دی. يعني د مذکوره معذورينو اودس فقط د وخت په وتلو سره ماتيږي، همدا د امام صاحب رَحِمَهُ الله مذهب دی. په دې قيد سره د امام زفر رَحِمَهُ الله او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مذهب خارج سو. امام زفر رَحِمَهُ الله فرمايي چي د معذورينو اودس د وخت په داخليدلو سره ماتيږي، نه د وخت په وتلو سره، او امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله فرمايي چي په خروج او دخول دواړو سره ماتيږي. (مراقی الفلاح ص: ٨٠)

معذور شرعي څوک دی؟

﴿١٩٦﴾ وَلَايَصِيْرُ مَعْذُوْرًا حَتّٰى يَسْتَوْعِبَهُ الْعُذْرُ وَقْتًا كَامِلًا او (يو څوک تر هغه وخته پوري) معذوره نه ګرځي تر دې چي عذر هغه پوره وخت ونيسي (يعني د يوه لمانځه پوره اتوله وخت په عذر مبتلا وي) لَيْسَ فِيْهِ انْقِطَاعٌ بِقَدْرِ الْوُضُوْءِ وَالصَّلٰوةِ چي په دې پوره وخت کي د اودااسه او لمونځ کولو په اندازه عذر منقطع (ختم ابند) نه سي وَهٰذَا شَرْطُ ثُبُوْتِهٖ او دا د عذر د ثابتېدلو (لپاره) شرط دي وَشَرْطُ دَوَامِهٖ وُجُوْدُهٗ فِيْ كُلِّ وَقْتٍ بَعْدَ ذٰلِكَ وَلَوْ مَرَّةً او د عذر د دوام (دائمي کېدلو) شرط تر دې وروسته د هر لمانځه په وخت کي د عذر موجودېدل دي. که څه هم يو وار وي (يعني چي د پوره وخت تر نيولو وروسته بيا د هر لمانځه په وخت کي عذر واقع کيږي. که څه هم يو وار وي) وَشَرْطُ انْقِطَاعِهٖ وَخُرُوْجِ صَاحِبِهٖ عَنْ كَوْنِهٖ مَعْذُوْرًا او د عذر ختمېدلو او له معذوره کېدو څخه د

ده دوتلو شرط خُلُـوُّوَقْتٍ كَامِلٍ عَنْهُ له عذر څخه د پوره وخت خالي کېدل دي (يعني معذوره کس هغه وخت له معذوريت څخه وځي او عذر يې ختميږي کله چي ديوه لمانځه په ټوله وخت کي هغه عذر واقع نه سي).

تشريح: انسان هغه وخت معذوره شمېرل کيږي کله چي هغه عذر د فرضي لمانځه پوره وخت ونيسي (لکه څه مخکي چي هم ددې وضاحت وسو). يا خو حقيقتاً پوره وخت ونيسي په دې توګه چي د هر لمانځه پوره وخت په همدې عذر کي تېريږي، يا حکماً پوره وخت ونيسي په دې توګه چي هغه ته دومره فرصت او وقفه نه حاصليږي چي اودس وکړي او فرض لمونځ وکړي. بلکي د اودس او لمانځه په دوران کي هغه عذر خامخا پېښيږي. (شفاء الارواح)

وشرط دوامه إلخ: په دې سره د عذر د دائمي کېدلو او باقي پاتېدلو شرط بيانوي. نو انسان تر هغه وخته پوري معذوره شمېرل کيږي کله چي ديو لمانځه وخت پر انسان داسي تېر نه سي چي په هغه کي دده عذر موجود نه وي، که څه هم يو وار وي، مثلاً که ديو چا د متيازو څاڅکي ديوه لمانځه پوره وخت جاري سي، نو هغه معذوره سو، تر دې وروسته چي کله چي د لمانځه وخت راځي، په هغه کي ټوله وخت د متيازو څاڅکي بهېدل شرط نه دي بلکي په ټوله وخت کي که يو وار هم څاڅکي راځي او نور ټوله وخت بند وي، نو هم شرعاً هغه معذوره پاتېږي.

او که په راروان وخت کي پر معذوره کس ديوه لمانځه پوره وخت داسي تېر سي چي په هغه کي يې عذر مثلاً د متيازو څاڅکي بالکل نه راسي، نو اوس هغه د معذور له حکم څخه وځي او دا به ويل کيږي چي عذر يې ختم سو. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

* * *

د اشراق يا څابنت په اوداسه سره د ماپښين لمونځ کول

مسئله (۱): کوم څوک چي شرعاً معذوره وي، هغه هم د اشراق يا څابنت په اوداسه سره د ماپښين لمونځ کولای سي، په دې شرط چي په دې دوران کي څه اودس ماتونکی شی (ناقض وضوء) پېښ سوی نه وي؛ ځکه له اشراق څخه تر زواله پوري دا وخت ديو خاص لمانځه لپاره متعيّن نه دی. (در مختار ج۱، ص۴۳۹، کتاب المسائل ص۱۹۵)

د لمانځه له وخت داخلېدلو څخه وروسته عذر پېښېدل

مسئله (۲): که د لمانځه وخت داخل سي، تر دې وروسته په انسان کي داسي زخم پيدا سي چي وينه يې نه بنديږي، نو داسي کس دي د وخت تر آخره پوري انتظار وکړي او بيا دي اودس او لمونځ وکړي، بيا که د بل لمانځه په ټوله وخت کي هم هغه وينه جاري وي، نو د اول لمانځه اعاده ضروري نه

ده. ځکه چي عذر متحقق سو. او که هغه ورته ټوله وخت جاري پاته نه سي، نو د اول لمانځه اعا
لازم ده؛ ځکه دا کس شرعاً معذوره نه وګرځېدی. (شامي ص: ۲۳۸، کتاب المسائل ص: ۱۹۵)

د باد وتلو (خروج رياح) والا مريض اودس په خوب سره نه ماتيږي

مسئله (۳): کوم څوک چي د باد وتلو په مرض مبتلا وي يعني هر وخت يې بادونه جاري وي ا
نيول يې د ده په وس کي نه وي. نو ښکاره ده چي هغه معذوره دی (لکه مخکي چي د معذور تعر
ترسو) او د داسي کس په حق کي بيدېدل ناقض وضوء نه دي؛ ځکه خوب بذات خود اودس
ماتونکی نه دی بلکي د باد وتلو د غالب ګومان پر بناء هغه ناقض ګرځول سوی دی (لکه مخکي چي م
ذکر سوه). او کله چي دغه کس د نفس باد وتلو په وجه معذوره ګرځېدلی دی. نو د ده په حق کي د ب
وتلو ګومان لره هيڅ اعتبار نسته. (شامي ج: ۱، ص: ۲۴۳)

د ځاځکو د مريض لپاره د طهارت آسانه طريقه

مسئله (۴): تر متيازو وروسته چي د کوم چا ځاځکي نه بنديږي، هغه ته پکار دي چي له متياز
څخه تر فارغېدلو وروسته د ذکَر په سوري کي يو شی مثلاً پمبه وغيره کښېږدي چي له داخل څخ
خارج ته ځاځکي را نه سي؛ ځکه تر څو چي د متيازو قطره بهر ته را نه سي. تر هغه وخته پوري د
اودس نه ماتيږي. لېکن د روژې په حالت کي دا عمل نه کول اولیٰ دي. (شامي ج: ۱، ص: ۴۸۲)

* * *

بَابُ الْأَنْجَاسِ وَالطَّهَارَةِ مِنْهَا

(دا) فصل د مردارېو او له هغوی څخه د پاکۍ (په بیان کې) دی

تشريح: مخکې مصنف رَحِمَهُ الله د نجاست حکمیه یعني د بې اودسیا. جنابت. حیض او نفاس او له هغوی څخه د پاکي حاصلولو احکام بیان کړل. اوس له دې ځایه نجاست حقیقیه او له هغه څخه د پاکي حاصلولو احکام بیانوي.

أَنْجَاس: نَجَسٌ (د نون او جیم په فتحه سره) اسم دی عینِ نجاست (مرداري) ته وایي لکه غائط. متیازي. وینه او داسي نور. او نَجِسٌ (د جیم په کسره سره) نجس شي ته وایي لکه نجسه کپړه او داسي نور (یا په بله وینا: نَجِسٌ مردار شي ته وایي او نَجَسٌ خودي مرداري ته وایي).

نجس په اصل کي مصدر دی د سَمِعَ او کَرُمَ له باب څخه چي د هغه معنی ده: نجس کېدل (مرداربدل). ناپاکه کېدل. بیا د دې استعمال په اسم کي هم وسو. او په دې وخت کي د هغه معنی د عینِ نجاست ده. (شفاء الارواح. انوار الایضاح)

د نجاست (مرداري) قسمونه

﴿١٩٧﴾ تَنْقَسِمُ النَّجَاسَةُ إِلَى قِسْمَيْنِ تقسیمېږي نجاست و دوو قسمونو ته غَلِيظَةٌ وَخَفِيفَةٌ (١) غلیظه (٢) او خفیفه (یعني یو سخت اروند انجاست دی او بل سپک نجاست دی) فَالْغَلِيظَةُ كَالْخَمْرِ وَالدَّمِ الْمَسْفُوحِ نو غلیظه نجاست لکه شراب او بهېدونکې وینه وَلَحْمِ الْمَيْتَةِ وَإِهَابِهَا او (لکه) د مړزګي (مردار سوي حیوان) غوښه او د هغه څرمن وَبَوْلِ مَا لَا يُؤْكَلُ او (لکه) متیازي د هغه حیوان چي غوښه یې نه خوړل کیږي (یعني د حرام حیوان بولي) وَنَجْوِ الْكَلْبِ او (لکه) د سپي ګندګي (فضله) وَرَجِيعِ السِّبَاعِ وَلُعَابِهَا او (لکه) د درندګانو ګندګي او د هغوی ناړي وَخُرْءِ الدَّجَاجِ وَالْبَطِّ وَالْإِوَزِّ او (لکه) د چرګي. هیلۍ او بتي ګندګي وَمَا يَنْقُضُ الْوُضُوْءُ بِخُرُوْجِهِ مِنْ بَدَنِ الْإِنْسَانِ او (لکه) هغه شیان چي د انسان له بدنه د هغوی په وتلو سره اودس ماتیږي:

لغات: ﴿خمر﴾ شراب، دانګورو اوبه (رس) چې کله جوش وخوري او ځګ را وغورځوي او نشه پکښې پیدا سي، نو هغه ته خمر وايي، ﴿الدم المسفوح﴾ بهېدونکې وینه. ﴿إهاب﴾ د حیوان اوم پوست، یعني لنده څرمن چې تر اوسه وچه کړل سوې او پخه سوې نه وي. او کله چې وچه کړل سي نو هغه ته "أدِيم" وايي، ﴿نجو الكلب﴾ د سپي فضله (د سپي غول). نَجْوٌ په اصل کي له نس څخه وتونکې ګندګي او باد ته وايي، دلته د سپي ګندګي مراد ده. ﴿رجيع السباع﴾ د درندګانو فضله. ﴿البطّ﴾ اسم جنس دی، واحد يې "بَطَّةٌ" دی: هيلۍ (ايلۍ). ﴿الإوَزّ﴾ (د راء په شد سره) او إِوَزَّةٌ: بته. يو ډول غټه هيلۍ ده (مصباح)، ﴿ما ينقض الوضوء﴾ کوم څه چې د انسان له بدن څخه ووځي، په هغه سره اودس ماتېږي، هغه د نجاست غليظه په حکم سره دي، خو له دې څخه باد (ريح) مستثنى سوى دی چې هغه د صحيح قول مطابق پاک دی، او له ناقض څخه مراد ناقضِ حقيقي دی، نه حکمي لکه خوب، خندا، دغه شيان په طهارت او نجاست سره نه سي متصف کېدلای.

تشريح: نجاستِ حقيقيه پر دوه قسمه دی: ① نجاستِ غليظه، ② نجاستِ خفيفه. د دې دواړو په تعريف کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله تر مينځ اختلاف دی. د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نيز چې د کوم شي په نجس والي (مردار والي) باندي په دلائلو کي هيڅ تعارض نه وي يعني د هغه نجس والی په داسي نصّ سره ثابت وي چې د هغه معارض بل نصّ طهارت ثابتونکی نه وي، نو هغه نجاستِ غليظه دی، لکه شراب او بهېدونکې وينه، چې شرابو ته الله تعالىٰ په قرآن کريم کي رِجْس (نجس) فرمايلي دي او دم مسفوح ته يې هم رِجْس او فِسْق فرمايلي دي او د دې دواړو حرمت په قطعي نصّ سره ثابت دی او د هغه معارض بل هيڅ طهارت ثابتونکی نصّ نسته. او نجاستِ غليظه ځکه ور ته وايي چې د دې نجاست حکم سخت او سنګين دی، يعني معاف مقدار يې لږ دی.

او نجاستِ خفيفه هغه دی چې د هغه په نجس والي (مردار والي) باندي په دلائلو کي تعارض راغلی وي، يعني له يوه نص څخه د هغه ناپاکوالی (مردار والی) ښکاره کېږي او له بل نص څخه د هغه پاکوالي معلومېږي، لکه د اوښ متيازي، چې په دې حديث "استنزهوا من البول فإن عامة عذاب القبر منه" څخه معلومېږي چې د اوښ متيازي ناپاکه دي، لېکن بل حديث د دې معارض دی چې هغه حديث د عُرنيين دی، چې نبي کريم ﷺ د "عُرَينه" قبيلې وخلکو ته (د يو مرض په وجه) د اوښ د متيازو اجازه ور کړه "اشربوا بألبانها وأبوالها". له دې څخه دا معلومېږي چې د اوښ متيازي پاکي دي؛ ځکه که ناپاکه وای، نو نبي کريم ﷺ به د هغوی د څښلو حکم نه ور ته کولای. لهذا کله چې د

هغه په ناپاکوالي باندي په دلائلو کي تعارض راغلی، نو داوښ متيازي نجاستِ خفيفه سوې. او نجاستِ خفيفه ځکه ورته وايي چي د دې نجاست حکم سپک دی. يعني معاف مقدار يې زيات دی.

او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز غليظه هغه نجاست دی چي د هغه پر نجس والي علماؤ اتفاق کړی وي. او خفيفه هغه نجاست دی چي د هغه په نجاست او طهارت کي د علماؤ اختلاف واقع سوی وي.

د امام صاحب او صاحبينو د اختلاف ثمره په خوشايو کي ښکاره کيږي: ځکه خوشايي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز نجاستِ غليظه ده؛ په دې دليل چي نبي کريم ﷺ هغوی ته رِجس (نجس) فرمايلي دي او بل هيڅ دليل د هغه معارض نسته کوم چي د خوشايو پر طهارت دلالت کوي. او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز خوشايي نجاستِ خفيفه دی: په دې دليل چي د هغوی په نجاست کي د علماؤ اختلاف دی، ځکه چي امام مالک رَحِمَهُ الله د خوشايو د پاکوالي قائل دی. (شفاء الارواح)

الدم المسفوح: يعني د هر ساکښ بهيدونکې وينه نجاستِ غليظه ده؛ دلته د "مسفوح" قيد لګول سوی دی، لهذا که هغه بهيدونکې وينه نه وي، نو نجسه نه ده، او مطلق دمِ مسفوح ته نجاستِ غليظه ويل سوي دي، لېکن له دې ځخه د شهيد وينه جلا ده؛ ځکه د شهيد وينه که څه هم دمِ مسفوح ده لېکن شريعت هغه پاکه ګرځولې ده تر څو چي هغه د شهيد پر بدن وي، لېکن کله چي له هغه ځخه ليري سي، د بل چا پر بدن يا کپړه ولګيږي، نو د هغه پرېولل ضروري دي.

ولحم الميتة إلخ: يعني د داسي مردار سوي حيوان غوښه چي په هغه کي بهيدونکې وينه وي، نجاستِ غليظه ده، او په کوم مردار سوي حيوان کي چي بهيدونکې وينه نه وي. لکه ماهي، ملخ او داسي نور. د هغوی غوښه نجاستِ غليظه نه ده، همدارنګه د کوم مردار سوي حيوان څرمن ته چي دباغت نه وي ورکول سوی، هغه نجاستِ غليظه ده (د دباغت په هکله مصنف رَحِمَهُ الله وروسته يو مستقل فصل ذکر کړی دی).

﴿۱۹۸﴾ وَأَمَّا الْخَفِيْفَةُ فَكَبَوْلِ الْفَرَسِ او کوم چي خفيفه نجاست دی نو (هغه) لکه د آس متيازي (بولې) وَكَذَا بَوْلُ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ او همدارنګه متيازي د هغه حيوان (څاروي) چي غوښه يې خوړل کيږي وَخُرْءُ طَيْرٍ لَا يُؤْكَلُ او ګندګي د هغه مرغه کوم چي نه خوړل کيږي (لکه باز، تپوس او داسي نور).

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله هغه شيان بيانوي کوم چي نجاستِ خفيفه دي، له هغوی ځخه يو د آس متيازي دي، دلته يې په مثال کي آس ځکه ذکر کړی دی چي يو چا ته دا ګومان نه سي چي آ [illegible] متيازي، په هم

نجاست غليظه وي. منصف رَحِمَهُ الله فرمايي چي دآس متيازي په نجاست خفيفه کي داخلي دي او د غوښو ممانعت يې د جهاد پر بناء دی چي آس د جهاد آله ده.

همدارنګه دغوا، ګاميښي، اوښ، پسه او داسي نورو يعني د کومو ښاروېو چي غوښې خوړل کيږي، د هغوی متيازي نجاست خفيفه دي. او همدارنګه د هغه مرغانو ګندګي چي غوښه يې نه خوړل کيږي، نجاست خفيفه ده. دلته يې د بول قيد لګولی دی؛ ځکه د آس، خره، غاټري خرشينه او دغوا خوشايي او د پسه، بزې وغيره پُچي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز نجاست غليظه دي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز نجاست خفيفه دي.

د نجاست غليظه څومره مقدار معاف دی؟

﴿۱۹۹﴾ وَعُفِي قَدْرُ الدِّرْهَمِ مِنَ الْمُغَلَّظَةِ او له نجاست غليظه څخه د يوه درهم مقدار معاف کړی سوی دی.

تشريح: په دې عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله دا خبره بيانوي چي د نجاست غليظه څومره مقدار معاف دی او څومره مقدار يې معاف نه دی. تفصيل يې دا دی چي که نجاست غليظه نری (باريک) او بهېدونکی وي، نو هغه د يوه ورغوي په اندازه يا تر هغه کم معاف دی. يعني که د هغه له پرېوللو څخه بغير لمونځ وکړي. نو هم لمونځ يې صحيح کيږي. لېکن نه پرېولل او داسي لمونځ کول بد او مکروه تحريمي دي. او که له ورغوي څخه زيات وي. نو هغه معاف نه دی.

او که نجاست غليظه سخت او کلک غوندي وي لکه غائط، د چرګي ګندګي او داسي نور، نو هغه د يوه درهم په اندازه (يعني ۳ ګرامه او ۶۲ ملي ګرام) يا تر دې کم معاف دی. لهذا که د هغه له پرېوللو څخه بغير لمونځ وسي، نو صحيح دی، خو د کراهت سره. نو ځکه غوره همدا ده چي که له مخکي څخه په دې نجاست خبر سي، نو د هغه تر ليري کولو وروسته دي لمونځ وکړي. او که دا نجاست له يوه درهم څخه زيات وي. نو معاف نه دی او لمونځ نه ورسره صحيح کيږي.

د نجاست خفيفه څومره مقدار معاف دی؟

﴿۲۰۰﴾ وَمَا دُوْنَ رُبْعِ الثَّوْبِ أَوِ الْبَدَنِ (مِنَ الْخَفِيْفَةِ) او (له نجاست خفيفه څخه) د کپړې يا بدن تر څلورمي حصې کم مقدار (معاف دی).

تشريح: يعني که پر جامه يا پر بدن نجاست خفيفه ولګيږي او هغه د کپړې يا بدن له څلورمي حصې څخه کم وي. نو معاف دی. يعني د هغه سره لمونځ صحيح او جائز دی. او که د جامې يا بدن له څلورمي حصې څخه زيات نجاست خفيفه لګېدلی وي. نو لمونځ نه صحيح کيږي.

بیا د جامې یا بدن د څلورمې حصې په اندازه کې د فقهاؤ اختلاف دی. د ځینې حضراتو په نېز د ټوله جامې یا ټوله بدن څلورمه حصه مراد ده. یعنې که د ټوله جامې یا ټوله بدن له څلورمې څخه پر کمه حصه نجاست لګېدلی وي، نو هغه معاف دی. او د بعضې حضراتو په نېز چې پر کوم طرف نجاست لګېدلی وي، د هغه طرف د کپړې یا بدن څلورمه حصه مراد ده. مثلاً که د جامې پر لمنه. یا پر لستوڼي نجاست لګېدلی وي، نو د لمنې یا لستوڼي د څلورمې حصې اعتبار به کول کېږي. او که په بدن کې پر لاس یا پښو نجاست لګېدلی وي. نو د دوی د څلورمې حصې اعتبار به کول کېږي او پر همدې فتویٰ ده. (شفاء الارواح)

د متیاوزو څاڅکي (قطرې)

﴿۲۰۱﴾ وَعُفِيَ رَشَاشُ بَوْلٍ كَرُؤُوْسِ الْإِبَرِ او (همدارنګه) د ستنې د سرونو په اندازه د متیازو څاڅکي معاف دي.

لغات: ﴿رَشَاش﴾ او رِشَاش (بفتح الراء وکسر الراء) واحد یې رَشَاشَةٌ او رَشٌّ دی: کوچنې څاڅکي. ﴿رؤوس﴾ جمع د رَأْسٌ ده: سر، د هر شي پورتنۍ (پاسنۍ) حصه. ﴿الإِبَرِ﴾ اسم جنس دی چې پر واحد یې هم اطلاق کېږي، واحد یې إِبْرَةٌ ده: ستن. لکه د سِدَرٌ واحد چې سِدْرَةٌ دی. (مصباح)

تشریح: د متیازو څاڅکي نجس او مردار دي، لېکن زیاتره وخت د متیازو کولو پر مهال پر بدن او جامې د متیازو کوچنې څاڅکي ولوېږي چې له هغوی څخه بچ کېدل مشکل دي، که چېرې هغوی ډېر کوچنې وي د ستنې د سر په اندازه کوم چې بغیر له توجه څخه نه لیدل کېږي، نو هغوی معاف دي، که څه هم پر ټوله جامه ولوېږي. (حاشیه بحواله شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

د پرېولل کېدونکي مرداري جامې د څاڅکو حکم

مسئله: د مردارو جامو (کالیو) د پرېوللو په صورت کې که څه معمولي څاڅکي پر بدن یا پر جامې ولګېږي، نو هغوی معاف دي، جامه نه مرداریږي، خو احتیاطاً پرېولل پکار دي. لېکن که مردار څاڅکي په بالټۍ (ستل) وغیره کې ولوېږي، نو هغه اوبه مرداریږي. (فتاویٰ هندیه ج:۱، ص:۴۶، کتاب المسائل ص:۹۹)

پر مرداره لنده بستره یا خمکه باندې بدن یا پښه لګېدل

﴿۲۰۲﴾ وَلَوِ ابْتَلَّ فِرَاشٌ أَوْ تُرَابٌ نَجِسَانِ او که لنده سي نجسه (مرداره) بستره یا نجسه خاوره مِنْ عَرَقِ نَائِمٍ أَوْ بَلَلِ قَدَمٍ د ویده کس په خوله سره یا د پښې په لوندوالي سره وَ ظَهَرَ

أَثَرُ النَّجَاسَةِ فِي الْبَدَنِ وَالْقَدَمِ او د نجاست (مرداری) اثر په بدن یا پښه باندي ښکاره سي تَنَجَّسَا نو دوی دواړه (بدن او پښه) مردارېږي وَإِلَّا فَلَا کنې نه (مردارېږي).

لغات: ﴿ابتل﴾ د افتعال د باب ماضي ده: لندېدل، ﴿بلل﴾ لوندوالی (لندوالی).

تشریح: که څوک پر داسي بستره (ځای) یا پر داسي خاوره پرېوځي چي پر هغه بستره یا خاوره باندي نجاست (مرداري) لګېدلې وي، مثلاً بستره په متیازو ککړه وي، بیا د پرېوتونکي کس بدن خوله وکړي او بستره یا خاوره لنده سي، یا هغه پر دې بستر یا خاوره باندي پښه کښېږدي حال دا چي پښه يې لنده وي چي د پښې په لوندوالي سره بستر یا خاوره لنده سي، نو په دې صورت کي حکم دا دی چي که پر بدن یا پر پښه د نجاست اثر (رنګ. بوی) ښکاره سي، نو بدن او پښه هم مردارېږي، او که د نجاست اثر باندي ښکاره نه سي، نو هغه نه مردارېږي.

د پورتنی مسئلې د مثال په توګه مصنف رَحِمَهُ الله په را روان عبارت کي يوه مسئله ذکر کړې ده چي څرنګه چي که يوه پاکه وچه جامه په داسي مرداره لنده جامه کي وپېچل سي چي که هغه ونښتېږل سي نو اوبه نه څني څڅېږي، نو په داسي مرداره جامه کي پېچل سوې پاکه جامه نه مردارېږي، په دې شرط چي په پاکه کپړه کي د نجاست اثر ښکاره نه سي، نو همداسي په دې پورتنی مسئله کي چي تر څو د نجاست اثر پر بدن یا پر پښه ښکاره نه سي، تر هغه وخته پوري نه مردارېږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

﴿٢٠٣﴾ كَمَا لَا يَنْجُسُ ثَوْبٌ جَافٌّ طَاهِرٌ لُفَّ فِيْ ثَوْبٍ نَجِسٍ رَطْبٍ لکه څرنګه چي نه مردارېږي هغه وچه کپړه کوم چي پېچل سوي وي په داسي لنده (خیشته) مرداره کپړه کي لَا يَنْعَصِرُ الرَّطْبُ لَوْ عُصِرَ چي لوندالي يې نه را نښتېږل کېږي که چیري ونښتېږل سي (یعني داسي لنده مرداره جامه چي په نښتېږلو سره يې لوندوالی اخلې او نه راوځي. یعني اوبه پکښې نه وي محض نمناکه وي).

لغات: ﴿جاف﴾ د ضرب له بابه اسم فاعل دی: وچ، جَفَّ يَجِفُّ جَفًّا وَجَفَافًا: وچېدل، ﴿لف﴾ د نصر له بابه ماضي مجهوله ده: پېچل، ﴿رَطْب﴾ (د طاء په سکون سره): لوند، خیشت.

تشریح: په تېر عبارت کي د دې وضاحت وسو.

لنده جامه پر مرداره ځمکه هوارول

﴿۲۰۴﴾ وَلَا يَـنْجِسُ ثَـوْبٌ رَطْـبٌ بِنَشْـرِهِ عَـلٰى أَرْضٍ نَجِسَـةٍ يَابِسَـةٍ او نـه مرداریـږي لنده(خیشـته) کپړه په غوړولو (هوارولو) سره پر مرداره (نجسه) ځمکه باندي فَـتَـنَـدَّتْ مِنْهُ چي نمجنه(لنده) سي هغه مرداره ځمکه له کپړې څخه (یعني محض د مرداري ځمکي په لندېدو سره هغه پاکه لنده کپړه نه مرداربږي، بلکي هغه وخت مرداربږي کله چي د دې مرداري ځمکي د نجاست اثر پر لنده کپړه باندي ښکاره سي) وَلَا بِرِيْـحٍ هَـبَّتْ عَلٰى نَجَاسَةٍ فَأَصَابَتِ الثَّوْبَ او نه په هغه باد سره (مرداربـږي) کوم چي پر یو نجاست وچلیـږي، بیا هغه د کپړې سره ولګیږي (کپړې ته ورسیـږي) إِلَّا أَنْ يَّظْهَرَ أَثَـرُهَا فِيْـهِ مګر (هغه وخت دا کپړه مرداربږي) چي د نجاست اثر په کپړه کي ښکاره سي.

لغات: ﴿رَطْبٌ﴾ په تېر عبارت کي ذکر سو، ﴿تَنَدَّتْ﴾ د تفعل له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: لندېدل، خیشتېدل، ﴿هَبَّتْ﴾ د نصر له بابه مخکیني صیغه ده: باد چلېدل، هوا چلېدل، اثرها: د ضمیر مرجع نجاسة دی، فیه: د ضمیر مرجع ثَوْب دی.

تشریح: مسئله دا ده که ځمکه په متیازو یا داسي بل نجس شي سره مرداره سي، بیا په لمر وغیره سره وچه سي او یو څوک پر هغه باندي لنده خیشته جامه هواره کړي. نو که پر هغه لنده جامه د نجاست اثر ښکاره نه سي، نو نه مرداربږي.

ولا بریح هبت إلخ: مثلاً د لندې پاکي جامې تر څنګ خوشایي یا مرداره خاوره پرته وي او پر هغه باد وچلیږي او دا مرداري هغه پاکي جامې ته ورسوي، نو په دې سره جامه نه مرداربږي. په دې شرط چي پر هغه جامه د نجاست اثر ښکاره نه سي.

د نجاست مرئیه بـیان

﴿۲۰۵﴾ وَيَطْـهُـرُ مُتَنَجِّسٌ بِنَجَاسَةٍ مَرْئِيَّةٍ او پاکیږي هغه شی کوم چي نجس سوی وي په لیدل کېدونکي (نظر راتلونکي) نجاست سره بِزَوَالِ عَيْنِهَا (داسي شی پاکیږي) د نجاست د ذات په لیري کېدلو سره وَلَوْ بِمَـرَّةٍ که څه هم په یوه وار پرېوللو سره وي (یعني که څه هم په یو ځل پرېوللو سره د نجاست ذات زائل الیري اسي) عَلَى الصَّحِيْحِ د صحیح قول مطابق وَلَا يَضُرُّ بَقَاءُ أَثَرٍ

شَقَّ زَوَالُهُ او (پاکوالي) ته ضرر نه رسوي د (نجاست) داسي اثر (نښان) باقي پاتېدل چي د هغه لیري کول مشکل وي.

تشریح: نجاست پر دوه قسمه دی: ① نجاست مرئیه، ② نجاست غیر مرئیه. په دې عبارت کي د نجاست مرئیه بیان دی. نجاست مرئیه هغه نجاست دی کوم چي تر وچېدلو وروسته هم په نظر راځي لکه وینه یا غائط. صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله فرمايي چي که نجاست مرئیه پر جامه ولګیږي. نو دومره به پرېولل کیږي چي نجاست لیري سي او داغ یې ختم سي، برابره ده په هر څو وارو لیري سي. کله چي نجاست لیري سي، نو جامه پاکیږي، او که پر بدن ولګیږي. نو د هغه هم دغه حکم دی. مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي که د نجاست ذات په یوه وار پرېوللو سره لیري سي. نو هم د صحیح قول مطابق د پاکېدو حکم به کول کیږي.

وروسته فرمايي چي که یو نجاست داسي وي چي تر څو واره پرېوللو وروسته هم د هغه اثر مثلاً بدبويي یا داغ نه ختمیږي، نو هم کپړه پاکیږي. په صابون وغیره سره د هغه داغ او بوی لیري کول ضروري نه دي.

فایده: د "علی الصحیح" په قید لګولو سره دا بیانوي چي په مذکوره مسئله کي اختلاف دی. امام فقیه ابو جعفر هندواني رَحِمَهُ الله فرمايي چي د نجاست د ذات تر زائلېدلو وروسته دوه واره پرېولل ضروري دي او علامه فخر الاسلام رَحِمَهُ الله فرمايي چي درې واره پرېولل ضروري دي. خو صحیح قول هغه دی کوم چي مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی. (مراقی الفلاح)

د نجاست غیر مرئیه بیان

٢٠٦ وَغَيْرِ الْمَرْئِيَّةِ بِغَسْلِهَا ثَلَاثًا وَالْعَصْرِ كُلَّ مَرَّةٍ او نالیدل کېدونکي نجاست (سره نجس سوی شی. پاکیږي) په درې واره پرېوللو او هر وار نښېړلو سره.

تشریح: په دې عبارت کي د نجاست غیر مرئیه بیان دی. غیر مرئیه هغه نجاست دی کوم چي تر وچېدلو وروسته نه لیدل کیږي لکه متیازي. شراب. مرداري او به. نو د هغه د پاکولو لپاره درې واره پرېولل او هر وار نښېړل ضروري دي. او په اصل کي غالب ګومان لره اعتبار دی. یعني هغه دي دومره پرېولل سي چي د پرېولونکي غالب ګومان دا سي چي اوس نو پاک سو. لیکن فقهاو د غالب ګومان اندازه په درې واره پرېوللو سره متعینه کړې ده: ځکه چي په دې شمېر سره غالب ګومان حاصلیږي. نو د آساني لپاره د درېو شمېر د غالب ګومان قائم مقام کړی سو چي که غیر مرئي نجاست درې واره پرېولل سي. نو هغه پاکیږي.

❀ ❀ ❀

د لوی فرش، غالی او کارپیټ د پاکولو طریقه

مسئله: لوی فرش یا غالی یا کارپیټ چې د هغه نښتېړل نا ممکن دي، که هغه مردار سي، نو د هغه د پاکوالي طریقه دا ده چې درې واره دي پرېولل سي او تر هر وار پرېوللو وروسته دي دومره وخت پرېښول سي چې له هغه څخه اوبه څڅېدل بند سي (څاڅکي یې ختم سي)، په پوره توګه وچول ضروري نه دي، په درې واره داسي کولو سره هغه فرش وغیره پاک ګرځي. (عالمګیري ج:۱. ص:۴۲. کتاب المسائل ص:۱۰۸)

په کومو شیانو سره نجاست حقیقي لیري کول جائز دي؟

﴿۲۰۷﴾ وَتَطْهُرُ النَّجَاسَةُ عَنِ الثَّوْبِ وَالْبَدَنِ او پاکیږي نجاست له کپړې (جامې) او بدن څخه بِالْمَاءِ وَبِكُلِّ مَائِعٍ مُزِيْلٍ په اوبو سره او په هر داسي نرم (بهېدونکي) شي سره کوم چې (د نجاست) لیري کونکی وي كَالْخَلِّ وَمَاءِ الْوَرْدِ لکه سرکه او د ګلابو اوبه.

لغات: ﴿نجاسة﴾ مرداري ناپاکي، له نجاسة څخه مراد نجاست حقیقیه دی: ځکه نجاست حکمیه (بې اودسي او جنابت) په هر زائلېدونکي شي سره نه زائلیږي، هغه صرف په اوبو یا تیمم سره پاکیږي، او نجاسة یې مطلق ذکر کړی دی چې مرئیه او غیر مرئیه دواړو لره شامل سي او ماء (اوبه) یې هم مطلق ذکر کړي دي چې ماء مطلق او ماء مستعمل دواړو لره شامل سي. (حاشیه)

تشریح: د اوبو په څېر چې کوم شی بهېدونکی، نری او پاک وي او په هغه کي د ناپاکي لیري کولو (زائلولو) صلاحیت وي، نو په هغه سره هم د نجاست حقیقیه لیري کول جائز دي، لکه د ګلاب اوبه، سرکه وغیره، لیکن غوړي، تېل او په داسي بل غوړ لرونکي شي سره پرېولل صحیح نه دي، په هغه سره بدن یا کپړه نه پاکیږي.

عقلي دلیل: بهېدونکی شی نجاست له بېخه کاږي او لیري کوي یې، او په اوبو کي د پاکولو صفت په همدې وجه دی چې هغه نجاست لیري کوي، لهذا کله چې دا معنی په بل بهېدونکي شي کي موجوده وي، نو د اوبو په څېر به هغه هم پاکونکی او نجاست لیري کونکی وي. (بدائع الصنائع ج:۱. ص:۲۴۰)

د چرمي موزې او څپلی د پاکولو طریقه

﴿۲۰۸﴾ وَيَطْهُرُ الْخُفُّ وَنَحْوُهُ بِالدَّلْكِ مِنْ نَجَاسَةٍ لَهَا جِرْمٌ او پاکیږي موزه او داسي بل شی په مږلو سره له هغه نجاست څخه چې هغه لره جسم (صورت) وي (یعني جسم لرونکی نجاست

په مږلو سره پاکیږي) وَلَوْكَانَتْ رَطْبَةً که څه هم هغه لوند وي.

لغات: ﴿جِرْم﴾ جسم، صورت، پړی، بدنه، جمع: أَجْرَام.

تشریح: که د څرمې (څرمني) پر موزه یا څپلۍ باندې نجاست ولګیږي (په یو مرداري سره ککړه سي). نو د هغه په پاکولو کې تفصیل دی: ① که نجاست داسې وي کوم چې جسم والا نه وي. مثلاً متیازې یا شراب وغیره، نو په دې صورت کې هغه موزه یا څپلۍ پرېولل ضروري دي. برابره ده نجاست لوند وي او که وچ سوی وي، بغیر له پرېوللو څخه نه سي پاکېدلای، ② او که نجاست داسې وي کوم چې په سترګو لیدل کیږي لکه لانده خرشینه، خوشایې، غائط او داسې نور، نو که هغه په خاوره یا خښته سره ومږل سي او داسې صفا کړل سي چې د نجاست هیڅ اثر باقي پاته نه سي. نو د عموم بلویٰ او ابتلاء عام په وجه د مفتیٰ به قول مطابق موزه او څپلۍ پاکیږي، ③ او که نجاست وچ وي لکه د پسه پچې یا د اوښ پچې، نو محض د هغه په مږلو او لیرې کولو سره موزه وغیره پاکه ګرځي. (المحیط البرهاني ج:١، ص:٣٨٥، کتاب المسائل ص:١١٦)

د تورې او هینداري وغیره د پاکولو طریقه

﴿٢٠٩﴾ وَيَطْهُرُ السَّيْفُ وَنَحْوُهُ بِالْمَسْحِ او پاکیږي توره او داسې بل شی په مسه کولو (وچولو) سره (یعني چې خاوره یا توکر باندې تېر کړی سي او په هغه سره وچ او صفا کړی سي).

تشریح: که په توره، چاړه او بینېنه باندې نجاست ولګیږي، نو هغه په پرېوللو سره هم پاکېدلای سي او که په یو پاکه کپړه سره نجاست وچ او صفا کړی سي، نو هم پاک ګرځي.

لېکن که توره، چاړه، هینداره او داسې نور نقشداره او ځیږه وي چې د دوی په کربنو (لیکو) کې د نجاست پاتېدلو امکان وي، نو دوی محض په وچولو او صفا کولو سره نه پاکیږي، بلکې پرېولل او د نجاست اثرات لیرې کول ضروري دي. (عالمګیري ج:١، ص:٤٢، کتاب المسائل ص:١١٦)

د ناپاکه ځمکې د پاکېدلو طریقه

﴿٢١٠﴾ وَإِذَا ذَهَبَ أَثَرُ النَّجَاسَةِ عَنِ الْأَرْضِ وَجَفَّتْ او کله چې د نجاست اثر له ځمکې څخه ولاړ سي او ځمکه وچه سي جَازَتِ الصَّلٰوةُ عَلَيْهَا نو جائز دي پر هغې لمونځ کول دُوْنَ التَّيَمُّمِ مِنْهَا نه له هغې څخه تیمم کول (یعني پر داسې ځمکه تیمم وهل جائز نه دي).

لغات: ﴿جفّت﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: وچېدل، لوندوالی ختمېدل.

تشریح: ناپاکه ځمکه محض په وچېدلو او د نجاست په زائلېدلو سره پاکیږي.

لېکن که د ځمکي وچېدلو ته انتظار نه سي کېدلای او سمدستي پاکولو ته يې ضرورت وي، نو لاندېنۍ طريقې دي اختيار کړل سي: ① که د ځمکي کيندل ممکن وي، نو په نجاست سره ککړه حصه دي په کيندلو سره جلا کړل سي، ② دويم صورت دا دی چي هغه ځای وکيندل سي او واړول سي يعني تر کيندلو وروسته پاسنۍ حصه لاندي کړل سي او لاندېنۍ حصه راپورته کړل سي، ③ درېيم صورت دا دی چي که هغه ځمکه پسته وي چي اوبه پکښې جذب کېږي، نو د هغې د پاسه دي اوبه وبهول سي او کله چي اوبه جذب سي، نو ځمکه به پاکه سي. او که ځمکه کلکه وي چي اوبه نه جذبوي، نو د پاسه دي اوبه باندي واچول سي او بيا دي اوبه له هغه ځای لېري او صفا کړل سي، نو هغه ځمکه به پاکه سي. (طحطاوي علی مراقی الفلاح ص: ٨٨، کتاب المسائل ص: ١١٧)

❀ ❀ ❀

پر ناپاکه وچه ځمکه تيمم صحيح نه دی

مسئله (١): مخکي ذکر سوه چي ناپاکه ځمکه په وچېدلو سره حکماً پاکه ګرځي، نو پر داسي ځمکه لمونځ کول خو جائز دي، لېکن تيمم باندي جائز نه دی؛ ځکه دا ځمکه که څه هم طاهره ده، خو مُطهِّره (پاکونکې) نه ده. (طحطاوي ص: ٨٨، کتاب المسائل ص: ١١٩)

د سمېټي يا ډبريني ځمکي د پاکولو طريقه

مسئله (٢): د سمېټي يا ډبريني ځمکي (سمېټي او ډبرين فرش) حکم هم د ځمکي په څېر دی، چي که پر هغه متيازي يا لوند نجاست ولګېږي، نو په وچېدلو او د نجاست د اثر په زائلېدلو سره پاکېږي، او د سمدستي پاکولو طريقه يې دا ده چي د پاسه اوبه باندي واچول سي او وچه کړل سي. يا په بالټۍ يا نل (پيپ) سره دومره زياتي اوبه پر وبهول سي چي د نجاست د اثراتو لېري کېدل يقيني سي، نو هم هغه پاکېږي. (المحيط البرهانی ص: ٣٨٢، کتاب المسائل ص: ١١٨)

د درختي او ونو حکم

﴿٢١١﴾ وَيَطْهُرُ مَا بِهَا مِنْ شَجَرٍ وَكَلَإٍ قَائِمٍ او پاکېږي هغه شيان کوم چي په ځمکه باندي (ولاړ) وي يعني درختي او ولاړ وابنه بِجَفَافِهٖ د هغوی په وچېدلو سره.

لغات: ﴿كلأ﴾ وابنه، برابره ده لانده وي او که وچ، د بِهَا د ضمير مرجع ځمکه ده.

تشريح: درختي او هغه وابنه کوم چي پر ځمکه ولاړ وي يعني پرېکړل سوي نه وي، د هغوی حکم هم د ځمکي په څېر دی چي که نجاست پرې ولګېږي او بيا وچ سي، نو هغوی پاکېږي کله چي د نجاست اثر ختم سي. لهذا کومه درخته يا بوټي چي پرې سي او له ځمکي څخه جلا سي او بيا مردار سي، نو هغوی له پرېوللو څخه بغير نه پاکېږي.

د ذات په بدلېدلو سره د پاکۍ حکم

﴿٢١٢﴾ وَتَطْهُرُ نَجَاسَةٌ اِسْتَحَالَتْ عَيْنُهَا او پاکیږي هغه نجاست چي ذات يې بدل سوی وي (يعني که د نجاست ذات او صورت بدل سي، نو په دې سره هغه پاکيږي) كَأَنْ صَارَتْ مِلْحًا أَوِ احْتَرَقَتْ بِالنَّارِ (مثلًا) لکه نجاست چي مالګه وګرځي يا په اُور سره وسوځي.

لغات: ﴿استحالت﴾ د استفعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صيغه ده. اِسْتِحَالَا: د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه يې يوه معنیٰ ده: بدلېدل، اوښتل (له يوه حالت څخه په بل حالت بدلېدل).

او په كَأَنْ کي کاف حرف جر دی کوم چي پر أَنْ ناصبه داخل دی.

تشريح: که د نجاست ذات او حقيقت بدل سي، نو په دې سره هم هغه پاکيږي، مثلًا له شرابو څخه سرکه جوړه سي (سرکه وګرځي)، نو پاکيږي، يا غائط خاوره وګرځي، نو پاکيږي؛ ځکه ذات يې بدل سو، همدارنګه که نجاست وسوځول سي او ايره کړل سي، نو پاکيږي، مثلًا خوشايي، غائط وغيره وسوځول سي او ايره وګرځي، نو هغه ايرې پاکي دي.

﴿٢١٣﴾ وَيَطْهُرُ الْمَنِيُّ الْجَافُّ بِفَرْكِهِ عَنِ الثَّوْبِ وَالْبَدَنِ او پاکيږي وچ مني د هغوی په ګرولو سره، له کپړې او بدن څخه (چي وګرول سي او ليري کړل سي) وَيَطْهُرُ الرَّطْبُ بِغَسْلِهِ او پاکيږي لانده مني د هغوی په پرېوللو سره.

لغات: ﴿فرک﴾ د نصر د باب مصدر دی: مږل او ګرول، يُقَال: فرَكَ المنى من الثوب، أى دلكه وحَكَّه حتى يتفتت ويزول عن الثوب (يعني مني مږل او ګرول چي سره ذره، ذره سي او له جامې څخه ليري سي). (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: د انسان مني ناپاک دی، که مني لانده وي، نو هغوی صرف په پرېوللو سره پاکيږي، او که پر بدن يا پر جامه باندي وچ سي، نو ګرول يې کافي چي په ګرولو او مږلو سره صفا او ليري کړل سي، نو بدن او جامه پاکيږي.

يادونه: په اوس وخت کي د پخوا په نسبت د خلکو قواوي کمزوري دي چي په دې وجه مني نري او باريک وي. نو ځکه پرېولل يې ضروري دي. (اعلاء السنن)

احقر بندہ حبیب الرحمن "مدنی"

شعبان / ٩ / ١٤٤٢ھ

مارچ / ٢١ / ٢٠٢١ء

* * *

فَصْلٌ فِي الدِّبَاغَةِ

(دا) فصل په (بیان د) دباغت کي دی

تشريح:

د دباغت تعريف او وضاحت: "الدِّبَاغَة" د دال په "کسره" سره دی. د نصر، فتح او ضرب د باب مصدر دی: څرمن وچول او پخول (یا په بله وینا: څرمن ته رنګ ورکول) یعني د مـالګې او داسي نورو شیانو په ذریعه د څرمني لوندوالی (رطوبت) او بدبوئي ورختمول.

دباغـت پـر دوه قـسـمه دی: ① حقیقـي ② حکمـي. دباغـت حقیـقـي دا دی چـي د کیکر، مـالګې یا دانارو د پوسـتکو یا داسي نورو شیانو په ذریعه د څرمني لوندوالَی او بدبوئي لیـري کـړل سـي. او دباغت حکمي دا دی چي په لمر یا هوا سـره د وچولو په ذریعه یا د خاورو اچولو په ذریعه د څرمني رطوبت او بدبوئي لیري کړل سي.

لنډه دا چي د دباغت ورکولو یعني د څرمني د رطوبت او بدبوئي لیري کولو او وچولو لپاره څو طریقې دي: ① یوه دا چي په یو کیمیایي ماده سره دباغت ورکول سـي، ② څرمن پـه خاوره کـي پټه کـړل سي او تر هغه وخته پرېښوول سي چي بدبوئي او رطوبت یې ختـم سي، ③ څرمن لمر تـه واچول سي چي د هغه پـه وجه یې بدبوئي او رطوبت وچ او ختـم سي، ④ څرمن د هوا پـه ذریعه وچه کـړل سي. له مذکوره طریقو څخه د هري طریقې په اختیارولو سره څرمن پاکول کېدای سي.

په دباغت سره د څرمني پاکولو بـیان

﴿۲۱۴﴾ يَطْهُرُ جِلْدُ الْمَيْتَةِ بِالدِّبَاغَةِ الْحَقِيقِيَّةِ پاکـېږي څرمن (پوسـت) د مړزکي (مړه سوي حیوان) په حقیقي دباغت سره (یعني په حقیقي وچولو او پخولو سره) كَالْقَرَظِ لکه د کیکر درختي په تخم (یا بلګونو) سره (وچول او پخول) وَبِالْحُكْمِيَّةِ او (همدارنګه پاکیږي څرمن د مړزکي) په حکمي دباغت سره كَالتَّتْرِيبِ وَالتَّشْمِيسِ لکه په خاوره اچولو (خاوره مږلو) او لمر ته په ایښوولو سره (وچول او پخول) إِلَّا جِلْدَ الْخِنْزِيرِ وَالْآدَمِيِّ مګر (نه پاکیږي) څرمن د خنزیر (د نجس العین کېدو په وجه) او څرمن د انسـان (د شرافت په وجه).

لغات: ﴿القرظ﴾ دا ديو ډول اغزي داري درختي تخم او پاڼي (بلګونه) دي چي په هغه سره به پوست او څرمني ته دباغت ورکول کېدی او د درختي نوم په عربي کي سَلَم دی چي واحد يې سَلَمَةٌ دی کوم چي د جوز د درختي په څېر پنډي تنې لري، او ځيني شارحينو په اُردو کي د دې معنیٰ په "کيکر" سره کړې ده چي په پښتو کي ورته د کيکر درخته وايي، صاحب د مصباح المنير همدارنګه علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي له قَرَظْ څخه د سَلَم د درختي داڼې (تخم) مراد دی، نه پاڼي (بلګونه. لکه څرنګه چي بعضو يې همدا ترجمه کړې ده)، ځکه په پاڼو (بلګونو) سره څرمني ته دباغت نه ورکول کيږي. ﴿ميتة﴾ مرداه، مړ زګه، يعني مردار سوی (په طبعي مرګ مړ سوی) حيوان. کوم چي له ذبح څخه بغير مړ سي، ﴿تتريب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: پر يو شي د پاسه خاوره اچول، خاوره باندي اېښوول، په خاورو لړل، ﴿تشميس﴾ دا هم د تفعيل د باب مصدر دی: لمر ته اېښوول چي وچ سي.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي د خنزير او انسان له څرمن څخه بغير بل د هر حيوان څرمن په دباغت ورکولو سره پاکيږي، دباغت پر دوه قسمه دی چي وضاحت يې مخکي وسو، په دې هر قسم دباغت سره څرمن پاکيږي، تر دباغت وروسته هغه څرمن هر ډول استعمالول جائز دي، مثلا جامه او پوستين ور څخه جوړول او اغوستل، لمونځ پکښي کول، سولاغه يا داسي بل څه ځني جوړول او په هغه سره اودس، غسل کول او داسي نور، خو څرنګه چي خنزير ټوله نجس العين حيوان دی او د هغه هيڅ يو جزء هيڅ ډول هم نه سي پاکېدلای، نو ځکه هغه له دې حکم څخه جلا دی، همدارنګه د انسان څرمن هم په دباغت سره نه پاکيږي؛ ځکه چي هغه اشرف المخلوقات دی.

﴿۲۱۵﴾ وَتُطَهِّرُ الذَّكَاةُ الشَّرْعِيَّةُ جِلْدَ غَيْرِ الْمَأْكُوْلِ دُوْنَ لَحْمِهِ او پاکوي شرعي ذبح (يعني په شرعي توګه حلالول) د هغه حيوان پوست چي غوښه يې نه خوړل کيږي. نه د هغه غوښه (يعني غير مأكول اللحم حيوان لکه چغال. لېوه او داسي نور. په شرعي طريقه ذبح کولو سره صرف د هغه څرمن پاکيږي. غوښه يې نه پاکيږي) عَلٰى أَصَحِّ مَا يُفْتٰى بِهٖ د صحيح قول مطابق پر کوم چي فتوىٰ ورکول کيږي.

لغات: ﴿الذكاة﴾ ذبح کول. الذكاة الشرعية: شرعي ذبح، يعني د شرعي طريقې مطابق ذبح کول (حلالول). نو که مجوسي ذبح کړی وي، يا محرم ښکار کړی وي، يا [illegible] ح په [illegible] قصداً بسم الله پر ې اېښې وي، نو هغه لره دا حکم شامل نه دی؛ ځکه دا [illegible] ده.

تشريح: که يو حيوان په بسم الله سره ذبح کړی سي، برابره ده د هغه حيوان غوښې حلالې وي او که نه وي، نو د بهيدونکي وينې تر وتلو وروسته د هغه څرمن پاکه ګرځي، خو د غير مأكول اللحم حيوان غوښه نه حلاليږي، همدا صحيح او مفتیٰ به قول دی، خو خنزير داسې حيوان دی کوم چې توله نجس العين دی چې د هغه هيڅ جزء هم هيڅ ډول نه سي پاکېدلای. (انوار الايضاح)

د مردار خاروي د هډوکو، وربښتو او داسې نورو حکم

﴿۲۱٦﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ لَا يَسْرِيْ فِيْهِ الدَّمُ لَا يَنْجِسُ بِالْمَوْتِ او هر هغه شی چې وينه سرايت نه پکښې کوي (هغه) په مرګ سره نه نجس کيږي كَالشَّعْرِ وَالرِّيْشِ الْمَجْزُوْزِ لکه وربښتان او پرېکړل سوي بڼې (شکول سوي بڼکې) وَالْقَرْنِ وَالْحَافِرِ او (لکه) ښکر او ښونګري وَالْعَظْمِ مَا لَمْ يَكُنْ بِهٖ دَسَمٌ او (لکه) هډوکی تر څو چې پر هغه غوړزګي نه وي.

لغات: ﴿لا يسری﴾ د ضرب له بابه د نفي صيغه ده: تلل، تګ کول. ﴿المجزوز﴾ د ضرب او نصر له بابه مفعول دی: پرېکړل سوی. ﴿قرن﴾ ښکر، جمع: قُرُوْن. ﴿حافر﴾ ښونګری. جمع: حوافر. ﴿دَسَمٌ﴾ غوړزګي، وازګه. (معجم الوسيط)

تشريح: يعني د مردار حيوان (غير ماكول اللحم) د بدن هغه اجزاء او شيان چې وينه سرايت نه پکښې کوي او د ژوند آثار پکښې نه وي، هغوی په مرګ سره نه مرداريږي، بلکې پاک پاتيږي، لکه ښکر، وربښتان، ښونګري، هډوکي په دې شرط چې پر هډوکو د هغه حيوان وازګه او غوړزګي نه وي.

د پلو حکم

﴿۲۱۷﴾ وَالْعَصَبُ نَجِسٌ فِي الصَّحِيْحِ او پله د حيوان نجسه (مرداره) ده.

لغات: ﴿عصب﴾ پله، يعني د انسان او حيوان په وجود کې هغه سپين، کلک اعصاب او پټې چې د هغوی په ذريعه بندونه يو د بل سره متصل او تړلي وي، جمع: أَعْصَاب.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چې (د غيرِ ماكول اللحم امردار احيوان) پله نجسه ده، صحيح روايت همدا دی: دليل يې دا دی چې په پله کې هم د ژوند آثار وي: ځکه د هغې په پرېکولو سره تکليف او درد محسوسيږي، لهذا په پله کې "ميتةٌ" کېدل متصور سوه، علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چې په مجمع الانهر کې د هغه دليل رد کړی سوی دی: ځکه د پلې په پرېکولو سره چې کوم تکليف محسوسيږي، هغه خو د غوښې سره د اتصال په وجه وي او همداسې تکليف خو د هډوکي په

ماتبدلو سره هم محسوسیږي، نو بیا د هغه د نجاست هم قائل کېدل پکار دي. حال دا چي د هغه هیڅوک قائل نه دي، معلومه سوه چي مفتیٰ به روایت دا دی چي پله پاکه ده، په دې شرط چي پر هغه د وازګي وغیره آثار نه وي. (طحطاوي ص: ٩١، حلبي کبیر ص: ١٥٤)

د مشک حکم

﴿٢١٨﴾ وَنَافِجَةُ الْمِسْكِ طَاهِرَةٌ كَالْمِسْكِ او د مشکو کڅوړه (نافه) د مشکو په څېر پاکه ده وَأَكْلُهٗ حَلَالٌ او خوړل یې حلال (روا) دي.

لغات: ﴿نافجة﴾ د مُشکو کڅوړه، د مُشکو غوټه یعني د هوسۍ په نس کي هغه کڅوړه (خلته) چي مشک پکښي جوړیږي او پکښي خوندي وي چي په پښتو کي ورته نافه وایي. ﴿مِسك﴾ مُشک، هغه خوشبویه تور رنګه ماده ده کوم چي د هوسۍ په نامه (نو) کي جوړیږي. او په ډېر ګران قیمت سره پلورل کیږي. مشک د هوسۍ له وینې څخه جوړیږي په دې توګه چي د هوسۍ له بدن څخه په دې کڅوړه (نافه) کي وینه جمع کیږي او آخر کلکه او وچه سي نو مشک تیار سي. او مشک تر ټولو داعلیٰ درجې خوشبویي ده.

تشریح: فرمایي چي مشک پاک دي، همدارنګه په کومه کڅوړه کي چي مشک موجود وي یعني نافه، هغه هم پاکه ده او د مشک خوړل هم حلال دي (پاته سوه دا خبره چي مشک خو په اصل کي وینه ده او وینه ناپاکه ده. نو د دې جواب دا دی چي کله ذات او ماهیت بدل سي. نو احکام هم بدلیږي)؛ دلته یې د مشکو صراحت ځکه وکړی چي بعضي شیان داسي وي چي هغوی خو پاک وي، لیکن خوړل یې روا نه وي، لکه خاوره چي هغه پاکه ده، لیکن خوړل یې روا نه دي؛ نو ځکه فرمایي چي مشک هم پاک دي او د هغه خوړل هم روا دي.

﴿٢١٩﴾ وَالزَّبَادُ طَاهِرٌ او زباد خوشبویي (هم) پاکه ده تَصِحُّ صَلٰوةُ مُتَطَيِّبٍ بِهٖ (نو) صحیح کیږي لمونځ د هغه کس چي دا خوشبویي لګولې وي.

لغات: ﴿زباد﴾ په تشریح کي به یې وضاحت وسي. ﴿متطیّب﴾ د تفعّل له بابه د فاعل صیغه ده: (په یو خوشبویي سره) د ځان خوشبوداره کونکی. د خوشبویي استعمالونکی.

تشریح: له زباد څخه مراد یو قسم خوشبویه غوړه ماده ده کوم چي د ځنګلي پیشي غوندي حیوان له بدن څخه راوځي او د هغه تر لکۍ لاندي په یو خلته کي جمع کیږي (لکه مشک چي د هوسۍ په نس کي دننه په یو خلته انانا کي جوړیږي او جمع کیږي). زباد ډېره خوشبویه ماده ده او د عطرو په توګه استعمالول کیږي (او زباد همدغه حیوان ته هم ویل کیږي) (ایضاح الاصباح، معجم الوسیط). نو فرمایي چي دغه خوشبویي هم پاکه ده. لهذا که چا زباد خوشبویي لګولې وي. نو د هغه لمونځ صحیح دی.

❁❁❁

كِتَابُ الصَّلاةِ

(دا) کتاب د لمانځه (د احکامو په بیان کي) دی

تشریح: څرنګه چي لمونځ د ټولو عبادتونو بنیاد او د ټولو طاعتونو اصل دی، نو ځکه كِتَابُ الصَّلاةِ پر ټولو مشروعاتو مخکي کړی سو او څرنګه چي طهارت د لمانځه لپاره شرط دی او شرط د یو شي پر شي مخکي وي، نو ځکه کتاب الطهارة پر کتاب الصلاة مخکي کړی سو.

د صلاة لغوي معنی: صلاة په لغت کي دعاء ته ویل کیږي، لکه څرنګه چي په قرآن کي دي:

﴿وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ﴾ [سورة التوبة: ۱۰۳]، (اې نبي! (ﷺ) ته د دې خلکو لپاره دعا کوه! یقینا ستا دعاء د دوی لپاره د اطمینان او سکون لامل دی). همدارنګه نبي کریم ﷺ تر ډوډۍ خوړلو یا تر روژه ماتي وروسته دا دعا کړې ده: "أَكَلَ طَعَامُكُمُ الْأَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ... الخ" (یعني نېکو خلکو ستاسي ډوډۍ وخوړه او ملائکو ستاسو لپاره دعا وکړه). له دې څخه هم معلومېږي چي د صلاة لغوي معنی "دعاء" ده.

د صلاة اصطلاحي معنی: "عبارة عن أركان مخصوصة وأذكار معلومة بشرائط محصورة بصفات معينة". (یعني د شرطونو د رعایت کولو سره پر متعینو صفتونو [کیفیتونو] د معلومو أذکارو او ځانګړو أرکانو پر ځای کولو ته لمونځ ویل کیږي).

د لمانځه فرضیت: لمونځ په کتابُ الله، د رسولُ الله په سنت او اجماع ټولو سره ثابت دی. لکه څرنګه چي په قرآن کریم کي راځي: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ [سورة البقرة: ۴۳]. او په بل ځای کي راځي: ﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾ [سورة البقرة: ۲۳۸]. او له دې څخه بغیر نور هم په ډېرو ځایو کي د لمانځه فرضیت او ارزښت څرګند سوی دی، په حدیث شریف کي هم په ډېر ټینګار سره د لمونځ کولو او د لمونځ د فرضیت حکم سوی دی، لکه څرنګه چي حدیث دی: "إن الله تعالى فرض على كل مسلم ومسلمة في كل يوم وليلة خمس صلوات".

او د لمانځه د اهمیت په اړه د نبي کریم ﷺ دا فرمان د یادوني وړ دی: "الصلاة عماد الدين، فمن أقامها أقام الدين ومن هدمها هدم الدين".

او په اجماع سره د لمانځه ثبوت په دې توګه دی چې د نبي کريم ﷺ له زمانې څخه واخله تر ننه پورې ټوله اُمت د لمانځه په فرضيت او د هغه په مشروعيت باندې متفق دي. (عنايه ج:۱، ص:۲۱۸ - ۲۱۹)

د فرضيت شرائط

﴿۲۲۰﴾ يُشْتَرَطُ لِفَرْضِيَّتِهَا ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ د لمانځه لپاره درې شيان شرط دي اَلْإِسْلَامُ (۱) اسلام (مسلمان کېدل) وَالْبُلُوْغُ (۲) او بلوغ (بالغ کېدل). وَالْعَقْلُ (۳) او عقل (عاقل کېدل) وَتُؤْمَرُ بِهَا الْأَوْلَادُ لِسَبْعِ سِنِيْنَ او کوچنيانو ته به د لمانځه امر (حکم) کول کېږي د اُوو کالو په عمر کې وَ تُضْرَبُ عَلَيْهَا لِعَشْرٍ او وهل کېږي به پر (پرېښوولو) د لمانځه د لسو کالو په عمر کې بِيَدٍ لَا بِخَشَبَةٍ (وهل کېږي به) په لاس سره، نه په لرګي سره.

تشريح: د لمانځه د فرض کېدو لپاره درې شيان شرط دي، يعني لمونځ صرف پر هغه کس فرض کېږي چې په هغه کې مذکوره درې شيان موجود وي، لهذا که په چا کې له دغو درېو يو شی هم موجود نه وي، نو پر هغه لمونځ فرض نه دی: ① مسلمان کېدل. لهذا که څوک کافر وي. نو لمونځ باندې فرض نه دی، ② بالغ کېدل. لهذا پر نابالغه کس لمونځ فرض نه دی. ③ عاقل کېدل. نو پر مجنون (لېوني) لمونځ فرض نه دی. او دلته له فرض څخه مراد فرضِ عين دی.

وتؤمربها إلخ: کله چې هلک يا نجلۍ د اُوو کالو سي (يعني اتم کال يې شروع سي)، نو د هغوی په سرپرست (ولي) باندې واجب دي چې د لمانځه حکم ورته وکړي او لمونځ ور زده وکړي او کله چې د لسو کالو سي (يعني يوولسم کال يې شروع سي)، نو اوس که لمونځ پرېږدي. نو سرپرست دي هغوی د لمانځه په پرېښوولو باندې وهي، خو په وهلو کې دي د حدودو خيال ساتي: يو دا چې په لاس سره دي يې وهي. نه په لرګي سره؛ ځکه دا صرف تنبيه ده، سزا نه ده، حال دا چې لرګی او داسې نور په سزا ورکولو کې استعمالول کېږي، دويم دا چې له درېو ضربونو څخه به زائد نه وي او ضرب به هم متوسط وي. او دا ضرب هم واجب دی. (طحطاوي)

استاذ ته هدايت: د استاذ او معلم لپاره هم دغه حکم دی چې د تعليم په سلسله کې د بچي په وهلو کې له حد څخه تجاوز کول پکار نه دي، ځکه په حديث کې دي: چې الله تعالیٰ به (په آخرت کې) په هغه سره وبچي ته قصاص ورکوي (يا په بله ورځ د بچي کسات به ځني اخلي).

او بچي ته د شريعت د ټولو حکمونو يعني د نېکو کارو د کولو او له بدو کارو څخه د بچ کېدلو تعليم له همدې عمر څخه ورکول پکار دي؛ او دا په دې وجه چې بچی په هغوی عادت سي او په هغه

افعالو سره متخلق سي، او په دې وجه نه چي دغه افعال پر هغه فرض دي. خو روژه دي هغه وخت په نيول کيږي کله چي په بچي کي د روژو نيولو قوت راسي. (شفاء الارواح)

د لمانځه د وجوب اسباب

﴿۲۲۱﴾ وَأَسْبَابُهَا أُوْقَاتُهَا او د لمانځه (د واجبېدلو) اسباب د لمانځه خپل وختونه دي (يعني چي د لمانځه وخت داخل سي، نو لمونځ هم واجبيږي. په اصل کي خو لمونځ د الله په حکم سره واجبيږي. لېکن انسان د الله حکم نه سي اوريدلی. نو ځکه وخت د هغه سبب وګرځول سو. چي کله وخت راسي نو ګواکي د الله حکم راغلی) وَتَجِبُ بِأَوَّلِ الْوَقْتِ وُجُوْبًا مُوَسَّعًا او واجبيږي په اول وخت کي په داسي وجوب سره چي (د وخت تر آخره پوري) ګنجايش (وسعت) ورکول سوی دی (يعني لمونځ خو د وخت په شروع کي واجبيږي. لېکن د دې ګنجايش سته چي په خپل وخت کي يې د وخت تر آخره هسي په يو وخت کي اداء کړي).

تشريح: د لمانځه د واجبېدلو سبب د لمانځه خپل وخت دی. يعني کله چي د لمانځه وخت داخل سي، نو هاغه وخت هغه لمونځ پر مکلف واجبيږي، نه تر هغه مخکي.

وتجب: کله چي د لمانځه د واجبېدلو سبب وخت دی، نو ځکه کله چي هم د لمانځه وخت داخل سي، پر مکلف د وخت د شروع په حصه کي لمونځ اداء کول واجبيږي. لېکن که دئ د وخت په اوله حصه کي لمونځ نه وکړي، په مېنځ يا په آخره حصه کي يې وکړي، نو په دې سره هم وجوب اداء کيږي او دې ته قضاء نه ويل کيږي؛ ځکه دا داسي وجوب دی چي د وخت تر آخره پوري د اداء کولو وسعت او ګنجايش ورکول سوی دی.

د سهار د لمانځه وخت

﴿۲۲۲﴾ وَالْأَوْقَاتُ خَمْسَةٌ او (د لمانځه) وختونه پنځه دي وَقْتُ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ الصَّادِقِ (۱) د سهار وخت (او هغه شروع کيږي) د صبح صادق له راختلو ځخه (يا بله ورنا د سهار له سپېلو اسپېده چاود ځخه) إِلٰى قُبَيْلِ طُلُوْعِ الشَّمْسِ د لمر راختلو ځخه تر لږ مخکي پوري.

لغات: ﴿قُبيل﴾ د قبل تصغير دی: لږ مخکي (ځه مخکي)، مثلاً: جاء فلانٌ قُبيل العصر: فلانکی کس د مازيګر تر لمانځه لږ ګړی مخکي راغلی.

تشريح: د شپې په آخر کي (سهار ته نژدې) د مشرق پر طرف د آسمان په څنډو کي په اوږدول ځه سپينوالی ښکاره سي، همدا صبح کاذب (سپېره ګهيځ) دی. بيا ځه ګړی وروسته د آسمان په څنډو کي په پلنوالي سره دغه سپينوالی وغوړيږي (زيات سي)، همدا صبح صادق (رون ګهيځ) دی کوم چي

څه په تېزۍ سره غوړېږي چې څه ګړی وروسته رڼا سي. نو له کوم وخت څخه چې دا پلن سپينوالی وليدل سي، له هماغه وخت څخه د سهار د لمانځه وخت شروع کيږي او د لمر راختلو تر وخته پوري باقي پاتيږي.

مصنف رَحِمَهُ الله د سهار د لمانځه وخت تر ټولو څکه مخکي بيان کړی دی چې د سهار د وخت په ابتداء او انتهاء کي هيڅ اختلاف نسته، همدارنګه په دنيا کي حضرت آدم عَلَيهِ السَّلَام اول د سهار لمونځ کړی وو. همدارنګه د ورځي په لمنځونو کي اول د سهار لمونځ شروع کيږي. (البحر الرائق. فتح الهدايه)

د ماپښين د لمانځه وخت

﴿۲۲۳﴾ وَوَقْتُ الظُّهْرِ مِنْ زَوَالِ الشَّمْسِ (۲) او د ماپښين وخت (شروع کيږي) د لمر د زائلېدلو (تر سر اوښتولو) څخه إِلَى أَنْ يَصِيرَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَيْهِ أَوْ مِثْلَهُ سِوَى ظِلِّ الْاِسْتِوَاءِ تر دې چې د هر شي سايه دوچنده يا يو چنده سي ماسوا (د شي) له اصلي سايې څخه (يا په بېه ترجمه: ماسوا د استواء د وخت له سايې څخه) وَاخْتَارَ الثَّانِيَ الطَّحَاوِيُّ او دويم قول (يعني چې تر يو چنده ايو مثل پوري د ماپښين وخت پاتيږي) امام طحاوي رَحِمَهُ الله اختيار کړی دی وَهُوَ قَوْلُ الصَّاحِبَيْنِ او همدا د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله قول دی.

تشريح: په دې عبارت کي د ماپښين د اول او آخري وخت په هکله بحث سوی دی. د ماپښين په اول وخت کي خو د ائمه وو اتفاق دی، چې زموږ د دريو امامانو (امام صاحب او صاحبينو رَحِمَهُمُ الله) په نېز د ماپښين اول وخت بالاتفاق تر زوال وروسته شروع کيږي، څکه چې حضرت جبرئيل عَلَيهِ السَّلَام اول هم په دغه وخت کي نبي ﷺ ته د ماپښين لمونځ په جماعت ورکړی وو.

لېکن د ماپښين د آخري وخت په باره کي د احنافو تر مېنځ اختلاف دی. له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه په ټولو رواياتو کي معتبر او مستند روايت دا دی چې کله له اصلي سايې (سپوري) څخه بغير د هر شي سايه دوچنده سي. نو په دغه وخت کي د ماپښين وخت ختمېږي او د مازيګر وخت شروع کيږي، د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز چې کله له اصلي سايې څخه بغير د هر شي سايه يو چنده سي، نو بيا د ماپښين وخت ختمېږي او د مازيګر وخت شروع کيږي.

د اصلي سايې (ظل الاستواء) د پېژندګلوۍ طريقه

د زوال پر مهال يعني د غرمې په وخت کې چې کله لمر په رک سر باندې ودرېږي (دې وخت ته د استواء وخت وايي)، په دغه وخت کې چې د شيانو کومه سايه وي، دغه سايې ته ظل الاستواء يا اصلي سايه وايي، صاحب د عنايې رَحِمَهُ الله د دې د پېژندګولې په باره کې د محمد بن شجاع رَحِمَهُ الله دا قول بيان کړی دی: چې په هواره او برابره ځمکه کې دې (د غرمې پر مهال) يو لرګی ودرول سي يعني په داسې هوار ځای کې چې په هغه کې لږ اندازه هم لاندې يا پورته ځای نه وي، اوس چې تر کومه ځايه د دغه لرګي سايه رسېږي، پر هغه ځای دې نښه ولګول سي، نو تر څو چې د لرګي سايه له هغه نښې څخه را کمېږي، نو دغه له زوال څخه مخکې وخت دی، لېکن څرنګه چې سايه ودرېږي او په هغه کې هيڅ کمې او اضافه نه راځي، نو بس دغه سايه ظل الاستواء (فيء الزوال) يعني اصلي سايه ده (او همدغه ټيک د زوال وخت دی)، عربي عبارت يې داسې دی: أَصَحُّ مَا قِيلَ فِي مَعْرِفَةِ الزَّوَالِ قَوْلُ مُحَمَّدِ بْنِ شُجَاعٍ أَنَّهُ يُغْرَزُ خَشَبَةٌ فِي مَكَانٍ مُسْتَوٍ وَيُجْعَلُ عَلَى مَبْلَغِ الظِّلِّ مِنْهُ عَلَامَةٌ، فَمَا دَامَ الظِّلُّ يَنْقُصُ مِنَ الْخَطِّ فَهُوَ قَبْلَ الزَّوَالِ، فَإِذَا وَقَفَ لَا يَزِيدُ وَلَا يَنْقُصُ فَهُوَ سَاعَةُ الزَّوَالِ الَّتِي هِيَ عِبَارَةٌ عَنْ فَيْءِ الزَّوَالِ. (عنايه ج:١، ص:٢٢١)

مثلاً هغه درول سوی لرګی يوه لوېشت وو او ټيک د زوال په وخت کې (يعني کله چې لمر په رک سر باندې ودرېدی، په دې وخت کې) د هغه سايه دوې ګوته سوه، نو دغه دوې ګوتې اصلي سايه يعني ظل الاستواء دی، او کله چې د دې لرګي سايه يوه لوېشت او څلور ګوتې سوه. نو دغه يو مثل (يو چندي) ده او کله چې دوې لوېشتې او څلور ګوتې سوه نو دا مثلين (دوچندي) سوه.

فايده: دا تفصيل محض د طالبانو د افادې لپاره لېکل سوی دی، کنې نن سبا کوم چې هر طرف ته د ګړيانو، جنتريانو او نقشو بازار ګرم دی او هر ځای د فن ماهرين او معتبر مفتيان سته، نو د هغوی مطابق په عمل کولو کې سهولت او آساني ده.

❀ ❀ ❀

په عربستان کې د ماز يګر لمونځ له دوچندۍ (مثلينو) څخه مخکې کول

مسئله: دامام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د راجح قول مطابق تر دوچندۍ پورې د ماپښين وخت پاتېږي او تر هغه وروسته د مازيګر وخت شروع کېږي (لکه اوس چې ذکر سوه)، لهذا تر دوچندۍ مخکې د مازيګر لمونځ جائز نه دی، پر همدې د احنافو فتویٰ ده او پر همدې دلته عمل کېږي. او پاته سو د صاحبينو او امام طحاوي او د ائمه ثلاثه وو رَحِمَهُمُ الله په نېز د ماپښين وخت تر يو چندۍ پورې باقي پاتېږي او تر هغه وروسته د مازيګر وخت شروع کېږي او د مازيګر د وخت شروع کېدلو

لپاره د دوچندۍ پوره کېدلو ته د انتظار کولو ضرورت نشته، او همدا د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ یو روایت دی، خو پر دې د احنافو فتویٰ نه ده.

لنډه دا چې د احنافو اصل مسلک خو همدا دی چې له دوچندۍ څخه مخکې د مازیګر لمونځ جائز نه دی، خو په عربستان کې په مسجدِ حرام او مسجدِ نبوي او په نورو ټولو مسجدونو کې د مازیګر لمونځ تر یوچندۍ وروسته سمدستي کول کیږي، هلته دوچندۍ ته انتظار کول مشکل دي. که چیرې حنفي مذهبه خلک خپل وخت ته انتظار کوي، نو هلته هیڅکله په جماعت سره لمونځ نه سي کولای، لهذا د صاحبینو او نورو په قول باندې په عمل کولو سره په عربستان کې تر یو چندۍ وروسته د اهل عربستان سره یو ځای په جماعت لمونځ کول صحیح دي. او د جماعت له فضیلت څخه محرومېدل مناسب دي، بعضو اهل فتاویٰ همدې خبرې ته ترجیح ورکړې ده. (ایضاح المسالک ص: ۱۷۲، بحوالۂ انوار الایضاح)

د مازیګر د لمانځه وخت

﴿۲۲۴﴾ وَوَقْتُ الْعَصْرِ مِنِ ابْتِدَاءِ الزِّيَادَةِ عَلَى الْمِثْلِ أَوِ الْمِثْلَيْنِ (۳) او د مازیګر وخت (شروع کیږي) پر یو چنده یا دوچنده د (سایې) زیاتېدلو له شروع څخه (یعني مازیګر هغه وخت شروع کیږي کله چې سایه تر یوه چند یا دوو چندو (علی اختلاف المذهبین) زیاته سي) إِلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ تر لمر لوېدلو پورې.

تشریح: د مازیګر وخت د ماپښین د وخت تر ختمېدلو وروسته شروع کیږي، هغه که د ماپښین وخت پر دوچندۍ ختم سي لکه د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نېز، او که پر یوچندۍ ختم سي لکه د صاحبینو رَحِمَهُمَا اللهُ په نېز، او د مازیګر وخت د لمر پر لوېدلو ختمیږي، لېکن کله چې د لمر رنګ بدل سي او سور غوندې سي، نو په دې وخت کې د مازیګر لمونځ کول مکروه دي، لهذا تر لمر ژړېدلو مخکې لا د مازیګر لمونځ کول پکار دي، خو بیا هم که تر لمر ژړېدلو وروسته او تر لمر لوېدلو مخکې لمونځ وکړی سي، نو لمونځ اداء دی، قضاء نه دی، ځکه اوس هم وخت پاته دی.

د ماښام د لمانځه وخت

﴿۲۲۵﴾ وَالْمَغْرِبُ مِنْهُ (۴) او د ماښام وخت له لمر لوېدلو څخه (شروع کیږي) إِلَى غُرُوبِ الشَّفَقِ الْأَحْمَرِ د شفقِ احمر تر لوېدلو (غائبېدو) پورې عَلَى الْمُفْتَى بِهِ پر هغه قول چې په هغه باندې فتویٰ ورکول سوې ده (د مفتیٰ به قول مطابق)

لغات: منه: د "د" ضمیر "غروب الشمس" ته راجع دی، ﴿الشَفَقُ﴾ تر لمر لوېدلو وروسته د آسمان پر څنډو غوړېدلې سورخي (سوروالی)، شفق پر دوه قسمه دی: شفق احمر، شفق ابیض. ① شفق احمر هغه سوروالی دی کوم چي تر لمر لوېدو وروسته د مغرب پر طرف د آسمان په څنډو کي راسي، ② شفق ابیض هغه سپینوالی کوم چي تر شفق احمر وروسته د آسمان په څنډو کي راسي. په بله وینا: تر لمر لوېدو وروسته اول د آسمان په څنډو کي سورخي راځي، بیا سپینه رڼا غوړېږي، چي هغه ته بیاضِ مستطیر وایي، تر دې وروسته سپینه اوږده رڼا ښکاره کېږي چي هغه ته بیاضِ مستطیل وایي او تر دې وروسته بیا د آسمان پر څنډو مکمل تیاره وغوړېږي، د امام صاحب رحمه الله په نېز تر سورخي وروسته چي کوم بیاضِ مستطیر راځي، تر هغه پوري د ماښام وخت دی، ځکه چي په سهار کي هم بیاضِ مستطیر د سهار وخت دی، نو په ماښام کي به هم د بیاضِ مستطیر د ماښام وخت وي، ځکه چي دواړه یو ډول دي.

تشریح: کله چي لمر ولوېږي، نو د ماښام د لمانځه وخت شروع کېږي او د شفق تر غائبېدو پوري پاتېږي، د شفق په تعیّین کي د علماؤ اختلاف دی، د صاحبینو رحمهما الله په نېز له شفق څخه مراد شفق احمر دی یعني د شفق احمر پر غائبېدلو د ماښام وخت ختمېږي (یعني تر لمر لوېدو وروسته تقریباً درې پاوه. تر دې وخته پوري د ماښام وخت پاتېږي)، او د امام صاحب رحمه الله په نېز له شفق څخه مراد شفق ابیض دی (یعني تر لمر لوېدو وروسته تقریباً پاو بالا یوه گېنټه [پاو بالا یو ساعت])، مصنف رحمه الله د صاحبینو رحمهما الله قول ته مفتیٰ به ویلي دي، لیکن صاحب صاحب د فتح القدیر او صاحب د بحر الرائق او علامه طحطاوي رحمهم الله د امام صاحب رحمه الله قول مفتیٰ به او راجع گرځولی دی او په آخر کي علامه طحطاوي رحمه الله فرمایلي دي: "ولا یلتفت إلی جعل بعض المشائخ الفتوی علی قول الصاحبین". (طحطاوي ص:۹۵)

د ماخوستن د لمانځه وخت

﴿۲۲۶﴾ وَالْعِشَاءِ وَالْوِتْرِ مِنْهُ (۵) او د ماخوستن او وترو وخت د شفقِ له لوېدو څخه (شروع کېږي) إِلَى الصُّبْحِ تر سهار (صبح صادق) پوري.

لغات: منه: د دې ضمیر "شفق" ته راجع دی، أی من غروب الشفق علی الاختلاف الذی تقدم.

تشریح: یعني د شفق له غائبېدو څخه د ماخوستن وخت شروع کېږي او تر صبح صادق (رڼو کېدو) پوري پاتېږي.

د وترو د لمانځه وخت

﴿۲۲۷﴾ وَلَا يُقَدَّمُ الْوِتْرُ عَلَى الْعِشَاءِ او نه سي مخکي کول کېدای وتر د ماخوستن پر لمانځه لِلتَّرْتِيْبِ اللَّازِمِ د هغه ترتیب په وجه کوم چي لازم دی (یعني د دوی په مېنځ کي د ترتیب لازمېدلو په وجه).

تشریح: د وترو اول وخت د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز د ماخوستن تر لمانځه وروسته دی او آخري وخت یې تر صبح صادق (طلوع فجر) پوري دی او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز د ماخوستن د لمانځه او د ترو وخت یو دی، لېکن د ترتیب واجبېدلو په وجه وتر د ماخوستن تر لمانځه مخکي کول صحیح نه دي. لېکن که څوک سهواً وتر مخکي اداء کړي او د ماخوستن لمونځ تر هغه وروسته اداء کړي، نو هیڅ حرج نشته او د ماخوستن لمونځ راګرځول ضروري نه دي. خو وتر دي راوګرځوي، دا د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله مسلک دی، لېکن د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز اعاده نشته. (انوار الایضاح)

﴿۲۲۸﴾ وَمَنْ لَّمْ يَجِدْ وَقْتَهُمَا او څوک چي د دې دواړو (ماخوستن او وترو) وخت نه وموندي لَمْ يَجِبَا عَلَيْهِ نو دا دواړه پر هغه نه واجبېږي.

تشریح: مسئله دا ده که څوک په داسي ملک او علاقه کي اوسېږي چي هلته د ماښام تر وخت وروسته د ماخوستن او وترو وخت نه راځي یعني د شفق تر غائبېدلو مخکي سمدستي د سهار وخت راځي. مثلاً په "بلغار" ښار او د یورپ د "فَنْلَنْدَا" (finlad) اِنْ لیندا هیواد په شمال کي همداسي کېږي چي د کوچنیو شپو په ورځو یعني په ګرمۍ کي ورځ ۲۳ ساعته (۲۳ ګېنټې) وي او صرف د یوه ساعت (یوې ګېنټې) لپاره لمر لوېږي، نو هلته په دې ورځو کي د شفق تر غائبېدلو مخکي لا سهار شروع کېږي: لهذا د ماخوستن او د وترو وخت نه راځي (یا مثلاً د بعضي ملکو په بعضي علاقو کي څو ورځي لمر نه لوېږي). نو اوس پر هغو د ماخوستن او وترو لمونځ واجبېږي. که نه؟. په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی، بعضي فرمايي چي پر هغو دا دواړه لمونځونه نه واجبېږي: ځکه د لمانځه د فرضیت سبب د هغه خپل وخت دی او کله چي یې وخت راغلی نه دی. نو واجبېږي هم نه. مصنف رَحِمَهُ الله همدا غه قول اختیار کړی دی (او ډېرو فقهاؤ همدغه قول راجح ګرځولی دی)، بعضي حضرات فرمايي چي دواړه لمونځونه دي کوي (علامه شلبي او صاحب د فتح القدير همدا قول اختیار کړی دی او همدا مفتیٰ به دی). نو د دې قول مطابق هلته د وخت معلومولو لپاره دوې طریقې دي:

① ... په عامو ورځو کې چې څومره وخت تر لمر لوېدو وروسته هلته د ماخوستن وخت شروع کیږي، تر هغومره وخت وروسته دې دواړه لمونځونه کوي، مثلاً په عامو ورځو کې تر لمر لوېدو یو نیم ساعت وروسته د ماخوستن وخت شروع کېدی، نو په دغه ورځو کې دې هم تر لمر لوېدو وروسته د ماخوستن او وترو لمونځ کوي، که څه هم سهار سوی وي.

② ... یا هغه ځای ته په نژدې ښار او هیواد کې چې کله د ماخوستن وخت داخلیږي، پر هغه دې قیاس کوي او دا لمونځونه دې کوي.

د دواړو قولونو تصحیح ثابته ده. احتیاط په همدې کې دی چې د ماخوستن او وترو لمونځ د سهار تر لمانځه مخکې وکړي. (شفاء الارواح بتغیر)

* * *

چیري چې شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي، هلته څه حکم دی؟

مسئله: چیري چې ورځ او شپه شپږ، شپږ میاشتې اوږدیږي، هلته دې په اندازه لګولو سره ټوله لمونځونه کول کیږي، یعني په څلورویشت ساعته کې دې پنځه لمونځونه د مُروجه فرق مطابق پوره کول کیږي. (در مختار ج:۲، ص:۱۸، کتاب المسائل ص:۲۳۲)

د دوو فرضونو د جمع کولو حکم

﴿۲۲۹﴾ وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ فَرْضَيْنِ فِيْ وَقْتٍ بِعُذْرٍ او نه به جمع کوي دوه فرضي لمنځونه په یوه وخت کې د یو عذر په وجه إِلَّا فِيْ عَرَفَةَ لِلْحَاجِّ مګر په عرفات کې د حاجي لپاره (دا جمع جائز ده) بِشَرْطِ الْإِمَامِ الْأَعْظَمِ وَالْإِحْرَامِ دلوی امام او احرام په شرط سره (یعني په دې شرط چې د حج لمیر امام ا به موجود وي او جمع کونکي به محرم وي (احرام به یې تړلی وي ا) فَيَجْمَعُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ جَمْعَ تَقْدِيْمٍ نو جمع کوي به د ماپښین لمونځ او د مازیګر لمونځ د جمع تقدیم په توګه (چې د مازیګر لمونځ به له خپل وخت څخه را مقدم کوي ارامخته کوي ا او د ماپښین د لمانځه سره به یې د ماپښین په وخت کې اداء کوي. نو دې جمع ته "جمع تقدیم" ځکه وایي چې په دې کې د مازیګر لمونځ له خپل وخت څخه مقدم امخکې ا کول کیږي).

تشریح: د هیڅ عذر په وجه هم دوه فرضي لمنځونه په یوه وخت کې جمع کول (یو ځای اداء کول) جائز نه دي، نو بېله عذره خو بیخي جائز نه دي، مثلاً که د مرض یا سفر په سبب د ماپښین په وخت کې د ماپښین تر لمونځ کولو وروسته د مازیګر لمونځ هم وکړي، نو نه صحیح کیږي؛ ځکه د

ماز یګر لمونځ تر وخت مخکي اداء کړل سو، او دې ته جمع حقیقي وايي، او بل جمع صوري ده. هغه داده چي د یو عذر مثلاً د سفر یا مرض په وجه د ماپښین لمونځ د وخت په آخر کي وکړي او د ماز یګر لمونځ د وخت په اول کي وکړي. نو په دې کي څه حرج نسته؛ ځکه چي دواړه لمونځه په خپل وخت کي اداء کړل سوه. (شفاء الارواح)

إلافي عرفة الخ: لیکن د عرفات او مزدلفه حکم له پورتني حکم څخه جلا دی. په عرفات کي د ماپښین او ماز یګر د لمانځه حکم دا دی چي د ماز یګر لمونځ دي د ماپښین په وخت کي د ماپښین د لمانځه سره یو ځای اداء کړل سي، او دغه جمع ته جمع تقدیم وايي. د امام صاحب رحمه الله په نېز جمع تقدیم په دریو شرطونو سره جائز ده ① یو دا چي امام یا د هغه نائب به وي (یعني کوم چي د حج امیر او امام وي. د هغه شاته به لمونځ کوي کوم ته چي مصنف رحمه الله امام اعظم ویلي دي. لهذا که څوک په خپله خېمه کي لمونځ کوي. نو جمع بین الصلاتین نه سي کولای)، ② دویم دا چي دواړه لمونځونه به د احرام په حالت کي وي او حاجي به وي، ③ دریم دا چي د عرفات میدان او د عرفات ورځ به وي (لهذا له عرفات څخه بیاندي جمع بین الصلاتین نه سي کولای)، له دغه دریو شرطونو څخه که یو شرط هم موجود نه سي. نو جمع تقدیم نه جائز کیږي، د صاحبینو رحمهما الله په نېز صرف احرام شرط دی. صاحب د درمختار د صاحبینو رحمهما الله مذهب ته راجح ویلي دي، لیکن علامه شامي رحمه الله فرمايي چي دا به یې د دلیل په اعتبار سره راجح ورته ویلي وي. کنې په متونو وغیره کي د امام صاحب رحمه الله مذهب راجح ګرځول سوی دی. (انوار الایضاح. ثمرة النجاح)

جمع تاخیر

﴿٢٢٥﴾ وَيُجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِمُزْدَلِفَةَ او جمع کوي به د ماښام او ماخوستن لمونځ په مزدلفه کي (او دې ته جمع تاخیر وايي. ځکه په دې کي د ماښام لمونځ له خپل وخت څخه وروسته (مؤخر) کول کیږي او د ماخوستن په وخت کي د ماخوستن د لمانځه سره اداء کول کیږي) وَلَمْ يَجُزِ الْمَغْرِبُ فِيْ طَرِيْقِ مُزْدَلِفَةَ او جائز نه دی د ماښام لمونځ د مزدلفې په لاره کي.

تشریح: د عرفات په ورځ د حاجیانو لپاره د ماښام او ماخوستن د لمانځه وخت مزدلفې ته له رسېدلو څخه وروسته دی یعني کله چي حاجیان مزدلفې ته ورسیږي، نو ځکه په عرفات یا د مزدلفې په لاره کي د ماښام لمونځ کول جائز نه دي، که څه هم د ماښام وخت وځي. او په مزدلفه کي به د ماښام لمونځ او د ماخوستن لمونځ د ماخوستن په وخت کي په یوه اذان او یوه اقامت سره اداء کوي او دلته د امام

یا نائب شرط نسته، لهذا که څوک د مزدلفې په لاره کې یا په عرفات کې د ماښام لمونځ وکړي، نو د هغه لمونځ نه صحیح کیږي (نور تفصیل به په کتاب الحج کې بیان سي). (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د سهار د لمانځه مستحب وخت

﴿۲۲۱﴾ وَيَسْتَحِبُّ الْإِسْفَارُ بِالْفَجْرِ لِلرِّجَالِ او مستحب دي د سهار لمونځ په رڼا کې کول د خلکو لپاره (یعني په داسې وخت کې د سهار لمونځ کول چې تاریکه لیرې سي او رڼا به وغوړیږي).

لغات: ﴿إسفار﴾ د افعال د باب مصدر دی: ښه روښانه کېدل، (رڼا کېدل) روښانه کول (رڼا کول)

تشریح: د لمانځه د اصل وختونو له بیان څخه وروسته اوس له دې ځایه مستحب وختونه بیانوي. د خلکو لپاره مستحب دي چې د سهار لمونځ داسې وخت شروع کړي چې رڼا به وغوړیږي او تر لمر راختلو دومره مخکې لمونځ اداء کړل سي چې که بالفرض بیا د لمونځ راګرځولو ته ضرورت پېښ سي، نو چې دومره وخت لا پاته وي چې بیا اودس هم وکړل سي او لمونځ د سنت قرائت مطابق هم اداء کړل سي (همدا د إسفار مطلب دی اعتبار)، لهذا تر لمر راختلو کم از کم ۳۰ دقیقې مخکې دې د سهار لمونځ اداء کړل سي. او د ښځو لپاره همېشه د سهار لمونځ په اول وخت کې کول مستحب دي. او په نورو لمنځونو کې غوره دا ده چې د خلکو د جماعت انتظار وکړي، کله چې د خلکو جماعت وسي. بیا دې لمونځ وکړي. (شفاء الارواح)

د روژې په میاشت (رمضان) کې د سهار لمونځ وختي کول

مسئله: د روژې په میاشت کې د سهار لمونځ تر پېشلمي څه وخت وروسته سمدستي اداء کول افضل دي؛ ځکه د روژې په میاشت کې خلک د پېشلمي لپاره وختي اپورته کیږي، نو که تر إسفاره پورې د جماعت لمونځ وځنډول سي، نو خلک به یا تنها، تنها لمنځونه وکړي او بیده به سي، یا د لمونځ کولو څخه بغیر د خوب د غلبې په وجه به ګردسره لمونځ ځني فوت سي. نو ځکه په تیاره کې اداء کول افضل دي؛ ځکه دا په جماعت کې د تکثیر ذریعه ده، په تأخیر کولو کې د خلکو د کمېدلو خطره سته. (تحفة الالمعی ج:۱، ص:۴۴۸، معارف السنن ج:۲، ص:۳۹)

د ماپښین مستحب وخت

﴿۲۲۲﴾ وَالْإِبْرَادُ بِالظُّهْرِ فِي الصَّيْفِ او په ګرمۍ (دوبي) کې د ماپښین لمونځ په یخ وخت کې کول (یعني د ګرمۍ په موسم کې د ماپښین لمونځ ځنډول او په داسې وخت کې کول مستحب دي چې ګرمي څه کمزورې سي) وَتَعْجِيلُهُ فِي الشِّتَاءِ او په ژمي کې د ماپښین لمونځ وختي کول (ژر اداء کول) مستحب دي إِلَّا فِيْ يَوْمِ غَيْمٍ مګر د وریځې په ورځ فَيُؤَخِّرُ فِيْهِ نو په هغه ورځ به د ماپښین لمونځ ځنډول کیږي.

لغات: ﴿إبراد﴾ دافعال دباب مصدر دی: بـه یخول. په یخ کي داخلېدل. ﴿الصَّيف﴾ گرمي. دوبي. د گرمی موسم. جمع: صُيُوف. ﴿الشِّتَاء﴾ ژمی. دیخ موسم. جمع: أَشْتِيَة.

تشريح: دگرمی په موسم کي دماپښين لمونځ ځنډول مستحب دي. يعني بايد په اول وخت کي اداء نه کړل سي. بلکي دومره وځنډول سي چي گرمي څه کمزورې او کمه سي. لېکن دژمي په موسم کي دماپښين لمونځ په خپل اول وخت کي اداء کول مستحب دي. خو په کومه ورځ چي پر آسمان وريځ غوړېدلې وي، نو په هغه ورځ يې ځنډول مستحب دي؛ ځکه دا خطره سته چي له وخت څخه مخکي اداء نه سي (خو څرنگه چي اوس دگړيو، ساعتونو دور دی او هر وخت دگړی (ساعت) په ذريعه ټيک معلومېدلای سي. نو ځکه هر لمونځ به دگړی مطابق پر خپل ټاکلي وخت اداء کول کيږي. دوريځي وغيره په وجه ځنډولو يا مخکي کولو ضرورت نسته). او دا د تأخير او تعجيل حکم د ټولو لپاره برابر دی يعني برابره ده انسان په کور کي لمونځ کوي او که په مسجد کي، په سفر کي وي او که په حضر کي.

يادونه: په کوم ځای کي چي په گرمی کي هم دماپښين لمونځ په خپل اول وخت کي اداء کول کيږي (لکه په بازار او بعضي ځايونو کي چي دماپښين لمونځ پره يوه. يوه نيمه بجه درول کيږي). نو هلته د مستحب وخت لپاره جماعت پرېښوول جائز نه دي. او د جمعې د لمانځه لپاره مستحب وخت د ماپښين د لمانځه په څېر دی. لېکن فتویٰ پر دې ده چي د جمعې لمونځ همېشه په اول وخت کي کول مستحب دي، همدا د جمهورو مذهب دی. (شفاء الارواح بحوالۀ طحطاوي و عمدة)

د مازيگر مستحب وخت

> ﴿۲۲۳﴾ وَتَأْخِيْرُ الْعَصْرِ مَالَمْ تَتَغَيَّرِ الشَّمْسُ او د مازيگر لمونځ ځنډول (مستحب دي) تر هغه وخته پوري چي لمر تغير نه وي کړی (بدلون نه وي پکښي راغلی) وَتَعْجِيْلُهُ فِيْ يَوْمِ الْغَيْمِ او د وريځي په ورځ د مازيگر لمونځ وختي کول (ژر اداء کول. مستحب دي).

تشريح: د مازيگر لمونځ برابره ده يخ وي او که گرمي وي په هر موسم کي ځنډول مستحب دي تر هغه وخته پوري چي لمر متغير سوی نه وي. يعني دومره تاخير دي نه کوي چي د لمر ټکی سره سي او رڼا يې کمزورې او ژړه سي په دې توگه چي پر لمر سترگي نه بړېښي؛ ځکه په دې وخت کي د مازيگر لمونځ مکروه کيږي. او د وريځي په ورځ د ماځيگر لمونځ ژر اداء کول مستحب دي؛ ځکه په دې ورځ دا بېره سته چي په مکروه وخت کي اداء نه سي.

د ماښام د لمانځه مستحب وخت

﴿٢٢٤﴾ وَ تَعْجِيْلُ الْمَغْرِبِ إِلَّا فِيْ يَوْمِ غَيْمٍ او د ماښام لمونځ وختي کول (مستحب دي) مګر دوريځي په ورځ فَيُؤَخَّرُفِيْهِ نو په هغه ورځ به ځنډول کيږي.

تشريح: ټوله امامان پر دې متفق دي چي د ماښام لمونځ تر لمر لوېدلو وروسته سمدستي اداء کول پکار دي، همدا مستحب ده، بېله عذره تاخير کول مکروه دي، يعني د اذان او اقامت تر مېنځ دي څه فصل نه کوي ماسوا له سپکي ناستي يا سکوت څخه، خو د وريځي په ورځ څه په تاخير سره کول مستحب دي، د دې لپاره چي له وخت څخه د مخکي اداء کېدلو شبهه پاته نه سي.

د روژې په مياشت کي د ماښام لمونځ څه ځنډول

مسئله: د روژې په مياشت کي که د ماښام لمونځ تر آذان لس، پنځلس دقيقې وروسته اداء کړل سي، نو څه حرج نسته. خو دا خبره ياد ساتل پکار دي چي په کومو ځايو کي چي دا رواج دی چي تر لمر لوېدلو وروسته روژه مات کوي او له فارغېدو څخه وروسته آذان کيږي او تر هغه وروسته سمدستي جماعت درول کيږي، دا غلطه ده. صحيح طريقه دا ده چي آذان پر خپل وخت وسي او بيا روژه مات وسي او لس يا پنځلس دقيقې وروسته د ماښام لمونځ اداء کړل سي.

د ماخوستن د لمانځه مستحب وخت

﴿٢٢٥﴾ وَتَأْخِيْرُ الْعِشَاءِ إِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ او د ماخوستن لمونځ د شپې تر درېيمي حصې پوري ځنډول (مستحب دي) وَ تَعْجِيْلُهُ فِيْ الْغَيْمِ او د وريځي په ورځ يې وختي کول (مستحب دي).

تشريح: د ماخوستن لمونځ په هر موسم کي د شپې تر درېيمي حصې پوري ځنډول مستحب دي، کله چي څه عارض نه وي مثلاً د جماعت کمېدلو بېره نه وي او که دا بېره وي مثلاً د ګرمۍ په موسم کي شپې ډېري کوچنۍ وي او خلک ژر بيديږي، نو په دې صورت کي د ماخوستن لمونځ ژر اداء کول مستحب دي چي په جماعت کي کمي رانه سي، او تر نيمي شپې پوري ځنډول روا دي يعني چي له نيمايي شپې څخه مخکي اداء کړل سي، او تر نيمي شپې وروسته بېله عذره د

ماخوستن لمونځ کول مکروه دي او د بعضو په نېز د شپې تر درېيمې حصې وروسته د ماخوستن لمونځ کول مکروه دي.

او د وريځې په ورځ د ماخوستن لمونځ ژر اداء کول مستحب دي، ځکه په ځنډولو کې يې د جماعت کمېدلو خطره سته چې خلګو ته به د باران او داسې نورو بېره وي.

يادونه: د ماخوستن تر لمانځه وروسته که د ښو او ديني خبرو په هکله بحث او ګپه وکړل سي، نو علماؤ اجازه ورکړې ده، لکه په حديث سره چې ثابت دي چې يو ځل نبي ﷺ د حضرت ابو بکر ؓ سره د ماخوستن تر لمانځه وروسته د مسلمانانو د يو امر په هکله بحث او ګپه وکړه. [ترمذي شريف، باب الرخصة في السمر بعد العشاء، حديث شمېره: ۱۶۹]

د وترو مستحب وخت

﴿۲۲۶﴾ وَتَأْخِيْرُ الْوِتْرِ إِلَى آخِرِ اللَّيْلِ او وتر د شپې تر آخري حصې پوري ځنډول (مستحب دي) لِمَنْ يَّثِقُ بِالْاِنْتِبَاهِ د هغه کس لپاره چې په وېښېدلو باور لري (يعني پر ځان يې پوره اعتماد او باور وي چې د شپې په آخر کې را وېښېدلای سم).

لغات: ﴿يثق﴾ د ضرب د باب مضارع ده: باور کول، بروسه لرل.

تشريح: د وترو لمونځ ځنډول هغه وخت مستحب دي چې څوک پر ځان اعتماد او باور لري چې د شپې په آخر کې به راپورته سم او تهجد به وکړی سم، نو د هغه په حق کې مستحب دا ده چې وتر له تجهد و څخه وروسته د شپې په آخر کې اداء کړي، خو که هغه په خپل وېښېدلو پوره اعتماد او باور نه لري، نو بيا د هغه لپاره تر بيدېدو مخکې وتر اداء کول مستحب دي. (انوار الايضاح)

* * *

فَصْلٌ (فِي الْاَوْقَاتِ الْمَكْرُوهَةِ)

(دا) فصل (د مکروه وختونو په بیان کې) دی

د مکروه وختونو بیان

﴿۲۲۷﴾ ثَلَاثَةُ أَوْقَاتٍ درې وختونه داسې دي لَايَصِحُّ فِيهَا شَيْءٌ مِنَ الْفَرَائِضِ وَالْوَاجِبَاتِ الَّتِيْ چې صحیح نه دي په دوی کې هیڅ شی له فرضو او (یا) له هغه واجبو څخه لَزِمَتْ فِي الذِّمَّةِ قَبْلَ دُخُوْلِهَا کوم چې د دې وختونو تر داخلېدو مخکې (پر انسان) لازم سوي وي عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ إِلٰى أَنْ تَرْتَفِعَ (یو) د لمر راختلو په وخت کې تر دې چې هغه پورته سي وَ عِنْدَ اسْتِوَائِهَا إِلٰى أَنْ تَزُوْلَ او (دویم) د لمر د سیده درېدلو په وخت کې (چې د آسمان پر مینځ ودرېږي) تر دې چې زوال وکړي (د آسمان له مینځ څخه واوړي) وَعِنْدَ اصْفِرَارِهَا إِلٰى أَنْ تَغْرُبَ (۳) او د لمر د ژړېدلو په وخت کې تر دې چې ولوېږي.

لغات: ﴿استواء﴾ د استفعال د باب مصدر دی: سیده کېدل، برابرېدل، ﴿اصفرار﴾ د اِفْعِلَال د باب مصدر دی: ژړېدل (ژړ کېدل).

تشریح: د مستحبو وختونو له بیان څخه وروسته اوس په دې فصل کې مکروه وختونه بیانوي.

مکروه وختونه درې دي: ① د لمر راختلو څخه د لمر تر راپورته کېدو پورې. تر څو چې د لمر پر ټکي د انسان سترګې نه برېښي، یا په بله وینا تر دې چې یوه نېزه راپورته سي (کوم چې اندازاً شل دقیقې وخت کېږي).

② د استواء په وخت کې. یعني کله چې لمر بالکل په رک سر باندې سیده ودرېږي. او د استواء علامت دا دی چې د شیانو سایه ودرېږي او تر دې څه ګړی وروسته چې لمر له رک سر څخه د مغرب و طرف ته کوږ سي. نو اوس مکروه وخت ختمېږي (اندازاً پنځه. لس دقیقې).

③ او کله چې لمر سور غوندې سي او پر هغه سترګې نه برېښي. له هغه وخت څخه تر لمر لوېدو پورې دا هم مکروه وخت دی (اندازاً شل دقیقې).

د دغو دريو وختونو له راتللو څخه مخکي چي کوم لمونځ پر ذمه لازم سوی وي. هغه په دې دريو وختونو کي کول صحيح نه دي، مثلاً د سهار لمونځ کوم چي د مکروه وخت (لمر راختلو) څخه مخکي لازم سي. نو اوس هغه په مکروه وخت کي شروع کول او اداء کول صحيح نه دي، همدارنګه که د طواف دوه رکعته او سجدهٔ تلاوت په داسي وخت کي لازم سي کوم چي مکروه نه وي، نو اوس هغوی په مکروه وخت کي اداء کول صحيح نه دي، که چيري په مکروه وخت کي يې شروع کړي، نو ګردسره شروع کول يې نه صحيح کيږي.

﴿٢٢٨﴾ وَيَصِحُّ أَدَاءُ مَا وَجَبَ فِيْهَا مَعَ الْكَرَاهَةِ او صحيح دي (په دې دريو وختونو کي) اداء کول د هغه عباداتو کوم چي په همدې وختونو کي واجب سي د کراهت سره كَجَنَازَةٍ حَضَرَتْ لکه جنازه چي (په دې وختونو کي) حاضره سي وَسَجْدَةِ آيَةٍ تُلِيَتْ فِيْهَا او (لکه) سجدهٔ د آيت کوم چي په دې وختونو کي تلاوت کړی سي كَمَا صَحَّ عَصْرُ الْيَوْمِ عِنْدَ الْغُرُوْبِ مَعَ الْكَرَاهَةِ لکه څرنګه چي صحيح دي د همدې ورځي د مازيګر لمونځ د لمر لوېدو په وخت کي د کراهت سره.

لغات: فيها: د ضمير مرجع په مخکني عبارت کي "ثلاثة أوقات" دی.

تشريح: فرمايي چي کوم لمونځ او عبادت چي له مخکيني دريو وختونو څخه په يو وخت کي لازم سي. هغه په دې وختونو کي هم اداء کيږي، لېکن په دې وختونو کي د هغه اداء کول مکروه تحريمي دي. مثلاً که په مکروه وخت کي جنازه حاضره سي او په هغه مکروه وخت کي د جنازې لمونځ شروع کړي او اداء کړي، نو لمونځ يې کيږي خو مکروه تحريمي به وي، لېکن په طحطاوي کي يې د بحر او داسي نورو په حواله سره ليکلي دي چي که په دغه وختونو کي جنازه حاضره سي. نو بېله کراهته يې لمونځ جائز بلکي افضل دی او تاخير مکروه دی.

يا مثلاً که څوک په مکروه وخت کي دننه د سجدې آيت تلاوت وکړي او په هماغه وخت کي سجده وکړي. نو اداء کيږي (جائز کيږي)، خو مکروه تحريمي به وي، او په عمدة الفقه يې کي دې ته مکروه تنزيهي ويلي دي او غوره او افضل دا ده چي ورپې ځنډوي تر دې چي د کراهت وخت ولاړ سي.

كما صحّ: په دې سره دا بيانوي چي څرنګه چي د لمر لوېدو پر مهال د هغه ورځي د مازيګر لمونځ اداء کول جائز دي. خو دومره ځنډول يې مکروه تحريمي دي، همداسي د جنازې لمونځ او سجدهٔ

تلاوت کوم چي په مکروه وخت کي لازم سوي وي، هغوی په مکروه وخت کي اداء کول جائز دي، خو مکروه تحريمي دي.

په مکروه وختونو کي د نفلي لمانځه حکم

﴿۲۲۹﴾ وَالْأَوْقَاتُ الثَّلَاثَةُ يُكْرَهُ فِيْهَا النَّافِلَةُ كَرَاهَةَ تَحْرِيْمٍ او په (دغه مذکوره) درېو وختونو کي نفلي لمونځ (هم) مکروهِ تحريمي دی وَلَوْكَانَ لَهَا سَبَبٌ که څه هم د هغه نفلو لپاره يو سبب وي (يعني که څه هم هغه داسي نفلي لمونځ وي چي په يو سبب سره پر ذمه واجب سوی وي) كَالْمَنْذُوْرِ وَرَكْعَتَي الطَّوَافِ لکه نذر کړی سوی (لمونځ) او (لکه) د طواف دوه رکعته.

لغات: لها: د ضمير مرجع نَافِلَةٌ دی.

تشريح: په مکروه وختونو کي که د نفلي لمانځه نيت وتړي، نو دا نفل د هغه پر ذمه واجبېږي. او س غوره دا ده چي په مکروه وخت کي د نفلو نيت مات کړي او وروسته د هغه قضا را وګرځوي. او که په هغه وخت کي لمونځ مات نه کړي، نو ګناهګاره کېږي، خو وروسته يې د قضاء راوړلو ضرورت نسته، همدارنګه هغه نفلونه چي هغوی لره څه سبب وي مثلاً د تحية المسجد او تحية الوضوء نذر کړی سوی لمونځ او د طواف دو رکعتيز لمونځ، دا ټوله هم ممنوع دي.

تر صبح صادق وروسته د نوافلو ممانعت

﴿۲۳۰﴾ وَيُكْرَهُ التَّنَفُّلُ بَعْدَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ بِأَكْثَرَ مِنْ سُنَّتِهٖ او مکروه دي نفل کول له سهار (صبح صادق) راختلو څخه وروسته زيات تر (دوو رکعتو) سنتو وَبَعْدَ صَلٰوتِهٖ او (همدارنګه مکروه دي نفل کول) د سهار تر لمانځه وروسته وَبَعْدَ صَلٰوةِ الْعَصْرِ او د مازيګر تر لمانځه وروسته وَقَبْلَ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ او د ماښام تر لمانځه مخکي.

تشريح: له صبح صادق (سپين چاود) څخه بيا د لمر راختلو تر وخته پوري تحية الوضوء او تحية المسجد يا بل نفلي لمونځ کول جائز نه دي، په دې وخت کي د سهار له دوه رکعته سنت مؤکد څخه بغير بل نفلي لمونځ کول هم مکروه دي، همدارنګه د سهار تر لمانځه وروسته بيا د لمر راختلو تر مخکي وخت پوري نفل کول مکروه دي، هاا تر صبح صادق وروسته قضائي لمونځ کول شرعاً جائز دي، همدارنګه د سهار تر لمانځه وروسته د لمر راختلو څخه مخکي هم قضائي لمونځ کول جائز دي. تر دې وروسته فرمايي چي د مازيګر تر لمانځه وروسته تر لمر لوېدلو پوري هم يو نفلي

لمونځ کول مکروه دي، خو تر څو چې په لمر کي ژړوالی راغلی نه وي، تر هغه وخته پوري د مازیګر تر لمانځه وروسته قضائي لمونځ کول جائز دي. همدارنګه تر لمر لوېدلو وروسته د ماښام تر لمانځه مخکي هم نفلي لمونځ وغیره مکروه تحریمي دي، د دې لپاره چې د ماښام په لمانځه کي تاخیر را نه سي او د جنازې لمونځ او سجدهٔ تلاوت بېله کراهته جائز دي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

فایده: نن سبا د سعودي عربستان حکومت حنبلی المسلکه دی چې هلته د ماښام تر آذان وروسته دوه رکعته نفل کول کیږي او بیا د ماښام لمونځ اداء کول کیږي، په هغه وقفه کي که تحیة الطواف اداء کړل سي، نو حرج نسته. حنفي حاجیان د مازیګر د تر لمانځه وروسته د کړی سوي طواف دوه رکعته عموماً په همدې وخت کي اداء کوي.

د خطبې په وخت کي د لمانځه حکم

﴿ ۲۲۱ ﴾ وَعِنْدَ خُرُوْجِ الْخَطِيْبِ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنَ الصَّلٰوةِ او (مکروه دي نفل کول) د خطیب راوتلو په وخت کي تر دې چې هغه (د جمعې) د لمانځه څخه فارغ سي.

تشریح: کله چې امام د جمعې په ورځ د خطبې لپاره له خپل حجرې څخه را ووځي، یا په مسجد کي ناست وي او د خطبې لپاره له خپل ځای څخه منبر ته ور لاړ سي. له هغه وخت څخه د جمعې د لمانځه تر ختمېدلو پوري ټوله نوافل او واجب لغیره لمنځونه حتیٰ د جمعې سنتونه کول هم مکروه تحریمي دي، خو کوم سنتونه چې د امام له ولاړېدو څخه مخکي شروع کړل سوي وي، هغوی دي پوره کړي، همدا صحیح ده.

همدارنګه د فرضي او واجب لمانځه قضاء، د جنازې لمونځ او سجدهٔ تلاوت هم په دغه وخت کي مکروه تحریمي دي، د هري خطبې همدغه حکم دی، برابره ده د اخترونو خطبه وي او که د حج، نکاح، کسوف یا استسقاء خطبه وي. (شفاء الارواح)

د سهار د سنتونو مسئله

﴿ ۲۲۲ ﴾ وَعِنْدَ الْاِقَامَةِ اِلَّا سُنَّةَ الْفَجْرِ او (مکروه دي) د اقامت په وخت کي مګر د سهار سنت.

تشریح: کله چې فرضي لمونځ شروع سي، نو په دې وخت کي نفل او سنت او د فرضو او واجبو قضاء شروع کول مکروه تحریمي دي، خو د سهار سنت تر اقامت وروسته هم جائز دي. په دې شرط کله چې د پوره جماعت د تېرېدلو (فوتېدلو) ببره نه وي، که چیري دا امید یې وي چې ناسته (قعده) به ونیسم، نو بیا هم د سهار سنت کول جائز دي، لېکن د جماعت له صف څخه به یې لیري کوي، او که چیري دا ببره یې وي چې د سنت کولو په وجه به د جماعت لمونځ را څخه تېر سي چې آخره

ناسته (قعدهٔ اخیره) به هم نه ونیسم، نو دا سنت دي پریږدي او د جماعت په لمانځه کي دي شریک سي. (شفاء الارواح)

د اختر تر لمانځه مخکي نفل کول

﴿۲۴۳﴾ وَقَبْلَ الْعِيْدِ وَلَوْفِي الْمَنْزِلِ او (مکروه دي نفل کول) د اختر تر لمانځه مخکي که څه هم په کور کي وي وَبَعْدَهٗ فِي الْمَسْجِدِ او د اختر تر لمانځه وروسته په مسجد کي.

تشریح: د اختر تر لمانځه مخکي په کور، مسجد یا عیدگاه کي نفل کول مکروه دي. همدارنګه د اختر تر لمانځه وروسته په مسجد او عیدګاه کي نفل کول مکروه دي. خو په کور کي کول مکروه نه دي. (شفاء الارواح)

په عرفات او مزدلفه کي د جمع بین الصلاتین په مینځ کي نفل کول

﴿۲۴۴﴾ وَبَيْنَ الْجَمْعَيْنِ فِيْ عَرَفَةَ وَمُزْدَلِفَةَ او (مکروه دي نفل کول) په عرفات او مزدلفه کي د دوو جمعو تر مینځ (مخکي ذکر سوه چي د نفلو په عامه معنیٰ کي سنت هم راځي).

تشریح: د عرفات په میدان کي د ماپښین او مازیګر د لمنځونو د جمع (جمع تقدیم) په مینځ کي نفل او سنت کول مکروه تحریمي دي، همدارنګه په مزدلفه کي د ماښام او ماخوستن د لمنځونو د جمع (جمع تاخیر) په مینځ کي نفل او سنت کول هم مکروه تحریمي دي.

د وقت د تنګوالي په حالت کي نوافل کول

﴿۲۴۵﴾ وَعِنْدَ ضِيْقِ وَقْتِ الْمَكْتُوْبَةِ او (مکروه دي نفل کول) د فرضي لمانځه د وخت تنګېدلو په وخت کي.

تشریح: یعني کله چي د فرضي لمانځه وخت دومره تنګ وي چي صرف د همدې فرضي لمونځ کولو ګنجائش وي، نو ښکاره خبره ده چي که څوک په دې حالت کي په نفلو او سنتو مشغوله سي، فرض به قضاء سي؛ نو ځکه په داسي وخت کي نفل کول مکروه تحریمي دي، مثلاً د سهار په وخت کي د لمر راختلو وخت نژدې وي او سړي تر اوسه د سهار لمونځ نه وي کړی، نو د هغه لپاره سنت کول مکروه تحریمي دي. (شفاء الارواح)

د قضاء حاجت په وخت کي د لمانځه ممانعت

﴿۲۲۶﴾ وَمُدَافَعَةِ الْأَخْبَثَيْنِ او (مکروه دي) د غټو او کوچنيو بولو د دفع کولو (ډبولو) په وخت کي (يا په بله وينا: د غائطو او متيازو د سختوالي په وخت کي).

لغات: ﴿مدافعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي: ليري کول، دفع کول، مقابله او مزاحمت کول، ټال مټالول (ټال مټول کول) (معجم الوسط)، ﴿أخبثين﴾ تثنيه د أخبثٌ ده، مراد: متيازي او غائط دي.

تشريح: يعني که د متيازو يا غائطو سخته تقاضا او شديد ضرورت وي (نه معمولي ضرورت، ځکه څه نا څه تقاضا خو هر وخت وي)، نو لمونځ کول مکروه تحريمي دي، همدارنګه د باد (ريح) د ډېر ټينګوالي په صورت کي هم لمونځ کول مکروه تحريمي دي، برابره ده لمونځ فرض وي او که نفل وي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

د لوږي په وخت کي د لمانځه ممانعت

﴿۲۲۷﴾ وَحُضُوْرِ طَعَامٍ تَتُوْقُهٗ نَفْسُهٗ او (مکروه دی لمونځ کول) د خوارک حاضرېدلو (موجودېدلو) په وخت کي (کله) چي د ده د نفس خواهش ورته کېږي (شوق يې ورته کېږي).

لغات: ﴿تَتُوْقُه﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب فعل مضارع معروف صيغه ده، تَاقَ يَتُوْقُ تَوْقًا و تَوَقَانًا: شوق لرل (شوق کېدل)، خواهش کول، غوښتنه کول.

تشريح: يعني کله چي سړی وږی وي او ډوډۍ مخته پرته وي، نو په داسي حالت کي لمونځ کول مکروه دي، اول دي ډوډۍ وخوري، بيا دي لمونځ وکړي، په دې شرط چي وخت تنګ نه وي، لېکن که وخت تنګ وي، نو اولاً دي لمونځ وکړي.

﴿۲۲۸﴾ وَمَا يُشْغِلُ الْبَالَ وَيُخِلُّ بِالْخُشُوْعِ او د هر داسي شي (د حاضرېدلو په وخت کي) کوم چي زړه مشغوله کوي او په خشوع کي خلل اچوي (يعني د زړه توجه ته تلوان رسوي او په حضور الهي لو عاجزۍ سره په لمونځ کولو کي خلل او کمي راولي).

لغات: ﴿البال﴾ د دې لفظ څو معناوې نقل سوي دي چې ځینې یې دا دي: حال، شان، نفس، او په زړه کې چې کوم خیال راځي... (معجم الوسیط)، ﴿یُخِلّ﴾ د افعال د باب مضارع ده، د دې باب هم څو معناوې دي چې ځینې یې دا دي: په یو شي کې خلل اچول (خلل پکښې راوستل)، کمي او نقصان پکښې راوستل، ﴿خشوع﴾ د فتح د باب مصدر دی، د دې باب هم څو معناوې دي: ځان ټیټ ښکاره کول (ځان ټیټول)، د عاجزۍ اظهار کول، بېرېدل او داسې نور، په لمانځه کې د خشوع مطلب دا دی چې په لمانځه کې د الله ﷻ مخ ته ځان حاضر ګڼل او د ځان د عاجزۍ او ټیټوالي اظهار کول او په زړه، دماغ ټولو سره د الله وطرف ته پوره متوجه کېدل او خپله توجه د لمانځه په کلماتو او آیتونو لګول (اوسني مسلمانو ساینسپوهانو د دې عمل ډېرې روغتیایي ګټې هم بیان کړي دي).

تشریح: فرمایي چې هر هغه شی چې د لمونځ ګزار زړه او توجّه له لمانځه څخه لیرې کوي او په خشوع کې خلل اچوي، د هغه شي په موجودیت کې هم لمونځ کول مکروه دي، مثلاً سروز او سندرې او داسې نور، یا دې ځای بدل کړي، یا دې هغه شی لیرې کړي، همدارنګه اولاً دې دماغ له هر شي څخه صفا کوي، بیا دې د رب ذو الجلال وطرف ته متوجه کیږي.

* * *

بَابُ الْأَذَانِ

(دا) باب د اذان د احکامو (په بیان کي) دی

تشریح : تر دې مخکي صاحب د کتاب د لمانځه وختونه (مواقیت) بیان کړل، اوس له دې ځایه د اذان احکام بیانوي، اذان یې په دې وجه د لمانځه تر وختونو وروسته بیان کړی چي اذان د لمانځه د سبب (وخت) داخلېدلو اعلان دی (یعني اذان دا خبر تیا ورکوي چي د لمانځه وخت داخل سو، او وخت د لمانځه سبب دی لکه مخکي چي د دې بحث تېر سو)، نو ځکه یې اول وختونه بیان کړل او اوس د اذان احکام بیانوي.

د اذان اصطلاحي او لغوي معنیٰ : اذان په لغت کي اعلان او إعلام (خبر ورکولو) ته ویل کېږي.

او اصطلاحي معنیٰ یې ده : «اَلْإِعْلَامُ بِوَقْتِ الصَّلَاةِ بِأَلْفَاظٍ مَخْصُوْصَةٍ عَلٰى صِفَةٍ مَخْصُوْصَةٍ» (یعني په ځانګړې طریقه سره د ځانګړو الفاظو په ذریعه د لمانځه لپاره اعلان کولو ته اذان وایي).

اذان کله شروع سو؟ : جمهوره محدثین او تاریخپوهان پر دې خبره متفق دي چي د اذان مشروعیت تر هجرت وروسته په مدینه منوره کي سوی دی، لېکن په دې خبره کي اختلاف دی چي د هجرت په کوم کال کي اذان مشروع سو، په دې لړ کي د حافظ ابن حجر عسقلاني رَحِمَهُ الله رایه دا ده چي د اذان د تعلیم واقعه په ۲ هـ کي پېښه سوه، لېکن د علامه عیني رَحِمَهُ الله خیال دا دی چي دا په ۱هـ کي واقع سوه.

د اذان د مشروعیت واقعه : د اذان د مشروعیت قصه دا ده چي کله نبي کریم ﷺ او صحابه وو له مکې شریفي څخه هجرت وکړی مدینې شریفي ته ولاړل، نو په بېلا بېلو ځایو کي یې استوګنه پیل کړه، او په یوه وخت کي د ټولو خبرېدل او مسجد ته د ټولو حاضرېدل ستونزمن وه، نو په دې باره کي نبي کریم ﷺ د مشورې لپاره د صحابه وو یوه غونډه جوړه کړه؛ په غونډه کي بعضي صحابه وو دا رایه ورکړه چي د لمانځه په وخت کي دي یو بیرغ درول کېږي چي هغه ته به په کتلو سره ټوله خلګ په مسجد کي جمع کېږي، لېکن دا رایه خوښه نه کړل سوه، او وجه یې دا بیان سوه چي په دې سره به صرف هغه خلګ مسجد ته حاضرېږي کوم چي بیرغ ویني، او د نه لیدونکو لپاره به ستونزه پر خپل ځای پاته وي.

ځینو صحابه وو دا رایه ورکړه چي د لمانځه په وخت کي دي اُور بلیږي چي هغه ته په کتلو سره به خلګ مسجد ته راځي، لېکن نبي ﷺ دا مشوره د مجوسیانو سره د مشابهت له کبله هم رد کړه. همدارنګه هر کس خپله رایه ورکړه، خو د غونډې تر پایه یوه پرېکړېزه رایه منظوره نه سوه. او ټوله خلګ واپس خپلو کورونو ته ولاړل، هر یو په دې باره کي حیران او سرګردانه وو، او په دې کوښښ کي وو چي ژر تر ژره د دې مسلې یو حل پیدا سي.

حضرت عبد الله بن زید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم په دې غونډه کي ناست وو. او په دې باره کي هغه د نورو په نسبت څه زیات فکرمن وو. څرنګه چي هغه خپل کور ته ولاړی، نو ښځي یې د ماښام ډوډۍ ور ته راوړه، لېکن عبد الله بن زید وویل چي د نبي ﷺ صحابه د لمانځه په اړه په یوه مسئله کي سرګردانه دي، زه ډوډۍ نه سم خوړلای. عبد الله بن زید وایي چي په دغه ګړي ما ته خوب راغلی، په خوب کي مي ولیدل چي له آسمان څخه یو سړی را ښکته سو. چي د هغه پر بدن دوه زرغونه پټوان (څادران) وه، او په لاس کي یې یو ناقوس وو. ما له هغه څخه پوښتنه وکړه چي اې د الله بنده! آیا ته دا ناقوس خرڅوې؟ هغه وویل چي ته به په دې څه وکړې؟ ما وویل: زه به یې رسول الله (ﷺ) ته وروړم، او د دې په ذریعه به د لمانځه د وخت خبرتیا ورکول کیږي. دې سړي وویل: آیا زه تا ته د دې لپاره یوه غوره طریقه نه در وښیم؟ ما ور ته وویل: هو! ضرور یې را وښیه. نو هغه سړي د دېوال پر غاړ ته ودرېدی او د قبلې طرف ته یې مخ کړی او د اذان ټوله کلمې یې ذکر کړې، عبد الله بن زید ؓ فرمایي چي: سهار ما نبي ﷺ ته دا خوب ووایی، نو نبي ﷺ وفرمایل: «إِنَّهُ لَرُؤْيَا حَقٌّ. فَأَلْقِهَا إِلَى بِلَالٍ فَإِنَّهُ أَنْدَى وَأَمَدُّ صَوْتًا مِنْكَ وَمُرْهُ يُنَادِيْ بِهٖ» [ابوداؤد شریف، باب کیف الأذان، حدیث شمېره: ۴۹۹]. (یعني دا یو ریښتونی خوب دی، ته! حضرت بلال ؓ ته دا کلیمې ور وښیه!، او هغه ته ووایه! چي په دې کلمو سره ته اذان کوه!، ځکه د هغه آواز ستا تر آواز غټ دی)، کله چي د حضرت عمر ؓ غوږ ته د حضرت بلال ؓ د غه آواز ورسېدی، نو د نبي ﷺ په خدمت کي حاضر سو. او ویې ویل: اې د الله نبي! په هغه ذات دي مي قسم وي چي ته یې ریښتونی نبي را استولی یې، د شپې دغسي خوب ما هم ولیدی، لېکن عبد الله بن زید ؓ په دې باره کي زما څخه مخکښې وکړی، نو په دې باندي نبي کریم ﷺ د خپل پروردګار شکر ادا کړی، او په دې توګه د لمانځه د خبرتیا ستونزه حل سوه. (بدائع الصنائع ج:۱، ص:۳۶۵)

د اذان اجر او ثواب: په حدیث کي د اذان ډېر فضیلت وارد سوی دی، په یوه روایت کي دي چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: د مؤذن آواز چي تر کومه ځایه پوري رسیږي، هغومره اندازه حصه د مؤذن لپاره د مغفرت او بخښني فیصله کول کیږي او کوم لانده یا وچ شي ته چي د هغه آواز رسیږي، هغه ټوله شیان به د ده لپاره په قیامت کي د خیر ګواهي ورکوي. (ابو داؤد ج:۱، ص:۷۶)

اذان د شیطان لپاره عذاب: د اذان په کلماتو کي الله تعالیٰ داسي تاثیر ایښی دی چي ملعون شیطان د مغوی د اورېدلو تاب نه لري او کله چي اذان شروع کیږي، نو هغه د زیات بد حواسۍ په عالم کي باد خارجوي او تر ۳۶ میلو پوري (تقریبا ۶۶ کیلومتره) لیري ځغلي.

او په یوه روایت کي دي چي کله اذان کیږي، نو شیطان ځغلي چي د اذان کلام د هغه په غوږ کي ونه لوېږي. بیا تر اذان وروسته واپس راځي، تر دې وروسته چي کله اقامت کیږي، بیا ځغلي او

داقامت پر ختمېدلو بیا راځي او لمونځ ګزار ته دوسوسې اچولو کوښښ کوي او وایي چې فلانی خبره یاده کړه!، فلانی خبر یاده کړه! یعنې هیرې سوې خبرې ور په یادوي چې ذهن یې دلمانځه څخه لیرې سي، تر دې چې په وسوسو کې دلوېدلو په وجه دلمونځ ګزار څخه لمونځ هېر سي چې ده څو رکعته لمونځ کړی دی. (بخاري شریف بحوالۂ انوار الایضاح)

څوک به مؤذن جوړول کیږي؟ : په حدیثو سره ثابت دي چې مؤذن داسې کس کېدل پکار دي کوم چې د شرعي مطابق او په امانت، دینداری، تقویٰ او طهارت سره فائز وي، په یوه حدیث کې دي چې امام ضامن دی او مؤذن امین دی، الله تعالیٰ دې امام پر سیده لاره روان کړي او مؤذن ته دې بخښنه وکړي. (سنن بیهقی ج:۱، ص:۶۲۶)

قیس ابن حازم وایي چې موږ د حضرت عمر ﷺ په خدمت کې حاضر سو، نو موږ څخه یې پوښتنه وکړي چې ستاسې سره مؤذنین کوم خلک دي؟، موږ په جواب کې ورته وویل چې زیاتره مؤذنان یا غلامان دي یا آزاد کړل سوي موالي دي، نو حضرت عمر ﷺ افسوس وکړی او ویې فرمایل چې دا خو په تاسو کې لوی نقص دی، اذان خو د شرافت شی دی چې که ما لره د خلافت مصروفیات نه وای، نو ما به د پنځو سره لمنځونو لپاره خپله اذان کولای. (سنن بیهقی ج:۱، ص:۷۲۷)

یادونه : داذان مشروعیت صرف په خوب سره نه دی ثابت؛ ځکه له انبیاؑ څخه بغیر د هیچا خوب هم حجت نه دی، بلکې د اذان او اقامت مشروعیت ابتداءً په تائیدِ نبوي سره سوی دی، بیا قرآن کریم دې توثیق کړی دی ﴿يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ﴾(سورة الجمعة:۹)، (اې مؤمنانو! کله چې د جمعې دلمانځه لپاره اذان وسي، نو تاسې د الله ﷻ د ذکر وطرف ته ولاړ سئ!).

علامه محمد یوسف بنوي رَحِمَهُ الله فرمایي چې دانتها په اعتبار سره د اذان مشروعیت په "وحي متلو" یعنې په قران کریم سره سوی دی. (تحفة الالمعی ج:۱، ص:۵۰۱)

د اذان حکم

﴿۲۲۹﴾ سُنَّ الْأَذَانُ وَالْإِقَامَةُ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً لِلْفَرَائِضِ سنت دي (سنت کړل سوي دي) اذان او اقامت د سنت مؤکده په توګه د فرضي لمنځونو لپاره وَلَوْ مُنْفَرِدًا که څه هم یوازي (لمونځ کونکی) وي أَدَاءً أَوْ قَضَاءً (او برابره ده دا فرضي لمونځ) اداء (په خپل وخت کې) وي او که قضاء وي (یعنې د فرضي لمانځه قضاء راوړي) سَفَرًا أَوْ حَضَرًا سفر وي او که حضر وي (یعنې لمونځ کونکی

مسافر وي او که په خپل وطن کي حاضر او مقیم وي) لِلرِّجَالِ (سنت دي دا دواړه) د سړیو لپاره وَكُرِهَا لِلنِّسَاءِ او مکروه دي دا دواړه (اذان او اقامت) د ښځو لپاره.

تشریح: اذان د پنځو سره فرضي لمنځونو او د جمعې د لمانځه لپاره پر خلکو سنت مؤکده دي او بعضي حضراتو هغه ته واجب ویلي دي، د "فرائض" په قید سره نور لمنځونه ووتل. لهذا د وترو، اخترونو، سنتونو، تراویحو، کسوف او استسقاء او د جنازې د لمانځه او داسې نورو لپاره به اذان او اقامت نه کول کیږي.

ولو منفردًا: یعني فرضي لمونځ کونکی که څه هم یوازي وي، نو هم دي اذان او اقامت کوي.

أداءً وقضاءً: یعني برابره ده لمونځ اداء وي او که قضاء وي، د دواړو لپاره دي اذان او اقامت کوي. لیکن که قضائي لمونځ په داسې ځای کي اداء کوي چي هلته خلک موجود وي لکه مسجد. نو که په جماعت سره قضائي لمونځ اداء کوي، نو اذان او اقامت دي نه کوي او که منفرد وي، نو په دومره آواز سره دي اذان کوي چي دئ یې خپله اوري.

سفرًا وحضرًا: یعني مسافر وي او که مقیم وي، د مسافر لپاره هم اذان او اقامت سنت مؤکده دي. که فقط اقامت وکړي او اذان پرېږدي، نو بلا کراهته جائز دي، غوره دا ده چي دواړه وکړي.

للرجال: یعني اذان صرف د خلکو لپاره سنت دي، د ښځو لپاره اذان او اقامت دواړه مکروه دي، برابره ده یوازي لمونځ کوي او که په جماعت سره؛ ځکه د ښځي د آواز پرده هم ضروري ده. لهذا نه دي اقامت کوي او نه دي اذان کوي (که څه هم مدرسة البنات وي). (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

په کور کي د جماعت کولو پر مهال د اذان او اقامت حکم

مسئله (۱): که د کلي او محلې په مسجد کي اذان سوی وي او یو څوک په خپل کور کي یوازي یا په جماعت سره لمونځ کول غواړي، نو د هغه لپاره د کلي اذان کافي دی. ځانته د اذان کولو ضرورت نسته. لیکن که قضائي لمونځ راګرځوي، نو د اذان او اقامت دواړو پرېښوول مکروه دي. کم از کم په اقامت سره قضائي لمونځ اداء کول پکار دي. (در مختار ج۲، ص۶۶، کتاب المسائل ص: ۲۴۰)

په مسجد کي د منفرد د اذان حکم

مسئله (۲): که په مسجد کي اذان سوی وي، نو د منفرد لپاره په مسجد کي دننه اذان او اقامت کول مکروه دي. (در مختار ص۵۸)

د اذان د کلماتو تفصيل

﴿۲۵۰﴾ وَيُكَبِّرُ فِيْ أَوَّلِهٖ أَرْبَعًا او تکبير (الله اکبر) دي وايي د اذان په شروع کي څلور واره وَ يُثَنِّيْ تكبير آخِرِهٖ كَبَاقِيْ أَلْفَاظِهٖ او دوه واره دي يې وايي د اذان د آخر تکبير د اذان د نورو الفاظو په څېر (يعني لکه څنګه چي د اذان نور الفاظ دوه. دوه واره ويل کيږي).

تشريح: د اذان د کلماتو تفصيل داسي دی چي اول دي څلور واره "الله أكبر" وايي او په آخر کي دي دوه وار "الله أكبر" وايي، نور ټوله کلمات دي دوه، دوه واره ووايي او "لا إلٰهَ إلّا الله" دي صرف يو وار وايي.

د ترجيع حکم

﴿۲۵۱﴾ ولَاتَرْجِيْعَ فِي الشَّهَادَتَيْنِ او (د اذان) په شهادتينو کي ترجيع نشته.

تشريح: مسئله دا ده چي په اذان کي ترجيع نشته، د ترجيع مطلب دا دی چي اذان کوونکی شهادتين يعني أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا الله او أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله اول دوه واره په کرار آواز سره ووايي او بيا يې وروسته دوه واره په لوړ آواز سره ووايي، امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله ترجيع ته سنت وايي، خو د امام صاحب، امام احمد او امام ابو يوسف رَحِمَهُمُ الله په نيز ترجيع سنت نه ده.

يادونه: اوس په عملي توګه دا مسئله پاته نه ده؛ ځکه اوس په ټوله دنيا کي د مالکيانو او شوافعو ترجيع ختمه کړې ده، لهذا دغه اختلاف اوس لاحاصله دی. (تحفة الالمعی ج:۱. ص:۵۰۵)

د اقامت کلمات

﴿۲۵۲﴾ وَالْإِقَامَةُ مِثْلُهٗ او اقامت د اذان په څېر دی (ها! خو تر "حيّ على الفلاح" وروسته به دوه واره "قد قامت الصلوة" وايي).

تشريح: د احنافو په نيز اقامت هم د اذان په څېر دی چي کوم کلمات په اذان کي ويل کيږي، هغه په اقامت کي هم ويل کيږي، خو په اقامت کي به تر "حيّ على الفلاح" وروسته دوه واره "قد قامت الصلاة" هم زياتول کيږي.

د "اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ" بیان او ثبوت

﴿۲۵۳﴾ وَيَزِيْدُ بَعْدَ فَلَاحِ الْفَجْرِ "اَلصَّلوٰةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ" مَرَّتَيْنِ او زیاتوي دې د سهار (داذان) تر "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ" وروسته دوه واره "اَلصَّلوٰةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ".

تشریح: فرمایي چې اذان کونکی به د سهار په اذان کې تر "حيّ على الفلاح" وروسته دوه واره "الصلوٰة خيرٌ من النّوم" زیاتوي، او دا زیاتونه مستحب ده؛ دلیل یې دا دی چې یوه ورځ حضرت بلال ﷛ د سهار د لمانځه لپاره اذان وکړی، بیا د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حجرې دروازې ته ورغلی ویې ویل: "الصلوٰة یا رسول الله (ﷺ)"، حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمایل چې: "الرسول نائم (رسول الله ﷺ بیده دی)"، نو بلال ﷛ وویل: "الصلوٰة خيرٌ من النوم". کله چې نبي ﷺ راویښ سو، نو حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ونبي کریم ﷺ ته دا قصه وکړه، د نبي کریم ﷺ دا کلمات خوښ سوه او ویې فرمایل: "مَا أَحْسَنَ هٰذَا يَا بِلَالُ! اِجْعَلْهُ فِي أَذَانِكَ" (اې بلاله! دا څه ښه کلمات دي، دا په خپل اذان کې داخل کړه!)، نو تر دې واقعې وروسته حضرت بلال ﷛ به دا کلمات په ذان کې ویله، پاته سوه دا خبره چې دا زیاتونه د سهار د اذان سره ولې خاص ده؟، نو جواب یې ښکاره دی چې دا وخت د خوب او غفلت دی، نو ځکه دا زیاتونه د سهار د اذان سره خاص سوه.

❀ ❀ ❀

که "الصلاة خير من النوم" پاته سي نو څه حکم دی؟

مسئله: که د سهار په اذان کې له مؤذن څخه "الصّلاة خير من النوم" پاته سي، خو سمدستي د اذان تر ختمېدلو مخکې ور په یاد هم سي، نو دا کلمات ویل پکار دي او بیا دي وروستني کلمات راوګرځوي، لېکن که د اذان تر ختمېدلو وروسته په یاد ورسي، نو اوس خو اذان پوره سوی دی، لهذا د راګرځولو یا د مذکوره کلماتو د ویلو ضرورت نسته. (احسن الفتاویٰ ج۲، ص: ۲۸۶، کتاب المسائل ص ۲۴۲)

﴿۲۵۴﴾ وَبَعْدَ فَلَاحِ الْاِقَامَةِ "قَدْ قَامَتِ الصَّلوٰةُ" مَرَّتَيْنِ او (زیاتوي دې) د اقامت تر "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ" وروسته دوه واره "قَدْ قَامَتِ الصَّلوٰةُ".

تشریح: مخکې یې وضاحت وسو.

د اذان او اقامت سنت طريقه

﴿۲۵۵﴾ ويَتَمَهَّلُ فِي الْأَذَانِ او كراري (كرارتيا) دي كوي په اذان كي (يعني د اذان كلمات دي په كراره. كراره وايي) وَيُسْرِعُ فِي الْإِقَامَةِ او تېزي دي كوي په اقامت كي.

لغات: ﴿يتمهّل﴾ د تفعّل د باب مضارع ده. د دې باب څو معناوي دي: نرمي كول. كار په اطمينان سره كول او په هغه كي تېزي نه كول. توقف كول. په كراره. كراره كول. ﴿يسرع﴾ د افعال د باب مضارع ده: تېزي كول.

تشريح: د اذان كلمات اوږدول او تر هري كلمې وروسته دومره ګړی درېدل كي چي د اذان جواب وركونكي جواب وركړی سي، او په اقامت كي هر كلمه په تېزي سره ويل او پر هغه ساه نه بندول سنت دي، د اذان هره كلمه په يوه ساه سره اداء كول او د هري كلمې په آخر كي جزم كول سنت دي.

د اقامت سنت طريقه: د اقامت سنت طريقه دا ده چي اولاً دي په يوه ساه څلور واره "الله اكبر" وويل سي او د هر "الله اكبر" پر "راء" دي سكون وكړي او كه ګډ يې وايي، نو پر "راء" دي دزوَر حركت ښكاره كړي، په "راء" باندي پېښ ويل به د سنت خلاف وي، تر دې وروسته دي په يوه ساه "أشهد أن لا إلـه إلا الله، أشهد أن لا إلـه إلا الله" ووايي او د "الله" پر "ه" دي سكون وكړي، تر دې وروسته دي په يوه ساه "أشهد أن محمداً رسول الله أشهد أن محمداً رسول الله" ووايي، او پر هره آخره كلمه دي سكون كوي، اعراب دي نه باندي ښكاره كوي، همدارنګه په يوه. يوه ساه دي "حي على الصلاة" او "حي على الفلاح" ووايي، تر دې وروسته دي "قد قامت الصلاة" په جلا ساه سره ووايي، بيا دي "الله أكبر، الله أكبر" په يوه سا سره ووايي او بيا دي "لا إلـهَ إلّا الله" په يوه ساه سره ووايي. (اعلاء السنن: ۲، ص؛۵۸. كتاب المسائل ص: ۲۲۷. شامي ج: ۲، ص: ۴۷، ۴۸)

❀ ❀ ❀

د اذان يا اقامت يوه كلمه پاتېدل

مسئله: كه په اذان او اقامت كي يوه كلمه پاته سي، نو كه تر اذان او اقامت وروسته سمدستي ور په ياده سي، نو كومه كلمه چي پاته سوې وي، هغه دي را وګرځوي او كه څه ګړی وروسته ور په ياده سي، نو له شروع څخه دي يې را ګرځوي. (احسن الفتاوىٰ ج،۲، ص: ۲۸۵، درمختار ج: ۲، ص: ۴۹، ۵۱. كتاب المسائل ص: ۲۲۲)

مسئله: په اذان کي "محمدَ رّسول" الله یعنی په فتحه سره د دال. او په کلمه شریفه کي محمدُ رّسول الله یعنی په ضمه سره د دال ویل پکار دي، ځکه په اذان کي محمد اسم د "أنّ" دی کوم چی عامل ناصبه دی، او په کلمه شریفه کي محمد مبتداء ده. که د دې برعکس وکړي یعني په اذان کي یې په ضمه سره د دال او په کلمه شریفه کی یې په فتحه سره د دال ووایي، نو د عربي قواعدو خلاف کار دی (فتاوی محمودیه. ج ۵. ص ۲۰۸)

مسئله: د "قد قامت الصلوة" آخری "ة" دوقف او سکتې په حالت کي "ه" (هاء) ګرځي. نو ځکه حرکت به نه ورکول کیږي، خو که یو څوک وقف نه باندي کوي. نو په اصل کي اعراب ضمه ده؛ ځکه "الصّلوٰة" د "قد قامت" فاعل دی، کسره یا فتحه ورکول غلطه ده او له غلطیو څخه اجتناب کول پکار دی. (فتاوی محمودیه. ج. ۵ص ۴۶۸)

له عربي څخه بغیر په بله ژبه اذان او تکبیـــر ویل

﴿۲۵٦﴾ وَلَا يُجْزِئُ بِالْفَارِسِيَّةِ او نه کافي کیږي (نه جائز کیږي) په فارسي سره اذان کول وَإِنْ عُلِمَ أَنَّهُ أَذَانٌ که څه هم معلومه سي چي دا اذان دی فِي الْأَظْهَرِ د ظاهر روایت مطابق (نه جائز کیږي).

لغات: ﴿لا يجزي﴾ د افعال له بابه د نفي صیغه ده، أَجْزَأَ يُجْزِئُ: د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه دا ده: کافي کېدل (کفایت کول). (معجم الوسیط)

تشریح: له عربي ژبي څخه بغیر په بله ژبه مثلاً په فارسي وغیره اذان کول جائز نه دي، که څه هم اورېدونکي کسان پوهیږي چي دا اذان کیږي؛ ځکه د اذان مشروعیت په عربي الفاظو سره ثابت دی. همدا حکم د تکبیـــر هم دی؛ ځکه دا دواړه له شعائرو څخه دي. او شعائر پر خپل حال پرېښوول کیږي. (مراقی الفلاح ص: ۱۰۶)

د اذان مستحبات

﴿۲۵۷﴾ وَيَسْتَحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ الْمُؤَذِّنُ صَالِحًا او مستحب دي دا چي مؤذن به نېک کړ وي عَالِمًا بِالسُّنَّةِ وَأَوْقَاتِ الصَّلٰوةِ (او) خبر به وي (د اذان) په سنتو او د لمانځه په وختونو (یعني د اذان چي کوم سنتونه دي او د اذان چي کوم پنځه وختونه دي. هغوی به پېژني. د دې لپاره چي د سنت مطابق او پر خپل وخت اذان وکړی سي).

تشريح : له دې ځايه د اذان مستحبات بيانوي كوم چې د مؤذن سره متعلق دي، فرمايي چې مؤذن به نيک صالح انسان وي، له صالح شخصه مراد دا دي چې د حقوق الله او حقوق العباد ټولو ادا، كونكى به وي، لېكن څرنګه چې په اوس دور كي عموماً داسې كسان مشكل دي، نو ځكه بعضو د دې تشريح په متقي سره كړې ده او له متقي شخصه مراد دا دي چې د هغه ظاهر نيک وي، لهذا د فاسق اذان مكروه دی. همدارنګه مؤذن به د اذان او اقامت سنت طريقې او ضروري مسائل او د لمانځه وختونه پېژني، نو همداسې مؤذن د ثواب مستحق كيږي، لهذا كه جاهل (ناخبره) كس اذان وكړي يعني كوم چې د اذان او اقامت په سنت طريقه او د لمانځه په اوقاتو خبر نه وي، نو د مؤذن لپاره چې كوم فضيلت او ثواب نقل سوی دی، هغه ده ته نه حاصلېږي. (شفاء الارواح)

﴿۲۵۸﴾ وَعَلٰى وُضُوْءٍ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ او (مستحب دي دا چې) په اودسه به وي (مؤذن) مخ پر قبله به وي إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ رَاكِبًا مګر دا چې هغه سپور وي.

تشريح : او مستحب دا ده چې اذان په اودسه وكړی سي، لېكن كه مؤذن بې اودسه اذان وكړي، نو بېله كراهته جائز دي، خو داسې عادت جوړول بد دي، همدارنګه مستحب ده چې اذان به مخ پر قبله په ولاړه وكړی سي، كه مؤذن د قبلې و طرف ته مخ نه كړي، نو مكروه تنزيهي به وي او راګرځول يې مستحب دي، خو د سفر په حالت كي كله چې سپور وي، استقبالِ قبله (مخ پر قبله كېدل) ضروري نه دي. (شفاء الارواح)

په غوږو كي د ګوتو نيولو حكم

﴿۲۵۹﴾ وَأَنْ يَّجْعَلَ إِصْبَعَيْهِ فِيْ أُذُنَيْهِ او (مستحب دي) دا چې ونيسي مؤذن خپل دوې ګوتې په خپلو غوږو كي.

تشريح : د اذان كولو په وخت كي د مؤذن لپاره بل مستحب كار دا دی چې خپل دواړه د شهادت ګوتې د غوږو په سوريو دننه كړي، د دې لپاره چې آواز يې لوړ سي، او بل د دې لپاره چې كوڼ كس او لېرې كس كوم چې آواز نه سي اورېدلای، هغه په دې فعل سره پوه سي چې اذان كيږي. په اقامت كي دا نسته؛ ځكه په اقامت كي د آواز لوړول نسته. نو ځكه په اقامت كي دې دواړه لاسونه ايله ساتي. (شفاء الارواح)

﴿۲٦۰﴾ وَأَنْ يُّحَوِّلَ وَجْهَهٗ يَمِيْنًا بِالصَّلٰوةِ او (مستحب دي) دا چې واړوي خپل مخ راسته طرف ته په "حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةْ" كي وَيَسَارًا بِالْفَلَاحِ او چپه طرف ته په "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ" كي.

تشریح: په اذان کي د "حي علی الصلاة" ویلو پر مهال راسته طرف ته مخ څه ګرځول او د "حي الفلاح" ویلو پر مهال چپه طرف ته مخ څه ګرځول سنت دي، همدارنګه په اقامت کي هم ګرځول پکار دي(حلبي کبیر ص: ۳۷۴)، او صحیح قول دا دی چي په اقامت کي تحویل سنت نه دی، خو په کولو کي يې څه حرج نسته. (شفاء الارواح)

یادونه: مخ به داسي ګرځوي چي سینه او قدمونه يې له قبلې څخه نه وګرځي، بلکي هغوی پر خپل ځای پاته وي. او مخ په هر صورت کي ګرځول پکار دي، برابره ده یوازي د خپل ځان لپاره اذان کوي او برابره د لماتځه لپاره، یا د یو بل مقصد لپاره اذان کوي، مثلاً د کوچني په غوږ کي چي کوم اذان کیږي. نو په هغه کي هم د دې دواړو کلمو په وخت کي مخ راسته او چپه طرف ته څه ګرځول پکار دي. (طحطاوي)

﴿۲٦۱﴾ وَيَسْتَدِيْرُ فِيْ صَوْمَعَتِهٖ او ګرځي به مؤذن په خپله مناره (د اذان کولو په ځای) کي.

لغات: ﴿یستدیر﴾ د استفعال د باب مضارع ده اِسْتِدَارًا: ګرځېدل، ﴿صومعة﴾ کوچنۍ حجره(خونه)، په بحر الرائق کي راغلي دي چي صومعه "منارې" ته ویل کیږي. او دلته له دې څخه مراد هغه لوړ ځای "یا په بله وینا د مؤذن مناره" ده کوم چي به خاص د اذان لپاره جوړېده چي په هغه کي به د قبلې په خوا کي راسته او چپه طرف دریڅې (کړکیاني) وې، د دې لپاره چي د اذان آواز تر لیري پوري ولاړ سي.

تشریح: مسئله دا ده چي که د اذان کولو ځای یعني صومعه پراخه وي چي که پر خپل ځای مؤذن ولاړ وي او صرف مخ ګرځوي، نو شا وخوا خلکو او کورونو ته پوره آواز نه رسیږي، نو په داسي صورت کي دي په صومعه کي ګرځي یعني د "حيّ علی الصّلاة" د ویلو پر مهال دي اول له راسته دریڅې څخه سر راباسي، دوه واره دي "حيّ علی الصلاة" وایي او بیا دي له چپه دریڅې څخه سر راباسي، دوه واره دي "حيّ علی الفلاح" وایي. (دریڅه یعني هغه کړکۍ چي په صومعه کي نصب وي)، بیا دي خپل ځای ته راځي او پاته کلمات دي وایي. او که پر خپل ځای په درېدلو سره صرف راسته او چپه طرف ته په مخ ګرځولو سره هم پوره آواز رسیږي چي خلک په خبرېږي. نو بیا دي له خپل ځای څخه قدم نه لیري کوي. (شفاء الارواح بحوالهٔ حاشیه)

یادونه: ښکاره خبره ده چي دا ټوله تفصیل هغه وخت وو کله چي اذان په مایک او اسپیکر کي نه کېدی او نه د هر چا سره د ساعت او ګړۍ سهولت وو، او د اذان لپاره به خپل لوړ ځای جوړ وو، خو څرنګه چي اوس د مایک او اسپیکر د لارې د اعلام مقصد پوره حاصلیږي، نو ځکه د سنت اداء کېدو په نیت سره دي صرف مخ راسته او چپه طرف ته ګرځوي.

د اذان او اقامت تر منځ د فصل کولو بيان

﴿۲۶۲﴾ وَيَفْصِلُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ بِقَدْرِ مَا او فصل (وقفه) دي کوي د اذان او اقامت تر منځ دومره اندازه وخت يَحْضُرُ الْمُلَازِمُوْنَ لِلصَّلٰوةِ چي (په هغومره وخت کي) حاضر بېدلای سي د لمانځه پابنده خلک مَعَ مُرَاعَاةِ الْوَقْتِ الْمُسْتَحَبِّ سره د رعايت کولو (خيال ساتلو) د مستحب وخت (يعني دومره فصل او انتظار دي نه کوي چي د لمانځه مستحب وخت ووځي).

تشريح: مسئله دا ده چي د ماښام د لمانځه څخه بغير په نورو لمنځونو کي دي د اذان او اقامت تر منځ دومره فصل او وقفه کول کيږي چي د جماعت پابنده (التزام کونکي) کسان له طهارت څخه فارغه سي، يا که له مخکي څخه يې دوهي شروع کړې وي، نو چي له هغه څخه فارغه سي او طهارت وکړی سي او د لمانځه لپاره مسجد ته حاضر سي؛ ځکه د اذان او اقامت تر منځ فصل نه کول مکروه دي، وجه يې دا ده چي په اذان سره مقصود وخلکو ته د وخت داخلېدلو خبر ورکول دي چي هغوی لمانځه ته تياري وکړلی سي، او دا مقصود په وصل کولو سره فوتيږي، نو ځکه فصل دي کوي، او دومره فصل دي نه کوي چي د لمانځه مستحب وخت ووځي.

﴿۲۶۳﴾ وَفِي الْمَغْرِبِ بِسَكْتَةٍ او (فصل دي کوي) په ماښام کي (د اذان او اقامت تر منځ) په دومره وقفه سره قَدْرَ قِرَاءَةِ ثَلَاثِ آيَاتٍ قِصَارٍ أَوْ ثَلٰثِ خُطُوَاتٍ کوم چي په اندازه د دريو کوچنی آيتونو يا د دريو ګامونو وي (يعني چي په هغومره وقفه کي دري کوچني آيتونه ويل کېدلای سي، يا مثلاً دري ګامه تګ پکښې کېدلای سي).

﴿سَكْتَةٌ﴾ اسم مرة دی له سکوت څخه؛ يو وار چوپېدل، وقفه او ځنډ کول، تم کېدل، او داسي نور.

تشريح: د ماښام د اذان او إقامت تر منځ دومره فصل او وقفه کول پکار دي چي په هغه کي دري کوچني آيتونه يا يو اوږد آيت ويل کېدلای سي، يا دري ګامه تګ پکښې کېدلای سي، يا په بله وينا دومره وقفه چي مؤذن له اذان څخه فارغه سي او صف ته را ورسيږي او د اذان دعاء هم پوره سي.

يادونه: خو د روژې په مياشت (رمضان) کي د روژه مات لپاره که د ماښام د اذان او جماعت تر منځ لس، پنځلس دقيقې فصل وکړی سي، نو په دې کي څه حرج نسته.

د تثویب تعریف او حکم

﴿۲۶۴﴾ وَيُثَوِّبُ او مؤذن دي (تر اذان وروسته) تثويب كوي كَقَوْلِهٖ بَعْدَ الْأَذَانِ "اَلصَّلٰوةُ اَلصَّلٰوةُ يَا مُصَلِّيْنَ" لكه تر اذان وروسته د مؤذن دا وينا (يعني چي داسي ږغ وكړي): "لمونځ، لمونځ (يا په بله وينا: لمونځ درېږي) اې لمونځ كوونكو!".

لغات: ﴿تَثْوِيْب﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: راګرځېدل، راګرځول، دويم ځل كول (بيا كول).

﴿الصلاة، الصلاة﴾ پر دې فتحه او ضمه دواړه ويل كېدلای سي، د فتحې ويلو په صورت كي به مفعول به وي د "صَلُّوْا" محذوف، او د ضمې ويلو په صورت كي به مبتدا وي او خبر به يې محذوف وي "قَائِمَةٌ" يا "جَامِعَةٌ"، اصل عبارت به داسي وي "الصلاةُ قائمةٌ يا جامعةٌ".

تشريح: د "تثويب" لغوي معنیٰ ده: رجوع كول، راګرځېدل (واپس كېدل)، ثواب ته په همدې وجه ثواب ويل كېږي چي هغه د خپل نېک عمل په عوض كي د بنده وطرف ته راګرځي، او د "تثويب" اصطلاحي معنیٰ ده: "العود إلى الإعلام بعد الإعلام" (تر يوه ځل اطلاع وركولو وروسته دويم ځل (بيا) اطلاع وركول)، يا په بله وينا يو كار دوه واره كول. او د تثويب دوه صورتونه دي: ① د سهار په اذان كي تر "حي على الفلاح" وروسته "الصّلاة خيرٌ من النّوم" دوه واره ويل. ② دويم دا چي تر اذان وروسته او د لمانځه شخه لس يا پنځه دقيقې مخكي "حيّ على الصلاة" يا "الصّلاة، الصّلاة" ويل (يعني چي تر اذان څه وخت وروسته مؤذن د لمونځ د خبر وركولو بيا يو څو الفاظ ووايي)، يا په خپله ژبه مثلاً داسي ويل چي "لمونځ درېږي، لمونځ درېږي"، د دې تثويب لپاره مخصوص الفاظ نسته او نه په عربي ژبه ويل ضرور دي، بلكي هر داسي خبره چي د هغه ځای خلک په پوه سي چي لمونځ درېږي هغه تثويب دی، مثلاً "قَامتْ، قَامتْ" ويل دا هم تثويب دی، او كه ووايي چي "لمونځ درېږي" يا "جماعت درېږي" يا "جماعت تيار دی" دا هم صحيح دي، او كه صرف په ټوخي سره خلک پوهېږي، نو دا هم تثويب دی، او دغه دويم صورت د تثويب په خير القرون كي نه وو، بلكي تر هغه څه وخت وروسته چي د خلكو په حالاتو كي تغيّر پيدا سو او په معاشره (ټولنه) كي غفلت راغلی چي د سهار د لمانځه څخه بغير په نورو لمونځونو كي د ورتلو په حالت كي هم سستي او ناراستي كېدله، نو نورو وروستنيو (متأخرينو) علماوو په ټولو لمونځونو كي تثويب ښه وګڼی او د خلكو د آسانتيا لپاره يې دا حكم جاري كړی چي د تثويب لپاره څه خاص الفاظ نسته بلكي د هري سيمي والا دي پر

خپل عرف عمل کوي. او په کومو الفاظو سره چي د تثويب معنیٰ حاصليږي. هغه الفاظ دي اختياروي او له هغه څخه دي د تثويب کار اخلي.

خو زموږ اکابرينو پر دې جزئيه فتویٰ نه ده ورکړې؛ ځکه تثويب خپله د خلکو دستي لامل ګرځي؛ ځکه کله چي يو وار تثويب شروع کړی سي، نو په کراره، کراره خلک بيا بل تثويب ته محتاجه کيږي، نو ځکه غوره طريقه همدا ده چي تر اذان وروسته د ضرورت په انداز فصل او وقفه وکړل سي او بيا لمونځ شروع کړل سي، د دې لپاره چي د اذان په اوريدلو سره سمدستي خلک د لمانځه په تيارۍ مشغوله سي (او دويم اعلان يعني تثويب ته انتظار نه سي) او تثويب ته ضرورت پاته نه سي. (تحفة الالمعی ج:۱، ص:۵۱۴ بحوالهٔ انوار الايضاح)

په اذان کي د لحن بيان

﴿۲۶۵﴾ وَيُكْرَهُ التَّلْحِيْنُ او مکروه دی (په اذان کي) تلحين (يعني د غزلو او سندريز وزمونو په څېر اذان کول).

لغات: ﴿التلحين﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: د تلحين څو معناوي نقل سوي دي: ① په ترنم او خوش آوازۍ سره ويل، ② د موسيقي او سندريز وزم او طرز مطابق حروف اداء کول، ③ د غزلو او سندرو غوندي آواز کول په دې توګه چي حروف يې بدل سي، مقصوره حروف ممدوده کړل سي او ممدوده حروف مقصوره کړل سي، ④ چونېدل، ⑤ د لحن او غلطۍ وطرف ته منسوبول. (معجم لغة الفقهاء، مصباح اللغات)

تشريح: د تلحين مطلب دلته دا دی چي په داسي وزم او طرز سره اذان کول چي په هغه سره د اذان په کلماتو کي تغيّر راسي يعني د حروفو په اداء او په حرکاتو، سکناتو او مدّ وغيره کي کمي وزياتوب راسي، مثلاً د آواز ښکلي کولو په غرض د "الله اکبر" همزه کش کړي "آ کبر" يا "اکبار" يې ووايي او داسي نور. لکه څرنګه چي د غزلو او موسيقۍ والا سندرغاړی په آواز کي د ښکلا پيدا کولو لپاره په حروفو کي کمي و زياتوب او څه په ټيټ آواز او څه په لوړ آواز سره کلمات وايي (يا په بله وينا اذان د غزلو په طرز باندي ويل)، نو دا طريقه په اذان کي اختيارول مکروه دي (او که په کلماتو کي پوره تغيّر راسي لکه د "اکبر" پر ځای "اکبار" او داسي نور، دا بيا حرام دي)، خو په داسي خوش آوازۍ سره اذان کول چي په هغه کي د کلماتو تغيّر نه وي، ډير ښه او احسن دي، ځکه په دې سره ښه اثر پيدا کيږي او ځيني وخت داسي هم کيږي چي مؤذن په ښه طريقه سره اذان کوي او لهجه او آواز يې داسي زړه راکښونکی وي چي د هغه په وجه خلک مسجد ته را شروع سي، له تاريخ څخه څرګنديږي چي ډيرو کافرانو صرف د اذان په اوريدلو سره اسلام قبول کړی دی، ځکه هغو ته معلومه سي چي په کوم اذان کي چي

دومره ښکلا او ښېګڼه ده چې صرف د هغه په آواز سره موږ بې اختیاره کېږو، نو دا اذان چې په کوم مذهب کې دی، په هغه مذهب کې به څومره ښکلا او ښېګڼه وي، نو په دې توګه همدا اذان د ډېرو لپاره د اسلام قبلولو ذریعه ګرځېدلې ده.

د بې اودسه کس د اذان او اقامت حکم

﴿٢٦٦﴾ وَإِقَامَةُ الْمُحْدِثِ وَأَذَانُهُ او (مکروه دی) د بې اودسه کس اقامت او د هغه اذان.

تشریح: د بې اودسه کس د اذان په باره کې دوه روایتونه نقل سوي دي: د یوه روایت مطابق د بې اودسه اذان مکروه نه دی، دا ظاهر روایت دی او همدا صحیح دی. او د بل روایت مطابق مکروه دی. او پاته سو د بې اودسه کس اقامت مکروه دی. (شفاء الارواح)

د جنب د اذان حکم

﴿٢٦٧﴾ وَأَذَانُ الْجُنُبِ او (مکروه دی) اذان د جنب.

لغات: ﴿صَبِيٌّ﴾ کوچنی، کوم چې د هلکوالي حد ته رسېدلی نه وي، جمع: صِبیان.

تشریح: که د جنابت په حالت کې څوک اذان وکړي، نو مکروه تحریمي دي او د داسې اذان راګرځول مستحب دي او په دې حالت کې اقامت کول په درجه اولیٰ مکروه تحریمي دي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص:١٠٨)

د نا پوهه کوچني د اذان حکم

﴿٢٦٨﴾ وَصَبِيٍّ لَا يَعْقِلُ او (مکروه دی اذان) د داسې بچي کوم چې نه پوهېږي (عقل او پوهه نه لري).

تشریح: کوم کوچنی که په څه نه پوهېږي، د هغه اذان مکروه دی، بلکې صحیح کېږي نه، نو ځکه د هغه راګرځول پکار دي، او که کوچنی پوهېږي، نو بېله کراهته د هغه اذان صحیح دی.

د لېوني او نشه کس د اذان حکم

﴿٢٦٩﴾ وَمَجْنُونٍ وَسَكْرَانٍ او (مکروه دی اذان) د لېوني او نشه کس.

تشریح: د لېوني اذان په دې وجه مکروه دی چې هغه (په اذان سره) د کوم شي و طرف ته بلنه ورکوي یعني لمونځ، په هغه خپله نه پوهېږي. همدارنګه د نشې په حالت کې اذان کول هم مکروه دي. او که هغه کسان اذان وکړي، نو مستحب دا ده چې را وګرځول شي.

د ښځي د اذان حکم

﴿۲۷۰﴾ وَامْـرَأَةٍ او (مکروه دی اذان) د ښځي.

تشريح: د ښځي اذان مکروه دی، لکه څرنګه چي د ﴿۲۴۹﴾ نمبر مسئلې په آخر کي هم ذکر سوه، چي د ښځي د آواز هم پرده ضروري ده.

د فاسق د اذان حکم

﴿۲۷۱﴾ وَفَاسِقٍ او د فاسق.

تشريح: فاسق د ګناه کبيره کونکي ته وايي، مثلاً څوک چي ږيره خربي، يا ږيره کوناړی کوي، هغه فاسق دی او اذان او اقامت يې مکروه دي، خو د راګرځولو ضرورت يې نسته. (عالمګيري ج:۱. ص:۵۴)

په ناستي د اذان کولو حکم

﴿۲۷۲﴾ وَقَاعِدٍ او د ناست کس (اذان هم مکروه دی).

تشريح: په ناستي اذان کول مکروه دي او د هغه راګرځول مستحب دي، خو که منفرد د خپل لمانځه لپاره اذان کوي، نو په ناسته اذان کولو کي هم څه حرج نسته. (طحطاوي ص:۱۰۸)

د اذان او اقامت په مينځ کي خبري کول

﴿۲۷۳﴾ وَالْكَلَامُ فِي خِلَالِ الْأَذَانِ وَفِي الْإِقَامَةِ او (مکروه دي) خبري کول د اذان او اقامت په دوران کي وَيَسْتَحِبُّ إِعَادَتُهُ دُوْنَ الْإِقَامَةِ او مستحب دي د اذان راګرځول، نه د اقامت.

تشريح: د اذان او اقامت په دوران کي خبري کول مکروه دي او د اذان راګرځول مستحب دي، نه د اقامت، همدارنګه د اذان او اقامت په دوران کي د سلام جواب ورکول هم مکروه دي. (انوار الايضاح)

د جمعي په ورځ د ماپښين د لمانځه لپاره اذان او اقامت کول

﴿۲۷۴﴾ وَيُكْرَهَانِ لِظُهْرٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي الْمِصْرِ او مکروه دي دا دواړه (اذان او قامت) د ماپښين د لمانځه لپاره د جمعي په ورځ په ښار کي.

تشريح: له کوم چا څخه چي د جمعي لمونځ پاته سي، نو ښکاره خبره ده چي اوس به هغه د ماپښين لمونځ کوي، نو د هغه لپاره ځانته اذان او اقامت کول مکروه دي، په هر هاسي ځای کي چي هلته د جمعي لمونځ کيږي، همدارنګه هلته د جمعي د امام له فارغيدلو څخه مخکي يا وروسته د ماپښين

لمونځ په جماعت سره کول مکروهِ تحریمي دي، جلا، جلا دي دما پښین لمونځ وکړي بغیر له اذان او اقامت څخه. (انوار الایضاح)

د قضائي لمانځه او اذان لپاره د اذان او اقامت کولو حکم

﴿۲۷۵﴾ وَيُؤَذِّنُ لِلْفَائِتَةِ وَيُقِيْمُ او اذان دي کوي د فوت سوي (قضائي) لمانځه لپاره او اقامت دي (هم) کوي وَكَذَا الْأُوْلَى الْفَوَائِتِ او همدارنګه (اذان او اقامت دي کوي) د ډیرو فوت سوو (قضائي) لمنځونو (داداء کولو په وخت کي) داول لمانځه لپاره وَ كُرِهَ تَرْكُ الْإِقَامَةِ دُوْنَ الْأَذَانِ فِي الْبَوَاقِيْ او مکروه دي اقامت پرېښوول، نه اذان په پاته (قضائي) لمنځونو کي إِنِ اتَّحَدَ مَجْلِسُ الْقَضَاءِ که چیري د قضاء راوړلو مجلس یو وي (یعني ټوله قضائي لمنځونه په یوه مجلس کي راګرځول کیږي).

تشریح: که څوک قضاء سوی لمونځ راګرځوي، نو اذان او اقامت دي دواړه وکړي، که دواړه پرېږدي، نو دا مکروه دي، کم از کم په اقامت سره قضائي لمونځ اداء کول پکار دي. او که له یوه څخه زیات لمنځونه قضاء سوي وي، نو داول لمانځه لپاره دي اذان او اقامت دواړه وکړي او په پاته لمنځونو کي ورته اختیار دی چي که اذان او اقامت دواړه کوي او که صرف اقامت کوي. او اقامت پرېښوول مکروه دي، فرمایي چي دا مذکوره تفصیل هغه وخت دی کله چي ټوله قضائي لمنځونه په یوه وار اداء کول کیږي، خو که مجلس یې متحد نه وي، بلکي په بېلابېلو وختونو کي یې اداء کوي. یعني هر لمونځ په جلا وخت کي راګرځوي، نو بیا به د هر لمانځه لپاره اذان او اقامت کوي. په دې صورت کي اذان پرېښوول مکروه دي.

د اذان د جواب حکم او تفصیل

﴿۲۷۶﴾ وَإِذَا سَمِعَ الْمَسْنُوْنَ مِنْهُ او کله چي سنت اذان واوري (یعني داسي اذان کوم چي په خپل وخت کي شروع سي او پر سنت طریقه وي چي لحن (تلحین) نه پکښې کیږي. څکه که اذان له وخت څخه مخکي اېږ وخته اوسي یا د غزلو او موسیقي الحانو (وزمونو) په څېر اذان کول کیږي. نو داسي اذان مسنون نه دی. نو فرمایي که څوک مسنون اذان واوري) أَمْسَكَ وَقَالَ مِثْلَهُ نو اورېدونکی دي ودرېږي (یعني له خبرو وغیره څخه دې ځان ونیسي) او د مؤذن په څېر (کلمات) دي ووایي (یعني د هغه سره موافق دي د اذان کلمات شروع کړي) وَحَوْقَلَ فِي الْحَيْعَلَتَيْنِ او حوقله (یعني "لاحول ولاقوة الا بالله") دي ووایي په "حَیَّ عَلَ

الصلوة او حيّ على الفلاح" کي "وَقَالَ: صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ أَوْ مَا شَاءَ اللّٰهُ عِنْدَ قَوْلِ الْمُؤَذِّنِ الصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ او "صدقت وبررت" يا "ماشاء الله" دي ووايي د مؤذن د "الصلوة خير من النوم" ويلو په وخت کي ثُمَّ دَعَا بِالْوَسِيْلَةِ فَيَقُوْلُ بيا دي د وسيلې دعاء وغواړي نو (داسي) دي ووايي اَللّٰهُمَّ اې الله! رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ د دغه پوره بلنې څښتنه (مالکه)! وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ او د دائمي (همېشه درېدونکي) لمونځ څښتنه! آتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ ورکړه! محمد ﷺ ته وسيله او فضيلت (بهتري) وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِيْ وَعَدْتَّهٗ او واستوه (ورسوه)! محمد ﷺ و هغه مقام محمود (ښه ځای) ته چي د هغه وعده مو ور سره کړې ده.

تشريح: د اذان جواب ورکول واجب دي او که مستحب دي، په دې باره کي اختلاف دی. بعضو واجب ورته ويلي دي، لېکن ظاهر او معتمد مذهب دا دی چي په ژبه سره جواب ورکول مستحب دي او په عمل سره جواب ورکول (يعني مسجد ته ورتلل) سنتِ مؤکده دي په سخت تأکيد سره يعني د واجب په څېر. لهذا کوم څوک چي له مسجد څخه بهر وي، د هغه لپاره عملي جواب يعني مسجد ته تګ ضروري دی او زباني جواب يعني مذکوره کلمات ويل مستحب دي.

دلته فرمايي چي که څوک د اذان آواز واوري، نو که څوک يې نه واوري مثلاً ليري وي يا کوڼ وي، نو پر هغه د اذان جواب ورکول نسته، که څه هم پوهېږي چي اذان کېږي، همدارنګه د مسنون قيد يې لګولی دی، لهذا که د سنت طريقې خلاف اذان وسي، مثلاً له وخت څخه مخکي وسي يا يې حروف کم و زيات ووايي، يا ښځه اذان وکړي، نو د داسي اذان جواب ورکول مستحب نه دي.

أمسك: يعني کله چي سنت اذان واوري، نو اورېدونکی دي ودرېږي (ځان دي ونيسي) يعني له خبرو او هر داسي کار څخه دي ځان ونيسي کوم چي د اذان اورېدلو او د هغه په جواب کي خلل اچونکی وي، لهذا نه دي چا ته سلام کوي او نه دي د سلام جواب ورکوي يعني مناسب نه دي، خلاف اولیٰ دي، تر دې چي که د قرآن کريم تلاوت کوي، نو هغه دي بند کړي او د اذان په جواب ورکولو دي مشغوله سي، دا افضل دي، که تلاوت کوي، نو هم جائز دي. (عمدة الفقه، حاشيه، بحوالهٔ شفاء الارواح)

وقال مثله: د اذان جواب دا دی چي کوم کلمات مؤذن وايي، هغه دي اورېدونکی هم وايي، خو د حيعلتينُ يعني د "حي على الصلاة" او "حي على الفلاح" په جواب کي دي "لاحول ولاقوة الا بالله" وايي (چي مسجد ته د رسېدلو او لمونځ کولو قوت د الله ﷻ له طرفه دی چي د هغه له توفيق او حفاظت څخه

بغير مسجد ته دا نه سم کولای)، او که د حیعلتینْ په جواب کي اورېدونکی هم حیعلتین وایي، نو دا به د استهزاء غونډي وي (ځکه دا دواړه د امر په صیغه سره دي او معنی یې ده "راسئ د لمانځه او کامیابی پر طرف"، او ښکاره ده چي که څوک وایي چي "راسئ د لمانځه پر طرف" او اورېدونکی هم ورته وایي "راسئ د لمانځه پر طرف" نو دا به د استهزاء په څېر وي)؛ ځکه کومه خبره چي د امر په صیغه سره ویل سوې وي، نو هغه خبره په هاغه الفاظو سره راګرځونکی استهزاء کونکی ګڼل کېږي، نو ځکه د حیعلتین په جواب کي دي حوقله وایي. (شفاء الارواح)

د "الصلاة خير من النوم" جواب: د سهار په اذان کي چي کله مؤذن "الصلاة خير من النوم" وایي، نو له بعضي اسلافو څخه نقل سوي دي چي اورېدونکي دي په جواب کي "صدقتَ وبررتَ" وایي، او بعضي علماؤ د دې سره د "وَبِالْحَقِّ نَطَقْتَ" (تا حق ویل) الفاظ هم زیات کړي دي. (شامی ج: ۲، ص: ۶۷)

د اذان دعاء: تر اذان وروسته دي هغه دعاء وغواړي کوم چي په متن کي مذکوره ده، او د بیهقي په روایت کي د دې دعاء په آخر کي د "إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ" الفاظ هم نقل سوي دي.

الوسيلة: "وسیله" په جنت کي د یو ستري درجې مقام دی، نبي کریم ﷺ فرمایي چي "وسیله" په جنت کي یوه درجه ده کوم چي هغه د الله تعالیٰ په مؤمنو بندګانو کي صرف یوه ته حاصلیږي او ما ته امید دی چي هغه بنده به زه یم، نو کوم څوک چي زما لپاره د "وسیلې" دعاء غواړي، د هغه لپاره به زما شفاعت واجب وي. (شفاء الارواح)

والفضيلة: دا خو یا د "وسیله" تفسیر دی، یا یوه بله درجه ده، او ځیني خلک چي تر "الفضيلة" وروسته د "الدرجة الرفيعة" الفاظ زیاتوي، په حدیث شریف کي د هغه څه اصل نسته. (حاشیه)

مقاماً محموداً: د "مقام محمود" وعده الله ﷻ په دې آیت مبارک کي کړې ده ﴿عَسٰى أَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا﴾ (بني اسرائيل: ۷۹)، دا مقام په تمام انبیاؤ علیهم السلام کي صرف د نبي ﷺ لپاره خاص دی، د دې په تفسیر کي مختلفه اقوال نقل سوي دي، خو صحیح هغه دی کوم چي په صحیح حدیثو کي خپله له رسول ﷺ څخه نقل سوی دی، دا مقام د "شفاعت کبریٰ" دی چي د محشر په میدان کي چي کله ټوله انسانان جمع سي او له هر نبي او پېغمبر څخه به د شفاعت خواست کوي، نو ټوله انبیاء علیهم السلام به عذر پېش کړي، صرف نبي کریم ﷺ ته به دا مقام ورکول سي چي د تمام بني آدم شفاعت به وکړي. (معارف القرآن)

❀ ❀ ❀

مسئله: آیا د آذان په دعاء کي لاسونه پورته کول ثابت دي او که نه؟

په فتاوی حقانیه (ج۲، ص ۴۰۸) کي وایي: له اذان څخه وروسته د وسیلې دُعاء د کولو په وخت کي لاسونه مه پورته کوئ، بلکي بغیر د لاسو پورته کولو څخه دُعاء غواړئ، البته که چیري څوک لاسونه پورته کړي، دُعاء وغواړي، نو هم څه پروانه لري او نه دا د سنتو په خلاف عمل دی. (وکذا ذکر فی فتاوی فریدیه ج ۱، ص ۳۴۷)

او همداسي په کفایت المفتي (ج۳، ص ۴۷) کي وایي: چي د اذان په دعاء کي د لاسو په پورته کولو کي څه پروا نسته. او په کفایت المفتی (ج۳، ص ۵۴) کي وایي: له اذان څخه وروسته په دعاء کي د لاسونو پورته کولو یو خاص ثبوت نسته.....او په آخر کي وایي: چي دواړي طریقې جائز دي ،یعني که لاسونه پورته کړي او که یې نه کړي پورته، دواړي طریقې جائز او روادي. (کذا ذکر فی فتاوی محمودیه ج ۵، ص ۴۳۲).

او په امداد الفتاویٰ (ج ۱، ص ۱۵۹) کي وایي: د اذان په دعا کی لاسونه پورته کول د سنت خلاف کار نه دی، خو نه پورته کول افضل کار دی. (کذا ذکر فی فتاوی دار العلوم دیوبند ج ۲، ص ۸۷)

راجح قول: راجح او مختاه قول دا دی چي د اذان په دعاء کي سنت کار دا دی چي لاسونه پورته نه سي؛ ځکه له رسول الله ﷺ څخه په دغه دعاء کي لاسونه پورته کول ثابت نه دي، او څوک چي په دې دعاء کي لاسونه پورته کول ثابتوي په عمومیاتو سره، یعني چي په عامو دعاګانو کي لاسونه پورته کیږي نو په دې دعاء کي به هم پورته کیږي، نو دا قیاس لغو او باطل دی؛ ځکه خاص فعل د علیه السلام مبارک په دغه دعاء کي نه پورته کول د لاسونو وو، لهذا کله چي له علیه السلام مبارک څخه په دې دعاء کي د لاسونو پورته کول ثابت نه سوه، نو زموږ لپاره هم سنت کار په دې دعاء کي نه پورته کول د لاسو دی؛ ځکه خصوص د فعل د علیه السلام مبارک أسوۂ حسنه ده هر هغه چا لره چي رجوع د الله جل جلاله او دورځي د آخرت لري. (فیض الباري ج: ۲، ص: ۱۶۲)

❀ ❀ ❀

بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ وَأَرْكَانِهَا

(دا) فصل دلمانځه د شرطونو او ارکانو (په بیان کې) دی

تشریح: مخکې تر دې مصنف رَحِمَهُ الله طهارت بیان کړی کوم چې دلمانځه لپاره شرط دی. تر هغه وروسته یې دلمانځه وختونه بیان کړل؛ ځکه هغه له اسبابو او شرائطو څخه دي. بیا یې د اذان بیان وکړی؛ ځکه چې هغه دلمانځه لپاره اعلام او اخبار دی. اوس په دې باب کې دلمانځه شرطونه او ارکان بیانوي.

د "شرط" لغوي او اصطلاحي معنیٰ: شُرُوط جمع د شَرْطٌ ده. د شرط لغوي معنیٰ ده: نښه، علامت

او د شرط اصطلاحي معنیٰ ده: «مايتوقف عليه وجود الشئ ولم يكن داخلاً فيه». (یعني شرط هغه خارجي شي ته وايي چې پر هغه دبل شي وجود موقوفه (ولاړ) وي، خو هغه په دې شي کې داخل نه وي). لکه اودس چې په لمانځه کې داخل نه دی، خو دلمانځه وجود او صحت پر اودس موقوف دی. همدارنګه استقبال قبله، عورت او داسې نور، دا شیان دلمانځه له حقیقت او ماهیت څخه خارج دي.

د "رکن" لغوي او اصطلاحي معنیٰ: أرکان جمع د رُکْنٌ ده، د رکن لغوي معنیٰ ده "د یو شي قوي او مضبوط اړخ، قوت او غلبه، پایه (ستون).

او اصطلاحي معنیٰ یې ده: «ما لا يقوم الشيء إلا به». (یعني په کوم څه سره چې یو شی ولاړ وي، یعني هغه شی چې یو بل شی په پر هغه قائم او موقوف وي، یا په بله وینا: هغه شی چې پر هغه دبل شي دار ومدار وي)، همدارنګه بله اصطلاحي معنیٰ یې دا نقل سوې ده (د شي هغه اجزاء چې له هغوی څخه د شي حقیقت او ماهیت مرکب وي)، لکه قیام (ولاړه)، قرائت، رکوع او سجده، آخره ناسته، دا هغه اجزاء دي چې له دوی څخه دلمانځه حقیقت مرکب دی او دلمانځه مدار پر همدوی دی، لهذا کوم فرائض چې په لمانځه کې دننه وي یعني دلمانځه په ماهیت کې داخل وي، هغه ته دلمانځه ارکان ویل کیږي، که له دوی څخه یو رکن هم موجود نه سي، نو لمونځ نه کیږي.

(په لنډه توګه دا چې له شرائطو څخه مراد هغه فرائض دي کوم چې تر لمانځه مخکې اداء کیږي. او کوم فرائض چې په لمانځه کې دننه کیږي هغه ته ارکان ویل کیږي).

یادونه: مصنف رَحِمَهُ الله دلمانځه د صحت لپاره اوویشت (۲۷) شیان ذکر کړي دي، خو د فقهي په نورو کتابونو کې مثلاً امام قدوري رَحِمَهُ الله او داسې نورو شپږ شرطونه او شپږ ارکان ذکر کړي دي چې ټول دوولس (۱۲) کیږي، د دغه تعارض حل دا دی چې د دې حضراتو مقصد په اصل کې تقریب دی

یعني چي مجموعاً د دوولسو (۱۲) شیانو یادول د یادونکي طالب لپاره آسانه وي. د دوی مقصود صرف هغه نه دي او نه یې د ماسوا نفي کول مقصود دي، او د نور الایضاح د مصنف رَحِمَهُ الله پیش نظر د هغه تمام امورو بیانول دي چي لمونځ گزار ته له اول څخه تر آخره د هغوی رعایت کول ضروري دي او پر هغوی د پاسه د لمانځه د صحت لازم دی. بلکي دا فرائض په اووېشت شیانو کي هم منحصر نه دي، بلکي له دې څخه هم زیات پېدلای سي. (مراقیٰ الفلاح ص: ۱۱۲، حاشیه)

د لمانځه د صحت شرطونه په یوه جدول کي (د مصنف رح د ترتیب مطابق)

نمبر	شرائط	نمبر	شرائط
۱	له حدث (اصغر او اکبر) او له نجاست څخه بدن، جامه او ځای پاکېدل	۱۵	د فرضي لمانځه په دوو رکعتو کي او د نفلي لمانځه او وترو په ټولو رکعتو کي قرآن ویل
۲	عورت پټېدل	۱۶	رکوع کول
۳	مخ پر قبله کېدل	۱۷	پر داسي شي سجده کول کوم چي حجم والا وي او چي په هغه باندي تندی قرار ونیسي
۴	په خپل وخت کي لمونځ کول	۱۸	د سجدې ځای به د پښو اېښوولو له ځای څخه تر نیم شرعي گز (ذراع) لوړ نه وي
۵	د وخت داخلېدل	۱۹	دواړه لاسونه او دواړه زنگنونه (پر ځمکه) اېښوول. د صحیح روایت مطابق
۶	نیت کول	۲۰	په سجده کي د پښو څه گوتي پر ځمکه اېښوول
۷	تکبیر تحریمه بېله فصله ویل	۲۱	رکوع پر سجده مخکي کول
۸	تکبیر تحریمه په ولاړي او رکوع ته تیټېدو څخه مخکي اداء کول	۲۲	له اولي سجدې څخه دومره پورته کېدل چي ناستي ته نژدې سي. د صحیح روایت مطابق
۹	نیت به د تکبیر تحریمه په وخت کي وي، نه وروسته	۲۳	دویمه سجده کول
۱۰	تحریمه به داسي وایي چي خپله یې واوري. د صحیح مذهب مطابق	۲۴	د تشهد په اندازه آخره ناسته کول
۱۱	د مقتدي لپاره د متابعت نیت کول	۲۵	آخره ناسته تر ټولو ارکانو په آخر کي اداء کول
۱۲	فرض متعینول	۲۶	ټوله ارکان په بیداری کي اداء کول
۱۳	واجب متعینول. خو د نفلو تعیین شرط نه دی	۲۷	د لمانځه د کیفیت او د هغه د تمام فرائضو د فرض کېدلو اعتقاد به یې وي
۱۴	له نفلو څخه بغیر نور په ټوله لمنځونو کي قیام (ولاړه) کول		

د لمانځه د صحت شرطونه، طهارت

﴿۲۷۷﴾ لَابُدَّ لِصِحَّةِ الصَّلٰوةِ مِنْ سَبْعَةٍ وَّعِشْرِيْنَ شَيْئًا چاره نسته د لمانځه د صحيح کېدو لپاره له اووه ويشت (۲۷) شيانو څخه (يعني د لمانځه د صحت لپاره ۲۷ شيان شرط او ضروري دي) اَلطَّهَارَةُ مِنَ الْحَدَثِ (۱) له (کوچنی او لويي) بې اودسيا څخه پاکېدل وَ طَهَارَةُ الْجَسَدِ وَالثَّوْبِ وَالْمَكَانِ او د بدن، کپړې (جامې) او ځای پاکېدل مِنْ نَجِسٍ غَيْرِ مَعْفُوٍّ عَنْهُ له داسي نجاست څخه کوم چي معاف کړی سوی نه دی (يا په بله وينا: دومره نجاست کوم چي تر معفو مقدار زيات وي) حَتّٰی مَوْضِعِ الْقَدَمَيْنِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَالْجَبْهَةِ تر دې چي (ضروري د "ځای" په پاکوالي کي پاکېدل د) ځای د اېښوولو د دواړو پښو او د دواړو لاسونو او زنګنونو او تندي عَلَى الْأَصَحِّ د صحيح ترين قول مطابق.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي د لمانځه د صحيح کېدو لپاره اووه ويشت (۲۷) شيان ضروري دي، خو څه مخکي موږ وويل چي دا شرطونه په اووه ويشت کي منحصر نه دي، بلکي له دې څخه هم زيات دي او کومو حضراتو چي شپږ شرطونه او شپږ رکنونه ذکر کړي دي، د هغه وجه مو هم ذکر کړه، نو ځکه چي مصنف رَحِمَهُ الله کوم اووه ويشت شرائط بيان کړي دي، دا ټوله د لمونځ ګزار لپاره ضروري دي.

الطهارة من الحدث إلخ: اول شرط دا دی چي لمونځ ګزار به له حدث اکبر او حدث اصغر څخه پاک وي، حدث اکبر يعني جنابت وغيره چي د هغه په وجه غسل فرض کېږي او حدث اصغر يعني بې اودسي (کوچنی بې اودسيا)، نو پر چا چي غسل فرض وي پر هغه غسل کول او د چا چي اودس نه وي پر هغه لمونځ کول د لمانځه د صحيح کېدو لپاره شرط دي، همدارنګه د لمونځ ګزار بدن او جامه او د لمانځه ځای له نجاست حقيقيه څخه پاکېدل، برابره ده نجاست غليظه وي او که خفيفه وي، کله چي نجاست له معفو عنهٔ مقدار څخه زيات لګېدلی وي (يعني دومره مقدار چي هغه معاف نه دی. چي د هغه بيان په باب الانجاس کي په (۱۹۹) نمبر مسئله او (۲۰۰) نمبر مسئله کي تېر سو)، لهذا که نجاست غليظه د يوه درهم په اندازه يا تر دې کم لګېدلی وي او نجاست خفيفه د کپړې يا بدن له څلورمي حصې څخه کم لګېدلی وي، نو لمونځ کېږي، لېکن مکروه به وي. او د لمانځه د ځای د پاکېدلو مطلب د قيام او سجود ځايونه دي، يعني د دواړو قدمونو، دواړو لاسونو، دواړو زنګنو او تندي ځای به پاک وي، پر کوم ځای وغيره چي لمونځ کول کېږي، د هغه ټوله ځای پاکېدل د لمانځه د صحت لپاره شرط نه دي.

* * *

پر خوشایو تیل سوي څمکه د لمونځ کولو حکم

مسئله: که پر څمکه مخکي خوشایي تیل سوي وي او وروسته بیا پر هغه څمکه دومره پاکه خاوره واچول او وتپل سي چي خوشایي بالکل پټ سي او د هغوی بوی وغیره د پاسه نه محسوسیږي، نو پر هغه څمکه لمونځ کول جائز دي، او که د خوشایو بوی محسوسیږي، نو هلته د پاک شي له هوارولو څخه بغیر لمونځ کول نه صحیح کیږي. (هندیه ج:۱، ص:۶۲، حلبی کبیر ص: ۲۰۲، کتاب المسائل ص:۲۵۲)

د عورت پټول

﴿۲۷۸﴾ وَ سَتْرُ الْعَوْرَةِ (۲) او (همدارنګه شرط دي د لمانځه د صحت لپاره) د عورت پټول وَلَا يَضُرُّ نَظَرُهَا مِنْ جَيْبِهِ وَ أَسْفَلِ ذَيْلِهِ او (د لمانځه صحت ته) نقصان نه کوي عورت ته کتل له خپل ګرېوان څخه او (یا) د لمني د لاندي خوا څخه.

لغات: ﴿ذَيْل﴾ لمن، د جامې لاندینی حصه، جمع: أَذْيَالٌ و ذُيُولٌ.

تشریح: له عورت څخه مراد د سړي او ښځي د بدن هغه حصه ده چي د هغه پټول فرض دي او ښکاره کول یې شرعاً حرام دي، نو د "ستر العورة" مراد دا دی چي د کومي حصې پټول فرض دي، د هغه پټول د لمانځه د صحیح کېدو لپاره شرط دي برابره ده یوازي لمونځ کوي، یا د خلکو مخته لمونځ کوي. د سړي عورت له نامه (ناف) څخه د زنګنو تر لاندي حصې پوري دی، نو (ناف) په عورت کي داخل نه دی او زنګون په عورت کي داخل دی، لهذا د هغه پټول شرط او فرض دي، او د آزادي ښځي ټوله بدن عورت دی ماسوا د هغې له مخ، دواړو ورغوو او دواړو پښو څخه، نو د څومره بدن پټول چي فرض دي، که له هغه څخه د اندام د څلورمي حصې په اندزه لڅ سي، نو لمونځ نه صحیح کیږي، په دې شرط چي دیوه رکن یعني د دري واره سبحان الله ویلو په اندازه لڅ پاته سي.

ولا یضر الخ: په دې سره دا رابنیي چي په لمانځه کي خپل عورت له نورو خلکو څخه پټول شرط او فرض دي چي بهر به نه ښکاره کیږي او له خپل ځان څخه پټول فرض نه دي، لهذا که څوک صرف قمیص (کمیس) واغوندي او له ازار (لنګ) څخه بغیر لمونځ وکړي او قیمص یې داسي وي چي که هغه په خپل ګرېوان کي وګوري نو خپل عورت ویني، نو په دې سره لمونځ نه فاسدیږي (لېکن تعمداً له ګرېوان وغیره څخه خپل عورت ته کتل مکروه تحریمي دي). (شفاء الارواح بحوالة حاشیه)

مخ پر قبله کېدل

﴿۲۷۹﴾ وَاسْتِقْبَالُ الْقِبْلَةِ (۳) او (شرط دي دلمانځه د صحت لپاره) قبلې ته مخ کول فَلِلْمَكِّيِّ الْمُشَاهِدِ فَرْضُهُ إِصَابَةُ عَيْنِهَا نو د مکې شریفې او سېدونکی کوم چې (د کعبې شریفې) لیدونکي وي، د هغه لپاره فرض عینِ کعبې (خاص کعبې) ته سیده کېدل دي وَلِغَيْرِ الْمُشَاهِدِ جِهَتُهَا او د نه لیدونکي لپاره (فرض) د کعبې وطرف ته مخ کول دي وَلَوْبِمَكَّةَ که څه هم هغه (نه لیدونکی) په مکه کې وي عَلَى الصَّحِيْحِ د صحیح قول مطابق.

اللغات: ﴿القبلة﴾ قبله هغه خاص جهت او خوا ده چې د هغه وطرف ته لمونځ کول کیږي کوم چې له ځمکې څخه تر اووم آسماني پوري منل سوی دی چې په افغانستان او پاکستان کې هغه د مغرب طرف دی، او خاص هغه تعمیر چې د هغه وطرف ته مخ کول کیږي کوم چې په توره پرده سره پوښل سوی دی، هغه ته کعبه شریفه (بیت الله) وایي، نو قبله هغه تعمیر نه دی، بلکې هغه ځای دی چې پر هغه چاپېره د کعبې تعمیر دی، لهذا که خدا نخواسته دا تعمیر ونړیږي. نو بیا هم صرف د هغه ځای وطرف ته مخ کول لازم دي.

تشریح: مخ پر قبله کېدل (استقبالُ القبله) هم د لمانځه د صحت له شرطونو څخه یو شرط دی د هر لمانځه لپاره، برابره ده اداء وي، قضاء وي، فرض وي، یا نفل وي، یا د جنازې لمونځ، یا سجدهٔ تلاوت او داسې نور وي په ټولو کې مخ پر قبله کېدل ضروري دي. که څوک قصداً بېله څه عذره قبله پرېږدي او بل طرف ته لمونځ وکړي، نو کفر دی.

فللمکی الخ: په مکه شریفه کې د اوسېدونکي لپاره قبله دا ده چې کوم څوک په مسجد حرام کې دننه لمونځ کوي او کعبه شریفه (بیت الله) وړیني، یا پر داسې لوړ عمارت یا غره باندې لمونځ کوي چې له هغه ځایه کعبه شریفه صفا وړیني، نو د هغه لپاره د عینِ کعبې شریفې وطرف ته لمونځ کول ضروري دي (طحطاوي ص۱۱۶)، (د حج او د رش په ورځو کې په حرم شریف کې دننه او بهر د هر ځله د قبلې وطرف ته په توجه کولو کې لا پروایي کیږي، لهذا ملته دي په خصوصي توګه د استقبال القبله خیال ساتل کیږي).

ولغیر المشاهد الخ: کوم څوک چې کعبه شریفه نه وړیني. هغه که د مکې په ښار کې دننه وي او که د نیا په بل ځای کې وي، د هغه لپاره د عینِ کعبې وطرف ته مخ کول لازم نه دي. بلکې د هغه لپاره قبله د کعبې جهت (د کعبې طرف) دی. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

على الصحيح: صحيح قول همدا دی کوم چي پورته ذکر سو چي غيرِ مشاهد مکي يعني د مکې په ښار کي هغه کس کوم چي کعبه نه ويني، د هغه لپاره هم قبله صرف د کعبې شريفي جهت دی، خو بعضي حضرات فرمايي چي غيرِ مشاهد مکي به هم د عينِ کعبې و طرف ته مخ کوي. يعني په دې توګه چي که دېوالونه وکښل سي، نو د هغه مخ به د عينِ کعبې و طرف ته وي. خو له مکې څخه بهر د نورو خلکو لپاره دا شرط نه دي، د هغو لپاره صرف مخ پر قبله کېدل کافي دي. (حلبي کبير ص: ۲۱۷ بتغير)

* * *

له قبلې څخه معمولي انحراف تاواني نه دی

مسئله: له مکې څخه بهر اوسېدونکي نور خلک که د قبلې له طرف څخه معمولي غوندي کوږ لمونځ وکړي، نو هم لمونځ صحيح کيږي، د معمولي انحراف مطلب دا دی چي دومره قدر انحراف او کوږوالی وي چي د لمونځ ګزار د تندي څه حصه د قبلې پر طرف باقي پاته سي، د دې مقدار فقهاؤ دواړو طرفونو ته ۴۵ – ۴۵ درجې مقرر کړی دی. (جواهر الفقه ج:۱، ص:۲۴۲، احسن الفتاویٰ ج:۲، ص:۲۱۳ بحوالۂ انوار الايضاح)

لمونځ په خپل وخت کي اداء کول

﴿۲۸۰﴾ وَالوَقْتُ او د وخت کېدل.

تشريح: د لمانځه د صحيح کېدو لپاره وخت هم شرط دی، نو که څوک د وخت له داخلېدو څخه مخکي لمونځ وکړي، نو لمونځ يې نه صحيح کيږي، همدارنګه د وخت په تېرېدلو سره اداء فوتيږي.

د وخت داخلېدو يقين کېدل

﴿۲۸۱﴾ وَاعْتِقَادُ دُخُوْلِهٖ (۵) او (همدارنګه شرط دي) د وخت داخلېدلو عقيده (يقين) لرل.

تشريح: او د لمانځه د صحيح کېدو بل شرط د وخت د داخلېدو اعتقاد دی يعني لمونځ ګزار ته به دا يقين وي چي د لمانځه وخت داخل سوی دی، لهذا که هغه ته د وخت داخلېدلو په باره کي شک او شبهه وي (لکه پخوا د ساعت او ګړی د نشتوالي په دَور کي چي به دا حالت ډېر پېښېدی) او په همدې د شک په حالت کي لمونځ وکړي، نو لمونځ يې نه کيږي، که څه هم په حقيقت کي يې وخت داخل سوی وي: ځکه چي هغه ته يقين نه وو، بلکي هغه ته په دې باره کي شک او شبهه وه، نو ځکه يې لمونځ نه صحيح کيږي. (انوار الايضاح، شفاء الارواح)

د نيت حقيقت

﴿۲۸۲﴾ وَالنِّيَّةُ (۶) او (همدارنګه شرط دي، دلمانځه) نيت كول.

تشريح: دلمانځه د صحيح كېدو لپاره بل شرط دلمانځه نيت كول دي، نيت اراده كولو ته وايي، د لمانځه نيت خالص دالله ﷻ لپاره دلمونځ كولو ارادې ته وايي، د نيت د صحيح كېدو شرط دا دی چي په زړه سره به دا پېژني چي كوم لمونځ كوي او د دې علامه دا ده چي كه له هغه شخخه پوښتنه وسي، نو بغير له سوچ كولو شخخه سمدستي جواب وركړي چي فلانی لمونځ كوم او كه هغه په جواب كي ځنډ وكړي، نو دا به ګڼل كيږي چي هغه ته د دې علم نسته چي كوم لمونځ كوي. او څرنګه چي په نيت كي د زړه عمل معتبر دی، نو ځكه په ژبه سره نيت كولو ته ضرورت نسته. ها! كه په ژبه سره يې هم وكړي د دې لپاره چي زړه او ژبه دواړه سره جمع سي، نو غوره او مستحب دي. (شفاء الارواح)

تكبير تحريمه ويل

﴿۲۸۳﴾ وَالتَّحْرِيْمَةُ بِلَا فَاصِلٍ (۷) او تحريمه (تكبيرِ تحريمه) ويل بغير له څه فصل (او ځنډ) شخخه.

تشريح: او تكبيرِ تحريمه يعني دلمانځه د شروع كولو په وخت كي الله اكبر ويل؛ ځكه تر دغه تكبير وروسته لمونځ شروع كيږي او خوراك، څښاك، تلل، خبري كول او نور هر ډول كارونه كوم چي له لمانځه شخخه مخكي جائز وه، اوس په دې تكبير سره حراميږي، نو ځكه دې ته تكبير تحريمه ويل كيږي، تر دې وروسته مصنف رَحِمَهُ الله د تحريمه د صحيح كېدو لپاره اُووه شرطونه بيان كړي دي، نو فرمايي چي ① د نيت او تكبير تحريمه تر مينځ به داسې شی فاصل نه وي كوم چي د لمانځه مانع وي، لكه خوراك،، څښاك او داسي نور، بلكي تر نيت وروسته به سمدستي تكبيرِ تحريمه ويل كيږي.

﴿۲۸۴﴾ وَالْإِتْيَانُ بِالتَّحْرِيْمَةِ قَائِمًا قَبْلَ اِنْحِنَائِهِ لِلرُّكُوْعِ (۸) او (شرط دي) تحريمه اداء كول (ويل) د ولاړي په حالت كي، ركوع ته له كږېدو شخخه مخكي.

لغات: ﴿الانحناء﴾ د انفعال د باب مصدر دی: له ولاړي شخخه لاندي طرف ته كږېدل (ټيټېدل).

تشريح: ② په دې عبارت كي د تكبيرِ تحريمه د صحيح كېدلو دويم شرط بيان سوی دی. كه چيري مقتدی په داسي حالت كي جماعت ته ورسيږي چي امام ركوع ته تللی وي او مقتدی په تېزي سره داسي تكبير ووايي چي لفظ د الله خو د ولاړي په حالت كي اداء كړي او لفظ د أكبر هغه

وخت د ده له خولې څخه ووځي کله چي دئ رکوع ته کوږ سوی وي (یعني د رکوع حالت ته رسېدلی وي)، نو د دې مقتدي لمونځ شروع نه سو؛ ځکه تړوله تکبیرِ تحریمه د ولاړي په حالت کي ویل شرط او فرض دي، د رکوع په حالت کي ویل سوې تکبیر تحریمه ویلو لره اعتبار نسته. لهذا داسي کس ته پکار دي چي له نوي سره د ولاړي په حالت کي تکبیر ووایي، او که رکعت تېر سي، نو وروسته دي د هغه قضاء راوړي.

د نیت وخت

﴿۲۸۵﴾ وَعَدَمُ تَأْخِيْرِ النِّيَّةِ عَنِ التَّحْرِيْمَةِ (۹) او (شرط دي) نیت له تحریمې څخه نه ځنډول (یعني نیت به له تکبیرِ تحریمه څخه نه وروسته کول کېږي).

تشریح: د تحریمه د صحیح کېدلو لپاره بل شرط دا دی چي تحریمه به له نیت څخه مخکي نه وي. یعني د لمانځه نیت به له تکبیرِ تحریمه څخه مخکي کوي، نو که چیري اول تکبیرِ تحریمه ووایي او تر هغه وروسته نیت وکړي، نو تکبیرِ تحریمه نه صحیح کېږي.

❀ ❀ ❀

آیا په ټوله لمانځه کي د نیت استحضار ضروري دی؟

مسئله: د نیت ضرورت صرف د لمانځه له شروع کولو څخه مخکي پر ېوځي. وروسته د لمونځ اداء کولو په وخت کي د نیت استحضار ضروري نه دی، یعني وروسته که استحضار د نیت پاته نه سي، نو هم لمونځ اداء کېږي، خو افضل دا ده چي د لمانځه تر آخره پوري خشوع و خضوع او استحضار باقي پاته سي. (الاشباه ج:۱، ص:۸۳، کتاب المسائل ص:۲۷۴)

﴿۲۸۶﴾ وَالنُّطْقُ بِالتَّحْرِيْمَةِ بِحَيْثُ يَسْمَعُ نَفْسَهٗ (۱۰) او تحریمه ویل په داسي توګه چي دئ (لمونځ ګزار) یې خپله اوري عَلَی الْأَصَحِّ پر صحیح ترین قول (یعني زیات صحیح قول دا دی چي تکبیر تحریمه به په دومره آواز سره وایي چي خپله یې اوري).

لغات: ﴿النُّطق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ګویا کېدل، ویل، خبره کول.

تشریح: د تحریمه د صحیح کېدو لپاره څلورم شرط دا دی چي تکبیرِ تحریمه به په دومره آواز سره وایي چي خپله یې اوري، کله چي کوڼ نه وي، او که هلته شور او ږغ وي، نو دا ورېدلو مطلب دا دی چي که شور لیري سي، نو خپل آواز اوري. صرف په زړه کي ویل یا داسي ویل چي خپله یې هم نه اوري کافي نه دي. او کوم څوک چي ګونګی وي، هغه ته د تکبیرِ تحریمه لپاره ژبه بنوورول واجب نه دي. بلکي صرف د تحریمه په نیت سره د هغه لمونځ شروع کېږي.

على الأصح: په دې سره د امام کرخي رَحِمَهُ الله له قول څخه احتراز سوی دی؛ ځکه د هغه په نيز صرف د حروفو تصحيح کافي ده، که څه هم هغه خپل آواز نه اوري. (شفاء الارواح)

د مقتدي نيت او د فرضو او واجبو د تعيين نيت

﴿۲۸۷﴾ وَنِيَّةُ الْمُتَابَعَةِ لِلْمُقْتَدِيْ (۱۱) او (شرط دي، د امام) د تابع کېدو نيت کول د مقتدي لپاره وَتَعْيِيْنُ الْفَرْضِ وَتَعْيِيْنُ الْوَاجِبِ (۱۲، ۱۳) او (شرط دي، په نيت کي) فرض او واجب متعيّن کول (معلومول).

لغات: ﴿متابعة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: پېروي کول، اتباع کول، تابعداري کول.

تشريح: په دې عبارت کي د تحريمه د صحيح کېدلو لپاره پنځم، شپږم او اووم شرط بيان سوی دی، وتعيين الفرض: يعني د تحريمه د صحيح کېدو لپاره بل شرط دا دی چي په نيت کي به فرض په زړه کي متعيّن کوي، مطلب دا چي فرض لمونځ صرف د لمانځه په نيت سره نه جائز کيږي، بلکي په زړه کي هغه فرض معلومول شرط دي، مثلاً داسي ويل: چي زه د ماپښين لمونځ کوم، نور د دې سره وخت يا ورځ يو ځای کول ضروري نه دي، مثلاً د نن ورځي يا د دغه وخت د ماپښين لمونځ په نيت کي ويل ضروري نه دي، په دې شرط چي د هغه په زړه کي د دې علم وي چي هغه د همدې وخت د ماپښين يا مازيگر لمونځ کوي.

همدارنګه په واجب لمانځه کي په زړه کي د هغه واجب متعيّنول هم شرط دي، مثل د وترو لمونځ کوم، يا د نذر، يا د کوچني اختر، يا د لوی اختر، يا د طواف دوه رکعته کوم، په وترو کي دا نيت کول لازم نه دي چي هغه واجب دي، بلکي صرف د وترو نيت کافي دی، که د واجب نيت وکړي، نو منع نه دي بلکي اولیٰ دی، په فرضو او واجبو کي د رکعتونو د شمېر نيت کول هم شرط نه دي؛ ځکه د دوی تعيين د الله له طرفه سوی دی. (شفاء الارواح. بحوالهٔ حاشيه و عمدة)

﴿۲۸۸﴾ وَلَايُشْتَرَطُ التَّعْيِيْنُ فِي النَّفْلِ او په نفلو کي متعيّن والی شرط نه دی.

تشريح: په نفلو کي (برابره ده سنت وي او که تراويح وي) مطلق نيت کافي دی، مثلاً فقط داسي ويل: زه لمونځ کوم، نفل يا سنت ويل او د رکعتونو شمېر يادول او وخت متعينول ضروري نه دي، لېکن احتياط په دې کي دی چي په تراويحو کي د تراويحو نيت وکړي او په سنتو کي دا نيت وکړي چي د نبي ﷺ په اتباع کي لمونځ کوم. (شفاء الارواح)

قیام (په ولاړه لمونځ کول)

﴿۲۸۹﴾ وَالْقِيَامُ فِيْ غَيْرِ النَّفْلِ (۱۴) او (ضروري ده ارکن ده) ولاړه له نفلو څخه بغیر په نورو (لمنځونو) کې.

تشریح: د لمانځه د صحیح کېدو له شرطونو څخه یو شرط (رکن) قیام یعني په ولاړه لمونځ کول دي، برابره ده فرضي لمونځ وي او که واجب وي لکه وتر، د اخترونو لمونځ او د اصح قول پر بناء د سهار په سنتو کې هم قیام (ولاړه) شرط او فرض ده، په دې شرط چې په قیام او سجده کولو باندي قادر وي، لهذا که څوک په ولاړېدو باندي قدرت نه لري، یا د هغه قدرت لري، لېکن په سجده کولو باندي قدرت نه لري، مثلاً د مرض یا د بوډا والي په وجه په قیام یا سجده باندي قادر نه وي، نو دا فرضي او واجب لمنځونه په ناسته کول جائز دي، له دوی څخه بغیر نور په سنتو او په نفلو کې قیام فرض نه ده، هغوی بېله عذره هم په ناسته کول جائز دي، لېکن ثواب نیم ورته حاصلیږي.

قرائت (په لمانځه کې قرآن شریف لوستل)

﴿۲۹۰﴾ وَالْقِرَاءَةُ وَلَوْ آيَةً (۱۵) او (ضروري ده ارکن ده د لمانځه د صحت لپاره) قرائت کول (قرآن لوستل) که څه هم یو آیت وي فِيْ رَكْعَتَيِ الْفَرْضِ وَكُلِّ النَّفْلِ وَالْوِتْرِ د فرضو په دوو رکعتونو کې او د نفلو او وترو په ټولو رکعتونو کې.

تشریح: قرائت یعني قرآن شریف لوستل د فرضي لمنځونو صرف په دوو رکعتونو او د سنتو او نفلو او وترو په ټولو رکعتونو کې فرض دي، څومره مقدار فرض دی؟ نو فرمایي چې د یوه آیت وېل فرض دي، برابره ده لوی وي او که کوچنی وي، خو شرط دا دی چې لږ تر لږه له دوو لفظونو څخه به مرکب وي لکه ﴿ثُمَّ نَظَرَ﴾ او که صرف یو لفظ وي لکه ﴿مُدْهَامَّتَانِ﴾ یا صرف یو حرف وي لکه ﴿صٓ﴾، ﴿قٓ﴾ یا دوه حرفه وي لکه ﴿حٰمٓ﴾ یا څو حروف مقطعات وي لکه ﴿كٓهٰيٰعٓصٓ﴾، نو په دې کې د مشایخو اختلاف دی، اصح دا ده چې لمونځ نه صحیح کیږي. (شفاء الارواح)

﴿۲۹۱﴾ وَلَمْ يَتَعَيَّنْ شَيْءٌ مِّنَ الْقُرْآنِ لِصِحَّةِ الصَّلٰوةِ او متعین (تاکل شوی) نه دی یو شی (یو سورت یا یو آیت) له قرآن څخه لمانځه د صحیح کېدلو لپاره.

تشریح: مسئله دا ده چې د لمانځه د صحیح کېدلو لپاره له قرآن کریم څخه یو متعین آیت، یا یو متعین سورت وېل ضروري نه دي، بلکي کوم ځای چې ورته آسانه وي، هغه دې پکښې وایي، خو

سورة الفاتحة (الحمد لله) د فرضو په اولو دوو رکعتو کي او د نفلو او وترو په ټولو رکعتو کي د وجوب په توګه متعیّنه ده، نه د فرض په توګه. (شفاء الارواح)

﴿۲۹۲﴾ وَلَا يَقْرَأُ الْمُؤْتَمُّ او مقتدي به قرائت نه کوي بَلْ يَسْتَمِعُ وَيُنْصِتُ بلکي (دامام د قرائت) اورېدل به کوي او چپ (خاموشه) به پاتېږي وَإِنْ قَرَأَ او که قرائت وکړي (قرآن ولوستي) كُرِهَ تَحْرِيْمًا نو مکروه تحریمي دي.

لغات: ﴿مؤتم﴾ د افتعال له بابه اسم فاعل دی، مصدر یې ائتمامٌ دی معنیٰ یې ده: اقتداء کول او مؤتم په اصل کي مُؤتَمِمٌ وو، دوه میمه په یوه کلمه کي سره جمع سوه، یو یې په بل کي پټ (مدغم) کړی، مؤتمٌ سو، ﴿یستمع﴾ د استفعال د باب مضارع ده: اورېدل، وړنا ته غوږ نیول، ﴿ینصت﴾ د افعال د باب مضارع ده، أَنْصَتَ يُنْصِتُ إِنْصَاتًا: دیو شي اورېدلو لپاره چپ کېدل (چپ چاپ اورېدل)، په غور او توجّه سره اورېدل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي مقتدي به دامام شاته په هیڅ لمانځه کي هم قرائت نه کوي، نه به سورة الفاتحه وایي او نه بل سورت، نه په جهري لمانځه کي او نه په سرّي لمانځه کي؛ ځکه د الله تعالیٰ فرمان دی: ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا﴾ (یعني کله چي قرآن ویل کېږي، نو تاسي هغه په غور او توجّه سره اورئ او چپ اوسئ!)، په دې آیت کي په ښکاره توګه د قرائت خلف الامام منع سوې ده، نو ځکه جائز نه دی، او دامام قرائت د مقتدي لپاره کافي دی، لهذا که مقتدي قرائت کوي، نو د مکروه تحریمي مرتکب به وي.

رکوع کول او د فرض رکوع حدّ

﴿۲۹۳﴾ وَالرُّكُوْعُ (۱۶) او (رکن ده دلمانځه د صحت لپاره) رکوع کول.

تشریح: دلمانځه د صحت له شرطونو څخه یو شرط کوم چي رکن دی هغه رکوع کول دي، رکوع په هر رکعت کي یو وار کول شرط او فرض دي او د فرض رکوع حدّ دا دی چي سړی دومره کوږ سي چي د هغه سر د بدن د نیمایي په برابرۍ کي راسي (دبدن د نصف په برابر کي راسي)، که یو څوک په رکوع کي له دې څخه کم کوږ سي، نو دې ته به کتل کېږي چي هغه په دې کږېدلو کي قیام (ولاړې) ته زیات نژدې دی، یا د کاملي رکوع وحالت ته زیات نژدی دی، که د رکوع حالت ته زیات نژدې وي، نو د هغه دا رکوع صحیح کېږي او که د قیام حالت نژدې وي، نو رکوع یې معتبره نه ده. (منیة. حلبی کبیر ص:۲۸۰)

یادونه: ډېر خلک د تلوار او تېزي په وجه ناقصه رکوع کوي چې هغه لره اعتبار نشته، دوی باید پورتنۍ مسئله په پام کې وساتي.

سجده کول

﴿۲۹۳﴾ وَالسُّجُوْدُ عَلٰى مَايَجِدُ حَجْمَهٗ وَتَسْتَقِرُّعَلَيْهِ جَبْهَتُهٗ (۱۷) او سجده کول، پر داسې شي چې ومومندي د هغه شي کلکوالي او چې کراریږي (دریږي) پر هغه شي د ده تندی (یعنې پر داسې شي سجده کول کوم چې کلک او سخت وي چې د لمونځ گزار تندی پر هغه قرار نیسي. نرم او پوست به نه وي چې تندی پکښې ننوځي) وَلَوْعَلٰى كَفِّهٖ أَوْ طَرَفِ ثَوْبِهٖ که څه هم پر خپل ورغوي وي یا د خپلې جامې (کپړې) پر یو طرف (څنډه) باندې وي إِنْ طَهُرَمَحَلُّ وَضْعِهٖ که چیرې د هغه د ایښوولو ځای پاک وي (یعنې په دې شرط چې د سجدې ځای به پاک وي).

لغات: ﴿حَجْم﴾ مقدار، غتوالی، پرېړوالی، کلکوالی او سختوالی. ﴿جبهة﴾ تندی، جمع: جِبَاهٌ و جَبَهَاتٌ. یجد: د ضمیر مرجع ساجد دی، کفه، ثوبه: دواړه ضمیرونه ساجد ته راجع دي. وضعه أی الكف أو الطرف. ﴿طَرَف﴾ (بفتح الطاء والراء): طرف، ژۍ (کناره، څنډه)، د یو شي انتها (آخري سر).

تشریح: فرمایي چې سجده کول هم رکن او فرض دي، او د سجدې د صحت لپاره دا شرط دی چې سجده به پر داسې ځای وي کوم چې کلک وي او پر هغه تندی قرار نیسي، همدا وجه ده که پر وانبو یا پمبې یا داسې بل شي باندې سجده وکړي، نو نه صحیح کیږي، لېکن که پر څمکه خپل لاس کښېږدي او د هغه پر ورغوري سجده وکړي، نو صحیح کیږي، همدارنگه که د خپلې جامې پر یو طرف سجده وکړي، نو هم سجده اداء کیږي، په دې شرط چې د سجدې ځای پاک وي.

❀ ❀ ❀

د غلې پر گونۍ سجده کول

مسئله (۱): که پر داسې گونۍ (بورۍ) سجده وکړي چې په هغه کې غنم، وریجې یا داسې بل شی پکښې اچول سوي او پوره پکښې تخته کړل سوي وي، نو څه حرج نشته؛ ځکه په داسې گونۍ کې د غلې د تخته کېدلو او محدود کېدلو په وجه سر په هغه باندې قرار نیسي. (طحطاوي ص: ۱۲۶. کتاب المسائل ص: ۲۹۱)

مسئله (۲): که واوره سره تخته نه کړل سي یعنې نه کښېکاږل سي او دومره نرمه وي چې د سجدې پر مهال د لمونځ گزار مخ په ننوځي او د تندي ایښوولو پر مهال یې کلکوالی نه محسوسیږي، نو پر

داسي واوره سجده جائز نه ده، او که واوره دومره سره تخته او کېښکارل سي چي نور نه تخته کېږي او کلکوالی یې محسوسیږي او مخ نه په ننوځي، نو بیا سجده جائز ده.

همدا حکم د وښو دی، هغه که وچ وابښه وي، که لانده وي، نو که څوک پر ځمکه وابښه واچوي او دومره یې تخته کړي چي نور نه تخته کېږي، نو سجده باندي جائز ده. کنې جائز نه ده، لنډه دا چي د داسي شیانو په هکله اصل قاعده دا ده چي دومره به سره تخته کول کېږي (کېښکېل کېږي) چي بالکل له نورو تخته کېدو او کېښکېل کېدو څخه ووځي او په پوره توګه سختي او کلکوالی پکښي پیدا سي. (فتح المصلی)

په سجده کي د تندي او پزي د اېښوولو حکم

﴿۲۹۵﴾ وَسَجَدَ وُجُوْبًا بِمَا صَلُبَ مِنْ أَنْفِهٖ وَبِجَبْهَتِهٖ او سجده به کوي د وجوب (واجب کېدو په توګه د خپلي پزي پر سخته (کلکه) حصه او پر خپل تندي (یعني په سجده کي د دواړو لګول واجب دي) وَلَا يَصِحُّ الْاِقْتِصَارُ عَلَى الْأَنْفِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ بِالْجَبْهَةِ او صرف په پزه باندي اکتفا کول صحیح نه دي مګر په تندي کي د یو عذر په وجه (مثلا تندی یې زخمي وي، دانه ورباندي ختلې وي، نو بیا صرف په پزه باندي اکتفا کول صحیح دي).

لغات: ﴿صلُب﴾ د کرُم د باب ماضي ده، صَلَابَةٌ: سختېدل، کلکېدل، ﴿أنف﴾ پزه، جمع أُنُوْفٌ.

تشریح: فرمایي چي د سجدې د ثبوت لپاره دا خبره ضروري ده چي تندی او د پزي هډوکی پر ځمکه ولګېږي (تندی او پزه لګول فرض دي)، تر دې وروسته یې صرف پر پزه د سجدې کولو مسئله بیان کړې ده، نو که څوک په سجده کي صرف پزه پر ځمکه کېښېږدي او تندی نه کېښېږدي، نو هم د هغه سجده کېږي، په دې شرط چي د پزي هډوکی پر ځمکه لګېدلی وي، خو صرف په پزه باندي اکتفا کول بېله عذره مکروه تحریمي دي او که یوازي د پزي نرمه حصه د ځمکي سره ولګوي، نو سجده یې معتبر نه ده.

❀ ❀ ❀

صرف پر تندي سجده کول

مسئله (۱): که څوک صرف پر تندي سجده وکړي او پزه پر ځمکه نه ولګوي، نو هم د هغه سجده اداء کېږي، لیکن بېله عذره داسي کول مکروه دي. (بدائع الصنائع ج:۱، ص:۲۸۳، حلبي کبیر ص:۲۸۲، کتاب المسائل ص:۲۸۹)

صرف پر زنه یا بارخوگانو سجده کول

مسئله (۲): که یو څوک په سجده کې د تندي یا پزي پر ځای خپل زنه یا بارخوگان پر ځمکه ولګوي، نو سجده نه اداء کیږي، که څه هم دا عمل د عذر په وجه وي. (حلبي کبیر ص: ۲۸۳. الجوهرة النیرة ج: ۱. ص: ۴۲. کتاب المسائل ص: ۲۸۵)

﴿۲۹۶﴾ وَعَدَمُ ارْتِفَاعِ مَحَلِّ السُّجُوْدِ عَنْ مَوْضِعِ الْقَدَمَيْنِ بِأَكْثَرَ مِنْ نِصْفِ ذِرَاعٍ (۱۸) او (شرط دي د لمانځه د صحت لپاره) د سجدې د ځای نه لوړېدل د دواړو پښو له ځای څخه زیات تر نیم گز (یعني دا شرط او ضروري ده چې د سجدې ځای به د پښو له ځای څخه تر نیم شرعي گز زیات پورته نه وي) وَإِنْ زَادَ عَلٰى نِصْفِ ذِرَاعٍ او که تر نیم گز زیات سي لَمْ يَجُزِ السُّجُوْدُ نو (بیا) سجده نه جائز کیږي إِلَّا لِزَحْمَةٍ سَجَدَ فِيْهَا عَلٰى ظَهْرِ مُصَلٍّ صَلٰوتَهُ مگر د گڼې گوڼي (رش) په وجه چې په هغه کې سجده وکړي د داسي کس پر شا کوم چې هم د ده لمونځ کوونکی وي (یعني کوم لمونځ چې سجدلونکی کونکي کوي، هغه کس هم هاغه لمونځ کوي، مثلاً دواړه د ماپښین لمونځ کوي، نو په داسي صورت کې د زیاتي تنگی او گڼي گوڼي په وجه د هغه پر شا سجده جائز ده).

لغات: ﴿زحمة﴾ د فتح د باب مصدر دی: ازدحام کېدل (گڼه گوڼه کېدل)، په تنگ ځای کې د خلگو تدافع او سره تنگېدل، مراد څني د لمونځ گزارانو گڼه گوڼه او تنگوالی دی.

تشریح: د لمانځه له شرائطو څخه یو شرط دا دی چې د لمونځ گزار د سجدې ځای به د پښو له ځای څخه نیم شرعي گز یعني یوه لوېشت زیات لوړ نه وي، که تر دې زیات لوړ وي، نو بېله عذره سجده نه جائز کیږي، خو که څه عذر وي، مثلاً خلگ زیات وي او ځای تنگ وي چې د هغه په وجه د یو چا پر ملا سجده وکړي، نو جائز دي، په دې شرط چې د کوم چا پر ملا یې سجده کړې وي، هغه هم هاغه لمونځ کوي کوم لمونځ چې سجده کونکی کوي، یعني د دواړو لمونځ به یو وي، که له دې دواړو څخه یو شرط موجود نه سي، نو پر ملا سجده کول نه صحیح کیږي. (شفاء الارواح بحوالة حاشیه)

﴿۲۹۷﴾ وَوَضْعُ الْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ فِي الصَّحِيْحِ (۱۹) او د دواړو لاسونو او زنگنو اېښوول (په سجده کې) د صحیح روایت مطابق وَوَضْعُ شَيْءٍ مِنْ أَصَابِعِ الرِّجْلَيْنِ حَالَةَ السُّجُوْدِ عَلَى الْأَرْضِ (۲۰) او (شرط دي) د دواړو پښو له گوتو څخه څه گوتي پر ځمکه اېښوول د سجدې په حالت کې وَلَا يَكْفِيْ وَضْعُ ظَاهِرِ الْقَدَمِ او کافي نه دي (د سجدې د صحت لپاره) د پښې ښکاره حصه (شا) اېښوول (ترڅو چې گوتې پر ځمکه نه ولگي).

تشريح: په سجده کي دواړه لاسونه او دواړه زنګونان ايښوول سنت دي، نو دلته مراد يو لاس او يوه پښه ايښوول دي (چي يو لاس او يوه پښه لګول شرط او ضروري دي)؛ ځکه د سجدې حقيقت دا دی چي لږ تر لږه تندی، يو لاس، يو زنګون او د يوې پښې څه ګوتي پر ځمکه کښېږدي. لهذا که څوک صرف پر يوه پښه بېله عذره سجده وکړي، نو د کراهت سره جائز دي. (شفاء الارواح بحواله طحطاوي و عمدة الفقه)

ووضع شيء الخ: د سجدې په حالت کي کم از کم د پښې يوه ګوته پر ځمکه ايښوول شرط او فرض دي، ځکه په سجده کي پښه هغه وخت ايښوول کيږي کله چي يې ګوتي ولګول سي (او په سجده کي د ګوتي نس لګول کيږي يعني چي ګوتي د قبلې وطرف ته ورېچل سي؛ ځکه همداسي پر ځمکه لګيږي)، او د پښې چي کوم ظاهري حصه ده، صرف هغه ايښوول کافي نه دي؛ ځکه اوس مو ذکر کړه چي په سجده کي پښه همغه وخت لګيږي کله چي يې ګوتي ولګول سي (يا په بله وينا: له پښې ايښوولو څخه مراد همدا د پښې ګوتي ايښوول دي)، که څه هم يوه ګوته وي، لهذا که لمونځ ګزار په سجده کي د يوې پښې يوه ګوته هم پر ځمکه نه ولګوي، نو سجده نه کيږي. (عون الفتاح بحوالة امداد الفتاح. شفاء الارواح)

او علامه شامي رَحِمَهُ الله فرمايلي دي چي "د سجدې په حالت کي د پښې (قدم) د ايښوولو په باره کې درې قوله نقل سوي دي: ① يو دا چي دا فرض دي، ② واجب دي، ③ سنت دي، او له پښې ايښوولو څخه مراد د ګوتو ايښوول دي که څه هم يوه ګوته وي، او زمو د مذهب په کتابو کي اول قول اختيار کړی سوی دی چي پښه ايښوول (يعني کم از کم يوه ګوته يې ايښوول) فرض دي". (عون الفتاح بحوالة فتاوى شامي ج: ۲، ص: ۲۵۸)

﴿۲۹۸﴾ وَتَقْدِيْمُ الرُّكُوْعِ عَلَى السُّجُوْدِ (۲۱) او (شرط دي) رکوع پر سجده مخکي کول.

تشريح: يعني د لمانځه په ارکانو کي د ترتيب رعايت کول هم شرط او فرض دي، نو رکوع له سجدې څخه مخکي کول فرض دي، لهذا که اول سجده وکړي، بيا رکوع وکړي، نو دغه سجدې لره هيڅ اعتبار نسته، بلکي تر رکوع وروسته دي بيا سجده راوګرځوي، د دې لپاره چي د دوی تر مينځ کوم ترتيب فرض وي، هغه ادا سي او لمونځ صحيح سي، او پر دا سي کس سجدهٔ سهو واجبيږي، او که سجده نه راوګرځوي، نو لمونځ يې فاسديږي.

د جلسي بيان

﴿۲۹۹﴾ وَالرَّفْعُ مِنَ السُّجُوْدِ إِلَى قُرْبِ الْقُعُوْدِ عَلَى الْأَصَحِّ (۲۲) او له سجدې څخه ناستي ته ترنژدې پوري پورته کېدل، د صحيح ترين قول مطابق (يعني له اولي سجدې څخه دومره را پورته کېدل چي ناستي ته نژدې سي، دا هم شرط دي).

تشریح: د اصح مذهب مطابق له اولي سجدې څخه وروسته دومره را پورته کېدل شرط او فرض دي چې ناستې ته نژدې سي، که دومره هم را پورته نه سي، نو لمونځ يې نه کيږي، او واجب دا دي چې له سر راپورته کولو څخه وروسته په اطمينان سره سيده کښېني، بيا بلې سجدې ته ولاړ سي، که داسې نه وکړي، نو لمونځ مکروه تحريمي ګرځي.

د "على الأصح" په قيد سره له غيرِ أصح قول څخه احتراز سوی دی کوم چې د بعضي فقهاؤ قول دی او هغه دا دی چې که صرف تندی هم له ځمکې څخه را پورته کړي او بيا سمدستي دويمې سجدې ته ولاړ سي، نو هم لمونځ کيږي. (شفاء الارواح بحوالهٔ طحطاوي)

﴿۳۰۰﴾ وَالْعَوْدُ إِلَى السُّجُوْدِ (۲۳) او (شرط دي) دويمې سجدې ته واپس ګرځېدل (يعني دويمه سجده کول هم فرض دي).

تشریح: او دويمې سجدې ته ګرځېدل يعني دويمه سجده کول هم شرط او فرض دي، لکه څرنګه چې اوله سجده کول فرض دي، يعني په هر رکعت کې دوې سجدې فرض دي. (انوار الايضاح بحوالهٔ مراقی الفلاح ص: ۱۲۷، عالمګيري ج: ۱ ص: ۷۰)

﴿۳۰۱﴾ وَالْقُعُوْدُ الْأَخِيْرُ قَدْرَ التَّشَهُّدِ (۲۴) او آخره ناسته کول د تشهد په اندازه.

تشریح: يعني د رکعتونو له پوره کولو څخه وروسته د تشهد ويلو په اندازه کښېنستل هم شرط او فرض دي، يعني دومره مقدار چې په هغه کې له التحيات څخه تر عبدهٗ و رسولهٗ پورې ويل ممکن وي او تشهد (التحيات) ويل فرض نه دي. (شفاء الارواح)

﴿۳۰۲﴾ وَتَأْخِيْرُهٗ عَنِ الْأَرْكَانِ (۲۵) او آخره ناسته له (ټولو) ارکانو څخه وروسته کول.

تشریح: فرمايي چې آخره ناسته (قعدهٔ اخيره) له ټولو ارکانو څخه وروسته کول شرط او ضروري دي، يعني د لمانځه آخر د هغه موقع او محل دی، لهذا که له يو چا څخه مثلاً سجده پاته سي او تر آخرې ناستې وروسته ورپه ياد سي، نو هغه دي اداء کړي او آخره ناسته دي را وګرځوي او سجدهٔ سهو دي هم وکړي، که چيرې تر سجدې وروسته آخره ناسته نه را وګرځوي، نو لمونځ فاسديږي. (شفاء الارواح)

د ويښوالي په حالت کې د لمانځه ارکان اداء کول

﴿۳۰۳﴾ وَأَدَاؤُهَا مُسْتَيْقِظًا (۲۶) او ارکان د ويښوالي (بيدار والي) په حالت کې اداء کول.

تشریح: رکوع، سجده او داسې نور ارکان د ويښوالي په حالت کې اداء کول هم شرط دي، نو د خوب په حالت کې اداء سوي ارکان معتبر نه دي، لهذا که د رکوع يا د سجدې په شروع کې ويښ وي، بيا د

رکوع یا د سجدې په حالت کې یا مثلاً په آخره ناسته کې بیده سي، نو هغه لره اعتبار نسته. له نوي سره دې د بیدارۍ په حالت کې هغه اداء کړي او په آخر کې دې سجده سهو هم وکړي. (در مختار مع الشامي ج: ۲، ص: ۱۲۵، ۱۲۶، کتاب المسائل ص: ۲۹۲)

❀ ❀ ❀

مسئله: که رکوع یا سجدې ته د تللو په وخت کې ویښ وي، بیا بیده سي او وروسته بیا د ویښوالي په حالت کې سر راپورته کړي، نو لمونځ یې صحیح کېږي؛ ځکه په خپل اختیار سره رکوع او سجدې ته په تللو او راپورته کېدلو سره اصل فرض اداء سو. (عالمګیري ج: ۱، ص: ۷۰، کتاب المسائل ص: ۲۹۲)

﴿۳۰۳﴾ وَ مَعْرِفَةُ كَيْفِيَّةِ الصَّلٰوةِ (۲۷) او (شرط دي) پېژندل د لمانځه د کیفیت (او طریقې) وَ مَافِيْهَا مِنَ الْخِصَالِ الْمَفْرُوْضَةِ عَلٰى وَجْهٍ يُمَيِّزُهَا مِنَ الْخِصَالِ الْمَسْنُوْنَةِ او (پېژندل) د هغه صفاتو (شیانو) کوم چې په لمانځه کې فرض دي په داسي توګه (پېژندل) چې هغوی له سنت صفاتو څخه جلا کولای سي (یعني د لمانځه طریقه او په لمانځه کې چې کوم فرض خصلتونه دي. هغوی داسي پېژندل المونځ ګزار ته معلومېدل چې له سنت خصلتونو څخه یې جلا کولای سي) أَوِ اعْتِقَادُ أَنَّهَا فَرْضٌ یادا عقیده (یقین) لرل چې دا (خصلتونه یا لمنځونه ټول) فرض دي حَتّٰى لَا يَتَنَفَّلَ بِمَفْرُوْضٍ د دې لپاره چې د نفلو په نیت سره فرض شی اداء نه کړي.

لغات: ﴿خصال﴾ جمع د خَصْلَةٌ ده: خوی، عادت، صفت.

تشریح: ① ... د دې عبارت یو مطلب دا دی چې د لمانځه کیفیت (څرنګوالی) او صفات پېژندل شرط او ضروري دي، یعني په لمانځه کې کوم شی فرض دی او کوم شی سنت دی؟، دا ټول شیان به جلا، جلا ورته معلوم وي؛ ځکه که د فرض او سنت ترمینځ تمییز نه سي کولای یعني هر یو جلا، جلا ورته معلوم نه وي، نو کېدلای سي چې کوم شی فرض وي، هغه د سنت په نیت سره اداء کړي او فرض د سنت په نیت سره اداء کول صحیح نه دي. او که دا ورته معلومه نه وي، نو کم از کم دا اعتقاد (عقیده) ساتل فرض دي چې څومره شیان چې په لمانځه کې دي، ټول فرض دي، نو اوس به هیڅ فرض شی د نفلو او سنتو په نیت سره نه اداء کېږي، ها! نفل او سنت شی به د فرضو په نیت سره اداء کېږي او په دې کې څه قباحت نسته.

① ... لېکن د مصنف رَحِمَهُ الله مراد دا پورتنی مطلب بیانول نه دي، بلکي په امداد الفتاح کې چې یې کوم مطلب بیان کړی دی، هغه دا دی چې (خودې) د لمانځه کیفیت پېژندل شرط او فرض دي. یعني

کوم لمنځونه چي فرض یا نفل (سنت) دي، هغوی به ورته معلوم وي او هغوی فرض یا نفل ګڼل. مثلاً د سهار د څلورو رکعتو په باره کي دا پېژندل چي په دوی کي دوه رکعته فرض دي او دوه رکعته سنت دي، دا تفصیل به په لمانځه کي ورته معلوم وي؛ ځکه که دا تفصیل هم ورته معلوم نه وي، نو کېدلای سي چي په فرضو کي د نفلو (سنتو) نیت وکړي او فرض د نفلو په نیت سره نه صحیح کیږي. او که دا تفصیل ورته معلوم نه وي، نو کم از کم دا اعتقاد ساتل شرط دي چي هر لمونځ فرض دی یعني هر لمونځ به فرض ګڼي، نو په دې صورت کي به هیڅ فرض د نفلو په نیت سره اداء کول نه لازمیږي، خو صرف به نفل د فرضو په نیت سره اداء کول لازمیږي. او په دې کي هیڅ قباحت نسته. (شفاء الارواح)

﴿۲۰۵﴾ وَالْأَرْكَانُ مِنَ الْمَذْكُوْرَاتِ أَرْبَعَةٌ او ارکان له ذکر سوو (اووه ویشت) شیانو څخه څلور دي اَلْقِيَامُ وَالْقِرَاءَةُ وَالرُّكُوْعُ وَالسُّجُوْدُ (۱) ولاړه (۲) قرائت (په لمانځه کي قرآن لوستل) (۳) رکوع (۴) او سجده وَقِيْلَ: اَلْقُعُوْدُ الْأَخِيْرُ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ او ویل سوي دي: چي آخره ناسته د تشهد په اندازه (هم رکن ده) وَبَاقِيْهَا شَرَائِطُ او پاته (نور) شرطونه دي بَعْضُهَا شَرْطٌ لِصِحَّةِ الشُّرُوْعِ فِي الصَّلٰوةِ بعضي د دوی د لمانځه د شروع د صحیح والي لپاره شرط دي (چي له دوی څخه بغیر په لمونځ شروع کول نه صحیح کیږي) وَهُوَ مَا كَانَ خَارِجَهَا او دا (شرطونه) هغه دي کوم چي د لمانځه څخه بهر دي وَغَيْرُهٗ شَرْطٌ لِدَوَامِ صِحَّتِهَا او له دوی څخه بغیر نور (شرطونه) د لمانځه د صحیح والي د باقي ساتلو لپاره شرط دي (چي که هغوی وي. نو لمونځ تر آخره صحیح پاتیږي، کنې ماتیږي).

تشریح: یعني کوم اوویشت (۲۷) شرائط او فرائض چي اوس بیان سول، په هغوی کي ارکان صرف څلور دي او بعضو قعدهٔ اخیره (آخره ناسته) په ارکانو کي شمېرلې ده. له دوی څخه بغیر نور ټوله شرائط دي، څه شرطونه داسي دي چي له هغوی څخه بغیر د لمونځ شروع کرد سره نه صحیح کیږي او هغوی له لمانځه څخه بهر (دباندي) شرطونه دي لکه؛ د بدن پاکوالی. د عوت پټول. مخ پر قبله کېدل او داسي نور. دغه داسي شرطونه دي چي تر څو تر سره سوي نه وي، د لمانځه شروع کول نه صحیح کیږي، او څه شرطونه بیا داسي دي چي هغوی د لمانځه د صحت باقي پاتېدلو لپاره شرط دي، یا په بله وینا چي په هغوی سره د لمانځه صحت باقي پاتیږي لکه: رکوع تر قرائت وروسته کول. سجده تر رکوع وروسته کول او ارکان د ویښوالي په حالت کي اداء کول. دغه داسي شیان دي کوم چي د لمانځه د صحت باقي ساتلو لپاره شرط دي.

⁂

فَصْلٌ (فِیْ لَوَاحِقِهَا)

(دا) فصل د لمانځه د شرائطو د متعلقاتو (په بیان کي) دي

تشریح: په مراقی الفلاح کي مذکوره عبارت داسي نقل سوی دی: فَصْلٌ فِیْ مُتَعَلِّقَاتِ الشُّرُوْطِ وَفُرُوْعِهَا.

پر داسي کراسته، فرش یا پر داسي بل پنډ شي لمونځ کول چي یو مخ یې مردار وي؟

﴿۳۰۶﴾ تَجُوْزُ الصَّلٰوةُ عَلٰی لَبِدٍ جائز دی لمونځ کول پر داسي کراسته (وغیرها) وَجْهُهُ الْأَعْلٰی طَاهِرٌ وَالْأَسْفَلُ نَجِسٌ چي لوړ (پاسنی) مخ د کراستي پاک وي او لاندي مخ مردار وي.

لغات: ﴿لِبِد﴾ او لَبَد: هغه فرش یا پنډ ټوکر چي د وړیو تر بنه ټکولو او تخته کولو وروسته له وړیو څخه جوړ سوی وي لکه کراسته، نیمڅی، لمڅه، نمله جمع: اللُّبُوْد.. او بعضي ویلي دي چي هر داسي پنډ کلک شی او فرش څني مراد دی چي په مینځ کي دوه ځایه کېدلای (پرېکېدلای سي) یعني چي دومره پنډ وي چي د پاک مخ او مردار مخ په مینځ کي یې غچي یا آره یا داسي بل شی تېرېدلای سي او دوه ځایه کېدلای سي، لکه پنډ فرش، پنډه تخته، خبتي (د خښتو فرش) او داسي نور. او که دومره پنډ نه وي، نو پر پاک مخ یې لمونځ نه جائز کیږي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که د کراستي یا د یو بل فرش پر یوه مخ (پر یوې خوا) نجاست ولګیږي او لمونځ کونکی د کراستي یا فرش هغه مخ (هغه خوا) واړوي او پر پاک مخ یې لمونځ وکړي، نو د هغه لمونځ جائز دی، په دې شرط چي کراسته او فرش دومره پنډ وي چي د پاک مخ او مردار مخ په مینځ کي یې غچي تېرېدلای سي او له مینځ څخه دوه ځایه کېدلای سي. همدا حکم د هر هغه کلک پنډ شی دی کوم چي په مینځ کې آره کېدلای یا ماتېدلای سي او له مینځ څخه دوه ځایه کېدلای سي، لکه پنډ لرګی، خښته، د ژرندي ډبره، د دروازې تخته، چي که یوه خوا یې ناپاکه وي او بله خوا یې پاکه وي، نو پر هغه لمونځ صحیح کیږي. (مأخوذ از انوار الایضاح. شفاء الارواح. فتح المصلي)

(په کراسته او فرش کي مذکوره قول د امام محمد رحمه الله دی. لیکن د امام ابو یوسف رحمه الله په نیز تر هغه وخته پوري پر داسي کراسته او فرش لمونځ نه صحیح کیږي. تر څو چي کټ نه کړل سي. یعني پاک مخ یې پر مردار نه واړول سي. چي د دوه غبرګي جلمې په څېر وګرځي. او د دوه غبرګي جلمې پر پاک غبرګ لمونځ کول صحیح دي (فتح المصلي)).

پر داسي استرداره (ذوه غبرګي) کپړه لمونځ کول چي استر يې مردار وي؟

﴿٣٠٧﴾ وَعَلٰى ثَوْبٍ طَاهِرٍ وَبِطَانَتُهُ نَجِسَةٌ او (جائز دي لمونځ کول) پر داسي کپړه (جامه) کوم چي پاکه وي او استر يې مردار وي إِذَا كَانَ غَيْرَ مُضَرَّبٍ کله چي استر ور سره ګنډل سوی نه وي.

لغات: ﴿بِطَانَة﴾ هغه توکر يا څرمن چي تر جامې يا څرمني لاندي ګنډل سووي وي، استر، د دوه غبرګي جامي لاندي غبرګ، جمع: بَطَائِن، ﴿غير مضرّب﴾ مطلب يې دا دی چي کپړه او استر (يا په بله وينا دوه غبرګې جامه) په مينځ کي سره ګنډل سوي نه وي، صرف څلور سره طرفونه (سرونه) يې ګنډل سوي وي، او که دواړه په مينځ او اطرافو ټولو کي سره ګنډل سوي وي، نو هغه مُضرّب ده.

تشريح: فرمايي چي هغه کپړه چي تر هغه لاندي استر (بله کپړه) لګول سوې وي او پاسنی حصه (پاسنی کپړه) يې پاکه وي، نو پر دې پاکه حصه يې لمونځ کول صحيح دي، په دې شرط چي استر د پاسنی کپړې سره ګنډل سوی نه وي يعني داسي وي لکه دوې کپړې چي يوه پر بلې اچول سوي وي (صرف طرفونه او سرونه يې سره ګنډل سوي وي)، همدا ډول مُصَلّٰه (جاى نماز) يا څادر که دوه غبرګی وي او د هغه د پاسه غبرګ (پاسنی کپړه) پاکه وي او لاندينی غبرګ يې ناک وي او دواړه په خپل مينځ کي سره ګنډل سوي نه وي (صرف طرفونه يې سره ګنډل سوي وي)، نو پر هغه هم لمونځ جائز دی (او د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله په نيز جائز نه دی او احتياط په همدې کي دی اعمدة الفقه ا)

پر داسي کپړه، فرش وغيره لمونځ کول چي يو سر يې مردار وي؟

﴿٣٠٨﴾ وَعَلٰى طَرَفٍ طَاهِرٍ او (جائز دی لمونځ کول د فرش او داسي نورو) پر پاک طرف وَإِنْ تَحَرَّكَ الطَّرَفُ النَّجِسُ بِحَرَكَتِهِ که څه هم مردار طرف (يې) د پاک طرف په ښورولو سره ښوروري عَلَى الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق.

لغات: ﴿طَرَف﴾ (بفتح الطاء والراء): طرف، ژی (کناره)، د يو شي انتها (آخري سر).

تشريح: يعني داسي فرش، سترنجي، چټايي، يا اوږده مسله چي يو طرف (يو سر) يې مردار وي او بل طرف (بل سر) يې پاک وي او لمونځ ګزار له مردار طرف څخه را دې خوا ته پر پاک طرف (پاک سر) ودريږي او لمونځ وکړي، نو د هغه لمونځ صحيح دی، برابره ده د هغه فرش، سترنجي وغيره د يو طرف په ښورولو هغه بل شرط ښوري، که نه، په هر صورت کي د هغه پر پاکي حصې لمونځ صحيح دی (او دا اربو د حوض په څېر يې حکم نه دی، ځکه شرط دا دی چي د لمانځه ځای به پاک وي. د نورو ځايو پاکوالی شرط نه دی).

د داسي لنګوټې او څادر حکم چي يو سر يې مردار وي

﴿۲۰۹﴾ وَلَوْتَنَجَّسَ أَحَدُ طَرَفَيْ عِمَامَتِهٖ او که مردار سي د ده (لمونځ ګزار) د لنګوټې يو طرف فَأَلْقَاهُ وَ أَبْقَى الطَّاهِرَ عَلٰى رَأْسِهٖ نو دئ هغه مردار طرف (پر ځمکه) ايله کړي او پاک طرف پر خپل سر پرېږدي وَلَمْ يَتَحَرَّكِ النَّجِسُ بِحَرَكَتِهٖ او مردار طرف نه ښورېږي د پاک طرف (يالمونځ ګزار) په ښورېدلو سره جَازَتْ صَلٰوتُهٗ نو د ده لمونځ جائز دی وَإِنْ تَحَرَّكَ او که (مردار طرف يې د پاک طرف په ښورولو سره) ښوروي لَاتَجُوْزُ نو لمونځ جائز نه دی.

تشريح: مسئله دا ده چي که د لنګوټې يا څادر (پټو) يو سر مردار وي او لمونځ ګزار هغه مردار سر لاندي پر ځمکه ايله کړي او پاک سر يې وتړي او لمونځ وکړي، نو لمونځ يې صحيح کيږي، په دې شرط چي رکوع يا سجدې ته د تللو په وخت کي د لنګوټې يا څادر ناپاک سر د لمونځ ګزار په حرکت سره حرکت نه کوي او نه ښوري بلکي بې حرکته پروت وي، او که د لمونځ ګزار په حرکت سره هغه ښوري، نو لمونځ نه يې صحيح کيږي. (شفاء الارواح)

﴿۲۱۰﴾ وَفَاقِدُ مَا يُزِيْلُ بِهِ النَّجَاسَةَ يُصَلِّيْ مَعَهَا او نه موندونکی (نه لرونکی) د داسي شي چي په هغه سره نجاست (مرداري) ليري کړل سي، هغه دي لمونځ وکړي د دې نجاست سره وَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ او پر هغه د لمونځ راګرځول نسته (يعني پر هغه واجب نه دي چي دالمونځ بيرته راوګرځوي).

لغات: ﴿فاقد﴾ د ضرب له بابه د فاعل صيغه ده، فَقَدَ يَفْقِدُ فَقْدًا وفُقْدَانًا: ورکول، معدوم کول، ورکېدل، معدوم کېدل (نيستېدل).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که له ناپاکه کپړې څخه بغير د لمونځ ګزار سره بله کپړه نه وي او داسي شی هم موجود نه وي چي په هغه سره نجاست ليري او صفا کړي، نو په هغه ناپاکه کپړه کي دي لمونځ وکړي، او په دې صورت کي که وروسته د نجاست زائلونکی شی مثلاً اوبه پيدا هم سي، نو هم پر هغه د لمانځه راګرځول ضروري نه دي، که څه هم د لمانځه وخت پاته وي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص،۱۲۹)

﴿۲۱۱﴾ وَلَا عَلٰى فَاقِدِ مَا يَسْتُرُ عَوْرَتَهٗ او نه پر هغه کس (د لمونځ راګرځول واجب دي) کوم چي نه موندونکی وی د داسي شي چي د ده عورت پټ کړي وَلَوْ حَرِيْرًا أَوْ حَشِيْشًا أَوْ طِيْنًا که څه

هم وربښم یا وانبه یا خاوره وي فَإِنْ وَجَدَهُ وَلَوْبِالْإِبَاحَةِ وَ رُبْعُهُ طَاهِرٌ نو که وموندي هغه شی که څه هم د مباح کولو (عاریت) په توګه وي (یعني دیو څه ګړي لپاره یې پو ښوک ورکړي) او د هغه څلورمه حصه پاکه وي لَا تَصِحُّ صَلوٰتُهُ عَارِيًا نو نه صحیح کیږي د ده لمونځ دلڅوالي په حالت کي وَ خُيِّرَ إِنْ طَهُرَ أَقَلُّ مِنْ رُبْعِهِ او اختیار ورکول سوی دی که د هغه شي له څلورمي څخه کمه حصه پاکه وي (یعني په داسي صورت کي ده ته اختیار دی چي که په هغه کپړه کي لمونځ کوي او که په لڅه لمونځ کوي) وَ صَلوٰتُهُ فِيْ ثَوْبٍ نَجِسِ الْكُلِّ أَحَبُّ مِنْ صَلوٰتِهِ عُرْيَانًا او د ده لمونځ کول په پوره مرداره کپړه کي (چي ټوله جامه مرداره وي) ډېر ښه دی د ده تر لمونځ کولو دلڅوالي په حالت کي (یعني په لڅ بدن سره تر لمونځ کولو دا ښه ده چي په مرداره جامه کي لمونځ وکړي. که څه هم هغه جامه ټوله مرداره وي).

لغات: ﴿حریر﴾ وربښم، ربښم (رېشم)، ﴿حشیش﴾ وانبه (په اصل کي وچو وښو او بوټو ته وایي).

مضرد: حشيشة. ﴿إباحة﴾ د افعال د باب مصدر دی. أَبَاحَ يُبِيحُ إِبَاحَةً: د دې باب څو معناوي دي: مباح کول (روا کول)، حلال ګرځول. اجازه ورکول دیو کار. فَيُقَالُ: أَبَاحَ الرَّجُلُ مَالَهُ، أی أَذِنَ فِي الْأَخْذِ وَالتَّرْكِ (معجم لغة الفقهاء. مصباح المنیر). ﴿عاری﴾ د سمع له بابه فاعل دی، مصدر عُرْيًا: لڅېدل (لڅ کېدل). برنډ کېدل. عُرْيَان: د صفت صیغه ده په معنیٰ سره د "لڅ"، "برنډ".

تشریح: مسئله دا ده چي که د کپړې د نشتوالي په صورت کي په لڅه لمونځ وکړي او وروسته هغه ته کپړه حاصله سي. نو دوباره لمونځ کول واجب نه دي، که څه هم د لمانځه وخت پاته وي.

ولوحریرًا: یعني که د لمونځ ګزار سره د عورت پټولو لپاره فقط وربښمي کپړه وي، نو هم په هغه وربښمي کپړې سره عورت پټول او لمونځ کول پر هغه لازم دي، په داسي صورت کي په لڅه لمونځ کول نه جائز کیږي؛ او که یې وکړي، نو لمونځ به راګرځوي؛ ځکه وربښمي جامه که څه هم د سړي لپاره حرامه ده، خو بیا هم په هغه کي په لمونځ کولو سره فرض اداء کیږي (عالمګیري ج:۱، ص:۵۹). همدارنګه که د عورت پټولو لپاره د درختو غټې پاڼي (بلګونه)، اخبار (ورځپاڼه)، پلستیک، یا سترنجي یا خته او داسي نور وي، نو هغه دي پر خپل عورت ولګوي او لمونځ دي پکښې وکړي. له هغه څخه بغیر په لڅه لمونځ کول نه جائز کیږي.

فإن وجد دالخ: یعني که لڅ انسان ته کپړه حاصله سي او د هغې څلورمه حصه یا تر دې زیاته پاکه وي، که څه هم هغه د څه ګړي لپاره امانتاً ورکول سوې وي، نو پر لمونځ ګزار په هغه کپړه کي لمونځ کول لازم دي، که په لڅه لمونځ وکړي، نو لمونځ یې نه صحیح کیږي، او که داسي کپړه ورته حاصله سي چي د هغې له څلورمي حصې څخه کمه حصه پاکه وي، نو ده ته اختیار دی چي که په کپړه کي لمونځ کوي او که په لڅه (د ناستي په حالت کي) لمونځ کوي.

وصلاته لی إلخ: یعني که کپړه ټوله ناپاکه (مرداره) وي. یا له څلورمي حصې څخه کمه پاکه وي، نو هغه ته اختیار دی لکه اوس چي ذکر سوه. لیکن افضل او غوره دا ده چي په هغه ناپاکه کپړه کي لمونځ وکړي؛ ځکه په لڅه د لمونځ کولو په مقابله کي په نجسه کپړه کي لمونځ کول افضل دي. (شفاء الارواح)

که د بعضي عورت د پټولو لپاره یو شی پیدا سي، نو څه حکم دی؟

﴿۲۱۲﴾ وَلَوْوَجَدَ مَايَسْتُرُبَعْضَ الْعَوْرَةِ او که وموندي څه داسي شی کوم چي د عورت بعضي (لږ) حصه پټولای سي وَجَبَ اِسْتِعْمَالُهٗ نو د هغه استعمال (اغوستل) واجب دي وَ يَسْتُرُالْقُبُلَ وَالدُّبُرَ او پټوي به (په هغه شي سره) د مخ او شا شرمګاه فَإِنْ لَمْ يَسْتُرْ إِلَّا أَحَدَهُمَا او که هغه شی نه سي پټولای مګر صرف یو د دوی (یعني یوازي دُبر یا قُبل پټولای سي) قِيْلَ: يَسْتُرُالدُّبُرَ نو ویل سوي دي: چي دُبُر دي پټه کړي (په هغه سره) وَقِيْلَ: الْقُبُلَ او ویل سوي دي (یعني بل قول دا دی): چي قُبُل (د مخ شرمګاه) دي پټه کړي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که د لڅ انسان سره صرف دومره کپړه وي چي په هغه سره ټوله عورت نه سي پټېدلای. بلکي د عورت بعضي حصه پټولای سي، نو پر لمونځ ګزار د هغه استعمالول واجب دي، په لڅه لمونځ کول جائز نه دي. لهذا تر ټولو مخکي دي په هغه کپړه سره د شا او د مخ شرمګاه پټه کړي او که صرف دومره کپړه وي چي په هغه سره صرف یا قُبل (د مخ شرمګاه) پټېدلای سي یا دُبر. یعني صرف یوه حصه پټولای سي، نو په دې کي اختلاف دی. بعضو ویلي دي چي په هغه سره دي دُبر پټه کړي؛ ځکه د رکوع او سجدې په حالت کي د هغه ښکاره کېدل زیات بد لګي. او بعضو ویلي دي چي په هغه کپړه سره دي قُبل پټه کړي؛ ځکه چي قُبل (د مخ شرمګاه) د قبلې و طرف ته وي او هیڅ اندام د هغه په مخ کي نه وي (دا اختلاف صرف په اولی کېدو او غیرِ اولی کېدو کي دی). (شفاء الارواح. بحوال طحطاوي)

لڅ کس به څنګه لمونځ کوي؟

﴿٢١٣﴾ وَنَدُبَ صَلوٰةُ الْعَارِیْ جَالِسًا بِالْإِيْمَاءِ او مستحب دي دلڅ کس (لپاره) لمونځ کول په ناستي په اشاره کولو سره مَادًّا رِجْلَيْهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ په داسي حال کي چي غوړلي يې وي خپل دواړي پښې د قبلې وطرف ته فَإِنْ صَلّٰى قَائِمًا بِالْإِيْمَاءِ نو که هغه په ولاړي په اشاره کولو سره لمونځ وکړي (يعني چي رکوع او سجده په اشاره سره کوي) أَوْ بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ يا په رکوع او سجده سره لمونځ وکړي صَحَّ نو (هم) صحيح دي.

لغات: ﴿مادًّا﴾ د نصر له بابه فاعل دی، د حال کېدلو پر بناء منصوب دی، مصدر يې مَدًّا دی: غوړول، غځول. ﴿الايماء﴾ د افعال د باب مصدر دی: اشاره کول.

تشريح: مسئله دا ده چي که د چا سره هيڅ کپړه نه وي، نه پاکه کپړه او نه مرداره کپړه، نو داسي کس دي په ناستي لمونځ وکړي او رکوع او سجده دي په اشاره سره وکړي، او د ناستي په هيئت کي دوه قوله دي: ① يو قول خو خپله مصنف رَحِمَهُ الله ذکر کړی دی چي په ناسته کي دي خپل دواړي پښې د قبلې وطرف ته وغځوي (او دواړه لاسونه دي د دواړو پښو په مينځ کي يعني پر عورت غليظه باندي کښېږدي)، ② دويم قول دا دی چي څه ډول چي په التحيات کي کښېني، هغسي دي په ناستي په اشاره سره لمونځ وکړي، بعضي حضراتو دا دويم قول ته ترجيح ورکړې ده؛ ځکه په دې کي پرده زياته ده او د قبلې وطرف ته د پښو له غځولو څخه هم بچ کيږي.

او که څوک د لڅوالي په حالت کي په ولاړي په اشاره سره لمونځ وکړي، نو دا هم جائز دي، همدارنګه که له اشارې څخه بغير په رکوع او سجده سره يې وکړي، نو هم جائز دي. (شفاء الارواح)

د سړي د عورت اندازه

﴿٢١٤﴾ وَعَوْرَةُ الرَّجُلِ مَا بَيْنَ السُّرَّةِ وَمُنْتَهَى الرُّكْبَةِ او د سړي (نارينه) عورت (د بدن) هغه حصه ده کوم چي د نامه (نو) او د زنګون د آخري حصې تر مينځ ده (يعني تر نامه د لاندي څخه بيا د زنګون تر آخره پوري).

تشريح: له دې ځايه مصنف رَحِمَهُ الله د عورت حد بيانوي، فرمايي چي د سړي عورت له نامه څخه لاندي تر زنګنو پوري دی، لهذا نُو (ناف) په عورت کي داخل نه دی، نو د هغه پټول فرض نه دي او زنګونان په عورت کي داخل دي، نو د هغوی پټول فرض دي.

د مینځي د عورت اندازه

﴿٢١٥﴾ وَتَزِيدُ عَلَيْهِ الْأَمَةُ الْبَطْنَ وَالظَّهْرَ او مینځه دي پر هغه نس او شا (هم) زیات کړي (یا په بله ترجمه دا چي: مینځه پر هغه زیاته ده په نس او شا سره. یعني د سړي له عورت څخه زائد د مینځي نس او شا هم عورت دي).

لغات: ﴿بطن﴾ نس، جمع: بُطُوْن. ﴿ظهر﴾ شا، ملا. جمع: أَظْهُر ظُهُوْرٌ. علیه: د ضمیر مرجع الرجل دی.

تشریح: یعني د سړي چي کومه حصه عورت ده، هغه د ښځي هم ده، او له دې څخه بغیر د مینځي نس او شا هم په عورت کي داخل دي. لهذا د هغوی پټول هم فرض دي. خو له دې حصې څخه بغیر د مینځي نور بدن عورت نه دی، د نس حد له سینې څخه تر نامه پوري دی. سینه او د سینې په مقابل کي د شا حصه عورت نه ده، او که د سړي دومره حصه ښکاره وي او لمونځ وکړي، نو صحیح دي.

د آزادي ښځي د عورت اندازه

﴿٢١٦﴾ وَجَمِيْعُ بَدَنِ الْحُرَّةِ عَوْرَةٌ او د آزادي ښځي ټوله بدن عورت دی (چي پټول یې فرض دي) إِلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا وَقَدَمَيْهَا مګر نه د هغې مخ او دواړه ورغوي (خپري) او دواړه پښې.

تشریح: په دې عبارت کي د آزادي ښځي عورت بیانوي کوم چي مینځه نه وي، نو فرمایي چي د آزادي ښځي له مخ او دواړو ورغوو او دواړو پښو څخه بغیر نور ټوله بدن عورت دی. همدارنګه د ښځي د سر وریښتان او له سر څخه را ایله وریښتان (همدارنګه د ښځي چوټي وغیره) هم عورت دي او دواړه لیڅي یې هم عورت دي. دلته بحث د لمانځه د ستر سره متعلق دی چي په لمانځه کي کومه حصه پټول فرض دي؟ نو ویې فرمایل: چي په لمانځه کي د ښځي لپاره مخ، دواړه ورغوي او دواړه پښې پټول فرض نه دي، له دې څخه بغیر نور ټوله بدن پټول فرض دي. او له لمانځه څخه بهر له پردیو خلکو (اجنبیانو) څخه مخ پټول هم فرض دي. (شفاء الارواح)

څومره عورت ښکاره کېدل مانع د لمانځه دي

﴿٢١٧﴾ وَكَشْفُ رُبُعِ عُضْوٍ مِّنْ أَعْضَاءِ الْعَوْرَةِ يَمْنَعُ صِحَّةَ الصَّلٰوةِ او لڅېدل (ښکاره کېدل) څلورمه حصه د یو اندام د عورت له اندامونو څخه منع کوي د لمونځ صحیح کېدل (یعني که له عورت والا اندامونو څخه د یوه اندام څلورمه حصه ښکاره سي، نو لمونځ نه ور سره صحیح کیږي).

تشریح: د عورت والا اندامونو وضاحت دا دی چي هر ورون د زنګون سره یو اندام دی، د ښځي دواړه پنډۍ د بجلکو سره دوه جلا، جلا اندامونه دي، دواړه تیان کله چي پوره را پورته سوي وي، جلا، جلا اندامونه دي، ذَکَر یو جلا اندام دی، همدارنګه خصیتین (خوټي) مستقل اندام دی، له نامه څخه

لاندي د ذکَر تر بېخه پوري يو جلا اندام دی، هر يو ګوناټی جلا اندام دی، دُبر له کوناټو څخه جلا يو اندام دی (حاشيه)

مسئله داده چي که دلمونځ کولو په دوران کي د عورت والا له اندامونو څخه د يو اندام څلورمه حصه ښکاره سي او د يوه رکن يعني د درې واره "سبحان الله" ويلو په اندازه ښکاره پاته سي. نو لمونځ فاسديږي. مثلاً د ښځي څلورمه حصه پنډۍ، يا څلورمه حصه ورون، يا څلورمه حصه غوږ، يا څلورمه حصه سر، يا د يو بل اندام څلورمه حصه ښکاره سي او د يوه رکن په اندازه ښکاره پاته سي، نو لمونځ فاسديږي، او که تر ښکاره کېدلو وروسته يې سمدستي پټ کړي، يعني د يوه رکن له مقدار څخه يې مخکي، مخکي پټ کړي، نو لمونځ نه فاسديږي. (شفاء الارواح)

بېلابېل ځايونه ښکاره کېدل (لڅېدل)

﴿٢١٨﴾ وَلَوْتَفَرَّقَ الْاِنْكِشَافُ عَلٰى أَعْضَاءٍ مِّنَ الْعَوْرَةِ او که بېلا بېل سي لڅوالی د عورت پر اندامونو (يعني د عورت له اندامونو څخه بېلابېل (مختلفه) ځايونه لڅ سي) وَكَانَ جُمْلَةُ مَا تَفَرَّقَ يَبْلُغُ رُبْعَ أَصْغَرِ الْأَعْضَاءِ الْمُنْكَشِفَةِ او هغه ټوله بېلا بېل لڅوالی (مختلفه لڅ ځايونه) رسيږي د څلورمي حصې ته د کوچني اندام له لڅو اندامونو څخه (يعني دلڅ کوچني اندام څلورمي حصې ته رسيږي) مَنَعَ نو (لمونځ) منع کوي وَإِلَّا فَلَا کنې نه (يې منع کوي، يعني که هغه بېلابېل لڅ ځايونه د کوچني اندام څلورمي حصې ته نه رسيږي، نو بيا لمونځ ور سره ممنوع نه دی).

تشريح: که عورت له مختلفو ځايونو څخه لڅ او ښکاره سي، مثلاً جامه د عورت پر بېلابېلو ځايونو څيري سوې وي، او د هغوی ټولو مقدار يعني ټوله لڅ (ښکاره) ځايونه د لڅ کوچني اندام د څلورمي حصې سره برابر وي، نو لمونځ نه صحيح کيږي، مثلاً د ښځي د غوږ لږ حصه ښکاره سي. همدارنګه د ورېښتانو لږ حصه يې ښکاره سي او د سينې يې هم لږ حصه ښکاره سي. نو په دې اندامونو کي کوچنی غوږ دی، که چيري دا ټوله ښکاره ځايونه د غوږ د څلورمي حصې په اندازه نه وي، بلکي تر هغه کم وي، نو لمونځ يې صحيح کيږي، او که د غوږ د څلورمي حصې په اندازه يا تر هغه زيات وي (او دومره وخت لڅ پاته سي چي په هغه کي يو رکن اداء کېدلای سي يعني په څومره وخت کي چي درې تسبيحات يعني درې واره "سبحان ربي العظيم" يا درې واره "سبحان ربي [illegible] کېدلای [illegible] نو [illegible] نه صحيح کيږي او فاسديږي. يا مثلاً ذکر، خُصيتَين او کوناټي لږ [illegible] کوچنی اندام خُصيتين (خوټي) دي. لهذا که دا ټوله ښکاره ځايونه د [illegible] لمونځ نه صحيح کيږي او فاسديږي.

❀ ❀ ❀

په لمانځه کي قصداً عورت ښکاره کول

مسئله (۱): که څوک قصداً د لمونځ کولو په دوران کي فقط یوه ثانیه هم د عورت له اندامونو څخه یو اندام د څلورمي حصې په اندازه ښکاره کړي، نو سمدستي لمونځ باطلیږي. د هغه لپاره د دریو تسبیحاتو مهلت نسته. (عالمګیري ج:۱ ص:۵۸، کتاب المسائل ص:۲۵۶)

په تنګه جامه کي لمونځ کول

مسئله (۲): داسي تنګه جامه چي په هغه کي د عورت والا اندامونو هیئت ښکاره سي، که څه هم مکروه او د بې حیائی دلیل دی، خو بیا هم که جامه دومره پنډه وي چي دننه بدن نه لیدل کیږي، نو په هغه کي لمونځ صحیح دی، لېکن د اجنبي سړي لپاره داسي تنګي جامې والا ښځي ته د جامې د پاسه هم کتل جائز نه دي، (حلبي کبیر ص،۲۱۴)

په نرۍ (باریکه) جامه او پوړني کي لمونځ کول

مسئله (۳)، که جامه داسي نرۍ (باریکه) وي چي له هغې څخه د عورت والا اندامونه صفا ښکاره کیږي، نو په داسي نرۍ جامه کي لمونځ نه صحیح کیږي، همدارنګه په داسي نري پوړني (پړوني) کي لمونځ کول هم صحیح نه دي، (عالمګیري ج:۱، ص،۵۸، شامي ج:۲، ص: ۷۶، ۷۷)

که څوک له استقبال القبله څخه عاجزه وي، نو څه حکم دی؟

﴿۲۱۹﴾ وَمَنْ عَجَزَ عَنِ اسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ لِمَرَضٍ او څوک چي عاجزه سي له مخ پر قبله کېدو څخه د یو مرض (ناروغی) په وجه أَوْ عَجَزَ عَنِ النُّزُوْلِ عَنْ دَابَّتِهٖ یا عاجزه سي له راښوه کېدو څخه له خپل سپارلیه (یعني له خپل سپارلي (اوښ او داسې نورو) څخه نه سي راښوه کېدلای) أَوْ خَافَ عَدُوًّا یا بېرېږي له یو دښمن څخه فَقِبْلَتُهٗ جِهَةُ قُدْرَتِهٖ وَأَمْنِهٖ نو د داسي کس قبله د ده د قدرت او د ده د امن جهت (طرف) دی (یعني د داسي کس لپاره قبله هغه طرف دی کوم طرف ته چي د ده قدرت وي او کوم طرف ته چي له دښمن څخه په امن وي).

تشریح؛ مسئله دا ده چي که یو څوک د معقول عذر په وجه په لمانځه کي مخ پر قبله نه سي کېدلای، نو له هغه څخه د استقبال القبله شرط ساقطیږي او هغه چي پر کوم جهت قادر وي هغه طرف ته لمونځ کولای سي. معقول عذر په لاندي توګه کېدلای سي؛

①... مریض دومره کمزوری وي چي خپله مخ پر قبله نه سي کېدلای. او داسي مرستیال هم نه وي چي هغه مخ پر قبله کړي.

②... یو څوک له سپارلي څخه ښکته نه سي راښوه کېدلای، او یو مرستیال هم موجود نه وي چې هغه راښوه کړي، یا له راښوه کېدلو څخه وروسته دور ختلو قدرت نه لري. برابره ده د کمزورۍ په وجه وي، یا د سپارلي د سرکښوالي په وجه وي.

③... مخ پر قبله د لمونځ کولو په صورت کي د ځاني یا مالي نقصان سخته خطره وي.

④... یا سړی پر سپارلي سپور وي او لاندي ځمکه ټوله ختې وي، څه پاک ځای د لمانځه لپاره نه وي.

⑤... یا د سپارلي پر درولو قادر نه وي.

⑥... یا دا خطره وي چې که ودرېږم او لمونځ وکړم، نو نور مسافر او قافلې والا به را څخه ولاړ سي او تنها به پاته سم.

نو په داسي صورتونو کي فرض لمونځ له قبلې څخه بغیر بل طرف ته هم کول صحیح دي. (حلبی کبیر ص:۲۱۹، شامی ج:۲، ص:۱۰۳، کتاب المسائل ص:۲۶۸)

که چا ته د قبلې طرف معلوم نه وي، نو څه حکم دی؟

﴿۲۲۰﴾ وَمَنِ اشْتَبَهَتْ عَلَيْهِ الْقِبْلَةُ او پر چا چي قبله مشتبه سي (یعني په قبله کي شکمن سي) وَلَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ مُخْبِرٌ وَلَا مِحْرَابٌ او د ده سره (نژدې) هیڅ خبر ورکونکی نه وي او نه محراب وي (چي له هغه څخه د قبلې درک معلوم کړي) تَحَرّٰى نو غور و فکر دي وکړي (یعني په خپل زړه سره دي د قبلې طلب وکړي، نو کوم طرف ته چي د ده زړه ووایي چي دا به نو قبله وي. هغه طرف ته دي لمونځ وکړي) وَلَا إِعَادَةَ عَلَيْهِ لَوْ أَخْطَأَ او پر هغه د لمونځ راګرځول نسته که چیري خطا وتلی (تېر وتلی) وي.

لغات: ﴿اشتبهت﴾ د افتعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: مشتبه کېدل، شکمن کېدل، ناڅرګندېدل. ﴿تحرّی﴾ د تفعّل د باب ماضي ده: اصل معنیٰ یې ده: طلبُ الأحری، د زیات لایق او غوره شي طلب کول، یعني په څو شیانو کي د اولیٰ شي طلب او پلټنه کول چي کوم یو یې اولیٰ دی، د صحیح او غیرِ صحیح د معلومولو لپاره پوره غور او فکر کول.

تشریح: که یو څوک مثلاً په سفر کي وي او هغه ته د قبلې طرف معلوم نه وي او نه نژدې داسي څوک وي چي د قبلې طرف ور وښیي او نه داسي بل شی وي چي له هغه څخه قبله ور ته معلومه سي. نو په دې صورت کي پر هغه تحرّی کول فرض دي. یعني د قبلې په تعیین کي غور او فکر کول او په علاماتو او قرائنو سره د قبلې اندازه لګول پر هغه لازم دي، او س که له تحرّی کولو څخه وروسته یو

طرف ته لمونځ وکړي، بيا د لمانځه څخه تر فراغت وروسته ورته معلومه سي چي ما غلط طرف ته لمونځ کړی دی، نو لمونځ يې صحيح کيږي، د راګرځولو ضرورت يې نسته. (هنديه ج:۱، ص:٦۴، کتاب المسائل ص: ۲٦۷)

که د لمانځه په دوران کي معلومه سي چي قبله بل طرف ته ده؟

﴿۳۲۱﴾ وَإِنْ عَلِمَ بِخَطْئِهٖ فِيْ صَلٰوتِهٖ او که هغه په لمانځه کي دننه په خپل خطا خبر سي (پوه سي. چي غلط طرف ته ولاړ يم) اِسْتَدَارَ وَبَنٰى نو (په لمانځه کي دننه) دي وګرځي او بناء دي وکړي (پر کړي لمانځه، يعني تر کومه ځايه چي هغه لمونځ کړی وي، له هاغه ځايه دي لمونځ شروع کړي. له سره لمونځ راګرځولو ته ضروت نسته؛ ځکه کړی لمونځ يې صحيح دی).

لغات: ﴿استدار﴾ د استفعال د باب ماضي ده: ګرځېدل، ﴿بنٰی﴾ د ضرب د باب ماضي ده، د دې له معناو څخه يوه معنیٰ ده: (وروسته لمونځ پر مخکيني اداء کړي لمانځه) بناء کول، (وروسته اداء کونکی لمونځ د مخکيني اداء سوي لمانځه سره) پيوند کول.

تشريح: که چيري له تحرّي کولو څخه وروسته لمونځ شروع کړي، بيا د لمانځه په دوران کي ورته معلومه سي چي قبله بل طرف ته ده يعني تحرّي يې بدله سي، يا يو بل څوک د لمانځه په دوران کي د بل طرف خبر ورکړي چي قبله ودې طرف ته ده، نو په لمانځه کي دننه هغه طرف ته مخ ګرځول ضروري دي، او اوس له نوي سره د لمونځ راګرځولو ضرورت نسته، بلکي پاته لمونځ دي په هغه سابقه لمونځ باندي بناء او پوره کړي. (هنديه ج:۱، ص:٦۴، کتاب المسائل ص: ۲٦)

بغير له تحرّی څخه لمونځ کول

﴿۳۲۲﴾ وَإِنْ شَرَعَ بِلَا تَحَرٍّ او که بغير له غور فکر څخه لمونځ شروع کړي فَعَلِمَ بَعْدَ فَرَاغِهٖ أَنَّهٗ أَصَابَ بيا د لمونځ څخه تر فارغېدلو وروسته خبر سي چي دئ صحيح سوی دی (يعني ورته معلومه سي چي زه په خپل تحرّی کي نه يم خطا وتلی او مخ پر قبله درېدلی يم) صَحَّتْ نو لمونځ (يې) صحيح کيږي وَإِنْ عَلِمَ بِإِصَابَتِهٖ فِيْهَا او که په لمانځه کي دننه په خپل صحيح کېدلو (نه خطا وتلو) خبر سي (چي زه صحيح مخ پر قبله ولاړ يم) فَسَدَتْ نو لمونځ (يې) فاسديږي كَمَا لَوْلَمْ يَعْلَمْ إِصَابَتَهٗ أَصْلًا لکه څرنګه چي (په هغه وخت کي يې لمونځ فاسديږي) که هغه په خپل صحيح کېدلو (مخ پر قبله درېدلو) بالکل خبر نه وي.

لغات: ﴿أَصَابَ﴾ د افعال د باب ماضي ده، د دې باب ځو معناوې دي چې له هغوی څخه ځینې دا دي: نه خطا وتل (صحیح کېدل. ټیک لګېدل)، رسېدل او داسې نور. (معجم الوسیط)

تشریح: پر کوم کس چې قبله مشتبه سي، د هغه لپاره له تحري کولو څخه بغیر لمونځ شروع کول صحیح نه دي، خو بیا هم که له تحری څخه بغیر لمونځ شروع کړي او له فراغت څخه وروسته ورته معلومه سي چې واقعي مخ پر قبله مې لمونځ کړی دی، نو لمونځ یې صحیح کیږي (ځکه د لمانځه په دوران کې یو خاص صورت پېښ سوی نه دی)، او که د لمانځه په دوران کې په یقیني توګه ورته معلومه سي چې د قبلې طرف صحیح یا غلط دی، نو لمونځ یې فاسدیږي (ماتیږي) او له نوي سره به لمونځ کوي (په دې صوت کې د لمونځ فاسدېدلو وجه دا ده چې مخکینی حالت یو کمزوری حالت وو. اوس چې قبله ورته معلومه سوه نو اوس یو قوي حالت دی چې د هغه په پېښېدلو سره هغه کمزوری بنیاد قائم نه پاتیږي. لکه په تیمم سره لمونځ کونکی چې د لمانځه په دوران کې اوبه ومومندي، نو لمونځ یې فاسدیږي). (شامي ج: ٢، ص: ١٠٦. ایضاح الاصباح ص ۶۴)

که مقتدیانو ته د امام طرف نه معلومیږي، نو څه حکم دی؟

﴿٢٢٢﴾ وَلَوْ تَحَرّٰى قَوْمٌ جِهَاتٍ او که تحری وکړي یو قوم د مختلفو طرفونو (یعني یو څو مقتدیان په خپل غور و فکر سره بېلابېلو طرفونو ته لمونځ وکړي) وَ جَهِلُوْا حَالَ إِمَامِهِمْ او دوی نا خبره وي د خپل امام په حالت (چې هغه کوم طرف ته ولاړ دی) تُجْزِئُهُمْ نو دا لمونځ ورلره کافي کیږي (لمونځ یې جائز کیږي).

تشریح: که امام په توره تیاره کې لمونځ کوي او د هغه شا ته په جماعت کې چې کوم خلک ور سره شریک کیږي، هغو ته هیڅ نه معلومیږي چې د امام صاحب مخ وکوم طرف ته دی. نو هر یو دې په خپله تحری سره د قبلې جهت معلوم کړي او لمونځ دې وکړي، اوس که د امام مخ یو طرف ته وي او د مقتدیانو مخ بل طرف ته وي، نو په دې صورت کې د ټولو لمونځ صحیح کیږي. خو په دې شرط چې امام به له مقتدیانو څخه مخکې وي، لیکن کوم څوک چې تر امام مخکې وي. یا کوم چا ته چې د امام حال معلوم سي. نو د هغه لمونځ نه کیږي. د لته درې صورتونه دي؛ یا د مقتدي مخ به د امام د مخ وطرف ته وي. یا به د امام د اړخ وطرف ته وي. یا د مقتدي شا به د امام د مخ وطرف ته وي. دغه درېیم صورت له امام څخه د مخکې کېدلو صورت دی (یعني کله چې د مقتدي شا د امام د مخ وطرف ته واقع کیږي. نو په دې صورت کې د هغه لمونځ نه صحیح کیږي چې تر امام مخکې دی).

❀ ❀ ❀

آیا د قبلې په تعیین کي د کافر قول هم معتبر دی؟

مسئله (١): که څوک داسي ځای وي چي هلته دا پته نه لګیږي چي قبله کوم طرف ته ده؟ مثلاً دا نه معلومیږي چي دلته قبله د مشرق وطرف ته ده او که د مغرب وطرف ته؟ نو په داسي ځای کي که یو نا مسلمان کس د قبلې طرف ور وښیي، نو محض د هغه خبر لره اعتبار نسته. تر څو چي په قرائنو سره د هغه تصدیق نه وسي، او که داسي ځای وي چي هلته دومره خو معلومه وي چي قبله دلته مثلا د مغرب وطرف ته ده. خو دا نه معلومیږي چي مغرب کوم طرف ته دی. نو د مغرب د طرف پېژندلو لپاره له یو نا مسلمان کس څخه هم تحقیق کېدلای سي، کله چي د هغه د رېښتنوالي غالب ګومان وي. (الفقه الحنفی فی ثوبه الجدید ج:١. ص:١٩٧، کتاب المسائل ص:٢۶۵)

د قبلې د طرف معلومولو ذرائع

مسئله (٢): په کومو ښارونو او آبادیو کي چي زاړه مسجدونه وي، د هغوی محرابونه به د قبلې معیار جوړول کیږي او چیري چي له مخکي څخه جوړ سوي مسجدونه نه وي. نو هلته دي شا وخوا له اوسېدونکو مسلمانانو څخه د قبلې تحقیق کول کیږي او چیري چي هیڅ ښوونکی نه وي. مثلاً دښتونه، یا نوي آباداني، نو په هغوی کي به د قُطب نما یا لمر او سپوږمۍ وغیره په ذریعه له تحرّی او غور وفکر کولو څخه وروسته قبله متعیّنول کیږي. (شامي ج:٢. ص:١٠٠، کتاب المسائل ص:٢۶۵)

په افغانستان او پاکستان کي د قبلې د صحیح طرف معلومولو آسانه طریقه

مسئله (٣): په افغانستان او پاکستان او کومي علاقې چي له دوی څخه د مشرق پر طرف واقع دي. په هغوی ټولو کي د قبلې د طرف معلومولو آسانه او محتاطه طریقه دا ده چي په ګرمۍ (دوبي) کي دي تر ټولو په اوږده ورځ او په ژمي کي دي تر ټولو په کوچنۍ ورځ د لمر لوېدلو ځایو ته وکتل سي، نو د دې دواړو په مینځ کي چي کوم ځای واقع کیږي، هغه به د قبلې طرف وي. یعني د دغه مینځوي ځای په هره حصه کي چي هم لمونځ وسي، نو صحیح کیږي. (جواهر الفقه ج:١. ص:٢٧۶، حلبی کبیر ص:٢١٨. شامی ج:٢، ص:٩٩)

* * *

فَصْلٌ (فِيْ وَاجِبِ الصَّلَاةِ)

(دا) فصل (دلمانځه دواجباتو په بيان کي) دی

وَهُوَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَيْئًا او هغوی (واجبات) اتلس (۱۸) شيان دي.

تشريح: په دې فصل کي مصنف رَحِمَهُ الله دلمانځه واجبات بيانوي.

د واجب لغوي او اصطلاحي معنیٰ: واجب په لغت کي له "وُجوب" څخه دی او د "وُجوب" يوه معنیٰ "سقوط" (لوېدل) ده او بله معنیٰ يې "لزوم" ده، نو واجب ته ځکه واجب وايي چي علم (او ځان په خبرول) يې زموږ څخه ساقط دي او عمل يې پر موږ لازم دی، يا له "وجيب" څخه دی کوم چي "شک او تردد" ته وايي. او دا ځکه چي د واجب په ثبوت کي شک وي يعني د فرضو په څېر په قطعي دليل سره ثابت نه وي.

او اصطلاحي معنیٰ يې ده: « مَالَزِمَ بِدَلِيْلٍ فِيْهِ شُبْهَةٌ ». (چي په داسي دليل سره ثابت وي چي په هغه کي څه شبهه وي).

دلته له واجب څخه مراد هغه دی چي په عمداً پرېښوولو باندي يې گناه او په سهواً پرېښوولو باندي يې سجدهٔ سهو لازمېږي، نه فساد. دلمانځه واجبات اتلس (۱۸) دي. لېکن دا صرف په همدې اتلسو (۱۸) کي منحصر نه دي، له دې څخه هم زيات کېدلای سي.

صاحب د بدائع الصنائع تول شپږ واجبات بيان کړي دي: ① د سورة الفاتحه سره سورت يو ځای کول. ② په جهري لمنځونو کي جهر او په سرّي لمونځو کي سرّ. ③ تعديل دارکانو. ④ قعدهٔ اولیٰ. ⑤ تشهد ⑥ ترتيب دافعالو (بدائع ج: ۱، ص: ۳۹۴)، خو د متعلقاتو او جزئياتو په اعتبار سره دا شمېر له دې څخه څو چنده زيات کېدلای سي.

مصنف رَحِمَهُ الله تول اتلس واجبات ذکر کړي دي:

سورة الفاتحه ويل

﴿۲۲۴﴾ **قِرَاءَةُ الْفَاتِحَةِ** (۱) سورة الفاتحه ويل.

تشريح: د امام او ديوازي لمونځ کونکي لپاره د فرضي لمانځه په اولو دوو رکعتونو کي او د وترو، سنتو او نوافلو په هر رکعت کي سورة الفاتحه ويل واجب دي، لېکن د مقتدي لپاره د امام د قرائت په وخت کي چپ پاتېدل ضروري دي؛ ځکه د امام قرائت د مقتدي قرائت له هم حکماً شامل دی.

د سورة الفاتحه سره بل سورت یو ځای کول

﴿۲۲۵﴾ وَضَمُّ سُوْرَةٍ أَوْ ثَلَاثِ آيَاتٍ فِيْ رَكْعَتَيْنِ غَيْرِ مُتَعَيَّنَتَيْنِ مِنَ الْفَرْضِ (۲) او (د سورة الفاتحې سره) د یو سورت یا دریو آیتونو یو ځای کول (ضمول) د فرضو په دوو نامتعینو (نامعلومو) رکعتونو کي وَفِيْ جَمِيْعِ رَكَعَاتِ الْوِتْرِ وَالنَّفْلِ او د وترو او نفلو په ټولو رکعتونو کي.

تشریح: د سورة الفاتحې سره د فرضو په دوو رکعتونو کي او نور د ټولو لمنځونو په هر رکعت کي د سورة الفاتحې سره بل کوچنی سورت یو ځای کول یا کم از کم درې کوچني آیتونه یا یو اوږد آیت ور سره یو ځای کول واجب دي، کوچنی سورت لکه سورة الکوثر، یا د هغه قائم مقام درې کوچني آیتونه لکه ﴿ثُمَّ نَظَرَ، ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ، ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ﴾، دا ور سره یو ځای کول د امام او منفرد لپاره واجب دي.

فی رکعتین غیر متعیّنین: یعني د فرضو صرف په دوو رکعتونو کي د سورة الفاتحې سره سورت یو ځای کول دا جلا واجب دي، او صرف اول دوه رکعتونه د دې قرائت لپاره متعین کول جلا واجب دي، چي دا به په راروان عبارت کي ذکر سي.

د فرضو په اولو دوو رکعتونو کي د قرائت تعیین

﴿۲۲۶﴾ وَتَعْيِيْنُ الْقِرَاءَةِ فِي الْأُوْلَيَيْنِ (۳) او قرائت متعینول په اولو دوو رکعتونو کي.

تشریح: په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز فرضي لمانځه کي واجب دي چي د سورة الفاتحې سره د سورت یو ځای کولو عمل (قرائت) په اولو دوو رکعتونو کي وسي، که له هغوی څخه بغیر په درېیم یا څلورم رکعت کي قرائت وکړي، نو د واجب پرېښوولو په وجه سجدهٔ سهو لازمېږي. (مراقی الفلاح ص۱۳۵، عالمگیري ج۱، ص۷۱)

سورة الفاتحه له قرائت څخه مخکي ویل

﴿۲۲۷﴾ وَتَقْدِيْمُ الْفَاتِحَةِ عَلٰى سُوْرَةٍ (۴) او سورة الفاتحه پر سورت مخکي کول.

تشریح: په کومو رکعتونو کي چي د سورة الفاتحې سره سورت یو ځای کول ضروري دي، په هغوی کي سورة الفاتحه له سورت څخه مخکي ویل واجب دي، او که د دې برعکس وکړي، نو سجدهٔ سهو واجبېږي. (حلبی کبیر ص۲۹۵، [illegible] ج۱، ص۱۲)

﴿۳۲۸﴾ وَضَمُّ الْأَنْفِ لِلْجَبْهَةِ فِي السُّجُوْدِ (۵) او پزه د تندي سره یو ځای کول په سجده کې (یعني پر پزه او تندي دواړو باندي سجده کول).

تشریح: په سجده کې د تندي سره پزه یو ځای کول یعني پزه هم پر ځمکه لګول واجب دي (په دې شرط چې د پزې هډوکی د ځمکې سره لګېدلی وي)، همدارنګه په سجده کې د تندي اکثره حصه لګول واجب دي او د تندي څه حصه لګول فرض دي، او بېله عذره صرف پر پزه سجده کول ممنوع دي.

په هر رکعت کې دوې سجدې پر له پسې کول

﴿۳۲۹﴾ وَالْإِتْيَانُ بِالسَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ قَبْلَ الْإِنْتِقَالِ لِغَيْرِهَا (۶) او دويمه سجده اداء کول په هر رکعت کې مخکې له منتقل کېدلو څخه و بل رکعت (یا بل رکن) ته.

تشریح: په هر رکعت کې دوې سجدې بغیر له فصل او جدایۍ څخه اداء کول واجب دي یعني د دواړو سجدلو په مینځ کې دي یو بل رکن نه اداء کول کیږي، کنې سجدهٔ سهو واجبیږي. (مراقي الفلاح ص:۱۳۵)

د تعدیل ارکان بیان

﴿۳۳۰﴾ وَالْإِطْمِئْنَانُ فِي الْأَرْكَانِ (۷) او په ارکانو کې اطمینان کول (یعني د اطمینان په حالت کې په آرامتیا سره ارکان اداء کول)

تشریح: د لمانځه افعال قیام (ولاړه)، رکوع، سجده، قعدهٔ اخیره (آخره ناسته) او جلسه په اطمینان او تعدیل سره اداء کول واجب دي، چې د هغه حدّ دا دی چې په هر رکن کې اندامونه ساکن او پر خپل ځای قرار ونیسي او دا کیفیت کم از کم دیوه وار سبحان الله ویلو په اندازه پاته سي (یعني د تعدیل او اطمینان حدّ دا دی چې تقریباً دیوه وار سبحان الله ویلو په اندازه په هر رکن کې اندامونه ساکن او پر خپل. خپل ځای قرار پاته سي). (طحطاوي علیٰ مراقي الفلاح ص:۱۳۵)

حضرت مولا مفتي سعید احمد صاحب (دامت برکاتهم) په تحفة الالمعي کې داسې لیکلي دي: چې په ارکان اربعه یعني په رکوع، قومه، سجده او جلسه کې تعدیل واجب دی. کله چې انسان رکوع ته دومره کوږ سي چې لاسونه تر زنګنو پوري ورسیږي، نو رکوع وسوه. بیا په رکوع کې ملا سیده کول یعني په اطمینان سره رکوع کول تعدیل دی، همدارنګه کله چې له رکوع څخه پورته سي او ولاړي ته نژدې سي، نو قومه وسوه. بیا ملا سیده کول یعني په اطمینان سره درېدل د قومې تعدیل دی. او کله چې له اولې سجدې څخه سر را پورته کړي او ناستې ته نژدې سي، نو جلسه وسوه. او په اطمینان سره کښېنستل د جلسې تعدیل دی. او پر ځمکه د تندي په اېښوولو سره سجده وسوه. او په هغه کې په سکون سره پاتېدل تعدیل دی. (تحفة الالمعي ج:۲، ص:۵۹)

قعدهٔ اولیٰ (اوله ناسته)

﴿۲۲۱﴾ وَالْقُعُوْدُ الْأَوَّلُ (۸) او اوله ناسته کول.

تشریح: په درې رکعتیز یا څلور رکعتیز فرضي یا نفلي لمنځونو کي د دوو رکعتو له اداء کولو څخه وروسته کم از کم دومره کښېنستل واجب دي چي په هغه کي تشهد ویل کېدلای سي.

په اوله ناسته کي تشهّد ویل

﴿۲۲۲﴾ وَقِرَاءَةُ التَّشَهُّدِ فِيْهِ فِي الصَّحِيْحِ (۹) او تشهد ویل په اوله ناسته کي د صحیح قول مطابق.

لغات: فیه د ضمیر مرجع "القعود الأول" دی.

تشریح: په قعدهٔ اولیٰ کي تشهد ویل واجب دي، یو قول دا دی چي سنت دي. خو صحیح او مفتیٰ به قول د وجوب دی، د "في الصحيح" په قید سره یې هغه د سنتوالي قید خارج کړی یا د "في الصحيح" تعلق د قعدهٔ اولیٰ او تشهد دواړو سره دی یعني صحیح او مفتیٰ به قول دا دی چي قعدهٔ اولیٰ او په هغه کي تشهّد ویل واجب دي، بعضي حضرات د دواړو د سنتوالي قائل دي. نو په دې قید سره د هغو له قول څخه احتراز دی. (مراقی الفلاح ص:۱۲۶)

په آخره ناسته کي تشهّد ویل

﴿۲۲۳﴾ وَقِرَاءَتُهُ فِي الْجُلُوْسِ الْأَخِيْرِ (۱۰) او تشهد ویل په آخره ناسته کي.

تشریح: د لمانځه له واجباتو څخه لسم واجب په قعدهٔ اخیره (آخره ناسته) کي تشهّد ویل دي.

تر قعدهٔ اولیٰ وروسته بېله ځنډه دریم رکعت ته ولاړېدل

﴿۲۲۴﴾ وَالْقِيَامُ إِلَى الثَّالِثَةِ مِنْ غَيْرِ تَرَاخٍ بَعْدَ التَّشَهُّدِ (۱۱) او (واجب دي) ولاړېدل دریم رکعت ته بغیر له څه ځنډ څخه تر تشهّد وروسته (یعني په دویمه ناسته کي تر تشهد ویلو وروسته بغیر له څه ځنډ کولو څخه دریم رکعت ته ولاړېدل هم واجب دي)

تشریح: د درې رکعتیز یا څلور رکعتیز فرضي لمانځه په قعدهٔ اولیٰ کي تر تشهّد ویلو وروسته سملستي د دریم رکعت لپاره ولاړېدل واجب دي. که په هېره سره ځنډ وکړي او درود شریف ویل شروع کړي، نو سجدهٔ سهو واجبېږي.

یادونه: ټوله امامان پر دې متفق دي چي د ثلاثي او رباعي فرضي لمانځه په اوله ناسته کي به صرف تشهد ویل کیږي، له هغه څخه وروسته درود شریف وغیره به نه ویل کیږي، او واجب لمنځونه او د یوه قول مطابق د ماپښین څلور سنتونه هم د فرضو سره ملحق دي چي په هغوی کي به هم صرف تشهد ویل کیږي، همدارنګه د نورو سنتِ مؤکده وو دی، او نور په ټوله نفلي او سنتِ غیر مؤکده لمنځونو کي په هره قعده کي تشهد، درود او دعاء ټوله ویل کېدلای سي؛ ځکه د نفلو او سنتو هر دوه رکعته یو جلا لمونځ دی، او که صرف تشهد ووایي، نو هم صحیح دي. خو زیاتره خلک په دې مسئله ناخبره دي او هغوی د هر لمانځه په اوله ناسته کي صرف تشهد وایي او درود شریف صرف دا نه چي نه وایي، بلکي که څوک یې په هېره ووایي، نو سجدهٔ سهو کوي. دا غلط فهمي د فرائضو له قعدهٔ اولیٰ څخه پیدا سوې ده، څرنګه چي د فرضو په اوله ناسته کي صرف تشهد ویل واجب دي، نو ځکه خلکو د ټولو لمنځونو لپاره همدا حکم سنجولی دی. (تحفة الالمعی ج:۲، ص:۱۹۳)

د "سلام" په لفظ سره لمونځ ختمول

﴿۲۲۵﴾ وَلَفْظُ السَّلَامِ دُوْنَ عَلَيْكُمْ (۱۲) او (واجب دي) لفظ د "السلام" ویل. نه "علیکم".

(یعني صرف لفظ د السلام ویل واجب دي په همدې سره لمونځ پوره کیږي. تر هغه وروسته علیکم ورحمة الله... ویل سنت دي. ویل یې ښکار دي، واجب نه دي).

تشریح: په لفظ د "السَّلَام" سره له لمونځ څخه وتل واجب دي یعني لمونځ د "السَّلَام" په لفظ سره ختمول واجب دي، نه په بل لفظ سره، او پاته سوه دا خبره چي یو وار "السَّلَام" ویل واجب دي او که دوه واره ویل واجب دي، نو په دې کي اختلاف دی، بعضي فرمایي چي دوه واره د "السَّلَام" لفظ ویل واجب دي او علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله همدې ته اصح ویلي دي او د بعضو په نېز دویم سلام سنت دی. او راسته او چپه طرف (دواړو خواوو) ته مخ ګرځول هم واجب نه دي (حاشیه)، او پاته سو لفظ د "عَلَيْكُمْ..." واجب نه دی. لهذا که څوک داسې وخت مسجد ته ورسیږي چي امام اول "السَّلَام" ویلی وي، نو اوس د هغه اقتداء نه صحیح کیږي که څه هم امام تر اوسه "عَلَيْكُمْ" نه وي ویلي. (شفاء الارواح بحوالهٔ حاشیه. درمختار مع الشامي ج۲، ص۱۶۲)

د وترو په لمانځه کي قنوت ويل

﴿۲۲۶﴾ وَقُنُوْتُ الْوِتْرِ (۱۳) او د وترو قنوت ويل (يعني په وترو کي دعاء قنوت ويل هم واجب دي).

شريح: د وترو په دريـم رکعت کي دعاءِ قنوت ويل واجب دي، قنوت په لغت کي مطلقاً دعاء تـه ايي، نـه مخصوصـي دعـاء تـه، او پاتـه سـوه مخصوصـه دعـاء يعنـي "اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ نَسْتَغْفِرُكَ...إلخ" ويل سنت دي، نه لازم، لهذا که له دې دعاء څخه بغير بله دعاء ووايي، نو هم لمونځ حيح کيږي، خو د سنت خلاف به وي؛ همدارنګه د قنوت لپاره تکبيـر يعنـي الله أکبر ويـل اجب دي او تر غوږو پوري لاسونه پورته کول سنت دي. (انوار الايضاح. شفاء الارواح)

په اخترونو کي تکبيراتِ زوائد ويل

﴿۲۲۷﴾ وَتَكْبِيْرَاتُ الْعِيْدَيْنِ (۱۴) او د دوارو اخترونو تکبيرات (تکبيراتِ زوائد) ويل.

شريح: د کوچني اختر او لوی اختر په لمنځونو کي شپږ زائد تکبيرونه واجب دي، درې تکبيـرونه ه اول رکعت کي او درې تکبيرونه په دويم رکعت کي، او له دوی څخه هريو تکبيـر مستقل واجب ي. (مراقی الفلاح ص: ۱۳۷)

په تحريمه کي تکبير (الله أکبر) ويل

﴿۲۲۸﴾ وَتَعْيِيْنُ التَّكْبِيْرِ لِافْتِتَاحِ كُلِّ صَلٰوةٍ لَا الْعِيْدَيْنِ خَاصَّةً (۱۵) او تکبيـر تعين کول (ټاکل) د هر لمانځه د شروع کولو لپاره، نه خاص د اخترونو (د لمانځه) لپاره.

ريح: دلمونځ شروع کولو په وخت کي خاص د "الله أکبر" په لفظ سره تحريمه ويل دا واجب ، او که څوک له "الله أکبر" څخه بغير په يو بل ذکر مثلاً په "الله أعظم" يا په "الله أجلّ" سره ونځ شروع کړي، نو د واجب پرېښوونکي به وي کوم چي مکروه تحريمي دي، او داسې نه ده چي رف د دوارو اخترونو په لمانځه کي د "الله أکبر" په لفظ سره لمونځ شروع کول واجب دي او له ترونو څخه بغير په نورو لمنځونو کي سنت دي لکه څرنګه چي بعضو دا د اخترونو سره خاص ي دي؛ ځکه د "الله أکبر" په لفظ سره د هر لمانځه په شروع کولو باندي نبي کريم ﷺ همېشتوب ی دی. (شفاء الا،۱۰۱م. انوار الايضاح)

﴿۲۲۹﴾ وَتَكْبِيرَةُ الرُّكُوْعِ فِيْ ثَانِيَةِ الْعِيْدَيْنِ (۱۶) او د رکوع تکبیر د دواړو اخترونو (د لمانځه) په دویم رکعت کي.

تشريح: د اخترونو د لمانځه په دویم کي د رکوع تکبیر واجب دی، په نورو لمونځونو کي دا تکبیر صرف سنت دی. (مراقی الفلاح ص: ۱۳۷)

په جهري لمنځونو کي په لوړ آواز سره قرائت کول

﴿۲۳۰﴾ وَجَهْرُ الْإِمَامِ بِقِرَاءَةِ الْفَجْرِ وَ أُوْلَيَـيِ الْعِشَائَيْـنِ (۱۷) او (واجب دي پلره) د امام په زوره ویل (جهر کول) د سهار په قرائت کي او د ماښام او ماخوستن په اولو دوو رکعتونو کي وَلَوْ قَضَاءً که څه هم قضاء وي (یعني که څه هم دغه لمنځونو قضاء راوړي په جماعت سره) وَالْجُمُعَةِ وَ الْعِيْدَيْنِ وَالتَّرَاوِيْحِ وَالْوِتْـرِفِيْ رَمَضَانَ او (جهر کول) په جمعه، دواړو اخترونو، تراویحو او د رمضان په وترو کي.

لغات: ﴿أُوْلَيَـيِ﴾ اوله یاء په فتحه سره ده او دویمه په کسره سره ده، تثنیه د أُوْلیٰ ده، دا په اصل کي أُوْلَـيَـيْنِ وه، د اضافت په وجه نون حذف سو، او له عشائین څخه د ماښام او ماخوستن لمونځ مراد دی او مغربین ځکه نه دي ورته ویل سوي چي غلبه اکثر لره ورکول کیږي، نو ځکه عشائین رته ویل سوي دي.

تشريح: د امام لپاره په جهري لمنځونو کي جهر کول (په لوړ آواز سره قرائت کول) واجب دي، یعني د ماښام او ماخوستن په اولو دوو رکعتونو کي او د سهار د لمانځه او د جمعې او اخترونو د لمانځه او د تراویحو او د رمضان د وترو په هر رکعت کي جهر کول واجب دي، او که جهر پرېږدي، نو سجده سجهو لازمیږي.

او که څوک تنها لمونځ کوي (منفردوي)، نو پر هغه جهر کول واجب نه دي، خو افضل دا ده چي جهر وکړي، او د هغه لپاره د جهر حدّ دا دی چي نژدې کس یې اوریدلای سي. (حاشیه)

همدارنګه که چیري جهري لمونځ قضاء سي او هغه په جماعت سره راګرځوي نو په هغه کي هم جهر واجب دی، که امام جهر نه پکښې وکړي، نو سجدهٔ سهو لازمیږي.

په سرّي لمونځو کي په کراره قرائت کول

﴿۲۲۱﴾ وَالْإِسْرَارُ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ (۱۸) او په کراره ویل (په پټه قرائت کول) په (ټولو رکعتونو) دماپښین او مازیگر کي وَفِيمَا بَعْدَ أُولَيَي الْعِشَائَيْنِ وَنَفْلِ النَّهَارِ او (په کراره قرائت کول) دماخوستن له اولو دوو رکعتونو څخه وروسته والا رکعتونو کي او دورځي په نفلو کي.

تشریح: دسرّي لمنځونو لکه دماپښین او مازیگر په ټولو رکعتونو کي، او دمانبام په دریم رکعت، او دماخوستن په آخري دوو رکعتونو کي په کراره (په پټ آواز سره) قرائت کول واجب دي، همدارنگه دورځي په نفلو کي مثلاً د کسوف او استسقاء په لمانځه په کراره قرائت کول واجب دي (او صاحب دانوار الایضاح د "نفل النهار" تشریح داسي کړې ده چي دورځي په اوقاتو کي له جماعت څخه بغیر اداء کېدونکي سنت او نفل. په هغوی کي هم په کراره قرائت کول واجب دي).

لو د کرار ویلو حدّ دا دی چي صرف خپله یې اوري او بل څوک یې نه اوري. (حاشیه)

﴿۲۲۲﴾ وَالْمُنْفَرِدُ مُخَيَّرٌ فِيمَا يَجْهَرُ او تنها لمونځ کونکي ته اختیار دی په هغه لمنځونو کي چي جهر پکښي کول کیږي كَمُتَنَفِّلٍ بِاللَّيْلِ لکه دشپې نفل کونکي (ته چي اختیار دی).

تشریح: فرمایي چي په جهري لمنځونو کي منفرد ته اختیار دی چي که قرائت جهراً کوي او که یې سراً کوي (خو جهر کول افضل د). لکه څرنگه چي هغه کس ته اختیار دی کوم چي دشپې نفل کوي چي که په کراره قرائت کوي او که په زوره یې کوي.

د فرضو په اولو دوو رکعتو کي سورت پرېښوول

﴿۲۲۳﴾ وَلَوْ تَرَكَ السُّوْرَةَ فِيْ أُوْلَيَيِ الْعِشَاءِ او که دماخوستن په اولو دوو رکعتونو کي سورت پرېږدي قَرَأَهَا فِي الْأُخْرَيَيْنِ مَعَ الْفَاتِحَةِ جَهْرًا نو په آخري دوو رکعتونو کي دي یې دسورة الفاتحه سره په زوره (په لوړ آواز سره) ووایي.

تشریح: دعبارت حاصل دا دی چي که یو څوک دماخوستن په اولو دوو رکعتو کي تر الحمد لله ربلو وروسته سورت نه ووایي، نو په آخري دوو رکعتو کي به یې وایي، او د ویلو طریقه دا ده چي اولاً ئي سورة الفاتحه په جهر سره ووایي او بیا دي سورت په جهر سره ووایي او سجدهٔ سهو دي هم ركري. (انوار الایضاح. شذه الارواح)

فاتحه پرېښوول

﴿۲۲۴﴾ وَلَوْتَرَكَ الْفَاتِحَةَ او که سورة الفاتحه پرېږدي لَايُكَرِّرُهَا فِي الْأُخْرَيَيْنِ نو په آخري دوو رکعتو کي به يې نه مکرره کوي (دوباره به يې نه وايي).

تشريح: فرمايي که څوک په اولو دوو رکعتو کي سورت ووايي، خو سورة الفاتحه نه ووايي، نو اوس په آخري دوو رکعتو کي د سورة الفاتحه دوه واره ويلو ته ضرورت نشته ، بلکي صرف يو وار به سورة الفاتحه وايي او د واجب پرېښوولو په وجه دي په آخر کي سجدهٔ سهو وکړي.

❀ ❀ ❀

سورة الفاتحه مکرره ويل

مسئله (۱): واجب دي چي د فرضو د اولو دوو رکعتونو په هر رکعت کي سورة الفاتحه بېله فصله صرف يو وار ويل سي، که يې پرله پسې په يوه رکعت کي دوه واره ووايي، نو سجدهٔ سهو واجبېږي، ها! که د سورة الفاتحه تر ويلو وروسته يو بل سورت ووايي، بيا سورة الفاتحه په هغه رکعت کي ووايي، نو هيڅ حرج نشته؛ ځکه په دې صورت کي به دويمه سورة الفاتحه د قرائت په درجه ګڼل کېږي او هغه ته به تکرار نه ويل کېږي. (حلبي کبير ص:۲۹۵، هنديه ج:۱، ص:۷۱، کتاب المسائل ص:۲۹۶)

د لمانځه په افعالو کي بېله فصله ترتيب باقي ساتل

مسئله (۲): د لمانځه ټوله افعال بغير له څه فصل څخه په ترتيب سره اداء کول واجب دي، مثلاً که څوک په اول رکعت کي له دويمي سجدې څخه راپورته سي او سمدستي نه ودرېږي بلکي کښېني، يا پرله پسې دوه واره رکوع يا درې واره سجده وکړي، نو په ترتيب کي د خلل راتللو په وجه سجدهٔ سهو لازمېږي. . (حلبي کبير ص:۲۹۷، کتاب المسائل ص:۳۰۰)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِيْ سُنَنِهَا

(دا) فصل په (بیان د) سنتو د لمانځه کي دی

وَهِيَ إِحْدٰى وَخَمْسُوْنَ او هغوی (سنتونه) یو پنځوس (۵۱) دي.

تشریح: سُنَن جمع د سنت ده.

د سنت لغوي او اصطلاحي معنیٰ: سنت په لغت کي "لاري" ته وایي، او اصطلاحي معنیٰ یې ده: «هِيَ الطَّرِيْقَةُ الْمَسْلُوْكَةُ فِي الدِّيْنِ مِنْ غَيْرِ اِفْتِرَاضٍ وَلَا وُجُوْبٍ». (مطلب دا چي له سنت څخه مراد هغه کار دی چي بغیر له فرضیت او وجوب څخه د عبادت په توګه نبي ﷺ پر هغه همېشتوب کړی وي او کله ناکله یې (د عذر په وجه) پرې اېښی وي)، پر سنت عمل کول ډېر د ثواب باعث دي، لېکن د هغه په پرېښوولو سره نه په لمانځه کي سجدهٔ سهو واجیبږي او نه هغه فاسدیږي.

او د تارکِ سنت حکم په لاندیني مختلفو صورتونو کي جلا، جلا دی.

① که بلا اراده او په هېره یو سنت پرېښوول سي، نو هېڅ ګناه نسته. ② او که قصداً یو سنت پرېښوول سي، لېکن په زړه کي د سنت د تحقیر او سپکاري اراده نه وي، نو ګنهګاره کیږي. ③ او که نعوذ بالله د سنت د تحقیر او سپکاري پر بناء یې پرې اېښي وي، نو داسي کس له اسلام څخه خارج دی. لهٰذا په هر صورت کي د سنت مطابق د لمونځ کولو پوره اهتمام کول پکار دي او کوښښ کول پکار دي چي د لمانځه هېڅ سنت زموږ څخه پاته نه سي، الله ﷻ دي توفیق راکړي، اللهم آمین. (در مختار مع الشامي بیروت ج۱، ص۱۴۹، کتاب المسائل ص۳۱۳)

په لمانځه کي څو سنتونه دي؟

د لمانځه اصل سنتونه څومره دي او کوم، کوم دي؟ په دې باره کي د فقهاؤ مختلفه رایې دي، صاحب د نور الایضاح رَحِمَهُ الله (۵۱) سنتونه ذکر کړي دي، حال دا چي په در مختار کي (۲۳) او په حلبي کبیر (شرح منیة المصلي) کي (۲۰) سنتونه ذکر سوي دي او پاته شیان یې په آدابو کي شمېرلي دي.

د تکبیرِ تحریمه په وخت کي دواړه لاسونه پورته کول

﴿۲۲۵﴾ رَفْعُ الْيَدَيْنِ لِلتَّحْرِيْمَةِ حِذَاءَ الْأُذُنَيْنِ لِلرَّجُلِ وَالْأَمَةِ دواړه لاسونه پورته کول د تکبیرِ تحریمه (اول الله اکبر) لپاره د غوږونو (د نرمیو) تر برابرۍ پوري د سړي او مینځي لپاره وَحِذَاءَ الْمَنْكِبَيْنِ لِلْحُرَّةِ او د اوږو تر برابرۍ پوري د ښځي لپاره.

لغات: ﴿حِذَاء﴾ او حَذْو: برابر، مقابل، په برابرۍ کي، ﴿مَنْكِبَيْن﴾ تثنیه د مَنْكِبٌ ده: اوږه (ووږه).

تشریح: (۱) د لمونځ شروع کولو په وخت کي د سړي لپاره د الله اکبر ویلو پر مهال د غوږو تر نرمیو پوري دواړه لاسونه پورته کول سنت دي. همدا حکم د مینځي دي، او د لاس پورته کولو طریقه دا ده چي لاسونه دي داسي پورته کړي چي مړوندونه یې د اوږو په مقابل کي راسي، بټي ګوتي د غوږو د نرمیو په مقابل کي راسي او د ګوتو سرونه د غوږو د پورتني طرفونو (سرونو) په مقابل کي راسي، او ښځه دي لاسونه داسي پورته کوي چي لاسونه د اوږو په مقابل کي راسي (یعني ښځه دي تر خپلو اوږو پوري لاسونه پورته کوي).

د لاسونو د پورته کولو په وخت کي ګوتي خلاصي ساتل

﴿۲۲۶﴾ وَنَشْرُ الْأَصَابِعِ او ګوتي غوړول (خلاصي (پرانېتي) ساتل).

لغات: ﴿نشر﴾ د نصر د باب مصدر دی: غوړول، پرانیستل (د ګوتو په مینځ کي خلا پیدا کول).

تشریح: (۲) دویم سنت دا دی چي د تکبیرِ تحریمه لپاره د لاس پورته کولو په وخت کي ګوتي سره موښتي (جوختي) نه وي، بلکي څه غوندي خلاصي (غوړول سوي) وي، او پوره غوړول هم نه دي پکار دي (یا په بله وینا: پر خپل حال پرېښوول پکار دي چي نه پوره سره موښتي وي او نه پوره خلاصي وي)، او لاسونه دي داسي پورته کوي چي ورغوي د قبلې و طرف ته وي. (ثمرة النجاح، انوار الایضاح)

﴿۲۲۷﴾ وَمُقَارَنَةُ إِحْرَامِ الْمُقْتَدِيْ لِإِحْرَامِ إِمَامِهِ او د مقتدي (لپاره) تکبیرِ تحریمه یو ځای کول د خپل امام د تکبیرِ تحریمه سره.

تشریح: (۳) د مقتدي لپاره تکبیرِ تحریمه د امام سره یو ځای اداء کول هم سنت دي، یعني کوم وخت چي امام "اللهُ أكبر" ووایي، هاغه وخت دي یې مقتدي هم ووایي، په دې شرط چي تر امام مخکي څني فارغ نه سي یعني په دې شرط چي د امام له "اللهُ" او "أكبر" ویلو څخه مخکي مقتدي له "اللهُ" او "أكبر" ویلو څخه فارغ نه سي. لهذا که یو مقتدي لفظ د "الله" خو د امام سره یو ځای ووایي

لیکن د "أکبر" لفظ مخکي وواېي یعني د امام له "أکبر" ویلو څخه مخکي ځني فارغ سي، نو د اصح قول مطابق د هغه لمونځ نه شروع کیږي. (شفاء الارواح بحوالهٔ حاشیه)

راسته لاس په چپه لاس باندي اېښوول او نیول او د نیولو طریقه

﴿۲۴۸﴾ وَوَضْعُ الرَّجُلِ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى تَحْتَ سُرَّتِهٖ او د سړي (لپاره) خپل راسته لاس پر چپه لاس تر نامه لاندي اېښوول وَصِفَةُ الْوَضْعِ أَنْ يَّجْعَلَ بَاطِنَ كَفِّ الْيُمْنٰى عَلٰى ظَاهِرِ كَفِّ الْيُسْرٰى او د اېښوولو طریقه دا ده چي راسته ورغوی د چپه ورغوي پر شا کېښږدي مُحَلِّقًا بِالْخِنْصَرِ وَالْإِبْهَامِ عَلَى الرُّسْغِ په داسي حال کي چي په خچې او بټه ګوته سره پر مروند حلقه جوړونکی وي.

لغات: ﴿مُحَلِّقًا﴾ د تفعیل د باب له د فاعل صیغه ده: حقله (کړی) جوړونکی، حَلَّقَ يُحَلِّقُ تَحْلِيقًا: حلقه جوړول، دائره جوړول.

تشریح: (۴) په دې عبارت کي څلورم سنت بیان سوی دی چي په لمانځه کي راسته لاس په چپه لاس باندي اېښوول سنت دي، او د دې تر څنګ دوې مسئلې نوري بیان سوي دي: ① یوه مسئله د لاس اېښوولو د ځای ده چي دواړه لاسونه دي تر نامه (ناف) لاندي اېږدي (په داسي توګه چي نُو (ناف) د لاسونو د پورتنۍ حصې سره لګېدلی وي)، ② دویمه مسئله د هغه د طریقې ده، نو طریقه یې دا ده چي د راسته لاس ورغوی دي د چپه لاس د ورغوي پر شا کېږدي او د راسته لاس په خچې او بټه ګوته سره دي د چپه لاس مروند نیسي (یا په بله وینا: د راسته لاس په خچنه او بټه ګوته سره دي د چپه لاس پر مروند حلقه جوړوي). او پاته درې ګوتي دي یې پر لېښي غوړوي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د ښځي د لاس اېښوولو ځای او طریقه

﴿۲۴۹﴾ وَوَضْعُ الْمَرْأَةِ يَدَيْهَا عَلٰى صَدْرِهَا مِنْ غَيْرِ تَحْلِيْقٍ او د ښځي خپل لاسونه پر سینه اېښوول بغیر له حلقه جوړولو سره.

تشریح: (۵) او ښځه دي په لمانځه کي لاسونه پر سینه اېږدي؛ ځکه په دې کي ستر زیات دی کوم چي د ښځي لپاره ضروري دی، او د اېښوولو طریقه یې دا ده چي د راسته لاس ورغوی دي د چپه لاس د ورغوي پر شا کېږدي او د سړي په څېر دي حلقه نه جوړوي یعني په خچې او بټه ګوته سره دي مروند نه نیسي.

څو نور سنتونه

﴿۳۵۰﴾ وَالثَّـنَاءُ او (همدارنګه سنت دي) ثناء ويل وَالتَّعَوُّذُ لِلْقِرَاءَةِ او اعوذ بالله... ويل د قرائت لپاره وَالتَّسْمِيَةُ أَوَّلَ كُلِّ رَكْعَةٍ او بسم الله... ويل د هر رکعت په شروع کي وَالتَّأْمِيْنُ او آمين ويل وَالتَّحْمِيْدُ او ربنالك الحمد ويل وَالْإِسْرَارُ بِهَا او دا ټوله په کراره ويل (يعني ثناء، تعوذ، تسميه، آمين او تحميد په پټ آواز سره ويل سنت دي).

لغات: ﴿تأمين﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: آمين ويل، آمين اسم فعل دی چي د هغه معنیٰ ده: "اِسْتَجِبْ" (اې رب تعالیٰ! دعاء قبوله کړه!)، اوس وخت مسلمانان، يهود او نصاریٰ ټوله دغه لفظ استعمالوي، خو مسلمانان يې په مد سره آمين وايي او يهود او نصاریٰ يې بغير له مد څخه بغير أمين وايي، دا لفظ له کومي ژبي څخه دی؟ په دې باره کي مي څه تحقيق تر لاسه نه کړی.

تشريح: په دې عبارت کي څو سنتونه بيان سوي دي: (۶) له الله اکبر (تکبير تحريمه) ويلو څخه وروسته ثناء "سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلاَ إِلٰهَ غَيْرُكَ" ويل سنت دي، (۷) تر ثناء وروسته له سورة الفاتحه څخه مخکي تعوّذ "اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم" ويل سنت دي، او تعوّذ دا د ثناء جزء نه دی، بلکي د قرائت سره متعلق دی، (۸) له تعوّذ څخه وروسته تسميه "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم" ويل سنت دي، او په هر رکعت کي له سورة الفاتحه څخه مخکي بسم الله ويل سنت دي، (۹) آمين ويل سنت دي، يعني کله چي امام سورة الفاتحه ختم کړي "وَلَا الضَّالِّيْن" ووايي، نو په دې وخت کي امام او مقتدي دواړو لره آمين ويل سنت دي، همدارنګه تنها لمونځ کونکی او د لمانځه څخه بهر چي څوک سورة الفاتحه ووايي، هغه لره هم تر "ولا الضالين" وروسته آمين ويل سنت دي، (۱۰) بل سنت دا دی چي امام او منفرد (تنها لمونځ کونکی) دي له "سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ" څخه وروسته "رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ" هم وايي، او مقتدي دي صرف "رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ" وايي، (۱۱) او يو بل مستقل سنت دا دی چي ثناء، تعوّذ، تسميه او آمين دي په کراره وايي، برابره ده امام وي او که مقتدي يا منفرد وي؛ ځکه دا ټوله شيان له اذکارِ مسنونه څخه دي چي د هغوی حکم اخفاء ده لکه د سجدې او رکوع تسبيحات او داسي نور. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي بحواله انوار الايضاح ص: ۱۴۱، ۱۴۲)

د تکبیر التحریمه په وخت کي به خنګه دریږي؟

﴿٣٥١﴾ وَالْاِعْتِدَالُ عِنْدَ التَّحْرِيْمَةِ مِنْ غَيْرِ طَاْطَاَةِ الرَّأْسِ او سیده درېدل د تحریمه (تکبیرِ تحریمه ویلو) په وخت کي بغیر له سر ټیټولو څخه.

تشریح: (١٢) مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي د تکبیرِ تحریمه د ویلو پر مهال بالکل سیده درېدل هم سنت دي، سر دي بالکل نه کږوي، بعضي لمونځ ګزاران چي کله د تکبیر تحریمه لپاره لاسونه پورته کوي، نو سر ډېر کږوي، دا خلاف سنت دی. (در مختار مصر ج:١، ص:٢٢٣ بحوالة انوار الایضاح)

تکبیرات انتقالیه په لوړ آواز سره ویل

﴿٣٥٢﴾ وَجَهْرُ الْإِمَامِ بِالتَّكْبِيْرِ وَالتَّسْمِيْعِ او په زوره ویل د امام (لپاره) د الله اکبر او سمع الله لمن حمدهٗ.

تشریح: (١٣) د امام لپاره دا سنت دي چي له رکن څخه بل رکن ته د منتقل کېدلو په وخت کي تکبیراتِ انتقالیه او له رکوع څخه د پورته کېدلو په وخت کي "سمع الله لمن حمدهٗ" او "سلام" په لوړ آواز سره وایي، د دې لپاره چي مقتدیان خبر سي چي امام له یوه رکن څخه و بل رکن ته منتقل کیږي. (مراقی الفلاح ص، ١٢٣)

﴿٣٥٣﴾ وَتَفْرِيْجُ الْقَدَمَيْنِ فِي الْقِيَامِ قَدْرَ أَرْبَعِ أَصَابِعَ او دواړي پښې خلاصي ساتل (سره لیري کول) په ولاړه کي د څلورو ګوتو په اندازه.

لغات: ﴿تفریج﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: خلاصول، خلاص ساتل، پراخه ساتل.

تشریح: (١٤) په لمانځه کي د ولاړي په حالت کي د دواړو قدمونو ترمینځ څلور ګوتي فاصله راوستل سنت دي.

په لمانځه کي د قرائت سنت مقدار

﴿٣٥٤﴾ وَأَنْ تَكُوْنَ السُّوْرَةُ الْمَضْمُوْمَةُ لِلْفَاتِحَةِ مِنْ طِوَالِ الْمُفَصَّلِ فِي الْفَجْرِ وَالظُّهْرِ او (همدارنګه سنت دي) دا چي وي هغه سورت کوم چي د فاتحه سره یو ځای کول کیږي له طوالِ مُفصّل (اوږدو سورتونو) څخه په سهار او ماپښین کي وَمِنْ أَوْسَاطِهِ فِي الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ او له اوساطِ مُفصّل (میانه سورتونو) څخه په مازیګر او ماخوستن کي وَمِنْ قِصَارِهِ فِي الْمَغْرِبِ او له قصارِ مُفصّل (کوچنیو سورتونو) څخه په ماښام کي إِنْ كَانَ مُقِيْمًا (دا سنت والې هلته دي) که چیري

لمونځ ګزار مقیم وي وَيَقْرَأُ أَيَّ سُوْرَةٍ شَاءَ لَوْكَانَ مُسَافِرًا او وایي دي هر سورت چي یې خوښه وي که چیري مسافر وي.

تشریح: (۱۵) په لمانځه کي څومره مقدار قرائت سنت دی، په دې باره کي دلمونځ ګزار درېو حالتونو په اعتبار سره جلا، جلا حکم دی:

①... که چیري لمونځ ګزار په سفر کي وي او سفر جاري وي، نو له سورة الفاتحه څخه وروسته چي کوم سورت هم ویل وغواړي، هغه دي وایي، که څه هم ډېر کوچنی سورت وي او که څه هم هر لمونځ وي (مثلا که دسهار په لمانځه کي قُل أعوذ برب الفلق او قُل أعوذ برب الناس ووایي، نو بیا هم سنت اداء کیږي).

②... که لمونځ ګزار مسافر وي، لیکن یو ځای په اطمینان سره اقامت وکړي، نو د سهار او ماپښین په لمانځه کي له اوساط مفصّل څخه اوږده سورتونه، دمازیګر او ماخوستن په لمانځه کي داوساطِ مفصل کوچني سورتونه او دماښام په لمانځه کي د قصار مفصل کوچني سورتونه ویل سنت دي.

③... او که لمونځ ګزار مقیم وي او وخت هم تنګ نه وي، نو دهغه لپاره سنت دا دي چي د سهار او ماپښین په لمانځه کي دي طوالِ مفصل، دمازیګر او ماخوستن په لمانځه کي دي اوساط مفصل او د ماښام په لمانځه کي دي قصار مفصل وایي (برابره ده لمونځ ګزار امام وي او که منفرد وي اشفاء الارواح ا)

فایده: له طِوَالِ مُفَصَّل څخه مراد اوږده سورتونه دي، او دا له "سورة الحُجرات" څخه واخله تر "سورة البُروج" پوري دي، دغه سورتونو ته طوال مفصل ویل کیږي. له أَوْسَاطِ مُفَصَّل څخه مراد د مېنځوي درجې سورتونه دي یعني چي نه زیات اوږده وي او نه زیات کوچني، او دا "له سورة البُروج" څخه واخله تر "سورة البَیِنه (لَمْ یَکُنِ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا)" پوري دي. له قِصَارِ مُفَصَّل څخه مراد کوچني سورتونه دي، او دا له "سورة البَیِّنه" څخه د قرآن تر آخره یعني تر "سورة النَّاس" پوري دي، همدا د جمهورو علماؤ مختار تعریف دی.

یادونه: په عمومي حالاتو کي د مسجد په جماعت کي د سهار او ماپښین په لمانځه کي طوالِ مفصل، دمازیګر او ماخوستن په لمانځه کي اوساطِ مفصل او د ماښام په لمانځه کي قصارِ مفصل څخه کم قرائت نه کول پکار دي، که څوک بوډا یا مریض وي او د سهار په لمانځه کي د سنت قرائت په اندازه نه سي درېدلای، نو هغه دي په ناسته قرائت اوري، یا په کور کي دي لمونځ کوي، د داسي کس په رعایت کي به په سنت قرائت کي کمي او تخفیف نه کول کیږي، خو په ناڅاپه پېښېدونکي حالاتو کي کمي وزیاتوب کولای سي، مثلاً د لمانځه په دوران کي امام محسوس کړي چي ډېر خلک مسجد ته راغلي دي او اودسونه کوي، نو امام قرائت اوږدولای سي، د دې لپاره چي خلک له اودس څخه تر فارغېدلو وروسته په جماعت کي شریک سي، یا به صحن (غولي) او خلاص

ځلی کي جماعت کول کیږي او باران شروع سي، نو قرائت مختصره کولای سي، همدارنګه که په کور کي بوډا یا مریض کس ته لمونځ ورکوي، نو هم له سنت قرائت څخه کم قرات کولای سي. (تحفة الالمعی ج:۱، ص:۵۶۹)

د سهار په لمانځه کي اول رکعت اوږدول

﴿۲۵۵﴾ وَإِطَالَةُ الْأُوْلٰى فِي الْفَجْرِ فَقَطْ او (سنت دي) داول رکعت اوږدول صرف په سهار کي.

تشریح: (۱۶) د امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف رَحِمَهُمَا الله په نیز د سهار په لمانځه کي اول رکعت له دویم رکعت څخه اوږدول او په نورو لمنځونو کي دواړه رکعتونه برابر ساتل مسنون دي. د امام محمد او د نورو امامانو رَحِمَهُمُ الله په نیز په ټولو لمنځونو کي اول رکعت له دویم رکعت څخه اوږدول سنت دي. (طحطاوي علی مراقی الفلاح ص:۱۴۴)

﴿۲۵۶﴾ وَتَكْبِيرَةُ الرُّكُوْعِ او (سنت دي) د رکوع تکبیر.

تشریح: (۱۷) رکوع ته د تللو په وخت کي "الله أکبر" ویل سنت دي.

﴿۲۵۷﴾ وَتَسْبِيحُهُ ثَلَاثًا او د رکوع تسبیح دري واره (ویل).

تشریح: (۱۸) په رکوع کي کم از کم دري واره "سبحان ربي العظیم" ویل سنت دي.

﴿۲۵۸﴾ وَأَخْذُ رُكْبَتَيْهِ بِيَدَيْهِ او (سنت دي په حالت د رکوع کي) خپل دواړه زنګونان په دواړو لاسو سره نیول.

تشریح: (۱۹) د رکوع کولو په وخت کي زنګونان په لاسو سره نیول سنت دي.

﴿۲۵۹﴾ وَتَفْرِيجُ أَصَابِعِهِ او (سنت دي په رکوع کي) خپل ګوتي خلاصي ساتل وَالْمَرْأَةُ لَا تُفَرِّجُهَا او ښځه به یې خلاصي نه ساتي.

لغات: ﴿تفریج﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: خلاصول، خلاص ساتل، پراخه ساتل

تشريح: (۲۰) شلم سنت دا دی چې په رکوع کې پر زنګنو د لاسو د اېښوولو (زنګون نيولو) په وخت کې دې سرې ګوتې خلاصې ساتي (خلا دې پکښې راولي) او ښځه دې ګوتې سره يو ځای (جوختې) ساتي او په لاسو سره دې زنګون نه نيسي، صرف اېږدي دې يې.

﴿۳۶۰﴾ وَنَصْبُ سَاقَيْهِ او (سنت دي) خپل دواړي پنډۍ سيده درول (سيده ساتل) وَبَسْطُ ظَهْرِهٖ وَتَسْوِيَةُ رَأْسِهٖ بِعَجْزِهٖ او خپله ملا هوارول (سيده کول) او خپل سر د کوناټو سره برابرول (سيده ساتل).

لغات: ﴿نَصْب﴾ د ضرب د باب مصدر دی: درول، جګول. ﴿عَجزٌ﴾ او عَجُزٌ د هر شي شاتنی حصه، کوناټي، جمع: أَعْجَازٌ. (انوار الايضاح)

تشريح: (۲۱) پنډياني سيده کول په دې توګه چې په زنګنو کې کوږوالی نه وي، سنت دي.

(۲۲، ۲۳) او د سړي لپاره د رکوع په حالت کې بنه تېتېدل چې سر، ملا او سُرين (کوناټي) ټول سره برابر سيده سي چې که د اوبو لوښی د هغه پر ملا کېښوول سي، نو هغه سيده پاته سي. او د ښځې لپاره په رکوع کې به دې ټولو هيئتونو کې د سړي برعکس کول سنت دي چې په رکوع کې دې صرف دومره اندازه کږېږي چې لاسونه يې تر زنګنو پوري ورسيږي او ملا دې نه سيده کوي او ګوتې دې سره يو ځای (جوختې) اېږدي او پر زنګنو دې صرف لاسونه اېږدي او په زنګنو کې دې کوږوالی ساتي. د خلکو په څېر دې يې نه سيده کوي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

﴿۳۶۱﴾ وَالرَّفْعُ مِنَ الرُّكُوْعِ وَالْقِيَامُ بَعْدَهٗ مُطْمَئِنًّا او (سنت دي) له رکوع څخه پورته کېدل او تر رکوع وروسته په اطمينان سره درېدل.

تشريح: (۲۴) له رکوع څخه پورته کېدل سنت دي.

(۲۵) بيا تر رکوع وروسته سيده درېدل يعني قومه د مشهوره مذهب مطابق سنت ده، خو د صحيح مذهب مطابق قومه واجب ده. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

﴿۳۶۲﴾ وَوَضْعُ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَدَيْهِ ثُمَّ وَجْهِهٖ لِلسُّجُوْدِ او د سجدې لپاره (اول) خپل دواړه زنګونه، بيا لاسونه، بيا خپل مخ اېښوول وَعَكْسُهٗ لِلنُّهُوْضِ او د پورته کېدو لپاره د دې برعکس کول.

لغات: ﴿نهوض﴾ د فتح د باب ماضي ده: پورته کېدل، درېدل.

تشریح: (۲۶) سجدې ته د تللو په وخت کې زنګونان پر ځمکه ایښوول بیا لاسونه، بیا پزه، بیا تندی ایښوول سنت دي، (۲۷) او له سجدې څخه د پورته کېدلو په وخت کې د دې برعکس کول سنت دي، یعني اول تندی، بیا پزه، بیا دواړه لاسونه، بیا دواړه زنګونان پورته کول. (شفاء الارواح)

﴿۳۶۳﴾ وَتَكْبِيْرُ السُّجُوْدِ وَتَكْبِيْرُ الرَّفْعِ مِنْهُ او د سجدې تکبیر او له سجدې څخه د راپورته کېدلو تکبیر (یعني په الله اکبر سره سجدې ته تلل او را پورته کېدل سنت دي).

تشریح: (۲۸) سجدې ته د تللو په وخت کې تکبیر ویل سنت دي، (۲۹) همدارنګه له سجدې څخه د راپورته کېدلو په وخت کې هم تکبیر ویل سنت دي.

﴿۳۶۴﴾ وَكَوْنُ السُّجُوْدِ بَيْنَ كَفَّيْهِ او سجده د خپل دواړو ورغوو تر مینځ کېدل.

تشریح: (۳۰) د سجدې په حالت کې مخ د دواړو ورغوو (لاسونو) په مینځ کې ایښوول هم سنت دي.

﴿۳۶۵﴾ وَتَسْبِيْحُهُ ثَلَاثًا او د سجدې تسبیح درې واره (ویل).

تشریح: (۳۱) په سجده کې کم از کم درې وار "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى" ویل هم سنت دي.

﴿۳۶۶﴾ وَمُجَافَاةُ الرَّجُلِ بَطْنَهٗ عَنْ فَخْذَيْهِ او (سنت دي په سجده کې) د سړي (لپاره) لیرې کول د خپل نس له خپلو ورنو څخه وَمِرْفَقَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ او (لیرې کول) د خپلو څنګلو له خپلو اړخو څخه وَذِرَاعَيْهِ عَنِ الْأَرْضِ او (لیرې کول) د خپلو لیڅو له ځمکې څخه.

لغات: ﴿مجافاة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: لیرې ساتل، جلا ساتل. ﴿فَخْذٌ﴾ او فَخِذٌ (د راء په سکون او کسره سره): ورون. جمع: أَفْخَاذ. ﴿جنب﴾ بغل څنګ، جمع: أَجْنَابٌ و جُنُوْبٌ. ﴿ذراع﴾ لیڅې (یعني له څنګلې څخه تر مړوند پورې د لاس برخه).

تشریح: (۳۲) دو هم سنت دا دی چې سړی دې د سجدې په حالت کې نس له ورنو څخه جلا ساتي، همدارنګه د سړي لپاره د سجدې په حالت کې څنګلې پر ځمکه یا پر ورنو لګول صحیح نه دي، همدا دې څنګلي پورته او له بغلو څخه لیرې ساتي، خو په جماعت سره د لمونځ کولو په وخت کې دې څنګلې دا سې نه باسي چې په هغه سره څنګ والا لمونځ ګزارانو ته تکلیف ورسیږي.

لو که څوک اوږده سجده کوي [illegible] له بغلو څخه

دځنګلو دلېږي ساتلو په وجه سترې سي، نو دهغه لپاره ځنګلي پر ورنو لګول جائز دي، خو دليځو دهوارولو اجازه ورته نسته.

د ښځي د سجدې طريقه

﴿۳۶۷﴾ وَ انْخِفَاضُ الْمَرْأَةِ او (سنت دي په سجده کي) دښځي (لپاره) ټيټېدل وَلَزْقُهَا بَطْنَهَا بِفَخْذَيْهَا او خپل نس له خپلو ورنو سره مښلول (لګول).

لغات: ﴿انخفاض﴾ دانفعال دباب مصدر دی: ټيټېدل. ﴿لَزْق﴾ لزوقًا: دسمع دباب مصدر دی: مښلېدل (لګېدل)، مښلول.

تشريح: (۳۳، ۳۴) دښځي لپاره په سجده کي دسړي خلاف کول سنت دي چي هغه دي خپلي ځنګلي دبغلونو سره لګوي او نس دي دورنو سره لګوي او ليځي دي پر ځمکه هواوري.

﴿۳۶۸﴾ و الْقَوْمَةُ وَالْجَلْسَةُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ او (سنت ده) قومه (له رکوع څخه وروسته) او جلسه ددوو سجدو په مينځ کي (يعني له رکوع څخه وروسته په اطمينان سره درېدل او ددوو سجدو په مينځ کي په اطمينان سره کښېناستل، دا هم سنت دي).

تشريح: (۳۵، ۳۶) دصحيح قول مطابق قومه يعني تر رکوع وروسته سيده په اطمينان سره درېدل واجب دي (لکه مخکي چي مو ذکر کړه) او جلسه يعني ددوارو سجدو په مينځ کي سيده په اطمينان سره کښېناستل دا هم دصحيح قول مطابق واجب دي، مصنف رَحِمَهُ اللہ غيرِ صحيح قول را اخيستی دی.-(شفاء الارواح)

﴿۳۶۹﴾ وَ وَضْعُ الْيَدَيْنِ عَلَى الْفَخْذَيْنِ فِيْمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ او (سنت دي) دواړه لاسونه پر ورنو اېښوول ددواړو سجدو په مينځ کي كَحَالَةِ التَّشَهُّدِ دتشهد دحالت په څېر (يعني لکه څنګه چي دالتحيات ويلو په حالت کي لاسونه پر ورنو اېښوول کېږي. همداسي دي په جلسه هم کول کېږي).

تشريح: (۳۷، ۳۸) او په جلسه (يعني دواړو سجدو دمينځ په ناسته) کي لاسونه پر ورنو اېښوول سنت دي. په لاسونو سره دي زنګونان نه نيسي. لکه څرنګه چي په التحيات کي همدا طريقه ده چه لاسونه پر ورنو اېږدي (په دې توګه چي ګوتې يې دقبلې پر طرف وي).

﴿۲۷۰﴾ وَافْتِرَاشُ رِجْلِهِ الْيُسْرٰى وَنَصْبُ الْيُمْنٰى او (سنت دي. د سړي لپاره) خپل چپه پښه غوړول او راسته پښه درول.

تشریح: (۳۹) په جلسه او التحیات کي د کښېنستلو پر مهال چپه پښه هوارول او پر هغه کښېنستل او راسته پښه درول (په دې توګه چي د هغې ګوتي د قبلې وطرف ته وي) سنت دي.

﴿۲۷۱﴾ وَتَوَرُّكُ الْمَرْأَةِ او د ښځي (لپاره) تورک کول.

لغات: ﴿تورك﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: پر کوناټي کښېنستل او پښې تريوه طرف ايستل.

تشریح: (۴۰) او د ښځي لپاره د ناستي سنت طريقه دا ده چي دواړي پښې دي هواري کړي، راسته طرف ته دي يې وباسي او پر چپه کوناټي دي کښېني.

﴿۲۷۲﴾ وَالْإِشَارَةُ فِي الصَّحِيْحِ بِالْمُسَبِّحَةِ عِنْدَ الشَّهَادَةِ او (سنت دي) اشاره کول په صحيح قول کي د شهادت په ګوته سره (په التحيات کي) د شهادت (أشهد أن لا إله...) ويلو په وخت کي يَرْفَعُهَا عِنْدَ النَّفْيِ وَيَضَعُهَا عِنْدَ الْإِثْبَاتِ پورته دي کړي هغه د نفي (لا إله ويلو) په وخت کي او هغه دي کښېږدي (کښته کړي) د اثبات (إلا الله ويلو) په وخت کي.

تشریح: (۴۱) په التحيّات کي د شهادت ويلو پر مهال په ګوته سره اشاره کول سنت دي او پر دې د څلورو سره فقهاؤ اتفاق دی، که څه هم د احنافو په نېز مخکي په دې مسئله کي شديد اختلاف وو، خو وروسته دا اختلاف ختم سو، او س ټوله احناف د اشارې قائل دي، د اشاره کولو طريقه دا ده چي خچې (خچنه) ګوته او د هغې څنګ والا دوې ګوتي (يعني د ګوتمې ګوته او مينځوې ګوته) دي بندي کړي او د شهادت ګوته دي سيده پورته کړي او بټه ګوته دي د مينځوې ګوتي د سر پر طرف کښېږدي چي حلقه غوني جوړه سي (يا بټه ګوته دي د مينځوې ګوتي پر دويم بند کښېږدي)، او له دې څخه بغير دوې طريقې نوري هم سته: ① يوه دا چي خچې ګوته او د هغې څنګ والا دوې ګوتي بندي کړي او بټه ګوته د شهادت ګوتي د بېخ سره ولګوي، ② دويمه دا چي ټوله ګوتي موټ کړي (موټ غوني جوړ کړي) او د شهادت په ګوتي سره اشاره وکړي.

او اشاره به کله کوي؟ نو فرمايي چي کله په التحيات کي شهادت (أشهد أن لا إله إلا الله...)

ته ورسېږي نو د "لا إله" د ويلو په وخت کي دي د شهادت ګوته دومره حدّ پورته کړي چي ګوته مخ پر قبله پاته سي (مخ يې د قبلې وطرف ته پاته سي) او دومره لوړه نه سي چي د آسمان وطرف ته سي، او

کله چې "إلَّا الله" ته ورسیږي، نو ګوته دې لاندې کړي او دا حلقه او موټ دې د سلام ګرځولو تر وخته پورې باقي ساتي.

او یو قول دا دی چې اشاره نه دې کول کیږي، خو هغه قول صحیح نه دی. (انوار الایضاح، شفاء الارواح بحواله حاشیه)

﴿۲۷۳﴾ وَ قِرَاءَةُ الْفَاتِحَةِ فِيْمَا بَعْدَ الْأُوْلَيَيْنِ او (سنت دي) سورة الفاتحه ویل له اولو دوو رکعتونو څخه وروسته والا رکعتونو کې.

تشریح: (۴۲) د فرضي لمانځه له اولو دوو رکعتونو څخه وروسته په آخرې پاتې رکعتونو کې سورة الفاتحه ویل سنت دي، واجب او لازم نه دي.

درود شریف او دعاء ویل

﴿۲۷۴﴾ وَالصَّلوٰةُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فِي الْجُلُوْسِ الْأَخِيْرِ او (سنت دي) درود شریف ویل په نبي کریم ﷺ باندې په آخره ناسته کې وَالدُّعَاءُ بِمَا يُشْبِهُ أَلْفَاظَ الْقُرْآنِ وَالسُّنَّةِ لَا كَلَامَ النَّاسِ او دعاء کول په داسې الفاظو سره کوم چې مشابه وي د قرآن کریم او حدیثو د الفاظو، نه د خلکو د خبرو (یعني داسې الفاظ کوم چې د کلام الناس مشابه وي).

تشریح: (۴۳) په آخره ناسته (قعدهٔ اخیره) کې تر تشهد وروسته درود شریف ویل سنت وي، او په درود کې درودِ ابراهیمي ویل افضل دي. (۴۴) همدارنګه له درود شریف څخه وروسته دعاء غوښتل هم سنت دي، خو دعاء به په هغه الفاظو سره غواړي کوم چې په قرآن یا حدیثو کې وارد سوي دي.

درود ابراهیمي: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ، اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ.

تر درود وروسته قرآني دعاګاني: په قرآن کې ډېر ځایونه دعاء ګاني ذکر سوي دي، له هغوی څخه څو دعاء ګاني لاندې نقل سوي دي، لمونځ ګزار ته پکار ده چې له دې دعاء ګانو یا له نبوي دعاء ګانو څخه یوه یا دوې وايي:

① ﴿ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴾. [سورة البقرة: ۲۰۱]

② ﴿ رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ ﴾. [سورة آل عمران: ۸]

③ ﴿ رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ. رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ﴾. [سورة ابراهيم: ٣٠، ٣١]

④ ﴿ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ. رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا عَلَى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴾. [سورة آل عمران: ١٩٣، ١٩٤]

⑤ ﴿ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴾. [سورة الفرقان: ٧٤]

تر درود وروسته نبوي دعاګانې: تر تشهد وروسته له نبي کريم ﷺ څخه څو نقل سوي دعاګانې دا دي:

① « اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ ». [بخاري شريف، حديث شمېره: ٨٣٢، مسلم شريف، حديث شمېره: ١٣٥٢]

② « اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي. أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ ». [مسلم شريف، حديث شمېره: ١٨١٢]

③ « اللّٰهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ». [بخاري شريف، حديث شمېره: ٨٣٤]

④ « اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْهَرَمِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ ». [مسلم شريف، حديث شمېره: ٦٣٦٧، ٦٨٧٣]

د دعاء د قبوليت په هکله د ځينو علماؤ قول: ځينو علماؤ ودې خبرې ته اشاره کړې ده چې په آخره ناسته کې تر درود شريف وروسته دعاء قبلېږي. ځکه په لمانځه کې تر درود مخکينۍ حصه ټوله د الله لپاره ده. لو دا تر درود حصه د بنده لپاره وي، او د دې مثال داسې دی لکه يو مزدور چې ټوله ورځ کار وکړي. نو د ورځې په آخر کې له مالک څخه د خپل کار اُجرت غواړي. آخري دعاء هم ديو اُجرت په ډول ده کوم چې يې موږ له الله ﷻ څخه د لمانځه په آخر کې غواړو. نو انشاء الله دا دعاء قبلېږي. همدا وجه ده چې يو بزرګ ويلي دي: چې که څوک غواړي زما اولاد او زما ښځه فرمانبرداره سي او زما لپاره د سترګو يخوالی وګرځي. نو هغه دې په آخره ناسته کې د دې قرآني دعاء اهتمام کوي: « رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ

وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ إِمَامًا ، او په ښه اخلاص سره دي دا دعاء نور وختونه هم وايي، ان شاء الله مقصد به يې پوره سي.

لهذا موږ ته پکار ده چې له نقل سوو دعاګانو څخه يوه غوره دعاء انتخاب کړو. او داسي هم کولای سو، چې ځيني وختونه يوه دعاء وايو، او ځيني وختونه بله دعاء.

راسته او چپه طرف ته مخ ګرځول

﴿٢٧٥﴾ وَالْاِلْتِفَاتُ يَمِيْنًا ثُمَّ يَسَارًا بِالتَّسْلِيْمَتَيْنِ او (سنت دي) مخ ګرځول راسته طرف ته بيا چپه طرف ته په دواړو سلامونو کي (يعني د سلام ګرځولو په وخت کي).

لغات: ﴿الالتفات﴾ دافتعال د باب مصدر دی: توجّه کول (پاملرنه کول)، د يو شي وطرف ته مخ ګرځول (مخ اړول). (معجم الوسيط)

تشريح: (۴۵) د سلام ګرځولو په وخت کي راسته او چپه طرف ته مخ ګرځول سنت دي، او مخ دي دومره ګرځوي چي له شا څخه يې باړخو ليدل کيږي، همدارنګه چپه طرف ته. او د سلام ګرځولو په وخت کي راسته طرف ته په راسته اوږده باندي نظر ساتل او چپه طرف ته په چپه اوږه باندي نظر ساتل مستحب دي.

د سلام ګرځولو په وخت کي به امام څه نيت کوي؟

﴿٢٧٦﴾ وَنِيَّةُ الْإِمَامِ الرِّجَالَ وَالْحَفَظَةَ وَصَالِحِ الْجِنِّ بِالتَّسْلِيْمَتَيْنِ او د امام (لپاره سنت دي) نيت کول د خلکو او د ساتونکو ملائکو او د نېکو پېريانو په دواړو سلامونو کي فِي الْأَصَحِّ د صحيح ترين قول مطابق.

تشريح: (۴۶) د سلام ګرځولو په وخت کي د سلام کولو نيت کول سنت دي، امام به د مقتديانو نيت کوي (يعني پر مقتديانو به د سلام کولو نيت کوي) او د ساتونکو فرشتو نيت به کوي کوم چي د انسان د هر قول او عمل حفاظت کوي يا له سرکښو جناتو او شياطينو څخه د انسان حفاظت کوي، همدارنګه د نېکو جناتو نيت به هم کوي (ځکه ډېر ځله نېک جنات هم په جماعت کي شرکت کوي)، او د ا حکم دواړو طرفونو ته د سلام ګرځولو په وخت کي دی، ځيني حضرات فرمايي چي صرف په اول سلام کي دي نيت کوي، خو اصح قول همدا اول قول دی. (مراقی الفلاح ص، ۱۵۰)

مقتدی به څه نیت کوي؟

﴿۳۷۷﴾ وَنِيَّةُ الْمَأْمُوْمِ إِمَامَهُ فِيْ جِهَتِهٖ او د مقتدي (لپاره سنت دي) نیت کول د خپل امام د هغه په طرف کې (یعني کوم طرف ته چې امام وي. یعني که امام د مقتدي راسته طرف ته وي. نو د راسته طرف په سلام کې دې د هغه نیت وکړي او که چپه طرف ته وي نو.....) وَإِنْ حَاذَاهُ او که د امام سره برابر وي (یعني که مقتدی د امام شاته برابر ولاړ وي) نَوَاهُ فِي التَّسْلِيْمَتَيْنِ مَعَ الْقَوْمِ وَالْحَفَظَةِ وَصَالِحِ الْجِنِّ نو په دواړو سلامونو کې دې د امام نیت وکړي، د قوم، ساتونکو فرښتو او نېکو پېریانو (د نیت) سره.

لغات: ﴿حاذاه﴾ د مفاعلې د باب ماضي ده: په مقابل کې راتلل، برابرېدل، برابرول. ﴿حفظة﴾ جمع د حَافِظٌ ده: علمنامه لیکونکي فرښتې، د انسان راسته طرف ته "رقیب" فرښته ده کوم چې نېکیاني لیکي او چپه طرف ته "عتید" فرښته ده کوم چې بدیاني لیکي او دوی ته "حَفَظَة" په دې وجه ویل کېږي چې دوی له انسان څخه صادر بېدونکي ټوله اقوال او فعال لیکي او محفوظه کوي، یا په دې وجه چې دوی له خبیثه جناتو او د هلاکت له ځایو څخه د انسان حفاظت کوي. (انوار الایضاح)

تشریح: (۴۷) یعني د سلام گرځولو په وخت کې د مقتدي لپاره هم نیت کول سنت دي، او مقتدی درې قسمه کېدلای سي: ① هغه مقتدی کوم چې د امام راسته طرف ته وي، هغه دې په اول سلام کې صرف د خپل راسته طرف والا مقتدیانو، فرښتو او نېکو جناتو باندې د سلام نیت کوي او د چپه طرف په سلام کې دې د امام او د چپه طرف والا مقتدیانو او فرښتو او جناتو نیت کوي، ② هغه مقتدی کوم چې د امام چپه طرف ته وي، هغه دې په اول سلام کې د امام او چپه طرف ته د مقتدیانو، فرښتو او جناتو نیت کوي او په دویم سلام کې دې د امام له نیت څخه بغیر باقي د ټولو نیت کوي، ③ هغه مقتدی کوم چې بالکل د امام شاته وي، برابره ده هغه پر هر صف کې وي، هغه دې په خپل دواړو سلامونو کې د امام نیت کوي او د دې تر څنګ د دواړو طرفونو د فرښتو، جناتو او مقتدیانو نیت دې هم کوي. (مراقي الفلاح ص، ۱۵۰)

منفرد به څه نیت کوي؟

﴿٢٤٨﴾ وَنِيَّةُ الْمُنْفَرِدِ الْمَلَائِكَةَ فَقَطْ او د تنها لمونځ کونکي (لپاره سنت دي) صرف د فرشتو نیت کول.

تشریح: (٤٧) د منفرد لپاره صرف راسته او چپه طرف ته د فرشتو نیت کول سنت دي، یعني کوم څوک چې تنها (یوازي) لمونځ کوي، هغه دي صرف په حفاظت کونکو فرشتو باندي د سلام نیت کوي؛ ځکه د ده سره صرف هغه فرشتي دي. خو علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چې کله یو کس په دښت او صحرا کي په آذان او اقامت سره لمونځ کوي، نو خلق کثیر په هغه پسي اقتداي کوي، لهذا دلته د "وَيَنْوِيْ مَنِ اقْتَدٰى" عبارت ذکر کول مناسب وه. (طحطاوي ص: ١٥٠)

❀ ❀ ❀

د مسلمان سره د فرشتو شمېر: له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا څخه روایت دی چي د هر مسلمان سره پنځه حفاظت کونکي فرشتې وي: ① یوه یې راسته طرف ته د نېکیو لیکونکې فرشته وي، ② او یوه یې چپه طرف ته د بدیو لیکونکې فرشته وي، ③ او یوه یې مخ ته د ښو کارونو تلقین ورکونکې فرشته وي، ④ او یوه یې شاته له سترګو او پېښو څخه ساتونکې فرشته وي، ⑤ او یوه یې د تندي سره درود لیکونکې او نبي ﷺ ته د درود رسونکې فرشته وي.

او له ابو امامه ﷺ څخه روایت دی: «وُكِّلَ بِالْمُؤْمِنِ مِائَةٌ وَسِتُّوْنَ مَلَكًا يَذُبُّوْنَ عَنْهُ كَمَا يُذَبُّ عَنْ قَصْعَةِ الْعَسَلِ الذُّبَابُ... (الخ)». [المعجم الکبیر للطبراني، حدیث شمېره، ٧٧٠٤؛ تفسیر آلوسي ج: ٢٠، ص: ١٣٧٥]. (یعني د مؤمن د حفاظت او ساتني لپاره یو سل او شپېته [١٦٠] فرشتې ټاکل سوي دي چي هغه له مؤمن څخه داسي دفاع او ساتنه کوي څرنګه چي د تندي ګرمۍ په ورځ د عسلو کاسه له مچیانو څخه ساتل کیږي، او که بنده یوه ثانیه خپل نفس ته وسپارل سي، نو شیطانان به یې څېري او نادر که کړي).

او په ځیني روایاتو کي د شپېته فرشتو او په ځینو کي د لسو فرشتو ذکر سوی دی، او په ځینو کي د پنځو او په ځینو کي د دوو ذکر سوی دی. لنډه دا چي کله د فرشتو په شمېر کي اختلاف دی، نو ځکه بعضي علماء فرمايي چې له څه تعیین څخه پرته د ټولو فرشتو نیت به کول کیږي.

﴿٣٧٩﴾ وَ خَفْضُ الثَّانِيَةِ عَنِ الْأُوْلٰى او (سنت دي) دويم سلام له اول سلام څخه ټيټول (يعني په ټيټ آواز سره ويل د اول سلام په نسبت).

لغات: ﴿خفض﴾ د ضرب د باب مصدر دی: ټيټول (په ټيټ آواز سره ويل).

تشريح: (٤٨) دويم سلام څه په ټيټ (کښته) آواز سره ويل هم سنت دي، چې امام دي دويم سلام د اول سلام په نسبت څه په ټيټ آواز سره وايي.

﴿٣٨٠﴾ وَمُقَارَنَتُهٗ لِسَلَامِ الْإِمَامِ او (سنت دي) د مقتدي (لپاره خپل سلام) يو ځای کول د امام د سلام سره.

تشريح: (٤٩) د مقتدي لپاره سنت دا دي چې د امام د سلام سره يو ځای سلام وګرځوي. خو صاحبين رَحِمَهُمَا الله فرمايي چې د امام د سلام وروسته دي سلام ګرځوي چې په دنياوي أمورو کې تلوار کول لازم نه سي (يعني غوره دا ده چې مقتدی امام ته منتظر سي کله چې امام راسته طرف ته سلام وګرځوي، نو بيا دي مقتدی راسته طرف ته سلام وګرځوي، همدارنګه کله چې امام چپه طرف ته له سلام څخه فارغ سي، نو مقتدی دي چپه طرف ته سلام وګرځوي). (مراقي الفلاح ص: ١٥٠. شفاء الارواح ص ١٦٩)

﴿٣٨١﴾ وَالْبِدَاءَةُ بِالْيَمِيْنِ او (سنت دي) شروع کول (په سلام کي) په راسته طرف سره.

شريح: (٥٠) او په سلام کي په راسته طرف سره شروع کول يعني اول راسته طرف ته سلام ګرځول هم سنت دي.

مسبوق به د خپل پاته لمانځه د پوره کولو لپاره کله ولاړيږي؟

﴿٣٨٢﴾ وَانْتِظَارُ الْمَسْبُوْقِ فَرَاغَ الْإِمَامِ او (سنت دي) د مسبوق (لپاره) انتظار کول د امام د فارغېدلو.

ات: ﴿مسبوق﴾ هغه مقتدی چې اول رکعت څني تېر سوی وي، هغه ته مسبوق وايي. نور بيا که ه رکعته څني تير سوي وي او که درې يا څلور سره.

شريح: (٥١) او د مسبوق لپاره د خپل امام د فارغېدلو انتظار کول سنت دي، يعني د مسبوق لپاره دا نت دي چې کله امام دواړو طرفونو ته سلام وګرځوي او مسبوق مطمئن سي چې پر امام سجدهٔ سهو سته، نو بيا دي د خپل پاته لمانځه د پوره کولو لپاره ولاړ سي.

* * *

تر سلام مخکي د پاته لمانځه د پوره کولو لپاره ولاړېدل

مسئله: په آخره ناسته کي د تشهّد په اندازه ناستي څخه مخکي د مسبوق ولاړېدل په هیڅ صورت کي جائز نه دي، او د تشهد په اندازه ناستي څخه وروسته او د امام تر سلام ګرځولو مخکي ولاړېدل صرف د عذر په صورت کي جائز کېدلای سي، په عامو حالاتو کي یې اجازه نسته، او عذرونه په لاندي توګه کېدلای سي:

① یو دا چي مسبوق موزې، (جرموقین وغیره) اغوستي وي او ده ته دا بېره وي چي که د امام تر سلام ګرځولو وروسته خپل پاته لمونځ پوره کړم، نو د مسح موده به ختمه سي، ② دوېم دا چي مسبوق شرعاً معذره وي او هغه ته د لمانځه د وخت وتلو بېره وي، ③ درېیم دا چي د جمعې په لمانځه کي د مازیګر د وخت داخلېدلو بېره وي، یا د سهار په لمانځه کي د لمر راختلو امکان وي. ④ څلورم دا چي مسبوق ته دا بېره وي چي د امام تر سلام ګرځولو وروسته به داسي رش (ګڼه ګونه) سي چي د پاته لمونځ پوره کول به زما لپاره مشکل سي، نو د داسي عذرونو په وجه مسبوق د خپل بقیه لمونځ لپاره د امام تر سلام ګرځولو مخکي هم ولاړېدلای سي. (عالمګیري ج:۱، ص:۹۱، طحطاوي ص:۱۵۰، کتاب المسائل ص:۳۹۷)

* * *

فَصْلٌ فِيْ آدَابِهَا

(دا) فصل په (بیان د) د لمانځه د آدابو کې دی

تشریح: آدَاب جمع د أدبٌ ده.

د ادب لغوي او اصطلاحي معنیٰ: ادب د "کَرُمَ" او "ضَرَبَ" له بابونو څخه مصدر راځي: ځیرک کېدل، هوښیار کېدل، بلنه ورکول، ښه خوی او عادت والا کېدل، او اصطلاحي معنیٰ یې په ادبیاتو کې په مختلفه الفاظو سره نقل سوې ده، د دې باب سره اړوند اصطلاحي معنی یې داسې نقل سوې ده: « مَا فَعَلَهُ النَّبِيُّ ﷺ مَـرَّةً وَتَرَكَهُ أُخْرٰى »، (یعني هغه عمل چي ځیني وختونه نبي کریم ﷺ کړی وي او ځیني وختونه یې پرې ایښی وي)، .لنډه دا چي له ادب څخه مراد هغه دی کوم چي نبي کریم ﷺ کله نا کله کړی وي او پر هغه یې همېشتوب نه وي کړی، لکه په رکوع او سجده کي له دریو وارو څخه زیات تسبیحات ویل او له سنت مقدار څخه زیات قرائت کول (صاحب د "ثمرة النجاح" دلته د آدابو معنی په مستحباتو سره کړې ده)، د ادب او مستحب حکم دا دی چي که په هغه باندي عمل و کړي، نو ثواب ورته حاصلیږي او که عمل نه په وکړي، نو هیڅ گناه او عتاب باندي نشته.

﴿۲۸۳﴾ مِنْ آدَابِهَا إِخْرَاجُ الرَّجُلِ كَفَّيْهِ مِنْ كُمَّيْهِ عِنْدَ التَّكْبِيْرِ د لمانځه له آدابو څخه دي (۱) د سړي (لپاره) را ایستل د خپلو ورغوو (لاسونو) له خپلو لستونو څخه د تکبیرِ تحریمه په وخت کي.

لغات: «كُمٌّ» لستونی، جمع ، أَكْمَامٌ وكِمَمَةٌ.

تشریح: اول ادب دا دی چي سړی دي د تکبیرِ تحریمه په وخت کي لاسونه له څادر یا لستونو څخه راباسي، خو که دیو علر مثلاً د سخت یخ وغیره په وجه یې نه را وباسي، نو څه حرج نشته او په داسي حالت کي را ایستل مستحب نه پاتیږي، او ښځه دي په هیڅ حالت کي له پوړني وغیره څخه لاسونه نه راباسي، بلکي په هغه کي دننه دي یې پورته کوي. (شفاء الارواح)

په ولاړه، رکوع، سجده او سلام ګرځولو کي به لمونځ ګزار کوم ځای ته کوري؟

﴿۲۸۴﴾ وَ نَظَرُ الْمُصَلِّيْ إِلٰى مَوْضِعِ سُجُوْدِهٖ قَائِمًا (٢) او دلمونځ ګزار کتل دخپل سجدې وځای ته دولاړي په حالت کي وَإِلٰى ظَاهِرِ الْقَدَمِ رَاكِعًا (٣) او (کتل) د پښو وښکاره طرف (شا) ته درکوع کولو په حالت کي (د پښې ښکاره طرف چي ځيني خلک د پښې شا ورته وايي او ځيني يې د پښې مخ بولي) وَإِلٰى أَرْنَبَةِ أَنْفِهٖ سَاجِدً (۴) او (کتل) دخپلي پزې و نرميو ته دسجدې په حالت کي وَإِلٰى حِجْرِهٖ جَالِسًا (٥) او (کتل) خپلي غېږې ته دسجدې کولو په حالت کي وَإِلَى الْمَنْكِبَيْنِ مُسَلِّمًا (۶) او (کتل) وخپلو اوږو ته دسلام ګرځولو په حالت کي.

لغات: ﴿أرنبة الأنف﴾ قال صاحب المعجم: أرنبة الأنف: أي طرفه (المعجم الوسيط، مصباح المنير) ځينو دي معنیٰ د پزې په هلوکي سره کړې ده (انوار الايضاح). ﴿حِجْر﴾ غېږه (غېږ)، جمع: حُجُوْرٌ.

تشريح: دلمونځ ګزار لپاره مستحب او ادب دا دي چي دولاړي په حالت کي به يې نظر دسجدې پر ځای وي او درکوع په حالت کي به يې نظر د پښو پر شا وي او دسجدې په حالت کي به د پزې نرميو ته ګوري او دناستي په حالت کي به خپلي غېږې يعني دلمني پورتنۍ حصې ته ګوري، دخشوع او دزړه په اخلاص سره دالله ﷻ دعبادت کولو تقاضا همدا ده. او دسلام ګرځولو په وخت کي به راسته طرف ته په راسته اوږه باندي نظر ساتي او چپه طرف ته به په چپه اوږه باندي نظر ساتي. دا حکم په هر حالت کي دی حتیٰ که څوک کعبې شريفي ته مخامخ لمونځ کوي، نو هغه ته هم دمذکوره آدابو خيال ساتل پکار دي او دلمانځه په دوران کي کعبې شريفي ته نه کتل پکار دي. (طحطاوي على مراقي الفلاح ص: ۱۵۱)

توخى وغيره دفع کول

﴿۲۸۵﴾ وَ دَفْعُ السُّعَالِ مَا اسْتَطَاعَ (٧) او توخى دفع کول (نيول) تر څو چي يې طاقت وي (حتى الوسع توخى دفع کول).

لغات: ﴿سُعال﴾ توخى (توخ). سَعَلَ يَسْعُلُ سُعَالًا و سُعْلَةً: توخېدل. توخى کېدل. (قاموس)

تشريح: يو ادب دا دی چي دلمانځه په دوران کي دي حتى الامکان توخى او لرړی منع کړل سي.

اړ‌ږدمۍ دفع کول

﴿۲۸۶﴾ وَكَظْمُ فَمِهِ عِنْدَ التَّثَاؤُبِ (۸) او خپله خوله بندول (پټول) د اړږمۍ په وخت کي.

لغات: ﴿كظم﴾ د ضرب د باب مصدر دی: بندول، نیول، ﴿التثاؤب﴾ اړږمی، ثَـئِبَ يَـثْـئَبُ ثَأْبًا: اړږمی راتلل.

تشریح: په لمانځه کي دي پوره کوشش کوي چي د اړږمۍ راتللو پر مهال خوله خلاصه نه سي په دې توګه چي لاندي شونډه دي په غاښو سره نیسي، خو بیا هم که خوله بنده نه سي، نو د ولاړي (قیام) په حالت کي دي د راسته لاس شا او په نورو حالتونو کي دي د چپه لاس شا پر خوله اړدي. (شفاء الارواح بحوالهٔ حاشیه)

فایده: علامه شامي رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي که د اړږمۍ راتللو په وخت کي انسان دا سوچ وکړي چي انبیاؤ علیهم السلام ته به اړږمی نه راتلله، نو هغه ته به هم اړږمی نه راځي. (شفاء الارواح)

مقتدیان به کله د جماعت لپاره دریږي؟

﴿۲۸۷﴾ وَالْقِيَامُ حِيْنَ قِيْلَ: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ (۹) او ولاړېدل کله چي وویل سي: "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ" وَشُرُوْعُ الْإِمَامِ مُذْ قِيْلَ: قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ (۱۰) او د امام (لپاره) شروع کول کله چي وویل سي: "قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ". (یعني د "قد قامت الصلوة" ویل کېدو له وخت څخه د امام لپاره لمونځ شروع کول ادب او مستحب دي).

تشریح: د احنافو فقهاؤ د دې مسئلې څو صورتونه بیان کړي دي، چي د هغه خلاصه دا ده: ① که امام په مسجد کي موجود نه وي او کله چي راځي، نو د شا لخوا څخه مسجد ته راسي، نو په دې صورت کي (ادب دا دی) چي هر صف ته را رسیږي، هغه صف والا دي دریږي. (عالمګیري ج:۱، ص:۵۷)

② که امام د مخ لخوا راسي، نو پر هغه د نظر لګېدلو سره دي سمدستي جماعت دریږي. (پورتنی حواله)

③ او که امام له مخکي څخه په مسجد او صف کي موجود وي او اقامت شروع سي. نو په دغه صورت کي له اقامت څخه مخکي د چا دریدل مکروه دي، او افضل دا ده چي کله اقامت کونکی "حي علی الفلاح" ته ورسیږي، نو د امام سره ټوله جماعت دي ودریږي او تر "حي علی الفلاح" وروسته ناست پاتېدل مکروه دي. (پورتنی حواله)

يادونه: په دې مسئله کې د ځينې مشايخو په عبارتونو کې څه تضاد معلوميږي. مثلاً امام طحطاوي رَحِمَهُ الله په "طحطاوي على مراق الفلاح" کې ليکلي دي چې داقامت له ابتداء څخه درېدل مکروه دي (طحطاوي ص:۱۵۱)، حالانکې له يو امام څخه صراحتاً دا خبره منقوله نه ده او بل طرف ته يې په همدې مسئله کې د درمختار په حاشيه کې ليکلي دي چې ښکاره همدا ده چې په دې سره تر "حي على الفلاح" وروسته له تأخير کولو څخه احتراز مقصود دی، نه له تقديم څخه (يعني چې تر "حي على الفلاح" وروسته دې ناست نه پاتېږي، بلکې سملستي دې درېږي. او که تر هغه مخکې ودرېږي. نو څه حرج نشته). حتیٰ که داقامت له شروع څخه ودرېږي، نو هم څه حرج نشته. (طحطاوي على الدر المختار. ص:۱۱۵. بحواله احسن الفتاویٰ ج:۲. ص:۳۱۶)

نو کله چې له يو مصنف رَحِمَهُ الله څخه دوې خبرې نقل سوې دي، نو د هرې خبرې جلا. جلا محمل کېدل پکار دي چې تعارض پاته نه سي او هغه محمل دا دی چې که امام له خپل ځای څخه ولاړ سوی نه وي، يا مسجد ته داخل سوی نه وي، نو داقامت له شروع څخه درېدل مکروه تنزيهي دي. په داسې صورت کې کښېنستل او د امام انتظار کول پکار دي، تر دې چې امام مسجد او مصلیٰ ته راسي، او کله چې امام درېدلی وي يا مصلیٰ ته رسېدلی وي، نو د بيا داقامت له شروع څخه په درېدلو کې څه حرج نشته. (کتاب المسائل ص:۲۲۴- ۲۲۷ بحواله انوار الايضاح)

وشروع الإمام الخ: يعني د امام لپاره هغه وخت لمونځ شروع کول مستحب دي کله چې اقامت کونکی "قد قامت الصلاة" ووايي، په فتاویٰ رحيميه کې دي: چې که تأخير وکړي يعني داقامت تر ختمېدلو وروسته لمونځ شروع کړي، نو بيا هم پروا نشته، بلکې تأخير زيات صحيح دی په دې لحاظ سره چې اقامت کونکی هم په تکبير اولیٰ کې د امام سره شرکت وکړی سي. (فتاویٰ رحيميه ج:۸، ص:۲۰۹)

* * *

فَصْلٌ فِیْ کَیْفِیَّةِ تَرْکِیْبِ الصَّلَاةِ

(دا) فصل دلمانځه د ترکیب د طریقې په بیان کې دی

تشریح: مصنف رَحِمَہُ اللہ په دې فصل کې دلمانځه پوره کیفیت او طریقه بیانول غواړي کوم چې له سلفو څخه منقوله را روانه ده، د دې لپاره چې پر خپل، خپل ځای دلمانځه د فرائضو، واجباتو، سنتو او مستحباتو داداء کېدلو طریقه معلومه سي.

د لمانځه طریقه

﴿۳۸۸﴾ إِذَا أَرَادَ الرَّجُلُ الدُّخُوْلَ فِي الصَّلٰوةِ کله چې سړی لمانځه ته د داخلېدلو (لمونځ شروع کولو) اراده وکړي أَخْرَجَ کَفَّیْهِ مِنْ کُمَّیْهِ نو خپل ورغوي (لاسونه) دي له لستونو څخه را وباسي ثُمَّ رَفَعَهُمَا حِذَاءَ أُذُنَیْهِ بیا دي ورغوي (لاسونه) پورته کړي د خپلو غوږو (د نرمیو) تر برابرۍ پورې.

تشریح: کله چې سړی د لمانځه لپاره ودېږي، نو تر ټولو مخکې دي خپل لاسونه له څادر یا له لستونو څخه را وباسي، بیا دي دواړه لاسونه د غوږو تر نرمیو پورې پورته کړي په دې توګه چې ورغوي او ګوتي مخ پر قبله وي او ګوتي بالکل نه سره موښتي وي او نه زیاتي خلاصي وي بلکې پر خپل عادي مېنځوي حالت وي، بیا چې کوم لمونځ کوي، په زړه کې دي د هغه نیت وکړي، مثلاً دا چې: د سهار فرض د خدای تعالیٰ لپاره کوم، او که په ژبه سره هم ووایي، نو ښه ده او بغیر له مدّ څخه دي الله أکبر ووایي، دا طریقه یعني چې اول لاسونه پورته کړي بیا تکبیر ووایي، دا اصح ده. (شفاء الارواح)

﴿۳۸۹﴾ ثُمَّ کَبَّرَ بِلَا مَدٍّ نَاوِیًا بیا دي الله اکبر ووایي بغیر له مدّ کولو (کشولو) څخه په داسي حالت کې چې (دلمانځه) نیت کونکی وي.

تشریح: په لفظ د الله باندې د مدّ کولو یو صورت دا دی چې په شروع کې مدّ وکړي، یعني که څوک په ناخبرۍ کې په الله أکبر کې د الله الف کش کړي آلله أکبر ووایي، نو لمونځ یې فاسدېږي او که قصداً دلسي ووایي، نو د هغه د کافر کېدلو خطره ده. همدا حکم د أکبر پر ځای د آکبر ویل دي

(يعني چي د أكبر همزه كش كړي. ځيني امامان. مؤذنان او اقامت كونكي د دې خيال نه ساتي او خپل او د مقتديانو لمنځونه خرابوي. بايد په دې هكله پوره خبر كړل سي). (حلبي كبير ص: ٢٦٠)

* * *

په "اللّه أكبار" ويلو سره لمونځ فاسديږي

مسئله: كه څوک د لمانځه په دوران كي د تكبير ويلو په وخت كي د الله أكبر پر ځاى الله أكبار ووايي، نو د اصح قول مطابق لمونځ فاسديږي، او همداسي الفاظ كه د لمانځه په شروع كي ووايي، نو لمونځ يې نه شروع كيږي. (حلبي كبير ص: ٢٥٩، كتاب المسائل ص: ٢٧٨)

له الله اكبر څخه بغير بل ذكر ويل يا په بله ژبه ويل يا په بله ژبه قرائت كول

﴿٣٩٠﴾ وَيَصِحُّ الشُّرُوْعُ بِكُلِّ ذِكْرٍ خَالِصٍ لِلّٰهِ تَعَالٰى كَسُبْحَانَ اللّٰهِ او صحيح كيږي لمونځ شروع كول په هر داسي ذكر سره كوم چي خالص د الله تعالىٰ لپاره وي لكه "سُبْحَانَ اللّٰه" (ويل) وَبِالْفَارْسِيَّةِ إِنْ عَجَزَ عَنِ الْعَرَبِيَّةِ او (همدارنګه صحيح كيږي...) په فارسي سره كه چيري له عربي څخه عاجزه وي وَإِنْ قَدَرَ او كه (پر عربي) قدرت لري لَا يَصِحُّ شُرُوْعُهٗ بِالْفَارْسِيَّةِ نو بيا په فارسي سره د ده (لپاره) لمونځ شروع كول صحيح نه دي.

﴿٣٩١﴾ وَلَا قِرَاءَتُهٗ بِهَا فِي الْأَصَحِّ او نه د ده قرائت كول په فارسي سره د صحيح ترين قول مطابق.

تشريح: د صحيح قول مطابق خاص د "الله أكبر" په لفظ سره لمونځ شروع كول (تكبير تحريمه ويل) واجب دي او له "الله أكبر" څخه بغير په يو بل ذكر لكه په "سبحان الله" وغيره سره لمونځ شروع كول كه څه هم صحيح دي خو مكروه دي، تر دې وروسته فرمايي چي كه څوک بالكل د عربي ژبي پر وينا او اداء كولو قادر نه وي، نو مجبوراً د هغه لپاره په فارسي ژبه لمونځ شروع كول او په فارسي ژبه تكبير (مثلاً خدا بزرگ است) ويل صحيح دي، برابره ده امام وي او كه مقتدي يا منفرد وي. فرض لمونځ وي او كه نفل وغيره وي او كوم څوک چي پر عربي تلفظ قادري وي، نو د هغه لپاره په فارسي ژبه په لمونځ سره شروع كول صحيح نه دي، له فارسي ژبي څخه بغير د نورو ژبو هم دغه حكم دى. او صاحب د شفاء الارواح د حاشيې په حواله سره ليكلي دي چي صحيح دا ده چي د امام صاحب رحمه الله په نيز لمونځ ګزار كه پر عربي قدرت لري او كه يې نه لري، په هر صورت كي په غيرِ عربي (فارسي

یادلسي نورو ژبو) سره لمونځ شروع کول صحیح دي، خو پر عربي د قدرت لرلو په صورت کي د کراهت تحریمي سره صحیح کیږي، او اول قول د صاحبینو رَحِمَهُمَااللهُ دی (چي د قدرت لرلو په صورت کي په غیرِ عربي سره لمونځ شروع کول جائز نه دي)، او له بعضي کتابو څخه معلومیږي چي صاحبینو رَحِمَهُمَااللهُ د امام صاحب رَحِمَهُ‌اللهُ و قول ته رجوع کړه. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

ولاقرائته بهاإلخ: یعني پر عربي ژبي د قدرت لرلو په صورت کي په فارسي ژبي سره قرائت کول هم صحیح نه دي، خو صاحب د "شفاء الارواح" لیکلي دي چي د قرائت په باره کي هم اختلاف دی چي د صاحبینو رَحِمَهُمَااللهُ په نیز که لمونځ گزار پر عربي ژبي قدرت نه لري، نو په غیرِ عربي (فارسي او داسي نورو) سره قرائت کول جائز دي، او که پر عربي قادر وي، نو بیا په غیرِ عربي سره جائز نه دی. او د امام صاحب رَحِمَهُ‌اللهُ په نیز برابر ده پر عربي ژبه قدرت وي او که نه وي، په هر صورت کي په غیرِ عربي سره قرائت جائز دی، لیکن د قرائت په باره کي بیا امام صاحب رَحِمَهُ‌اللهُ د صاحبینو رَحِمَهُمَااللهُ و قول ته رجوع وکړه، او فتویٰ هم پر همدې قول ده چي له عربي ژبي څخه بغیر په بله ژبه قرائت کول صحیح نه دي، هغه که فارسي وي او که له فارسي څخه بغیر بله ژبه وي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

﴿۲۹۲﴾ ثُمَّ وَضَعَ يَمِيْنَهٗ عَلٰى يَسَارِهٖ تَحْتَ سُرَّتِهٖ عَقِبَ التَّحْرِيْمَةِ بِلَا مُهْلَةٍ بیا دي خپل راسته لاس پر چپه لاس تر نامه لاندي کښېږدي له تحریمه (تکبیرِ تحریمه) څخه وروسته بېله ځنډه (یعني تر تکبیر تحریمه وروسته دي سمدستي لاسونه تر نامه لاندي کښېږدي) مُسْتَفْتِحًا په داسي حال کي چي د ثناء (سبحانك اللهم...) ویونکی وي.

﴿۲۹۳﴾ وَهُوَأَنْ يَّقُوْلَ او هغه (ثناء) دا ده چي ووایي سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ اې الله! پاکي ده تا لره (یا پاک دی ستا ذات، یا زه ستا د پاکی اقرار کوم اې الله!) وَبِحَمْدِكَ او زه ستا تعریف بیانوم وَتَبَارَكَ اسْمُكَ او ستا نوم برکت والا دی وَتَعَالٰى جَدُّكَ او ستا لویي ډېره لوړه ده (د "جد" معنیٰ ده "لویي" ده) وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ او ستا څخه بغیر بل هیڅ معبود (د عبادت لائق) نشته.

لغات: ﴿مستفتحًا﴾ د وَضَعَ له ضمیر څخه حال دی، د فتح له بابه د فاعل صیغه ده: پیلول. شروع کول. د شروع دعاء ویل. مراد ځني ثناء یعني "سبحانك اللّٰهم إلخ" ویل دي.

تشريح: مسئله دا ده چي د تکبير تحريمه تر ويلو وروسته دي سمدستي بېله ځنډه دواړه لاسونه تر نامه لاندي په دې ترکيب سره وتړي چي راسته لاس پر چپه لاس کېښږدي.

وهوأن يقول إلخ: بيا تر لاس تړلو وروسته دي په کراره، کراره ثناء ووايي چي د هغه الفاظ د ترجمې سره په عبارت کي ذکر سوه.

فايده: د تکبير او قرائت تر مينځ د ذکر (ثناء) اينوولو حکمت دا دی چي له مخکي څخه موجود ټوله مقتديان د امام سره يوځای لمونځ نه سي شروع کولای، څه خلک د کرار والي په وجه شاته پاتېږي، نو که امام د تکبير سره سمدستي قرائت شروع کړي، نو څه مقتديان به له اورېدلو څخه محروم پاته سي، نو ځکه د ثناء دعاء اينوول سوې ده. (انوار الايضاح)

هر لمونځ ګزار به ثناء وايي

﴿۲۹۴﴾ وَيَسْتَفْتِحُ كُلُّ مُصَلٍّ او ثناء (سبحانك اللهم...إلخ) به هر لمونځ کونکی وايي.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله فرمايي چي هر لمونځ ګزار يعني امام، مقتدی او منفرد ټوله به ثناء "سبحانك اللهم إلخ" وايي، برابره ده فرض لمنځونه وي او که واجبات، نوافل وي او که سنن، او برابره ده لمونځ جهري وي او که سرّي. لېکن که يو مقتدی د جماعت له درېدلو څخه وروسته داسي وخت په لمانځه کي شريک سي کله چي امام قرائت شروع کړی وي، نو هغه مقتدی دي ثناء نه وايي، برابره ده لمونځ جهري وي او که سرّي وي، بلکي په هغه وخت کي دي چپ درېږي. بيا رکوع ته له تللو څخه مخکي که هغه دومره ژر ثنا ويلاءسي چي رکوع نه ځني تېرېږي، نو هغه وخت دي ثناء ووايي او رکوع ته دي ولاړ سي او که د ثناء ويلو هيڅ موقع تر لاسه نه سي، نو هم په لمانځه کي هيڅ خرابي نه راځي. (ديني مسائل اور انکا حل، طحطاوي علیٰ مراقی الفلاح ص: ۱۵۳)

﴿۲۹۵﴾ ثُمَّ يَتَعَوَّذُ سِرًّا لِلْقِرَاءَةِ بيا دي اعوذ بالله... ووايي په کراره د قرائت لپاره فَيَأْتِي بِهِ الْمَسْبُوقُ لَا الْمُقْتَدِيْ او دا (اعوذ بالله...) به مسبوق وايي، نه مقتدی.

﴿۲۹۶﴾ وَيُؤَخِّرُ عَنْ تَكْبِيْرَاتِ الْعِيْدَيْنِ او وروسته کوي به يې داخترونو له تکبيراتو (تکبيرات زوائدو) څخه.

تشريح: له ثناء (سبحانك اللّٰهم...) څخه وروسته دي د قرائت لپاره په کراره تعوّذ "أعوذ بالله من الشيطٰن الرّجيم" ووايي، لهذا څوک چي قرائت کوي، صرف هغه به تعوّذ وايي لکه امام او منفرد. همدارنګه مسبوق چي کله خپل پاته رکعت راګرځوي، نو اولاً دي ثناء ووايي، بيا دي تعوّذ ووايي. وروسته فرمايي چي مقتدی به تعوّذ نه وايي؛ ځکه چي هغه قرائت نه کوي.

للقراءة: په دې قيد سره و دې طرف ته اشاره ده چي د تعوّذ تعلق د قرائت سره دی، نه د ثناء سره. (مراقی الفلاح ص: ۱۵۳)

ويُؤخّرعن إلخ: مسئله دا ده چي د اخترونو په لمانځه کي دي تعوّذ (أعوذ بالله...) په اول رکعت کي له تکبيرات زوائدو څخه وروسته وايي؛ ځکه تعوّذ د قرائت لپاره دی او قرائت له تکبيراتو څخه وروسته شروع کول کيږي. (مراقی الفلاح ص: ۱۵۴)

﴿۲۹۷﴾ ثُمَّ يُسَمِّيْ سِرًّا بيا دي په کراره بسم الله... ووايي.

تشريح: تر تعوّذ وروسته دي "بسم الله الرّحمٰن الرّحيم" په کراره (په پټ آواز سره) ووايي، برابره ده لمونځ جهري وي او که سرّي وي او برابره ده امام وي او که منفرد وي.

﴿۲۹۸﴾ وَيُسَمِّيْ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ قَبْلَ الْفَاتِحَةِ فَقَطْ او په هر رکعت کي دي صرف له سورة الفاتحه څخه مخکي بسم الله... وايي.

تشريح: او "بسم الله الرّحمٰن الرّحيم" دي د هر رکعت په شروع کي له سورة الفاتحه څخه مخکي ويل کيږي، لېکن تر سورة الفاتحه وروسته له سورت څخه مخکي بسم الله ويل سنت نه دي او که څوک يې ووايي، نو مکروه هم نه دي، بلکي له سورت څخه مخکي بسم الله په کراره ويل ښه دي. خو که د سورت پر ځای آيتونه وايي (يا په بله وينا سورت له شروع څخه نه وايي)، نو د هغه په شروع کي دي بسم الله نه وايي. (شفاء الارواح بحوالة حاشيه و عمدة الفقه)

﴿۲۹۹﴾ ثُمَّ قَرَأَ الْفَاتِحَةَ بيا دي سورة الفاتحه ووايي.

﴿۳۰۰﴾ وَأَمَّنَ الْإِمَامُ وَالْمَأْمُوْمُ سِرًّا او امام او مقتدی (دواړه) دي په کراره آمين ووايي.

تشريح: تر "بسم الله..." وروسته دي سورة الفاتحه (الحمد شريف) ووايي. کله چي لمونځ ګزار امام يا منفرد وي، خو څوک چي په امام پسي لمونځ کوي يعني مقتدی وي، نو هغه به سورة الفاتحه نه وايي.

وأمن الإمام الخ: يعني كله چي سورة الفاتحه ختم كړي او "ولا الضآلين" ووايي. نو په كراره دې آمين ووايي. برابره ده امام يا منفرد وي او كه مقتدی وي، ټول به آمين وايي.

﴿٢٠١﴾ ثُمَّ قَرَأَ سُوْرَةً أَوْ ثَلَاثَ آيَاتٍ بيا دې يو سورت يا درې آيتونه ووايي.

تشريح: تر سورة الفاتحه وروسته دې يو سورت يا كم از كم درې كوچني آيتونه يا يو لوی آيت ووايي، چي واجب اداء سي. بلكي د سنت اندازې قرائت دې وكړي چي د كراهت تنزيهيه ارتكاب لازم نه سي، او په قرائت كي دې تېزي نه كوي بل په كراره او صحيح دې يې وايي. او څوک چي په امام پسي لمونځ كوي يعني مقتدی وي، نو هغه دې صرف ثناء وايي او چپ دې ودرېږي. تعوذ، تسميه، فاتحه او سورت به نه وايي. (شفاء الارواح)

د ركوع بيان

﴿٢٠٢﴾ ثُمَّ كَبَّرَ رَاكِعًا مُطْمَئِنًّا بيا دې الله اكبر ووايي په داسې حال كي چي ركوع كونكی (او په ركوع كي) اطمينان كونكی وي (يعني بيا دې په تكبير ويلو سره ركوع ته ولاړ سي او په اطمينان سره دې ركوع وكړي) مُسَوِّيًا رَأْسَهُ بِعَجُزِهِ (او) په داسې حال كي چي برابرونكی وي د خپل سر د خپلو كوناټو سره آخِذًا رُكْبَتَيْهِ بِيَدَيْهِ مُفَرِّجًا أَصَابِعَهُ (او) نيونكی وي د خپلو زنګنو په خپلو لاسو سره په داسې حال كي چي خلاصونكي وي د خپلو ګوتو (يعني ګوتي به يې پر زنګنو خلاصي ارتې انيولي وي) وَسَبَّحَ فِيْهِ ثَلَاثًا او تسبيح دې ووايي په ركوع كي درې واره وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ او دا يې كمتره درجه ده (يعني دا درې واره د ركوع د تسبيح كمترين مقدار دی).

لغات: ﴿مُسَوِّيًا﴾ د تفعيل له بابه اسم فاعل دی: برابرونكی، سيده كونكی. ﴿عَجُز﴾ او عَجِز: د هر شي شاتنی حصه، كوناټي، جمع: أَعْجَاز.

تشريح: د قرائت له ختمېدو څخه وروسته دې سمدستي په الله اكبر ويلو سره ركوع ته ولاړ سي او په ركوع كي دې دومره كوږ او ټيټ سي چي سر او ملا يې سره برابر او سيده سي. د ركوع په دوران كي دې سر او غاړه په مېنځ كي ساتي. يعني نه دې يې دومره پورته كوي چي له ملا څخه لوړ سي او نه دې يې دومره لاندې كوي چي زنه د سينې سره ولګېږي. پښې دې سيده ساتي او برابري دې يې ايږدي چي ګوتي يې مخ پر قبله وي او په مېنځ كي دې يې كم از كم څلور ګوتي فاصله ساتي او د لاس ګوتي دې خلاصي (ارتې) ساتي او په هغوی سره دې په ښه ګوته زنګونان نيسي. د ركوع په حالت كي دې څنګلي او بازوګان سيده ساتي او ورنو سره دې يې نه لګوي او نه دې يې د غشي په څېر

کړوي، او ښځه دې په رکوع کې صرف دومره کږیږي چې لاسونه یې زنګنو ته ورسیږي او ښځه دې ګوتې پر زنګنو ایږدي او دا ښوولو په وخت کې دې ګوتې سره یو ځای (جوختې) ساتي. نه خلاصې، د ښځې لپاره په رکوع کې خپل دواړه بجلکې یو ځای کول سنت دي، په رکوع کې دې کم تر کم درې وار تسبیح "سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْم" وایي او دا یې کمترین مقدار دی. زیات یې هم ویلای سي، خو که امام وي. نو له درېو وارو څخه دې یې زیات نه وایي چې پر مقتدیانو تنګي نه وسي، که چېرې څوک بالکل تسبیح نه ووایي، یا یې یو وار ووایي، نو جائز دي. خو مکروه تنزیهي دي او صحیح دا ده چې داسې کول له کراهتِ تنزیهي څخه زیات او له کراهتِ تحریمي څخه کم دي او د بعضي احنافو په نېزیو وار تسبیح ویل واجب دي. نو ځکه هغه ضرور ویل پکار دي چې له اختلاف څخه بچ سي او په ښه اطمینان سره دې رکوع کوي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

تکبیرات څنګه ویل پکار دي؟

مسئله: په لمانځه کې د تکبیرات انتقالیه وو دویلو صحیح طریقه دا ده چې کله له یوه رکن څخه بل رکن ته منتقل کیږي نو له منتقل کېدو سره یو ځای دې تکبیر داسې شروع کړي چې کله بل رکن ته ورسیږي نو آواز یې بند سي (تکبیر ختم سي). (مراقی الفلاح ص: ۱۵۴)

د قومه بیان

﴿۲۰۲﴾ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهٗ بیا دې خپل سر (له رکوع څخه) راپورته کړي وَ اطْمَأَنَّ قَائِلًا سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ او مطمئن دې سي په داسې حال کې چې ویونکی وي د "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه" رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ لَوْ إِمَامًا أَوْ مُنْفَرِدًا (او ویونکی وي د) "رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ" که چېرې امام یا منفرد وي (یعني په اطمینان سره دې سمع الله لمن حمده ووایي. او که امام یا منفرد وي. نو ربنا لک الحمد دې هم دوایي) وَالْمُقْتَدِیْ یَکْتَفِیْ بِالتَّحْمِیْدِ او مقتدي دې صرف په "رَبَّنَا لَكَ الْحَمْد" باندې اکتفا کړي.

تشریح: تر رکوع وروسته دې د "سمع الله لمن حمده" په ویلو سره پورته سي، او بالکل سیده دې ودرېږي، بیا دې "ربنا لک الحمد" ووایي، د قومه په حالت کې به لاسونه نه تړي. په قومه کې به تېزي نه کوي بلکې دومره به ضرور درېږي چې تول اندامونه یې پر خپل، خپل ځای ساکن سي. د پر ځله په قومه کې د تلوار کولو په وجه لمونځ واجبُ الاعاده ګرځي. (انوار الایضاح)

فایده: تحمید څلور ډوله نقل سوی دی یعني د تحمید څلور درجې دي: ① اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ دا تر ټولو افضله درجه ده، ② اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ. بیا دا افضله درجه ده. ③ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ. بیا دا افضله ده. ④ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ. او آخري یې همدا درجه ده.

د سجدې بیان

﴿۲۰۳﴾ ثُمَّ كَبَّرَ خَارًّا لِلسُّجُوْدِ بیا دې الله اکبر ووایي په داسې حال کې چې سجدې ته لوېدونکی (ټیټېدونکی) وي (یعني بیا دې په تکبیر ویلو سره رکوع ته ولاړ سي) ثُمَّ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَدَيْهِ ثُمَّ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ بیا دې کښېږدي خپل زنګنونه، بیا لاسونه، بیا خپل مخ د خپل دواړو ورغوو (لاسونو) په مینځ کې وَسَجَدَ بِأَنْفِهِ وَجَبْهَتِهِ مُطْمَئِنًّا مُسَبِّحًا ثَلَاثًا او سجده دې وکړي پر خپله پزه په داسې حال کې چې په اطمینان سره تسبیح ویونکی وي درې واره وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ او دا یې کمتره درجه ده (یا په بله وینا دا چې: دا درې واره ویل یې تر ټولو کم مقدار دی) وَجَافٰى بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ او لیرې (جلا) دې کړي خپل نس له خپلو ورنو څخه وَعَضُدَيْهِ عَنْ إِبْطَيْهِ فِيْ غَيْرِ زَحْمَةٍ او خپل بازوګان (یا په بله وینا: خپلې څنګلې) له خپلو بغلو څخه په غیر د رش (ټېل ټوپې) کې (یعني کله چې ګڼه ګوڼه نه وي. یعني په جماعت کې نه وي) مُوَجِّهًا أَصَابِعَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ په داسې حال کې چې مخامخ کونکی (ګرځونکی) وي د خپلو لاسونو او پښو د ګوتو د قبلې و طرف ته وَالْمَرْأَةُ تَخْفِضُ وَتَلْزَقُ بَطْنَهَا بِفَخِذَيْهَا او ښځه دې (په سجده کې) ټیټېږي او خپل نس دې د خپلو ورونو سره منښلوي (یو ځای کوي).

لغات: ﴿خارًّا﴾ د نصر او ضرب له بابه د فاعل صیغه ده، خُرُوْر: لاندې لوېدل، په سجده کې لوېدل، پر ځمکه لوېدل، ویل کیږي: خَرَّ لِلّٰهِ سَاجِدًا: د الله ﷻ لپاره سجده کونکی (د سجده کولو لپاره) پر ځمکه ولوېدی. ﴿جافٰی﴾ د ضرب د باب ماضي ده، لیرې ساتل، جلا ساتل. ﴿عضدیه﴾ تثنیه، عَضُدٌ ده:

بازو، مټ (یعني له څنګلي څخه تر اوږې پورې دلاس برخه). ﴿إبطيـه﴾ تثنيـه دإبط ده: تخرګ، بغل، ﴿تلزق﴾ دسمع دباب مضارع ده: مښلېدل، مښلول، لګول.

تشريح: په دې عبارت کې د سجدې طريقه او کيفيت بيان سوی دی، فرمايي چې تر قومه وروسته دې د "الله أکبر" په ويلو سره سجدې ته شو سي په دې توګه چې سجدې ته په رسيدلو سره "الله أکبر" ختم کړي (يعني چې د الله اکبر شروع سجدې ته د کړېدلو پر مهال وسي او ختمېدل يې سجدې ته د رسېدلو پر مهال وسي)، سجدې ته د تللو په وخت کې دې اول پر ځمکه هغه اندامونه کښېږدي کوم چې ځمکې ته نژدې دي، نو اول دې دواړه زنګونان کښېږدي، بيا دې دواړه لاسونه، بيا پزه، بيا دې تندی کښېږدي او په سجده کې دې مخ د دواړو لاسونو تر مينځ داسې کښېږدي چې بټې ګوتې د غوږو د نرميو په مقابل کې راسي او سجده دې پر پزه او تندي دواړو باندې وکړي او په اطمينان سره دې سجده وکړي او په سجده کې دې درې واره "سبحان ربي الأعلى" ووايي، دا يې کم مقدار دی، دلته هم هاغه تفصيل دی کوم چې په رکوع کې بيان سو، او په سجده کې دې نس له ورنو څخه لېرې او جلا ساتي او څنګلي دې له بغلونو سره نه لګوي، بلکې هغوی دې هم لېرې ساتي کله چې ازدحام او رش يعني د جماعت په لمانځه کې نه وي، لېکن د جماعت په لمانځه کې دې څنګلي دومره نه لېرې کوي او پورته کوي چې څنګ والا لمونځ ګزار په تکليف سي، د "في غيرزحمة" همدا مطلب دی، او په سجده کې دې د لاسو او پښو ګوتې مخ پر قبله ساتي او ښځه دې بالکل ټيټه سجده کوي، نه دې څنګلي پورته کوي او نه دې نس له ورنو څخه جلا کوي او پښې دې هوارې ساتي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

د جلسي بيان

﴿۲۰۵﴾ وَجَلَسَ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ او بيا دې کښېني د دوو سجدو په مينځ کې وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلٰى فَخْذَيْهِ په داسې حال کې چې اېښونکی وي د خپلو لاسونو پر خپلو ورنو مُطْمَئِنًّا (او) اطمينان کونکی وي (يعني په اطمينان سره دې کښېني).

ريح: په دې عبارت کې د دواړو سجدو تر مينځ د ناستې طريقه او حالت بيان سوی دی، حاصل دا دی چې له اولې سجدې څخه دې په "الله أکبر" ويلو سره سر راپورته کړي او په اطمينان سره سيله کښېني. دې ته جلسه وايي، په جلسه کې دې په اطمينان سره يعني د يو وار سبحان الله لو په اندازه آرام وکړي، دا واجب دي. او کوم ذکر يا دعاګانې چې پر دې موقع په حديث کې راغلي

دي، هغه پر نوافلو محمول دي، لېکن مستحب دا ده چې د فرضو په جلسه کې هم مسنونه دعاء وايي او هغه دا ده "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَعَافِنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ" يا صرف "رَبِّ اغْفِرْلِيْ" دې وايي؛ ځکه دامام احمد رَحِمَهُ الله په نيز د مغفرت دعاء يعني "رَبِّ اغْفِرْلِيْ" ويل فرض دي، نو له اختلاف څخه دبچ کېدلو لپاره داحنافو په نيز هم د مغفرت دعاء ويل مستحب دي، همدارنګه د دې مستحب په عادت سره په جلسه کې داطمينان کولو واجب هم اداء کېږي، کنې زياتره خلکو د هغه پرېښوونکي او د هغه له ضروت څخه ناخبره دي. (شفاء الارواح بحوالۀ عمدة الفقه)

﴿۲۰۶﴾ ثُمَّ كَبَّرَوَ سَجَدَ مُطْمَئِنًّا بيا دې تکبير ووايي او په اطمينان سره دې سجده وکړي وَ سَبَّحَ فِيْهِ ثَلَاثًا او په سجده کې دې درې واره تسبيح ووايي وَ جَافٰى بَطْنَهٗ عَنْ فَخِذَيْهِ او خپل نس دې له ورنو څخه لېرې (جلا) وساتي وَ أَبْدٰى عَضُدَيْهِ او خپل دواړه بازوګان دې ښکاره کړي (يعني خپل متان او څنګلي دې له بغلو څخه پورته او لېرې کړي).

لغات: ﴿أَبْدٰى﴾ د افعال له بابه د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده، مصدر: إِبْدَاء: ښکاره کول، څرګندول.

تشريح: د دواړو سجدو په مينځ (جلسه) کې کم از کم د يوه وار سبحان الله ويلو په اندازه په اطمينان سره ترناستي کولو وروسته دې په الله أکبر ويلو سره دويمې سجدې ته ولاړ سي او سجدې ته د تللو په وخت کې دې اول دواړه لاسونه پر ځمکه کېښږدي، بيا دې پزه او تندی کېښږدي او د سجدې په طريقه او کيفيت کې هاغه تفصيل دی کوم چې په اوله سجده کې ذکر سو.

له دويمې سجدې څخه د ولاړېدلو طريقه

﴿۲۰۷﴾ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهٗ مُكَبِّرًا لِلنُّهُوْضِ بيا دې پورته کړي خپل سر په داسې حال کې چې تکبير ويونکی وي د ولاړېدلو لپاره بِلَا اِعْتِمَادٍ عَلَى الْأَرْضِ بِيَدَيْهِ بېله تکيه کولو په خپلو لاسو سره پر ځمکه باندې وَبِلَا قُعُوْدٍ او بېله کښېنستلو.

تشريح: په دې عبارت کې له سجدې څخه د قيام و طرف ته طريقه بيان سوې ده، کله چې دويمه سجده په اطمينان سره اداء کړي، نو بيا دې په تکبير ويلو سره جست پورته سي يعني بغير له لاس لګولو او تکيه کولو څخه پر ځمکې او بغير له ناستې څخه. يعني نه دې بېله عذره کښېني او نه دې د ولاړېدلو په وخت کې په خپلو لاسو [illegible] پر ځمکه تکيه [illegible] په لاسو سره د زنګنو نيولو په

مرسته دي ولاړ سي، او که بېله عذره تر دويمي سجدې وروسته کښېني (يعني داستراحت جلسه وکړي) يا دواړه لاسونه پر ځمکه ولګوي او د لاسو په مرسته ودرېږي، نو هيڅ حرج نسته لېکن دا خلاف اولیٰ او مکروه تنزيهي دي، خو که ديو عذر په وجه وي مثلاً د بوډا والي يا د ډېر چاغوالي يا د داسي بل عذر په وجه وي چي له دويمې ځخه سمدستي او جست ولاړېدل هغه ته مشکل وي، نو اول دي څه ګړی کښېني بيا دي په کراره ولاړ سي همدا "جلسهٔ استراحت" ده، لېکن روغ سړي ته سملستي ولاړېدل پکار دي. (شفاء الارواح ص: ۱۷۶، مراقی الفلاح ص: ۱۵۴)

﴿۲۰۸﴾ وَالرَّكْعَةُ الثَّانِيَةُ كَالْأُوْلٰى او دويم رکعت د اول رکعت په څېر دی إِلَّا أَنَّهٗ لَا يُثْنِيْ وَلَا يَتَعَوَّذُ خو دا چي ثناء دي نه وايي او نه دي اعوذ بالله... وايي (په دويم رکعت کي).

تشريح: فرمايي چي دويم رکعت دي هم بالکل هغسي اداء کړي څرنګه چي يې اول رکعت اداء کړی دی، خو ثناء او أعوذ بالله دي نه وايي، بلکي تر ولاړېدلو وروسته دي اولاً بسم الله وايي. تر دې وروسته دي الحمد شريف او قرائت وکړي، تر دې وروسته دي هغسي رکوع، قومه، سجده، جلسه او دويمه سجده وکړي لکه څرنګه چي يې په اول رکعت کي کړي وه.

د رفع اليدين بيان

﴿۲۰۹﴾ وَلَا يُسَنُّ رَفْعُ الْيَدَيْنِ إِلَّا عِنْدَ افْتِتَاحِ كُلِّ صَلٰوةٍ او سنت نه دي د دواړو لاسونو پورته کول (۱) مګر د هر لمانځه د شروع کولو په وخت کي وَعِنْدَ تَكْبِيْرِ الْقُنُوْتِ فِي الْوِتْرِ (۲) او په وترو کي د قنوت (دعاءِ قنوت) د تکبير په وخت کي وَتَكْبِيْرَاتِ الزَّوَائِدِ فِي الْعِيْدَيْنِ (۳) او په اخترونو کي د تکبيراتِ زوائدو په وخت کي وَحِيْنَ يَرَى الْكَعْبَةَ (۴) او څه وخت چي کعبه ووېني وَحِيْنَ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ (۵) او څه وخت چي حجرِ اسود مسه کوي (مچوي) وَحِيْنَ يَقُوْمُ عَلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ (۶) او څه وخت چي پر صفا و مروه درېږي وَعِنْدَ الْوُقُوْفِ بِعَرَفَةَ وَمُزْدَلِفَةَ (۸،۷) او په عرفات او مزدلفه کي د وقوف کولو (درېدلو) په وخت کي وَبَعْدَ رَمْيِ الْجَمْرَةِ الْأُوْلٰى وَالْوُسْطٰى (۹، ۱۰) او د اول ځلي او دويم ځلي (اول او دويم شيطان) تر ويشتلو وروسته وَعِنْدَ التَّسْبِيْحِ عَقِبَ الصَّلَوَاتِ (۱۱) او

ترلمنځونو وروسته د تسبیح په وخت کي (یعني له تسبیح څخه تر فارغېدلو وروسته د دعاء لپاره).

تشریح: دلته یوولس (۱۱) ځایونه ذکر سوي دي چي په هغوی کي لاسونه پورته کول سنت دي او له دې (۱۱) څخه بغیر بل ځای لاسونه پورته کول سنت نه دي، خو د امام شافعي رَحِمَهُ الله او داسي نورو په نېز رکوع ته د تللو په وخت کي او له رکوع څخه د سر پورته کولو په وخت کي هم لاسونه پورته کول سنت دي (همدارنګه سجدې ته د تللو په وخت کي او بل رکعت ته د راپورته کېدلو په وخت کي هم رفع الیدین کول سنت دي) او د احنافو په نېز سنت نه دي، په حاشیه کي د امام اوزاعي رَحِمَهُ الله او د امام صاحب رَحِمَهُ الله یو حکایت ذکر سوی دی کوم چي د رکوع د رفع الیدین د نا ترجیح والي په هکله پوره تفصیل پکښې روایت سوی دی، لهذا د هغه مطالعه کول ارین دي. لنډه دا چي په یوولسو (۱۱) ځایو کي لاسونه پورته کول سنت دي: ① اول دا چي کله د لمانځه تکبیرِ تحریمه وویل سي. په هغه وخت کي دواړه لاسونه پورته کول سنت دي، برابره ده فرض لمونځ وي او که واجب. سنت وي او که نفل، اداء وي او که قضاء وي، ② د وترو په درېیم رکعت کي له دعاء قنوت څخه مخکي د تکبیر لپاره لاسونه پورته کول سنت دي، ③ د اخترونو په لمانځه کي د تکبیراتِ زوائدلو په وخت کي لاسونه پورته کول سنت دي، ④ کله چي مسجدِ حرام ته داخل سي او پر کعبه شریفه یې نظر پرېوځي، نو په دې وخت کي لاسونه پورته کول سنت دي، لېکن دلته لاسونه پورته کول د دعاء لپاره دي، لهذا څرنګه چي په دعاء کي لاسونه پورته کوي، همداسي به یې دلته هم پورته کوي. ⑤ کله چي حجرِ اسود مچ کړي، نو په دې وخت کي دي دواړه لاسونه داسي پورته کړي چي د ورغوو په شا سره د حجر اسود استقبال وکړي (او صاحب د انوار الایضاح د دې تشریح داسي کړې ده چي مسجد حرام ته د داخلېدونکي اول کار طواف دی او د طواف شروع دي له حجر اسود څخه وکړي، د حجر اسود په مقابل کي دي ودرېږي، سینه او مخ دي د حجر اسود وطرف ته کړي او د تکبیرِ تحریمه په څېر دي دواړه لاسونه پورته کړي او په تکبیر ویلو سره دي طواف شروع کړي، دا سنت دي)، ⑥ او له طواف وغیره څخه تر فارغېدلو وروسته چي کله سعی بین الصفا والمروة کوي، نو په الله اکبر ویلو سره دي دواړه لاسونه پورته کړي او سعی دي شروع کړي او په آخر کي دي د قبلې وطرف ته متوجه سي او له الله ﷻ څخه دي په دعاء کي خپل مرادونه وغواړي، ⑦ په عرفات کي د وقوف په وخت کي دي مخ پر قبله دواړه لاسونه پورته کړي لو الله اکبر دي ووایي، دا هم سنت دي، ⑧ همدارنګه په مزدلفه کي په وقوف کي هم داسي کول سنت دي، ⑨ په منیٰ کي د جمرة الاولیٰ له رَمي څخه وروسته دي څه توقف وکړي او د الله تعریف دي بیان کړي او لاسونه دي پورته کړي، الله اکبر دي ووایي، دا سنت دي، ⑩ همداسي دي د جمرة الوسطیٰ له رَمي څخه وروسته هم وکړي، ⑪ همدارنګه تر لمنځونو وروسته د دعاء کولو په وخت

کي دواړه لاسونه پورته کول سنت دي، يعني تر کومو لمنځونو وروسته چي سنتونه نسته. لکه د سهار او ماژيګر لمنځونه. له هغوی څخه وروسته دي اولاً تسبحات ووايي، بيا دي لاس پورته کړي او دعاء دي وغواړي او تر کومو لمنځونو وروسته چي سنتونه سته. په هغوی کي دي د سلام ګرځولو سره سملستي مختصراً لاس پورته کړي او دعاء دي وکړي. بيا د سنتونه وغيره وکړي. (شفاء الارواح- انوار الايضاح)

﴿٢١٠﴾ وَإِذَا فَرَغَ الرَّجُلُ مِنْ سَجْدَتَـي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ او کله چي فارغ سي سړی د دوېم رکعت له دواړو سجدو څخه اِفْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَجَلَسَ عَلَيْهَا نو خپل چپه پښه دي هواره کړي (وغوړوي) او پر هغه دي کښيني وَنَصَبَ يُمْنَاهُ وَوَجَّهَ أَصَابِعَهَا نَحْوَ الْقِبْلَةِ او خپل راسته پښه دي ودروي او د هغه ګوتي دي د قبلې وطرف ته مخامخ کړي (مخ پر قبله دي يې ورپېچي) وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ او خپل دواړه لاسونه دي پر دواړو ورنو کښېږدي وَبَسَطَ أَصَابِعَهُ او خپل ګوتي دي وغوړوي (يعني خپل ګوتي دي خلاصي ارتي اوساتي) وَالْمَرْأَةُ تَتَوَرَّكُ او ښځه به تورک کوي (يعني دواړي پښې به راسته طرف ته باسي او پر چپه کوناټي به کښېني).

لغات: ﴿افترش﴾ د افتعال له بابه د واحد مذکر غائب ماضي صيغه ده: هوارول، غوړول. ﴿تتورك﴾ د تفعّل له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع صيغه ده: پر کوناټو کښېنستل او پښې يوه طرف ته ايستل.

تشريح: فرمايي چي کله د دوېم رکعت له دوېمي سجدې څخه سر راپورته کړي، نو قعده (ناسته) ي وکړي په دې طريقه چي چپه پښه دي هواره کړي او پر هغه دي کښېني او راسته پښه دي ودروي ر ګوتي دي يې د قبلې وطرف ته کړي او دواړه لاسونه دي پر دواړو ورنو کښېږدي او ګوتي دي يې ې خلاصي وساتي (يا په بله ړنا پر خپل طبعي حالت دي يې پرېږدي چي نه پوره سره مښتي وي او نه پوره غوړول ىيږي) او د لاسو د ګوتو سرونه دي زنګنو ته نژدې او د قبلې وطرف ته وي او په ګوتو سره دي نګونان نه نيسي، همدا اصح ده، که څه هم نيول يې جائز دي، خو نه نيول يې افضل دي: ځکه د بولو په وخت کي د ګوتو سرونه مخ پر قبله نه پاتېږي. بلکي د ځمکي وطرف ته ګرځي. او ښځه تورک کوي يعني دواړه پښې به راسته طرف ته باسي او پر چپه طرف به کښېني.

د تشهد بيان

﴿٢١١﴾ وَقَرَأَ تَشَهُّدَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه او د ابن مسعود رضي الله عنه والا تشهد دي ووايي وَأَشَارَ بِالْمُسَبِّحَةِ فِي الشَّهَادَةِ او د شهادت په ګوته سره دي (په التحيات کي) اشاره وکړي د کلمهٔ

شهادت (أشهد أن لا إلٰهَ...) ويلو په وخت كي يَرْفَعُهَا عِنْدَ النَّفْيِ وَيَضَعُهَا عِنْدَ الْإِثْبَاتِ (په داسي توګه) چي د نفي (لَا إلٰهَ ويلو) په وخت كي دي ګوته پورته كړي او د اثبات (إلَّا الله ويلو) په وخت كي ګوته كښېږدي (كښته كړي).

تشريح: تشهد په حديثو كي په مختلفو الفاظو سره نقل سوى دى، په هغوى كي درې قسمه تشهد زيات مشهور دى، په را روان عبارت كي چي تشهد ذكر سوى دى، هغه د ابن مسعود رضي الله عنه تشهد دى، د احنافو او حنابله وو په نيز همدا تشهد تر ټولو افضل دى، تفصيل به يې څه وروسته ذكر سي.

﴿۲۱۲﴾ وَلَا يَزِيْدُ عَلَى التَّشَهُّدِ فِي الْقُعُوْدِ الْأَوَّلِ او زياتوب دي نه كوي پر تشهد په اوله ناسته كي.

تشريح: مسئله دا ده چي په اوله ناسته كي دي له تشهد ويلو څخه وروسته سملستي د درېيم ركعت لپاره ولاړ ېږي، هيڅ تأخير دي نه كوي، او كه د فرضي لمانځه په اوله ناسته كي له تشهد څخه وروسته درود شريف ويل شروع كړي، نو راجح قول دا دى چي كه تر "على محمدٍ" پوري (يعني صرف اللهم صل على محمد... پوري) ووايي، نو سجدهٔ سهو واجبېږي. (شامي ج:۱، ص:۶۹۴)

او له امام صاحب رَحِمَهُ الله څخه د امام حسن په روايت كي نقل سوي دي چي كه يو حرف يې هم زيات كړى، نو سجدهٔ سهو پاندي لازمه ده او ځيني وايي چي زياتره علماؤ همدغه قول غوره كړى دى.

لېكن صاحب د كبيري رَحِمَهُ الله وايي چي زياتره علماء پر اول قول دي او هغه قول اولىٰ او صحيح دى. (فتح المصلي)

د تشهد (التحيات) الفاظ

﴿۲۱۳﴾ وَهُوَ او هغه (د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تشهد) دا دى اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ ټوله قولي عبادتونه (عبادات قوليه) خاص الله ﷻ لره دي وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ او ټوله فعلي عبادتونه او ټوله مالي عبادتونه (خاص الله ﷻ لره دي) اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ سلام دي وي (له جانبه څخه د رب تعالىٰ) پر تا اې نبي ﷺ او د الله ﷻ رحمت او د هغه بركتونه اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ سلام دي وي پر موږ او د الله تعالىٰ پر نېكو بندګانو أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ

زه ګواهي (شاهدي) ورکوم چې له الله ﷻ څخه بغير بل هيڅ معبود (د عبادت لائق) نشته وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او د هغه رسول دی.

تشريح: فرمايي چې دا ابن مسعود ؓ تشهد دا دی: «اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ».

د التحيات لغوي څېړنه: اَلتَّحِيَّات جمع د "تَحِيَّةٌ" ده، د "تَحِيَّةٌ" اصل معنیٰ ده: "ستړي مشې، هرکلی او سلام کول"، څرنګه چې به عربو د خپل ملاقات او سلام کولو په وخت کې د ستړي مشې په توګه دا دعاء کول "حَيَّاكَ اللهُ" (الله دې ژوندی لره!)، نو ځکه د عربو سلام، ملاقات او ستړي مشې په "تَحِيَّة" سره ونومل شوه، لکه څرنګه چې زموږ سلام او ملاقات ته "ستړی مه شې" ویل کیږي، ځکه چې موږ هم د خپل ملاقات پر مهال په همدې الفاظو سره دعاء کوو (لکه ستړی مشې! جوړ پخير)، نو د "تَحِيَّةٌ" اصل معنیٰ ده: "ستړي مشې"، څرنګه چې د هر قوم لپاره يوه ستړي مشې او د ملاقات پر وخت د دعاء يوه جمله وي، نو د سپېڅلي اسلام "تَحِيَّه" (اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ) دی؛ او دلته له "اَلتَّحِيَّات" څخه مراد ټوله ثناګانې او قولي عبادتونه دي لکه لمونځ، اذکار او داسې نور.

الصَّلَوَات جمع د صَلٰوةٌ ده، له دې څخه يوازې لمونځ مراد نه دی، بلکې ټوله بدني عبادتونه ځنې مراد دي، لکه روژه، حج، جهاد او داسې نور. الطَّيِّبَات جمع د طَيِّبَةٌ ده، پاک او غوره شي ته ويل کيږي، او له دې څخه ټوله مالي عبادتونه مراد دي، لکه زکاة، سرمايه او داسې نور.

د التحيات اصل او تفصيلي ژباړه: د التحيات اصل دا دی چې کله رسول الله ﷺ د معراج په شپه لوړ آسمان ته ورسېدی، نو الله ﷻ ته يې د تحيّه ورکولو اراده وکړه لکه څرنګه چې باچاهانو ته د ملاقات پر وخت تحيّه ورکول کيږي، نو لوی څښتن ﷻ نبي کريم ﷺ ته د دې کلمو الهام وکړی چې داسې ووايه: «اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ» (ټوله ثناګانې او قولي عبادتونه او ټوله بدني عبادتونه او ټوله مالي عبادتونه الله ﷻ لره دي)، کله چې رسول الله ﷺ د الله ﷻ په حضور کې د تحيې په توګه دا درې کلمې ووېلې، نو الله ﷻ يې هم په جواب کې دا درې کلمې ووېلې: «اَلسَّلَامُ

عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ » (اې ازموږه نبي! پر تا دې سلام وي د الله تعالیٰ له جانبه او پر تا دې د الله تعالیٰ له جانبه رحمت او برکتونه وي). يعني "اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ" يې د "التَّحِيَّات" په مقابل کې ووايه چې دا به د قيامت تر ورځې د اسلام او مسلمانانو تحيه وي، بلکې په جنت کې به هم په دې سره مسلمانانو ته تحيه ورکول کيږي، او "رَحْمَةُ اللهِ" د "الصَّلَوَات" مقابل دی کوم چې د "صَلٰوة" اصلي معنیٰ ده، او د بدني عباداتو سره د الله ﷻ رحمت لازم دی. او "بَرَكَات" د "الطَّيِّبَات" مقابل دی، کوم چې نما او کثرت ته وايي، او د مال او سرمايې سره مناسب دي.

څرنګه چې نبي کريم ﷺ رَحْمَةٌ لِلْعٰلَمِيْن، أَجْوَدُ الْخَلْقِ وأَكْرَمُهُم دی، نو ځکه نبي کريم ﷺ دا فيض او د الله ﷻ ستر احسان عام کړی ټولو انبياؤ عَلَيْهِمُ السَّلَام ته، او د ټوله مخلوق صالحانو ته هغه که له ملائکو څخه وي او که له انس او جن څخه وي، نو داسې يې ووېل: «اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْن». (سلام دې وي پر مؤمنانو او د خدای ﷻ پر هغه بندګانو چې نېکان وي). مطلب دا چې اې الله ﷻ! ستا له جانبه سلامتي صرف پر ما نه، بلکې ستا پر نورو نېکو بندګانو دې هم وي.

کله چې نبي کريم ﷺ دغه احسانيه کلمې ووېلې، نو فرشتو د جبرئيل ؑ په وحې سره يا د الله ﷻ په الهام سره داسې ووېل: «أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ». (موږ ګواهي ورکوو چې الله ﷻ يو دی، او ګواهي ورکوو چې محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او رسول دی).

عِبَادُ اللهِ الصَّالِحِيْن: عبدِ صالح (نېک بنده) په شريعت کې هر هغه بنده ته وايي چې د الله ﷻ د ټولو حقونو او د هغه د مخلوق د ټولو حقونو پر ځای کونکي وي.

يادونه: کوم التحيات چې پورته ذکر سول، دا د عبد الله ابن مسعود ؓ التحيات ده او ټولو صحاح سته وو رانقل کړې ده او امام ترمذي رَحِمَهُ الله يې په آخر کې ويلي دي چې "له نبي ﷺ څخه د التحيات په هکله تر ټولو صحيح قول د ابن مسعود ؓ دی". او پر همدغه د زياتره صحابه وو او تابعينو عمل رو.

﴿٢١٤﴾ وَقَرَأَ الْفَاتِحَةَ فِيْمَا بَعْدَ الْأُوْلَيَيْنِ او (بيا) دي سورة الفاتحه ووايي له اولو دوو رکعتونو څخه وروسته والا رکعتونو کي.

تشريح: او بيا دي په آخري رکعتونو کي سورة الفاتحه (الحمد شريف) ووايي (او مخکي په ﴿٣٦٣﴾ نمبر مسئله کي تېر سوه چي د فرضي لمانځه له اولو دوو رکعتونو څخه په نورو رکعتونو کي سورة الفاتحه ويل سنت دي. واجب او لازم نه دي).

﴿٢١٥﴾ ثُمَّ جَلَسَ وَقَرَأَ التَّشَهُّدَ بيا دي (له آخري رکعت کولو څخه وروسته) کښېني او تشهد دي ووايي ثُمَّ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ ﷺ بيا دي په نبي ﷺ باندي درود شريف ووايي ثُمَّ دَعَا بِمَا يُشْبِهُ الْقُرْآنَ وَالسُّنَّةَ بيا دي (تر درود شريف وروسته) دعاء وکړي په داسي الفاظو (کلماتو) سره کوم چي د قرآن او حديثو (د کلماتو) مشابه وي.

تشريح: فرمايي چي د څلورو رکعتو له پوره کولو څخه وروسته دي د قعدۀ اخيره لپاره کښېني او پوره "التحيات" دي ووايي يعني تشهد او تر هغه وروسته درود ابراهيمي او يو مأثوره دعاء دي ووايي.

﴿٢١٦﴾ ثُمَّ يُسَلِّمُ يَمِيْنًا وَيَسَارًا بيا دي سلام وګرځوي راسته طرف ته او (بيا) چپه طرف ته فَيَقُوْلُ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ نو ودي وايي "السلام عليكم ورحمة الله" (سلام دي وي پر تاسو او د الله رحمت) نَاوِيًا مَنْ مَّعَهُ په داسي حال کي چي نيت کونکی وي د هغه چا کوم چي د ده سره دي كَمَا تَقَدَّمَ لکه مخکي چي تېر سوه.

تشريح: د لمونځ پر ختمېدو دي اولاً راسته طرف ته بيا چپه طرف ته مخ وګرځوي "السلام عليكم ورحمة الله" دي ووايي. او د سلام ګرځولو په وخت کي دي راسته او چپه طرف ته په لمانځه کي د شريکو خلکو، فرشتو او نېکو جناتو ټولو باندي د سلام کولو نيت وکړي، چي تفصيل يې د "فصل في سننها" په آخر کي تېر سو.

* * *

بَابُ الْإِمَامَةِ

(دا) فصل دامامت (په بيان کي) دی

تشريح: د "امامت" معنیٰ ده: سردار کېدل. په لمانځه کي يو کس د ټوله جماعت امام يعني سردار وي او ټوله اقتداء کونکي يعني مقتديان د هغه تابعداري کوي او دمقتدي لمونځ دامام دلمانځه سره متعلق کېږي، اوس مصنف رَحِمَهُ الله په دې باب کي ددغه امامت احکام او تفصيلات بيانوي.

د امامت مرتبه

﴿۲۱۷﴾ هِيَ أَفْضَلُ مِنَ الْأَذَانِ امامت له اذان څخه افضل دی.

تشريح: داحنافو په نېز امامت کول له اذان کولو څخه افضل دي (يعني ثواب يې زيات دی): ځکه له نبي کريم ﷺ او له خلفاء راشدينو څخه پر امامت همېشتوب ثابت دی. (شفاء الارواح)

د جماعت حکم او ارزښت

﴿۲۱۸﴾ وَالصَّلٰوةُ بِالْجَمَاعَةِ سُنَّةٌ لِلرِّجَالِ الْأَحْرَارِ بِلَا عُذْرٍ او لمونځ په جماعت سره سنت (مؤکده) دی دآزادو خلکو لپاره چي (هغوی لره) هيڅ عذر نه وي.

لغات: «أحرار» جمع د حُرٌّ ده: آزاد.

تشريح: اسلام يو اجتماعي مذهب دی. په همدې وجه داسلام ډېر عبادتونه په اجتماعي توګه اداء کول کېږي. له هغوی څخه يو د جماعت لمونځ دی. کوم چي دلمت پر آزادو خلکو سنت مؤکده دی چي واجب ته نژدې دی. په حديثو کي د جماعت دلمانځه ډېر ټينګار او فضيلتونه وارد سوي دي، نبي کريم ﷺ فرمايي: چي د جماعت لمونځ د يوازي لمونځ کولو په مقابله کي اووېشت چنده زيات فضيلت لري. (بخاري شريف)

همدارنګه د جماعت په پرېښوولو باندي وعيد وارد سوی دی. نبي کريم ﷺ فرمايي: زما زړه غواړي چي يو څو ځوانانو ته ووايم چي بوټي (لرګي) جمع کړي او بيا زه هغه خلکو ته ورسم کوم چي بېله څه عذره په کورو کي لمنځونه کوي او د هغوی کورو ته اور واچوم. (مسلم شريف)

لهذا په هر مسلمان سړي باندي ضروري ده چي په مسجد کي د جماعت دلمانځه اهتمام وکړي او په دې باره کي قطعاً سستي او غفلت پرېږدي.

بلاعذر: یعني د جماعت د لمانځه تأکید هغه وخت دی کله چي څه عذر نه وي او که عذر وي. نو بیا شرعاً د جماعت پرېښوولو ګنجایش سته.

د امامت شرطونه

﴿۲۱۹﴾ وَشُرُوْطُ صِحَّةِ الْإِمَامَةِ لِلرِّجَالِ الْأَصِحَّاءِ سِتَّةُ أَشْيَاءَ او د روغو (جوړو) سړيو لپاره د امامت صحيح کېدلو شرطونه شپږ شیان دي (یا په بله وینا داچي د روغو خلکو د امام جوړېدلو لپاره شپږ شیان شرط دي اچي په امام کي به وي ا) اَلْإِسْلَامُ وَالْبُلُوْغُ وَالْعَقْلُ وَالذُّكُوْرَةُ ① مسلمان والی ② بالغ والی ③ عاقل والی ④ او نارینه والی وَالْقِرَاءَةُ ⑤ او قرائت (یعني پر قرائت به قدرت لري ا قرآن شریف به لوستلای سي ا) وَالسَّلَامَةُ مِنَ الْأَعْذَارِ ⑥ او له عذرونو څخه خوندي کېدل (چي صحیح سلامت به وي) كَالرُّعَافِ (عذرونه) لکه له پزي څخه وینه جاري کېدل (چي د پزي وینه یې نه بندېږي) وَالْفَأْفَأَةِ او فأفاه کېدل (یعني په خبرو کي یې فاء زیاته راځي امر خبره چي کوي نو اول یې فاء له خولې څخه راوځي ا) وَالتَّمْتَمَةِ او (بل عذر) تمتمه کېدل (چي په خبرو کي یې تاء او میم زیات راځي امر وخت یې تم. تم ځي ا) وَاللُّثْغِ او (بل عذر) ترژبی کېدل (چي ژبه یې له یوه حرف څخه وبل حرف ته اوړي. مثلاً سین په ثاء سره بدلوي او داسي نور) وَفَقْدِ شَرْطٍ او (بل عذر د لمانځه له شرطونو څخه) د یوه شرط نیستوالی كَطَهَارَةٍ وَسَتْرِ عَوْرَةٍ لکه پاکي او د عورت پټوالی.

لغات: ﴿الأصحاء﴾ جمع د صَحِيْحٌ ده لکه څرنګه چي أَحِبَّاء جمع د حَبِيْبٌ ده: روغ رمټ. ﴿رعاف﴾ د فتح او نصر له بابه مصدر دی: پزه وینې کېدل، له پزي څخه وینه روانېدل. هغه وینه چي له پزي څخه د ناروغی په وجه راوځي. د داسي کس امامت صحیح نه دی. ﴿الفأفأة﴾ د فَعْلَلَةٌ د باب مصدر دی: له خولې څخه "فاء" زیاته وتل. چي د یو لفظ او حرف د اداء کولو په وخت کي د مشقت په وجه اول د "ف" غوندي آواز راوځي بیا اصل لفظ اداء کوي، د داسي کس هم امامت صحیح نه دی.

﴿التمتمة﴾ هم د فَعْلَلَةٌ د باب مصدر دی: په داسي تو ګه خبره کول چي په هغه کي "ت" او "میم" زیات راوځي. یعني په خبرو کي یې د "ت" او "م" د راګرځولو عادت وي. یا له پلسني تالو څخه د

آواز زیات وتل او خبري داسي تیزي کول چي نه فهمول کیږي. ﴿اللَّثَغ﴾ د سمع د باب مصدر دی: تړی کېدل، تړژبی کېدل. داسې کېدل چي په صحیح توګه د حروفو پر اداء کولو قدرت نه وي. مثلاً د "سین" پر ځای پر ژبه "ثاء" جاري کېدل. او د "راء" پر ځای پر ژبه "غین یا لام" جاري کېدل او داسي نور. داسي کس هم امام نه سي جوړېدلای. ﴿فقد شرط﴾ یعني بل عذر د لمانځه د شرطونو دیو د شرط نه موجودېدل دي مثلاً طهارت او عورت پټول. یعني د امامت له (۶) شرائطو څخه چي کوم دا شرط دی چي له عذرونو څخه سالم کېدل. نوله هغه عذرونو څخه دا هم عذر دي چي امام پاک نه وي یعني معذوره یا د ستر په اندازه جامه نه لري. لهذا که له دغه عذرونو څخه یو عذر وي. نو (نامعذوره خلکو ته) د داسي کس امامت (لمونځ ورکول) نه صحیح کیږي.

تشریح: د روغو (نامعذوره) خلکو د امامت (لمونځ ورکولو) لپاره فقهاؤ شپږ شرطونه ذکر کړي دي:

① مسلمان کېدل، ② بالغ کېدل، ③ عقل مند کېدل، ④ نر کېدل (سړی کېدل)، ⑤ په قرائت باندي قادر کېدل، ⑥ له عذر څخه سلامتیا، لکه د پزي وینه، تُړی والی، د باد و تلو یا د متیازو څڅېدلو مرض او له داسي نورو اعذارو څخه سالم کېدل. دلته د "بلوغ" په قید سره نا بالغ ووتی؛ ځکه د نابالغه کس لمونځ نفل دی او نفل کونکی فرض لمونځ نه سي ورکولای (لهذا د نابالغ شا ته د بالغ لمونځ صحیح نه دی، هغه که هر لمونځ وي او که څه هم تراویح او نوافل وي؛ خو د بلخ د ائمه وو په نېز د نابالغ شا ته تراویح او نور نوافل صحیح دي. لیکوال ښکاره دي وي چي د عمر په اعتبار سره پنځلس کاله د بلوغت عمر دی. لیکن که د علامت په اعتبار سره تر دغه عمر مخکي بالغ سي، نو هم د هغه شا ته لمونځ صحیح دی)، او د "عقل" په قید سره غیر عاقل ووتی: ځکه د مجنون امامت صحیح نه دی او د "نارینه والي" په قید سره ښځه ووتله (لهذا ښځه د نارینه وو امامه نه سي جوړېدلای. هغه که هر لمونځ وي. لیکن د ښځو امامه جوړېدلای سي. خو دا مکروه تحریمي دي) او د "سلامتیا" په قید سره معذورین ووتل. یعني امام به په څه عذر مبتلا نه وي مطلب دا چي داسي مرض به ورته لاحق نه وي چي په هغه سره معذوره شمېرل کیږي چي په لفاتو کي د ځینو وضاحت وسو (خو معذوره کس د خپل غوندي معذوره کسانو امامت کولای سي). همدارنګه په کوم امام کي چي د لمانځه له شرطونو څخه یو شرط موجود نه وي. د هغه شا ته د داسي کس لمونځ نه کیږي چي په هغه کي د لمانځه ټول شرطونه موجود وي. مثلاً د طهارت (اودس او غسل) کونکي لمونځ په غیر طاهر (یعني په معذوره) کس پسي یا د جامه اغوستونکي لمونځ په لڅ (برنډ) کس پسي نه صحیح کیږي. (شفاء الارواح. انوار الایضاح)

د اقتداء شرطونه

﴿۲۲۰﴾ وَشُرُوْطُ صِحَّةِ الْإِقْتِدَاءِ أَرْبَعَةَ عَشَرَ شَيْئًا او د اقتداء د صحیح کېدلو شرطونه څوارلس شیان دي نِيَّةُ الْمُقْتَدِيْ الْمُتَابَعَةَ مُقَارَنَةً لِتَحْرِيْمَتِهٖ (۱) د مقتدي نیت کول د

امام د تابعداری (یعني دامام داقتداء نیت کول) په داسي حال کي چي هغه (دمتابعت نیت) د ده د تکبیر تحریمه سره یو ځای وي (یعني داقتداء صحیح کېدلو یو شرط دادی چي مقتدي به د خپل تکبیر تحریمه په وخت کي دامام دمتابعت نیت کړی وي).

تشریح: په امام پسي داقتداء د صحیح کېدلو لپاره څوارلس (۱۴) شرطونه ضروري دي: ① اول شرط دادی چي مقتدی به دامام دمتابعت "اقتداء" (یعني په هغه پسي دلمونځ کولو) نیت کوي مثلاً داسي نیت کول چي زه په دغه امام پسي نیت کوم یا د دغه امام په اقتداء کي لمونځ کوم. په دې توکه چي داقتداء نیت د تکبیر تحریمه سره یو ځای وي یا تر تکبیرِ تحریمه داسي مخکي وي چي د نیت او تکبیرِ تحریمه په مینځ کي څه نیت ماتونکی فعل نه وي چي د هغه تفصیل دلمانځه په شرطونو کي تېر سو، خو د جمعې او داخترونو په لمنځو کي داقتداء نیت ضروري نه دی؛ ځکه دا لمنځونه د جماعت سره مخصوص دي. (شفاء الارواح بحوالة عمدة الفقه)

د امامت نیت

﴿۲۲۱﴾ وَنِيَّةُ الرَّجُلِ الْإِمَامَةَ شَرْطٌ لِصِحَّةِ اِقْتِدَاءِ النِّسَاءِ بِهٖ (۲) او د سړي نیت کول (د ښځو) دامامت شرط دي د ښځو داقتداء صحیح کېدو لپاره.

تشریح: ② دوېم شرط حاصل دادی چي که امام سړی (نارینه) وي او د هغه شا ته ښځي هم په لمانځه کي شرکت کوي (یا په بله وینا ښځي هم لمونځ پسي کوي)، نو دامام سړي لپاره ضروري ده چي د ښځو دامامت نیت هم وکړي، که چیري امام د ښځو دامامت نیت نه وي کړی، نو د ښځو اقتداء نه صحیح کیږي، خو د نارینه امام لپاره د سړیانو دامامت نیت کول یا د ښځینه امام لپاره د ښځو دامامت کول شرط نه دي، لېکن څرنګه چي بغیر له نیته ثواب نه حاصلیږي، نو ځکه نیت کول افضل دي. (شفاء الارواح)

د اقتداء نور شرطونه

﴿۲۲۲﴾ وَتَقَدُّمُ الْإِمَامِ بِعَقِبِهٖ عَنِ الْمَأْمُوْمِ (۳) او دامام په خپل پوندي سره مخکي کېدل (یعني دامام پونده مخکي کېدل) له مقتدي څخه.

لغات: العَقِب﴾ او العَقْب: پونده، جمع: أَعْقَاب.

تشریح: ③ داقتداء صحیح کېدلو لپاره درېم شرط دادی چي د مقتدي قدم به دامام له قدم څخه مخکي نه وي او په دې کي اعتبار پوندي لره دي، یعني د پښو پوندي به یې دامام له پوندو څخه مخکي نه وي. لهذا که د مقتدي پوندي دامام له پوندو څخه مخکي وي، نو د مقتدي اقتداء نه صحیح کیږي. او که د مقتدي پوندي شا ته وي، خو د مقتدي تنه (قد) دومره اوږد وي چي په

سجده کي د مقتدي سر د امام له سره څخه مخکي کيږي (يا مثلاً د مقتدي پښې غټې وي او د امام پښې کوچنۍ وي وي او د مقتدي پوندي د امام تر پوندو شاته وي، خو نوره پښه يې د امام له پښې څخه مخکي وي). نو اقتداء يې صحيح کيږي؛ ځکه اعتبار پوندو لره دی او هغه تر امام شاته دي. (طحطاوي على مراقي الفلاح، شفاء الارواح)

﴿۴۲۳﴾ وَأَنْ لَّا يَكُوْنَ أَدْنٰى حَالًا مِنَ الْمَأْمُوْمِ (۴) او دا چي نه به وي امام ادنیٰ (کمتر) د حالت په اعتبار سره له مقتدي څخه (يا په بله وينا چي د امام حالت به د مقتدي له حالت څخه کمتر نه وي. يعني امام به د مقتدي له لمونځ څخه د کمي درجې لمونځ کونکی نه وي).

تشريح: ④ څلورم شرط دا دی چي د امام لمونځ به د مقتدي د لمانځه څخه د کمي درجې نه وي. نو د فرض کونکي لمونځ په نفل کونکي پسي نه صحيح کيږي؛ ځکه د امام حالت ادنیٰ دی او د مقتدي حالت اعلیٰ دی.

﴿۴۲۴﴾ وَأَنْ لَّا يَكُوْنَ الْإِمَامُ مُصَلِّيًا فَرْضًا غَيْرَ فَرْضِهِ (۵) او دا چي نه به وي امام داسي فرض لمونځ کونکی کوم چي د مقتدي له فرضو څخه بغير (بل فرض) وي (يعني د دواړو لمونځ به يو وي).

لغات: فرضه: د ضمير مرجع المأموم (مقتدی) دی.

تشريح: ⑤ پنځم شرط دا دی چي د امام او مقتدي لمونځ به يو وي، داسي به نه وي چي امام د ماپښين لمونځ کوي او مقتدی د مازيگر د لمانځه نيت پسي وکړي او داسي نور.

﴿۴۲۵﴾ وَأَنْ لَّا يَكُوْنَ الْإِمَامُ مُقِيْمًا لِمُسَافِرٍ بَعْدَ الْوَقْتِ فِيْ رُبَاعِيَّةٍ وَلَا مَسْبُوْقًا (۶) او دا چي نه به وي د مسافر امام مقيم له وخت تېرېدلو څخه وروسته په څلور رکعتيز لمانځه کي او نه به (امام) مسبوق وي. (يعني په څلور رکعتيز قضائي لمانځه کي به مقيم کس د مسافر امام نه وي. او نه به مسبوق وي).

لغات: ﴿مسبوق﴾ هغه کس چي اول رکعت ځني تېر سوی وي، هغه ته مسبوق وايي. نور بيا که دوه رکعته ځني تير سوي وي او که دري يا څلور سره.

تشريح: ⑥ د اقتداء د صحيح کېدو شپږم شرط دا دی چي په څلور رکعتيز لمانځه کي (مثلاً د ماپښين. مازيگر او ماخوستن په لمنځونو کي) د وخت له وتلو څخه وروسته د مسافر کس امام به مقيم نه وي. يعني د وخت له تېرېدلو څخه وروسته په څلور رکعتيز لمنځونو کي د مسافر لپاره په مقيم امام پسي لمونځ کول جائز نه دي. مثلاً له يو مسافر څخه د ماپښين لمونځ قضاء سي. نو د هغه اقتداء په

يو داسي امام پسي جائز نه ده كوم چي مقيم وي. خو كه دا مسافر په يو مسافر امام پسي په همدي لمانځه كي اقتداء وكړي، نو جائز ده.

بعد وقت: يعني له وخت تېرېدلو څخه وروسته دا د مسافر اقتداء په مقيم پسي جائز نه ده. خو په وخت كي دننه (يعني د خپل وخت په لمانځه كي) جائز ده چي مسافر په مقيم پسي اقتداء وكړي او په دې صورت كي به مسافر د خپل امام په متابعت كي څلور ركعتونه پوره كوي.

دلته د "رباعية" (څلور ركعتيز) قيد لګول سوى دى، لهذا كوم لمنځونه چي څلور ركعتيز نه وي لكه د سهار او ماښام لمنځونه. نو په هغوى كي د مسافر اقتداء په مقيم پسي په هر حالت كي جائز ده، برابره ده په وخت كي دننه وي يا د وخت له وتلو څخه وروسته وي.

ولا مسبوقًا: د اقتداء د صحيح كېدو لپاره دا هم شرط دي چي په كوم چا پسي اقتداء كيږي يعني امام، هغه به مسبوق نه وي. لهذا كه يو مسبوق كس خپل پاته لمونځ پوره كوي، نو په هغه پسي د اقتداء نيت كول نه صحيح كيږي (ځكه كله چي هغه خپل لمونځ پوره كوي. نو په دې وخت كي هم هغه يو قسم د خپل امام شاته دى او مقتدى دى، نو ځكه په هغه پسي د بل چا لمونځ صحيح نه دى). (شفاء الارواح. ثمرة النجاح)

﴿۲۲۶﴾ وَاَنْ لَّا يَفْصِلَ بَيْنَ الْإِمَامِ وَ الْمَأْمُوْمِ صَفٌّ مِنَ النِّسَاءِ (٧) او دا چي فاصل (حائل) به نه وي د امام او مقتدي ترمينځ د ښځو صف.

تشريح: ⑦ اووم شرط دا دى چي د امام او نارينه مقتديانو ترمينځ به د ښځو پوره صف حائل نه وي، كنې د هغه نارينه مقتديانو لمونځ نه صحيح كيږي (له پوره صف څخه مراد تر دريو زياتي ښځي دي. او كه صرف درې ښځي وي، نو صرف له هغه دريو خلكو څخه كوم چي بالكل د دې ښځو شاته دي د نورو لمونځ نه فاسديږي، په هر صف كي د هغه دريو خلكو لمونځ فاسديږي كوم چي بالكل د ښځو شا ته راځي. همدا حكم د دوو ښځو او يوې ښځي دى). (انوار الايضاح. شفاء الارواح)

﴿۲۲۷﴾ وَاَنْ لَّا يَفْصِلَ نَهْرٌ يَمُرُّ فِيْهِ الزَّوْرَقُ (٨) او دا چي فاصل به نه وي (د امام او مقتدي ترمينځ) داسي نهر (رباله) چي په هغه كي كوچنۍ كښتۍ تېرېدلاى سي.

لغات: ﴿الزورق﴾ يو قسم كوچنۍ كښتۍ ده.

تشريح: ⑧ د اقتداء د صحيح كېدو اتم شرط دا دى چي د امام او مقتديانو ترمينځ به داسي نهر (رباله) حائل نه وي چي په هغه كي كوچنۍ كښتۍ تېرېدلاى سي (يا په بله وينا داسي نهر چي له پل وغيره څخه بغير پر هغه اوښتل ممكن نه وي). لهذا كه په مينځ كي داسي نهر حائل وي يعني امام د نهر يوې خوا ته وي او مقتدى د نهر بلي خوا ته وي، نو اقتداء نه صحيح كيږي.

همدا حکم د مسجد د حوض دی، مثلاً د مسجد په صحن (غولي) کي حوض دی، نو د حوض شاته والا حصه کي اقتداء نه صحیح کیږي، خو که د حوض شا و خوا ته صفونه متصل ولاړ وي، نو د شاتنیو خلکو اقتداء هم صحیح کیږي.

او که نهر دومره کوچنی وي چي په هغه کي کوچنۍ کښتۍ هم نه سي تېرېدلای. نو هغه د اقتداء لپاره مانع نه دی (لهذا که د امام او مقتدیانو تر مینځ کوچنۍ لښتی وي، نو اقتداء یې صحیح کیږي). (شفاء الارواح)

یادونه: مصنف رَحِمَهُ الله د کوچني نهر او لوی نهر تر مینځ داسي فرق کړی دی چي که نهر داسي وي چي په هغه کي کوچنۍ کښتۍ تېرېدلای سي، نو هغه د لوی نهر په درجه کي دی، کنې د کوچني نهر په درجه کي دی او له اقتداء څخه مانع نه دی. (طحطاوي ص:۱۵۹)

﴿۲۲۸﴾ وَلَا طَرِيْقٌ تَمُرُّ فِيْهِ الْعَجَلَةُ (۹) او نه داسي لاره (به فاصل وي) چي په هغه کي ټانګه تېرېدلای سي.

لغات: ﴿عجلة﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي چي له هغوی څخه دوې دا دي: ① تېر (اربه)، ② ټانګه.

تشریح: ⑨ د اقتداء د صحیح کېدو لپاره نهم شرط دا دی چي د امام او مقتدي تر مینځ به داسي لاره حائل نه وي چي په هغه کي ټانګه تېرېدلا سی (چي د هغه اندازه د دوو صفونو برابر ده)، لهذا که دومره پراخه (دوو صفونو په اندازه) لاره وي، نو اقتداء یې نه صحیح کیږي (خو که په دې خالي ځای کي هم کسان ودریږي، نو بالاتفاق ټوله صفونه متصل کیږي او د شاتنیو خلکو اقتداء صحیح کیږي، همدا حکم د نورو صفونو دی، لهذا که اول صف د امام شا ته متصل ولاړ وي چي په مینځ کي یې لاره نه وي، لېکن د اول او دوېم صف په مینځ کي دومره لاره وي چي په هغه کي ټانګه تېرېدلای سي یعني د دوو صفونو په اندازه لاره، نو د اول صف والا لمونځ خو صحیح کیږي، لېکن د دوېم صف والا لمونځ فاسدیږي، او که د دوو صفونو له اندازې څخه کمه لاره وي، نو د اقتداء لپاره مانع نه دي. دلته دا خبره یاد ساتل پکار دي چي عام مسجدونه که ډېر غټ نه وي، نو د مکان واحد حکم لري او په هغوی کي د خالی ځای حائل والي لره اعتبار نه سته او هغه د اقتداء مانع نه دی. که څه هم د دوو یا زیاتو صفونو په اندازه وي. لهذا که امام په محراب کي وي او یو سړی د مسجد په یو طرف کي اقتداء وکړي او په مینځ کي دوه صفه یا له دې څخه زیاته خالي فاصله وي، نو هم اقتداء جائز ده. خو بېله ضرورته داسي کول مکروه دي. او د مسجد د فناء هم دغه حکم دی. او فناء د مسجد هغه صحن او اطرافو ته وایي کوم چي د مسجد سره متصل وي او په مینځ کي یې لاره نه وي). (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

﴿۲۲۹﴾ وَلَا حَائِطٌ يَشْتَبِهُ مَعَهُ الْعِلْمُ بِانْتِقَالَاتِ الْإِمَامِ (۱۰) او نه داسي دېوال (به فاصل وي) چي مشتبه کیږي د هغه (په وجود) سره علم (خبرېدل) د امام په انتقالاتو (یعني چي د هغه په وجه د امام نقل و حرکت مثلاً رکوع او سجدې ته د تللو حالت مشتبه کیږي) **فَإِنْ لَمْ يَشْتَبِهْ لِسَمَاعٍ أَوْ رُؤْيَةٍ**

(لېکن) که نه مشتبه کیږي د آواز اورېدلو یا لیدلو په وجه صَحَّ الِاقْتِدَاءُ فِي الصَّحِيْحِ نو اقتداء صحیح کیږي د صحیح قول مطابق.

تشریح: ⑩ لسم شرط دا دی چي د امام او مقتدي تر مینځ به داسي دېوال او پرده حائل نه وي چي د هغه په وجه د امام نقل او حرکت مثلاً رکوع، قومه او سجده ورته مشتبه سي او سم نه ورته معلومیږي، لهذا که مقتدي ته د امام د انتقالاتو علم نه وي، برابره ده د یو شي د حائل کېدلو په وجه وي، یا په یو بله وجه وي، نو اقتداء نه صحیح کیږي، او که د امام نقل او حرکت، له یوه رکن څخه بل رکن ته تلل مقتدي ته معلومیږي، برابره ده د امام یا د مخامخ نورو مقتدیانو په لیدلو سره وي، یا د مکبّر د تکبیر په اورېدلو سره وي، نو اقتداء یې صحیح کیږي، که څه هم دېوال وغیره په مینځ کي حائل وي، خلاصه دا ده چي د اقتداء د صحیح کېدلو لپاره ضروري ده چي د امام حالت به پر مقتدي نه مشتبه کیږي. (شفاء الارواح)

﴿۳۲۰﴾ وَأَنْ لَّا يَكُوْنَ الْإِمَامُ رَاكِبًا وَالْمُقْتَدِيْ رَاجِلًا (۱۱) او دا چي نه به وي امام سپور او مقتدی پیاده أَوْ رَاكِبًا غَيْرَ دَابَّةِ إِمَامِهٖ (۱۲) یا (نه به وي) مقتدی سپور د خپل امام له سپارلي څخه بغیر په بله سپارلي باندي.

تشریح: ⑪ یوولسم شرط دا دی چي د امام او مقتدي ځای به حقیقتاً یا حکماً متحد وي، لهذا که امام سپور وي او مقتدی پیاده (په پښو) وي، نو اقتداء یې نه صحیح کیږي.

⑫ دوولسم شرط دا دی چي که امام سپوري وي، نو د امام او مقتدي سپارلۍ به سره جلا نه وي، لهذا که امام پر یوه سپارلي سپوري وي او مقتدی پر بله سپارلي سپور وي. نو اقتداء یې نه صحیح کیږي، او که پر یوه سپارلي سره سپاره وي، نو اقتداء یې صحیح ده.

﴿۳۲۱﴾ وَأَنْ لَّا يَكُوْنَ فِيْ سَفِيْنَةٍ وَالْإِمَامُ فِيْ أُخْرٰى غَيْرِ مُقْتَرِنَةٍ بِهَا (۱۳) او دا چي نه به وي مقتدی په یوه کښتۍ کي او امام په بله کښتۍ کي کوم چي د مقتدي د کښتۍ سره متصله (لګېدلې) نه وي.

لغات: ﴿مقترنة﴾ د افتعال له بابه د فاعل صیغه ده: متصل، جوخت.

تشریح: ⑬ دیارلسم شرط دا دی چي که امام په کښتۍ کي وي نو د امام او مقتدي کښتۍ به سره جلا نه وي، لهذا که امام یوه په کښتۍ کي وي او مقتدی په بله کښتۍ کي وي، نو اقتداء یې نه صحیح کیږي.

غیر مقترنة: لهذا که د مقتدي کښتی د امام د کښتی سره متصله یعني تړل سوې وي، نو اقتداء یې صحیح کیږي.

﴿۲۲۲﴾ وَأَنْ لَّا يَعْلَمَ الْمُقْتَدِیْ مِنْ حَالِ إِمَامِهٖ مُفْسِدًا فِیْ زَعْمِ الْمَأْمُوْمِ (۱۴) او دا چې مقتدي به نه پېژني د امام له حالت څخه یو داسې څه کوم چې د لمانځه فاسدونکی وي د مقتدي په گومان کې (یعني د خپل امام له حال څخه به څه داسې شی ته ور معلوم نه وي کوم چې د مقتدي په خیال کې مفسد وي) كَخُرُوْجِ دَمٍ أَوْ قَیْءٍ لَمْ يُعِدْ بَعْدَهٗ وُضُوْءَهٗ لکه وینه وتل یا قي کېدل (قی وهل) چې تر هغه وروسته امام خپل اودس نه وي راگرځولی.

تشریح: ⑭ څوارلسم شرط دا دی چې مقتدی به د څه داسې شي په باره کې علم نه لري کوم چې د مقتدي د گومان او مذهب مطابق لمونځ فاسدوي، په لنډه توگه دا چې د مقتدي د مسلک مطابق د امام لمونځ صحیح کېدل شرط دي، مثلاً که امام شافعيُ المذهب وي، نو په هغه پسې د حنفي کس لمونځ صحیح کیږي په دې شرط کله چې مقتدي ته په امام کې داسې شی معلوم نه سي چې په هغه سره د حنفي مذهب مطابق لمونځ فاسدیږي، لهذا که دا مقتدی د شافعيُ المذهب امام د بدن له یو حصې څخه وینه را وتونکې وویني او هغه تر دې وروسته له اودس تازه کولو څخه بغیر لمونځ شروع کړي، نو اوس د حنفي کس لمونځ په هغه پسې نه صحیح کیږي؛ ځکه مقتدي ته په خپل امام کې داسې شی معلوم سو چې په هغه سره په حنفي مذهب کې اودس ماتیږي او د امام شافعي رَحِمَهُ الله په نېز په هغه سره اودس نه ماتیږي (او داسې نور مثالونه). (شفاء الارواح)

د متیمّم اقتداء

﴿۲۲۳﴾ وَصَحَّ اِقْتِدَاءُ مُتَوَضِّیءٍ بِمُتَيَمِّمٍ او صحیح ده د اودس کونکي اقتداء په تیمم کونکي پسې.

تشریح: که امام په تیمّم سره لمونځ کوي او مقتدي اودس کړی وي او په هغه پسې اقتداء وکړي، نو اقتداء صحیح ده. دا مذهب د امام صاحب او امام ابو یوسف رَحِمَهُمَا الله دی. د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز اقتداء صحیح نه ده. (مراقی الفلاح ص، ۱۶۱)

د مسح کونکي اقتداء

﴿۲۲۴﴾ وَغَاسِلٍ بِمَاسِحٍ او د (پښو) پرېولونکي (اقتداء) په مسح کونکي پسې (کوم چې پر موزو مسح کړې وي).

تشریح: کوم چا چې پر پښو مسح کړې وي برابره ده پر موزو او جرموقینو یې مسح کړې وي. یا یې پر پټۍ (جبیره) مسح کړې وي، په هغه پسې د پښو پر پرېولونکي اقتداء صحیح ده؛ ځکه مسح کول او پرېولل دیوې درجې طهارت دی. لهذا د مسح کونکي طهارت د پرېولونکي په څېر باقي دی.

د ناست کس اقتداء

﴿۲۳۵﴾ وَقَائِمٍ بِقَاعِدٍ وَبِأَحْدَبَ او د ولاړ کس (اقتداء) په ناست کس او بوغي (ملا کړوپ) کس پسې.

تشریح: همدارنګه ولاړ کس په ناست کس پسې اقتداء کولای سي. خو د امام محمد رحمه الله په نیز ناجائز نه دي؛ ځکه په دې صوت کې د مقتدي حالت د امام له حالت څخه قوي دی. لېکن جمهورو علماؤ دغه قیاس د هغه صریح نص په وجه پرې اینبی دی کوم چې په بخاري او مسلم کې موجود دی چې نبي کریم ﷺ په خپل آخر عمر کې په ناسته لمونځ ورکړی او خلکو په ولاړي اقتداء پسې وکړه.

همدارنګه بوغی کس یعني چې هغه پر ملا دومره بوغ وي چې د رکوع کیفیت ته رسېدلی وي؛ په هغه پسې هم د ولاړ کس اقتداء صحیح ده. (مراقی الفلاح ص:۱۶۱)

د اشاره کونکي اقتداء

﴿۲۳۶﴾ وَمُؤمٍ بِمِثْلِهٖ او د اشاره کونکي (اقتداء) د هغه په څېر (اشاره کونکي) پسې.

تشریح: اشاره کونکی کس په خپل غوندي اشاره کونکي پسې لمونځ کولای سي؛ ځکه په دې صورت کې د دواړو حالت سره برابر دی او د اقتداء د صحیح کېدو لپاره د حالت برابري هم کافي ده. لېکن کوم څوک چې اشاره نه کوي او بغیر له اشارې پوره رکوع او سجده کوي، د هغه اقتداء په اشاره کونکي پسې صحیح نه ده؛ ځکه دلته د مقتدي حالت د امام له حالت څخه د لوړې درجې دی. (مراقی الفلاح ص،۱۶۱)

د جنابت په حالت کې امامت

﴿۲۳۷﴾ وَمُتَنَفِّلٍ بِمُفْتَرِضٍ او د نفل کونکي (اقتداء) په فرض کونکي پسې.

تشریح: همدارنګه د نفل کونکي اقتداء په فرض کونکي پسې صحیح ده؛ ځکه د نفلي لمانځه په مقابله کې فرضي لمونځ قوي دی او ضعیف د قوي تابع کېږي. نه دا چې قوي د ضعیف تابع کېږي. لهذا نفلي لمونځ به د فرضي لمانځه په متابعت کې صحیح کېږي. لېکن د دې برعکس نه سي کېدلای. (مراقی الفلاح ص،۱۶۱)

﴿۴۳۸﴾ وَإِنْ ظَهَرَ بُطْلَانُ صَلٰوةِ إِمَامِهٖ او که چیري ښکاره سي د خپل امام د لمانځه باطلوالی (یعني مقتدي ته معلومه سي چي د امام لمونځ باطل سو) أَعَادَ نو را ودي ګرځوي (خپل لمونځ) وَيَلْزَمُ الْإِمَامَ إِعْلَامُ الْقَوْمِ بِإِعَادَةِ صَلٰوتِهِمْ بِالْقَدْرِ الْمُمْكِنِ فِي الْمُخْتَارِ او لازم دي پر امام د خلکو خبرول په راګرځولو د هغوی د خپل لمانځه، څومره چي ممکنه وي د مختار قول مطابق (یعني د امام په وس کي چي څومره مقتدیانو ته خبر ورکول ممکن وي، هغوی ټولو ته دي اطلاع ورکړي چي خپل لمنځونه راوګرځوئ!).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که د امام لمونځ په یو وجه فاسد سي، نو د ټولو مقتدیانو لمونځ فاسدیږي، برابره ده دا فساد په لمانځه کي دننه معلوم سي، یا د لمانځه تر ختمېدو وروسته معلوم سي، او که د امام لمونځ په یو وجه فاسد سي او مقتدیانو ته معلوم نه سي، نو پر امام ضروري ده چي خپلو مقتدیانو ته حتی الامکان اطلاع ورکړي، د دې لپاره چي هغوی خپل لمنځونه راوګرځوي، برابره ده په ذریعه د قاصد (استازي) وي یا په ذریعه د خط او پېغام وي کله چي مقتدیان تللي وي؛ د

"في المختار" په قول سره یې غیرِ مختار قول ایستلی دی او هغه دا دی چي که مقتدیان متعین نه وي، نو پر امام اطلاع ورکول ضروري نه دي. (حاشیه)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِيْ مُسْقِطَاتِ الْجَمَاعَةِ

(دا) فصل (د جماعت ساقطونکو شیانو په بیان کي) دی

د کومو عذرونو په وجه د جماعت پرېښوول جائز دي؟

﴿۴۲۹﴾ يَسْقُطُ حُضُوْرُ الْجَمَاعَةِ بِوَاحِدٍ مِنْ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ شَيْئًا ساقطيږي حاضرېدل وجماعت ته په یوه شي سره له اتلسو (۱۸) شیانو څخه مَطَرٌ (۱) باران.

تشريح: د ټولو امامانو په نېز څه اعذار سته چي د هغوی په وجه جماعت پرېښوول جائز دي، او باران له هغه عذرونو څخه یو عذر دی.

پاته سوه دا چي څومره باران عذر دی؟، دا خبره دمبتلیٰ به کس رایي ته پرېښوول سوې ده: ځکه د خلګو احوال مختلف وي د شپې او ورځي په اعتبار سره، همدارنګه د سړک د پوخ والي او کچه والي او د برق (بجلی) د موجود والي او نشتوالي او د صحت او عمر په اعتبار سره، لهذا که د چا خیال دا وي چي په دې باران کي زما لپاره مسجد ته رسېدل مشکل دي، نو هغه په کور کي لمونځ کولای سي، او که مسجد ته په تګ کي څه خاص مشکل نه وي، نو بیا په جماعت سره لمونځ کول ضروري دي.

﴿۴۳۰﴾ وَبَرْدٌ (۲) او (سخت) یخ.

تشريح: که سخت یخ وي او مسجد ته تلل تاواني وي، نو د جماعت د پرېښوولو ګنجایش سته، لیکن افضل همدا ده چي په جماعت سره لمونځ اداء کړي.

خو که سخته ګرمي وي نو څه به کوي؟ په دې هکله علامه شامي رَحِمَهُ الله فرمایي چي موږ علماؤ دا خبره نه ده ذکر کړې، شاید د دې وجه دا وي چي ګرمي عموماً د ماپښین په لمانځه کي وي او د ماپښین لمونځ د ګرمۍ په موسم (دوبي) کي ځنډول سنت دي (چي په هغه وخت کي ګرمي څه کمزوري سوې وي).

﴿۴۴۱﴾ **وَخَوْفٌ** (۳) او بېره.

تشریح: یعني که مسجد ته د تللو په وخت کي د یو دښمن یا د یو ظالم سره د مخامخ کېدلو بېره وي. یا پر خپل مال د غله بېره وي. یا د درنده بېره وي، نو په دې سره هم جماعت ساقطیږي. همدا حکم د قانوني ممانعت هم دی چي که په یو ښار او یو ځای کي له یو وجهي څخه په دباندي وتلو باندي بندیز لګېدلی وي. نو په داسي صورت کي د خپل ځان حفاظت کول ضروري دي او د جماعت پرېښوولو اجازه سته. (طحطاوي علی مراقی الفلاح ص: ۱۶۲)

﴿۴۴۲﴾ **وَظُلْمَةٌ** (۴) او تیاره (تاریکه).

تشریح: که سخته تیاره وي چي د مسجد وطرف ته تلونکې لاره نه ښکاریږي، نو جماعت ساقطیږي او هغه ته حاضرېدل ضروري نه دي.

﴿۴۴۳﴾ **وَحَبْسٌ** (۵) او قید والی (بندیتوب).

لغات: ﴿حبس﴾ بندول (قیدول)، منع کول، راګرځول.

تشریح: که د حکومت یا د بل چا له طرفه څوک راګرځول سوی وي، مثلاً د قرض مالک خپل مقروض (پوروړی) نیولی او راګرځولی وي، نو له هغه مقروض څخه جماعت ساقطیږي، همداسي که مسجد ته دورتللو په صورت کي د قرض د مالک سره د مخامخ کېدلو او له هغه څخه د تکلیف رسېدلو یا د هغه د نیولو بېره وي په دې شرط چي مقروض پر قرض اداء کولو قادر نه وي، نو جماعت ساقطیږي او که قادر وي او نه یې اداء کوي، نو ظالم ګڼل کیږي او هغه ته د جماعت پرېښوولو اجازه نسته.

﴿۴۴۴﴾ **وَعَمْيٌ** (۶) او ړوند والی.

تشریح: کوم څوک چي ړوند وي او مسجد ته تلل مشکل وي، نو له هغه څخه هم جماعت ساقطیږي او مسجد ته حاضرېدل پر هغه ضروري نه دي، که څه هم داسي څوک وي چي هغه تر لاس نیسي او جماعت ته بیایي. (شفاء الارواح)

﴿۴۴۵﴾ **وَفَلَجٌ** (۷) او فالج کېدل (ابلیج وهل).

لغات: ﴿فلج﴾ فالج، ابلیج، معلوم مرض کوم چي د بدن په یو حصه او یو طرف کي پیدا سي او د هغه طرف حس او حرکت ورختم کړي.

تشریح: یعني که څوک فالج وهلی وي، له هغه څخه هم جماعت ساقطیږي.

﴿۴۴۶﴾ وَقَطْعُ يَدٍ وَرِجْلٍ (۸) او لاس او پښه پرې کېدل.

تشریح: که د چا یو لاس او یوه پښه پرې سوې وي، نو دا هم د جماعت پرېښوولو لپاره عذر دی، خو صرف یو لاس پرې کېدل عذر نه دی، او صرف یوه پښه پرې کېدل هم عذر دی. (شفاء الارواح)

﴿۴۴۷﴾ وَسَقَامٌ (۹) او مریض کېدل (ناروغي).

لغات: ﴿سَقَام﴾ ناروغي، مرض (مریضي)، سَقِمَ يَسْقَمُ سَقْمًا (باب سمِع): ناروغه کېدل، مریض کېدل.

تشریح: کوم څوک چې په یو سخت مرض مبتلا وي، نو هغه ته هم د جماعت پرېښوولو گنجایش سته.

﴿۴۴۸﴾ وَإِقْعَادٌ (۱۰) او شوټ کېدل (شوتوالی اله تګ څخه عاجزه کېدل).

تشریح: ﴿إقعاد﴾ د افعال د باب مصدر دی، د دې باب له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: په داسې مرض مبتلا کېدل چې سړی کښېنوي یعني له تګ څخه یې وباسي (پښې یې کار پرېږدي). په "قعاد" مرض مبتلا کېدل، "قعاد" کښېنونکی مرض ته وایي چې سړی له تللو څخه وباسي (یا په بله وینا شوټ کېدل). (معجم الوسیط)

تشریح: مسئله دا ده چې که څوک په داسې مرض مبتلا وي چې له تګ څخه عاجزه وي (یا په بله وینا پر کوناتو ناست وي)، مثلاً د یو چا دواړي پښې یا یوه پښه یې شله (بې حسه) وي، نو له هغه څخه هم جماعت ساقطیږي.

﴿۴۴۹﴾ وَوَحْلٌ (۱۱) او چوکړ (ختي).

لغات: ﴿الوَحَل﴾ (د واو او حاء په فتحه سره): نرۍ ختي، چوکړ.

تشریح: یعني که د مسجده په لاره کې ډېرې ختي او چوکړ وي، نو هم جماعت ساقطیږي، لېکن ترڅو چې ممکنه وي، په جماعت کې شاملېدل غوره دي. (عمدة الفقه)

﴿۴۵۰﴾ وَزَمَانَةٌ (۱۲) او شل کېدل (یا دائمي مرض) وَشَيْخُوخَةٌ (۱۳) او بوډا توب (سپین ږیرتوب).

لغات: ﴿زمانة﴾ د دې لفظ دوې معناوې نقل سوې دي: ① دائمي مرض (له دېر وخت څخه موجود مرض لو آفت). ② پښې یا لاسونه بې حسه کېدل (چې حرکت نه کوي)، زَمِنَ يَزْمَنُ زَمَنًا وزُمْنَةً و زَمَانَةً: دائمي مریض کېدل، معذور او شل کېدل.

تشريح: كه څوك د زيات وخت مريض كېدلو په وجه شل سوی وي، يا سخت كمزوري سوی وي چي د هغه په وجه بغير له مشقته څخه نه سي تللای، نو هغه هم د جماعت پرېښوولو لپاره معذور دی او جماعت څني ساقط دی، همدارنګه كه څوك ډېر بوډا وي چي له تللو څخه عاجزه وي او مسجد ته په تللو كي يې مشقت او تكليف وي، نو له هغه څخه هم جماعت ساقطيږي. (شفاء الارواح)

> ﴿۳۵۲﴾ وَتَكْرَارُ فِقْهٍ بِجَمَاعَةٍ تَفُوْتُهُ (۱۴) او د فقهي تكرار د داسي جماعت (وكړو) سره كوم چي له ده څخه فوت كيږي (يعني دا ببره وي چي هغوی به يې د لاسه ووځي. ولاړ به سي).

لغات: بجماعة: په دې كي "ب" د "مع" په معنیٰ سره ده، تفوته د "تفوت" ضمير و جماعة ته راجع دی او د "ه" ضمير و سړي ته راجع دی.

تشريح: كه د فقهي مجلس او د فقهي كتاب تكرار شروع وي او يو څوك هغه ته ناست وي يعني په زده كړه او ښوونه كي مشغول وي او دا اندېښنه يې وي چي كه په جماعت كي شريك سي، نو هغه تكرار كونكي ملګري كوم چي د ده سره په تكرار كي شريك دي، هغوی به فوت او چيري ولاړ سي. نو په داسي صورت كي كه ببله قصده جماعت پاته سي، نو هغه معذوره دی او د جماعت پرېښوولو ګنجايش ور لره سته، لېكن د دې عادت جوړول او هر ځل د جماعت په وخت كي په تكرار بوختېدل ممنوع دي. (طحطاوي)

يادونه: صاحب د "شفاء الارواح" ليكلي دي: نن سبا چي په مدرسو او جامعو كي كوم تكرار كيږي، هغه د دې مصداق نه سي كېدلای؛ ځكه د ملګرو د فوتېدلو خطره نسته، ځكه عموماً طالبان چيري نه ځي، دا خو هلته دي كله چي مثلاً د علماؤ يا طالبانو يوه غونډه او قافله راورسيږي او يو څوك د هغو سره د يو ضروري مسئلې په هكله تحقيق كول غواړي، يا هغوی يو تحقيقي مقاله وړاندي كوي، نو پر داسي موقع د طالب علم لپاره د جماعت پرېښوولو ګنجايش سته؛ ځكه كه هغه جماعت ته ولاړ سي، نو د علماؤ يا طالبانو قافله به ولاړه سي، بيا نه ده معلومه چي كله به ورته نصيب سي، والله أعلم (شفاء الارواح)، همدارنګه د كتابونو په مطالعه مشغولېدل هم عذر دی كله چي يې دا عادت نه وي (يعني كه په ضروري مطالعې د زيات مشغوليت په خاطر كله نا كله ببله قصده جماعت پاته سي، نو د دې ګنجايش هم سته). (طحطاوي بحوالۀ شفاء الارواح)

﴿۴۵۳﴾ وَحُضُوْرُ طَعَامٍ تَتُوْقُهٗ نَفْسُهٗ (۱۵) او د خوراک (ډوډۍ) حاضرېدل چي هغه ته د نفس شوق (خواهش) کېږي.

لغات: ﴿تَتُوْقُهٗ﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث غائب فعل مضارع معروف صيغه ده. تَاقَ يَتُوْقُ تَوْقًا و تَوَقَانًا: شوق لرل (شوق کېدل)، خواهش مند کېدل، غوښتنه کول.

تشريح: که داسي صورت پېښ سي چي د عينِ جماعت په وخت کي ډوډۍ تياره او حاضره سي يا تيارېدلو ته نژدې وي او سړی زيات وږی وي او نفس د هغه وطرف ته راغب وي. نو په داسي صورت کي هم د جماعت پرېښوولو اجازه سته؛ ځکه که د سختي لوږي په حالت کي لمونځ کوي، نو په لمانځه کي به يې توجّه د ډوډۍ وطرف ته وي، لهذا دا هم عذر شمېرل سوی دی.

﴿۴۵۴﴾ وَإِرَادَةُ سَفَرٍ (۱۶) او د سفر اراده کول.

تشريح: يعني که څوک د سفر اراده لري او هغه ته دا ډېره وي چي په جماعت سره د لمونځ کولو په صورت کي به ډېر ناوخته سي او قافله به ولاړه سي، يا مثلاً په اوسني وخت کي د رېل ګاډي (اورګاډي) يا د طيارې (جهاز) د روانېدلو وخت نژدې وي، نو په دې صورت کي هم جماعت ساقطېږي.

﴿۴۵۵﴾ وَقِيَامُهٗ بِمَرِيْضٍ (۱۷) او د يو مريض سره د ده پاتېدل (چي د مريض د خدمت او کار لپاره ور سره وي).

تشريح: يعني که يو څوک د مريض د خدمت او کار لپاره متعين وي او هغه ته دا ډېره وي چي که له مريض څخه ولاړ سم او په جماعت سره لمونځ وکړم، نو مريض ته به تکليف يا وحشت پېښ سي. نو له هغه څخه جماعت ساقطېږي.

﴿۴۵۶﴾ وَشِدَّةُ رِيْحٍ لَيْلًا لَانَهَارًا (۱۸) او د باد سختېدل (تېز باد) د شپې. نه د ورځي.

تشريح: يعني که په شپه کي ډېر تېز باد چليږي. نو هم جماعت ساقطېږي. خو د ورځي په وخت کي د تېز باد چلېدل د جماعت پرېښوولو لپاره عذر نه دی. بلکي په جماعت سره لمونځ کول ضروري دي.

ه ـدمهٔ وَإِذَا انْقَطَعَ عَنِ الْجَمَاعَةِ لِعُذْرٍ مِّنْ أَعْذَارِهَا او کله چي سړی قطع سي له جماعت څخه (يکښي شريک نه سي) د جماعت له هغو عذرونو څخه ديو عذر په وجه الْمُبِيْحَةِ لِلتَّخَلُّفِ کوم (عذرونه) چي مباح کونکي (روا کونکي) دي له جماعت څخه پاتېدلو (جماعت پرېښوولو) لره (يعني چي د هغوی په وجه له جماعت څخه پاتېدل او په جماعت کي شرکت نه کول روا کيږي. نو که شرک د داسي عذر په وجه پاته سي) يَحْصُلُ لَهُ ثَوَابُهَا نو حاصليږي هغه ته د جماعت ثواب.

تشريح: يعني که يو چا له مخکيني مذکوره عذرونو څخه ديو عذر په وجه په جماعت کي شرکت نه وکړی سو او د هغه دا قصد او نيت وو چي که عذر نه وای نو خامخا به مي په جماعت سره لمونځ کړي وای. نو هغه ته د جماعت ثواب حاصليږي. لېکن له دې څخه مراد هغه عذرونه دي کوم چي په جماعت کي د حاضرېدو لپاره بالکل مانع وي، مثلاً فالج، زيات بوډا والی او داسي نور. لهذا کوم عذرونه چي بالکل مانع نه وي مثلاً باران، يخ او داسي نور. نو په دې صورتونو کي که څه هم د جماعت پرېښوول جائز دي، خو بيا هم په جماعت سره لمونځ کول غوره دي. لهذا که په جماعت کي شرکت نه وکړي. نو د جماعت فضيلت نه ورته حاصليږي. (عمدة الفقه)

* * *

فَصْلٌ فِي الأَحَقِّ بِالإِمَامَةِ وَتَرتِيبِ الصُّفُوفِ

(دا) فصل دامامت دزيات مستحق کېدلو او دصفونو د ترتيب په بيان کي دی

تشريح: په دې فصل کي دا بيانول کېږي چي دامام جوړېدلو څوک زيات حقدار دی او صفونو ته به ترتيب څنګه ورکول کېږي؟.

دامامت زيات حقدار: دامامت زيات حقدار هغه څوک دی چي په لمانځه او دلمانځه سره په اړوند مسئلو ښه خبر وي او ښه يې زده وي او قرآن کريم صحيح ويلای سي او دلويو ګناهونو (تباترو) څخه پرهيز کوي. (عالمګيري ج:۱. ص:۸۳)

دصفونو د ترتيب اهميت: دجماعت په لمانځه کي دصفونو سمول او سيده کول ضروري دي. نبي کريم ﷺ دې ډېر ټينګار کړی دی او تر هغوی ﷺ وروسته خلفاء راشدينو هم دصفونو د سمون ډېر اهتمام کړی دی. دحضرت عمر ؓ دخلافت په دور کي چي کله په مسجد نبوي کي لمونځ ګزاران زيات سول او دصفونو دسمولو کاريوازي دامام په وس کي پاته نه سو. نو حضرت عمر ؓ په مستقله توګه يو څو خلګو ته دا ذمه واري وسپارله، هغو به صفونه سيده کوله. بيا چي کله به هغو دصفونو دسمولو اطلاع ورکړه، نو تر دې وروسته به حضرت عمر ؓ لمونځ شروع کړی. لنډه دا چي صفونه سيده کول ضروري دي او دصفونو دسيده کولو ذمه واري دامام ده، که دامام له بې توجهۍ څخه په صفونو کي خرابي او نخره پاته سي، نو دقيامت په ورځ به هغه مأخوذه کېږي. (انوار الايضاح)

دصفونو دسيده کولو طريقه: دصفونو دسمولو لو آسانه لاره دا ده چي په جماعت کي شريک تو له لمونځ ګزاران خپلي پوندي دصف پر څنډه کښېږدي او هر يو خپلي اوږې دبل داوږو سره برابري کړي او د پښو ګوتي مخ پر قبله وساتي، نو په دې توګه به دهر يوه بجلکي دبل دبجلکو په برابر کي رسي او خود بخوده به صفونه برابر او سيده روان سي.

ضروري يادونه: نن سبا دصفونو د ترتيب او برابرولو خصوصي بندوبست کېدل پکار دي؛ ځکه لوس عموماً دصفونو د ترتيب په باره کي لا پروايي کېږي، سره د دې چي په مسجد کي دهر صف لپاره جلا دری او جلا ځای متعين سوی وي او په لېږ غوندي توجه سره صفونه سيده کېدلای سي، لېکن بيا هم په دې معامله کي غفلت کېږي او خلګ مخ او شا ته بې ترتيبه ولاړ وي چي په دې توګه دصفونو په مېنځ کي نخره (خلا) پاته وي او عادت دا دی چي که وروسته يو کس راسي او دغه نخره

ډکول وغواړي، نو راسته او چپه طرف ته ولاړ خلک لړ ځکېدلو ته نه تیاریږي، دغه صورت حال د پیغمبر ﷺ د هدایاتو بالکل خلاف دی.

د اول صف فضیلت: په صفونو کې اول صف تر ټولو بهتر دی، رسول الله ﷺ د اول صف والا لپاره په خصوصي توګه د بخښنې دعاء کړې ده او فرمایلي یې دي چې د صف اول پر خلکو د الله تعالی رحمت نازلیږي او فرښتې د هغو لپاره د مغفرت دعاء کوي. (مشکوة شریف، حدیث نمبر: ۱۰۹۵)

نن سبا د اول صف په ترتیب کې هم ډېر غفلت کیږي، دیخ په زمانه کې د خلکو کوشش دا وي چې د مسجد په هغه طرف کې ودریږي چیرې چې لمر وي، حال دا چې د مخ صفونه خالي پاتې وي او د ګرمۍ په زمانه کې داسې ځای لټول کیږي چې هلته د باد پکې (پنکې) هوا زیاته راځي. قطع نظر له دې څخه چې هغه اول صف وي او که شاتنی صف وي!، دغه طریقه قطعاً نامناسبه ده، ددې پر ځای زموږ کوشش دا کېدل پکار دي چې د مخ په صفونو کې په لمونځ کولو سره د زیات ثواب مستحقین وګرځو، پرودګار عالم دې موږ ټولو ته د عمل توفیق راکړي (آمین). (کتاب المسائل ص: ۳۹۹ - ۴۰۲)

د امامت زیات مستحق درجه په درجه

﴿۴۵۸﴾ إِذَا لَمْ يَكُنْ بَيْنَ الْحَاضِرِيْنَ صَاحِبُ مَنْزِلٍ وَلَا وَظِيْفَةٍ وَلَا ذُوْ سُلْطَانٍ او کله چې نه وي په حاضرینو کې د کور خاوند او نه د وظیفې خاوند (تنخوا والا امام) او نه د حکومت والا (د وخت باچا امیر) فَالْأَعْلَمُ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ نو (په دوی کې) زیات علم والا د امامت زیات حقدار دی ثُمَّ الْأَقْرَأُ بیا (په دوی کې) زیات قاري ثُمَّ الْأَوْرَعُ بیا زیات پرهېزګاره.

لغات: ﴿صاحب منزل﴾ د کور خاوند، د کور مالک، مراد یې عام دی یعنې برابره ده خپل کور یې وي او که په کرایه یا عارتاً یې اخیستی وي، ﴿وظیفة﴾ مراد تنخوا، جمع: وظائف، او دلته تنخوا والا امام مراد دی. ﴿أورع﴾ د فتح له بابه د اسم تفضیل صیغه ده: وَرَعَ يَرَعُ وَرْعًا وَرَعًا: له مشتبه شیانو څخه ځان ساتل، پرهېزګاره کېدل.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې امام خو به هماغه کس جوړول کیږي چې په هغه کې د امامت تر ټولو زیات اوصاف موجود وي، لیکن که په حاضرینو کې د اسلام باچا هم موجود وي، نو بیا هغه تر ټولو زیات د امامت مستحق دی، لیکن په حاشیه کې د "نهایة" په حواله سره لیکل سوي دي چې دا د هغه زمانې د باچا او حاکم خبره ده چې په هغه کې به حاکم غالباً عالم او نېک وو، او پاته سو زموږ

په زمانه کي زیاتره حاکمان ظالمان. فاسقان او فاجران وي، نو ځکه په اوسنۍ زمانه کي به دا حکم نه وي.

تر دې وروسته به د کور خاوند یا د وظیفې (تنخا) خاوند (یعني محلې والا امام کوم چي په تنخا سره تاکل سوی وي) پر نورو مخکي کول کیږي. که څه هم په حاضرینو کي له دوی څخه ښه عالم یا ښه قاري یا پرهېزګاره موجود وي، لیکن غوره دا ده چي د کور خاوند یا د محلې امام له دوی څخه یو مخکی کړي او کله چي له دوی څخه یو موجود نه وي. نو د امامت تر ټولو زیات حقدار هغه کس دی کوم چي أعلم وي. یعني کوم چي د لمانځه د صحت او فساد په مسائلو تر ټولو زیات خبر وي چي په کومو شیانو سره لمونځ فاسدیږي او په کومو شیانو سره صحیح کیږي. او د مسنون قرائت په اندازه د قرآن پر ویلو قادر وي، لهذا کوم کس چي د لمانځه په شرطونو، ارکانو، سنتو او د هغه په آدابو واقف وي که څه هم د نورو علومو سره زیات بلد نه وي، یا دا چي نور علوم بالکل نه پېژني او ظاهراً له ګناهونو څخه ځان ساتي، نو هغه په دې باب کي أعلم دی. (حاشیه. عمدة الفقه بحوالۀ شفاء الارواح)

ثم الأقرأ: په دې کي دوه احتماله دي: ① یعني که په حاضرینو کي ټول په علم کي سره برابر وي. نو په هغوی کي چي څوک قرآن شریف د قواعدو مطابق زیات صحیح وایي چي د وقف پر ځای وقف. د وصل پر ځای وصل، د تشدید پر ځای شد، د تخفیف پر تخفیف او د مد پر ځای مد او داسي نور کوي، نو هغه د امامت زیات حقدار دی، علامه ابن همام رَحِمَهُ الله هم دا اول احتمال اخیستی دی. ② او دویم احتمال دا دی چي که ټول له أعلم وي، نو له دوی څخه چي د کوم یوه زیات قرآن یاد وي. هغه زیات حقدار دی.

ثم الأورع: یعني که په حاضرینو کي هر یو أعلم او أقرأ وي، نو په هغوی کي چي څوک تر ټولو زیات پرهېزګاره وي، هغه زیات حقدار دی. د پرهېز مطلب دا دی چي په کوم څه کي صرف د حلال او حرام شبهه وي. نو له هغه څخه هم ځان ساتي. په ورع او تقویٰ کي فرق دا دی چي تقویٰ له محرماتو څخه پرهېز کولو ته وایي او ورع له شبهاتو څخه پرهېز کولو ته وایي. (حاشیه بحوالۀ شفاء الارواح)

۹۳ ثُمَّ الْأَسَنُّ بیا (په دوی کي) زیات عمر والا (زیات مشر) ثُمَّ الْأَحْسَنُ خُلُقًا بیا زیات ښه اخلاق والا (یعني هغه کس کوم چي د اخلاقو په اعتبار سره په دوی کي زیات ښه وي) ثُمَّ الْأَحْسَنُ وَجْهًا بیا زیات ښایسته مخ (صورت) والا ثُمَّ الْأَشْرَفُ نَسَبًا بیا زیات شریفه نسب والا ثُمَّ الْأَحْسَنُ صَوْتًا بیا زیات ښایسته (ښکلې) آواز والا ثُمَّ الْأَنْظَفُ ثَوْبًا بیا زیات پاکي جامې والا (یعني په دوی کي هغه کس چي جامه یې زیاته پاکه وي).

لغات: ﴿أسن﴾ داسم تفضيل صيغه ده: زيات عمر والا. أَسَنَّ الرَّجُلُ: ډېر عمر والا کېدل. بو
کېدل. ﴿أشرف﴾ د کرُم له بابه داسم تفضيل صيغه ده. شَرُفَ يَشْرُفُ شَرَفًا و شَرَافَةً: لوړي مرتبې والا
کېدل، دعزت خاوند کېدل.

تشريح: ثم الأسن: يعني که په پرهېزګارۍ کي هم تول حاضرين سره برابر وي، نو بيا په دو
چي کوم په عمر کي مشر وي، هغه به امام جوړېږي. علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چي په عمر ک
د زياتوالي مطلب دا دی چي د چا زياته زمانه داسلام په حالت کي تېره سوې وي، هغه به مخک
کيږي، نو د دې قول مطابق هغه ځوان کوم چي له شروع څخه مسلمان وي پر هغه سپين ږيري مخک
کول کيږي کوم چي څو ورځي مخکي مسلمان سوی وي، او بعضي حضراتو په عمر کي زياتوالي
حقيقتًا په عمر کي مشروالي مراد کړی دی، نو د دې قول مطابق په مذکوره حاضرينو کي چي د کوم
يوه زيات عمر وي، هغه به مخکي کول کيږي.

ثم الأحسن خلقًا: يعني که په مذکوره شيانو کي د جماعت خلک تول سره برابر وي، نو بيا چي پ
دوی کي د کوم يوه ډېر ښه اخلاق وي چي د ښه اخلاقو په وجه خلک ور سره محبت کوي، نو هغه به
مخکي کول کيږي؛ ځکه داسي کس د جماعت د کثرت سبب دی.

ثم الأحسن وجهًا: يعني که تول په اخلاق کي هم سره برابر وي، نو بيا چي کوم يو زيات ښکلی او
ښايسته وي، هغه به مخکي کول کيږي، بعضو له دې څخه هغه کس مراد کړی دی کوم چي په کثرت
سره تهجد کوي؛ ځکه د نورو خلکو په نسبت د تهجد کونکي پر مخ زيات نور او ښکلا راځي (لک
څرنګه چي دلوس وخت اسلامي سائنسپوهانو د دې سائنسي وجه هم بيان کړې ده. او په حديث کي هم دې ته اشار
سوې ده چي په شپه کي د کوم چا لمنځونه زيات وي، نو د هغه مخ ښکلی کيږي)، او بعضي حضراتو ظاهري
ښايست مراد کړی دی: ځکه د ښکلي امامت هم د جماعت د کثرت سبب وي. (طحطاوي)

د لغړزني امامت: لغړ زنی (أمرد) که ښايسته وي او دا ډېره وي چي خلک به هغه ته د شهوت په
نظر سره وګوري، نو د هغه امامت مکروه تنزيهي دی او غوره دا ده چي يو ږيري والا کس مستقل امام
مقرر کړل سي. (شامي ج: ٢، ص: ٢٥٨)

ثم الأشرف نسبًا: يعني که تول خلک په ښکلا کي هم سره برابر وي، نو بيا به هغه يو مخکي کول
کيږي کوم چي د خاندان په لحاظ سره زيات شريف وي، مثلاً سيد به پر نورو خلکو مخکي کول
کيږي: ځکه سيد خاندان ته د نبي کريم ﷺ د نسبت په وجه يو خاص اعزاز او شرافت حاصل دی.

الأحسن صوتاً الخ: او که په مذکوره صفاتو کي هم ټوله سره برابر وي، نو بیا به ښه آواز والا مخکي کول کیږي.

او بیا به هغه يو مخکي کول کیږي چي د هغه کپړې (جامې) له خیرو شخه زیاتي صفاوي.
بعضي حضراتو ددې معنیٰ دا بیان کړې ده چي کوم چا تر ټولو غوره کپړه اغوستې وي، هغه به مخکي کول کیږي. (طحطاوي)

> ﴿٢٦٠﴾ فَإِنِ اسْتَوَوْا بیا که (په مذکوره اوصافو) کي ټوله سره برابر سي يُقْرَعُ نو قرعه (ایسکه امسکا) به اچول کیږي أَوِ الْخِيَارُ لِلْقَوْمِ یا اختیار قوم لره دی فَإِنِ اخْتَلَفُوْا بیا که دوی (دامام په اختیارولو کي) اختلاف وکړي فَالْعِبْرَةُ بِمَا اخْتَارَهُ الْأَكْثَرُ نو اعتبار هغه کس لره دی چي اکثره یې اختیار (خوښ) کړي وَإِنْ قَدَّمُوْا غَيْرَ الْأَوْلٰى او که دوی غیر مستحق کس مخ ته کړي فَقَدْ أَسَاءُوْا نو دوی بد وکړه.

لغات: ﴿يقرع﴾ د افعال له بابه د واحد غائب مضارع مجهول صیغه ده، مصدر إِقْرَاعٌ: قرعه اندازي کول. قرعه کشي کول (پچه اچونه)، د ډېرو خلکو په نومانو کي د یوه نوم را ایستلو طريقه. ﴿أساءوا﴾ د افعال له بابه د جمع مذکر غائب ماضي معروف صیغه ده، مصدر إِسَاءَةٌ: بد کول. غلطي کول.

تشريح: فرمايي چي که په مذکوره ټولو اوصافو کي سره برابر وي، نو قرعه اندازي به کول کیږي، د چا د یوه نوم چي را ووځي، هغه به امام جوړول کیږي. یا خلکو ته اختیار دی چي کوم یو یې خوښ کړي هغه دي امام جوړ کړي، او که پر یوه هم اتفاق را نه سي، نو بیا چي د کوم یوه په باره کي د اکثرو مقتدیانو رایه وي چي هغه دي منتخب کړی سي، نو هغه به امام جوړول کیږي.
او که د اختلاف یا غیرِ اختلاف په صورت کي خلکو یو غیرِ حقدار کس د امامت لپاره مخکي کړی، نو ډېر بد یې وکړه، خو لمونځ یې کیږي. (انوار الایضاح)

د غلام امامت

> ﴿٢٦١﴾ وَكُرِهَ إِمَامَةُ الْعَبْدِ او مکروه دی امامت د غلام.

تشريح: غلامان زیاتره ناخبره (جاهله) او بې تهذیبه وي او همېشه د مالک په خدمت کي د مشغولتیا په وجه د شه ویلو او زده کولو موقع ورته حاصله نه وي، نو ځکه د دوی امامت مکروه تنزیهي دی:

لېکن که یو غلام د علم او تقویٰ خاوند وي، نو بېله کراهته یې امامت صحیح دی. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۱۶۴، شفاء الارواح)

د نا بینا امامت

﴿۲۶۲﴾ وَالْأَعْمٰی او (امامت) د نابینا.

تشریح: کوم نابینا (ړوند) کس چې احتیاط کونکی وي چې له نجاست څخه د بچ کېدلو پوره اهتمام کوي، نو د هغه امامت بېله کراهته صحیح دی، کنې مکروه تنزیهي دی.

د صحرایي امامت

﴿۲۶۳﴾ وَالْأَعْرَابِيِّ او (امامت) د صحرایي (دښتي).

تشریح: کوچي او د صحراء اوسېدونکی هم د امامت لپاره مخکې کول مکروه دي؛ ځکه په دوی کې هم د جهالت غلبه وي، لېکن که د علم خاوند وي، نو بیا بېله کراهته یې امامت صحیح دی.

د حرامي (ارموني) امامت

﴿۲۶۴﴾ وَوَلَدِ الزِّنَا الْجَاهِلِ او (مکروه دی امامت) د حرامي (کله) چې (دا مذکوره هر کس) جاهل وي.

تشریح: د حرامي کس امامت هم مکروه تنزیهي دی؛ ځکه د هغه پلار نه وي چې هغه ته یې تربیه او تعلیم ورکړی وي، لېکن که هغه د علم خاوند وي، نو بیا هیڅ حرج نشته.

یادونه: دلته د "الجاهل" قید له "العبد" څخه واخله تر "ولد الزنا" پورې د ټولو سره متعلق دی او مطلب یې دا دی چې د مذکوره کسانو امامت هغه وخت مکروه دی کله چې دوی جاهله، د علم خاوندان نه وي او که وي، نو بیا هیڅ کراهت نشته. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۱۶۵)

د فاسق امامت

﴿۲۶۵﴾ وَالْفَاسِقِ او (مکروه دی امامت) د فاسق.

تشریح: فاسق کس امام جوړول او په هغه پسې لمونځ کول مکروه تحریمي دي، د هغه په اقتداء کې به لمونځ نه کول کېږي.

يادونه: فاسق هغه کس ته وايي کوم چي علی الاعلان د ګناه کبيره ارتکاب کوي. لکه سود خور کس، چغل خوره، زناکاره، رياکاره، ږيره خريونکی، يا ږيره کونډی کونکی (چي له يوه موټ څخه يې يانه کوچنی کوي) او داسي نور. د دغه ګناهونو مرتکب امام جوړول او لمونځ پسي کول مکروه دي. که نه هم هغه په علم کي له نورو مقتديانو څخه زيات وي؛ ځکه په امام جوړولو کي د هغه تعظيم کيږي، حالانکي پر مقتديانو د هغه اهانت ضروري دی. (طحطاوي عمدة الفقه بحوالة شفاء الارواح)

د بدعتي امامت

٢٦٦﴾ وَالْمُبْتَدِعِ او (امامت) د بدعتي.

ات: ﴿مبتدع﴾ د افتعال له بابه د فاعل صيغه ده: . مصدر اِبْتِدَاعٌ: ايجادول. له ځانه جوړول. نوي بره پيدا کول.

ريح: د بدعتي کس امامت هم مکروه تحريمي دی. او له بدعتي څخه مراد هغه کس دی کوم چي دين کي له خپل ځانه نوي خبري پيدا کوي، نو په هغه پسي لمونځ کول مکروه تحريمي دي کله ي د هغه بدعت دومره نه وي چي په هغه سره د دين له ضرورياتو څخه د يوه انکار لازميږي. خو که د ه بدعت د کفر حدّ ته رسېدلی وي، نو په دې سره خو هغه کافر کيږي او په هغه پسي ګرد سره ونځ نه کيږي.

ونه: دلته دا خبره ياد ساتل پکار دي چي که د يو مسجد امام فاسق يا بدعتي وي. نو که بل ځای د ماعت لمونځ پيدا کيږي، نو په هغه پسي دي اقتداء نه کوي، او که داسي هيڅ صورت نه وي مثلاً مسجد نه وي. يا وي. خو هلته هم امام فاسق يا بدعتي وي لکه په بهرني هيوادونو کي چي زياتره دا صورت پېښيږي، نو په داسي صورت کي په هغو پسي لمونځ کول له يوازي لمونځ کولو نه اولیٰ دي، لهذا غوره همدا ده چي يوازي لمونځ نه وکړی سي. (شفاء الارواح بتصرف)

اوږد لمونځ کول

٢٦٧﴾ وَتَطْوِيْلُ الصَّلٰوةِ او (مکروه دی) لمونځ اوږدول (په جماعت کي).

ريح: يعني خلکو ته اوږد لمونځ ورکول مکروه دي؛ ځکه په جماعت کي ضعيفه. بوډاګان او ررت مند ټوله قسم خلک وي، نو د ټولو په رعايت کولو سره لمونځ ورکول پکار دي. او د سنت

قرائت چي کومه اندازه بیان سوې ده (چي د هغه تفصیل په ﴿۳۵۴﴾ نمبر مسئله کي تېر سو). د هغه مقدار مطابق سپک قرائت کول پکار دي، او د دې مطلب دا نه دی چي د ضعیفو خلکو په رعایت کي به له سنت قرات څخه کم قرائت کول کېږي، یا د رکوع او سجدې سنت طریقه به پرېښوول کېږي، بلکي مطلب یې دا دی چي له سنت مقدار څخه به زیاتوب نه کول کېږي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د لڅو خلکو او د ښځو د جماعت حکم

﴿۲۶۸﴾ وَجَمَاعَةُ الْعُرَاةِ وَالنِّسَاءِ او (مکروه دی) جماعت د لڅو کسانو او د ښځو فَإِنْ فَعَلْنَ بیا که ښځي (جماعت) وکړي يَقِفُ الْإِمَامُ وَسْطَهُنَّ كَالْعُرَاةِ نو درېږي به امام د ښځو په مینځ کي، د لڅو کسانو (د جماعت) په څېر.

لغات: ﴿العاری﴾ د سمع له بابه اسم فاعل دی: لڅ، بربنډ.

تشریح: فرمایي چي د لڅو خلکو لپاره په جماعت سره لمونځ کول مکروه تحریمي دي، همدارنګه یوازي د ښځو لپاره په جماعت سره لمونځ کول هم مکروه تحریمي دي، بیا که د کراهت باوجود ښځي جماعت کوي، نو د ښځو امامه به د ښځو په مینځ کي درېږي، د سړیو په څېر به مخ ته نه درېږي، لکه څرنګه چي لڅ کسان که لمونځ کوي، نو د هغو لپار همدا حکم دی چي امام به د دوی په مینځ کي درېږي، مخ ته به یې نه درېږي.

د یوه مقتدي حکم

﴿۲۶۹﴾ وَيَقِفُ الْوَاحِدُ عَنْ يَمِيْنِ الْإِمَامِ او درېږي به یو کس (یو مقتدی) د امام راسته طرف ته وَالْأَكْثَرُ خَلْفَهٗ او (درېږي به. له یوه څخه) زیات د امام شا ته.

تشریح: یعني که د امام سره صرف یو کس وي، نو هغه به د امام راسته طرف ته درېږي او که د امام سره دوه یا تر دې زیات مقتدیان وي، نو هغوی به د امام شا ته درېږي، لهذا که تنها یو کس د امام چپ طرف ته، یا د امام شا ته ودرېږي، نو سخت مکروه تنزیهي دي (یعني له مکروه تحریمي څخه څه کم)؛ ځکه په دې کي د سنت مخالفت دی. (شفاء الارواح)

* * *

مسئله: که چیري تنها یوه ښځه مقتدیه وي، نو هغه به د امام بالکل شا ته دریږي، دیوه سړي په څېر به د امام څنگ ته نه دریږي، همدارنگه که خاوند او ښځه په کور کي په جماعت سره لمونځ کوي، نو ښځه به شا ته دریږي، د امام سره به نه دریږي. (در مختار ج:۲، ص:۳۰۷)

د صفونو ترتیب

﴿۲۷۰﴾ وَيَصُفُّ الرِّجَالُ ثُمَّ الصِّبْيَانُ او صف به جوړوي (اول) سړیان بیا کوچنیان ثُمَّ الْخُنَاثَى ثُمَّ النِّسَاءُ بیا نر ښځیان بیا ښځي.

تشریح: په دې عبارت کي د صفونو ترتیب بیانوي چي د امام شا ته به مقتدیان په کوم ترتیب سره دریږي؟، فرمایي چي د امام شا ته به تر ټولو مخکي سړیان دریږي، بیا د هغو شا ته به کوچنیان او بیا نر ښځیان دریږي (له خنثیٰ څخه مرد خنثیٰ مشکل دی یعني چي په هغه کي د نارینه او ښځینه دواړو علامت وي. یا په بله ویناذکر او فرج دواړه لري. یا له دواړو څخه یو علامت پکښي نه وي. لېکن که یو علامت پکښي غالب وي. نو د غلب علامت په اعتبار سره به هغه نارینه یا ښځینه شمېرل کیږي)، او د نر ښځیانو شا ته به ښځي دریږي. هسي خو جماعت ته د ښځو حاضرېدل مکروه دي، خو بیا هم که هغوی جماعت ته حاضري سي، نو تر ټولو په آخر صف کي به دریږي.

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِيْمَا يَفْعَلُهُ الْمُقْتَدِيْ بَعْدَ فَرَاغِ إِمَامِهِ مِنْ وَاجِبٍ وَغَيْرِهٖ

(دا) فصل د هغو شیانو په بیان کي دی چي کوي به یې مقتدی د خپل امام له فارغېدلو څخه وروسته او له هغوی څخه بغیر نور شیان (چي مقتدی به یی نه کوي)

تشریح: په مذکوره عنوان کي د "غیرهٖ" عطف پر "مایفعلهُ" دی. یعني هغه کارونه چي مقتدی به یې کوي او هغه چي نه به یې کوي مثلاً که امام مخکي تر دې سر پورته کړي چي تر اوسه مقتدي درې واره تسبیح نه وي ویلې. نو مقتد به تسبیح پرېږدي او د امام اتباع به کوي. د همدې په شان اُمور په دغه فصل کي بیان سوي دي.

د مقتدي له فارغېدلو څخه مخکي د امام سلام ګرځول

﴿۱۷۴﴾ وَلَوْ سَلَّمَ الْإِمَامُ قَبْلَ فَرَاغِ الْمُقْتَدِيْ مِنَ التَّشَهُّدِ او که امام سلام وګرځوي د مقتدي له تشهد څخه تر فارغېدلو مخکي يُتِمُّهٗ نو مقتدی به تشهد پوره کوي.

تشریح: یعني په قعدهٔ اخیره (آخره ناسته) کي که تر اوسه مقتدي تشهد پوره کړی نه وي او تر هغه مخکي امام سلام وګرځوي، نو په داسي صورت کي دي مقتدی د امام متابعت نه کوي بلکي خپل تشهد دي پوره کړي او بیا دي سلام وګرځوي؛ ځکه تشهد واجب دی او پاته سو درود او دعاء سنت دي. او که مقتدی خپل تشهد پوره نه کړي. بلکي د امام سره سلام وګرځوي. نو هم جائز دي. لېکن صحیح دا ده چي دا لمونځ د کراهتِ تحریمه سره صحیح کیږي.

او که مقتدی له امام څخه مخکي فارغ سي، نو خاموش دي کښېني او د امام سره دي یو ځای سلام وګرځوي. همدا حکم د قعدهٔ اولیٰ دی چي که په هغه کي امام د مقتدي له تشهد پوره کېدلو څخه مخکي درېیم رکعت ته ولاړ سي، نو مقتدی دي خپل تشهد پوره کړي بیا دي ولاړ سي. لېکن که له تشهد پوره کولو څخه بغیر ولاړ سي. نو هم جائز دي. (حاشیه. عمدة الفقه. مراقی الفلاح)

د مقتدي له تسبیح پوره کېدلو څخه مخکي د امام سر پورته کول

﴿۲۴۲﴾ وَلَوْ رَفَعَ الْإِمَامُ رَأْسَهٗ قَبْلَ تَسْبِیْحِ الْمُقْتَدِیْ ثَلَاثًا فِی الرُّکُوْعِ أَوِ السُّجُوْدِ او که پورته کړي امام خپل سر د مقتدي له درې واره تسبیح ویلو څخه مخکي په رکوع یا سجده کي یُتَابِعُهٗ نو مقتدی به د امام متابعت کوي.

تشریح: مسئله دا ده چي که مقتدي تر اوسه د رکوع یا سجدې تسبیح پوره کړې نه وي چي امام له رکوع یا سجدې څخه سر پورته کړي، نو مقتدی دي د امام متابعت وکړي او تسبیحات دي پرېږدي. پر همدې قول فتویٰ ده. که څه هم بعضي حضرات فرمایي چي تسبیحات دي پوره کړي. (مراقی الفلاح ص: ۱۶۰)

که امام په هېره درې سجدې کړي یا په آخره ناسته کي ولاړ سي؟

﴿۲۴۳﴾ وَلَوْ زَادَ الْإِمَامُ سَجْدَةً او که زیاته کړي امام یوه سجده أَوْ قَامَ بَعْدَ الْقُعُوْدِ الْأَخِیْرِ سَاهِیًا یا ولاړ سي له آخري ناستي څخه وروسته په هېره لَا یَتْبَعُهُ الْمُؤْتَمُّ نو اتباع به نه کوي مقتدی د هغه وَإِنْ قَیَّدَهَا او که امام مقید کړي هغه (زائد) رکعت (په سجده سره. یعني د زائد رکعت لپاره سجده وکړي) سَلَّمَ وَحْدَهٗ نو مقتدی دي یوازي سلام وګرځوي.

تشریح: یعني که امام په یو رکعت کي په هېر د دوو سجدو پر ځای درې سجدې وکړي. یا په قعدهٔ اخیره کي په هېره ولاړ سي. مثلاً په څلور رکعتیز لمانځه کي تر آخري ناستي وروسته د پنځم رکعت لپاره ولاړ سي. نو په دې دواړو صورتونو کي حکم دا دی چي مقتدی دي د امام اتباع نه کوي په دې اضافي شیانو کي. بلکي انتظار دي وکړي. که امام د زائد پنځم رکعت له سجدې څخه مخکي را وګرځي، نو مقتدی دي هم د هغه سره یو ځای پاته سي تر سلام ګرځولو پوري او د هغه سره دي سجدهٔ سهو هم وکړي. او که امام د زائد پنځم رکعت لپاره سجده وکړي. نو مقتدی دي تنها سلام وګرځوي.

که امام آخره ناسته پرېږدي؟

﴿۲۴۴﴾ وَإِنْ قَامَ الْإِمَامُ قَبْلَ الْقُعُوْدِ الْأَخِیْرِ سَاهِیًا او که امام ولاړ سي له آخري ناستي څخه مخکي په هېره اِنْتَظَرَهُ الْمَأْمُوْمُ نو مقتدي دي د هغه انتظار وکړي فَإِنْ سَلَّمَ الْمُقْتَدِیْ

قَبْلَ أَنْ يُقَيِّدَ إِمَامُهُ الزَّائِدَاةَ بِسَجْدَةٍ بیا که مقتدی سلام وګرځوي مخکي تر دې چې امام خپل زائد رکعت په سجده سره مقید کړي فَسَدَ فَرْضُهُ نو د مقتدي فرض فاسدیږي.

تشریح: مسئله دا ده چې که امام آخره ناسته نه وکړي، بلکې په هېره ولاړ سي، نو په دې صورت کې دې هم مقتدی د امام متابعت نه کوي یعني نه دې ولاړیږي، بلکې په ناسته دې انتظار وکړي. که د پنځم رکعت له سجدې څخه مخکي امام راوګرځي، نو مقتدی دې د هغه متابعت وکړي. لېکن که مقتدی د امام د پنځم رکعت له سجده کولو څخه مخکي سلام وګرځوي، نو د مقتدي لمونځ فاسدیږي: ځکه قعدهٔ اخیره فرض ده. لکه څرنګه چې د پنځم رکعت په سجده کولو سره د امام او مقتدي دواړو لمونځ فاسدیږي.

﴿۲۷۵﴾ وَكُرِهَ سَلَامُ الْمُقْتَدِىْ بَعْدَ تَشَهُّدِ الْإِمَامِ قَبْلَ سَلَامِهِ او مکروه دي د مقتدي (لپاره) سلام ګرځول د امام له تشهد ویلو څخه وروسته مخکي د امام تر سلام ګرځولو.

تشریح: مسئله دا ده چې که امام په آخره ناسته کې تشهد پوره کړی وي (درود او دعاء یې شروع کړې وي) او تر اوسه هغه سلام نه وي ګرځولی دی چې مقتدی تر هغه مخکي سلام وګرځوي. نو دا مکروه تحریمي دي، خو لمونځ یې صحیح کیږي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۱۶۹، ۱۷۰)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِى الْأَذْكَارِ الْوَارِدَةِ بَعْدَ الْفَرْضِ

(دا) فصل په (بيان د) هغه اذكارو كي دى كوم چي تر فرضو
وروسته وارد سوي دي

﴿٤٧٦﴾ اَلْقِيَامُ إِلَى السُّنَّةِ مُتَّصِلًا بِالْفَرْضِ مَسْنُوْنٌ له فرضو (فرضي لمانځه) څخه وروسته متصلاً د سنتو لپاره ولاړېدل سنت دي وَعَنْ شَمْسِ الْأَئِمَّةِ الْحَلْوَانِي: لَا بَأْسَ بِقِرَاءَةِ الْأَوْرَادِ بَيْنَ الْفَرِيْضَةِ وَالسُّنَّةِ او له شمس الائمه حلواني رحمه الله څخه نقل سوي دي: چي څه پروانسته د وظيفو (اورادو) په ويلو كي د فرضو او سنتو تر مينځ.

لغات: ﴿لا بأس﴾ لا د نفي جنس ده، لا باس به وفيه: په دې كي څه حرج او پروا نسته. شيءٌ لا باس به: داسي شی چي هيڅ پروا پكښي نه وي، نا قابلِ اعتراض شی.

تشريح: تر فرضي لمانځه وروسته بېله څه ځنډه متصلاً د سنتو لپاره ولاړېدل سنت دي. يعني تر لمانځه وروسته دي په اوږده دعاء او وظائفو كي نه مشغوله كيږي، او پاته سوه مختصره دعاء كول د دې منافي نه دي، لكه "اللهم أنت السلام ومنك السلام تبارکت يا ذا الجلال والإكرام"، "اللهم أعني على ذكرك و شكرك وحُسن عبادتك" او "لا إله إلّا الله وحدهٗ لا شريک لهٗ له الملك وله الحمد وهو على كل شیء قدير" او داسي نور، دغه مختصره دعاګاني د متصلاً سنت لپاره منافي نه دي. بلكي په اوږدو دعاګانو مشغولېدل چي په هغه سره په سنتو كي تأخير راسي، له هغه څخه ځان ساتل ضروري دي ځكه په زيات تأخير سره د سنتونو ثواب كميږي.

او شمس الائمه حلواني رحمهُ الله فرمايي چي د فرضو او سنتو په مينځ كي اوراد او وظايف كول څه حرج نه لري. ليكن دا به نه ده بلكي اولىٰ دا ده چي كوم وظايف له فرض لمنځونو څخه وروسته منقول دي مثلاً درې واره استغفار، آيت الكرسي، او الباقيات الصالحات ٣٣ واره سبحان الله ٣٣ واره الحمد لله او ٣٤ واره الله أكبر او يو وار لا إله إلا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شیء قدير، دا دي تر سنتو وروسته وايي

تر کومو لمنځونو وروسته چي سنت نسته لکه د سهار او مازیګر لمونځ، په هغوی کي دي تر سلام وروسته متصلاً الباقیات الصالحات وایي. بیا دي دعاء غواړي. او په دې کي دي اجتماعي هیئت ضروري نه ګڼل کیږي. بلکي د چا چي څه ضرورت وي. هغه دي ولاړ سي او د چا چي زړه وغواړي له امام څخه مخکي دي دعاء شروع کړي او پر هغه دي څه نکیر نه کول کیږي. خو په مدرسه کي د طالبانو د تربیت په خاطر هغوی د دې پابند ګرځول صحیح دي، چي د دې معمولاتو اهمیت د هغو په ذهن کي کښېني...(شفاء الارواح، انوار الایضاح)

تر فرض لمانځه وروسته نوافل بل ځای کول

﴿ــ۲﴾ وَيَسْتَحِبُ لِلإِمَامِ بَعْدَ سَلَامِهِ أَنْ يَتَحَوَّلَ إِلَى يَسَارِهِ لِتَطَوُّعٍ بَعْدَ الْفَرْضِ او مستحب دي د امام لپاره تر سلام ګرځولو وروسته چي واوړي خپل چپه طرف ته د نفلو (سنتو) لپاره له فرضو څخه وروسته (یعني د امام لپاره مستحب دي چي له سلام ګرځولو څخه وروسته د سنتو او نوافلو د اداء کولو لپاره خپل چپه طرف ته ایسته سي).

لغات: ﴿یتحول﴾ د تفعل د باب مضارع ده: اوښتل، له یوه ځایه بل ځای ته منتقل کېدل.

﴿تطوع﴾ غیرِ واجب عمل، نفلي عبادت، تَطَوَّعَ يَتَطَوَّعُ تَطَوُّعًا: نفل کول یعني غیرِ مفروضه او غیرِ واجب عبادت کول. کوم چي سنتو وغیره ټولو لره شاملیږي.

تشریح: امام چي په کوم ځای کي فرض لمونځ ورکړی وي، له هغه ځایه لیري کېدل، خپل چپه ارخ ته اوښتل او پر بل ځای سنت او نفل اداء کول مستحب او افضل دي، د دې لپاره چي وروسته راتلونکی لمونځ ګزار د فرضي لمانځه په ګومان سره د امام اقتداء نه وکړي. همدارنګه مقتدیانو لره هم مستحب دي چي پر کوم ځای یې فرضي لمونځ اداء کړی وي، له هغه ځایه دي څه لیري سي، بل ځای دي سنت او نفل وکړي، لېکن که چیري شا ته یا مخ ته ځای نه وي، یا نور خلک (مسبوقین) د خپل پاته لمانځه په راګرځولو مشغوله سي، نو د هغو له مخ څخه یا د هغو پر اوږو شا ته اوښتل صحیح نه دي، یا لکه څرنګه چي نن سبا په مدرسو کي طالبان تر فرضي لمانځه وروسته شا ته ځغلي او شور جوړوي، نو د انتظام په خاطر دي طالبان پر هغه ځای د سنت اداء کولو پابند وګرځول سي چیري چي یې فرض اداء کړي وي. نو په داسي صورت کي زما په خیال پر هغه ځای د سنتو او نفلو په اداء کولو کي زیات عافیت دی. والله سبحانه وتعالی أعلم، واستغفر الله العظیم. (انوار الایضاح، مؤلف، حضرت وسیم احمد قاسمي صاحب)

تر فرضي لمانځه وروسته مخ را اړول

﴿۳۴۸﴾ وَأَنْ يَسْتَقْبِلَ بَعْدَهُ النَّاسَ او (مستحب دي) دا چي مخامخ سي امام تر فرضو وروسته د خلکو وطرف ته (يعني چي له فرضي لمانځه څخه وروسته د خلکو وطرف ته مخ راواړوي).

﴿۳۴۹﴾ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ اللهَ او خلک (مقتديان) دي له الله ﷻ څخه مغفرت وغواړي (استغفار دي ووايي) وَيَقْرَؤُوْنَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ وَالْمُعَوِّذَاتِ او آيت کرسي او معوذات (سورة الفلق. سورة الناس) دي ووايي وَيُسَبِّحُوْنَ اللهَ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ او درو دېرش (۳۳) واره دي سبحان الله ووايي وَيَحْمَدُوْنَهٗ كَذٰلِكَ وَيُكَبِّرُوْنَهٗ كَذٰلِكَ او همدومره (۳۳ واره) دي الحمدلله ووايي او همدومره دي الله اکبر ووايي ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ بيا دي ووايي: "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وحدهٗ... إلخ" (چي د هغه ترجمه دا ده: نسته له الله ﷻ سوا هيڅ معبود د عبادت لائق. هغه يک تنها دی. هيڅ شريک ورلره نسته. بادشاهي (حکومت) او تعريفونه هغه لره دي او هغه پر هر څه قدرت لرونکی دی) ثُمَّ يَدْعُوْنَ لِأَنْفُسِهِمْ وَلِلْمُسْلِمِيْنَ رَافِعِيْ أَيْدِيْهِمْ بيا دي دعاء وکړي د خپلو ځانو او مسلمانانو لپاره په داسي حال کي چي لاسونه يې پورته کړي وي ثُمَّ يَمْسَحُوْنَ بِهَا وُجُوْهَهُمْ فِيْ آخِرِهٖ بيا دي تېر کړي (وګرځوي) خپل لاسونه پر خپلو مخانو (د دعاء) په آخر کي.

تشريح: يعني تر کومو لمنځونو وروسته چي سنت نسته لکه د سهار او مازيگر لمونځ. نو په هغوی کي دي امام د خلکو وطرف ته خپل مخ راوګرځوي. يا راسته طرف ته دي وګرځي. او مذکوره وظائف (کوم چي په راروان عبارت کي ذکر سوي دي) د امام او مقتدي دواړو لپاره وربل مستحب دي. تر هغه وروسته دي دعاء وغواړي. د دعاء په وخت کي دي دواړه لاسونه تر سينې پوري پورته کړي (په داسي توکه چي د ګوتو څه حصه د مخ په برابرۍ کي راسي. او د دواړو لاسو تر مينځ څلور ګوتي فاصل ساتل پکار دي او دعاء بنه په توجه سره غوښتل پکار دي امراقي الفلاح). امام دي د مقتديانو لپاره هم دعاء وغواړي او مقتديان برابره ده خپله دعاء غواړي يا که د امام دعاء اوري نو آمين دي وايي او له دعاء څخه وروسته دي دواړه لاسونه پر مخ تېر کړي. (شفاء الارواح بحواله عمدة الفقه)

د مختلفو ذکرونو بیان

ویستغفرون الله إلخ: په دې عبارت کې تر لمانځه وروسته څو ذکرونه نقل سوي دي، د هغوی یادول پکار دي او تر فرضي لمنځونو وروسته د هغوی ویل پکار دي:

اول ذکر: له حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ له لمانځه څخه فارغ سو او د کور و طرف ته به یې اراده وکړه، نو اول به یې درې واره "استغفر الله" وویله، بیا به یې "اللهم أنت السلام" وویله، بیا به ولاړی. (مسلم شریف ج:۱، ص:۲۱۸)

دویم ذکر: د نبي کریم ﷺ فرمان دی چې کوم څوک آیة الکرسيووایي، هغه جنت ته له داخلېدلو څخه هیڅ شی نه سي منع کولای ماسواله مرګ څخه. چې مرګ پُل دی، پر هغه تېرېدل خو لازمي دي جنت ته د تللو لپاره.

درېیم ذکر: حضرت عقبه رضي الله عنه فرمایي چې ما ته نبي کریم ﷺ وفرمایل: تر هر فرض لمانځه وروسته چې کوم چا ۳۳ وار سبحان الله، ۳۳ واره الحمد لله، ۳۳ واره الله أکبر وویله چې دا ۹۹ سوه او د ۱۰۰ د پوره کولو لپاره یې څلورمه کلمه وویله، نو د هغه خطاګاني بخښل کېږي که څه هم د سمندر د ځګ په څېر زیاتي وي.

څرنګه چې تر لمانځه وروسته د دعاء د قبلېدلو موقع ده، نو ځکه د خپل ځان او ټولو مسلمانانو لپاره دي دعاء وکړي، او د لاس پورته کولو طریقه په مخکني عبارت کې ذکر سوه.

* * *

بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلَاةَ

(دا) باب د هغو شيانو (په بيان کي) دی کوم چي لمونځ فاسدوي

تشريح: په دې باب کي هغه شيان بيانوي چي په هغوی سره لمونځ فاسديږي (ماتيږي) او د لمانځه راګرځول لازميږي، په عباداتو کي د فاسد او باطل د معنیٰ ترمينځ هيڅ فرق نشته. کومه معنیٰ چي د فاسد ده، هاغه د باطل ده، خو په معاملاتو کي د فاسد او باطل په معنیٰ کي فرق دی چي تفصيل يې پر خپل ځای واضح کړی سوی دی.

وَهُوَ ثَمَانِيَةٌ وَسِتُّوْنَ شَيْئًا او هغه (کوم چي لمونځ فاسدوي) اته شپېته (۶۸) شيان دي.

په لمانځه کي خبري کول

﴿۴۸۰﴾ اَلْكَلِمَةُ وَلَوْ سَهْوًا أَوْ خَطَأً (۱) خبره کول که څه هم په هېره يا په غلطي سره وي.

تشريح: که په لمانځه کي دننه يو خارجي کلمه له ژبي څخه ووځي، برابره ده په هېري سره وي او که په غلطي سره وي (يعني اراده خويې د قرائت يا ذکر وي، لېکن په غلطي سره بله کلمه اداء کړي مثلاً د يا ايها الناس پر ځای يا زيد ووايي) او برابره ده هغه کلمه معنیٰ لري او که بې معنیٰ (مهمله) کلمه وي، په هر صورت کي لمونځ فاسديږي، په دې شرط چي دا کلام د قعدهٔ اخيره له تشهد څخه مخکي تر خوله وتلی وي.

په لمانځه کي په انساني کلام سره دعاء غوښتل

﴿۴۸۱﴾ وَالدُّعَاءُ بِمَا يُشْبِهُ كَلَامَنَا (۲) او دعاء کول په داسي الفاظو سره کوم چي مشابه وي زموږ د خبرو سره.

تشريح: د لمانځه په دوران کي داسي دعاء ويل کوم چي د بندګانو د کلام سره مشابه وي يعني له بندګانو څخه د هغه غوښتل ناممکن نه وي، نو په هغه سره لمونځ فاسديږي. د دې تفصيل دا دی چي کومه دعاء چي په قرآن يا حديث کي راغلې وي، د هغه په ويلو سره لمونځ نه فاسديږي. مثلاً "رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا الخ" او داسي نور، او کومه دعاء چي په قرآن يا حديث کي نه وي راغلې، نو کتل کيږي به چي که هغه داسي دعاء وي چي له بندګانو څخه د هغه غوښتل ناممکن وي نو په هغه سره هم

لمونځ نه فاسديږي. مثلاً مغفرت يا عافيت يا رزق غوښتل يعني داسي ويل "اللّٰهم اغفر لي"، "اللّٰهم عافني"، "اللّٰهم ارزقني" يا دا دعاء د نورو لپاره وکړي، نو بيا هم لمونځ نه فاسديږي. مثلاً داسي ووايي "اللّٰهم اغفر لعمّي"، "اللّٰهم اغفر لأُمّي" يا "اللّٰهم ارزقني الحج"، دغه ټول داسي شيان دي چي له بندګانو څخه د دوی طلب کول ناممکن دي، خو که د رزق سره مال او داسي نور دنياوي شيان هم ذکر کړي، نو لمونځ فاسديږي؛ ځکه چي دا د رزق اسباب دي چي له بندګانو څخه د هغوی غوښتل نا ممکن نه دي. مثلاً: "اللّٰهم ارزقني مالاً" ووايي. او که هغه داسي دعاء وي چي له بندګانو څخه يې غوښتل ناممکن نه وي. نو په هغه سره لمونځ فاسديږي. مثلاً داسي ويل: "اللّٰهم أطعمني" يا "اللّٰهم اقض ديني" يا "اللّٰهم زوّجني فلانة" او داسي نور، نو لمونځ فاسديږي. (عمدة الفقه)

په لمانځه کي سلام اچول

﴿۴۸۲﴾ وَالسَّلَامُ بِنِيَّةِ التَّحِيَّةِ وَلَوْ سَاهِيًا (۳) او سلام کول په نيت سره د سلام اچولو (چي يو انسان ته سلام ووايي) که څه هم په هېره وي.

اللغات: ﴿التحية﴾ سلام اچول (سلام کول)، يو چا ته داسي ويل: پر تا دي سلامتيا وي.

تشريح: يعني که لمونځ ګزار يو چا ته د سلام کولو په نيت سره "السلام عليکم" ووايي، نو که څه هم دا په هېره وي، لمونځ يې فاسديږي.

يادونه: بنية التحية: دا قيد يې ځکه لګولی دی چي که څوک له لمانځه څخه د وتلو په نيت سلام وکړي يعني په دې نيت سره "السلام عليکم" ووايي چي له لمانځه څخه ووځم، نو دا که په آخره ناسته (قعدهٔ اخيره) کي له تشهد څخه وروسته وکړي، نو لمونځ نه فاسديږي او که مخکي يې وکړي، نو لمونځ يې فاسديږي.

په لمانځه کي د سلام جواب ورکول

﴿۴۸۳﴾ وَرَدُّ السَّلَامِ بِلِسَانِهِ (۴) او د سلام جواب ورکول په ژبي سره.

تشريح: که د لمانځه په دوران کي د يو چا د سلام جواب ورکړي، برابره ده عمداً وي او که سهواً وي. په دواړو صورتونو کي لمونځ فاسديږي.

په لمانځه کي مصافحه کول

﴿۲۸۴﴾ أَوْ بِالْمُصَافَحَةِ (۵) يا (د سلام جواب ورکول) په مصافحه سره.

تشريح: همدارنګه که د سلام د جواب ورکولو په نيت سره مصافحه وکړي، نو هم لمونځ فاسديږي؛ ځکه چي مصافحه هم د کلام کولو په درجه کي ده.

په لمانځه کي عمل کثير کول

﴿۲۸۵﴾ وَالْعَمَلُ الْكَثِيْرُ (۶) او زيات عمل (زياته لاسوهنه).

تشريح: که د لمانځه په دوران کي داسي حرکت وکړي چي ليدونکی دا ګومان وکړي چي دا کس د لمانځه په حالت کي نه دی (همدې ته عمل کثير وايي) مثلاً په لمانځه کي جست وغورځيږي، يا خولۍ (توپۍ) ليري کړي او په دواړو لاسونو سره سر وګروي، نو لمونځ يې فاسديږي، او که معمولي حرکت وکړي، مثلاً په يوه لاس سره سره وګروي، يا لمن سيده کړي، يا مثلاً په يوه لاس سره موبايل راوکاږي او بټن يې بنده کړي، نو لمونځ يې نه فاسديږي، خو کله چي يو قليل عمل په يوه رکن کي درې واره وکړل سي، نو هغه هم د کثير په حکم سره ګرځي او په هغه سره لمونځ فاسديږي. لهذا که په يوه رکن کي درې واره لاس پورته کړي او سر وګروي، نو په دې سره لمونځ فاسديږي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوی ص: ۱۷۷، حلبي کبير ص: ۱۴۴، عمدة الفقه)

په لمانځه کي سينه له قبلې څخه اړول

﴿۲۸۶﴾ وَتَحْوِيْلُ الصَّدْرِ عَنِ الْقِبْلَةِ (۷) او د سينې اړول له قبلې څخه.

لغات: ﴿صدر﴾ سينه، جمع: صُدُوْر.

تشريح: که د لمانځه په دوران کي بېله عذره خپله سينه په پوره توګه له قبلې څخه واړوي (يعني سينه پوره د شمال وطرف ته يا د جنوب وطرف ته سي)، نو لمونځ يې فاسديږي او که په هېره بېله عذره د لمونځ ګزار سينه واړوي، نو په دې کي تفصيل دا دی چي که بېرته سمدستي مخ سيده کړي، نو لمونځ يې نه فاسديږي، او که د يوه رکن يعني د درېو تسبيحاتو د ويلو په اندازه يې سينه اوښتې وي، نو لمونځ فاسديږي، لېکن دوه حالتونه له دې څخه مستثنیٰ دي: يو دا چي د لمانځه په دوران کي بې اودسي واقع سي او سړی د طهارت لپاره ولاړ سي، دويم دا چي په صلاة الخوف کي حرکت وکړي، نو دغه دوه حالتونه د لمانځه فاسدونکي نه دي. (مراقی الفلاح ص: ۱۷۷)

د لمانځه په دوران کي یو شی خوړل

﴿۲۸۷﴾ وَ أَكْلُ شَيْءٍ مِنْ خَارِجِ فَمِهِ (۸) او یو شی خوړل له خپلي خولي څخه دباندي (یعني چي لمونځ ګزار له دباندي څخه یو شی وخوري) وَلَوْ قَلَّ که څه هم هغه شی لږ وي.

لغات: ﴿قَلَّ﴾ د ضرب له بابه د ماضي صیغه ده، مصدر: قِلَّةٌ: کمېدل، لږېدل (لږ کېدل).

تشریح: د لمانځه په دوران کي که یو شی وخوري، نو لمونځ یې فاسدېږي، برابره ده عمداً وي او که په هېره وي، لږ وي او که ډېر دي، تر دې چي که له دباندي څخه یوه کونجته په خوله کي واچوي او هغه تېره کړي، نو هم یې لمونځ فاسدېږي.

په غاښو کي بند شی خوړل

﴿۲۸۸﴾ وَأَكْلُ مَا بَيْنَ أَسْنَانِهِ وَهُوَ قَدْرُ الْحِمَّصَةِ (۹) او هغه شی خوړل کوم چي د ده د غاښو په مېنځ کي وي او هغه د نخود په اندازه وي.

لغات: ﴿الحِمَّصَة﴾ او الحِمِّصَة د "مُشدّد میم" په فتحه او کسره سره: یو نخود، جمع: الحِمَّص.

تشریح: که د غاښو په مېنځ کي یو شی بند پاته سوی وي او هغه د نخود په اندازه وي، نو د لمانځه په دوران کي د هغه په تېرولو سره لمونځ فاسدېږي، خو که هغه د نخود له مقدار څخه کم وي نو لمونځ نه فاسدېږي خو مکروه کېږي، او که هغه د نخود له مقدار څخه کم وي خو دومره کلک وي چي په غاښو سره وژول سي او بیا تېر کړی سي، نو لمونځ فاسدېږي، او که یو معمولي شی وي کوم چي د نارو (لاړو) سره تېر سي، نو لمونځ نه فاسدېږي. (مراقی الفلاح، شفاء الارواح)

د لمانځه په دوران کي یو شی چیښل

﴿۲۸۹﴾ وَشُرْبُهُ (۱۰) او د لمونځ ګزار چیښل (یعني داوبو وغیره په چیښلو سره هم لمونځ فاسدېږي).

تشریح: په لمانځه کي د یو شي چیښل هم لمونځ فاسدوي، تر دې چي که څوک د لمانځه په دوران کي د آسمان وطرف ته مخ کړي او د باران یو څاڅکی یې خولي ته ولوېږي او نس ته ورسیږي، نو لمونځ فاسدېږي.

بې له عذره ټوخل او غاړه تازه کول

﴿٢٩٠﴾ وَالتَّنَحْنُحُ بِلَا عُذْرٍ (١١) او بې له عذره غاړه تازه کول (چي له هغه څخه د اح اح یا داسي بل حرف آواز پیدا سي).

لغات: ﴿التنحنح﴾ د تَفَعْلُل د باب مصدر دی: د دې لفظ دوې معناوي نقل سوي دي: ① د أح أح یعني د ټوخي غوندي آواز کول (ټوخل اټوخېدل)، ② غاړه تازه کول. (معجم لغة الفقهاء)

تشریح: که څوک په لمانځه کي بې له عذره وټوخي یا غاړه تازه وکړي او له هغه څخه دیو حرف آواز پیدا سي، مثلاً أح أح ووایي، نو لمونځ یې فاسدېږي، خو که د بلغم او کروړېي د راتللو په وجه قرائت کول مشکل سي او د غاړي د صفا کولو لپاره غاړه تازه کړي، یا د آواز د ښه کولو لپاره غاړه تازه کړي، یا چا ته بې اختیاره ټوخی راسي او داسي نور، نو په لمانځه کي هیڅ خرابي نه راځي.

په لمانځه کي اف، اف کول یا پوکل

﴿٢٩١﴾ وَالتَّأْفِيْفُ (١٢) او اُف اُف کول.

تشریح: که په لمانځه کي د افسوس وغیره په وجه د اُف، یا تف، یا پُو آواز له خولې څخه ووځي. نو لمونځ یې فاسدېږي.

په لمانځه کي زګېروی کول یا آه وغیره کول

﴿٢٩٢﴾ وَالْأَنِيْنُ وَالتَّأَوُّهُ (١٣) او زګېروی کول (١٤) او آه، آه (یا اوه، اوه) کول.

لغات: ﴿أنین﴾ د ضرب د باب مصدر دی، اَنَّ يَئِنُّ اَنًا وَاَنِيْنًا: زګېروی کول، أه أه کول، ﴿تَأَوَّهَ﴾ د تفعّل ماضي ده: اوه اوه یا آه آه کول، دردمند کېدل.

تشریح: ، که لمونځ ګزار د مصیبت یا درد په وجه آه، آه، یا اوه، اوه، یا اُف وکړي، یا د مصیبت او درد په وجه وژاړي او له هغه څخه دوه حروف یا تر دې زیات حروف پیدا سي، نو لمونځ یې فاسدېږي.

په لمانځه کي ژړل

﴿٢٩٣﴾ وَارْتِفَاعُ بُكَائِهِ مِنْ وَجَعٍ (١٥) او د لمونځ ګزار د ژړا آواز پورته کېدل له درد څخه (د درد په وجه) أَوْ مُصِيْبَةٍ (١٦) یا (د ژړا آواز پورته کېدل) له مصیبت څخه لَا مِنْ ذِكْرِ جَنَّةٍ أَوْ نَارٍ نه د جنت یا دوږخ له یاده څخه.

لغات: ﴿وجع﴾ درد، خوږ، رنځ، ناروغي، جمع: أَوْجَاع.

تشريح: په لمانځه کي د څه تکليف په وجه يا د غم او مصيبت په وجه قصداً ژړل لمونځ فاسدوي. خو که د سخت تکليف په وجه بې اختياره آواز ووځي، يا د جنت او جهنم له ياده څخه وژاړي يا آه يا اوه وکړي، نو لمونځ يې نه فاسديږي (لدلالتها على الخشوع).

په "يرحمک الله" سره د جواب ورکولو حکم

﴿۴۹۴﴾ وَتَشْمِيْتُ عَاطِسٍ بِيَرْحَمُكَ اللهُ (۱۷) او (همدارنګه لمونځ فاسدوي) جواب ورکول (او دعاء کول) نږدي کونکي (نږدونکي) ته په (لفظ د) يرحمُک الله سره (چي الله ﷻ دي پر تا رحم وکړي).

تشريح: که چا ته نږدۍ (اټروسی) راسي او لمونځ ګزار په لمانځه کي دنه هغه ته "يرحمک الله" ووايي، نو لمونځ يې فاسديږي، او که لمونځ ګزار دا د خپل ځان لپاره ووايي، نو لمونځ يې نه فاسديږي، همدارنګه که سامع يا نږدی کونکی "الحمد لله" ووايي، نو لمونځ يې نه فاسديږي. (طحطاوي)

يادونه: دلته په دې عبارت "تشميت عاطِسٍ" کي د مصدر اضافت د خپل مفعول وطرف ته دی "أي خطابُ المصلّي العاطسَ"، او په تشميت کي دوه لغات نقل سوي دي: اول په شين سره او دويم په سين سره. خو په شين سره افصح دی. (طحطاوي على مراقی الفلاح)

د پوښتني يا د بد خبر يا تعجب والا خبر په جواب کي د ذکر کلمات ويل

﴿۴۹۵﴾ وَجَوَابُ مُسْتَفْهِمٍ (۱۸) او جواب ورکول وهغه کس ته کوم چي پوښتنه کونکی وي عَنْ نِدٍّ د الله تعالیٰ د شريک په هکله (يعني چي له لمونځ ګزار څخه پوښتنه وکړي چي آيا الله لره شريک سته أمَلَ تعالیٰ نِدٌ؟) بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ په لا إله إلا الله سره (جواب ورکول. يعني چي لمونځ ګزار هغه ته په لا إله إلا الله سره جواب ورکړي. نو لمونځ يې فاسديږي) وَخَبَرِ سُوْءٍ بِالْاِسْتِرْجَاعِ (۱۹) او (جواب ورکول) د بد خبر په إنا لله وإنا إليه راجعون سره وَسَارٍّ بِالْحَمْدِ لِلّٰهِ (۲۰) او (جواب ورکول) د ښه خبر په الحمد لله سره وَعَجَبٍ بِلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَوْ سُبْحَانَ اللهِ (۲۱) او (جواب ورکول) د تعجب ناکه خبر په لا إله إلا الله يا سبحان الله سره.

لغات: ﴿مستفهم﴾ داستفعال له بابه اسم فاعل دی: (له بل چاڅخه) د فهم طلب کونکی (یا په بله وینا له بل چاڅخه دیو شي پوښتونکی)، ﴿نِدٌّ﴾ همسر، نظیر، مثل، جمع: أنداد، ومنه قوله تعالىٰ "فلا تجعلوا ـه أندادًا"، ﴿استرجاع﴾ داستفعال د باب مصدر دی: د دې لفظ له معناوو څخه یوه معنیٰ ده: إنا لله رنا إليه راجعون ویل.

تشریح: که د لمانځه په دوران کي له لمونځ گزار څخه یو چا (مثلًا مشرک) پوښتنه وکړه چي آیا الله تعالیٰ لره شریک سته. نو لمونځ گزار د هغه په جواب کي "لا إله إلا الله" وویله. نو لمونځ یې لسیږي.

خبر سؤ بالاسترجاع: یعني که لمونځ گزار یو بد خبر واوري مثلًا د یو چا د مرگ خبر واوري او په مانځه کي دننه "إنا لله وإنا إليه راجعون" ووايي، نو لمونځ یې فاسدیږي.

سارّ بالحمد لله: یعني که لمونځ گزار د خوښۍ خبر واوري مثلًا څوک د ځوی د پیدایښت زیری رکړي چي ځوی دي پیدا سو او لمونځ گزار په لمانځه کي "الحمد لله" ووايي، نو لمونځ یې سیږي.

عجب إلخ: همدارنگه که په لمانځه کي د تعجب خبره واوري او د هغه په جواب کي "لا إله إلا الله" ایي، یا "سبحان الله" ووايي، نو هم یې لمونځ فاسدیږي.

د قرآن آیت وغیره د جواب پر ځای استعمالول

﴿۲۹۶﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ قُصِدَ بِهِ الْجَوَابُ كَيَا يَحْيٰى خُذِ الْكِتَابَ (۲۲) او هر داسي ـر (وینا) چي په هغه سره د جواب ورکولو اراده سوې وي، لکه يَا يَحْيٰى خُذِ الْكِتَابَ (اې یحیی! اخله کتاب).

ریح: د عبارت حاصل دا دی چي په لمانځه کي په کوم شي سره هم د جواب ورکولو قصد وسي، په هغه سره لمونځ فاسدیږي، مثلًا د "یحییٰ" په نامه یو چا له لمونځ گزار څخه د یو کتاب غوښتنه ړه او لمونځ گزار په جواب کي دا آیت ووایی "یا یحییٰ خذ الکتاب" (اې یحیی: کتاب واخله). یا لًا یو چا وخوني (کمرې) ته د راتللو اجازه وغوښتله. او لمونځ گزار دا آیت ووایی "ادخلو

بسلامٍ آمنین" او داسې نور. نو دغه که څه هم قرآني آيتونه دي خو د جواب او خبرو پر ځای استعمال سوي دي، نو ځکه په دې سره لمونځ فاسدیږي.

تیمم کونکي لمونځ گزار ته اوبه حاصلېدل

﴿۲۹۷﴾ وَ رُؤْيَةُ مُتَيَمِّمٍ مَاءً (۲۳) او د تیمم کونکي اوبه لیدل (چي تیمم وهونکی دلمانځه په دوران کي اوبه وويني).

تشریح: که یو چا داوبو د نشتوالي په وجه، یا دیو عذر په وجه په تیمم سره لمونځ شروع کړی وي، که چیري هغه دلمانځه په دوران کي اوبه ووینی او د هغوی په استعمالولو باندي قادر وي، یا هغه عذر یې ختم سي، نو لمونځ یې فاسدیږي. (مراقی الفلاح ص:۱۷۸، ۱۷۹، کتاب المسائل ص:۳۶۳)

د لمانځه په دوران کي د مسحي موده پوره کېدل یا موزه ختل

﴿۲۹۸﴾ وَتَمَامُ مُدَّةِ مَاسِحِ الْخُفِّ (۲۴) او موده ختمېدل پر موزو د مسح کونکي کس وَ نَزْعُهُ (۲۵) او د موزې ختل.

تشریح: که دلمانځه په دوران کي د موزو او جرموقینو د مسح موده پوره سي، یا په معمولي حرکت سره یوه موزه وخېږي، نو لمونځ فاسدیږي، په دې شرط چي هلته اوبه ترلاسه کیږي او د تیمم د جواز څه عذر موجود نه وي. (مراقی الفلاح ص:۱۷۹، در مختار ج:۲، ص:۳۶۱)

امي کس ته د لمانځه په دوران کي یو آیت یادېدل

﴿۲۹۹﴾ وَتَعَلُّمُ الْأُمِّيِّ آيَةً (۲۶) او د امي یو آیت زده کول (چي امي کس دلمانځه په دوران کي یو آیت زده کړي).

تشریح: امي هغه کس دی چي د قرآن شریف یو آیت یې هم زده او یاد نه وي، د داسي کس لپاره جائز دي چي تر څو سورتونه یاد نه کړي، نو هسي بغیر له څه ویلو دي نیت تړي او د لمانځه په تصور سره دي دریږي او د قراءت په اندازه له دریدلو څخه وروسته دي رکوع، سجده وغیره کوي، لیکن پر هغه قرآن زده کول او سورة الفاتحه او نور سورتونه یادول ضروري دي، کنې د لا پروایي کولو په صورت کي گنهکاره کیږي، کله چي یو آیت هم زده کړي، نو هغه دي په لمانځه کي وایي.

مسئله: یا ده چي کله داسي کس ته دلمانځه په دوران کي یو آیت زده سي برابره ده له یو چا څخه د اورېدلو په وجه وي، یا هم سوی آیت ورته یاد سي، نو په دې سره د هغه لمونځ فاسدیږي. (البحر الرائق ج:۱، ص:۳۰۷، مراقی الفلاح ص:۱۷۹)

په لڅه لمونځ کونکي ته جامه حاصلېدل

﴿۵۰۰﴾ وَوِجْدَانُ الْعَارِىْ سَاتِرًا (٢٧) او د لڅ کس عورت پټونکې کپړه پيدا کول (چې لڅ کس د لمانځه په دوران کې داسې شی او کپړه ووينې چې هغه د ده عورت پټولای سي).

لغات: ﴿ساتر﴾ د نصر له بابه اسم فاعل دی: پټونکی.

تشريح: که يو څوک د جامې د نشتوالي په وجه په لڅه لمونځ شروع کړي او بيا د لمانځه په دوران کې هغه ته د عورت پټولو په اندازه کپړه يا داسې بل شی حاصل سي، نو د هغه لمونځ فاسديږي. اوس به هغه کپړه اغوندي او له سره به لمونځ کوي. (كتاب المسائل ص: ٣٦٣، مراقى الفلاح ص: ١٧٩)

په رکوع او سجده باندې قادر کېدل

﴿۵۰۱﴾ وَقُدْرَةُ الْمُوْمِئ عَلَى الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ (٢٨) او په اشاره سره د لمونځ کونکي کس په رکوع او سجده باندې قادر کېدل.

لغات: ﴿مؤمى﴾ د افعال له بابه اسم فاعل دی: اشاره کونکی.

تشريح: که يو څوک د مرض يا کمزورۍ په وجه په اشاره سره رکوع او سجده کوي. بيا هغه د لمانځه په دوران کې په رکوع او سجده کولو باندې قادر سي، نو د هغه لمونځ فاسديږي، اوس به له نوي سره لمونځ کوي. (طحطاوي ص: ١٧٩)

صاحب الترتيب ته قضاء سوی لمونځ يادېدل

﴿۵۰۲﴾ وَتَذَكُّرُ فَائِتَةٍ لِذِى تَرْتِيْبٍ (٢٩) او صاحب ترتيب کس ته يو فوت سوی (قضائي) لمونځ يادېدل.

لغات: ﴿فائتة﴾ فوت سوی لمونځ، پاته سوی لمونځ (کوم چې په خپل وخت کې نه وي اداء سوی).

جمع: فوائت.

تشريح: که يو څوک صاحبُ الترتيب وي، يعني د هغه پر ذمه له مخکې څخه قضايي لمونځ نه وي ارنا ببره له هغه څخه يو لمونځ قضاء سي خو هغه نه را وګرځوي او په هېره د وقتي لمانځه نيت وتړي (يعني د هغه وخت خپل لمونځ شروع کړي)، بيا د لمانځه په دوران کې ور ته ياده سي چې پر ما خود تېر لمانځه قضاء هم سته، نو د هغه لمونځ فاسديږي، اوس به اول قضايي لمونځ اداء کوي. تر دې وروسته به وقتي لمونځ اداء کوي. خو دا فساد موقوف دی، يعني که چېري د آينده پنځو لمنځونو په وخت کې دننه هغه دا قضايي لمونځ نه را وګرځوي (بلکې د پنځو لمنځونو تر وخت تېرېدلو وروسته يې را وګرځوي)، نو په دې منځ کې [illegible] کيږي، او که د پنځو لمنځونو په وخت

کي دنته هغه دا مخکینی قضایي لمونځ راوګرځوی، نو دغه سوي لمنځونه نفل ګرځي او هغه به بالترتیب ټوله لمونځونه اداء کوي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص:۱۷۹، کتاب المسائل ص:۳۶۴، بحوالۀ انوار الایضاح)

نا اهل کس نائب جوړول

﴿۵۰۲﴾ وَ اسْتِخْلَافُ مَنْ لَّا يَصْلُحُ إِمَامًا (۳۰) او داسي کس خپل خلیفه (نائب) جوړول کوم چي دامام کېدلو صلاحیت نه لري.

لغات: ﴿استخلاف﴾ داستفعال دباب مصدر دی: خپل خلیفه (نائب) جوړول، قائم مقام جوړول، نائب ټاکل.

تشریح: اولاً تاسي په دې پوه سئ! چي که دلمانځه په دوران کي دامام اودس مات سي، نو هغه دي شاته ولاړ سي او یو بل کس دي پر خپل ځای ودروي، هغه کس ته خلیفه او نائب ویل کېږي.

صورت دمسئلې دا دی چي که دلمانځه په دوران کي امام ته بې اودسي لاحق سي او هغه داسي کس خپل نائب جوړ کړي کوم چي دنورو مقتدیانو لپاره نا اهل وي، مثلاً بالکل امي کس، یا معذوره، یا نابالغه، نو په دې سره د ټولو خلکو لمونځ فاسدېږي او له نوي سره به لمونځ کول کېږي. (مراقی الفلاح ص:۸۰ کتاب المسائل ص:۳۶۵)

د لمانځه په دوران کي وخت وتل

﴿۵۰۳﴾ وَ طُلُوْعُ الشَّمْسِ فِي الْفَجْرِ (۳۱) او د سهار په لمانځه کي لمر راختل وَزَوَالُهَا فِي الْعِيْدَيْنِ (۳۲) او داخترونو په لمانځه کي دلمر زوال کېدل وَ دُخُوْلُ وَقْتِ الْعَصْرِ فِي الْجُمُعَةِ (۳۳) او د جمعې په لمانځه کي د مازیګر وخت داخلېدل.

تشریح: که څوک د سهار لمونځ په داسي وخت کي شروع کړي چي لمر راختلو ته لږ وخت پاته وي او دلمانځه په دوران کي لمر راوخېږي، نو د هغه لمونځ فاسدېږي.

همدارنګه که داختر لمونځ په داسي وخت کي شروع کړي چي لمر زوال ته نژدې وي او د لمانځه په دوران کي لمر زوال سي، نو لمونځ فاسدېږي، ځکه داختر دلمانځه وخت تر زوال پوري دی.

همدارنګه که د جمعې لمونځ په داسي وخت کي شروع کړي چي دلمانځه په دوران کي د مازیګر وخت داخل سي، نو د جمعې لمونځ فاسدېږي.

د لمانځه په دوران کي زخم جوړېدل او پټی لوېدل

﴿۵۰۵﴾ وَ سُقُوْطُ الْجَبِيْرَةِ عَنْ بُرْءٍ (۳۴) او پټی ایله کېدل (د زخم) له جوړېدو څخه.

لغات: ﴿جبيرة﴾ پټی، په اصل کي هغه پلستر وغيره ته وايي کوم چي پر مات هډوکي لګول کېږي، جمع: جَبَائِر (معجم الوسيط، معجم لغة الفقهاء)، ﴿بُرْء﴾ د سمع او فتح له بابه مصدر دی: روغېدل (جوړېدل)، ښه کېدل، زخم يا مرض ختمېدل.

تشريح: که چا پر زخم پټی تړلې وي چي پر هغه يې مسح کړې وي او د لمانځه په دوران کي هغه زخم جوړ سي چي د هغه په وجه پټی ولوېږي، نو په دې سره لمونځ فاسدېږي، او که پټی ولوېږي خو زخم نه وي جوړ سوی، نو لمونځ نه فاسدېږي.

د معذوره عذر ختمېدل

﴿۵۰۶﴾ وَزَوَالُ عُذْرِ الْمَعْذُوْرِ (۳۵) او د معذوره کس عذر ختمېدل.

تشريح: که يو څوک شرعاً معذوره وي او د لمانځه په دوران کي د هغه عذر ختم سي، نو د داسي کس حکم موقوف پاتېږي، په دې توګه چي که د هغه عذر د راروان لمانځه تر کامل وخته پوري ختم لي، نو د هغه لمونځ فاسدېږي، مثلاً يو کس د سلس بول په عذر مبتلا وي او هغه د ماپښين لمونځ شروع کړي او د لمانځه په دوران کي دا عذر ختم سي يعني د متيازو څاڅکي راتلل يې بند سي، نو اوس که دا عذر د مازيګر د لمانځه تر وخته پوري يعني تر لمر لوېدلو پوري ختم (بند) وي، نو لمونځ يې فاسدېږي او له نوي سره به د هغه قضاء راوړي او که د راروان لمانځه په وخت کي دننه بيا هغه عذر را وګرځېږي، نو دې ته د عذر ختمېدل نه وايي او لمونځ يې نه فاسدېږي، بلکي هغه لمونځ به صحيح کېږي. (طحطاوي ۱۸۰ بتصرّف)

د لمانځه په دوران کي بې اودسه کېدل

﴿۵۰۷﴾ وَالْحَدَثُ عَمَدًا (۳۶) او بې اودسه کېدل قصداً (قصداً اودس ماتول).

تشريح: که د لمانځه په دوران کي څوک قصداً اودس مات کړي، يا جنابت ورته پېښ سي، نو مونځ يې فاسدېږي، لېکن که خود بخوده ناڅاپه يې اودس مات سي، نو تر اودس کولو وروسته پر ځکيني لمانځه بناء کولای سي. (مراقي الفلاح ص، ۱۸۰)

﴿٥٠٨﴾ أَوْ بِصُنْعِ غَيْرِهِ (٣٧) يا د بل چا په فعل سره (بې اودسه کېدل).

تشريح: مثلاً يو څوک لمونځ گزار په تېره شي ووهي چې په هغه سره يې وينه ووځي. نو لمونځ يې فاسدېږي او له نوي سره لمونځ کول ضروري دي، پر مخکني لمانځه د بناء اجازه نشته.

د لمانځه په دوران کې بې هوښه يا مجنون کېدل

﴿٥٠٩﴾ وَالْإِغْمَاءُ وَالْجُنُوْنُ (٣٨) او بې هوښه کېدل (٣٩) او لېونی کېدل.

تشريح: که څوک د لمانځه په دوران کې بې هوښه سي، يا يې دماغ کار پرېږدي او لېونی سي، نو په دې دواړو صورتونو کې هم لمونځ فاسدېږي.

د لمانځه په دوران کې جنابت يا احتلام پېښېدل

﴿٥١٠﴾ وَالْجَنَابَةُ بِنَظَرٍ أَوِ احْتِلَامٍ (٤٠) او جنب کېدل د نظر (کتلو) په وجه (٤١) يا (جنب کېدل) د احتلام (خوب ليدلو اشيطان خطا ايستلو) په وجه.

تشريح: که د لمانځه په دوران کې چا ته جنابت پېښ سي مثلاً پر يوه ښکلې ښځه يې نظر پرېوځي او انزال سي يا هسې بغير له نظره د يو ښځې په باره کې د فکر کولو په وجه انزال سي، يا په لمانځه کې د خوب جټکه باندې راسي او خوب داسې ډول وي چې په هغه سره لمونځ نه ماتېږي يعنې له مسنونه هيئت څخه بدل نه وي بيا په خوب کې احتلام سي، نو په دې صورتونو کې يې هم لمونځ فاسدېږي. (طحطاوی ص ١٨٠)

ښځه د سړي راسته يا چپه طرف ته درېدل

﴿٥١١﴾ وَمُحَاذَاةُ الْمُشْتَهَاةِ فِيْ صَلٰوةٍ مُطْلَقَةٍ مُشْتَرَكَةٍ تَحْرِيْمَةً (٤٢) او د قابلِ شهوت ښځې برابري (يعنې د نارينه څنگ ته درېدل) په مطلق لمانځه کې (يعنې په کامل لمانځه کې چې رکوع او سجده لري) کوم چې د تحريمه په اعتبار سره مشترک وي (يعنې يو لمونځ وي) فِيْ مَكَانٍ مُتَّحِدٍ بِلَا حَائِلٍ په داسې ځای کې کوم چې متحد وي بغير له څه حائل څخه (يعنې چې د سړي او ښځې په مېنځ کې څه حائل او پرده نه وي) وَنَوٰى إِمَامَتَهَا او امام د هغه ښځې د امامت نيت (هم) کړی وي.

لغات: ﴿محاذاة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی، مقابل کېدل، په برابرې (څنگ) کې راتلل، برابرېدل.

﴿المشتهاة﴾ د افتعال له بابه د واحد مؤنث اسم مفعول صيغه ده، د اشتهاء قابله ښځه چې د سړي اشتهاء ورته کېدلای سي، مرغوبه ښځه، مراد ځنې داسې ښځه ده چې د هغې په ليدلو سره د سړي

شهوت پورته کیږي او د جماع شوق یې ورته کیږي، قال صاحب المعجم: المرأة اللتي إذا رآها الرجال السوي یشتهي جماعها بقطع النظر عن عمرها، ولا یکون ذلك لي أقل من تسع سنین في العادة. (معجم لغة الفقهاء)

تشریح: که د لمانځه په دوران کې یو ښځه د سړي (نارینه) راسته یا چپه طرف ته یا د سړي مخ ته برابر ودریږي او لاندیني شرطونه موجود سي، نو د سړي لمونځ فاسدیږي: ① هغه ښځه مشتهاة (د شهوت قابله) وي چې شهوت ورته کېدلای سي، یا په بله وینا د جماع قابله وي که څه هم نابالغه وي، عمر لره اعتبار نسته بلکې د جسم جوړ لره اعتبار دی، لهذا که له (۹) کالو څخه د کم عمر وي لیکن د جماع قابله وي، نو بیا هم د سړي لمونځ فاسدیږي، او برابره ده هغه ښځه اوس مشتهاة وي یا مخکې مشتهاة یعني سپین سرې ښځه وي، ② د سړي پنډۍ، بجلکي یا د بدن هسې یو اندام د ښځې د یو اندام په برابرۍ کې راځي، ③ دغه اشتراک په مطلق (کامل) لمانځه کې وي یعني د جنازې د لمانځه دا حکم نه دی، ④ سړی او ښځه دواړه د یوه امام په اقتداء کې لمونځ کوي، ⑤ د سړي او ښځې د لمانځه ځمکه د سطح په اعتبار سره برابره وي، یعني که په سطح کې د انسان د قد په اندازه فرق وي، نو د محاذات حکم نه سته (یعني که له دوی څخه یو دومره لوړ وي لکه د انسان قد چې محاذات نه راځي. یا مثلاً د مسجد پر چت ښځې وي او لاندې سړي وي، نو د سړیو لمونځ نه فاسدیږي؛ ځکه په دواړو کې اتحاد مکان نسته)، ⑥ د دواړو په مینځ کې یو شی حائل نه وي مثلاً ستون (پایه، پیلر) یا داسې بل شی، یا د دواړو په مینځ کې د یو سړي په اندازه فاصله نه وي، ⑦ امام د هغه ښځې د امامت نیت هم کړی وي، ⑧ د سړي او ښځې محاذات کم از کم د یوه رکن (یعني د دریو تسبیحاتو د ویلو) په اندازه باقي پاته سوی وي، ⑨ سړي هغه ښځې ته د نه دریدلو اشاره نه وي کړي، که چیرې اشاره یې ورته کړې وي چې دلته مه دریږه! بیا هم ښځه د ده په برابرۍ کې دریدلې وي، نو په دې صورت کې د سړي لمونځ نه فاسدیږي، بلکې د ښځې لمونځ فاسدیږي. (طحطاوي ص، ۱۸۰، ۱۸۱، کتاب المسائل ص، ۳۶۶)

❀ ❀ ❀

په مسجد حرام او مسجد نبوي کې به لمونځ گزار څنگه احتیاط کوي؟

مسئله: په مسجد نبوي (مدینه شریفه) کې خو د خلکو او ښځو د لمانځه ځایونه سره جلا دي، نو ځکه ملته د سړي او ښځې تر مینځ د اختلاط او محاذات مسئله اوس نه پېښیږي، لیکن په مسجد حرام (مکه شریفه) کې که څه هم د ښځو د لمانځه ځای جلا جوړ سوی دی، خو د طواف او حج د رش په زمانه کې هلته بعضې وخت ښځې او خلک د لمونځ کولو په دوران کې گډ ود سره دریږي. نو ځکه په دې معامله کې د احتیاط ضرورت دی. ښځو ته پکار ده چې همېشه دې له خلکو څخه جلا لمنځونه کوي، که موقع نه وي، نو جماعت دې پریږدي او وروسته دې خپل لمونځ جلا کوي او

خلکو ته پکار ده چې ① د لمانځه له نیت ترلو ګخه مخکې دي راسته طرف. چپه طرف او مخته ګوري چې کومه ښځه خو به ولاړه نه وي. تر دې وروسته دي نیت تړي. ② که د لمانځه په اول کې ښځه نه وي او د لمانځه په دوران کې ښځه د لمونځ ګزار په برابري کې راسي، ودریږي. نو په لمانځه کې دي د ښځې د منع کولو کوشش وکړي، که هغه په اشاره سره منع سي. نو سمه ده او که منع نه سي، نو په اشاره کولو سره د سړي ذمه واري پوره سوه، بیا که هغه ښځه په برابري کې ودریږي لمونځ وکړي، نو د سړي لمونځ نه فاسدیږي، بلکې خپله د ښځې لمونځ فاسدیږي. (کتاب المسائل ص: ٣٦٧. شامي ج: ١. ص: ٥٣٩)

د عورت ښکاره کېدلو یو صورت

﴿٥١٢﴾ وَ ظُهُوْرُ عَوْرَةِ مَنْ سَبَقَهُ الحَدَثُ (٤٣) او د هغه کس عورت ښکاره کېدل چې هغه ته (په لمانځه کې) بې اودسیا پېښه سوې وي وَلَوِ اضْطُرَّ إِلَيْهِ که څه هم هغه دې (عورت ښکاره کېدلو) ته مجبوره وي كَكَشْفِ الْمَرْأَةِ ذِرَاعَهَا لِلْوُضُوْءِ لکه د ښځې د خپل لېڅې ښکاره کول د اودس لپاره (یعني چې ښځه د اودس کولو لپاره خپل لېڅې (متان) ښکاره کړي).

لغات: ﴿عورة﴾ د پټولو قابل اندامونه، ستر، جمع: عَوْرَات، ﴿اُضْطُرَّ﴾ د افتعال له بابه د واحد مذکر غائب ماضي مجهول صیغه ده، مصدر: اِضْطِرَارًا: مجبوره کېدل، محتاجه کېدل.

تشریح: که په لمانځه کې څوک بې اودسه سي مثلاً باد یې پرې سي، نو مسئله دا ده چې اوداسه ته دي ولاړ سي، اودس دي وکړي او پر هاغه مخکیني لمانځه دي بناء وکړي یعني پر کوم ځای چې یې لمونځ پرې ایښی وو، له هاغه ځایه دي یې شروع او پوره کړي، اوس که دغه کس تر بې اودسیا وروسته اوداسه ته ولاړ سي او په اوداسه کې د هغه عورت ښکاره سي، یا یې هغه خپله ښکاره کړي، نو لمونځ یې فاسدیږي او بناء نه جائز کېږي. برابره ده د عورت ښکاره کول ضرورتاً (مجبوراً) وي او که بېله ضرورته وي، مثلاً د ښځې اودس مات سو او هغه اوداسه ته ولاړه او د اوداسه لپاره یې خپل لېڅې ښکاره کړې (کوم چې د ښځې په حق کې عورت دي او بغیر له ښکاره کولو یې پرېولل ممکن نه دي)، نو هم د هغې لمونځ فاسدیږي، لېکن د بعضو په نېز د مجبورۍ په حالت کې د عورت په ښکاره کېدو سره لمونځ نه فاسدیږي او بناء جائز کېږي او بغیر له مجبورۍ څخه د ښکاره کېدو په صورت کې لمونځ فاسدیږي او بناء نه جائز کېږي. همدا زیات صحیح او معتمد قول دی: ځکه د ښځې لپاره د بناء د جواز په هکله نص وارد سوی دی. (عمدة الفقه بحواله شفاء الارواح)

تر بې اودسیا وروسته د اودس لپاره د تګ او راتګ په وخت کې قرائت کول

﴿۵۱۳﴾ وَقِرَاءَتَهٗ ذَاهِبًا أَوْ عَائِدًا لِلْوُضُوْءِ (۴۴) او د ده (یعني د بې اودسه کېدونکي لمونځ ګزار) قرائت کول په داسې حال کې چې د اودسه لپاره تلونکی یا واپس راتلونکي وي (له اودسه څخه).

لغات: ﴿عائد﴾ د نصر له بابه فاعل دی: راګرځېدونکی، واپس راتلونکی.

تشریح: که د لمانځه په دوران کې د یو چا اودس مات سي، بیا هغه د اودسه لپاره ولاړ سي. نو که چیرې د تګ او راتګ په وخت کې هغه د قرآن شریف تلاوت وکړي. نو لمونځ یې فاسدیږي. خو که تسبیح وغیره ووایي، نو نه فاسدیږي؛ ځکه د قرآن قرائت د لمانځه یو رکن دی چې هغه د بې اودسیا په حالت کې د لمانځه په جریان کې اداء کول ممنوع او مفسد دي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص ۱۸۲. کتاب المسائل ص: ۳۶۸)

په لمانځه کې له اودس ماتېدو څخه وروسته بې له عذره پر خپل ځای درېدل

﴿۵۱۴﴾ وَمَكْثُهٗ قَدْرَ أَدَاءِ رُكْنٍ بَعْدَ سَبْقِ الْحَدَثِ مُسْتَيْقِظًا (۴۵) او د ده درېدل (ځنډ کول) د یوه رکن اداء کېدو په اندازه له بې اودسیا پېښېدلو (بې اودسه کېدو) څخه وروسته د ویښوالي په حالت کې.

لغات: ﴿مکث﴾ د نصر د باب مصدر دی: درېدل، ځنډ کول، وخت تېرول. درنګ کول.

﴿مستیقظ﴾ د استفعال له بابه فاعل دی، مصدر: اِسْتِيْقَاظ: ویښېدل، بیداره کېدل.

تشریح: که د لمانځه په دوران کې د یو چا اودس مات سي، بیا هغه د یوه رکن یعني د درې وار سبحان الله ویل کېدو په اندازه هلته پاته سي، نو لمونځ یې فاسدیږي. په داسې صورت کې سمدستي لمونځ موقوف کول او د اودس لپاره تلل ضروري دي. خو که یو عذر پېښ سي مثلاً ډېر رش وي او د وتلو موقع نه وي. یا داسې بل ځنډونکی عذر وي چې د هغه په وجه د یوه رکن په اندازه ځنډ وکړي. نو د ځنډ باوجود لمونځ باقي پاتېږي او بناء جائز کېږي. (مراقی الفلاح ص: ۱۸۲. کتاب المسائل ص: ۳۶۹)

مستیقظا: په دې قید سره د خوب حالت مستثنیٰ سوی دی. هغه دا چې که د لمانځه په دوران کې بیده سي او په دې دوران کې بې اودسه سي او په همدې حالت کې د یوه رکن په اندازه بیده پاته سي او بیا بیداره سي. نو که تر بیدارېدو وروسته سمدستي ولاړ سي اودس او بناء وکړي. نو لمونځ یې صحیح کېږي (که څه هم په لمانځه کې د خوب په حالت کې د یوه رکن په اندازه یې درنګ کړی دی).

د نژدې اوبو پر ځای لیرې اوبو ته تلل

﴿٥١٥﴾ وَمُجَاوَزَتُهٗ مَاءً قَرِيْبًا لِغَيْرِهٖ (۴۶) او دده تېرېدل له نژدې اوبو څخه و نورو اوبو ته.

لغات: ﴿مجاوزة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: تېرېدل، تجاوز کول.

تشریح: که څوک د لمانځه په دوران کې بې اودسه سي او هلته نژدې د اوداسه اوبه موجوده وي، خو لمونځ گزار د هغه اوبو پر ځای د لیرې اوبو وطرف ته روان سي، نو حکم دا دی چي کله له هغه څخه د دوو صفونو په اندازه تېر سي، نو لمونځ یې فاسدیږي او بناء نه جائز کیږي، خو که یو عذر وي مثلاً دا یې هېر وي چي نژدې اوبه سته، یا د ځای د تنګوالي په وجه داوبو ځای ته رسېدل مشکل وي، نو بیا په تجاوز کولو کې څه حرج نسته. (طحطاوي علی مراقي الفلاح ص: ۱۸۲، کتاب المسائل ص: ۳۶۹)

د بې اودسیا په گومان سره له مسجد یا صفونو څخه وتل

﴿٥١٦﴾ وَخُرُوْجُهٗ مِنَ الْمَسْجِدِ بِظَنِّ الْحَدَثِ (۴۷) او دده (لمونځ گزار) وتل له مسجد څخه د بې اودسیا (بې اودسه کېدو) په گومان سره وَمُجَاوَزَتُهُ الصُّفُوْفَ فِيْ غَيْرِهٖ بِظَنِّهٖ (۴۸) او دده تېرېدل له صفونو څخه په غیر مسجد (بل ځای) کې د بې اودسیا په گومان سره.

لغات: ﴿مجاوزة﴾ مخکې یې وضاحت وسو، غیره: د ضمیر مرجع مسجد دی، بظنه: د ضمیر مرجع حدث (بې اودسیا) ده.

تشریح: که د لمانځه په دوران کې د لمونځ گزار دا گومان سي چي غالباً اودس مي مات سو، مثلاً له پزې څخه یې اوبه راسي او لمونځ گزار دریني گومان پرې وکړي او په دې گومان له مسجد څخه د باندې ووځي. بیا ورته معلومه سي چي هغه خو اوبه وې، نو لمونځ یې فاسدیږي او له نوي سره به لمونځ کوي او که له مسجد څخه وتلی نه وي، نو بیا یې لمونځ نه فاسدیږي، بلکې پر هاغه لمانځه دې بناء وکړي.

ومجاوزته الصفوف إلخ: یعني که هغه له مسجد څخه بغیر په بل ځای مثلاً په یو خالي میدان کې لمونځ کوي او د بې اودسیا په گومان مخ وگرځوي او له آخري صف څخه د باندې ووځي، بیا ورته معلومه سي چي زه خو بې اودسه سوی نه یم، نو لمونځ یې فاسدیږي او که له آخري صف څخه نه ووځي، نو لمونځ یې نه فاسدیږي، بلکې پر هغه مخکیني لمانځه دې بناء وکړي. لنډه دا چي که مسجد وي نو له مسجد څخه وتل او که نه وي نو له آخري صف څخه وتل (او که تنهاوي نو د لمانځه له ای څخه وتل) بېله عذره د لمانځه فاسدونکي دي.

﴿۵۱۷﴾ وَ انْصِرَافُهٗ ظَانًّا أَنَّهٗ غَيْرُ مُتَوَضِّئٍ (۴۹) او د ده ګرځېدل (لیري کېدل دلمانځه له ځایه) په دې ګومان (خیال) سره چې دئ بې اودسه دی.

لغات: ﴿انصراف﴾ دانفعال دباب مصدر دی: ګرځېدل، مخ اړول.

تشریح: که دلمانځه په دوران کې لمونځ ګزار ته دا ګومان سي چې ما خو بېله اودسه لمونځ شروع کړی دی، بیا هغه داودس کولو لپاره مخ وګرځوي او له خپل ځایه لیري سي او بیا ورته معلومه سي چې ما داوداسه په حالت کې لمونځ شروع کړی دی، نو لمونځ یې فاسدیږي، که څه هم له مسجد څخه وتلی نه وي (ځکه دلته مخ ګرځول او دلمانځه څخه وتل دلمانځه د پرېښوولو لپاره سوي دي).

د مسح د مودې ختمېدل یا د نجاست په ګومان د لمانځه څخه وتل

﴿۵۱۸﴾ وَأَنَّ مُدَّةَ مَسْحِهٖ انْقَضَتْ (۵۰) او (په دې ګومان سره مخ ګرځول) چې د ده د مسحې موده ختمه سوه أَوْ أَنَّ عَلَيْهِ فَائِتَةً (۵۱) یا (په دې ګومان سره مخ ګرځول) چې پر ده فوت سوی (قضائي) لمونځ سته أَوْ نَجَاسَةً (۵۲) یا (په دې ګومان سره... چې پر ده) نجاست دی وَإِنْ لَمْ يَخْرُجْ مِنَ الْمَسْجِدِ که څه هم له مسجد څخه وتلی نه وي.

لغات: ﴿انقضت﴾ دانفعال له بابه دواحد مؤنث غائب ماضي صیغه ده: (وخت) تېرېدل، ختمېدل، پوره کېدل.

تشریح: که دلمانځه په دوران کې لمونځ ګزار ته دا ګومان سي چې د مسح موده پوره سوه، یا د لمانځه په دوران کې صاحب الترتیب کس ته دا ګومان سي چې پر ما قضایي لمونځ سته، مثلاً د ماپښین په لمانځه کې یې دا ګومان سي چې ما د سهار لمونځ نه دی کړي، یا لمونځ ګزار پر خپله جامه یو داغ ووویني او هغه نجاست وګڼي، او په دې صورتونو کې مخ وګرځوي یعنې د لمانځه څخه لاوځي او له خپل ځایه لیري سي، نو په دې ټولو صورتونو کې لمونځ فاسدیږي او بناء نه صحیح کیږي، که څه هم له مسجد څخه وتلی نه وي، نو ځکه له شروع څخه به لمونځ راګرځوي. (مراقی الفلاح ص۱۸۲)

له خپل امام څخه بغیر بل چا ته فتحه ورکول

﴿۵۱۹﴾ وَفَتْحُهٗ عَلٰى غَيْرِ إِمَامِهٖ (۵۳) او د ده (مقتدي) فتح ورکول له خپل امام څخه بغیر وبل چا ته.

لغات: ﴿فَتَحَ﴾ د مَنَعَ (فتح) د باب ماضي ده، د دې باب ډېرې معناوې دي: خلاصول. پرانیستل. شروع کول، کامیابېدل. فاتح کېدل. دلته څخې مراد "فتحه ورکول" دي، یعني په کوم ځه کې چې امام یا بل کس غلط سي، د هغه ښوونه کول (یادونه ورکول). د فتحهٗ د ضمیر مرجع "مُصَلّی" دی.

تشریح: مسئله دا ده چې د لمانځه په دوران کې د مقتدي لپاره خپل امام ته فتحه ورکول خو جائز دي، لېکن له خپل امام څخه بغیر وبل چا ته په فتحه ورکولو سره هم د مقتدي لمونځ فاسدېږي او هم د فتح اخیستونکي لمونځ فاسدېږي، برابره ده هغه (فتح اخیستونکی) منفرد وي او که غیرِ منفرد وي.

❀ ❀ ❀

له مقتدي څخه بغیر له بل چا څخه فتحه اخیستل

مسئله: که د امام په قرائت کې غلطي راسي او له مقتدیانو څخه بغیر بل څوک امام ته فتحه ورکړي او امام د هغه فتحه قبوله کړي، نو د امام او د هغه د مقتدیانو لمونځ فاسدېږي. (طحطاو ص: ۱۸۳. کتاب المسائل ص: ۳۷)

د نوي لمانځه د شروع کولو په نیت سره تکبیر تحریمه ویل

﴿۵۲۰﴾ وَالتَّكْبِيْرُ بِنِيَّةِ الْإِنْتِقَالِ لِصَلٰوةٍ أُخْرٰى غَيْرَ صَلٰوتِهٖ (۵۴) او تکبیر ویل په نیت سره د منتقل کېدو وبل لمانځه ته ماسوا له خپل لمانځه څخه (یعني له شروع کړي لمانځه څخه بغیر وبل لمانځه ته د منتقل کېدلو په نیت سره تکبیر ویل).

تشریح: که چا لمونځ شروع کړی وي او په لمونځ کولو لګیا وي، بیا د لمانځه په دوران کې اراده وکړي چې دا لمونځ به پرېږدم او بل به شروع کړم او په همدې نیت سره الله اکبر ووایي، نو د الله اکبر ویلو سره سمدستي د هغه لمونځ فاسدېږي، لېکن که صرف په زړه سره نیت وکړي او په ژبه سره الله اکبر نه ووایي، نو لمونځ یې نه فاسدېږي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص۱۸۳، کتاب المسائل ص۳۷۱)

﴿٥٢١﴾ إِذَا حَصَلَتْ هٰذِهِ الْمَذْكُوْرَاتُ قَبْلَ الْجُلُوْسِ الْأَخِيْرِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ کله چي حاصل سي دا مذکوره شیان په آخره ناسته کي د تشهد په اندازه کښېنستلو څخه مخکي.

تشریح: یعني مخکي چي د لمانځه فاسدېدلو څومره صورتونه بیان سول. په هغوی سره هماغه وخت لمونځ فاسدېږي، کله چي په قعدهٔ اخیره (آخره ناسته) کي د تشهد په اندازه کښېنستلی نه وي بلکي تر هغه مخکي دا صورتونه پېښ سوي وي، لهذا که په قعدهٔ اخیره کي د تشهد په اندازه کښېنستلو څخه وروسته له مفسدات الصلاة څخه یو مفسد پېښ سي. نو د هغه لمونځ نه فاسدېږي (دا د صاحبینو رحمهما الله مسلک دی؛ ځکه د دوی په نېز له قعدهٔ اخیره څخه وروسته د دې عوارضو پېښېدل داسي دي لکه تر سلام ګرځولو وروسته پېښېدل. او د امام صاحب رحمه الله په نېز له قعدهٔ اخیره څخه وروسته د دې عوارضو پېښېدل داسي دي لکه د لمانځه په مېنځ کي پېښېدل. او څرنګه چي د لمانځه په مېنځ کي د هغوی په واقع کېدو سره لمونځ فاسدېږي. نو همداسي که تر قعدهٔ اخیره وروسته دا عورض پېښ سي. نو هم لمونځ فاسدېږي (انوار الایضاح)

﴿٥٢٢﴾ وَيُفْسِدُهَا أَيْضًا مَدُّ الْهَمْزَةِ فِي التَّكْبِيْرِ (٥٥) او په تکبیر (الله اکبر) کي د همزې کشول هم لمونځ فاسدوي.

تشریح: یعني که په لمانځه کي دننه په تکبیرات انتقالیه وو کي د الله اکبر ویلو پر مهال د الله د لفظ همزه کش کړي او مد وکړي، نو لمونځ یې فاسدېږي. په دې هکله نور تفصیل په ﴿٣٨٩﴾ نمبر مسئله کي تېر سو.

په لمانځه کي له قرآن شریف څخه قرائت کول

﴿٥٢٣﴾ وَقِرَاءَةُ مَا لَا يَحْفَظُهُ مِنْ مُصْحَفٍ (٥٦) او لوستل د هغه حصې کوم چي ده ته یاد نه وي له قرآن شریف څخه (دا هم لمونځ فاسدوي).

تشریح: که یو څوک د لمانځه په دوران کي قرآن شریف ته ګوري او له هغه څخه قرائت کوي. نو لمونځ یې فاسدېږي. په دې شرط چي هغه آیتونه یې یاد نه وي (ځکه چي دا عملِ کثیر دی او بل دا چي په دې کي په لمانځه کي دننه د تلقي او تعلم اړه نړي اصورت پېښېږي کوم چي ممنوع دی). او که هغه آیتونه (کوم ته چي ګوري) ورته یاد وي او قرآن شریف یې په لاس کي نه وي را اخیستی بلکي مخته یې پر ټېبل یا بل شي ایښی وي. نو لمونځ یې نه فاسدېږي. (انوار الایضاح. شفاء الارواح)

د عورت د لڅوالي او د نجاست د موجود والي په حالت کې لمونځ کول

﴿٥٢٤﴾ وَأَدَاءُ رُكْنٍ أَوْ إِمْكَانُهُ مَعَ كَشْفِ الْعَوْرَةِ أَوْ مَعَ نَجَاسَةٍ مَانِعَةٍ (٥٧) او یو رکن اداء کول (٥٨) یا د یوه رکن اداء ممکن کېدل (یعني دیوه رکن اداء کېدلو په اندازه وخت تېرېدل) د عورت د لڅوالي یا د مانع نجاست سره.

تشریح: که د لمونځ گزار عورت د اندام د څلورمي حصې په اندازه ښکاره سي (مثلا د ښځي د غوږ څلورمه حصه ښکاره سي. یا داسي نور چي مخکي یې تفصیل تېر سو) او په همدې حالت کي یو رکن اداء کړي یا په همدې حالت کي د یوه رکن په اندازه وخت تېر سي یعني دومره وخت چي په هغه کي درې واره سبحان الله ویلای سي، نو لمونځ یې فاسدیږي.

همدارنگه که پر لمونځ گزار داسي نجاست (مرداري) وي چي د هغه سره لمونځ نه صحیح کېږي برابره ده هغه نجاست غلیظه وي او که خفیفه وي او په همدې حالت کي یو رکن اداء کړي یا د یوه رکن په اندازه د هغه نجاست سره وخت تېر کړي، نو لمونځ یې فاسدیږي. او که پر بدن د نجاست لوېدلو سره لمونځ گزار سمدستي هغه لیري کړي، یا سمدستي عورت پټ کړي، نو بیا یې لمونځ نه فاسدیږي.

﴿٥٢٥﴾ وَمُسَابَقَةُ الْمُقْتَدِيْ بِرُكْنٍ لَمْ يُشَارِكْهُ فِيْهِ إِمَامُهُ (٥٩) او (همدارنگه لمونځ فاسدیږي) د مقتدي وړاندیتوب کول (چي مقتدی مخکي والي وکړي) په یوه رکن کي چي په هغه کي د ده امام ور سره شریک نه سي (مثلاً مقتدی تر امام مخکي رکوع ته ولاړ سي او بیا د امام له رکوع کولو څخه مخکي سر راپورته کړی. او بیا دغه رکن (رکوع) د امام سره یا تر امام وروسته دوباره اداء نه کړي تر دې چي امام سلام وگرځوي. نو د مقتدي لمونځ فاسدیږي. او که مقتدی په دې توگه مخکي رکوع وکړي چي د ده د رکوع په وخت کي امام هم رکوع ته ورسیږي، نو دغسي مسابقت خو مکروه دی. لیکن لمونځ یې نه فاسدیږي وعلی هذا القیاس حال السجود).

لغات: ﴿مسابقة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: د یو شي و طرف ته وړاندیتوب کول. مخکي والي کول. ﴿لم یشارك﴾ د مفاعلې له بابه د جحد صیغه ده، مصدر، مشارکة: په یو شي کي د یو چا سره شریک کېدل. حصه داره کېدل.

تشریح: د عبارت وضاحت د [illegible]

د مسبوق لپاره په سجدهٔ سهو کې د امام پیروي کول

﴿۵۲۱﴾ وَمُتَابَعَةُ الْإِمَامِ فِيْ سُجُوْدِ السَّهْوِ لِلْمَسْبُوْقِ (٦٠) او (ممدارنګه لمونځ فاسدوي) د امام تابعداري کول په سجدهٔ سهو کې د مسبوق مقتدي لپاره.

لغات: ﴿مسبوق﴾ مخکې یې وضاحت وسو چې له کوم مقتدي څخه اول رکعت تېر سوی وي هغه ته مسبوق وایي، نور بیا که دوه رکعته څني تېر سوي وي او که درې یا څلور سره څني تېر سوي وي (یعني صرف په قعدهٔ اخیره کې یې امام نیولی وي).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که مسبوق مقتدی په سجدهٔ سهو کې د خپل امام متابعت په داسې حال کې وکړي کله چې هغه له امام څخه جلا سوی وي، نو د هغه لمونځ فاسدیږي. مثلاً امام سلام وګرځوي او سجدهٔ سهو یې هېره وي او مسبوق د خپل پاته لمونځ د پوره کولو لپاره ولاړ سي او یو رکعت وکړي او د هغه سجده هم وکړي، په دې دوران کې امام ته سجدهٔ سهو په یاد سي چې ما خو هغه پرېښووله. نو امام سجدهٔ سهو وکړي او مسبوق هم د امام سره سجدهٔ سهو وکړي. نو په دې صورت کې د مسبوق لمونځ فاسدیږي. او که چیري مسبوق تر اوسه د رکعت سجده نه وي کړې او امام سجدهٔ سهو وکړي، نو پر هغه د خپل امام متابعت کول (یعني د امام سره یو ځای سجدهٔ سهو کول) ضروري دي، لېکن په دې صورت کې به مسبوق د امام سره سلام نه ګرځوي. لېکن که متابعت نه وکړي او په آخر کې سجدهٔ سهو وکړي، نو هم جائز دي او لمونځ یې نه فاسدیږي. (عمدة الفقه بحوالهٔ شفاء الارواح)

قعدهٔ اخیره نه راګرځول

﴿۵۲۲﴾ وَعَدَمُ إِعَادَةِ الْجُلُوْسِ الْأَخِيْرِ بَعْدَ أَدَاءِ سَجْدَةٍ صُلْبِيَّةٍ تَذَكَّرَهَا بَعْدَ الْجُلُوْسِ (٦١) او آخره ناسته نه راګرځول د اصلي سجدې له اداء کولو څخه وروسته چې هغه (سجده) ده ته تر (آخري) ناستې وروسته په یاد ورغلې وي (یعني په آخره ناسته کې د تشهد په اندازه جلوس څخه وروسته ده ته په یاد ورسي چې زما څخه دیو رکعت یوه سجده پاته سوې ده. نو هغه سجده یې راوګرځوله خو آخره ناسته یې بیرته نه راوګرځوله او له سجدې څخه وروسته یې سمدستي سلام وګرځوی. نو هم لمونځ فاسدیږي).

لغات: ﴿صُلبِیّة﴾ اصلي سجده، د لمانځه خپله سجده (یا په بله وینا: د رکعت خپله سجده). "صُلب" ته منسوب دی. "صُلب" ملا ته ویل کیږي کوم چې د انسان مینځ دی او د لمانځه خپله سجده هم د لمانځه په مینځ کې واقع کیږي. او بل سجدهٔ سهو ده کوم چې د لمانځه په آخر کې کیږي.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که لمونځ ګزار قعدهٔ اخیره (آخره ناسته) وکړه. تر دې وروسته ده ته یاد سوه چې زما څخه خو د لمانځه یوه سجده پاته ده. نو هغه سجده یې راوګرځوله او بیا یې ناسته

نه وکړي يعني آخره ناسته يې نه راوګرځوله، بلکي سمدستي يې سلام وګرځوی، نو د هغه لمونځ فاسديږي.

يو رکن د خوب په حالت کي اداء کول

﴿ ۵۲۸ ﴾ وَعَدَمُ إِعَادَةِ رُكْنٍ أَدَّاهُ نَائِمًا (۶۲) او هغه رکن نه راګرځول کوم چي يې د خوب په حالت کي اداء کړی وي.

تشريح: که لمونځ ګزار يو رکن د خوب په حالت کي اداء کړي او تر بيداريدو وروسته يې نه راوګرځوي (يا په بله وينا د ويښوالي په حالت کي يې دوباره اداء نه کړي)، نو لمونځ يې فاسديږي. مثلاً دويمي سجدې ته د تللو په وخت کي خوب غلبه باندي وکړي او بيده سي او ټوله سجده د بيده والي په حالت کي اداء کړي او له سجدې څخه د را پورته کېدو په وخت کي بيداره (ويښ) سي. نو هغه دې دا دويمه سجده دوباره اداء کړي. لهذا که دوباره يې اداء نه کړي، نو لمونځ يې فاسديږي. او که رکن ته په ويښه داخل سي بيا په هغه کي بيده سي، نو هغه رکن شمېرل کيږي او نه به راګرځول کيږي. (عمدة الفقه بحوالۂ شفاء الارواح)

له قعدۂ اخيره څخه وروسته د امام عمداً اودس ماتول

﴿ ۵۲۹ ﴾ وَقَهْقَهَةُ إِمَامِ الْمَسْبُوْقِ وَحَدَثُهُ الْعَمَدَ بَعْدَ الْجُلُوْسِ الْأَخِيْرِ (۶۳) او د مسبوق د امام په زوره خندل (۶۴) او (يا) د هغه قصداً اودس ماتول تر آخري ناستي وروسته.

تشريح: که په قعدۂ اخيره (آخره ناسته) کي د تشهد په اندازه کښېنستلو څخه وروسته امام په زوره وخاندي يا امام قصداً ځان بې اودسه کړي، نو د هغه لمونځ خو کيږي. لېکن د مسبوق مقتدي لمونځ فاسديږي. خو پر امام واجب دي چي تر اودس کولو وروسته د واجب (سلام) د پرېښوولو په وجه دوباره په السلام عليکم سره لمونځ ختم کړي، چي د ترک الواجب له ګناه څخه بچ سي. (انوار الایضاح)

په څلور رکعتيز يا درې رکعتيز لمانځه کي پر دويم رکعت سلام ګرځول

﴿ ۵۳۰ ﴾ وَالسَّلَامُ عَلَى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ فِيْ غَيْرِ الثُّنَائِيَّةِ ظَانًّا أَنَّهُ مُسَافِرٌ (۶۵) او سلام ګرځول د دوو رکعتو پر سر له دوه رکعتيز لمانځه څخه بغير (بل لمانځه) کي په دې ګومان سره چي هغه مسافر دی (يعني چي په درې رکعتيز يا څلور رکعتيز لمانځه کي لمونځ ګزار په دې ګومان سره پر دويم رکعت سلام وګرځوي چي زه مسافر يم) أَوْ أَنَّهَا الْجُمُعَةُ (۶۶) يا (په دې ګومان سره پر دويم رکعت سلام وګرځوي) چي دا د جمعې لمونځ دی أَوْ أَنَّهَا التَّرَاوِيْحُ وَهِيَ الْعِشَاءُ (۶۷) يا چي دا تراويح دي حال دا چي هغه

دماخوستن لمونځ وي أَوْ كَانَ قَرِيْبَ عَهْدٍ بِالْإِسْلَامِ (۶۸) یا لمونځ ګزار نږدې زمانې والا وي په اسلام راوړلو کې (یعنې د اسلام راوړلو یې لږ زمانه کیږي) فَظَنَّ الْفَرْضَ رَكْعَتَيْنِ نو ده ګومان کړی وي چې (تول) فرض دوه رکعته دي.

لغات: ﴿ثنائية﴾ دو رکعتیز لمونځ، هر هغه شی کوم چې له دوو ځخه مرکب وي.

تشریح: پر دویم رکعت د سلام ګرځولو دوه صورتونه دي: ① یو صورت دا دی چې لمونځ ګزار په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه کې په دې ګومان سره پر دویم رکعت سلام وګرځوي چې همدا قعدهٔ اخیره (آخره ناسته) ده یعنې رکعتونه پوره سوي دي او بیا ورته یاد سي چې نه دي پوره سوي، نو لمونځ یې نه فاسدیږي بلکې لمونځ دې جاري وساتي او په آخر کې دې سجدهٔ سهو وکړي.

② دویم صورت کوم چې په عبارت کې بیان سوی دی دا دی چې که لمونځ ګزار په دې ګومان سره د څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه پر دویم رکعت سلام وګرځوي چې پر ما صرف همدا دوه رکعته لازم دي، حال دا چې په حقیقت کې پر هغه څلور رکعته وي، مثلاً یو مقیم کس د ماخوستن لمونځ شروع کړي او له دوو رکعتو ځخه وروسته پر ځان د مسافر کېدو په ګومان سره پر دویم رکعت سلام وګرځوي، یا لمونځ ګزار د ماپښین په لمانځه کې له دوو رکعتو ځخه وروسته د جمعې په ګومان سره پر دویم رکعت سلام وګرځوي، یا د ماخوستن په لمانځه کې له دوو رکعتو ځخه وروسته د تراویحو په ګومان سره پر دویم رکعت سلام وګرځوي، یا یو څوک نوی مسلمان سوی وي او تر اوسه د اسلام په احکامو واقف نه وي چې په دې وجه هغه صرف پر دوو رکعتو د فرضو ګومان کوي (چې فرض همدا دوه رکعته دي) او په دې ګومان سره پر دویم رکعت سلام وګرځوي. نو په دې ټولو صورتونو کې د سلام ګرځولو په وجه لمونځ فاسدیږي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص: ۱۸۶)

❀ ❀ ❀

د لمانځه په دوران کې د بچي شیدې رودل

مسئله (۱): که ښځه لمونځ کوي او په دې دوران کې کوچنی بچی د هغې تی وچيچي+ښېږي او له هغه ځخه شیدې راوروځي، نو د ښځې لمونځ فاسدیږي. (در مختار مع الشامي ج۲، ص ۲۹۰)

د لمانځه په دوران کې مرګ راتلل

مسئله (۲): که د لمانځه په دوران کې لمونځ ګزار ته مرګ راسي، نو هغه لمونځ بالکل ختمیږي ماتیږي او که امام د لمانځه په دوران کې مړ سي، نو د ټولو مقتدیانو لمونځ فاسدیږي او هغوی به له سره لمونځ کوي. لهذا د مړ کېدونکي کس د دې لمانځه فدیه لازمه نه ده، ځکه چې له هغه ځخه لمونځ ساقط سو. (کتاب المسائل ص ۳۷۴)

❀ ❀ ❀

بَابُ زَلَّةِ الْقَارِيُ

(دا) باب د قرائت کونکي د تېروتلو (په بيان کي) دی

تشریح: دقرائت د غلطيو او تېروتنو په هکله د نورالايضاح مصنف رحمه الله خو دلته بحث نه دی کړی، مګر د نور الايضاح په حاشيه کي پردې موقع يو جامع اومفيد بحث ليکل سوی دی. حضرت علامه الحافظ مولانا محمداعزازعلي رَحِمَهُ الله د دې ډېرضرورت محسوس کړی. نو ځکه يې دا بحث د نورالايضاح په حاشيه کي داخل کړی، څرنګه چي د دې کتاب "فتح الايضاح" ترتيب موږ د "انوار الايضاح" مطابق وضع کړی دی او په هغه کي يې دا باب نه دی بيان کړی، که څه هم نورو شروحو مختصراً بيان کړی دی، نو ځکه موږ هم نه دی بيان کړی، خو که په وخت کي ګنجايش وو. او ستاسي له طرفه غوښتنه وسوه، نو ان شاء الله په آينده چاپ کي به يې په پوره وضاحت سره بيان کړو. دغوښتني لپاره دي خپروونکي اداري "صداقت کتب خاني" ته اطلاع ورکول سي.

فَصْلٌ مَالَايُفْسِدُ الصَّلٰوةَ

(دا) فصل د هغه شيانو (په بيان کي) دی کوم چي لمونځ نه فاسدوي

تشریح: په دې فصل کي مصنف رَحِمَهُ الله هغه شيان بيانوي چي په هغوی سره لمونځ نه فاسديږي.

په کومو شيانو سره لمونځ نه فاسديږي؟

﴿۵۲۱﴾ لَوْنَظَرَالْمُصَلِّيْ إِلٰى مَكْتُوْبٍ وَفَهِمَهٗ که وګوري لمونځ ګزار ديو ليکل سوي شي (خط) وطرف ته او په هغه پوه سي أَوْأَكَلَ مَابَيْنَ أَسْنَانِهٖ وَكَانَ دُوْنَ الْحِمَّصَةِ بِلَاعَمَلٍ كَثِيْرٍ يا وخوري هغه څه کوم چي يې د غاښو په مينځ کي وي او هغه د نخود (له مقدار) څخه کم وي بغير له عمل کثير څخه أَوْمَرَمَارٌّفِيْ مَوْضِعِ سُجُوْدِهٖ يا تېر سي يو تېرېدونکی کس د سجده کولو په

ځای کي لَا تَفْسُدُ نو لمونځ نه فاسدېږي وَإِنْ أَثِمَ الْمَارُّ که څه هم تېرېدونکی ګنهګاره کيږي.

لغات: ﴿مكتوب﴾ د نصر له بابه اسم مفعول دی: ليکل سوي څه، خط. ﴿الحمصة﴾ مخکي د دې وضاحت وسو. ﴿أَثِمَ﴾ د سمع د باب ماضي ده. مصدر: إِثْمًا: ګناهګاره کېدل. ﴿مارّ﴾ د نصر د باب فاعل دی: تېرېدونکی.

تشريح: که لمونځ ګزار په لمانځه کي يو ليکل سوي شي ته وګوري او په زړه کي په هغه پوه سي او په ژبه سره يې نه ووايي، نو لمونځ يې نه فاسدېږي. برابره ده هغه ليکل سوی شی (مکتوب) قرآن وي او که غيرِ قرآن وي، مثلاً پر محرب د قرآن آيت يا نور څه ليکل سوي وي او لمونځ ګزار هغه ته وګوري او ويې فهموي، نو په دې سره د ده لمونځ نه فاسدېږي او نه مکروه دي په دې شرط چي هغه قصداً نه وي ورته کتلي. او که قصداً يې ورته کتلي او فهمولی يې وي، نو په دې صورت کي لمونځ خو نه فاسدېږي، ليکن مکروه (تنزيهي) کيږي. (طحطاوي)

أو أكل ما بين إلخ: که د لمونځ ګزار په غاښو کي څه خوراک بند پاته وي او هغه د لمانځه په حالت کي تېر کړي، نو لمونځ يې نه فاسدېږي په دې شرط چي هغه خوراک د نخود له مقدار څخه کم وي او بغير له عملِ کثير څخه يې تېر کړی وي، که چيري هغه خوراک د نخود په اندازه وي، يا تر هغه زيات وي، يا خو د نخود له مقدار څخه کم وي ليکن په عملِ کثير سره يې تېر کړی وي مثلاً درې واره يا تر دې زيات يې ژولی وي، نو اوس برابره ده تېر کړی وي که نه، د عملِ کثير په وجه د هغه لمونځ فاسديږي.

أو مرّ مارّ إلخ: که يو انسان د لمونځ ګزار مخ ته د هغه د سجدې پر ځای تېر سي. نو د هغه لمونځ نه فاسديږي، برابره ده تېرېدونکی انسان سړی وي او که ښځه وي، يا تېرېدونکی يو حيوان مثلاً خر يا سپی وغيره وي، ليکن تېرېدونکی انسان ګنهګاره کيږي.

* * *

مسئله: د لمونځ ګزار مخ ته پر څومره فاصله تېرېدل جائز دي؟

په لوی مسجد يا ميدانه کي که يو څوک بغير له سُترې څخه لمونځ کوي او د هغه مخ ته تېرېدلو ته ضرورت پېښ سي، نو پر څومره فاصله د هغه مخ ته تېرېدل جائز دي او ګناه نه لري. په دې باره کي د مشايخو مختلف اقوال دي: ① قاضي خان، علامه حاکم شهيد، صاحب هدايه، صاحب محيط او علامه زيلعي رَحِمَهُمُ الله فرمايي چي د دې لمونځ ګزار د سجدې له ځای څخه مخ ته تېرېدل جائز دي، ② د فخر الاسلام بزدوي، شمس الائمه سرخسي او علامه ابو جعفر، علامه

تمرتاشي، علامه کاساني، صاحب نهايه او محقق ابن الهمام رَحِمَهُمُ الله رايه دا ده چي د لمونځ گزار نظر چي تر کومه ځايه پوري ځي کله چي هغه په خشوع و خضوع سره لمونځ کوي (يعني چي د سجدې ځای ته گوري او نظر يې ټيټ ساتلی وي نو په دې حالت کي چي د هغه نظر تر کومه ځايه ځي). له هغه ځای څخه مخ ته تېرېدل جائز دي. ③ بعضو د دې حد دوه، يا درې صفونه مقرر کړي دي، ④ بعضو درې يا پنځه لاسه (يا په بله وينا درې يا پنځه شرعي گزه) د دې اندازه ټاکلې ده. ⑤ بعضو د دې حد څلوېښت (۴۰) لاسه (يا په بله وينا ۴۰ شرعي گزه) مقرر کړي دي، ⑥ بعضو ويلي دي چي پنځوس (۵۰) لاسه مخ ته تېرېدل جائز دي.

صاحب د عنايه رَحِمَهُ الله په ① او ② قول کي داسي تطبيق ورکړی دی چي په ① قول کي د سجدې له ځای څخه د سجدې مخصوص ځای مراد نه دی بلکي د هغه د شا و خوا ځای هم دغه حکم دی او همدا معنی د تېيجې په اعتبار سره د ② قول را وځي (عنايه ج:۱. ص:۴۰۶). علامه شامي رَحِمَهُ الله هم په ټينگار سره د صاحب العنايه تائيد کړی دی او د هغه خلکو ترديد يې کړی دی کوم چي دغه دواړه قولونه جلا. جلا گڼي. (شامي ج:۱. ص:۵۹۲)

او صاحبُ البحر علامه ابن نجيم رَحِمَهُ الله ډېر ټينگار پر دې کړی دی چي همدا اول ① قول اصح دی. (البحر الرائق ج:۲. ص:۱۶)

خلاصه دا چي په دغه مسئله کي آخري څلور اقوال بالکل متروک دي او په ① او ② قول کي صرف لفظي فرق ستـه. معناً دواړه سره يو دي. لهذا د اکثره مشايخو د رايي د موافق کېدلو پر بناء به هغه لره ترجيح وي. (انوار الايضاح)

د ښځي پر شرمگاه د نظر لوېدلو حکم

﴿۵۲۲﴾ وَلَا تَفْسُدُ بِنَظَرِهٖ إِلٰى فَرْجِ الْمُطَلَّقَةِ بِشَهْوَةٍ فِي الْمُخْتَارِ او لمونځ نه فاسدېږي د لمونځ گزار په کتلو سره د طلاق سوي ښځي و فرج ته په شهوت سره. د مختار قول مطابق وَإِنْ ثَبَتَتْ بِهِ الرَّجْعَةُ که څه هم په دې سره رجعت (رجوع) ثابتېږي.

تشريح: د لمانځه په حالت کي که د اجنبيه (پردی) ښځي پر دننه حصه (فرج) باندي نظر ولوېږدي، نو لمونځ يې نه فاسدېږي؛ ځکه دا عملِ قليل دی، خو که دا ښځه د لمونځ گزار منکوحه وي او مطلقه وي يعني طلاق رجعي يې ورکړی وي، نو لمونځ خو يې نه فاسدېږي، لېکن په دې سره رجعت ثابتېږي. او مچه اخيستل، مسه کول دا ټوله د جماع په حکم دي او عملِ کثير شمېرل سوي دي، لهذا د دوی په وجه لمونځ فاسدېږي.

فايده: په عبارت کي د "ل المختار" په قيد سره د هغه خلکو له قول څخه احتراز سوی دی کوم چي وايي چي محض شرمگاه ته په کتلو سره لمونځ فاسدېږي.

⁂

فَصْلٌ فِى الْمَكْرُوْهَاتِ

(دا) فصل په (بيان دلمانځه د) مكروهاتو كي دى

تشريح: مخكي دلمانځه د مفسداتو بيان وو، اوس په دې فصل كي دلمانځه مكروهات بيانوي.

د كراهت قسمونه: په بنيادي توګه كراهت پر دوه قسمه دى: ① كراهت تحريمي ٢ كراهت تنزيهي. په دې دواړو كي فرق او توپير د كراهت د دليل په اعتبار سره وي، كه چيري د يو فعل د ممانعت دليل ظنى الثبوت يا ظنى الدلالة وي، يا هغه فعل ترك الواجب لره شامل وي (چي كه هغه وسي نو واجب كار به پاته سي)، نو پر هغه د مكروه تحريمي اطلاق كيږي. او كه د ممانعت دليل په خلاف اولىٰ يا ترك الاستحباب باندي مبني وي، نو هغه فعل ته مكروه تنزيهي ويل كيږي (په بله وينا دا چي تحريمي د واجب په مقابله كي دى. لهٰذا د واجب پرېښوولو ته به مكروه تحريمي ويل كيږي او دا حرام ته نژدې دي. او تنزيهي د سنت او د اولىٰ او مستحب په مقابله كي دى. لهٰذا د سنت پرېښوولو ته به مكروه تنزيهي او خلاف اولىٰ ويل كيږي او دا مباح ته نژدې دي). بيا په مكروه تحريمي او مكروه تنزيهي كي هم د شدت او ضعف په اعتبا سره جلا، جلا مراتب دي كوم چي صاحبُ النظر عالم د دليل په رڼا كي خپله متعين كولاى سي، (مثلا كه يو سنت عمل داسي وي چي د هغه ډېر تاكيد او ټينګار سوى دى. نو د هغه پرېښوول شديد مكروه تنزيهي دي او تحريمي ته نژدې دي).

په لمانځه كي د مكروه اثر: كوم لمونځ چي د كراهتِ تحريمي سره اداء كړل سي (يا په بله وينا په كوم لمانځه كي چي مكروه تحريمي واقع سي)، د هغه اعاده (راګرځول) واجبيږي، مثلاً په داسي جامه كي لمونځ كول چي په هغه كي تصويران نقش سوي وي، نو د هغه لمانځه راګرځول ضروري دي. ژر تر ژره دي هغه راوګرځول سي، برابره ده په وخت كي دننه وي يا تر وخت وروسته وي. او كه په لمانځه كي د كراهتِ تنزيهي ارتكاب وسي، نو د لمانځه اعاده واجب نه ده، خو مستحب ده. او په كوم مكرو تحريمي سره چي لمونځ واجبُ الاعاده ګرځي، هغه داسي مكروه تحريمي دى چي د هغه تعل لمانځه د عين افعالو سره وي مثلاً تعديل الاركان پرېښوول. يا په تصوير والا جامه كي لمونځ ك لېكن داسي مكروه فعل چي د هغه تعلق دلمانځه د عين اركانو سره نه وي، بلكي په هغه كي كړ په يو بله وجه راغلى وي مثلاً سورتونه سره چپه ويل، يا د امام فاسق كېدل. نو د داسي كراهت پ لمونځ واجب الاعاده نه ګرځي، ځكه د قرآن كريم په آيتونو او سورتونو كي د ترتيب لحاظ س اصل كي دلمانځه له واجباتو څخه نه دي، بلكي د قرائت له واجباتو څخه دي. همدارنګه

څخه ځان ساتل پر هر مسلمان مستقلاً واجب دي او هغه اصلاً د لمانځه له واجباتو څخه نه دي. بلکي د جماعت له واجباتو څخه دي (د مکروه تحريمي په بحث کي دا پورتنی وضاحت په یاد لرل ضروري دي) په عامه توګه فقهاؤ د لمانځه د مکروهاتو په باب کي د مکروه تحريمي او مکروه تنزيهي لپاره صرف د مکروه لفظ استعمال کړی وي او دلته مصنف رَحِمَهُ الله هم داسي کړي دي، خو موږ کوښښ کوو چي دواړه ډوله افعال سره جلا کړو (فلله الحمد).

د لمانځه مکروهات

﴿۵۲۳﴾ يَكْرَهُ لِلْمُصَلِّيْ سَبْعَةٌ وَسَبْعُوْنَ شَيْئًا د لمونځ ګزار لپاره اووه اویا (۷۷) شیان مکروه دي تَرْكُ وَاجِبٍ أَوْ سُنَّةٍ عَمَدًا پرېښوول د (۱) یو واجب (۲) یا سنت قصداً (یعني په لمانځه کي واجب یا سنت شی پرېښوول مکروه دي).

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله د لمانځه اووه اویا (۷۷) مکروهات بیان کړي دي، دا شمېر د حصر لپاره نه دی چي صرف همدا (۷۷) مکروهات دي، بلکي په دې سره دا ښوول مقصود دي چي تقریباً (۷۷) دي. له دې څخه زیات هم کېدلای سي.

خیر! مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي قصداً یو واجب پرېښوول مکروه دي مثلاً تعدیل الارکان (یعني د لمانځه ارکان په اطمینان سره اداء کول) واجب دي. لهذا د تعدیل الارکان د پرېښوونکي کس لمونځ په کراهت تحريمي سره صحيح کېږي، خو دا (تعدیل الارکان) یو داسي واجب دی چي په سجدهٔ سهو سره د هغه تلافي نه سي کېدلای، لهذا په وخت کي دننه د داسي لمانځه اعاده واجب ده او له وخت څخه وروسته مستحب ده. همدارنګه یو سنت پرېښوول مکروه تنزيهي دي. مثلاً د لمانځه په شروع کي د سرې لپاره د الله أکبر ویلو په وخت کي دواړه لاسونه د غوږو تر نرمیو پوري پورته کول سنت دي. اوس که لمونځ ګزاریې له هغه څخه لاندي کړي، نو مکروه تنزيهي دي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي ص۱۸۹)

د لمانځه په دوران کي په جامه یا بدن لاس وهل

﴿۵۲۴﴾ كَعَبَثِهِ بِثَوْبِهِ وَبَدَنِهِ (۳) لکه لوبي کول په خپلو جامو (۴) او بدن سره.

لغات: ﴿عَبَث﴾ د سمع د باب مصدر دی عَبِثَ يَعْبَثُ عَبَثًا: لوبي او بازی کول. په لوبو لګیا کېدل. نو او بې فایدې کار کول.

تشریح: د لمانځه په حالت کي د جامې یا بدن په یو حصه لوبي کول یعني هسي په جامه یا بدن اخته کېدل او لاس په وهل مکروه تحریمي دي. مثلاً د بعضي خلګو دا عادت وي چي په لمانځه کي یې زیات پام او توجه په خپله جامه کي وي او له رکوع او سجدې څخه د راپورته کېدلو او کښېنستلو په وخت کي هر وخت د لمن او لستوڼي یا د څادر هیئت سموي. همدارنګه د لمانځه په دوران کي د بدن یو حصه مږل مثلاً د ږیري ورېښتان په لاس کي راخیستل. یا له نوکانو څخه خیره ایستل. یا پزه مږل دا ټوله په عبث فعل کي داخل دي او مکروه تحریمي دي.

د لمانځه په دوران کي د سجدې ځای بار، بار صفا کول

﴿۵۲۵﴾ وَقَلْبُ الْحَصٰى إِلَّا لِلسُّجُوْدِ مَـرَّةً (۵) او شګي اړول (لیري کول) مګر د سجدې لپاره یو وار.

لغات: ﴿الحَصٰى﴾ دا لفظ د حاء په "فتحه" سره دی: شګي. واحد: حَصَاةٌ.

تشریح: که د سجدې پر ځای شګي او ډبري وي چي د هغوی په وجه د سجده کول مشکل وي، نو د یو وار لیري کولو او صفا کولو اجازه یې سته لېکن که بار، بار یې هسي صفا کوي. نو دا فعل مکروه تحریمي دي، صاحب د درمختار رَحِمَهُ الله لیکلي دي چي اولیٰ او افضل همدا ده چي بالکل صفا نه کړل سي. (در مختار مع الشامي ج:۱، ص:۶۰۰)

په ګوتو ټکان کول (له ګوتو څخه ټکان ایستل)

﴿۵۲۶﴾ وَفَرْقَعَةُ الْأَصَابِعِ (۶) او په ګوتو ټکان کول.

لغات: ﴿فرقعة﴾ د فَعْلَلَةٌ د باب مصدر دی: په ګوتو ټکان کول، له ګوتو څخه ټکان ایستل.

تشریح: د لمانځه په دوران کي (د ګوتې کشولو یا کښېکښلو په ذریعه) په ګوتو ټکان کول مکروه تحر دي، همدارنګه څوک چي د لمانځه په انتظار کي ناست وي، یا و مسجد ته روان وي، د هغه لپا ناسې کول مکروه دي، او د بعضو په نیز له لمانځه څخه د باندي مکروه تنزیهي دي، لېکن که د ض په وجه وي مثلاً بندونو ته آرام ورکول مقصود وي، نو مکروه نه دي. (انوار الایضاح. عمدة الفقه)

ګوتي په ګوتو کي اچول

﴿۵۲۷﴾ وَتَشْبِيْكُهَا (۷) او ګوتي یو په بل کي اچول (دیوه لاس ګوتي د بل لاس په ګ کول).

لغات: ﴿تشبیک﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: دیوه لاس ګوتي د بل لاس په ګوتو ننه کول

تشريح: د لمانځه په دوران کي ديوه لاس ګوتي د بل لاس په ګوتو کي اچول هم مکروه تحريمي دي.

او د لمانځه د انتظار په حالت کي. يا مسجد ته د روانتيا په حالت کي هم دا منع دي: ځکه په دې سره سستي پيدا کيږي او لمونځ ګزار او منتظر ته داسي کيفيت نه اختيارول پکار دي کوم چي سستي پيدا کوي.

يادونه: د لمانځه او د هغه له متعلقه اعمالو څخه بغير بل ځای په صحيح مقصد سره ګوتي په ګوتو کي اچول يا په ګوتو ټکان منع نه دي. (شامي ج: ٢. ص: ٣٥٢)

د لمانځه په دوران کي پر تشي لاس اېښوول

٥٣٨ ﴿ وَالتَّخَصُّرُ (٨) او پر تش (ډډه) لاس اېښوول.

لغات: ﴿التخصر﴾ د تفعل د باب مصدر دی: پر تش (ډډه) لاس اېښوول.

تشريح: د لمانځه په دوران کي پر خپل تشي لاس اېښوول مکروه تحريمي دي. د لمانځه څخه بغير په بل حالت کي پر تشي لاس اېښوول مکروه تنزيهي دي. (شامي ج: ٢. ص: ٣٥٢)

(ځکه دا د شيطان او دوږخيانو انداز دی. يعني کله چي دوی د محشر په ورځ له ډېرو درېدو څخه ستړي سي. نو د ځان هوسايی لپاره به داسي درېږي). (انوار الايضاح)

په لمانځه کي شا وخوا مخ اړول

٥٣٩ ﴿ وَالْاِلْتِفَاتُ بِعُنُقِهٖ (٩) او خپله غاړه اړول (د غاړي او مخ په اړولو سره کتل).

لغات: ﴿الالتفات﴾ د افتعال د باب مصدر دی: توجه کول (پاملرنه کول). د يو شي وطرف ته مخ اړول.

تشريح: د لمانځه په دوران کي مخ پر قبله ساتل ضروري دي، او مخ راسته يا چپه طرف ته داسي اړول (کږول) چي ټوله مخ له قبلې څخه وګرځي، نو دا مکروه تحريمي دي او بغير له مخ اړولو څخه صرف د سترګو له کونجانو څخه کتل بېله ضرورته خو مکروه تنزيهي دي او که د ضرورت په وجه وي. نو مباح دي. (عمدة الفقه بحوالۀ شفاء الارواح)

په لمانځه کي پر کوناټو کښېنستل او اقعاء کول

٥٤٠ ﴿ وَالْاِقْعَاءُ (١٠) او د سپي په څېر کښېنستل.

لغات: ﴿اقعاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: پر مقعده (کوناټو) کښېنستل او پنډۍ درول.

تشريح: دلمانځه په دوران کي د يوه لاس ګوتي د بل لاس په ګوتو کي اچول هم مکروه تحريمي دي.

او دلمانځه دانتظار په حالت کي، يا مسجد ته د روانتيا په حالت کي هم دا منع دي: ځکه په دې سره سستي پيدا کيږي او لمونځ ګزار او منتظر ته داسي کيفيت نه اختيارول پکار دي کوم چي سستي پيدا کوي.

يادونه: دلمانځه او د هغه له متعلقه اعمالو څخه بغير بل ځای په صحيح مقصد سره ګوتي په ګوتو کي اچول يا په ګوتو ټکان منع نه دي. (شامي ج: ۲. ص، ۳۵۲)

د لمانځه په دوران کي پر تشي لاس ايښوول

٣٨٨ وَالتَّخَصُّرُ (٨) او پر تش (ډډه) لاس ايښوول.

لغات: ﴿التخصر﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: پر تش (ډډه) لاس ايښوول.

تشريح: دلمانځه په دوران کي پر خپل تشي لاس ايښوول مکروه تحريمي دي. دلمانځه څخه بغير په بل حالت کي پر تشي لاس ايښوول مکروه تنزيهي دي. (شامي ج: ۲. ص: ۳۵۱)

(ځکه دا د شيطان او دوږخيانو انداز دی، يعني کله چي دوی د محشر په ورځ له ډېرو درېدو څخه ستړي سي، نو د ځان هوسايي لپاره به داسي درېږي). (انوار الايضاح)

په لمانځه کي شا وخوا مخ اړول

٣٨٩ وَالِاْلتِفَاتُ بِعُنُقِهِ (٩) او خپله غاړه اړول (دغاړي او مخ په اړولو سره کتل).

لغات: ﴿الالتفات﴾ د افتعال د باب مصدر دی: توجه کول (پاملرنه کول)، د يو شي و طرف ته مخ اړول.

تشريح: دلمانځه په دوران کي مخ پر قبله ساتل ضروري دي، او مخ راسته يا چپه طرف ته داسي اړول (ګرځول) چي ټول مخ له قبلې څخه وګرځي، نو دا مکروه تحريمي دي او بغير له مخ اړولو څخه صرف د سترګو له کونجانو څخه کتل بېله ضرورته خو مکروه تنزيهي دي او که د ضرورت په وجه وي، نو مباح دي. (عمدة الفقه بحوالة شفاء الارواح)

په لمانځه کي پر کوناټو کښېنستل او اقعاء کول

٣٩٠ وَالْاِقْعَاءُ (١٠) او د سپي په څېر کښېنستل.

لغات: ﴿اقعاء﴾ د افعال د باب مصدر دی، پر مقعده (کوناټو) کښېنستل او پنډۍ درول.

تشریح: په لمانځه کې په التحیات کې او د دواړو سجد په مینځ کې د سپي په څېر کښېناستل مکروه تحریمي دي. د اقعاء مطلب دا دی چې مقعده (یا په بله وینا: دواړه کوناټي) پر ځمکه کښېږدي او دواړه پنډۍ او ورنونه (یا په بله وینا: دواړه زنګونان) ودروي او د خپلې سینې سره یې جوخت کړي او لاسونه پر ځمکه کښېږدي، داسې کښېناستل د ټولو امامانو په نېز مکروه تحریمي دي. (در مختار مع الشامي ج: ۲. ص: ۴۱۰)

لیڅې پر ځمکه غوړول

۵۲۱ وَافْتِرَاشُ ذِرَاعَيْهِ (۱۱) او خپل دواړې لیڅې (پر ځمکه) هوارول (غوړول).

لغات: ﴿افتراش﴾ د افتعال د باب مصدر دی: غوړول، هوارول. ﴿ذراعیه﴾ تثنیه د ذِرَاعٌ ده چې هغه یو معنیٰ ده: لیڅه. له څنګلې څخه د ګوتو تر سره پورې د لاس حصه.

تشریح: د سجدې په حالت کې د سړي لپاره خپل لیڅې او څنګلې پر ځمکه لګول او هوارول مکروه تحریمي دي، خو که څوک اوږده سجده کوي او هغه پر سنت طریقه د سجدې کولو په وجه ستړی سي، نو د هغه لپاره دا جائز دي چې څنګلې پر خپلو زنګنو ولګوي، خو د لیڅو د هوارولو اجازه ورته نسته. بلکې داسې کول مکروه تحریمي دي؛ ځکه په دې کې د سپي د ناستې (إقعاء الکلب) سره مشابهت راځي. (تحفة الالمعي ج: ۲. ص: ۷۹)

د لمانځه په دوران کې لستوڼي پورته ساتل

۵۲۲ وَتَشْمِيرُ كُمَّيْهِ عَنْهُمَا (۱۲) او خپل دواړه لستوڼي رانغښتل له خپلو دواړو لیڅو څخه.

لغات: ﴿تشمیر﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: کپړه لوړه راپورته کول. لستوڼي رانغښتل. ﴿کُمَّیه﴾ تثنیه د کُمٌ ده: لستوڼي. د عنهما ضمیر ذراعیه ته راجع دی.

تشریح: په داسې حالت کې لمونځ کول چې لستوڼي پورته (رانغښتل سوي) وي مکروه تحریمي دي. برابره ده تر څنګلو پورې وي او که نه وي د ظاهر قول مطابق. (طحطاوي)

او که د لمانځه څخه مخکې یې د اودس کولو لپاره لستوڼي پورته کړي وي او په همدې حالت کې لمونځ شروع کړي. نو په دې کې اختلاف دی. د بعضو په نېز مکروه تحریمي دي او د بعضو په نېز نه دي. او که د رکعت تېرېدلو له بیرې څخه لستوڼي کښته نه کړي او په جماعت کې شامل سي. نو همدغه اختلاف دی او د هغه لپاره افضل دا ده چې په معمولي عمل (عمل قلیل) سره په لمانځه کې لستوڼي کښته کړي. (شامي. عمدة الفقه)

يوازي په پرتوګ کي لمونځ کول

﴿۵۴۳﴾ وَصَلٰوتُهٗ فِی السَّرَاوِیْلِ مَعَ قُدْرَتِهٖ عَلٰی لُبْسِ الْقَمِیْصِ (۱۳) او د ده لمونځ کول (يوازي) په پرتوګ کي، سره د قدرت لرلو د کميس پر اغوستلو.

لغات: ﴿السَّرَاوِيْل﴾ پرتوګ. جمع: سَرَاوِيْلَاتْ.

تشريح: يعني که دلمونځ ګزار سره کميس او جامه موجوده وي، خو بيا هم په لمانځه کي يې فقط پرتوګ اغوستی وي، نو دا مکروه تحريمي دي. (طحطاوي، حلبي)

په اشاره سره د سلام جواب ورکول

﴿۵۴۴﴾ وَرَدُّ السَّلَامِ بِالْإِشَارَةِ (۱۴) او د سلام جواب ورکول په اشاره سره.

تشريح: دلمانځه په دوران کي د لاس يا سر په اشاره سره (دژبې له ښوورلو څخه بغير) د سلام جواب ورکول مکروه تنزيهي دي، او که په ژبه سره جواب ورکړي، نو لمونځ فاسديږي. (در مختار)

بې له عذره چارزانو کښېنستل

﴿۵۴۵﴾ وَالتَّرَبُّعِ بِلَا عُذْرٍ (۱۵) او بې له عذره چار زانو کښېنستل.

لغات: ﴿التربع﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: إدخال الساقين تحت الفخذين (دواړه پنډۍ تر دواړو ورنو لاندي کول) يعني چار زانو (چار دانو) کښېنستل.

تشريح: مسئله دا ده چي دلمانځه په ناسته کي له څه عذر څخه بغير چار زانو کښېنستل مکروه تنزيهي دي. او له لمانځه څخه بهر مکروه نه دي؛ ځکه له نبي کريم ﷺ او له حضرت عمر رضی الله عنه څخه همداسي ناسته ثابته ده.

د سر ورېښتان سره ټولول او تړل

﴿۵۴۶﴾ وَعَقْصُ شَعْرِهٖ (۱۶) او خپل ورېښتان (د چوټي په شېر) تړل (يعني پر سر يا پر څټه سره جمع کول او تړل).

لغات: ﴿العَقْص﴾ د ضرب د باب اسم مصدر دی، له ورېښتانو څخه چوټي جوړول، يا ورېښتان ودل.

تشريح: "عقص" مکروه دی يعني ورېښتان پر سر يا پر څټه سره جمع کول او په يو شي سره تړل. د حديثو په موجب سره دا مکروه تحريمي کېدل پکار دي، لېکن اجماع پر دې ده چي دا فعل مکروه تنزيهي دي (عمدة الفقه). لاندیني تو له صورتونه په "عقص" کي راځي:

① يو دا چي لمونځ ګزار د سر ټوله ورېښتان پر ککرۍ سره را ټول کړي او په کنهورو يې ومښلوي، ② يا دواړه پښکي يا څنې د ګلابتون يا بل شي په ذريعه پر سر وپېچي. چي ځيني وختونه ښځي هم دغسي کوي، ③ يا دا چي ټوله ورېښتان د چوټي په څېر شاته وتړي د دې لپاره چي د سجدې په وخت کي پر ځمکه نه ولګېږي. دا ټوله مکروه دي، نو که څوک له دې څخه يو صورت اختيار کړي، او په هغه حالت کي لمونځ وکړي. نو لمونځ يې مکروه دی. (فتح المصلي)

د سر مېنځ لڅ پرېښوول

﴿۵۴۷﴾ وَالۡاِعۡتِجَارُ وَهُوَشَدُّ الرَّأۡسِ بِالۡمِنۡدِيۡلِ وَتَرۡكُ وَسۡطِهَا مَكۡشُوۡفًا (۱۷) او اعتجار کول
او اعتجار د سر تړل دي په دسمال سره او د سر مېنځ لڅ پرېښوول دي (يعني دسمال اروماليا عمامه داسي سر
سر تړل چي له مېنځ څخه سر ښکاره وي. دا مکروه دي).

لغات: ﴿الۡاِعۡتِجَار﴾ دافتعال د باب مصدر دی: ① لنګوټه پېچل. ② "مِعجر" (يعني سر پېچک) پر سر تړل). له "معجر" (سر پېچک) څخه هغه د دسمال په څېر کوچنی ټوکر مراد دی چي په ځينو سيمو کي يې ښځي د سر پر اطرافو پېچي چي د سر مېنځ يې خالي پاته وي. ﴿مِنۡدِيۡل﴾ دسمال. رومال. جمع: مَنَادِيل.

تشريح: د لمونځ ګزار لپاره دا هم مکروه دي چي دُسمال وغيره په سر باندي داسي وپېچي چي د سر ککرۍ (پورتنۍ حصه) ښکاره پرېږدي، نو په دې هيئت سره لمونځ کول مکروه تحريمي دي. (شامي)

جامه را ټولول

﴿۵۴۸﴾ وَكَفُّ ثَوۡبِهٖ (۱۸) او خپله جامه را ټولول.

لغات: ﴿كَفٌّ﴾ د نصر د باب مصدر دی، كَفَّ يَكُفُّ كَفًّا: د دې باب ډېري معناوي دي چي د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدلېږي کله چي د دې په صله کي "ثَوۡب" راسي نو معنی يې ده: کپړه سره راټولول. کپړه له خاوري وغيره څخه راګرځول.

تشريح: فرمايي چي له رکوع او سجدې څخه د را پورته کېدلو او کښېنستلو په وخت کي لمن او جامه را ټولول چي ککړه نه سي دا هم مکروه تحريمي دي. يا مثلاً لکه ځيني خلک چي کله سجدې ته ځي. نو خپل د مخ يا شا کپړه را پورته کړي. برابره د عادت په توګه وي يا له خاورو څخه د کپړې د ساتلو لپاره وي. په هر صورت کي دا مکروه تحريمي دي. (شامي. شفاء الارواح)

په سر يا اوږو باندي کپړه ځړېدونکې پرېښوول

﴿۵۴۹﴾ وَسَدۡلُهٗ (۱۹) او جامه ځړېدلې پرېښوول.

لغات: ﴿سَدل﴾ د نصر او ضرب د باب مصدر دی: کپړه وغيره ځړول.

تشريح: د لمانځه په حالت کي څادر (پټو) يا داسي بل شی پر ځان له پېچلو څخه بغير پر سر يا پر اوږو داسي اچول چي دواړه طرفونه ايله ځړېږي مکروه تحريمي دي. دې ته سدل وايي. همدا حکم په هغه صورت کي هم دی کله چي چپنه يا کوټ وغيره صرف پر اوږو واچوي او په لستوڼو يې لاس دننه نه کړي (او د لمانځه څخه بهر دا کيفيت مکروه تنزيهي دی). (در مختار مع الشامي)

په څادروغيره کي ځان په پوره توګه پېچل

وَ الْاِنْدِرَاجُ فِيْهِ بِحَيْثُ لَا يُخْرِجُ يَدَيْهِ (٢٠) او په جامه کي داسي ځان پېچل (ځان پکښي نغښتل) چي خپل لاسونه نه سي را ايستلای.

لغات: ﴿اندراج﴾ د انفعال د باب مصدر دی، د دې باب په صله کي چي فِیْ راسي لکه دلته فِيْه، نو معنى يې ده: پکښي داخلېدل. (ځان) پکښي پېچل، پکښي نغښتل.

تشريح: چادر يا داسي بله کپړه پر ځان داسي پېچل چي د لاسونو د را ايستلو ځای پکښي پاته نه سي (چي له هغه څخه لاسونه را وېستل سي)، نو په داسي حالت کي لمونځ کول مکروه تحريمي دي. (شامي)

اوږه ښکاره ساتل

وَ جَعْلُ الثَّوْبِ تَحْتَ اِبْطِهِ الْاَيْمَنِ (٢١) او کپړه تر خپل راسته بغل لاندي را وستل

وَ طَرْحُ جَانِبَيْهِ عَلَى عَاتِقِهِ الْاَيْسَرِ او د هغې دواړه طرفونه پر چپه اوږه اچول.

لغات: ﴿إبط﴾ بغل. تخرګ. جمع: آباط. ﴿عَاتِق﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنى ده: اوږه (ووږه). په اصل کي داوږې هغه حصې ته ويل کيږي چي پر هغه څادر وغيره اچول کيږي يعني داوږې مينځ (مَابَيْنَ الْمَنْكِبِ و العنق. موضع الرداء من المنكب). (معجم الوسيط. معجم لغة الفقهاء)

تشريح: کپړه په داسي توګه اغوستل چي له راسته بغل څخه لاندي را وستل سي او د کپړې دواړه طرفونه پر چپه اوږه واچول سي (دې ته اضطباع وايي کوم چي د احرام په حالت کي د عمرې او حج د طواف لپاره کيږي). په لمانځه کي داسي کول يا دواړه اوږې ښکاره کول مکروه تنزيهي دي. (انوار الايضاح. شفاء الارواح)

له ولاړي څخه بغير په بل حالت کي قرائت کول

وَالْقِرَاءَةُ فِيْ غَيْرِ حَالَةِ الْقِيَامِ (٢٢) او قرائت کول د ولاړي له حالت څخه بغير بل حالت کي.

تشریح: له قیام (ولاړي) څخه بغیر په بل حالت کي قرآن شریف لوستل مثلاً په رکوع یا سجده او قعده کي قرائت کول مکروه تحریمي دي، او دا خبره د تلاوت له واجباتو څخه ده، د لمانځه له واجباتو څخه نه ده، لهذا د داسي کس لمونځ خو صحیح کیږي او سجدهٔ سهو هم نه واجبیږي، خو قصداً اسي کول مکروه تحریمي دي. (حلبي ص: ۳۵۷)

یادونه: په رکوع کي د قرآن لوستلو دوه صورتونه دي: ① یو دا چي د قیام په حالت کي قرائت وکړل سي او د قرائت له ختمیدو څخه مخکي رکوع ته ولاړ سي او په همدې حالت کي قرائت پوره کړي، نو دا مکروه تنزیهي دي (عمدة الفقه)، ② او بل دا چي صرف په رکوع کي قرائت وکړي. دا مکروه تحریمي دي (پورتنی حواله)، خو په دواړو صورتونو کي لمونځ نه فاسدیږي او همدا حکم په سجده او قعده کي د قرائت کولو دی. (تحفة الالمعی ج: ۲. ص: ۵۸، ۵۹)

په نوافلو کي اول رکعت اوږدول

﴿۵۵۳﴾ وَإِطَالَةُ الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى فِي التَّطَوُّعِ (۲۳) او په نفلو کي اول رکعت اوږدول.

تشریح: د سنتو او نفلو په رکعتونو کي برابر تلاوت کول پکار دي، لهذا که په مقدار کي یې زیات فرق راسي چي په اول رکعت کي د دویم رکعت په نسبت زیات قرائت وکړي. نو دا عمل مکروه تنزیهي دی.

دویم رکعت اوږدول

﴿۵۵۳﴾ وَتَطْوِيْلُ الثَّانِيَةِ عَلَى الْأُوْلٰى فِيْ جَمِيْعِ الصَّلٰوتِ (۲۴) او دویم رکعت پر اول رکعت اوږدول په ټولو لمنځونو کي.

تشریح: د هر لمانځه هغه که نفل وي او که فرض دویم رکعت له اول رکعت څخه د دریو آیتونو یا تر دې زیات اوږدول مکروه تنزیهي دي او که تر دې کم وي، نو مکروه نه دي. (طحطاوي)

د سورت تکرار

﴿۵۵۵﴾ وَتَكْرَارُ السُّوْرَةِ فِيْ رَكْعَةٍ وَّاحِدَةٍ مِنَ الْفَرْضِ (۲۵) او یو سورت مکرر (بار. بار) ویل د فرضو په یوه رکعت کي.

لغات: ﴿تکرار﴾ د نصر د باب اسم مصدر دی: كَرَّ يَكُرُّ كَرًّا وكُرُوْرًا و تَكْرَارًا: یو عمل څو ځله کول (مکرر کول)، بیا. بیا کول (بار. بار کول یا ویل)، راګرځېدل.

تشریح: صرف یو سورت په یوه رکعت کي بار. بار ویل په فرضو کي مکروه دي. په نفلو کي څه پروانسته. دلته مصنف رَحِمَهُ الله "في ركعة واحدة" قید لګولی دی: ځکه یو سورت په اول رکعت کي

او بيا په دويم رکعت کي ويل څه پروانه لري، خو د کوم چا چي نور سورتونه ياد وي، د هغه لپاره داسي کول ښه نه دي او مکروه تنزيهي دي، خو که څوک په هېره داسي وکړي نو څه پروا نشته. (طحطاوي)

د ترتيب خلاف قرائت کول

﴿۵۵۶﴾ وَقِرَاءَةُ سُوْرَةٍ فَوْقَ الَّتِيْ قَرَأَهَا (۲۶) او داسي سورت ويل کوم چي لوړ (مخکي) وي له هغه سورت څخه کوم چي لمونځ ګزار ويلی وي (مثلا په اول رکعت کي قُلْ هُوَ اللهُ ووايي او په دويم رکعت کي تَبَّتْ يَدَا ووايي. دا هم مکروه دي).

تشريح: په لمانځه کي قرآن مجيد چپه ويل يعني په يوه رکعت کي يو سورت ويل او په دويم رکعت کي تر هغه مخکي سورت ويل مثلاً په اول رکعت کي سورة الاخلاص او په دويم کي سورة اللهب "تبت يدا" يا سورة النصر يا سورة الکوثر وغيره ويل، دا مکروه دي، په لمانځه کي سورتونه په ترتيب سره ويل د تلاوت له واجباتو څخه دي، لهذا کوم څوک چي يې خلاف ترتيب وايي لکه پورتنی مثال، نو د هغه لمونځ خو صحيح کيږي او سجدهٔ سهو هم نه واجبيږي، خو قصداً داسي کول مکروه تحريمي دي، ليکن که په هېره داسي وسي، نو مکروه نه دي، بلکي په هېره که مخکيني سورت شروع کړي، نو بيا يې پرېښوول مکروه دي. (تحفة الالمعي، عمدة الفقه)

* * *

سوال: که څوک د لمانځه په اول رکعت کي په هېره آخري سورت "قُلْ اعوذ برب الناس" ووايي، نو اوس په دويم، دريم او څلورم رکعت کي به کوم سورت وايي؟.

جواب: همدا سورة الناس دي په هر رکعت کي ووايي او لمونځ دي پوره کړي. (فتاویٰ محموديه، مراقي الفلاح)

د دوو سورتونو په مينځ کي فصل کول

﴿۵۵۷﴾ وَفَصْلُهُ بِسُوْرَةٍ بَيْنَ سُوْرَتَيْنِ قَرَأَهُمَا فِيْ رَكْعَتَيْنِ (۲۷) او په يو (کوچني) سورت سره فصل کول د هغه دوو سورتونو په مينځ کي کوم چي يې په دوو رکعتونو کي ويلي وي (مثلا په اول رکعت کي قُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ ووايي او په دويم کي رکعت کي تَبَّتْ يَدَا ووايي او په مينځ کي سورة النصر پرېږدي. دا هم مکروه دي).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که په دوو رکعتونو کي دوه داسي سورتونه ووايي چي د هغه دواړو سورتونو په مينځ کي ديوه سورت فصل راځي (يا په بله وينا دا چي تر يوه سورت وروسته را روان

سورت پرېږدي او تر هغه وروسته والا سورت ووايي)، نو دا مکروه دي که چيري هغه د مينځ پرېښوول سوی سورت کوچنی وي. مثلاً په اول رکعت کي سورة الكافرون ووايي او په دويم رکعت کي تبت يدا ووايي او په مينځ کي سورة النصر پرېږدي، نو دا مکروه دي، او که هغه پرېښوول سوی سورت غټ سورت وي يعني له شپږو آيتو څخه زيات وي، يا د دوو کوچني سورتونو فاصله وي (يعني په مينځ کي دوه کوچني سورتونه پرېښوول سي)، نو مکروه نه دي، مثلاً له والتين څخه وروسته إنا أنزلناه ووايي (او په مينځ کي سورة العلق اقرأ باسم ربك الذی پرېږدي)، يا مثلاً له لإيلٰف قريش څخه وروسته إن أعطينٰك ووايي، يا له قُل يا أيها الكافرون څخه وروسته قُل هو الله أحد ووايي، نو مکروه نه دي (عمدة الفقه بحوالهٔ شفاء الارواح). او د مفتي سعيد پالنپوري مدّ ظلهٗ تحقيق دا دی چي مطلقاً د يوه سورت فصل مکروه دی برابره ده هغه کوچنی سورت وي او که لوی سورت وي. (حاشيه امداد الفتاوی)

په لمانځه کي قصداً خوشبويي بويول

﴿۵۵۸﴾ وَ شَمُّ طِيْبٍ (۲۸) او خوشبويي بويول.

لغات: ﴿شَمّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: بويول (بوی کول).

تشريح: د لمانځه په دوران کي قصداً خوشبويي بويول (مثلاً په عطرو خيشته پمبه په پزه کي ايښوول) مکروه تنزيهي دي، لېکن که څوک داسي ځای لمونځ کوي چي هلته د عطرو بوی او خوشبويي وي (مثلاً په مسجد کي کړتي لګول سوي وي يا يو چا تېز عطر يا سينټ لګولي وي) او هغه خوشبويي لمونځ ګزار ته په لمانځه کي محسوسيږي، نو په دې کي کراهت نسته. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي)

په لمانځه کي باد پکه (پيک) وهل

﴿۵۵۹﴾ وَ تَرْوِيْحُهٗ بِثَوْبِهٖ (۲۹) او هوا (باد) کول په خپله کپړه سره أَوْ مِرْوَحَةٍ (۳۰) يا (باد کول) په پَيک سره مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ يو وار يا دوه واره.

لغات: ﴿ترويح﴾ د دې لفظ معناوي دي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: باد کول. باد پکهٔ وغيره ښورول چي هوا وکړي. پَيک وهل. ﴿مِرْوَحَة﴾ د ميم په کسره سره: باد پکه، پَيک. جمع: مَرَاوِح، مَرَاوِح. او د ميم په فتحه سره يعني د مَرْوَحَةٌ معنیٰ ده: دښت، بيابان. جمع: مَرَاوِيْح.

تشریح: د لمانځه په دوران کي د لمونځ گزار لپاره په خپله لمن یا په پیک وغیره سره هوا کول یو یا دوه واره مکروه تحریمي دي؛ ځکه دومره مقدار عمل کثیر نه دی او که دري واره یا تر دې زیات داسي وکړي، نو د عملِ کثیر کېدو په وجه لمونځ فاسدیږي. (عالمگیري)

لېکن په طحطاوي کي دي چي معتمد قول دا دی چي د پیک او بادپکې په وهلو سره مطلقاً لمونځ فاسدیږي، که څه هم یو وار وي؛ ځکه که یو څوک د لیري څخه دا کس ووینی نو پر هغه یې د لمونځ کونکي گومان نه راځي (نو د عملِ کثیر په تعریف کي داخل سو چي په هغه سره لمونځ فاسدیږي). په خلاف د لمن یا لستوني په ذریعه د هوا کولو چي په هغه سره لمونځ نه فاسدیږي، بلکي مکروه کیږي کله چي له دریو وارو څخه کم وي.

په سجده کي د پښو د گوتو حکم

﴿۵٦۰﴾ وَتَحْوِيْلُ أَصَابِعِ يَدَيْهِ أَوْ رِجْلَيْهِ عَنِ الْقِبْلَةِ فِي السُّجُوْدِ وَغَيْرِهٖ (۳۱) او اړول د خپلو لاسو گوتي (۳۲) یا د خپلو پښو گوتي له قبلې څخه په سجده او نورو (ارکانو) کي.

تشریح: بعضي خلک په سجده کي که څه هم دواړه پښې اړدي، خو گوتي یې له قبلې څخه اوښتي وي یعني د قبلې وطرف ته نه وي، محض پر ځمکه لگېدلي وي، دا مکروه تنزیهي دي چي د سنت خلاف دی. سنت طریقه دا ده چي په ټوله سجده کي دواړه پښې داسي ټینگي ولگوي چي گوتي وپېچل سي یعني د قبلې وطرف ته واړول سي، لهذا که یو څوک په سجده کي گوتي له قبلې څخه واړوي یا په یو بل رکن کي، نو داسي کول مکروه تنزیهي دي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي)

﴿۵٦۱﴾ وَتَرْكُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الرُّكْبَتَيْنِ فِي الرُّكُوْعِ (۳۳) او پرېښوول د لاسونو ایښوول پر دواړو زنگنو په رکوع کي (یعني په رکوع کي چي چیري لاس ایښوول سنت دي ایمنې پر دواړو زنگنو اُملته نه ایښوول مکروه دي).

تشریح: په رکوع کي دواړه لاسونه پر زنگنو ایښوول او په هغوی سره زنگونان نیول سنت دي، لهذا که یو څوک دا سنت پرېږدي، نو مکروه تنزیهي دي. همدارنگه د دواړو سجدو په مینځ کي د ناستې یا د التحیات په حالت کي دواړه لاسونه پر ورنو نه ایښوول، یا د قیام (ولاړي) په حالت کي له تکبیرِ تحریمه څخه وروسته چپه لاس په راسته لاس باندي ایښوول، دا ټوله په مکروهِ تنزیهي کي داخل دي. (مراقی الفلاح)

په لمانځه کي اررمی کښل

﴿۵۶۲﴾ وَالتَّثَاؤُبُ (۳۴) او اررمی کول (اررمی کښل).

لغات: ﴿التثاؤب﴾ اررمی، په جسم کي د سُستیا او خوب راتللو په وجه خوله خلاصېدل.

تشریح: په لمانځه کي قصداً اررمی کښل مکروه تحریمي دي، او که خود بخوده اررمی راسي، نو پروانه لري، خو تر څو چي ممکنه وي، د هغه بندول مستحب دي، لهذا که هغه بنده نه کړي، نو مکروه تنزیهي دي. په لمانځه کي د اررمی بندولو طریقه دا ده چي خپل شونډان په غاښو سره نیولي وساتي بیا هم که هغه نه ودرېږي، نو پر خوله دي لاس کښېږدي، خو ښکاره دي وي چي تر څو د خولې په نیولو سره اررمی درېدلای سي، پر خوله لاس ایښوول مکروه دي.

فایده: اررمی د معدې له ډکوالي او د بدن له ثقل څخه پیدا کیږي او په حدیث کي دې ته د شیطان له طرفه ویل سوي دي، علماؤ د اررمی بندولو مجرّبه طریقه دا لیکلې ده چي د اررمی راتللو په وخت کي دي په زړه کي دا تصور وکړي چي انبیاؤ ته هیڅکله اررمی نه ده راغلې او هغوی له دې څخه محفوظ وه، نو سمدستي به اررمی ودرېږي، په شامي (ط: عثمانیه ج:۱. ص:۴۴۶) کي د مذکوره طریقې عبارت داسي نقل سوی دی: "الطریق لی دفع التثاؤب أن یخطر بباله أن الأنبیاء علیهم السلام ما تثاءبوا قط، قال القدوری: جرّبناه مرارا فوجدنا کذٰلك آه، قلتُ وقد جرّبته أیضًا فوجدته کذٰلك".

په لمانځه کي سترګي پټول

﴿۵۶۳﴾ وَتَغْمِیْضُ عَیْنَیْهِ (۳۵) او خپلي سترګي پټول (بندول).

لغات: ﴿تغمیض﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: پټول، بندول.

تشریح: د لمانځه په دوران کي بېله عذره سترګي پټول مکروه تنزیهي دي. لیکن که د توجّه سمبللو لپاره سترګي پټي کړي او د سترګو په خلاصولو سره د هغه په توجّه او خشوع کي فرق راځي او د سترګو په پټولو سره دا ورته حاصلیږي او ښه یې زړه لګیږي. نو په داسي صورت کي د سترګو په پټولو کي هیڅ کراهت نسته بلکي ښه دي. خو بیا هم توله لمونځ دي په پټو سترګو نه کوي، بلکي د ضرورت په وخت کي دي یې پټوي. (عمدة الفقه. طحطاوي)

په لمانځه کې سترګې پورته کول

﴿۵۶۴﴾ وَرَفْعُهُمَا لِلسَّمَاءِ (۳۶) او سترګې آسمان ته پورته کول (آسمان ته کتل).

تشریح: د لمانځه په دوران کې د آسمان وطرف ته سترګې پورته کول مکروه تحریمي دي. (طحطاوي)

په لمانځه کې سره غځېدل (ځان کشول)

﴿۵۶۵﴾ وَالتَّمَطِّيْ (۳۷) او سره غځېدل (لاسونه کشول او سینه مخ ته را ایستل).

لغات: ﴿التمطي﴾ د تفعّل د باب مصدر دی، د دې باب څو معناوي دي چې له هغوی څخه یوه معنی ده: سره غځېدل یعني خپل لاسونه کشول او سینه را ایستل.

تشریح: په لمانځه کې خپل لاسونه کشول او سینه مخ ته را ایستل، یا په بله وینا ځان کشول (د بدن ستړیا ایستل) مکروه تنزیهي دي؛ ځکه دا هم د سُستیا علامت دی، حال دا چې د لمانځه کې په حالت کې د انتهایي عاجزۍ او د خشوع او خضوع اظهار کول پکار دي، لهذا که څوک داسې کوي، نو دا سخته بې ادبي او د کراهت خبره ده. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي)

د عملِ قلیل حکم

﴿۵۶۶﴾ وَالْعَمَلُ الْقَلِيْلُ (۳۸) او لږ عمل (لږ لاسوهنه) کول.

تشریح: د لمانځه په دوران کې بې له ضرورته عملِ قلیل هم مکروه تنزیهي دی، مثلاً په یوه لاس خپل سر ګرول، یا لمن سیده کول او داسې نور.

د عملِ قلیل په تعریف کې اختلاف دی، آسانه تعریف یې دا دی چې لیدونکی کس پر داسې لمونځ ګزار د نا لمونځ ګزار ګومان نه وکړي (بلکې د دې عمل په لیدلو سره یې بیا هم ګومان داوي چې هغه په لمانځه کې دی). (ایضاح الاصباح)

په لمانځه کې بې له ضرورته سپږه وغیره وژل

﴿۵۶۷﴾ وَأَخْذُ قَمْلَةٍ وَقَتْلُهَا (۳۹) او سپږه نیول (۴۰) او هغه وژل.

لغات: ﴿القملة﴾ سپږه، شپږه (هغه حشره کوم چې د ورېښتانو یا جامو له خیرو څخه پیدا کیږي).

تشريح: دلمانځه په دوران کي که سپږه یا غوماشه لمونځ گزار ته تکليف نه ورسوي، خو بيا هم هغه يې ووژني، نو دا مکروه تنزيهي دي، او د تکليف رسولو په وخت کي د دوی په وژلو کي هيڅ کراهت نشته، په دې شرط چي د دوی په وژلو کي عملِ کثير ته ضرورت نه پرېوځي. (عمدة الفقه)

په لمانځه کي پزه یا خوله پټول

﴿۵۶۸﴾ وَتَغْطِيَةُ أَنْفِهٖ وَفَمِهٖ (۴۱، ۴۲) او خپله پزه او خوله پټول.

تشريح: دلمانځه په دوران کي پزه او خوله پټول مکروه تنزيهي دي، او که لمونځ گزار په څادر (پټو) وغيره سره خپل سر او د بدن اکثره حصه پټه کړي لکه نن سبا چي د يخ په موسم کي خلکو څادر وغيره پر ځانو پېچلی وي او په همدې حالت کي لمونځ کوي، نو په دې سره په لمانځ[ه] کي څه نقصان نه راځي، صرف خوله او پزه پټول مکروه تنزيهي دي. (مراقي الفلاح)

په خوله کي داسي شی ايښوول کوم چي قرائت لره مانع وي

﴿۵۶۹﴾ وَوَضْعُ شَيْءٍ فِيْ فَمِهٖ يَمْنَعُ الْقِرَاءَةَ الْمَسْنُوْنَةَ (۴۳) او په خپله خوله کي داسي شی ايښوول کوم چي سنت قرائت منع کوي (دسنت قرائت ويلو لپاره خنډ جوړېږي).

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که لمونځ گزار داسي شی په خوله کي کېښېږدي (مثلا اتائی وغيره) چي د هغه په وجه په قرائت مسنونه کي خلل راځي، نو دا مکروه تنزيهي دي، او که په قرائت واجبه کي خلل راځي، نو دا مکروه تحريمي دي. او که څه داسي شی په خوله کي کېښېږدي چي د هغه په وجه گردسره قرائت نه سي کولای او آواز نه راوځي، يا حروف داسي بدل سي چي بالکل معنیٰ پې بدله سي، نو په دې صورت کي لمونځ فاسدېږي. (طحطاوي)

د لنګوټې پر ول یا پر تصوير سجده کول

﴿۵۷۰﴾ وَالسُّجُوْدُ عَلٰى كَوْرِ عِمَامَتِهٖ وَعَلٰى صُوْرَةٍ (۴۴) او سجده کول پر وَل (پېچ) د خپلي لنګوټې (۴۵) او پر تصوير.

لغات: ﴿كَوْر﴾ د لنګوټې پېچ وتاو، وَل. جمع: أَكْوَار. ﴿صورة﴾ تصوير.

تشريح: د لنګوټې پر ول يعني پر هغه پېچ کوم چي پر تندي واقع وي بېله عذر سجده کول مکروه تنزيهي دي، او که څه عذر وي مثلاً ځمکه ډېره گرمه يا يخه وي، نو مکروه نه دي.

وعلى صورة: همدارنګه که د سجدې پر ځای ديو ساکښ تصوير وي، نو پر هغه سجده کول مکروه تحريمي دي؛ ځکه په دې کي د تصوير د عبادت سره مشابهت راځي، (د تصوير په مکله نور بحث او تفصيل به څه وروسته راسي). (طحطاوي، مراقي الفلاح ص ۱۸۸)

يوازې پر تـنـدي سجده كول

﴿۵۷۱﴾ وَالِاقْتِصَارُ عَلَى الْجَبْهَةِ بِلَا عُذْرٍ بِالْأَنْفِ (۴۶) او اکتفا کول (صرف) پر تندي بغير له څه عذر لرلو څخه په پزه کي (يعني بېله عذره پزه نه لګول او صرف پر تندي سجده کول هم مکروه دي).

لغات: ﴿اقتصار﴾ دافتعال دباب مصدر دی: اکتفا کول.

تشريح: صرف پر تندي سجده کول او پزه نه لګول بېله عذره مکروه تحريمي دي، که عذر وي. نو بيا مکروه نه دي.

په لاره کي لمونځ کول

﴿۵۷۲﴾ وَالصَّلٰوةُ فِي الطَّرِيْقِ (۴۷) او لمونځ کول په لاره کي.

تشريح: په لاره کي (دننه) لمونځ کول مکروه تحريمي دي؛ ځکه هلته په لمانځه کي توجه او اطمينان نه نصيب کېږي او د تېرېدونکو وطرف ته توجه اوړي او په لمانځه کي خلل راځي، لهذا لاري څخه دي څه ګوښه لمونځ کول کېږي.

په حمام کي لمونځ کول

﴿۵۷۳﴾ وَالْحَمَّامِ (۴۸) او (لمونځ کول) په حمام کي.

لغات: ﴿حمام﴾ حمام، دلمبېدو ځای (عمومي حمام)، پخوا به د بازار حمام داسي وو چي په مېنځ کي به يي حوض جوړ وو، او خلک به په لنګ يا پرتوګ کي پکښي لمبېدل او حمام والا به خپله مزدوري له هغوی څخه اخيستل.

تشريح: په حمام کي لمونځ کول مکروه تحريمي دي؛ ځکه هلته هم په توجه او اطمينان سره لمونځ نه سي کېدلای سي او هلته د موجوده کسانو د عورت ښکاره کېدو خطره هم سته او که ډېر خلک لمبېدو ته راسي، نو رش او ګنه ګونه هم کېدلای سي او دغه شيان د زړه په حضور او توجه کي خلل اچوي. (تحفة الالمعي ج۲، ص۱۷۲)

په بيتُ الخلا کي لمونځ کول

﴿۵۷۴﴾ وَفِي الْمَخْرَجِ (۴۹) او (لمونځ کول) په بيت الخلاء کي.

لغات: ﴿المخرج﴾ ځای د وتلو، مراد ځني د اودس ماتولو ځای دی يعني ، تشی، بيت الخلاء.

تشریح: په بیت الخلاء کي لمونځ کول مکروه تحریمي دي؛ ځکه هلته نجاست او ګندګي نژدې وي، نو لمونځ ګزار که څه هم څادر وغیره هوار کړي. خو د نجاست د قرب په وجه دا مکروه دي. (شامي ج:۱. ص:۶۱۲)

په هدیره کي لمونځ کول

﴿۵۷۵﴾ وَفِي الْمَقْبَرَةِ (۵۰) او (لمونځ کول) په هدیره کي.

تشریح: په هدیره کي هم لمونځ کول مکروه تحریمي دي؛ ځکه هلته لمونځ ګزار د قبرونو سره مخامخ کیږي او د قبر مخ ته لمونځ کول ممنوع دي. خو که داسي ځای لمونځ وکړي چي هلته قبرونه مخ ته نه وي، نو ګنجایش پکښي شته. (تحفة الالمعي ج:۲. ص:۱۷۱، طحطاوي علی مراقی الفلاح)

د بل چا په ځمکه کي لمونځ کول

﴿۵۷۶﴾ وَأَرْضِ الْغَيْرِ بِلَا رِضَاهُ (۵۱) او (لمونځ کول) د بل چا په ځمکه کي د هغه له رضا (خوښي) څخه بغیر.

تشریح: د بل چا په ځمکه کي د هغه له صراحتاً یا دلالتاً رضا او اجازې څخه بغیر لمونځ کول مکروه تنزیهي دي (د رضا او اجازې علم د عُرف عام سره تعلق لري). (مراقی الفلاح، شفاء الارواح)

نجاست ته نژدې لمونځ کول

﴿۵۷۷﴾ وَقَرِيْبًا مِنْ نَجَاسَةٍ (۵۲) او (لمونځ کول) نجاست ته نژدې.

تشریح: داسي ځای لمونځ کول چي هلته مخ ته غائط وغیره وي مکروه دي، همدارنګه د نجاست او ګندګیو په ځای کي لمونځ کول هم مکروه دي، مثلاً ① د خوشایو اچولو ځای. ② د څاریو د ذبح کولو ځای، ③ د اوبنانو د ډېلو ځای؛ ځکه هلته بلبوبیي وي او ځمکه نا هواره وي. همدارنګه له اوبن څخه د حملې خطره هم شته او دا خطره د لمونځ ګزار په توجّه او سکون کي خلل اچوي. (طحطاوي)

د متیازو یا غائطو د تقاضا په وخت کي لمونځ کول

﴿۵۷۸﴾ وَمُدَافِعًا لِأَحَدِ الْأَخْبَثَيْنِ (۵۳، ۵۴) او (لمونځ کول) په داسي حال کي چي د غټو یا کوچنیو بولو څخه دیوه دفع کونکی وي (یعني متیازو یا غائطو ډېر په تکلیف کړی وي) أَوِ الرِّيحِ (۵۵) یا (دفع کونکی وي) د باد (باد ډېر په تکلیف کړی وي) وَمَعَ نَجَاسَةٍ غَيْرِ مَانِعَةٍ (۵۶) او دیو

داسې نجاست سره (لمونځ کول) کوم چې مانع نه وي إِلَّا إِذَا خَافَ فَوْتَ الْوَقْتِ أَوِ الْجَمَاعَةِ مګر دا چې کله بېره وي د وخت یا د جماعت د فوتېدلو (تېرېدلو) وَإِلَّا نُدِبَ قَطْعُهُمَا کنې مستحب دي د دې دواړو ختمول (له متیازو او داسې نورو څخه ځان خلاصول).

لغات: ﴿مُدَافِعًا﴾ د مفاعلې له بابه د فاعل صیغه ده، د دې باب څو معناوې دي: لیرې کول، دفع کول، مقابله او مزاحمت کول، ټال متالول (معجم الوسط)، ﴿أُخبثين﴾ تثنیه د أخبثْ ده، مراد ځنې متیازې او غائط دي.

تشریح: د متیازو یا غائطو د دباؤ په وخت کې یا د ریح د غلبې په وخت کې لمونځ کول مکروه تحریمي دي.

همدارنګه داسې نجاست کوم چې پر بدن یا جامه لګېدلی وي او لمانځه لره مانع نه وي. لکه نجاست غلیظه (مثلاً ونه) له یوه درهم څخه کمه وي، نو د هغه سره لمونځ کول مکروه تنزیهي دي او که لمانځه لره مانع وي، مثلاً نجاست غلیظه یو درهم یا تر دې زیات وي، نو د هغه سره لمونځ کول مکروه تحریمي دي. او که پر بدن یا جامه نجاستِ خفیفه لګېدلی وي لکه د حلالو ځاروېو متیازې او داسې نور او د هغه سره لمونځ وکړي، نو حکم دا دی چې دا نجاست خفیفه که د بدن یا جامې له څلورمې حصې څخه کم وي، نو لمونځ یې صحیح کیږي.

إلا إذا خاف فوت إلخ: یعني که وخت تنګ وي یا د جماعت د تېرېدلو بېره وي، نو د متیازو او داسې نورو د غلبې په وخت کې دې هم لمونځ وکړي، او که د وخت یا جماعت د تېرېدلو بېره نه وي، نو اول دې له متیازو، غائطو څخه ځان فارغ کړي، دا مستحب دي.

په "احسن الفتاویٰ" کې لیکل سوي دي چې که وخت دومره تنګ وي چې د لمانځه د قضاء کېدلو خطره وي، نو لمونځ دې وکړي، او که د لمانځه د قضاء کېدلو خطره نه وي، صرف د جماعت د تېرېدلو خطره وي، نو له متیازو، غائطو وغیره څخه دې ځان فارغ کړي او بیا دې لمونځ کړي، په داسې وخت کې لمونځ کول مکروه تحریمي دی او واجبُ الاعاده دی (یعني په احسن الفتاویٰ کې صرف د وخت استثناء سوې ده، نه د جماعت. یعني صرف د وخت د تېرېدلو په صورت کې د سختې تقاضا په وخت کې هم لمونځ کولای سي. او ملته په نور الایضاح کې د وخت او جماعت دواړو استثناء سوې ده). او که د لمانځه په مینځ کې سخته تقاضا پیښه سي، نو هم لمونځ کول مکروه تحریمي دی او په دې حالت کې لمونځ قطع کول واجب دي. (احسن الفتاویٰ ج۲، ص۴۲۱)

د کار په خیرنو جامو کي لمونځ کول

﴿۵۷۹﴾ وَالصَّلوٰةُ فِيْ ثِيَابِ الْبِذْلَةِ (۵۷) او لمونځ کول د کار په جامه کي (په معمولي نامناسبه جامه کي).

لغات: ﴿ثياب﴾ جمع د ثَوْبٌ ده: کپړه، جامه، ﴿البِذْلَة﴾ (د باء په کسره او د ذال په سکون سره) هغه جامه چي د کار او کسب لپاره اغوستل کيږي او حفاظت يې نه کول کيږي، هغه معمولي او نا مناسبه جامه چي بازار او د غټو خلکو مخ ته انسان نه پکښي ځي.

تشريح: د لمانځه په وخت کي پاکي صفا جامې اغوستل پکار دي. او د کار او خدمت جامه لهٔ صفا او زينت والا جامو څخه نه شمېرل کيږي، لهذا که په معمولي نا مناسبه جامه کي لمونځ وکړي، نو لمونځ خويږي کيږي په دې شرط چي جامه پاکه وي. ليکن دا مکروه تنزيهي دي. (در مختار ج:۲، ص:۴۰۷)

په لڅ سر لمونځ کول

﴿۵۸۰﴾ وَمَكْشُوْفُ الرَّأْسِ (۵۸) او (لمونځ کول) په لڅ سر لَا لِلتَّذَلُّلِ وَالتَّضَرُّعِ نه د خاکسارۍ او عاجزۍ لپاره (يعني که د خاکسارۍ او عاجزۍ په غرض سر پټ نه کړي. نو د دې گنجائش سته. کنې په عامو حالاتو کي په لڅ سر لمونځ مکروه دي).

لغات: ﴿التذلّل﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: خاکساري کول، ځان کم گڼل. ﴿التضرّع﴾ دا هم د تفعّل د باب مصدر دی؛ باطني عاجزي ته تضرّع وايي، غاړه ايښوونه او ځان ټيټونه.

تشريح: په لڅ سر لمونځ کول که محض د سُستۍ په وجه وي، نو مکروه تنزيهي دي او که د تکبر په وجه وي (لکه نن سبا چي بعضي خلکو په لڅ سر لمونځ کول خپل فېشن بلکي شعار جوړ کړی دی) نو دا عمل مکروه تحريمي دي؛ ځکه نبي کريم ﷺ همېشه په عامو حالاتو کي په پټ سر لمونځ اداء کړی دی. (کتاب المسائل ص، ۳۵۲)

او که (د الله تعالیٰ په حضور کي) د عاجزي او خشوع ښکاره کولو لپاره په لڅ سر لمونځ وکړي نو مکروه نه دي، ليکن بيا هم اولیٰ دا ده چي په پټ سر لمونځ وکړي. (عمدة الفقه)

د ډوډۍ حاضرېدو په وخت کي لمونځ کول

﴿۵۸۱﴾ وَبِحَضْرَةِ طَعَامٍ يَمِيْلُ إِلَيْهِ (۵۹) او (لمونځ کول) د خوراک په موجود والي کي چي
وهغه ته يې ميلان (خواهش) کيږي.

تشریح: د عبارت مطلب دا دی چې که لمونځ ګزار ډېر وږی وي او ډوډۍ حاضره وي. نو اول دې هغه وخوري، بیا دې لمونځ وکړي، په داسې حالت کې بغیر له ډوډۍ خوړلو څخه لمونځ کول مکروه تنزیهي دي، او که لوږه دومره سخته نه وي چې هغه بې اطمینانه کوي. نو لمونځ کول مکروه نه دي.

د بې اطمینانۍ په ځای کې لمونځ کول

﴿۵۸۲﴾ وَمَا يُشْغِلُ الْبَالَ وَيُخِلُّ بِالْخُشُوْعِ (۶۰) او هغه څه کوم چې زړه مشغوله کوي او په خشوع کې خلل اچوي.

لغات: ﴿البال﴾ زړه، خیال، حال، شان، مثلاً په عربي کې ویل کیږي: ما خطر ببالی: فلانی خبره زما په زړه (یا زما په خیال) کې نه راغله، ﴿یُخِل﴾ د افعال د باب مضارع ده: خلل اچول.

تشریح: هر داسې شی چې د لمونځ ګزار زړه مشغولوي او په خشوع او توجه کې خلل اچوي، د هغه سره لمونځ کول مکروه دي، مثلاً که یو کس لمونځ ګزار ته مخامخ ناست وي چې و قبلې ته یې شا وي. نو خاص وهغه ته مخامخ لمونځ کول مکروه تحریمي دي؛ ځکه په دې کې په خشوع او توجه کې د خلل لوېدلو قوي خطره سته. (در مختار مع الشامي ج:۱، ص:۶۰۲)

همدارنګه داسې ځای لمونځ کول هم مکروه دي چې هلته لوبې او بازۍ کیږي، ګنه ګونه وي: ځکه زړه وهغه طرف ته مائل کیږي. (مراقی الفلاح)

تسبیحات په ګوتو سره شمېرل

﴿۵۸۳﴾ وَعَدُّ الْاٰيِ وَالتَّسْبِيْحِ بِالْيَدِ (۶۱) او شمېرل د آیتونو (۶۲) او (شمېرل) د تسبیح په لاس سره.

لغات: ﴿عَدّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: شمېرل، شمېر کول. ﴿الآی﴾ جمع د آیةٌ ده، د قرآن آیت.

تشریح: په لمانځه کې آیتونه یا تسبیحات مثلاً سبحان الله وغیره په لاس یعني په ګوتو سره شمېرل مکروه تنزیهي دي، برابره ده فرض لمونځ وي او که نفل، او که په لمانځه کې شمېر ته ضرورت وي مثلاً په صلاة التسبیح کې، نو په خپل زړه کې دې شمېر کوي یا صرف د ګوتو سرونه دې پر خپل ځای کېکاږي. نو په دې توګه به مقصد هم حاصل سي او هیڅ کراهت به هم پاته نه سي. (در مختار مع الشامي ج:۱، ص:۶۰۸، کتاب المسائل ص، ۳۵۲)

امام په محراب کي دننه درېدل

﴿۵۸۴﴾ وَقِيَامُ الإِمَامِ فِي الْمِحْرَابِ (۶۳) او درېدل د امام په محراب کي.

لغات: ﴿محراب﴾ د دې لفظ څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: د مسجد د قبلې په دېوال کي د امام لپاره جوړه سوې خالي ګاه چي په هغه کي امام د لمونځ ورکولو لپاره درېږي. په اصل کي د محراب معنی ده: ډېر جنګ کونکی، باتوره کس، نو د محراب وجهٔ تسمیه دا ده چي په محراب کي درېدونکی امام ګواکي د نفس او شیطان سره جنګ کوي. (معجم لغة الفقهاء ص: ۴۱۰، مراقي الفلاح ص: ۱۹۸)

تشريح: که امام په محراب کي داسي ودرېږي چي دواړه قدمونه یې په محراب کي دننه وي، نو دا مکروه تنزیهي دي، خو که قدمونه یې له محراب څخه دباندي وي، نو دا مکروه نه دي، همدارنګه که د لمونځ کونکو د رش او زیاتوالي په سبب امام مجبوراً دننه په محراب کي ودرېږي، نو مکروه نه دي. (مراقي الفلاح)

امام پر لوړ ځای درېدل

﴿۵۸۵﴾ أَوْ عَلَى مَكَانٍ أَوِ الْأَرْضِ وَحْدَهُ (۶۴) یا (درېدل د امام) پر لوړ ځای (۶۵) یا پر ځمکه تنها.

تشريح: د جماعت په لمانځه کي که امام له مقتدیانو څخه جلا تنها پر لوړ ځای ولاړ وي کوم چي یو لاس (یو شرعي ګز) لوړ وي، نو مکروه تحریمي دي. بعضو دې ته مکروه تنزیهي ویلي دي او که هلته امام تنها (یوازي) نه وي، بلکي د امام سره یو، دوه مقتدیان هم ولاړ وي، نو مکروه نه دي. او که لوړوالی له یوه لاس څخه کم وي، نو مکروه تنزیهي دي.

أو الأرض: یعني که امام تنها پر ځمکه (لاندي) ولاړ وي او ټول مقتدیان لوړ ولاړ وي، نو مکروه تنزیهي دی، او که د امام سره یو، دوه مقتدیان هم پر ځمکه ولاړ وي، نو بیا کراهت نشته. (شفاء الارواح)

یادونه: په عبارت کي چي کوم د "وحدهٗ" لفظ دی، د دې تعلق د دواړو مسئلو سره دی.

د داسي صف شا ته درېدل چي په هغه کي خالي ځای پاته وي

﴿۵۸۶﴾ وَالْقِيَامُ خَلْفَ صَفٍّ فِيهِ فُرْجَةٌ (۶۶) او درېدل د داسي صف شا ته چي په هغه کي پراخوالی (خالي ځای) وي.

لغات: ﴿فرجة﴾ د دوو شیانو ترمینځ خالي ځای، د دوو شیانو په مینځ کي پرخوالی.

تشريح: که جماعت ولاړ وي او د مخ په صف کي خالي ځای وي، بیا هم یو مقتدي د شا په ص کي تنها ودرېږي. نو دا عمل مکروه تحریمي دی. (در مختار مع الشامي ج: ۲، ص: ۴۱۶)

یادونه: په حدیث کي دي چي کوم چا د صف خالي ځای ډک کړی، نو د هغه لپاره لس نیکۍ لیکل کیږي، لس ګناهونه یې بخښل کیږي او لس درجې یې لوړیږي. (مراقی الفلاح)

❀ ❀ ❀

که له نیت ترلو څخه وروسته ووینې چي د مخ په صف کي ځای خالي دی

مسئله (۱): که یو سړی د شا په صف کي نیت وتړي او لمونځ شروع کړي، تر دې وروسته ووینې چي د مخ په صف کي ځای خالي دی، نو هغه ته پکار دي چي په همدې د لمانځه په حالت کي مخته ولاړ سي او د مخ په صف کي ودریږي، په دې سره لمونځ نه فاسدیږي. (شامي ج:۲، ص:۳۱۲)

د شا په نوي صف کي تنها دریدل

مسئله (۲): که څوک مسجد ته په داسي حال کي ورسیږي چي د مخ صفونه ټول ډک سوي وي، نو هغه ته پکار دي چي څه ګړی انتظار وکړي، کله چي یو بل مقتدی راسي، نو هغه دي د ځان سره یو ځای کړي او په صف کي دي ودریږي. او که د رکوع کیدلو تر وخته پوري هم یو بل مقتدی رانه سي، نو غوره دا ده چي د مخ له صف څخه داسي کس کوم چي په دې مسئله خبر وي شا ته راولي او د ځان سره دي یې په صف کي ودروي، لیکن که داسي څوک نه وي (لکه نن سبا چي همدا حالت دی چي په دې سره لمونځ فاسد کني)، نو بیا دي تنها په صف کي ودریږي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي. کتاب المسائل)

په تصویر داره کي جامه کي لمونځ کول

﴿۵۸۷﴾ وَلُبْسُ ثَوْبٍ فِيْهِ تَصَاوِيْرُ (۶۷) او داسي جامه اغوستل (لمونځ پکښي کول) چي په هغه کي تصویران وي.

تشریح: په داسي جامه کي لمونځ کول مکروه تحریمي دي چي په هغه کي دیو ساکښ تصویرونه وي. که د نا ساکښ (غیر ذی روح) تصویران پکښې وي (لکه درخته، ګلان، یا مختلفه نقوش او داسي نور)، نو بیا څه حرج نسته.

د تصویر په ځای کي لمونځ کول

﴿۵۸۸﴾ وَأَنْ يَكُوْنَ فَوْقَ رَأْسِهٖ (۶۸) او (همدارنګه مکروه دي) دا چي وي د لمونځ ګزار د سر د پاسه أَوْ خَلْفَهٗ (۶۹) یا (وي) د هغه شا ته أَوْ بَيْنَ يَدَيْهِ (۷۰) یا (وي) د هغه مخ ته (لمونځ ګزار ته مخامخ) أَوْ بِحِذَائِهٖ (۷۱) یا (وي) د هغه په برابری (څنګ) کي (راسته یا چپه طرف ته) صُوْرَةٌ یو تصویر إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ صَغِيْرَةً أَوْ مَقْطُوْعَةَ الرَّأْسِ مګر دا چي وي هغه تصویر کوچنی یا سر پرېکړی سوی

أَوْ لِغَيْـرِ ذِيْ رُوْحٍ يا (وي هغه تصوير) دنا ساکښه (بې ساه) شي (مثلاً دونې يا دبو عمارت تصوير وي).

تشريح: په داسي ځای کي لمونځ کول چي هلته دلمونځ گزار پر سر د پاسه يا مخ ته يا شا ته يا د لمونځ گزار راسته يا چپه طرف ته دساکښ تصوير وي مکروه تحريمي دي. برابره ده تصوير راځړېدلی وي يا لاندي وي يا پر دېوال يا په پرده وغيره کي نقش سوی وي. او په دوی کي له ټولو څخه زيات کراهت په هغه وخت کي دی کله چي تصوير دلمونځ گزار مخ ته وي او بيا دا چي د لمونځ گزار د سر پر طرف وي، بيا راسته طرف ته، بيا چپه طرف ته، بيا دلمونځ گزار شا ته. (حاشيه)

إلا أن تكون إلخ: يعني که تصوير ډېر کوچنی وي (دومره کوچنی وي چي که هغه پر ځمکه کېښول سي او ولاړ کس هغه ته په ځير وگوري، نو د هغه اعضاء سم نه ورته ښکاري. يا په بله وينا اندامونه يې نه پر ښه بېلېږي. داسي تصوير کوچنی دی)، نو په دې کي هيڅ کراهت نسته. همدارنگه که د تصوير سر بالکل ختم ترې سوی وي، برابره ده په خط او ليکلو سره وي، يا گرول سوی وي، يا څه رنگ باندي اچول سوی وي، نو د داسي تصوير سره لمونځ نه مکروه کېږي (په عبارت کي د رأس قيد لګول سوی دی؛ ځکه د نورو اندامو ختمېدو لره اعتبار نسته مثلاً که د تصوير سترگي ختم کړل سوي وي يا داسي نور. نو بيا هم کراهت باقي پاتېږي؛ لأن الإنسان قد تقطع أطرافه وهو حيّ).

د اور مخ ته لمونځ کول

﴿۵۸۹﴾ وَأَنْ يَكُوْنَ بَيْـنَ يَدَيْهِ تَنُّـوْرٌ (۷۲) او دا چي وي د ده مخ ته تنور أَوْ كَانُوْنٌ فِيْـهِ جَمْرٌ (۷۳) يا داسي نغری چي په هغه کي سکروټي وي أَوْ قَـوْمٌ نِـيَامٌ (۷۴) يا (وي د ده مخ ته) ويده خلک.

لغات: ﴿تنور﴾ تنور، تندور، د ډوډۍ پخولو ځای. "قال صاحب المصباح: التَّنُّوْرُ: الَّذِيْ يُخْبَزُ فِيهِ، وَالْمُتَّفِقُ فِيهِ لُغَةُ الْعَرَبِ لُغَةَ الْعَجَمِ. وَقَالَ أَبُوْ حَاتِمٍ: لَيْسَ بِعَرَبِيٍّ صَحِيْحٍ. وَالْجَمْعُ التَّنَانِيْرُ" (مصباح المنير)، ﴿كانون﴾ د دې لفظ څو معناوي وي چي له هغوی څخه يوه معنیٰ ده: د اور بلولو ځای. نغری.

تشريح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بيان سوي دي: ① که دلمونځ گزار مخ ته بل سوی اور وي يا سکروټي وي، نو لمونځ کول مکروه دي؛ ځکه په دې کي د مجوسيانو سره مشابهت راځي. په همدې وجه بعضي حضراتو د شمع يا څراغ وطرف ته هم لمونځ مکروه گڼلی دی. لېکن صحيح قول د عدم کراهت دی. ② داسي ځای لمونځ کول چي هلته څو خلک ويده وي مکروه تنزيهي دی، ځکه

ځیني وخت له بیده کس څخه داسي شی صادر سي چي په هغه سره لمونځ گزار ته خندا ورځي یا د هغه توجه او خشوع له منځه ځي، نو ځکه له دې څخه بچ کېدل غوره دي، لېکن که دا خطره نه وي، نو بیا څه حرج نسته. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

تندی صفا کول

﴿۵۹۰﴾ وَ مَسْحُ الْجَبْهَةِ مِنْ تُرَابٍ لَا يَضُرُّهٗ فِيْ خِلَالِ الصَّلٰوةِ (۷۵) او تندی مسه کول (صفا کول) له داسي خاوري څخه کوم چي ده ته ضرر نه کوي د لمانځه په دوران کي.

لغات: ﴿جبهة﴾ تندی، جمع: جِبَاه و جَبَهَات، ﴿خلال﴾ مینځ، جریان، دوران.

تشریح: د لمانځه په دوران کي له تندي څخه خاوره وغیره لیري کول حال دا چي په نه لیري کولو یې هیڅ تکلیف نه وي مکروه تنزیهي دي، ها! که څه حرج او تکلیف وي او د هغه په وجه په لمانځه کي خلل راځي یا د لمونځ گزار توجّه خرابوي، نو په معمولي حرکت سره د هغه په لیري کولو کي څه پروا نسته.

یو خاص سورت متعیّنول

﴿۵۹۱﴾ وَتَعْيِيْنُ سُوْرَةٍ لَا يَقْرَأُ غَيْرَهَا (۷۶) او (مکروه دي) د یو سورت داسي متعینول (ټاکل) چي له هغه څخه بغیر بل سورت نه وایي إِلَّا لِيُسْرٍ عَلَيْهِ مگر (مکروه نه دي) پر خپل ځان د آساني لپاره أَوْ تَبَرُّكٍ بِقِرَاءَةِ النَّبِيِّ ﷺ یا د نبي کریم ﷺ په قرائت سره د برکت حاصلولو لپاره.

تشریح: که یو څوک په لمانځه کي تر سورة الفاتحه وروسته یو سورت داسي متعیّن او ضروري وگڼي چي له هغه څخه بغیر بل سورت ناجائز یا مکروه گڼي، نو دا مکروه تحریمي دي، لېکن که د آساني لپاره یو سورت متعیّن کړي او دا عقیده یې نه وي چي له هغه څخه بغیر لمونځ نه صحیح کېږي، یا کوم سورت چي له نبي کریم ﷺ څخه ثابت وي، هغه تبرّکا وایي، مثلاً د جمعې په ورځ د سهار د لمانځه په اول رکعت کي سورة الم سجده او په دویم رکعت کي سورة الدهر وایي، نو په دې کي څه کراهت نسته. لېکن په دې کي هم دا شرط دي چي کله نا کله دي له دې سورت څخه بغیر بل سورت هم وایي. د دې لپاره چي ناخبره کس دا گومان ونه کړي چي له دې څخه بغیر بل سورت ورېل ثابت نه دي. حال دا چي له نبي کریم ﷺ څخه هم د دې سورتونو همېشه ورېل ثابت نه دي. (عمدة الفقه)

په داسي ځای کي سُتره نه درول چي هلته د يو چا د تېرېدلو گومان وي

﴿۵۹۲﴾ وَتَرْكُ اِتِّخَاذِ سُتْرَةٍ فِيْ مَحَلٍّ (۷۷) او (مکروه دي) پرېښوول د ستري (يعني د لرګي يا داسي بل شي) درول په داسي ځای کي يَظُنُّ الْمُرُوْرَ فِيْهِ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ چي په هغه ځای کي لمونځ گزار ته (ديو چا) د تېرېدلو گومان وي د لمونځ گزار مخ ته.

لغات: ﴿يتخذ﴾ د افتعال د باب مضارع ده: نيول (درول)، گرځول، جوړول. د صلې په بدلون سره يې معنیٰ هم بدلېږي. ﴿سُترة﴾ هغه شی چي لمونځ گزار يې خپل مخ ته دروي يا اږدي. لکه لرګی يا داسي بل شی، د را روان فصل په شروع کي به د دې پوره وضاحت وسي.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که لمونځ گزار ته دا غالب گومان وي چي دلته به زما مخ ته يو څوک تېرېږي، پر داسي موقع سُتره نه درول مکروه تنزيهي دي، او که مخ ته د يو چا د تېرېدلو گومان نه وي او مخ ته لاره نه وي، نو هلته په سُتره نه درولو کي څه پروا نسته او مکروه نه دي.

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِي اِتِّخَاذِ السُّتْرَةِ وَدَفْعِ الْمَارِّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ

(دا) فصل د سُترې درولو او د لمونځ گزار مخ ته د تېرېدونکي کس د دفع کولو په بيان کي دی

تشريح: اَلسُّتْرَةُ: په ضمه سره هغه شي ته ويل کيږي چي شی ورباندي پټيږي او چي انسان ځان په پټوي، او د شريعت په اصطلاح کي هغه شی ته ويل کيږي چي لمونځ کوونکی يې په لمانځه کي خپل مخ ته دروي يا اږدي چي د خلکو د تېرېدلو مخنيوی په وکړي. لکه لرګی، لکړه يا داسي بل شی.

د لمونځ گزار مخ ته تېرېدونکی کس گنهگاره کيږي؛ ځکه د نبي ﷺ فرمان دی: «لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِيْنَ خَيْرًا لَّهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ». ۱. بخاري شريف. باب اثم المار بين يدي المصلي. حديث شمېره. ۵۰۹، (که د لمونځ گزار په مخ کي تېرېدونکي کس ته معلومه سي چي پر هغه څومره گناه ده، نو که څلوېښت اکاله او دريږي، دا به د هغه لپاره د لمونځ گزار مخ ته تر تېرېدلو خيروي). نه معلومه سي چي د لمونځ گزار مخ ته تېرېدل عظيمه گناه لري.

او لمونځ ګزار ته هم د دې خبرې خاص خیال ساتل پکار دي چې داسې ځای ته نه درېږي چې هلته دیو چا د تېرېدلو خطره وي، او نه به په مسجد کې داسې ځای درېږي چې هلته د خلکو لاره نیول کېږي. کنې وبال پر لمونځ ګزار دی، که یو څوک په خلاص ځای کې ودرېږي، نو مستحب دا ده چې خپل مخ ته ستره ودروي، تفصیل به وروسته په عبارت کې راسي.

د لمونځ ګزار مخ ته څومره اندازه لیرې تېرېدل جائز دي دي؟: مخکې هم د دې بیان وسو او په دې باره کې څو اقوال ذکر سوه چې د بعضې فقهاؤ قول دا دی چې د سُترې او حائل د نشتوالي په وخت کې د لمونځ ګزار د سجدې په ځای کې تېرېدل نا جائز دي؛ ځکه د لمونځ ګزار د لمانځه ځای د هغه له پښو څخه بیا د سجدې لګولو تر ځایه پورې دی او بعضې فقهاؤ وېلي چې د درېو شرعي ګزو (درېو لاسو) په اندازه د لمونځ ګزار مخ ته تېرېدل نا جائز دي او تر دې ها خوا ته تېرېدل جائز دي او بعضې علماؤ یې پنځه ګزه اندازه بیان کړې ده، او ځینو یې څلوېښت او ځینو یې دوه یا درې صفه اندازه بیان کړې ده، خو صحیح او غوره قول دا دی چې دومره اندازه لیرې د لمونځ ګزار مخ ته تېرېدل جائز دي چې که لمونځ ګزار خپل د سجدې ځای ته ګوري او سترګې یې بالکل لاندې وي، نو تېرېدونکی په نظر نه ورځي، او که تېرېدونکی په نظر ورځي، نو بیا تېرېدل جائز نه دي.

د سُترې حکم

﴿۵۹۳﴾ إِذَا ظَنَّ مُرُوْرَهٗ کله چې لمونځ ګزار ته ګومان وي د یو چا د تېرېدلو (چې دلته به زما مخ ته یو څوک تېرسي) يَسْتَحِبُّ لَهٗ أَنْ يَغْرِزَ سُتْرَةً نو مستحب دي لمونځ ګزار لره چې ودروي داسې ستره (لرګی یا داسې بل شی) تَكُوْنُ طُوْلَ ذِرَاعٍ فَصَاعِدًا فِيْ غِلَظِ الْإِصْبَعِ کوم چې وي په اوږدول سره یو (شرعي) ګز یا تر دې زیات (او) په پنډوالي کې د ګوتې په اندازه (یعنې چې اوږدل یې د یوه لاس په اندازه وي او پنډول یې د ګوتې په اندازه وي).

لغات: ﴿یغرز﴾ د ضرب له بابه د واحد مذکر غائب مضارع صیغه ده غرزًا: په ځمکه کې یو شی درول، ججکول. ﴿طول﴾ اوږدوالی، اوږدول. ﴿ذِراع﴾ شرعي ګز، یو لاس، یعنې له څنګلي څخه د مینځنۍ ګوتې تر سره پورې. جمع: أَذْرُعٌ. ﴿غِلظ﴾ مراد: پنډوالی.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که لمونځ ګزار په یو خالي میدان یا داسې ځای کې لمونځ کوي چې هلته د خلکو د تېرېدلو ګومان وي، نو مستحب دا ده چې خپل مخ ته سُتره ودروي. په ځمکه کې یې ننه ایستل ضروري نه دي، برابره ده لرګی وي، یا یو بل شی وي، په دې شرط چې هغه یو لاس

يعني دوې لوښتي اوږد وي او لږ ترلږه يوه ګوته پنډ وي، نو د داسي سُترې شا ته تېرېدل مکروه نه دي.

د سُترې درولو سنت طريقه

﴿۵۹۴﴾ وَالسُّنَّةُ أَنْ يَّقْرُبَ مِنْهَا او سنت دا دي چي لمونځ ګزار سُترې ته نژدې سي وَيَجْعَلَهَا عَلٰى أَحَدِ حَاجِبَيْهِ او سُتره دي ودروي پر برابرۍ د خپلي يوې وروځي لَا يَصْمُدُ إِلَيْهَا صَمْدًا (په داسي حال کي چي) قصد دي نه کوي (يعني مخامخ بالکل سيده دي نه دربرېږي) و سُترې ته.

لغات: ﴿حاجب﴾ د سترګو وروځه (ورځه)، ﴿لا يصمد﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده، مصدر: صَمْدًا: د دې باب څو معناوي دي، کله چي يې په صله کي "إلى" راسي لکه دلته إليه نو معن يې ده: قصد کول، اراده کول، په حاشيه کي يې معنى داسي نقل سوې ده: لايصمد: أي لا يقابله مـ مستقيمًا بل كان يميل عنه (يعني سُترې ته دي مخامخ بالکل سيده نه دربرېږي چي د دواړو سترګو په مېنځ کي يـ راسي. بلکي له مخې څخه دي يوه طرف ته څه ميلان کوي).

تشريح: په دې عبارت کي د سُترې درولو سنت طريقه بيان سوې ده چي لمونځ ګزار به سُتره خپل ځان ته نژدې د خپل راسته وروځي يا چپه وروځي په برابرۍ کي دروي، يعني د دواړو سترګو په مېنځ کي به يې نه دروي، د دې لپاره چي دا وهم او شبهه پيدا نه سي چي لمونځ ګزار همدې شي ته سجده کوي او افضل دا ده چي سُتره د راسته وروځي (راسته سترګي) ومخ ته ودرول سي.

﴿۵۹۵﴾ وَإِنْ لَّمْ يَجِدْ مَا يَنْصِبُهُ او که پيدا نه کړي داسي شی کوم چي (ومخ ته) ودروي فَلْيَخُطَّ خَطًّا طُوْلًا نو بيا دي يوه ليکه (کرښه) کش کړي په اوږدول سره وَقَالُوْا: بِالْعَرْضِ مِثْلَ الْهِلَالِ او (بعضو) علماؤ ويلي دي: چي (ليکه دي کش کړي) په بره (پلنوالي) سره د مياشتي په څېر.

لغات: ﴿ينصبه﴾ د نصر د باب مضارع ده، مصدر: نَصْبًا: درول، جګول. ﴿يخط﴾ دا هم د نصر د باب مضارع ده. مصدر: خَطًّا: ليکه کشول، کرښه کښل.

تشریح: فرمایي که څه داسي شی نه وي کوم چي د سُترې لپاره ودرول سي یا کښېکښول سي، نو بیا دي لمونځ ګزار یوه لیکه کش کړي (دا د امام شافعي رحمه الله او د بعضي متأخرینو مشایخو رحمهم الله قول دی). او د لیکي په کیفیت کي اختلاف دی، بعضو ویلي دي چي طولاً (په اوږدول) دي لیکه کش کړي او بعضو ویلي دي چي عرضاً (په بره) دي د سپوږمۍ یا لینده په شکل لیکه کش کړي. خو تر څو چي د یو شي درول یا ایښوول ممکن وي، تر هغه وخته پوري لیکي کښولو ته اعتبار نسته. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د تېرېدونکي کس د منع کولو طریقه

﴿۵۹۶ وَالْمُسْتَحَبُّ تَرْكُ دَفْعِ الْمَارِّ او مستحب دي پرېښوول د تېرېدونکي منع کول (یعني تېرېدونکی نه منع کول انه راګرځول مستحب دي) وَ رُخِّصَ دَفْعُهُ بِالْإِشَارَةِ أَوْ بِالتَّسْبِيْحِ او رخصت (اجازت) ور کول سوی دی د هغه د منع کولو په اشاره سره یا په تسبیح سره وَ كُرِهَ الْجَمْعُ بَيْنَهُمَا او مکروه دي دواړه سره جمع کول (یعني اشاره هم کول او تسبیح هم ویل) وَيَدْفَعُهُ بِرَفْعِ الصَّوْتِ بِالْقِرَاءَةِ او سری (نارینه) دفع کولای سي هغه (تېرېدونکی) د قرائت د آواز په لوړولو سره.

لغات: ﴿دَفْع﴾ د فتح د باب مصدر دی: دفع کول، لیري کول (ایسته کول)، منع کول. ﴿رُخِّص﴾ د تفعیل له بابه ماضي مجهوله ده: رخصت ور کول، اجازه ور کول.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که د لمونځ ګزار مخ ته سُتره نه وي او د هغه مخ ته یو څوک تېرېږي، یا سُتره وي، خو یو څوک د سُترې او لمونځ ګزار تر مینځ تېرېدل غواړي، نو مستحب دا ده چي په عملي توګه یې نه راوګرځوي او دا حکم عزیمت دی. او که لمونځ ګزار د هغه منع کول غواړي، نو د لاس یا د سر یا د سترګو په اشاره سره دي یې منع کړي، یا تسبیح یعني سبحان الله دي په زوره ووایي چي هغه ته تنبیه سي او منع سي، دا حکم رخصت دی، عزیمت نه دی.

و كره الجمع: تسبیح او اشاره دواړه سره جمع کول مکروه دي؛ ځکه له دوی څخه یو هم کافي دی.

ويدفعه الخ: همدارنګه لمونځ ګزار ته اجازه سته چي د قرائت د آواز په لوړولو سره تېرېدونکی کس منع کړي کله چي لمونځ ګزار په قیام کي وي او قرائت کوي.

که لمونځ جهري وي، نو په څومره جهر سره چي هغه قرائت کوي. تر هغه په زيات جهر قرائت سره دي هغه اګاه کړي، او که لمونځ سري وي، نو ديوې، دوو کلمو په جهراً ويلو سره دي هغه اګاه کړي، نو په دې سره هيڅ کراهت نه راځي او مقصود به هم حاصل سي. (عمدة الفقه)

دمنع کولو دا پورتنۍ طريقه دسړيو لپاره ده.

﴿۵۹۷﴾ وَتَدْفَعُهُ بِالْإِشَارَةِ او ښځه به دفع کوي هغه (تېرېدونکی کس) په اشاره سره أَوِ التَّصْفِيْقِ بِظَهْرِ أَصَابِعِ الْيُمْنٰى عَلٰى صَفْحَةِ كَفِّ الْيُسْرٰى يا په (چکچکه) وهلو سره د راسته لاس د ګوتو په شا سره د چپه ورغوي (د شا) پر طرف وَلَاتَرْفَعُ صَوْتَهَا او ښځه به خپل آواز نه پورته کوي لِأَنَّهُ فِتْنَةٌ ځکه د ښځي آواز فتنه ده.

لغات: ﴿تصفيق﴾ د تفعيل د باب مصدر دی: (يو شی پر بل شي) داسي وهل چي بږغ يې واورېدل سي، يو لاس پر بل لاس داسي وهل چي آواز وکړي، چکچکه وهل. ﴿صفحة﴾ ديو شي مخ. ديو شي طرف (جانب). صفحة كل شئ: وجهه وجانبه.

تشريح: فرمايي چي ښځه صرف په دوو طريقو سره تېرېدونکی کس منع کولای سي: ① په اشاره کولو سره، ② يا په تصفيق سره، او د تصفيق طريقه مصنف رَحِمَهُ الله دا ليکلې ده چي د راسته لاس ګوتو شا د چپه لاس پر مخ يا پر يو طرف ووهي، خو غوره طريقه دا ده چي د راسته لاس د ګوتو ننه حصه (يعني د ګوتو مخ) دي د چپه لاس پر شا ووهي؛ ځکه په دې کي عمل قليل دی (عمدة الفقه). يعني راسته لاس دي پر خپل ځای پرېږدي او د هغه ګوتي دي پر چپه لاس ووهي چي له هغه څخه د چکچکي بږغ پيدا سي او تېرېدونکي کس اګاه سي چي هغه لمونځ کوي (او په يو اعتبار سره د مصنف رَحِمَهُ الله د عبارت هم دا مطلب کېدلای سي چي د راسته لاس د ګوتو مخ دي د چپه لاس پر شا ووهي)، او د ښځي لپاره دا اجازه نسته چي د قرائت د آواز په لوړولو سره تېرېدونکی کس منع کړي؛ ځکه د ښځي د آواز په لوړولو کي د فتنې بېره سته.

يادونه: دلته (د تصفيق په طريقه کي) عبارت چپه سوی دی، اصل عبارت داسي دی "أو التصفيق بصفحة أصابع اليمنى على ظهر كف اليسرى" يعني تصفيق دا دی چي د راسته لاس د ګوتو مخ د چپه ورغوي پر شا ووهي (نو د طحطاوي د وضاحت مطابق د نور الايضاح اصل عبارت همداسي دی کوم ته چي عمدة الفقه وغيره کي غوره طريقه ويل سوي دي). (طحطاوي على المراقي ص ۲۰۲)

د تېرېدونکي کس سره د جنګ نه کولو حکم

﴿۵۹۸﴾ وَلَا يُقَاتِلُ الْمَارَّ او جنګ به نه کوي د تېرېدونکي کس سره وَمَا وَرَدَ بِهٖ او هغه حکم کوم چي وارد سوی دی په دې باره کي (چي د هغه سره دي جنګ وسي) مُؤَوَّلٌ بِأَنَّهٗ كَانَ وَالْعَمَلُ مُبَاحٌ د هغه تأویل کړی سوی دی په دې سره چي هغه حکم په داسي حال (زمانه) کي وو چي (په لمانځه کي) عمل روا وو وَقَدْ نُسِخَ او (اوس) هغه منسوخ سوی دی.

لغات: ﴿ورد﴾ د ضرب د باب ماضي ده، مصدر: وُرُوْدًا: وارد ېدل، راتلل، ﴿مؤوّل﴾ د تفعیل د باب مفعول دی: تأویل کړی سوی، مراد او مطلب بیان کړی سوی، مصدر: تأویل: د کلام مراد او تفسیر بیانول. یو لفظ له خپل ظاهري معنیٰ څخه وبلي احتمالي معنیٰ ته اړول د یو دلیل پر بناء (صَرْفُ اللفظ عن معناه الظاهر إلی معنی آخر يحتمله لدليلٍ) (معجم لغة الفقهاء)، ﴿نسخ﴾ د فتح له بابه ماضي مجهوله ده، مصدر: نَسْخًا: منسوخول، ختمول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که د لمونځ ګزار مخ ته تېرېدونکی کس په اشاره یا په جهري تسبیح یا قرائت سره هم منع نه سي، نو لمونځ ګزار ته پکار دي چي هغه پرېږدي، د هغه سره دي جنګ او زور نه کوي، دا جائز نه دي، او د جواز په هکله چي کوم دا حدیث وارد سوی دی "إذا كان أحدكم يصلي فلا يدع أحدًا يمر بين يديه وليدرأ ما استطاع، فإن أبى فليقاتله إنما هو شيطان" (یعني کله چي ستاسو څخه یو لمونځ کوي، نو خپل مخ ته تېرېدونکی کس دي نه پرېږدي او خپل تر وسه دي هغه منع کړي، که هغه انکار وکړي، نو د هغه سره دي جنګ وکړي؛ ځکه هغه شیطان دی). له دې څخه معلومېږي چي جنګ جائز دی لکه څرنګه چي بعضي فقهاؤ د دې حدیث په ظاهر باندي په دلیل نیولو سره جنګه او حمله جائز ګرځولي دي، لېکن مصنف رَحِمَهُ الله فرمایي چي د دې حدیث دا تأویل کړی سوی دی چي داسي کول د اسلام په ابتداء کي جائز وه، لېکن وروسته منسوخ سوه. یعني دا حکم د اسلام په شروع کي وو، کله چي په لمانځه کي عملِ کثیر، همدارنګه خبره کول، سلام کول او د سلام جواب ورکول ممنوع نه وه، وروسته بیا منسوخ سوه. (مراقي الفلاح. البحر الرائق)

حضرت مفتي محمد تقي عثماني دامت برکاتهم فرمایي چي د حدیث کوم ظاهري مفهوم چي په ذهن کي راځي، هغه مراد نه دی. بلکي دا داسي ده لکه په حدیث کي چي راغلي دي چي که یو سړی د بل چا کور ته ګوري، نو د هغه سترګه وباسئ!. د دې مطلب دا نه دی چي خنجر او چاړه را واخلئ! او په سترګه یې ډډ چخ کړئ! بلکي د دې عمل د شناعت او بدۍ وطرف ته اشاره ده چي دا عمل د دې لائق دی چي که د هغه کس سره داسي وسي، نو نا انصافي به نه وي. همداسي دلته هم دغه معنیٰ ده چي د لمونځ ګزار مخ ته تېرېدل داسي بد عمل دی چي که د تېرېدونکي سره جنګ او قتال وکړل سي، نو دا نا انصافي نه ده. او دا معنیٰ یې نه ده چي پر بل دي سره را وغورځېږي. (انعام الباري ج ۲، ص ۲۵۸ بتغیر)

⁂

فَصْلٌ فِيْمَا لَايُكْرَهُ لِلْمُصَلِّيْ

(دا) فصل په (بيان د) هغه شيانو کي دی چي دلمونځ گزار
لپاره مکروه نه دي

د لمونځ گزار لپاره د ملا تړلو يا پر ځان د يو شي ځړولو حکم

﴿٥٩٩﴾ وَلَايُكْرَهُ لَهٗ شَدُّ الْوَسَطِ او مکروه نه دي دلمونځ گزار لپاره دملا تړل وَلَا تَقَلُّدٌ بِسَيْفٍ وَنَحْوِهٖ او نه (مکروه دي) توره يا داسي بل شی په غاړه کول (په ځان ځړول) إِذَا لَمْ يَشْتَغِلْ بِحَرَكَتِهٖ (په دې شرط) کله چي نه مشغوله کيږي (دلمونځ گزار توجه) د هغه (توري وغيره) په حرکت سره.

لغات: ﴿شَدَّ﴾ د نصر د باب مصدر دی: تړل، ﴿وسط﴾ د يو شي د مينځ (مينځوی) حصه. دلته ځني مراد ملا (شا) ده، جمع: أَوْسَاط، ﴿تقلّد﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: کله چي د دې باب په صله کي "سَيْف" راسي، نو معنیٰ يې ده: په غاړه کي د توري تسمه اچول، توره په غاړه کول، ﴿يشتغل﴾ د افتعال د باب مضارع ده، مصدر: إِشْتِغَالًا: مشغولېدل، توجه ليري کېدل.

تشريح: که لمونځ گزار خپله ملا په يو شي سره تړلې وي (مثلا کمربند وغيره)، نو دا مکروه نه دي. همدارنګه که لمونځ گزار توره يا داسي بل شی (لکه لينده يالکه په اوس وخت کي ټوپک وغيره) خپل غاړي ته داسي اچولی وي چي د هغه په ښورېدلو سره دلمونځ گزار توجّه نه خرابيږي يا په بله وينا زړه يې په هغه سره نه مشغوليږي، نو دا هم مکروه نه دي، خو که د هغه په ښورېدلو سره په لمانځه کي خلل راځي او دلمونځ گزار توجّه خرابوي نو بيا مکروه دي.

﴿٦٠٠﴾ وَلَا عَدَمُ إِدْخَالِ يَدَيْهِ فِيْ فَرَجِيِّهٖ وَشِقِّهٖ عَلَى الْمُخْتَارِ او نه (مکروه دي) خپل لاسونه نه داخلول په خپل فرجي چينه او د هغه په چاک کي د مختار قول مطابق (او که د "شِقّه" ضمير ولمونځ گزار ته راجع سي. نه "فرجي" ته نو معنیٰ يې ده: او نه مکروه دي خپل لاسونه نه داخلول په خپل فرجي چينه او په خپل خلاصه جامه کي ،ځکه د شِق معنیٰ يو ډول خلاصه جامه هم ده کوم چي د سترې په څېر مخ ته خلاصه وي...).

لغات: ﴿فرجيّه﴾ د مصنف رَحِمَهُ الله د صراحت مطابق دا لفظ "فرجيّ" دی، خو په معجم الوسيط کي "فرجيّة" نقل سوی دی: داوږدو لستونو والا چپنه کوم چي يې علماءِ دين اغوندي. ﴿شقه﴾ په دې لفظ کي اختلاف دی، ① که دا لفظ په کسره د شين سره سي يعني "شِقّ" نو د "شِق" څو معناوي دي چي له هغوی څخه ځيني دا دی: حصه (جزء)، نيمه حصه، طرف، کناره (غاړه). ② او که په فتحه د شين سره يعني "شَقّ" نو د هغه هم له څو معناوو څخه ځيني دا دي: چاک، څيري والی، څيري ځای، د هر شي نيمه حصه، ③ او که دا لفظ "شُقّة" سي يعني د شين په ضمه سره چي په آخر کي يې "ة" وي، نو د هغه هم څو معناوي دي چي له هغوی څخه يوه صاحب د شفاء الارواح دا را نقل کړې ده چي دا يو ډول جامه ده کوم چي د مخ لخوا خلاصه وي، لکه سدری چي يو داسي جامه ده کوم چي د مخ لخوا خلاصه ده، کوټ او داسي نور، ④ او که دا لفظ "شِقّة" سي په کسره د شين سره چي په آخر کي يې "ة" وي، نو معنیٰ يې ده: د کپړې وغيره نيمه پرېکړل سوې حصه، څيرل سوې ټوټه، د کپړې اوږده ټوټه يعني کوم چي په اوږدول پرېکړل سوې وي (معجم الوسيط، مصباح اللغات). (آخري دوې معناوي دلته نه ورسره لګيږي کله چي په "شقه" کي "ه" ضمير و "فرجي" ته راجع وي، او که د "ه" ضمير و لمونځ ګزار ته راجع سي، نو د نيمه معنیٰ ورسره لګيږي يعني د مخ لخوا خلاصه جبه).

تشريح: که لمونځ ګزار چپنه يا د چپني په څېر بله خلاصه جامه اغوستې وي او لاسونه يې په لستونو کي نه وي اچولي، نو مختار قول دا دی چي دا مکروه نه دي، لېکن په عمدة الفقه کي دي چي صحيح دا ده چي دا مکروه دي؛ ځکه په دې صورت کي "سدل" راځي.

او په "ايضاح الاصباح" کي د دې تشريح داسي سوې ده چي "فرجي" د چپني په څېر يو ډول جامه ده چي په هغه کي لستوني نه وي بلکي د هغه جوړ طرفونه يا په بله وينا (د لستونو پر ځای) جوړ چاکونه پر اوږو اچول کيږي او پر ملا په پټۍ وغيره سره تړل کيږي، د فرجي کپړې جوړ چاکونه خلاص وي چي په هغه کي لاسونه هم اچول کېدلای سي، يعني فرجي په دوه شکله اغوستل کيږي يو دا چي په لستونو کي يې لاسونه هم داخلول کيږي او بل دا چي همسي پر اوږو هم اچول کيږي، دلته همدا دويم شکل مراد دی چي هغه ته جائز ويل سوي دي، که څه هم په دې دويم شکل کي د سدل صورت پيدا کيږي، خو ځرنګه چي د دغه چپني دواړه صورتونه رائج دي او خلافِ عادت نه ګڼل کيږي، نو ځکه مکروه نه دي، او له "شق فرجي" څخه مراد په ظاهره د دې چپني هغه خلاصه حصه يا په بله وينا خلاص جوړ چاکونه دي چي په هغه کي لاسونه دننه کول کيږي. (شفاء الارواح بتصرف يسير)

قرآن يا توري وغيره ته مخامخ لمونځ كول

﴿٦٠١﴾ وَالَا التَّوَجُّهُ لِمُصْحَفٍ أَوْ سَيْفٍ مُعَلَّقٍ او نه (مكروه دي) مخامخ كېدل و قرآن شريف يا ځړېدلي توري ته أَوْ ظَهْرِ قَاعِدٍ يَتَحَدَّثُ يا (مخامخ كېدل) د ناست كس و شا ته كوم چي خبري كوي أَوْ شَمْعٍ أَوْ سِرَاجٍ يا (مخامخ كېدل) و شمعي يا څراغ ته عَلَى الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق.

لغات: ﴿التوجّه﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: (د يو شي و طرف ته) مخ كول. مخامخ كېدل.

﴿المُصْحَف﴾ او مَصْحَف: قرآن كريم، جمع: مَصَاحِف. ﴿مُعلّق﴾ د تفعيل له بابه د مفعول صيغه ده: راځړول سوی. ﴿شمع﴾ شمعه، جمع: شُمُوْعٌ. ﴿سِرَاج﴾ څراغ، جمع: سُرُجٌ.

تشريح: كه د لمونځ گزار مخ ته قران پاك موجود وي، يا د هغه مخ ته توره ځړېدلې وي. نو په دې كي څه كراهت نسته، همدارنګه كه د لمونځ گزار مخ ته يو څوک ناست وي، خبري كوي، نو د هغه د شا و طرف ته لمونځ كول مكروه نه دي، همدارنګه شمعي يا څراغ ته مخامخ كېدل مكروه نه دي.

﴿٦٠٢﴾ وَالسُّجُوْدُ عَلٰى بِسَاطٍ فِيْهِ تَصَاوِيْرُ لَمْ يَسْجُدْ عَلَيْهَا او (مكروه نه دي) سجده كول پر داسي فرش (هوارېدونكي شي) چي په هغه كي تصويران وي چي پر هغوی سجده نه كوي (يعني چي د لمونځ گزار سجده پر تصويرانو نه راځي).

لغات: ﴿بساط﴾ هر هغه څه چي پر ځمكه هوارول كيږي، بستره، فرش، ټاټ وغيره، جمع: بُسُط.

﴿تصاوير﴾ جمع د تَصْوِيْر ده: تصوير هغه دی كوم چي د مخلوق مشابه جوړ سوی وي برابره ده ذی روح وي او كه غيرِ ذی روح وي، خو دلته د ذی روح تصوير مراد دی؛ ځكه د غير ذی روح په تصوير كي څه كراهت نسته.

تشريح: مسئله دا ده چي په كوم فرش كي تصويران نقش وي، پر هغه په لمونځ كولو كي څه حرج نسته يعني بلا كراهته جائز دی، په دې شرط چي سجده يې پر تصوير نه واقع كيږي؛ ځكه دا د تصوير د عبادت مشابه دي، نو د تعظيم شبهه پيدا كېدای سي، نو ځكه دا شرط يې لګولی دی.

د لمانځه په دوران كي مار او لړم وژل

﴿٦٠٣﴾ وَقَتْلُ حَيَّةٍ وَعَقْرَبٍ خَافَ أَذَاهُمَا او (مكروه نه دي) د داسي مار او لړم وژل چي د هغوی له ضرر څخه بېرېږي (يعني چي لمونځ گزار ته دا بېره وي چي كه دا نه ووژل سي نو ما به وچيچي. نو دغو

وژل مکروه نه دي) وَلَوْ بِضَرَبَاتٍ وَانْحِرَافٍ عَنِ الْقِبْلَةِ که څه هم په څو واره وهلو او له قبلې څخه په اوښتلو سره وي (یعني که څه هم دوی په وژلو کې څو واره وهلو او له قبلې څخه مخ اړولو ته ضرورت پرېوځي. بیا هم مکروه نه دي) فِي الْأَظْهَرِ په ظاهر روایت کې.

لغات: ﴿انحراف﴾ د انفعال د باب مصدر دی: له اصل څخه اوښتل، کږېدل.

تشریح: د لمانځه په دوران کې مار او لړم وژل بغیر له کراهته جائز دي او په دې سره لمونځ نه مکروه کېږي، برابره ده په یوه ضرب سره مړه سي او که په ډېرو ضربونو سره، او برابره ده د هغه لپاره له قبلې څخه واوړي او که نه، او د مار او لړم وژل په لمانځه کې هغه وخت مباح دي کله چې د لمونځ ګزار مخ ته راسي او له هغه څخه د ضرر بېره وي، او که د ضرر بېره نه وي، نو مکروه دي. لېکن صحیح مسلک دا دی چې که د داسي ساکښ په وژلو کې عملِ کثیر وسي، نو لمونځ یې فاسدېږي او دلته د نه مکروه کېدلو معنیٰ دا ده چې د لمانځه ماتولو ګناه هغه ته نه رسیږي. (شفاء الارواح، ایضاح الاصباح)

د لمانځه په دوران کې له بدن څخه جامه لیرې کول

﴿٦٠۴﴾ وَلَا بَأْسَ بِنَفْضِ ثَوْبِهِ او څه پروا نسته د خپلې جامې په څنډلو (خوځولو) کې کَيْلَا يَلْتَصِقَ بِجَسَدِهِ فِي الرُّكُوْعِ د دې لپاره چې نه ونښلي د ده له بدن سره په رکوع کې.

لغات: ﴿نفض﴾ د نصر له بابه مصدر دی: څنډل، ښوررول، ﴿يلتصق﴾ د افتعال د باب مضارع ده: نښلېدل، متصل کېدل.

تشریح: که لمونځ ګزار د لمانځه په دوران کې خپله جامه له ځان څخه کش او لیرې کړي په دې خیال سره چې له رکوع یا سجدې څخه د راپورته کېدلو په وخت کې د بدن سره نه ونښلي، نو دا مکروه نه دي؛ ځکه ځینې وخت جامه د بدن سره داسې ونښلي چې د اندامونو وضع ښکاره سي او نا مناسب ښکاري، نو ځکه له هغه څخه د بچ کېدلو لپاره د کپړې په څنډلو او لیرې کولو کې څه کراهت نسته.

﴿٦٠٥﴾ وَلَا بِمَسْحِ جَبْهَتِهِ مِنَ التُّرَابِ أَوِ الْحَشِيْشِ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الصَّلَاةِ او نه (پروا سته) د خپل تندي په صفا کولو کې له خاورې یا له وچو وښو (خاشو) څخه وروسته تر فارغېدلو د لمانځه

ځخه وَلَا قَبْلَ الْفَرَاغِ إِذَا ضَرَّهٗ أَوْ شَغَلَهٗ عَنِ الصَّلَاةِ او نه دلمانځه ځخه تر فارغېدلو مخکې (د لمانځه په دوران کې) کله چې دا (خاورې یا خاشې) هغه ته ضرر رسوي یا دې له لمانځه ځخه مشغوله کوي (توجه یې خرابوي).

لغات: ﴿حشیش﴾ وچ واښه، مَایبس من الکلأ، جمع: حَشَائِش، ﴿ضَرَّ﴾ د نصر د باب ماضي ده ضَرًّا: ضرر رسول، نقصان رسول، ﴿شغل﴾ د ضرب د باب ماضي ده: مشغولول او کله چې یې په صله کې عَنْ راسي لکه دلته، نو د غافله کولو، توجّه لیرې کولو معنیٰ ورکوي.

تشریح: د لمانځه ځخه تر فارغېدلو وروسته له تندي ځخه خاورې یا خاشې لیرې کول مکروه نه دي، همدارنګه په لمانځه کې هم د دې شیانو په لیرې کولو کې څه کراهت نشته، کله چې دا شیان د لمونځ ګزار توجّه خرابوي او په لمانځه کې یې خلل لوېږي.

﴿۶۰۶﴾ وَلَا بِالنَّظْرِ بِمُؤْقِ عَيْنَيْهِ مِنْ غَيْرِ تَحْوِيْلِ الْوَجْهِ او نه (پرواسته) په کتلو کې د سترګو له کونجانو ځخه بغیر له مخ اړولو ځخه.

لغات: ﴿موق﴾ د سترګي کونج، د سترګي بېخ، جمع: أَمْوَاق، ﴿تحویل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: اړول، بدلول.

تشریح: محض د سترګو له کونجانو ځخه بېله مخ اړولو شاوخوا کتل که بلا ضرورته وي، نو مکروه تنزیهي دي او که د ضرورت په وجه وي، نو روا دي (د مصنف رَحِمَهُ الله عبارت د ضرورت پر وخت محمول دی)

﴿۶۰۷﴾ وَلَا بَأْسَ بِالصَّلَاةِ عَلَى الْفُرُشِ وَالْبُسُطِ وَاللُّبُوْدِ او څه باک نشته په لمونځ کولو کې پر فرشونو، بسترو او کراستو باندې وَالْأَفْضَلُ الصَّلٰوةُ عَلَى الْأَرْضِ أَوْ عَلٰى مَا تُنْبِتُهٗ او افضل دي لمونځ کول پر ځمکه یا پر هغه څه کوم چې یې ځمکه راشنه کوي (لکه مرغه. واښه او لکه د لوخو او خاشو ځخه جوړه چټایي او پوزی).

لغات: ﴿الفُرُش﴾ جمع دفِرَاش ده: بستر (بستره)، د بیدېدو ځای. ﴿البُسُط﴾ جمع د بِسَاطٌ ده: هر هغه څه چي پر ځمکه هواریږي، فرش، ټاټ، چټایي وغیره، جمع: بُسُط. ﴿اللُّبُوْد﴾ جمع د اللِبْدُ او اللِّبْدَةُ ده: کراسته، نیمڅی، لمڅه، هغه فرش یا ټوکر چي د وړیو تر بنه تکولو. تخته کولو او خیشتولو وروسته له وړیو څخه جوړ کړل سي. هملارنګه نمله، وړین ټینګ او پنډ ټوکر.

تشریح: مسئله دا ده چي پر غالی، فرش، بستره، کراسته او داسي نورو باندي لمونځ کول مکروه نه دي. په دې شرط چي هغوی پاک وي او ډېر پنډ نه وي (بلکي داسي وي چي په سجده کولو کي د ځمکي کلکوالی او حجم پکښي معلومیږي).

خو بغیر دیو شي له هوارولو څخه پر لڅه ځمکه یا پر داسي چټایي او کراسته لمونځ کول غوره او افضل دي کوم چي له خاشو او بوټو څخه جوړه وي. لکه د لوخو او خاشو چټایي. یا له مزرو څخه جوړه چټایي او پوزی: ځکه پر دې شیانو لمونځ کول د تواضع او عاجزۍ نښه ده. او بل په دې کي له اختلاف څخه لمونځ ګزار ساتل کیږي، ځکه د امام مالک په نېز پر وړینو او پمبېزو شیانو لمونځ کول مکروه دي. (مراقی الفلاح ص: ۲۰۳، فتح المصلي ص، ۵۹۶)

﴿۶۰۸﴾ وَلَا بَأْسَ بِتَكْرَارِ السُّوْرَةِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِنَ النَّفْلِ او څه باک نسته دیوه سورت په بار، بار ویلو کي د نفلو په دوارو رکعتو کي.

لغات: ﴿تکرار﴾ د نصر د باب اسم مصدر دی: یو عمل څو ځله کول (مکرر کول، مکرر ویل)، بیا بیا کول، راګرځېدل.

تشریح: مسئله دا ده چي که یو څوک په نفلي لمانځه کي یو سورت بار، بار وایي، نو څه حرج نسته. خو په فرضي لمانځه کي دا عمل مکروه تنزیهي دی (نور تفصیل په ﴿۵۵۵﴾ نمبر مسئله کي وګورئ!).

* * *

فَصْلٌ فِيْمَا يُوْجِبُ قَطْعَ الصَّلَاةِ وَمَا يُجِيْزُهُ وَغَيْرِ ذٰلِكَ

(دا) فصل په (بیان د) هغو شیانو کې دی کوم چې د لمانځه ماتول واجبوي او کوم چې دا (د لمانځه ماتول) جائز کوي او له دې څخه بغیر نور (شیان یعني لمونځ ځنډول او هغه پرېښوول)

په کومو صورتونو کې لمونځ ماتول واجب دي؟

﴿۶۰۹﴾ يَجِبُ قَطْعُ الصَّلٰوةِ بِاسْتِغَاثَةِ مَلْهُوْفٍ بِالْمُصَلِّيْ واجب دي د لمانځه ماتول د مظلوم د فریاد کولو (مدد غوښتلو) په سبب له لمونځ گزار څخه (چې یو مظلوم کس پر لمونځ گزار ږغ وکړي او له هغه څخه مرسته وغواړي) لَا بِنِدَاءِ أَحَدِ أَبَوَيْهِ نه د مور و پلار څخه د یوه د آواز کولو (رابللو) په سبب (چې مور یا پلار پر هغه ږغ وکړي).

لغات: ﴿استغاثة﴾ د استفعال د باب مصدر دی: فریاد کول، د مدد طلب کول (مرسته غوښتل). ﴿ملهوف﴾ د سمع له بابه اسم مفعول دی: مظلوم، لَهِفَ يَلْهَفُ لَهَفًا: مظلوم کېدل.

تشریح: فرمایي چې کله یو مظلوم او مصیبت زده کس فریاد وکړي، برابره ده یو لمونځ گزار ته یې وکړي یا مطلق فریاد وکړي یو څوک متعیّن نه کړي، مثلاً یو څوک په څاه کې ولوېږي، یا پر یو چا یو ظالم کس یا درنده حمله وکړي، یا یو څوک په اور کې د سوځل کېدو یا په اوبو کې د ډوبېدلو د بیرې وخت کې له یو لمونځ گزار څخه د مدد غوښتنه وکړي یا بغیر له تعیّن څخه د مدد لپاره آواز وکړي، نو لمونځ ماتول واجب او ضروري دي. برابره ده فرضي لمونځ وي او که نفلي لمونځ وي. که په دې صورتونو کې لمونځ مات نه کړي او هغه کس په لوېدلو یا سوځېدلو یا ډوبېدلو سره مړ سي یا هغه ته څه نقصان ورسېږي، نو گناه پر همدې لمونځ گزار ده. (عمدة الفقه)

لا بنداء الخ: یعني که لمونځ ته گزار خپل پلار یا مور یا نیکه یا انا آواز وکړي او لمونځ گزار فرضي لمونځ کوي، نو د دوی لپاره لمونځ ماتول جائز نه دي، په دې شرط چې دوی بغیر له فریاد څخه همسې آواز وکړي، خو که د فریاد او مدد غوښتولو لپاره آواز ورته وکړي، مثلاً بوډا پلار غوځاربږي یا غوځار سي لو لمونځ کونکي ځوی ته آواز وکړي [illegible] د هغه [illegible] ماتول واجب دي.

او که فرضي لمونځ نه وي، بلکي سنت یا نفل کوي او له دې کسانو څخه یو آواز ورته وکړي او دوی ته دا معلومه نه وي چي هغه په لمانځه کي دی، نو په داسي وخت کي هم لمونځ ماتول او د دوی د خبري جواب ورکول واجب دي، برابره د فریاد او مدد لپاره یې آواز ورته کړی وي، یا هسي بېله ضرورته یې آواز ورته کړی وي، که لمونځ مات نه کړي او جواب نه ورکړي، نو ګنهکاره کیږي، او که دوی ته معلومه وي چي هغه لمونځ کوي خو بیا یې هم راوبلي، نو نفل او سنت لمونځ به هم نه ماتوي، خو که دېر ضرورت لپاره یې راوبلي او دوی ته د تکلیف رسېدلو بېره وي، نو بیا لمونځ ماتول واجب دي. (عمدة الفقه)

په کومو صورتونو کي لمونځ ماتول جائز دي؟

﴿۶۱۰﴾ وَيَجُوْزُ قَطْعُهَا بِسَرَقَةِ مَا يُسَاوِيْ دِرْهَمًا او جائز دي د لمانځه ماتول (سلام ګرځول) د داسي شي د غلا کېدلو په سبب کوم چي دیوه درهم برابر وي وَلَوْ لِغَيْرِهٖ که څه هم شی د بل چا وي.

تشريح: مسئله دا ده که د مال د ضایع کېدلو بېره وي مثلاً یو څوک د لمونځ ګزار بوټونه یا څپلکي غلا کول غواړي، نو د هغه لپاره لمونځ ماتول جائز دي، په دې شرط چي د هغه قیمت لږ تر لږه یو درهم وي (یعني د ۳ ګرامه او ۶۶۲ ملي ګرامه سپینو زرو په اندازه وي) یا تر دې زیات وي، بیا فرمایي چي که څه هم د لمونځ ګزار سره د دومره قیمت سامان د بل چا وي او یو څوک هغه غلا کوي، نو هم لمونځ ماتول جائز دي. (مراقی الفلاح ص: ۲۰۴)

﴿۶۱۱﴾ وَخَوْفِ ذِئْبٍ عَلٰى غَنَمٍ او (جائز دي د لمانځه ماتول) د لېوه د بېري په سبب پر خپلو پسونو أَوْ خَوْفِ تَرَدِّيْ أَعْمٰى فِيْ بِئْرٍ وَنَحْوِهٖ یا په څاه کي د رانده کس یا داسي بل څه د لوېدلو په سبب.

لغات: ﴿ذئب﴾ لېوه، جمع: ذِئَاب. ﴿الغنم﴾ دا اسم جنس دی، مذکر او مؤنث دواړو له شامل دی، همدارنګه پسونه او وزې ټوله په دې لفظ کي داخل دي لکه رمه (موږ د آسانۍ لپاره د دې ترجمه په پسونو سره کوو) او دې ته د "غَنَم" ویلو وجه دا ده چي پسونه او وزې نه د جهاد آلې

دي او نه د دفاع آلې دي، بلکې د هر چا لپاره غنیمت دي، ﴿تَرَدِّی﴾ د تفعّل د باب مصدر دی، کله چې د دې باب په صله کې "فی" راسي لکه دلته، نو معنیٰ یې ده: لاندې لوېدل. ﴿أَعمیٰ﴾ نابینا، ړوند، جمع: عُمْيٌ و عُمْيَان، عَمِيَ يَعْمیٰ عَمًی (سمع): ړندېدل (د دواړو سترګو دید بالکل ختمېدل)، نابینا کېدل.

تشریح: دا عبارت پر مخکنې عبارت عطف دی، اصل عبارت داسې دی "ویجوز قطعها لخوف..."، حاصل د عبارت دا دی چې که یو چا مثلاً شپانه ته دا ېېره وي چې لېوه به زما پسه وخوري، نو د هغه لپاره هم لمونځ ماتول جائز دي.

أو خوف تردّی إلخ: همدانګه که د یو چا د مرګ خطره وي مثلاً یو ړوند کس روان وي او مخ ته کنده وي، یا مثلاً مخ ته موټر وغیره را روان وي چې که هغه نه ونیول سي، نو د هلاکېدلو یې غالب ګومان وي، نو په دې صورت کې لمونځ ماتول واجب دي او که د هلاکېدلو یې غالب ګومان نه وي، نو لمونځ ماتول جائز دي. (مراقی الفلاح ص: ۲۴۰)

﴿۶۱۳﴾ وَإِذَا خَافَتِ الْقَابِلَةُ مَوْتَ الْوَلَدِ او کله چې دایې د بچي پر مرګ وېرېږي (نو هم لمونځ ماتول واجب دي یعنې که دایې په لمانځه کې وي) وَإِلَّا فَلَا بَأْسَ بِتَأْخِيرِهَا الصَّلٰوةَ وَ تُقْبِلُ عَلَى الْوَلَدِ کنې (یعنې که د بچي د مرګ ېېره نه وي) نو پروا نسته د لمانځه په ځنډولو کې (یعنې لمونځ دې وځنډوي) او بچي ته دې متوجّه سي.

لغات: دایې، دایه (هغه ښځه کوم چې د ولادت او لنګوالي په وخت کې د لنګې ښځې مدد کوي)، جمع: قَوَابِل. ﴿تُقْبِل﴾ د افعال د باب مضارع ده، مصدر: إِقْبَالًا، کله چې د دې باب په صله کې "علیٰ" راسي نو معنیٰ یې ده: په یو کار شروع کول او لازم نیول، متوجه کېدل.

تشریح: که دایې (دایه) په لمانځه کې وي او هغې ته د پیدا کېدونکي بچي د مرګ غالب ګومان وي یا د بچي د یو اندام ضایع کېدلو یا د بچي د مور د مرګ غالب ګومان وي، نو لمونځ ماتول واجب دي، او که دایې په لمانځه کې نه وي، نو لمونځ له هغه وخت څخه ځنډول واجب دي.

والّا إلخ: یعني که دایي ته دبچي وغیره دمرگ غالب گومان نه وي، نو که دایي په لمانځه نه کي وي. نو لمونځ ځنډول جائز دي، او که په لمانځه کي وي، نو ماتول یې جائز دي. (عمدة الفقه، طحطاوي)

﴿٦١٢﴾ وَكَذَا الْمُسَافِرُ إِذَا خَافَ مِنَ اللُّصُوْصِ أَوْ قُطَّاعِ الطَّرِيْقِ او همدارنگه مسافر چي کله وبیرېږي له غلو یا لاره وهونکو (ډاکه مارانو) څخه جَازَ لَهٗ تَأْخِيْرُ الْوَقْتِيَّةِ نو جائز دي د هغه لپاره د وقتي لمانځه ځنډول.

لغات: ﴿اللصوص﴾ جمع د لِصٌّ ده: په پټه د بل چا مال وړونکی، غل، ﴿قطاع الطريق﴾ جمع د قاطع الطریق ده: لاره شکونکی، په ډاګه لوټونکی، ډاکه مار (ډاکو). صاحب د "جوهرة النيرة" فرمایي چي ډاکه ماري په داسي ځای کي په ډاګه مال اخیستلو ته وایي چي هلته د مال د خاوند فریاد چا ته نه سي رسېدلای او هیڅ کومکي هغه ته نه سي رسېدلای.

تشریح: کله چي مسافر ته دا بېره وي چي که په لمانځه لگیا سم، نو غله یا ډاکوگان به حمله را باندي وکړي، نو د هغه لپاره هم لمونځ له خپل وخت څخه ځنډول او بیا وروسته اداء کول جائز دي، ښکاره ده چي په عبارت کي د "مسافر" قید اتفاقي دي، د مقیم هم دغه حکم دی کوم چي په عبارت کي ذکر سوی دی، او د مسافر قید یې ځکه لگولی دی چي داسي خطرات عموماً په سفر کي پېښېږي. (مراقی الفلاح ص: ۲۰۴)

د تارک الصلاة سزا

﴿٦١٣﴾ وَتَارِكُ الصَّلَاةِ عَمَدًا كَسَلًا يُضْرَبُ ضَرْبًا شَدِيْدًا حَتّٰى يَسِيْلَ مِنْهُ الدَّمُ او قصداد سستۍ (کهلی) په وجه د لمونځ پرېښوونکی به سخت وهل کېږي تر دې چي له هغه څخه وینه وبهېږي وَيُحْبَسُ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا او بیا به هغه بندي کول کېږي تر دې چي لمونځ وکړي (یعني تر هغه وخته پوري چي لمنځونه شروع کړي) وَكَذَا تَارِكُ صَوْمِ رَمَضَانَ او همدارنگه د رمضان د روژې پرېښوونکی وَلَا يُقْتَلُ إِلَّا إِذَا جَحَدَ أَوِ اسْتَخَفَّ بِأَحَدِهِمَا او قتلول کېږي به نه مگر کله چي

انکار وکړي (دلمانځه یا روژې دفرضیت) یا سپکاوی وکړي دیوه له دې دواړو څخه (یعني دلمانځه یا روژې ترمین وکړي. یا بله رنا هغه حقیر او معمولي وګڼي او دین له ضروریاتو څخه یې نه وګڼي. مثلاً په رمضان کې په ښاګه استخفافا خوراک یا څښاک وکړي. یا د روژې په باره کې سپک او غلطه رنا وکړي او روژه رخوري).

لغات: ﴿کسلاً﴾ د سمع د باب مصدر دی، ستي کول (سُستیا). په داسي کار کي ستي کول چي په هغه کي ستي کول صحیح نه وي، او د کسلاً په قید سره هغه صورت خارج سو چي په هېره یا د یو عذر په وجه لمونځ پرېږدي. ﴿جحد﴾ د فتح له بابه ماضي معلومه ده، مصدر: جَحْدًا: قصداً انکار کول. درواغ ګڼل. ﴿استخف﴾ د استفعال د باب ماضي ده، مصدر: استخفافًا: سپکاوی کول. سپک او حقیر ګڼل.

تشریح: لمونځ پر هر مسلمان نر او ښځي لازم او فرض دی او د لمانځه پرېښوول حرام او انتهائي سخته کبیره ګناه ده. لهذا که یو څوک محض د سُستی په وجه قصداً لمونځ پرېږدي، نو هغه به داسي سخت وهل کیږي چي له بدن څخه یې وینه وبهیږي او تر هغه وخته به قید او بندیخانې ته اچول کیږي چي توبه وکړي او لمنځونه شروع کړي، همدارنګه د سُستی په وجه قصداً روژه پرېښوونکی به هم داسي وهل کیږي او قیدول کیږي تر دې چي روژه نیول شروع کړي.

او د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز حکم دا دی چي تارک الصلاة به نه قتلول کیږي. لیکن د امام شافعي. امام احمد بن حنبل او امام مالک رَحِمَهُمُ الله په نېز مسلمان باچاه (امیر المؤمنین) لره د هغه د قتلولو حکم دی، ها! که څوک د روژې او لمانځه د فرضیت انکار وکړي یا له دوی څخه د یوه سپکاوی وکړي او د دین له ضروریاتو څخه یې نه وګڼي، مثلاً د روژې په ورځ استخفافاً په ښاګه خوراک، څښاک وکړي، یا د روژې په حق کي غلط الفاظ استعمال کړي مثلاً داسي ووایي چي روژې خو دي هغه خلک نیسي چي په کور کي یې خوراک نه وي (نعوذ بالله من ذلك) یا داسي نور، نو داسي کس به قتلول کیږي: ځکه کافر سو چي د شریعت اهانت کفر دی، خو اولاً به هغه قیدول کیږي او شبهه به یې لیري کول کیږي، خو بیا هم که منع نه سي، نو د قتل سزا به ورکول کیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

* * *

بَابُ الْوِتْـرِ

(دا) باب د وترو (په بیـان کي) دی

تشریح: کله چي مصنف رَحِمَهُ الله د فرضِ علمي (فرضِ عتقادي چي د هغه منکر کافر دی) له بیـان څخه فـارغ سـو، نو اوس فـرضِ عملـي (چي د هغه اداء کول عملاً فرض دي. اعتقاداً واجب دي) پـه بیـان شـروع کوي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي)

د وترو لغوي او اصطلاحي معنیٰ: وتر د واو په کسـره او فتحه دواړو سره ویـل کېدلای سـي، خو د کسـرې لغت یې زیات مشهور دی، وتر په لغت کي طاق شمېر ته وایي کوم چي د جفت (جوت) ضـد دی.

او د شریعت په اصطلاح کي هغه خاص لمانځه ته وایي چي په هغه کي درې رکعته کول کیـږي او د هغه وخت د ماخوسـتن له لمانځه څخه وروسته دی. (عمدة الفقه. مراقی الفلاح)

د وترو حکم

﴿۶۱۵﴾ الْوِتْـرُ وَاجِبٌ وتر واجب دي.

تشریح: د وترو لمونځ په هر عاقل، بالغ مسـلمان باندي ضروري دی یعني د هغه اداء کول عملاً فرض دي، اعتقاداً واجب دي، او که هغه له یو چا څخه پاته سي، نو قضاء یې لازمه ده. تر دې وروسته په دې پوهېدل پکار دي چي د احنافو په نېز وتر واجب دي او د نورو امامانو په نېز سنت دي. لېکن داسي سنت دی چي د هغه پرېښوول د دوی په نېز هم جائز نه دي، لکه څرنګه چي د اخترونو لمونځ د ائمه ثلاثه وو په نېز سنت دی. خو د هغه پرېښوول جائز نه دي او د احنافو په نېز د اخترونو لمونځ واجب دی. او په واجب او فرض کي د عمل په اعتبار سره هیڅ فرق نسته، پر دواړو عمل ضروري دی، خو د عقیدې په اعتبار سره فرق پکښې سته. د فرضو منکر کافر دی او د واجبو منکر کافر یا ګمراه نه دی.

فایده: ټوله امامان په دې باندي متفق دي چي که د وترو لمونځ پاته سي، نو د هغه قضاء سته (او کله چي د وترو قضاء سته. نو ثابته سوه چي وتر واجب دي). او په دې خبره کې اختلاف دی چي قضاء تر کومه وخته پوري لازم ده؟ د احنافو په نېز ابداً قضاء واجب ده؛ ځکه کله چي وتر واجب دي. نو بیا ټول ژوند د هغه اداء کول ضروري دي. او د ائمه ثلاثه وو په نېز د سهار د فرضو تر اداء کولو پوري یې

قضاء سته، یعني کله چي د سهار فرض وکړي، نو د قضاء وخت تېر سو. بیا یې قضاء نه سي را وړلای او ګناه لازمه سوه. (تحفة الالمعی ج:۲، ص:۲۲۲، البحر الرائق ج:۲، ص:۴۱)

د وترو د لمانځه طریقه

﴿۶۱۶﴾ وَهُوَثَلَاثُ رَكَعَاتٍ بِتَسْلِيمَةٍ او وتر درې رکعته دي په یوه سلام سره وَيَقْرَأُفِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ مِنْهُ الْفَاتِحَةَ وَ سُوْرَةً او وایي دي د وترو په هر رکعت کي سورة الفاتحه او یو سورت وَيَجْلِسُ عَلٰى رَأْسِ الْأُوْلَيَيْنِ مِنْهُ او کښېني دي د وترو د اولو دوو رکعتونو پر سر (یعني ناسته به پر اولو دوو رکعتونو کوي) وَيَقْتَصِرُعَلَى التَّشَهُّدِ او اکتفا دي کوي (په دې اوله ناسته کي) پر تشهد وَلَايَسْتَفْتِحُ عِنْدَ قِيَامِهِ لِلثَّالِثَةِ او ثناء (سبحانک اللهم ...) دي نه وایي درېیم رکعت ته د ولاړېدلو په وخت کي وَإِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ السُّوْرَةِ فِيْهَا او کله چي فارغ سي د سورت له ویلو څخه په درېیم رکعت کي رَفَعَ يَدَيْهِ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ نو پورته دي کړي خپل دواړه لاسونه د غوږو تر برابرۍ پوري ثُمَّ كَبَّرَوَقَنَتَ قَائِمًا قَبْلَ الرُّكُوْعِ بیا دي الله اکبر ووایي او قنوت دي ووایي د ولاړي په حالت کي له رکوع څخه مخکي فِيْ جَمِيْعِ السَّنَةِ په ټوله کال کي (یعني ټوله کال دي له رکوع څخه مخکي د ولاړي په حالت کي دعاء قنوت وایي).

لغات: ﴿یقتصر﴾ د افتعال د باب مضارع معلومه ده، مصدر: اقتصار: پر یو شي انحصار کول. اکتفاء کول.

تشریح: د وترو د لمانځه طریقه دا ده چي په یوه سلام سره دي درې رکعته وکړل سي. په هر رکعت کي دي د سورة الفاتحه سره سورت یو ځای کړی سي، پر دویم رکعت دي د نورو لمنځونو په څېر قعده (ناسته) وکړل سي او په درېیم رکعت کي له سورت ویلو څخه وروسته دي په رفع الیدین سره تکبیر وویل سي. بیا دي لاسونه خپل ځای ته یوړل سي اوله دعاء قنوت ویلو څخه وروسته دي رکوع ته ولاړ سي. او دعاء قنوت به همېشه له رکوع څخه مخکي وایي. نه په رکوع کي لکه د شوافعو په نېز. او هغوی دا صرف د رمضان المبارک په نصف اخیر کي وایي، همدارنګه د شوافعو په نېز د وترو طریقه دا ده چي دوه رکعته به په جلا سلام سره کېږي او آخري یو رکعت په جلا سلام سره

کیږي، نو مصنف رَحِمَهُ الله د "ثلاث رکعات بتسلیمة" او د "قبل الرکوع" او "جمیع السنة" په قیودو سره د هغو له مذهب څخه احتراز وکړی.

د "دعاء قنوت" محل

﴿ ٦١٧ ﴾ وَلَا يَقْنُتُ فِيْ غَيْرِ الْوِتْرِ او قنوت دې نه وایي له وترو څخه بغیر (بل لمانځه) کې.

تشریح: د احنافو په نیز له وترو څخه بغیر بل په هیڅ لمانځه کې قنوت نشته، لیکن د امام شافعي او امام مالک رَحِمَهُمَا الله په نیز د سهار په لمانځه کې قنوت ویل سنت دي. خو زموږ په نیز فقط هغه وخت د سهار په لمانځه کې قنوتِ نازله ویل کیدلای سي کله چې پر مسلمانانو یوه لویه سخته ستونزه راسي. یا یوه لویه فتنه او مصیبت پېښ سي.

﴿ ٦١٨ ﴾ وَالْقُنُوْتُ مَعْنَاهُ الدُّعَاءُ او د قنوت معنیٰ د دعاء ده وَهُوَ أَنْ يَّقُوْلَ او قنوت دا دی چې ووایي اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ اې الله تعالیٰ زموږ ستا څخه د مدد غوښتنه کوو (ستا د عبادت لپاره) وَنَسْتَهْدِيْكَ او موږ ستا څخه د هدایت (لارښوونې) غوښتنه کوو (د هغه څه لپاره په کوم څه کې چې ستا رضا ده) وَنَسْتَغْفِرُكَ او ستا څخه د مغفرت (بخښنې) غوښتنه کوو (د خپلو ګناهونو) وَنَتُوْبُ إِلَيْكَ او موږ تا ته رجوع کوو (له ګناهونو څخه توبه او په آینده نه کې د نه کولو پخه اراده کوو) وَنُؤْمِنُ بِكَ او پر تا ایمان راوړو (ستا د یو والي عقیده لرلو او په ژبه سره یې اقرار کوو) وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ او صرف پر تا توکل (باور) کوو (ټول امور تا ته سپارو) وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ كُلَّهٗ او موږ پر هر خیر ستا ثناء (تعریف) بیانوو نَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ موږ ستا شکر اداء کوو او ستا ناشکري نه کوو (یا په بله وینا ستا د احساناتو انکار نه کوو) وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ موږ جلا کیږو او پرېږدو هر هغه کس کوم چې ستا نافرماني کوي اَللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ اې الله! موږ خاص ستا عبادت کوو وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ او صرف تا لره لمونځ کوو او سجدې کوو وَإِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ او صرف ستا و طرف ته منډه وهو او تېزي کوو (ستا و طاعت ته. یا په بله وینا، په عمل کې سعی او کوشش کوو د هغه شیانو د حاصلولو لپاره کوم چې موږ تا ته نژدې کوي) وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ او ستا د رحمت

امیدلرو وَنَخْشٰی عَذَابَكَ او ستا له عذاب څخه بېرېږو إِنَّ عَذَابَكَ الْجِدَّ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ بېشکه ستا عذاب کوم چي حقیقي دی کافرانو ته لاحقېدونکی (رسېدونکی) دی وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَآلِهِ وَسَلَّمَ او درود (رحمت) دي نازل کړي الله تعالیٰ پر نبي ﷺ او د هغه پر آل و اولاد او سلامتیا دي نازله کړي (یعني له دعاء قنوت څخه وروسته دي بیا دا درود شریف وایي).

لغات: ﴿القنوت﴾ د نصر د باب مصدر دی: طاعت کول، دعاء، دلته له قنوت څخه مراد "دعاء" ده.

﴿نستعين﴾ د استفعال له بابه د جمع متکلم مضارع معلومي صیغه ده، مصدر: إِستعانة: د مدد طلب کول، مدد غوښتل، ﴿نستهدي﴾ مخکنۍ صیغه ده، مصدر: إِستهداء: د هدایت یا لاروښوونې طلب کول، ﴿نستغفر﴾ مخکنۍ صیغه ده، مصدر: استغفار: له الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو د بخښنې طلب کول، معافي غوښتل، ﴿نتوب﴾ د نصر له بابه مخکنۍ صیغه ده، مصدر: تَوَكُّلًا: که د دې باب په صله کي "علیٰ" راسي، نو معنیٰ یې ده: اعتماد او بروسه کول، توکّل علی الله: پر خدای تعالیٰ اعتماد کول، خپل ځان الله تعالیٰ ته حواله کول، د اهلِ باطن په اصطلاح کي: توکّل په هر شي کي پر الله تعالیٰ اعتماد کول او کوم څه چي د بندګانو سره دي، له هغه څخه نا اُمیده کېدل او یقین نه باندي کول.

﴿نثني﴾ د افعال له بابه مخکنۍ صیغه ده یعني جمع متکلم مضارع معلومه ده: تعریف کول.

﴿خير﴾ اسم تفضیل دی (خلاف القیاس؛ ځکه قیاسا د هغه وزن أَفْعَل دی)، معنیٰ یې ده: زیات ښه، زیات غوره، "خیر" هر هغه څه ته وایي کوم چي حسن لذاته وي وي یعني د هغه په ذات کي ښه والی او ښکنه وي او په هغه کي ذاتي لذت، ذاتي نفع او ذاتي خوشبختي وي، جمع: خِيَارٌ و أَخْيَارٌ و خُيُورٌ. الْخَيْرَ دلته منصوب دی د مصدر کېدلو پر بناء أی ثناء الخیر یا د مفعول کېدلو پر بناء چي د نُثْنِي مفعول دی، یا منصوب بنزع الخافض دی أی بالخیر ﴿نشكر﴾ د نصر له بابه د جمع متکلم مضارع صیغه ده؛ شکر کښل، شکریه اداء کول، د یو چا په احسان یا انعام باندي د هغه تعریف کول.

﴿نخلع﴾ د فتح له بابه مخکنۍ صیغه ده؛ ایستل، کښل، بېزاره کېدل، ونخلع من یفجرك أی نتبرأ منه (ونتخلص منه)، ﴿يفجر﴾ د نصر له بابه د واحد مذکر غائب مضارع صیغه ده، مصدر: فُجُورًا: بد کاره کېدل، په لاپروایۍ سره په ګناهونو مبتلا کېدل، ګناه کول، ﴿نسعى﴾ د فتح له بابه د جمع متکلم

صیغه ده. سَعْیًا: په یو کار کې کوښښ کول، خواري کښل، د یو شي طرف ته اراده او تګ کول، ځغستل. ﴿نحفد﴾ د ضرب له بابه مخکنۍ صیغه ده، مصدر: حَفَدَانًا: په یو کار کې تېزي کول. أي نُسرع إلی الطاعة. ﴿ملحق﴾ د افعال له بابه اسم فاعل دی: لاحق کېدونکی (متصل کېدونکی)، رسېدونکی.

تشریح: فرمایي د قنوت معنیٰ د دعاء ده، لهذا که یو څوک مختصره دعاء ووایي، نو هم دا واجب اداء کېږي. لېکن مذکوره دعاء ویل سنت دي او له دعاءِ قنوت څخه وروسته درود شریف نه ویل زمونږ مشایخو اختیار کړي دي، لېکن په درمختار او فتاویٰ رشیدیه وغیره کې درود شریف ویل غوره او مستحب شمېرل سوي دي، همدا مصنف رَحِمَهُ الله اختیار کړي دي. (شفاء الارواح بحوالۀ عمدة الفقه)

یادونه: دعاءِ قنوت په حدیثو کې په بېلابېلو الفاظو سره نقل سوې ده. او تر ټولو غوره دا ده:

«اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَ نُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَ نَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ، اَللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَإِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَ نَخْشٰى عَذَابَكَ إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ».

او غوره دا ده چې هغه دعاء هم تر قنوت وروسته وویل سي کوم چې رسول الله ﷺ حضرت حسن رضی الله عنه ته ښوولې وه چې په را روان عبارت کې به هم ذکر سي:

«اَللّٰهُمَّ اهْدِنَا (بِفَضْلِكَ) فِيْمَنْ هَدَيْتَ وَعَافِنَا فِيْمَنْ عَافَيْتَ وَتَوَلَّنَا فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ وَبَارِكْ لَنَا فِيْمَا أَعْطَيْتَ وَقِنَا شَرَّ مَا قَضَيْتَ إِنَّكَ تَقْضِيْ وَلَا يُقْضٰى عَلَيْكَ وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ». (په اصل کې دا دعاء د واحد متکلم په صیغه سره منقوله ده یعني «اللّٰهم اهدني... إلخ») او که خوښه یې وي، درود دې هم په آخر کې ور سره زیات کړي «وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى نَبِيِّهٖ وَآلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ».

له دعاءِ قنوت څخه وروسته بله دعاء

﴿۶۱۹﴾ وَالْمُؤْتَمُّ يَقْرَأُ الْقُنُوْتَ كَالْإِمَامِ او مقتدي به د امام په شان قنوت (دعاءِ قنوت) وایي.

تشریح: قنوت ویل واجب دي د امام او مقتدي ټولو لپاره، صرف د امام قنوت ویل د مقتدیانو له طرفه نه کافي کېږي.

﴿٦٢٠﴾ وَإِذَا شَرَعَ الْإِمَامُ فِي الدُّعَاءِ بَعْدَ مَا تَقَدَّمَ او کله چي امام په دعاء ("اللهم اهدنا بفضلك فيمن هديت الخ) شروع وکړي وروسته له هغه (قنوت) څخه کوم چي مخکي ذکر سو (یعني کله چي امام له دعاءِ قنوت څخه وروسته دا بله دعاء شروع کړي کوم چي له دعاءِ قنوت څخه وروسته ویل کیږي چي هغه عموماً دا دعاء وي "اللهم اهدنا الخ" چي په را روان عبارت کي به ذکر سي) قَالَ أَبُوْيُوْسُفَ رَحِمَهُ اللهُ: يُتَابِعُوْنَهُ وَيَقْرَءُوْنَهُ مَعَهُ نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله فرمایي: چي مقتدیان دي د امام تابعداري کوي (یعني) د امام سره دي دا دعاء وايي وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يُتَابِعُوْنَهُ او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي: چي مقتدیان دي د امام تابعداري نه کوي وَلٰكِنْ يُؤَمِّنُوْنَ لیکن آمین دي وايي.

لغات: ﴿يتابعون﴾ د مفاعلې له بابه جمع مذکر غائب مضارع معلومه ده، مصدر: مُتابعة: د دې باب څو معناوي دي چي له هغوی څخه یوه معنیٰ ده: په چاپسي تلل، تابعداري کول.

تشریح: اوس دلته دا بیانوي چي که امام له دعاءِ قنوت څخه وروسته دا دعاء "اللّٰهم اهدنا...الخ" شروع کړي، نو مقتدیان به څه کوي؟، نو په دې باره کي د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي په دې دعاء کي به هم مقتدیان د امام متابعت کوي (یعني لکه څرنګه چي دعاء قنوت وايي. دا به هم وايي)، لیکن امام محمد رَحِمَهُ الله فرمایي چي د امام متابعت به نه کوي، بلکي د امام شا ته به صرف آمین، آمین وايي.

﴿٦٢١﴾ وَالدُّعَاءُ هُوَ هٰذَا او دعاء هغه دا ده اَللّٰهُمَّ اهْدِنَا بِفَضْلِكَ فِيْمَنْ هَدَيْتَ اې الله! په خپل فضل سره موږ ته هدایت وکړه (شامل مو کړه!) په هغه نېکو بندګانو کي چي هغو ته تا هدایت کړی دی وَعَافِنَا فِيْمَنْ عَافَيْتَ او موږ ته عافیت (له مصیبتونو څخه سلامتیا) راکړه (شامل مو کړه) په هغه بندګانو کي چي تا عافیت ورکړی دی وَتَوَلَّنَا فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ او زموږ ولي (نګران او کارساز) سه! (شامل مو کړه) په هغه بندګانو کي چي ته د هغو ولي یې وَبَارِكْ لَنَا فِيْمَا أَعْطَيْتَ او موږ ته برکت راکړه (برکت راچوه)! په هغه شیانو کي کوم چي دي موږ ته راکړي دي (صحت، مال او سرمایه، ښځي او بچیان) وَقِنَا شَرَّ مَا قَضَيْتَ او موږ وساته! د هغه شیانو له شر څخه د کومو چي تا فیصله کړې ده (یا په بله وینا، د هغه فیصلو له بدو اثراتو څخه کومي فیصلې چي تا کړي دي) إِنَّكَ

تَقْضِىْ وَلَا يُقْضٰى عَلَيْكَ بېشکه صرف هم ته فيصله کوې او ستا په خلاف هيڅ فيصله نه سي کېدلای (يعني اې رب تعالىٰ ستا فيصله ضرور پوره کېدونکې ده. زه د هغه د بدلېدلو غوښتنه نه کوم بلکې د هغه له شر او بد اثر څخه پناه غواړم) إِنَّهٗ لَا يَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ بېشکه نه ذليله (او رسوا) کيږي هغه کس کوم چې ته خپل دوست جوړ کړې وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ او نه عزتمن کيږي هغه کس څوک چې ته خپل دښمن وګرځوې تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ ته د برکت خاوند يې! اې زموږ ربه! او ته بالا و برتر يې (ستا شان ډېر لوړ دی) وَصَلَّى اللهُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ آلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ او درود دي نازل کړي الله تعالىٰ زموږ پر سردار محمد ﷺ او د هغه پر اولاد (کورنۍ) او پر صحابه وو او سلامتيا دي نازله کړي.

لغات: ﴿اِهْدِ﴾ د ضرب له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صيغه ده. مصدر: هُدًى و هَدْيًا: لار ښوول، څرګندول، طلب د لارښووني کول، پر صحيح لاره کېدل. ﴿عَافِنَا﴾ د مفاعلې له بابه د واحد متکلم امرِ حاضر صيغه ده او په آخر کې يې "نا" ضمير د جمع متکلم دی. معافاةً و عافيةً: له مرض او آفت څه محفوظ ساتل، صحت او عافيت ورکول. ﴿تولّيت﴾ د تفعّل له بابه د واحد مخاطب ماضي معلوم صيغه ده. تولّيا: ذمه واري اخيستل (يو کار په غاړه اخيستل)، مدد کول (معجم الوسيط). ﴿قِنَا﴾ "قِ" د ضرب له بابه د واحد مذکر امرِ حاضر صيغه ده. وقايةً: ساتل، بچ کول. ﴿لا يذلّ﴾ د ضرب له بابه د نفي معلوم صيغه ده. ذُلًّا و ذِلَّةً: ذليل کېدل، بې وقعته کېدل. ﴿واليت﴾ د مفاعلې له بابه د واحد مخاطب ماضي معلوم صيغه ده. مُوَالَاةً: د يو چا سره محبت کول. د دوستۍ او مدد تړون ور سره کول. ﴿لا يعزّ﴾ د ضرب له بابه د نفي معلوم صيغه ده. عِزًّا و عِزَّةً و عَزَازَةً: عزت داره کېدل. د عزت خاوند کېدل. ﴿عاديت﴾ د مفاعلې له بابه د واحد مخاطب ماضي معلوم صيغه ده. مُعَادَاةً: دښمني کول. يو څوک خپل دښمن ګرځول.

تشريح: همدا هغه دعاء ده کوم چې له دعاءِ قنوت څخه وروسته ويل غوره او افضل دي او همدا دعاء شوافعو د قنوت لپاره اختيار کړې ده او احنافو دا په قنوتِ نازله سره نومولې ده. کله چې يو ځای مسلمانان د دښمنانو له طرفه په سخته فتنه او مصيبت مبتلا سي، نو حکم دا دی چې امام دې د سهار په لمانځه کې له رکوع څخه په وروسته قومه کې قنوتِ نازله وايي چې په هغه کې به د مسلمانانو

لپاره له فتنې څخه حفاظت او د اعداء الاسلام د تباهی او د مغلوبۍ له شر څخه د بچ کېدلو دعاګاني کېږي، مقتديان حضرات به سرّا (په پټه) آمين وايي.

سوال: په "اللّٰهم اهدنا" کي دا سوال وارديداى سي چي مسلمان خو له مخکي څخه پر هدايت دی، په همدې وجه خو اوس پر لمانځه ولاړ دی، نو په "اللّٰهم اهدنا" کي د هدايت دعاء کول تحصيل حاصل دی؟

جواب: د هدايت معنیٰ "ثَبِّتْنَا عَلَى الهُدیٰ" ده. يعني موږ پر هدايت ثابت قدم وساته!. د "اهدنا الصراط المستقيم" هم دغه معنیٰ ده.

که د چا دعاءِ قنوت زده نه وي، نو څه حکم دی؟

﴿۶۲۲﴾ وَمَنْ لَّمْ يُحْسِنِ الْقُنُوْتَ او څوک چي قنوت (دعاءِ قنوت) ښه نه سي ويلای يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ هغه دي وايي: "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ" (اې الله ما ته بخښنه وکړې!) درې واره أَوْ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ يا (دي وايي) "رَبَّنَا آتِنَا إلخ" (چي د هغه ترجمه ده: اې زموږ ربه موږ ته په دنيا کي هم نېکي او ښېګڼه راکړه او په آخرت کي هم، او موږ د دوږخ له عذاب څخه وساته!) أَوْيَا رَبِّ يَا رَبِّ يَا رَبِّ يا (دي وايي) "يَا رَبِّ يَا رَبِّ يَا رَبِّ" (درې واره وايي. لېکن د دعاءِ قنوت د زر يادولو کوشش دي جاري وساتي. د دې لپاره چي د سنت فضيلت ور حاصل سي).

تشريح: چا ته چي دعاءِ قنوت ياده نه وي، نو د هغه د يادولو کوشش کول پکار دي او تر څو پوري چي ور ته ياده نه سي، تر هغه وخته پوري دي له مذکوره دريو دعاګانو څخه يوه دعاء وايي: ① «رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّار»، ② که مخکينۍ دعاء نه سي ويلای. نو کم از کم درې واره دي دا دعاء وايي: « اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ »، ③ يا دي درې واره « يَا رَبِّ » وايي.

او "ربنا آتنا في الدنيا... إلخ" يوه جامع دعاء ده کوم چي د دنيا او آخرت هرې ښېګڼې لره شامله ده. د دنيا په ښېګڼو کي صحت، عافيت، د ضرورت په اندازه رزق. علمِ نبوي، ښه عبادت، نېکه ښځه، فرمانبرداره اولاد او په هره معامله کي توفيق دا ټول له پکښې داخل دي، او د آخرت په ښېګڼو

کې د محشر د ورځې له بیرې څخه نجات، د ګناهونو بخښنه او د جنت داخلېدلو نعمتونه شامل دي (لهذا دا دعاء خپل معمول جوړول پکار دي).

د حنفي کس لپاره په شافعي امام پسې د سهار لمونځ کول

﴿۶۲۳﴾ وَإِذَا اقْتَدٰى بِمَنْ يَّقْنُتُ فِي الْفَجْرِ او کله چې اقتداء وکړي په هغه کس (امام) پسې کوم چې د سهار په لمانځه کې قنوت وایي قَامَ مَعَهٗ فِيْ قُنُوْتِهٖ سَاكِتًا نو ودې دریږي د هغه (امام) سره د هغه په قنوت کې خاموشه (چپ) فِي الْأَظْهَرِ د ظاهر روایت مطابق وَ يُرْسِلُ يَدَيْهِ فِيْ جَنْبَيْهِ او ایله دې کړي خپل دواړه لاسونه خپل دواړو بغلو ته (یعني دواړه لاسونه دې ځړېدلي پرېږدي).

لغات: ﴿ساكتًا﴾ د نصر له بابه اسم فاعل دی، مصدر: سكوتًا: چپ کېدل، خاموش کېدل. ﴿يُرسل﴾ د افعال له بابه مضارع معلومه ده، إرسالًا: ایله کول، پرېښوول. ﴿جنب﴾ اړخ، بغل. جمع: جُنُوْبٌ.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که حنفي کس د سهار په لمانځه کې په شافعي امام پسې لمونځ وکړي، چې د هغو په نیز د سهار په لمانځه کې قنوت ویل سنت دي، نو کله چې هغه قنوت ووایي. نو حنفيُ المذهب دې قنوت نه وایي، بلکې لاسونه دې ځوړند پرېږدي (لکه څرنګه چې په قومه کې یې ځړوي) او هغومره وخت دې خاموش ودرېږي، همدا ظاهر مذهب دی.

* * *

په شافعي امام پسې وتر اداء کول

مسئله: د احنافو په نیز د وترو درې رکعته په یوه سلام سره اداء کول کېږي، حال دا چې د نورو امامانو په نیز وتر په دوو سلامونو سره اداء کول کېږي، اوس که یو حنفي کس داسې ځای لمونځ کوي چې هلته شافعي یا حنبلي امام په دوو سلامونو سره وتر اداء کوي، مثلًا په مکه شریفه او مدینه شریفه کې امام په دوو سلامونو سره د وترو لمونځ ورکوي، نو دا حنفي کس به په وترو کې د هغو اقتداء کوي. که نه؟ په دې باره کې د احنافو دوې نظریې دي: ① څرنګه چې د زیاتره فقهاؤ په نیز د جماعت په لمانځه کې د مقتدي عقیدې او رایې ته اعتبار دی، او په دوو سلامونو سره وتر اداء کول د حنفي المذهب په نیز صحیح نه دي، لهذا د هغه حنفي کس لپاره په دوو سلامونو سره د وترو اداء کونکي امام پسې لمونځ کول نه صحیح کېږي، ② دویمه نظریه د علامه ابوبکر جصاص رازي او

علامه هندواني رَحِمَهُمَا الله ده چي په داسي صورت کي د مقتدي رايي لره اعتبار نسته. بلکي د امام رايي لره اعتبار دی، نو څرنګه چي دلته په دوو سلامونو والا وترو کي د امام رايه صحيح ده. لهذا کوم مقتدي چي په هغه پسي لمونځ کوي، د هغه وتر هم صحيح کيږي. نن سبا ماشاء الله د روژې پر موقع په مکه او مدينه شريفه کي د احنافو ډېره غټه مجمع وي، د هغو لپاره په دې کي حرج او ستونزه وي چي د وترو جماعت پرېږدي او جلا يې اداء کړي، نو ځکه مناسب دا ده چي په دې اجتهادي مسئله کي د ابو بکر جصاص رازي رَحِمَهُ الله په رايه په عمل کولو سره احنافو ته د حرم او مدينې د امام په اقتداء کي د وترو اداء کولو حکم ورکول سي، علامه ابن وهبان رَحِمَهُ الله همدې ته ترجيح ورکړې ده. همداسي د شيخُ الهند رَحِمَهُ الله موقف نقل سوی دی. (کتاب المسائل ص: ۴۱۰، انوار رحمت ص: ۶۹، البحر الرائق ص: ۴۲)

که مقتدي دعاءِ قنوت هېره کړي او رکوع ته ولاړ سي

﴿۶۲۳﴾ وَإِذَا نَسِيَ الْقُنُوْتَ فِي الْوِتْرِ او کله چي په وترو کي قنوت هېر کړي (يعني دعاء قنوت ځني هېر سي) وَتَذَكَّرَهٗ فِي الرُّكُوْعِ أَوِ الرَّفْعِ مِنْهُ او په رکوع کي ورته ياد سي يا له رکوع څخه د پورته کېدلو په وخت کي (يعني په قومه کي) لَا يَقْنُتُ نو قنوت دي نه وايي وَلَوْ قَنَتَ بَعْدَ رَفْعِ رَأْسِهٖ مِنَ الرُّكُوْعِ او که له رکوع څخه تر را پورته کېدلو وروسته (په قومه کي) قنوت ووايي لَا يُعِيْدُ الرُّكُوْعَ نو رکوع دي نه راګرځوي وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ او سجدهٔ سهو دي وکړي لِزَوَالِ الْقُنُوْتِ عَنْ مَحَلِّهِ الْأَصْلِيِّ له خپل اصل ځای څخه د قنوت لېري کېدلو په وجه.

لغات: ﴿نَسِيَ﴾ د سمع له بابه ماضي معلومه ده، نَسْيًا و نِسْيَانًا: هېرول، له ذهن او حافظې څخه وتل.

﴿تذکّر﴾ د تفعل د باب ماضي ده: يادېدل، په ياد راتلل، ﴿محلّ﴾ مقام، ځای، جمع: مَحَالّ.

تشريح: که يو څوک په هېره قنوت پرېږدي او رکوع ته ولاړ سي، بيا ورته ياده سي چي قنوت خو مې نه دی ويلی، يا کله چي له رکوع څخه سر را پورته کړي، نو بيا ورته ياده سي چي قنوت مې نه دی ويلی، نو حکم دا دی چي اوس دي نه په رکوع کي قنوت وايي او نه دي له رکوع څخه تر را پورته کېدلو وروسته قنوت وايي، بلکي سجدهٔ سهو دي وکړي او که له رکوع څخه تر را پورته کېدو وروسته په قومه کي قنوت ووايي، نو بيا دي بله رکوع نه کوي او په دې وخت کي هم پر هغه سجدهٔ سهو واجب ده، ځکه قنوت له خپل محل څخه وځنډول سو.

﴿۶۲۵﴾ وَلَوْ رَكَعَ الْإِمَامُ قَبْلَ فَرَاغِ الْمُقْتَدِيْ مِنْ قِرَاءَةِ الْ[illegible] چي امام رکوع وکړي مخکي تر فارغېدلو د مقتدي د قنوت له ویلو څخه أَوْ قَبْلَ شُرُوْعِهِ فِيْهِ یا مخکي د مقتدي د قنوت له شروع کولو څخه وَخَافَ فَوْتَ الرُّكُوْعِ او مقتدی د رکوع په فوتېدلو (تېرېدلو) وېرېږي تَابَعَ إِمَامَهُ نو هغه دي د خپل امام اتباع وکړي (یعني د هغه سره دي رکوع وکړي).

لغات: شروعه: د ضمیر مرجع مقتدی دی، فیه: د ضمیر مرجع قنوت دی.

تشریح: په دې عبارت کي دوې مسئلې بیان سوي دي: ① مقتدي که تر اوسه دعاءِ قنوت پوره کړې نه وي چي امام رکوع ته ولاړ سي، نو مقتدي ته پکار دي چي خپله دعاء پرېږدي او د امام سره رکوع ته ولاړ سي. (در مختار ج:۲، ص:۴۴۲)

② مقتدي تر اوسه دعاءِ قنوت شروع کړې هم نه وي چي امام د رکوع تکبیر ووایی، نو که مقتدي ته دا امید وي چي زه د مختصري دعاء تر ویلو وروسته اوس هم رکوع نیولای سم، نو مقتدی دي هغه دعاء ووایي او په رکوع کي دي شامل سي او که د امام سره د رکوع د نه نیولو بېره وي، نو دعاءِ قنوت دي پرېږدي. (در مختار ج:۲، ص:۴۴۷، کتاب المسائل ص:۴۱۱، ص:۴۱۲)

که امام دعاءِ قنوت هېره کړي او رکوع ته ولاړ سي؟

﴿۶۲۶﴾ وَلَوْ تَرَكَ الْإِمَامُ الْقُنُوْتَ او که امام قنوت پرېږدي يَأْتِيْ بِهِ الْمُؤْتَمُّ نو مقتدی دي هغه ووایي إِنْ أَمْكَنَهُ مُشَارَكَةُ الْإِمَامِ فِي الرُّكُوْعِ که چیري د ده لپاره ممکنه وي د امام سره په رکوع کي شریک کېدل وَإِلَّا تَابَعَهُ کنې د امام اتباع به کوي.

لغات: ﴿مشارکة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دی: دیو چا سره شریک کېدل، شرکت کول.

تشریح: که امام په هېره دعاءِ قنوت پرېږدي او رکوع ته ولاړ سي، نو په دې صورت کي هم هغه حکم دی چي که مقتدي ته دا بېره وي چي رکوع به د امام سره نه ونیسم، نو د امام سره دي په رکوع کي شامل سي او که دا بېره نه وي، نو قنوت دي ووایي او په رکوع کي دي شامل سي، او پر داسي موقع دي یو مختصره دعاء دې واره ووایي لکه "اللّٰهمّ اغفرلی" او داسي نور.

مسبوق به د امام سره دعاء قنوت وايي

﴿٦٢﴾ وَلَوْ أَدْرَكَ الْإِمَامَ فِيْ رُكُوْعِ الثَّالِثَةِ مِنَ الْوِتْرِ او که څوک امام د وترو د دریم رکعت په رکوع کي ونیسي كَانَ مُدْرِكًا لِلْقُنُوْتِ نو هغه د قنوت نیونکی سو (یعني ګواکي هغه دعاء قنوت ورېله) فَلَا يَأْتِيْ بِهٖ فِيْمَا سُبِقَ بِهٖ نو قنوت دي نه وايي په هغه رکعتو کي کوم چي مخکي څني تېر سوي دي.

لغات: ﴿أدرك﴾ د افعال د باب ماضي ده، مصدر: إدراکًا: موندل، نیول. ﴿سبق﴾ د فتح له بابه ماضي مجهوله ده: مخکي کېدل، مخکي تېرېدل.

تشریح: که څوک د امام سره د وترو په دریم رکعت کي شامل سي او له هغه څخه دعاء قنوت تېره سوې وي، نو کله چي هغه خپل باقي مانده رکعتونه راګرځوي، په هغه کي به قنوت نه وايي؛ ځکه څرنګه چي هغه دریم رکعت ونیوی، همداسي یې قنوت هم ونیوی (یا بله ورنادا چي کله هغه دریم رکعت ونیوی، نو ګواکي دعاءِ قنوت یې هم ورېله)، نو ځکه اوس په پاتېه دوو رکعتونو کي د هغه ویلو ته ضرورت نسته.

په رمضان کي وتر په جماعت سره کول سنت دي

﴿٦٢٨﴾ وَيُوْتِرُ بِجَمَاعَةٍ فِيْ رَمَضَانَ فَقَطْ او وتر به په جماعت سره صرف په رمضان کي کوي وَصَلٰوتُهٗ مَعَ الْجَمَاعَةِ فِيْ رَمَضَانَ أَفْضَلُ مِنْ أَدَائِهٖ مُنْفَرِدًا آخِرَ اللَّيْلِ او وتر په جماعت سره کول په روژه کي افضل دي د هغه له تنها اداء کولو څخه د شپې په آخر کي فِيْ اخْتِيَارِ قَاضِيْ خَانْ د قاضي خان رَحِمَهُ الله د اختیار (اختیار سوي قول) مطابق قَالَ: هُوَ الصَّحِيْحُ قاضي خان ویلي دي: همدا صحیح ده وَصَحَّحَ غَيْرُهٗ خِلَافَهٗ او له قاضي خان څخه بغیر نورو د دې خلاف (مخالف قول) صحیح ګرځولی دی (یعني چي د شپې په آخر کي تنهاء وتر اداء کول افضل دي).

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي فقط د روژې په میاشته کي به وتر په جماعت سره کول کېږي، له روژې څخه بغیر په نورو میاشتو کي به په جماعت سره نه کول کېږي، لېکن په رمضان کي سنت څه دي؟ وتر په جماعت سره کول او که یوازي کول؟.

په دې باره کي د علماؤ اختلاف دی، قاضي خان ويلي دي چي د روژې په [illegible] تراويحو څخه وروسته وتر په جماعت سره کول سنت دي، فتویٰ پر همدې قول ده. بعضي حضرات فرمايي چي د وترو لمونځ دي د روژې په مياشته کي تنها په خپل کور کي کول کيږي، همدارنګه بعضي فرمايي چي د روژې په مياشته کي وتر د شپې په آخر کي تنها اداء کول افضل دي او له قاضي خان څخه بغير نورو حضراتو همدې ته صحيح ويلي دي (چي د شپې په آخر کي تنها اداء کول افضل دي). (شامي ج:۱، ص:۶۶۵، قاضيخان على الهنديه ج:۱، ص:۲۲۴، شفاء الارواح ص:۲۲۹)

* * *

د روژې په مياشته کي د ماخوستن لمونځ تېر پدل

مسئله: د روژې په مياشته که له يو چا څخه د ماخوستن جماعت تېر سي او هغه په داسي وخت کي مسجد ته ورسيږي کله چي تراويح په جماعت سره کيږي، نو هغه دي اولاً د ماخوستن فرض وکړي. تر دې وروسته دي په تراويحو کي شريک سي او وتر دي په جماعت سره وکړي او د تراويحو چي څو رکعته څني تېر سوي وي، هغوی دي له وترو څخه وروسته اداء کړي. (صنيري ص:۲۱۰، امداد الاحکام ج:۲، ص:۲۱۵ - ۲۱۷)

* * *

فَصْلٌ فِي النَّوَافِلِ

(دا) فصل په (بيان د احکامو د) نفلو کي دی

تشریح: نوافل جمع د نفل ده، نفل په لغت کي ”زیاتوب“ (زيادة) ته وايي او په اصطلاح کي هر هغه عبادت ته وايي چي نه فرض وي او نه واجب، یعني هغه عبادت چي تر لازمي عبادت زائد (اضافي) وي، یا په بله وینا چي له فرضو او واجبو څخه بغير چي څومره هم لمنځونه دي، ټولو ته تطوع یعني نفل ویل کیږي، لهذا دا لفظ سنت مؤکده، غیرِ مؤکده او مستحباتو ټولو لره شاملیږي، سنتِ مؤکده بېله عذره پرېښوول ګناه ده او سنتِ غیر مؤکده بېله عذره پرېښوول خلاف اولیٰ دي یعني ښه نه دي او مستحبات (مندوبات) اداء کول دَ ثواب موجب دي او په پرېښوولو کي يې هيڅ حرج او کراهت نشته.

د نوافلو ضرورت: د فرائضو او واجباتو سره د نوافلو یعني د سنتو او نفلو خيال ساتل هم ضروري دي؛ ځکه ډېر ځله له انسان څخه د فرائضو په اداینه کي څه کمي راسي، نو په آخرت کي به د دې کمي تلافي په سنتو او نفلو سره کول کیږي، په حدیثو کي د دې صراحت سته (منتخب احاديث ص: ۲۲۳). نو ځکه هر مسلمان دي محض په فرائضو اکتفاء نه کوي، بلکي په خپل عملنامه کي دي د نوافلو ذخیره له زیاتو څخه زیاته جمع ساتي، د دې لپاره چي په آخرت کي د قُربِ الهي او د درجاتو د لوړ والي په نعمتونو سره سرلوړی سي. (انوار الايضاح)

﴿۶۲۹﴾ سُنَّ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً رَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ سنتِ مؤکده (کرځول سوي) دي دوه رکعته د سهار تر لمانځه (فرضو) مخکي وَ رَكْعَتَانِ بَعْدَ الظُّهْرِ وَ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَ بَعْدَ الْعِشَاءِ او دوه رکعته د ماپښین او ماښام او ماخوستن تر لمانځه وروسته وَ أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ وَ قَبْلَ الْجُمُعَةِ وَ بَعْدَهَا بِتَسْلِيمَةٍ او څلور رکعته د ماپښین او جمعې تر لمانځه مخکي او د جمعې تر لمانځه وروسته په یوه سلام سره.

تشریح: په دې عبارت کي څو مسئلو ذکر سوي دي: ① د سهار تر لمانځه مخکي دوه رکعته کول سنتِ مؤکده دي، نبي کريم ﷺ به په دې دوو رکعتو باندي ډېر ټينګار او پابندي کول. ② د ماپښين تر لمانځه وروسته دوه رکعته کول سنتِ مؤکده دي، ③ د ماښام تر لمانځه وروسته هم دوه رکعته سنت مؤکده دي ④ همدارنګه د ماخوستن تر لمانځه وروسته هم دوه رکعته سنت مؤکده دي.

⑤ د ماپښین تر لمانځه مخکي څلور رکعته په یوه سلام سره کول سنت دي، ⑥ همدارنګه د جمعې تر لمانځه مخکي څلور رکعته سنت مؤکده دي، همداسي د جمعې تر لمانځه وروسته.

ښکاره دي وي چي په کومو لمنځونو کي څلور رکعته سنت مؤکده دي، په هغوی کي سنت همغه وخت اداء کیږي کله چي څلور سره رکعته په یوه سلام سره وکړي، که بېله عذره هر دوه رکعته جلا، جلا وکړي، نو سنت نه اداء کیږي. (شامي ج۱، ص۶۳۰)

فایده: د سنتِ مؤکده وو د اداء کولو په هکله په حدیثو کي ډېر فضیلتونه وارد سوي دي، په یوه حدیث کي دي چي کوم څوک په ورځ او شپه کي له فرائضو څخه بغیر ۱۲ رکعته سنت کوي، د هغه لپاره به په جنت کي محل تعمیر کړل سي. (رواه مسلم، مراقی الفلاح ص۲۱۳)

❀ ❀ ❀

د سنتو نیت

مسئله: په سنتو او نفلو کي مطلق نیت کافي دی، یعني که محض دا نیت وکړي چي زه دومره رکعته لمونځ کوم، نو هم دا مذکوره سنت اداء کیږي، په جلا توګه "سنت" ویل یا وخت ذکر کول او داسي نور څه ضروري نه دي، او که څوک دا تفصیلات په نیت کي ذکر کړي، نو هم څه حرج نسته.

په بعضي خلکو کي دا خبره مشهوره ده چي فرض لمنځونه د الله لپاره کول کیږي، دا خبره محض پر جهالت مبني ده، لمنځونه خو ټول صرف د الله لپاره کول کیږي، برابره ده فرائض وي او که سنن او نوافل وي، او سنت لمنځونو ته فقط په دې وجه سنت ویل کیږي چي د هغوی د کولو ثبوت او حکم د نبي کریم ﷺ له طرفه سوی دی. (فتاویٰ دار العلوم ج:۴، ص:۲۰۲)

د سنن غیر مؤکده بیان

﴿۶۳۰﴾ وَنُدِبَ أَرْبَعٌ قَبْلَ الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ وَبَعْدَهُ او مستحب دي څلور رکعته د مازیګر او ماخوستن تر لمانځه مخکي وَسِتٌّ بَعْدَ الْمَغْرِبِ او شپږ د ماښام تر لمانځه وروسته.

تشریح: ① د مازیګر تر لمانځه مخکي څلور (۴) رکعته سنت غیر مؤکده دي، که د څلورو رکعتو موقع نه وي، نو لږ تر لږه دي دوه رکعته وکړي، ② د ماخوستن تر لمانځه مخکي څلور (۴) رکعته سنتِ غیرِ مؤکده دي، ③ همدارنګه د ماخوستن تر لمانځه وروسته څلور (۴) رکعته سنت غیر مؤکده دي، خو په دې کي اختلاف دی چي په دغه څلورو کي د ماخوستن دوه رکعته سنت مؤکده هم داخل دي او که هغه جلا دي؟ د بعضي حضراتو رایه دا ده چي په دغه څلورو رکعتو کي دوه رکعته مؤکده هم شامل دي، او بعضو هغوی جلا کړي دي او د شپږو رکعتو قائل دي. دوه رکعته مؤکده او څلور رکعته غیرِ مؤکده (حلبی کبیر:۳۷۸)، ④ د نبي کریم ﷺ فرمان دی چي کوم څوک د ماښام تر

لمانځه وروسته شپږ رکعته (د اوابین لمونځ) وکړي او د هغوی په مینځ کي څه غلطه خبره تر خوله نه وباسي، نو دا شپږ رکعته په ثواب کي د هغه لپاره د دولسو کالو د عبادت برابر کرځول کیږي. (ترمذی شریف ج:۱، ص:۹۸)

فایده: د ماښام تر لمانځه وروسته دغه شپږ رکعته نفلو ته "صلوٰة الاوّابین" وايي (یعني الله ته د رجوع کونکو خلکو لمونځ [توبه او استغفار کونکو لمونځ]). دغه لمونځ ټوله په یوه سلام یا په دوو سلامو سره کول هم جائز دي، لیکن په دریو سلامو سره یعني پر هرو دوو رکعتو سلام ګرځول افضل دي. د دې په فضیلت کي ذکر سوه چي د شپږو رکعتو ثواب د د دولسو کالو د عبادت برابر دي.

او د علماؤ په نېز صحیح او متحقق دا ده چي دغه شپږ رکعته له دوه رکعته سنتِ مؤکده وو څخه بغیر دي، نو ځکه دوه رکعته سنتِ مؤکده دي په جلا سلام سره وکړي. لیکن د حدیثو په الفاظو کي د دې هم ګنجایش سته چي دوه رکعته سنت مؤکده هم په دې لمانځه کي شامل کړل سي او د هغه سره شپږ رکعته وشمېرل سي. (شفاء الارواح. بحوالهٔ عمدة الفقه. و درس ترمذي)

د سنن مؤکده په اوله ناسته (قعدهٔ اولیٰ) کي به درود شریف نه وايي

﴿۶۳۱﴾ وَيَقْتَصِرُ فِي الْجُلُوْسِ الْأَوَّلِ مِنَ الرُّبَاعِيَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ عَلَى التَّشَهُّدِ او اکتفاء دي کوي د څلور رکعتیز سنت مؤکده وو په اوله ناسته کي صرف پر تشهد وَلَايَأْتِي فِي الثَّـ[illegible] بِدُعَاءِ الْإِسْتِفْتَاحِ او په درېیم رکعت کي دي د ثناء دعاء (سبحانك اللهم) نه وایي بِخِلَافِ الْمَنْدُوْبَةِ په خلاف (د څلور رکعتیز) مستحب لمانځه.

تشریح: د څلور رکعتیز سنتِ مؤکده لمونځ (لکه د ماپښین د لمانځه څخه مخکي څلور رکعته او د جمعې د لمانځه څخه مخکي او وروسته څلور رکعته) په اوله ناسته کي به فقط تشهد وايي یعني تر تشهد وروسته به درود شریف او دعاء نه وايي، همدا حکم په درې رکعتیز لمځونو کي د اولي ناستي دي، همدارنګه د درېیم رکعت په شروع کي به ثناء نه وایي. په خلاف د نفلو چي د نوافلو او سننِ غیره مؤکده وو په هر ناسته کي تشهد، درود او دعاء ټوله ویل کیږي. همدارنګه په درېیم رکعت کي ثناء، تعوذ او تسمیه هم ویل کیږي؛ ځکه نوافل او سنن شفعه دي. یعني د دوی هر دوه رکعته یو لمونځ (جلا لمونځ) دی، خو که صرف تشهد ووایي (لکه په فرضي لمانځه کي). نو هم صحیح دي، خو زیاتر خلګ په دې مسئله خبره نه دي، هغوی د هر لمانځه په اوله ناسته کي صرف تشهد وایي او درود شریف او دعاء نه وایي حتیٰ که په هېره څه ووایي. نو سجدهٔ سهو کوي. دا غلط فهمي ده. (مراقی الفلاح)

يادونه: د مذکوره مسئلې خاص خيال ساتل پکار دي. والنّاس عنها غافلون.

د قعده اولیٰ د پاته کېدلو حکم

﴿۴۳۲﴾ وَإِذَا صَلّٰى نَافِلَةً أَكْثَرَ مِنْ رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يَجْلِسْ إِلَّا فِيْ آخِرِهَا او کله چې نفلي لمونځ له دوو رکعتو څخه زيات وکړي (مثلاً څلور رکعته وکړي) او نه کښيني مګر د هغه په آخر کې صَحَّ اِسْتِحْسَانًا نو صحيح کېږي د استحسان پر بناء لِأَنَّهَا صَارَتْ صَلٰوةً وَاحِدَةً ځکه چې دا (څلور رکعته نفل) يو لمونځ وګرځېدی وَفِيْهَا الْفَرْضُ الْجُلُوْسُ آخِرَهَا او په دې (څلور رکعتيز لمانځه) کې فرض (صرف) د هغه په آخر کې کښېناستل دي (يعني په دې کې فرض صرف آخره ناسته ده).

تشريح: که يو څوک څلور رکعتيز نفلي لمونځ شروع کړي او پر دويم رکعت نه کښيني، بلکې په آخر کې پر څلورم رکعت ناسته وکړي، نو د قياس تقاضا دا ده چې د هغه لمونځ فاسديږي، او همدا د امام زفر رَحِمَهُ الله قول دی؛ د قياس دليل دا دی چې د نفلي لمانځه هر دوه رکعته جلا لمونځ دي (يا په بله وينا هره شفعه يې مستقل لمونځ دی. همدا وجه ده که په درېيم يا څلورم رکعت کې څه د فساد خبره راسي. نو صرف دا آخري دوه رکعته فاسديږي چې هغه به راګرځول کيږي، اول دوه رکعته صحيح پاتيږي. انو کله چې هر دوه رکعته يې مستقل لمونځ دی او د لمانځه آخره ناسته فرض ده)، لهذا د څلور رکعتيز نفلي لمانځه هره ناسته فرض سوه. او هغه دلته پرېښوول سوې ده. نو اول دوه رکعته فاسد سوه، کله چې اول دوه رکعته فاسد سوه، نو د آخري دوو رکعتو شروع هم صحيح نه سوه، نو ځکه ټوله لمونځ فاسد سو، خو فتویٰ پر قياس نه ده، بلکې فتویٰ پر استحسان ده، او د استحسان تقاضا دا ده چې د هغه لمونځ نه فاسديږي؛ د استحان دليل دا دی چې کله ده اوله ناسته پرېښووله او د درېيم رکعت لپاره ولاړ سو، نو ده خپل ټوله لمونځ صلاة واحده (يو لمونځ) وګرځوي، لهذا اوس هغه لمونځ د فرضي لمانځه مشابه سو او د هغه د مېنځ ناستهٔ (اوله ناسته) واجب وګرځېده او د آخري دوو رکعتو ناسته قعدهٔ اخيره وګرځېده او فرض سوه، لهذا اوس د سجدهٔ سهوي په کولو سره د هغه لمونځ بېله کراهته صحيح کيږي (ځکه په سجدهٔ سهوي سره د پرېښوول سوي واجب "اولې ناستې" تلافي وسوه)، او که سجدهٔ سهو نه وکړي، نو د کراهت تحريمه سره اداء کيږي، لېکن د هغه راګرځول به واجب وي (د قياس او استحسان پوره بحث به د اصولو په کتابونو کې راسي). (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

څومره رکعته نفل په یوه سلام سره کول افضل دي

﴿۲۳۳﴾ وَكُرِهَ الزِّيَادَةُ عَلَى أَرْبَعٍ بِتَسْلِيمَةٍ فِي النَّهَارِ او مکروه دي زیاتوب کول پر څلورو رکعتو په یوه سلام سره په ورځ کي وَعَلَى ثَمَانٍ لَيْلًا او (زیاتوب کول) پر اته رکعتو د شپې وَالْأَفْضَلُ فِيهِمَا رُبَاعٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيْفَةَ او افضل په ورځ او شپه دواړو کي څلور. څلور رکعته (په یوه سلام سره کول) دي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز وَعِنْدَهُمَا الْأَفْضَلُ فِي اللَّيْلِ مَثْنٰى مَثْنٰى او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز افضل په شپه کي دوه دوه رکعته دي وَبِهِ يُفْتٰى او پر همدې فتوىٰ ورکول کیږي.

لغات: ﴿رُباع﴾ غیر منصرف دی د وصفیت او عدل په وجه. دا له "أَرْبَعٌ أَرْبَعٌ" څخه معدول دی چي هغه معنیٰ ده: څلور، څلور. لکه جَاءَ الْقَوْمُ رُبَاعَ خلک راغله څلور. څلور. ﴿مثنٰی﴾ دوه. دوه. دا هم غیر منصرف دی او د مذکر او مؤنث دواړو لپاره استعمالیږي.

تشریح: د ورځي په نفلو کي په یوه سلام سره څلور رکعته کولای سي او له دې څخه زیات کول مکروه دي، همدارنګه د شپې په نفلو کي تر اتو رکعتو پوري په یوه سلام سره کولای سي. له دې څخه زیات په یوه سلام سره کول مکروه دي.

والأفضل إلخ: خو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز افضل دا ده چي که ورځ وي او که شپه. څلور رکعته دي په یو سلام سره کوي؛ ځکه په دې کي (د دوو رکعتو په نسبت) تحریمه تر ډیر وخته پوري پاتیږي. نو په دې کي به مشقت زیات وي، لهذا فضیلت به یې هم زیات وي. او د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله په نېز افضل دا ده چي د ورځي پر مهال دي څلور رکعته په یو سلام سره کوي او د شپې پر مهال دي دوه رکعته په یوه سلام سره کوي او فتوىٰ د صاحبینو رَحِمَهُمَا الله پر قول ده. (شفاء الارواح)

د شپې نفل د ورځي له نفلو څخه افضل دي

﴿۲۳۴﴾ وَصَلٰوةُ اللَّيْلِ أَفْضَلُ مِنْ صَلٰوةِ النَّهَارِ او د شپې لمونځ د ورځي له لمانځه څخه افضل دی.

تشریح: یعني د شپې نوافل د ورځي له نوافلو څخه افضل او غوره دي. خصوصاً د شپې په آخره حصه کي؛ ځکه د دې ډېر فضیلت وارد سوی دی او بل ځکه چي شپه د تنهائي وخت دی. انسان له

ټولو شیانو څخه فارغه وي، د هغه ذهن او توجّه برابره وي، همدارنګه هلته بل څوک هم نه وي چي د ریاء پیدا کېدلو خطره وي، په خلاف د ورځي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

په لمانځه کي زیاته ولاړه (درېدل) له زیاتو سجدو څخه افضل دي

﴿۴۳۵﴾ وَ طُوْلُ الْقِيَامِ أَحَبُّ مِنْ كَثْرَةِ السُّجُوْدِ او ولاړه اوږدول د سجدو له ډېروالي څخه خوښ (افضل) دي (یعني په رکعت کي قرائت اوږدول او ډېر وخت درېدل له زیاتو رکعتو کولو څخه افضل دي).

لغات: ﴿أَحَبُّ﴾ د نصر له بابه اسم تفضیل دی: زیات محبوب، خوښ.

تشریح: د "طول القیام" مطلب دی "قرائت اوږدول" او د "کثرة السجود" مطلب دی "زیات رکعتونه کول" (یعني مختصره قرائت کول او رکعتونه ډېر کول).

مسئله دا ده چي طول القیام له کثرة السجود والرکوع څخه افضل دی؛ ځکه د طولُ القیام په صورت کي به د قرآن قرائت زیات وي او د کثرةُ السجود په صورت کي به تسبیحات زیات وي، او ښکاره خبره ده چي د قرآن قرائت له تسبیحاتو څخه ډېر افضل دی، چي د قرآن فضائل د تسبیحاتو په مقابله کي زیات دي، نو ځکه ولاړه اوږدول او کم رکعتونه کول افضل دي له دې څخه چي ولاړه کمه کړل سي او د رکعتونو شمېر زیات کړل سي (مثلاً په دوو رکعتو کي زیات قرائت. اوږده ولاړه کول او دومره وخت پکښې صرفول افضل دي چي په هغومره وخت کي څلور رکعته کېدلای سي). (شفاء الارواح، عون الفتاح، تکمیل الایضاح)

او صاحب د "انوار الایضاح" صورت د مسئلې داسي بیان کړی دی چي د شپې په نفلو کي طول القیام افضل دی او د ورځو په نفلو کي کثرة السجود؛ ځکه له نبي ﷺ څخه د ورځي پر مهال اوږده نفلونه کول منقول نه دي، حال دا چي په شپه کي به نبي ﷺ اوږده نفلونه کوله، همدا زموږ د اکابرو معمول دی، او د دې وجه دا ده چي د ورځي په مزاج کي انقباض دی، که بنده اوږد قرائت کوي، نو طبیعت ملګري نه ورسره کوي او د شپې په مزاج کي انبساط دی (همدا وجه ده چي تفریحي مجلسونه لکه مشاعره او داسي نور د شپې کول کېږي)، نو ځکه د شپې په نفلو کي طولِ قیام افضل دی، خو د یو عارض په وجه د دې برعکس هم کېدلای سي، مثلاً د روژې په میاشته کي یو حافظ یا بل څوک د ورځي په نفلو کي یاده سوې سپاره وایي، نو په طولِ قیام کي هیڅ حرج نسته، مطلب دا چي د عوارضو خبره جلا ده، په عامو حالاتو کي د ورځي پر مهال د کثرة السجود په روایت باندي او د شپې پر مهال د طول القیام په روایت باندي عمل کول پکار دي؛ ځکه په روایاتو کي د دواړو فضیلت راغلی دی. (انوار الایضاح)

* * *

فَصْلٌ فِيْ تَحِيَّةِ الْمَسْجِدِ وَصَلَاةِ الضُّحٰى وَإِحْيَاءِ اللَّيَالِيْ

(دا) فصل د تحیة المسجد، د څاښت د لمانځه او د شپو روښولو
(ويښولو [شب بيدارى]) په بيان کي دى

د تحية المسجد بيان

﴿۶۳۶﴾ سُنَّ تَحِيَّةُ الْمَسْجِدِ بِرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْجُلُوْسِ سنت دي (سنت کړی سوي دي) د مسجد تحيه اداء کول په دوه رکعتو سره مخکي تر کښېنستلو.

لغات: ﴿تحيّة﴾ سلام کول، ﴿تحية المسجد﴾ مسجد ته داول داخلېدلو پر مهال په مسجد کي دوه رکعته لمونځ کول، دې ته تحية المسجد وايي.

تشريح: مسجد ته د داخلېدلو سره سمدستي دوه رکعته تحيّة المسجد کول سنت دي (په دې شرط چي هغه مکروه وخت نه وي)، نبي کريم ﷺ د تحيّة المسجد اداء کولو حکم کړی دی، مسجد ته له داخلېدلو څخه وروسته که يو مانع نه وي، نو تر کښېنستلو مخکي تحية المسجد اداء کول پکار دي، دا د بنده له طرفه و رب المسجد ﷻ ته د سلام کولو طريقه ده، يا په بله وينا دا چي تحيّة المسجد اداء کول د مسجد د تعظيم لپاره دي او د مسجد له تعظيم کولو څخه مراد د ربُ المسجد تعظيم دی. او کوم کس چي مسجد ته ورسيږي او کښېني، بيا پورته سي او د تحيّة المسجد دوه رکعته وکړي، نو دا هم تحيّة المسجد دی، د کښېنستلو په وجه تحية المسجد نه فوتيږي، خو که ډېر کړی کښېني، نو په دې سره د تحيّة المسجد وخت د لاسه وځي، او د لږ او زيات وخت تعيين د مبتلیٰ به رايي ته پرېښوول سوی دی. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي)

د تحية المسجد قائم مقام لمنځونه

﴿۶۳۷﴾ وَأَدَاءُ الْفَرْضِ يَنُوْبُ عَنْهَا او فرض لمونځ اداء کول قائم مقام کيږي (پر ځای درېږي) د تحية المسجد وَكُلُّ صَلٰوةٍ أَدَّاهَا عِنْدَ الدُّخُوْلِ بِلَانِيَّةِ التَّحِيَّةِ او هر هغه لمونځ (د تحية المسجد قائم مقام کيږي) کوم چي يې اداء کړي (مسجد ته) د داخلېدلو په وخت کي بېله د تحية المسجد له نيت څخه.

لغات: ﴿ینوب﴾ د نصر له بابه مضارع معلومه ده. د دې باب په صله کې چې عَنْ راسي. نو معنی یې ده: نائب کېدل، قائم مقام کېدل (پر ځای درېدل)، ﴿التحیّة﴾ سلامي، جمع: تَحِیّات، عنها: د ضمیر مرجع تحیة المسجد دی، أدّاها: د ضمیر مرجع صلوة دی.

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چې که مسجد ته د داخلېدلو سره سملستي یو لمونځ یعني فرض یا سنت یا نفل وکړي، نو هغه د تحیّة المسجد هم قائم مقام کېږي (یعني د هغه لمانځه څخه بغیر د تحیة المسجد ثواب هم ورته حاصلېږي)، که څه هم په هغه کې یې د تحیة المسجد نیت نه وي کړی، خو غوره دا ده چې په زړه کې د تحیّة المسجد نیت هم وکړي. (شامي ج: ۲، ص: ۴۵۹)

❀ ❀ ❀

مسئله: له صبح صادق څخه تر لمر راختو پورې تحیة المسجد او تحیة الوضوء یا یو بل نفلي لمونځ کول جائز نه دي، په دې وخت کې د سهار له دوه رکعته سنت مؤکده څخه بغیر بل نفلي لمونځ کول مکروه دي، همدارنګه د مازیګر تر لمانځه وروسته تر لمر لوېدو پورې به هم یو نفل نه کول کیږي. همدارنګه دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چې کوم څوک بار، بار مسجد ته ځي، نو صرف دوه رکعته د تحیّة المسجد په نیت سره د ټولي ورځي لپاره کافي دي. (مراقی الفلاح مع الطحطاوي)

د تحیّة الوضوء بیان

﴿۳۳۸﴾ وَنُدِبَ رَكْعَتَانِ بَعْدَ الْوُضُوْءِ قَبْلَ جَفَافِهٖ او مستحب دي دوه رکعته له اوداسه څخه وروسته مخکې تر وچېدلو د اوداسه (د اوبو).

لغات: ﴿جفاف﴾ د ضرب د باب مصدر دی: وچېدل.

تشریح: تر اودس کولو وروسته د اندامونو تر وچېدلو مخکې دوه رکعته تحیة الوضوء (یعني د لوداسه شکرانه) اداء کول مستحب دي، که چیرې تر اوداسه وروسته یو فرض یا سنت یا نفلي لمونځ وکړي، نو د تحیة الوضوء قائم مقام کیږي او د هغه ثواب ورته حاصلیږي.

❀ ❀ ❀

د تحیّة الوضوء فضیلت

په حدیث شریف کې تر اودس کولو وروسته د تحیّة الوضوء کولو ډېر فضیلت راغلی دی، په یوه حدیث شریف کې د نبي ﷺ فرمان دی چې کوم کس هم په ښه توګه اودس وکړي او بیا په پوره خشوع وخضوع سره دوه رکعته تحیة الوضوء وکړي، نو الله تبارک و تعالیٰ د هغه لپاره جنت واجب ګرځوي. (مسلم شریف ج ۱، ص ۱۲۲، کتاب المسائل ص ۴۶۰)

د څاښت د لمانځه بـيان

﴿۶۳۹﴾ وَأَرْبَعٌ فَصَاعِدًا فِي الضُّحٰي او (مستحب دي) څلور رکعته يا تر دې زيات د څاښت په وخت کي.

لغات: ﴿فصاعدًا﴾ يا تر دې زيات، زائد. ﴿الضُّحٰى﴾ د څاښت وخت (يعني کله چي لمر ښه روښانه سي او ورځ وغوړيږي)، صاحب د معجم يې داسي تعريف کړی دی: الضحٰى: انبساط الشمس وامتداد النهار. أول وقت الضحٰى من ارتفاع الشمس مقدار رمح إلى أن يبقى لاستوائها في كبد السماء مقدار رمح ويقدر ذلك بنحو عشرين دقيقة. والضحوة الكبرٰى: منتصف النهار الشرعي من الفجر إلى الغروب. (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: د څاښت لمونځ له دوو رکعتو څخه تر دوولسو رکعتو پوري ثابت دی، که څوک په دوو رکعتو باندي اکتفاء وکړي، نو هم هغه ته د څاښت د لمانځه ثواب حاصليږي او افضل دا ده چي څلور رکعته يا اته رکعته وکړل سي. (در مختار ج:۲، ص:۴۶۵)

❀ ❀ ❀

د څاښت د لمانځه وخت

مسئله (۱): کله چي لمر ښه روښانه سي، بيا تر زوال پوري د څاښت وخت دی، په دې وخت کي دي د څاښت لمونځ اداء کول کيږي (پورتنی حواله)، که څه هم د دې اول وخت هلته شروع کيږي کله چي لمر يوه نېزه را پورته سي (تقريبا تر لمر راختلو شل [۲۰] دقيقې وروسته)، ليکن غوره وخت يې د ورځې دويمه رُبع ده کوم چي غالباً د لسو، يوولسو بج+ وله دوران څخه شروع کيږي (مثلاً که ورځ دوولس ساعته (ګينټې) وي. مثلاً د سهار لمر په شپږ بجې را خيږي او ماښام په شپږ بجې لوېږي. نو دا وخت د لسو بجو څخه شروع کيږي). (شفاء الارواح)

د ګاښت د لمانځه فضيلت

له حضرت انس بن مالک څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: کوم څوک چي د څاښت دوولس (۱۲) رکعته لمونځ کوي، نو الله تعالیٰ د هغه لپاره په جنت کي يو د سرو زرو محل تياروي. (ترمذی شريف ج:۱، ص:۱۰۸)

د څاښت په لمانځه کي کوم سورتونه ويل مستحب دي؟

مسئله (۲): کوم چا ته چي سورة الشمس او سورة الضحیٰ ياد وي، نو د څاښت په لمانځه کي دا دوه سورتونه ويل غوره دي، کنې ورته اختيار دی، کوم سورت چي هم ورته ياد وي، هغه دي وايي، ان شاء الله په ثواب کي يې هيڅ کمي نه راځي. (شامي ج:۲، ص:۴۶۵)

د اشراق او د څاښت وضاحت

مسئله (۲): اشراق او څاښت دوه جلا لمنځونه دي که یو لمونځ دی؟ د فقهاؤ او محدیثونو په نیز دواړه یو لمونځ دی که د لمر راختلو څخه وروسته نفل وکړي، نو دا اشراق دی او که څه نا وخته یې وکړي (مثلا د نهو. یا لسو. یوولسو بجو پر مهال یې وکړي) نو څاښت دی. او صوفیاء کرام وایي چې دا دواړه جلا لمنځونه دي. د اشراق د لمانځه کم عدد دوه رکعته دی او زیات یې څلور رکعته دی. او د څاښت د لمانځه کم عدد اته رکعته دی او زیات یې دوولس رکعته دی. په دې سلسله کې د فقهاؤ او محدثینو رایه صحیح ده. (تحفة الالمعی ج۲، ص۳۲۹. بحوالهٔ انوار الایضاح)

د تهجّدو بیان

﴿۶۳۰﴾ وَنُدِبَ صَلٰوةُ اللَّيْلِ او مستحب دي د شپې لمونځ (تهجد).

تشریح: د صلاة اللیل یو قسم عام دی یعني "د شپې نفلي لمونځ" چې که د ماخوستن تر لمانځه وروسته کوم نفلي لمونځ هم وکړل سي، هغه صلاة اللیل دی او د صلاة اللیل دویم قسم خاص دی او هغه د تهجّدو لمونځ دی. د تهجّدو لمونځ دا دی چې د ماخوستن تر لمانځه وروسته بیده سي او له نیمي شپې څخه وروسته را پورته سي او نفل وکړي. د تهجّدو وخت د ماخوستن له لمانځه څخه وروسته تر صبح صادق پوري دی (خو افضل وخت یې له نیمي شپې څخه وروسته او آخر د شپې دی). لهذا کوم څوک چې له بیدېدو څخه وروسته په را وېښېدلو عادت نه وي، هغه دي له بیدېدو څخه مخکي څه نفل د تهجّدو په نیت سره وکړي، نو هغه ته د تهجّدو ثواب حاصلیږي. که څه هم داسې ثواب به نه وي لکه څرنګه له خوب څخه تر وېښېدلو وروسته وي (د هغه ثواب ډېر زیات دی. د تهجد معنیٰ همدا "ترك الهجود" ده یعني خوب پرېښودل). او د تهجّدو د لمانځه کم شمېر دوه رکعته دی او زیات یې اته رکعته دی او د لسو او دوولسو رکعتو ثبوت هم تر لاسه کیږي، لېکن د نبي کریم ﷺ اکثره عادت به اته رکعته وو. او د موقع مطابق به یې کله کم یا زیات کوله.

د تهجّدو فضائل بې شمېره دي، دا لمونځ له صحابه وو څخه راخله تر نن سبا پوري د ټولو نېکانو معمول دی او صوفیاء کرام فرمایي: چې له تهجّدو څخه بغیر څوک د ولایت درجې ته نه سي رسېدلای. (شفاء الارواح)

د "صلاة الاستخاره" بیان

﴿۶۳۱﴾ وَصَلٰوةُ الإِسْتِخَارَةِ او (مستحب دی) د استخارې لمونځ.

لغات: ﴿الاستخارة﴾ د استفعال د باب مصدر دی، طلب د خیر کول (خیر غوښتل). اصطلاحي معنیٰ یې ده: تر مخصوص لمانځه وروسته دا دعا کول چې [illegible]. په کوم څه کې زما

خیر وي، اې الله تعالیٰ د هغه وطرف ته زما لاربنوونه وکړې! (هغه را نصیب کړې!). په دې سلسله کې له حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه څخه مختصره دعاء دا منقوله ده "اَللّٰهُمَّ خِرْ لِيْ وَاخْتَرْ لِيْ" (اې الله زما لپاره خیر متعین کړه! او زما لپاره یې خوښ کړه!).

تشریح: د استخارې لمونځ یعني د خیر د طلب کولو لمونځ هغه وخت کول مستحب دي کله چې یو چا ته کوم جائز مهم کار پېښ سي، مثلاً یو ځای د کوزدې کولو یا سفر کولو اراده لري او د هغه په کولو یا نه کولو کي شکمن وي یا په دې باره کي شکمن او مترددوي چي دا کار باید څه وخت وکړم (نو په دې وخت کي د استخارې لمونځ سنت دی). ها! د عبادت او د نېک کار مثلاً د حج، جهاد، همدارنګه د فرض، واجب، سنت او مستحب کار د کولو او د حرام او مکروه کار د پرېښوولو لپاره استخاره نه کېږي؛ ځکه د دې کارو لپاره خو هغه ته حکم سوی دی (در کار خیر حاجت استخاره نیست). خو د وخت د تعین یا د مخصوص حالت لپاره په دوی کي هم استخاره کولای سي. مثلاً په دې باره کي شکمن وي چي حج ته په جهاز (طیاره) کي سفر وکړم او که د سمندر د لارې په بېړۍ (کښتۍ) کي سفر وکړم، یا مثلاً د کمپنۍ د لارې حج ته ولاړ سم او که د حکومت (سرکار) د لارې. یا مثلاً نن سفر وکړم او که سبا، یا مثلاً (په جهاد یا حج یا داسي نورو کي) فلانکی کس د سفر ملګری جوړ کړم او که نه کړم او داسي نور. نبي کریم ﷺ به په دومره اهتمام سره د استخارې د لمانځه تعلیم ورکوی لکه د قرآن مجید تعلیم (خو افسوس زموږ پر حال! چي نن موږ دغه اهم سنت پرې اېښی دی او ځان ته مو ګران کړی دی. حال دا چي د دې طریقه آسانه ده او بیدېدل یا خوب لیدل او داسي نور پکښي شرط نه دي. بلکي محض تر پوره استخاره کولو وروسته چي د زړه د مېلان مطابق کوم کار وکړي، نو ان شاء الله پښېمانه به نه سي).

د استخارې د لمانځه طریقه دا ده چي تر اودس کولو وروسته دوه رکعته لمونځ د استخارې په نیت سره وکړي، ښه دا ده چي په اول رکعت کي سورة الکافرون او په دوېم رکعت کي سورة الاخلاص ووایي (او له بعضي سلفو څخه منقول دي چي په اول رکعت کي دي دا آیتونه ووایي: ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ، وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ﴾ [سورة القصص ۶۸، ۶۹] او په دوېم رکعت دي کي دا آیتونه ووایي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا﴾ [سورة الاحزاب ۳۶]). له سلام ګرځولو څخه وروسته دي د استخارې دعاء ووایي او د دې دعاء په اول او آخر کي حمد او درود شریف ویل مستحب دي. د استخارې دعاء دا ده:

"اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ، اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِّيْ

فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ (وَعَاجِلِهٖ وَآجِلِهٖ) فَاقْدِرْهُ لِيْ وَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ (وَعَاجِلِهٖ وَآجِلِهٖ) فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدِرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ رَضِّنِيْ بِهٖ".

دواړه ځایه د "هٰذَا الأَمْرَ" د ویلو په وخت کي دي خپل کار په زړه کي یاد کړي. یا په ژبه سره دي خپل مقصد ذکر کړي، مثلاً د سفر لپاره دي "هٰذَا السَّفَرَ" ووایي، په یو ځای کي د پاتېدلو لپاره دي "هٰذَا الإِقَامَةَ" ووایي، د کوزدې او نکاح لپاره دي "هٰذَا النِّكَاحَ" ووایي او د یو شي د رانیولو یا خرڅولو لپاره دي "هٰذَا الْبَيْعَ" ووایي علیٰ هٰذا القیاس، او غوره دا ده چي تر اوو ورځو پوري استخاره وکړي، او که تر اوو ورځو وروسته هم یو طرف ته د زړه میلان نه وي، نو مسلسل دي استخاره کوي (تر دې چي یو طرف ته یې د زړه میلان برابر سي)، صاحب د شفاء الأرواح (حفظه الله) تر اوو ورځو پوري د استخاره کولو په هکله دا حدیث نقل کړی دی چي نبي کریم ﷺ و حضرت انس رضی الله عنه ته وفرمایل "یا أنس إذا هممت بأمرٍ فاستخر ربك فيه سبع مرّاتٍ. ثم انظر إلى الذي سبق قبلك؛ فإن الخير فيه" (اې انس! کله چي ته د یو کار قصد وکړې، نو له رب تعالیٰ څخه د هغه په باره کي اووه واره استخاره وکړه!. بیا هغه ته وګوره! اعملي یې کړه! اد کوم څه وطرف ته چي ستا زړه ورانديتوب کوي ایا په بله ربا کوم څه چي ستا په زړه کي القاء سي اچي په هماغه کي ستا لپاره خیر او ښېګڼه ده) (شفاء الارواح۔ انوار الایضاح)

او که څوک دا عربي دعاء نه سي یادولای، نو په پښتو یا په خپله مورنۍ ژبه دي د همدغه مفهوم دعاء غواړي. (شامي ج:۲، ص:۲۷۰)

❀ ❀ ❀

که د لمونځ کولو موقع نه وي، نو استخاره به څنګه کوي؟

که د لمونځ کولو موقع نه وي، مثلاً د وخت د کموالي او تلوار په وجه، یا بله وجه وي مثلاً ښځه د حیض او نفاس په وجه د استخارې لمونځ نه سي کولای، نو صرف د دعاء په ذریعه هم استخاره کېدلای سي، یعني په پوره توجه سره دي د استخارې دعاء ووایي (شامي. شفاء الارواح).

په یوه روایت کي دا مختصره استخاره منقوله ده چي که تلوار یې وي او ډېر وخت انتظار نه سي کولای، نو دا دعاء دي مسلسله ووایي ""اَللّٰهُمَّ خِرْلِيْ وَاخْتَرْلِيْ وَلَا تَكِلْنِيْ إِلىٰ اِخْتِيَارِيْ" (ان شاء الله خیر به ورلره متعین سي). (شفاء الارواح بحوالا عمدة الفقه)

له استخارې څخه وروسته اصل د زړه میلان او رجحان دی

اصل مدار د زړه میلان دی، تر استخارې وروسته دي انسان خپل د زړه میلان ته ګوري چي کوم ته طرف ته یې زړه مائل سي، ان شاء الله په هغه کي به یې خیر وي.

بعضي مشایخو لیکلي دي چي تر استخاره کولو وروسته دي مخ پر قبله په اوداسه بیده سي، که په خوب کي سپینوالی یا زرغونوالی (یا په بله وینا سپین شی یا زرغون شی مثلاً روڼني اوبه یا شنې درختي) ووینی، نو پوه دي سي چي په دې کار کي زما خیر دی، او که تور یا سور شی ووینی، نو پوه دي سي چي دا کار ښه نه دی او له دې څخه بچ کېدل پکار دي، خو دا صرف یو اټکلي (تخمیني) شی دی، اصل مدار د زړه پر میلان دی. نه پر خوبونو، بلکي خوب د زړه د میلان لپاره معاون ثابتیږي. (کتاب المسائل ص: ۴۷۵. شامي ج: ۲، ص: ۴۷۱)

آیا تر استخارې وروسته یوه طرف ته عمل ضروري دی ؟

له استخاره کولو څخه وروسته چي کوم طرف ته د زړه میلان (قلبي رجحان) وي، پر هغه عمل کول غوره دي، لیکن که یو څوک په یوه وجه د هغه په خلاف عمل وکړي، نو شرعاً هیڅ ګناه نسته؛ ځکه چي د زړه میلان یو شرعي دلیل نه دی، خو په هر صورت کي له الله تعالیٰ څخه د خیر طالب کېدل پکار دي. (امداد الفتاویٰ ج: ۱، ص: ۵۹۹)

د استخارې حکمت

د استخارې غټه فایده دا ده چي انسان فرشتهٔ صفته جوړیږي، چي استخاره کوونکی له خپل ذاتي رایې څخه وځي او خپله خوښه د رب تعالیٰ د خوښي تابع کوي او په پوره توګه د رب تعالیٰ و طرف ته خپل سر کږوي (او مخکي مونږ وویل چي استخاره ډېره آسانه ده، خو مونږ ځان ته ګرانه کړې ده او د ځان لپاره مو خاص د شپې کول یا په اوداسه بیدېدل او خوب لیدل او داسي نور زائد شیان شرط ګرځولي دي، حال دا چي په حدیثو کي دا منقول نه دي صرف بعضي مشایخو غوره ګڼلي دي، لهذا که چا ته داسي کول مشکل وي، نو د هغه په وجه دي دا اهم سنت نه پرېږدي، بلکي په خپل هر خصوصي کار کي دي استخاره او د خیر دعاء کوي، ان شاء الله په هغه کار کي به یې خیر او ښېګنه په نصیب سي او خدای تعالیٰ به یې له شر څخه ساتي).

د "صلاة الحاجة" بیان

﴿۶۴۲﴾ وَصَلوٰةُ الْحَاجَةِ او (مستحب دي) د حاجت لمونځ.

تشریح: کله چي یو حاجت او ضرورت پېښ سي، برابره ده د هغه تعلق د الله تعالیٰ سره بلا واسطه وي یا بالواسطه وي یعني د یو بنده سره د هغه پوره کېدل متعلق وي مثلاً د یو سرکاري او حکومتي کس په واسطه یو کار کول مطلوب وي (چي هغه زما لپاره دا کار وکړي) یا د یو چا سره نکاح کول غواړي یا له یو چا څخه قرض غواړي [illegible] وکړی او دوه رکعته

نفل وکړي او له سلام ګرځولو څخه وروسته دي حمد او ثناء او درود شريف ووايي بيا دي دا دعاء ووايي (کوم چې په حاشيه کې هم مذکوره ده):

"لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ أَسْئَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ لَا تَدَعْ لِيْ ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ". تر دې وروسته چې کوم څه حاجت ورته پېښ وي، له الله تعالیٰ څخه دي د هغه سوال او خواست وکړي، ان شاء الله تعالیٰ حاجت به يې پوره سي. (شفاء الارواح)

د صلاة الاستخاره او صلاة الحاجة تر مينځ فرق دا دی چې د استخارې لمونځ د آينده حاجت لپاره دی او د حاجت لمونځ د موجوده حاجت لپاره دی. (عمدة الفقه)

فايده: علامه شامي رَحِمَهُ الله د "تجنيس" په حواله سره ذکر کړي دي چې د حاجت لمونځ د ماخوستن تر لمانځه وروسته څلور رکعته دی چې د هغه ترتيب له يوه مرفوع حديث څخه دا معلومېږي چې په اول رکعت کې دي تر سورة الفاتحه وروسته درې واره آيت الکرسي ووېل سي او په پاته درېو رکعتونو کې دي تر سورة الفاتحه وروسته سورة الاخلاص او معوذتين يو، يو وار ووېل سي. (بعضي) مشايخ فرمايي چې موږ دا لمونځ وکړی، نو زموږ ضرورتونه پوره سول. (شامي ج:۱، ص: ۴۷۳ طبع: زکريا)

د صلاة الحاجة حکمت

کله چې يو بنده له بل بنده څخه د يو حاجت طلب کوي، نو په هغه کې دا احتمال راځي چې (ګواکي) هغه له غير الله څخه استعانت (مدد غوښتل) په يو درجه کې جائز ګڼي، نو دا د حاجت طلب کول د هغه د توحيد او استعانت په عقيده کې خلل اچوي، نو ځکه شريعت دا لمونځ مقرر کړی دی او تر هغه وروسته يې دا دعاء ښودلې ده چې په عقيده کې فساد رانه سي؛ ځکه کله چې حاجت مند تر لمونځ کولو وروسته الله پاک ته دعاء کوي چې زما دا حاجت د فلانکي په ذريعه پوره کړه!، نو د هغه دا عقيده او يقين پوخ او مستحکم سي چې کونکی ذات صرف الله تعالیٰ دی، هم هاغه کارساز دی، بنده محض واسطه ده بلکې د کار يو آله ده. د هغه په اختيار کې هيڅ نسته، ټول څه د الله ﷻ په لاس کې دي. (تحفة الألمعي ج:۲، ص: ۳۲۵)

د روژې د مياشتې د آخري لسو ورځو فضيلت

﴿۶۴۳﴾ وَنُدِبَ إِحْيَاءُ لَيَالِ الْعَشْرِ الْأَخِيْرِ مِنْ رَمَضَانَ او مستحب دي د رمضان آخري لس شپې رونول (په ويښه تېرول او په عبادت سره).

لغات: ﴿احياء﴾ د افعال د باب مصدر دی، ژوندي کول. مراد ځنې شپې رونول (په ويښه تېرول). يعني د خوب او بيدېدو پر ځای عبادت کول.

تشريح: د رمضان المبارک اوله عشره يعني اولې لس ورځې د رحمت نازلېدلو ورځې دي، دويمه عشره يعني دويمې لس ورځې د مغفرت حاصلېدلو ورځې دي او [illegible] . له دوزخ څخه د

خلاصون او نجات ورځي دي (مشکاة شریف ج:۱، ص:۱۷)، یعني که دیو چا نوم په دوږخیانو کي درج وي، نو د آخري لسو ورځو د اخلاص په عبادت سره یې (ان شاء الله) له دوږخیانو څخه نوم ایستل کیږي، نو معلومه سوه د آخري لسو ورځو فضیلت ښځي زیات دی، او شب قدر چي په هغه کي د عبادت کولو دومره اندازه ثواب دی چي په نورو ورځو کي د زرو میاشتو په عبادت کولو سره هم دومره ثواب نه حاصلیږي، دا مبارکه شپه مشایخ فرمایي چي په همدې شپو کي ده، نو ځکه د هغه په اُمید سره په همدې شپو کي ویښ پاتېدل او عبادت کول پکار دي او که ټوله شپه روښول چا ته حاصل نه سي، نو څومره چي یې وس او طاقت وي، هغومره دي ویښ پاته سي، چي د "ما لا یُدرك كله لا یترك كله" په مصداق سره څومره اندازه فضیلت حاصلولای سي، حاصل یې کړي.

دا ختر د شپې فضیلت

﴿۶۲۴﴾ وَإِحْيَاءُ لَيْلَتَيِ الْعِيدَيْنِ او (مستحب دي) روښول د دواړو اخترونو شپې.

تشریح: د کوچني اختر او لوی اختر شپه ډېر زیات فضیلت لري، په یوه روایت کي د نبي ﷺ فرمان دی چي کوم څوک په اخلاص او احتساب سره د اختر شپه په عبادت تېره کړي، د ده زړه به په هغه ورځ ژوندی پاته وي په کومه ورځ چي د ټولو خلکو زړونه مړه وي (ابن ماجه، حدیث رقم:۸۲۱۷)، یعني په دې شپه کي عبادت کونکي حضرات به د محشر په سخته ورځ مطمئن او بې خوفه وي، او په بعضي روایاتو کي دي چي د اختر شپه په آسمانو کي په "لیلة الجائزة" یعني د انعام په شپه سره پېژندل کیږي، نو ځکه په دې شپه کي د فضول او عبث شیانو، بې ځایه ګرځېدلو او تفریحاتو پر ځای عبادت کول پکار دي او له دې خیر څخه نه محرومېدل پکار دي.

د ذی الحجې د اولو لسو شپو فضیلت

﴿۶۲۵﴾ وَلَيَالِيْ عَشْرِ ذِي الْحَجَّةِ او (مستحب دي روښول) د ذی الحجې د (اولو) لسو شپو.

لغات:

تشریح: په حدیث کي دي چي د الله تعالیٰ د عبادت لپاره د ذی الحجې د لسو شپو څخه غوره زمانه نسته، په هغوی کي د یوې ورځي روژه نیول د یوه کال د روژو سره برابر دي او د یوې شپې عبادت کول یې د شب قدر د عبادت سره برابر دي (ترمذی، ابن ماجه بحوالة مراقی الفلاح ص:۲۱۰)، په قرآن کریم کي په سورة الفجر کي الله تعالیٰ په لسو شپو قسم کړی دی، هغه لس شپې د جمهورو په نېز همدا د ذی الحجې لس شپې دي، لهذا دا شپې روښول او په عبادت مشغولېدل ډېر زیات فضیلت او د زیات ثواب موجب دی.

د برات د شپې فضيلت

﴿۴۳۶﴾ وَلَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ او (مستحب دي روڼول) د شعبان د پنځلسم د شپې.

تشريح: همدارنګه د شعبان د پنځلسم په شپه کې عبادت کول مستحب دي، په دې شپه کې له ضعيفو رواياتو څخه درې خبرې ثابتې دي: ① اول دې په دغه شپه کې د ځان لپاره او د مړو لپاره د مغفرت او بخښنې دعاء وکړل سي، هديرې ته تلل ضروري نه دي، ② دويم د شعبان په پنځلسمه روژه نيول. او دا صرف مستحب دي، ③ درېيم په دې شپه په انفرادي توګه د خپل وس مطابق يو نېک کار کول. د شمېر له تعين څخه بغير نفلونه کول او داسې نور. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

﴿۴۳۷﴾ وَيُكْرَهُ الْاِجْتِمَاعُ عَلٰى اِحْيَاءِ لَيْلَةٍ مِنْ هٰذِهِ اللَّيَالِيْ فِي الْمَسَاجِدِ او مکروه دي جمع کېدل په روڼولو باندې د يوې شپې له دغو شپو څخه په مسجدونو کې.

تشريح: په مذکوره پورتنيو شپو کې محض وېښ پاتېدل د ثواب کار نه دی. بلکې ثواب همغه وخت حاصلېږي، کله چې په يو عبادت مشغوله سي، او د عبادت هم څه تخصيص نسته. بلکې په کوم عبادت کې چې يې زړه او خشوع او خضوع پاتېږي، هغه اختيارول کېدلای سي، او په دې شپو کې په ماجلو کې جمع کېدل، ټولی جوړول او هسې بې ځايه خبرې کول او فضول وخت تېرول، په عبثو کارو اخته کېدل او مېله جوړول محض د خپل وخت ضياع ده، چې له هغه څخه بچ کېدل ضروري دي. (امداد المفتيين ص: ۲۱۰، فتاوىٰ محموديه ج: ۱۲، ص: ۴۰۵)

يادونه: بعضې خلک دا عذر پېشوي چې که موږ په تنهايي کې عبادت کوو، نو خوب راځي، په مسجد کې شبينه او رڼا وي او د خلکو ټولی جوړه وي چې د هغه په وجه خوب قابو کېدلای سي. اې پر دې خبره يقين وکړه! چې که ته څه ګړی يو ځای په تنهايي کې د الله ﷻ مخ ته ژړا او زاري وکړې او په عبادت مشغوله سې، نو دا څه ګړی له هغه ټولې شپې څخه ډېر غوره دی کوم چې يې ته په مېله کې تېر کړې، ځکه په مېله کې چې کوم وخت تېر سو، هغه خلاف سنت تېر سو، او په تنهايي کې چې کوم وخت تېر سو، هغه د سنت مطابق تېر سو او په اخلاص سره بېله رياء تېر سو. (اصلاحي خطبات بتغير ج ۴)

❁ ❁ ❁

فَصْلٌ فِيْ صَلَاةِ النَّفْلِ جَالِسًا وَالصَّلٰوةِ عَلَى الدَّابَّةِ

(دا) فصل دی په ناسته د نفل کولو او پر سپارلي د لمونځ کولو په بیان کی

نفلي لمونځ په ناسته کول

﴿۶۴۸﴾ يَجُوْزُ النَّفْلُ قَاعِدًا مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ جائز دي نفل کول په ناستي د قدرت لرلو سره پر ولاړي لٰكِنْ لَهٗ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ لیکن د هغه لپاره د ولاړ کس (په ولاړه لمونځ کونکي) نیم ثواب دی مګر د عذر په وجه (یعني که یو عذر وي. نو د هغه ثواب نه کمیږي).

تشریح: د سهار له سنتو څخه بغیر نور سنتونه (که څه هم تراویح وي) بېله عذره په ناستي کول جائز دي، لیکن د سلفو د عمل خلاف دي، او بېله عذره په ناسته کونکي ته د ولاړ (درېدونکي) کس نیم ثواب حاصلیږي، خو د که د یو عذر په وجه په ناسته لمونځ وکړي، نو په ثواب کې یې کمي نه راځي، بلکې د ولاړ کس په اندازه ثواب ورته حاصلیږي. (شفاء الارواح)

نفلي لمونځ کونکي به څه ډول کښېني؟

﴿۶۴۹﴾ وَيَقْعُدُ كَالْمُتَشَهِّدِ او کښېني به د تشهد ویونکي په څېر فِي الْمُخْتَارِ د مختار (اختیار سوي) قول مطابق.

تشریح: علماؤ د نفلو د ناستي په کیفیت کي اختلاف کړی دی: یو قول دا دی چي څه ډول د نفل کونکي خوښه وي، هغسي دي کښېني، دریم قول د چار زانو کښېنستلو دی، لیکن غوره مذهب همدا دی چي د تشهد پر کیفیّت به کښېني. (شفاء الارواح)

نفلي لمونځ څه په ولاړه او څه په ناسته کول

﴿۶۵۰﴾ وَجَازَ إِتْمَامُهٗ قَاعِدًا بَعْدَ افْتِتَاحِهٖ قَائِمًا بِلَا كَرَاهَةٍ او جائز دي هغه (نفل) په ناستي پوره کول وروسته د هغه له شروع کولو څخه په ولاړي بېله کراهته (یعني په ولاړي سره د نفلو له شروع کولو څخه وروسته بیا په ناستي نفل پوره کول بېله کراهته جائز دي) عَلَى الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

بلکي لاندي شوه کېدل او پر ځمکه اداء کول ضروري دي؛ ځکه د سهار د سنتو ډېر تأکید راغلی دی. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د نفل کولو په دوران کي پر یو شي تکیه کول

﴿۶۵۴﴾ وَجَازَ لِلْمُتَطَوِّعِ الْاِتِّكَاءُ عَلٰى شَيْءٍ إِنْ تَعِبَ بِلَا كَرَاهَةٍ او جائز دي د نفل کونکي لپاره پر یو شي تکیه کول که چیري ستړی سي بېله کراهته وَإِنْ كَانَ بِغَيْرِ عُذْرٍ او که بغیر له عذره وي (یعني هیڅ عذر یې نه وي) كُرِهَ فِي الْأَظْهَرِ نو مکروه دي په ظاهر روایت کي لِإِسَاءَةِ الْأَدَبِ د بې ادبۍ له وجهي څخه.

لغات: ﴿الاتکاء﴾ د افتعال د باب مصدر دی: تکیه کول (تکیه لګول)، ﴿تعب﴾ د سمع د باب ماضي ده: ستړی کېدل، په تکلیف کېدل.

تشریح: که څوک نفلي لمونځ په ولاړه شروع کړي، بیا ستړی سي او پر دېوال یا لکړه وغیره باندي تکیه وکړي، نو بلا کراهته جائز دي، او بغیر له ستړي کېدو داسي کول مکروه تنزیهي دي؛ ځکه چي د ادب خلاف دي.

پر سپارلي د نجاست سره لمونځ کول

﴿۶۵۵﴾ وَلَا يَمْنَعُ صِحَّةَ الصَّلٰوةِ عَلَى الدَّابَّةِ نَجَاسَةٌ عَلَيْهَا او نه منع کوي د لمانځه صحیح والی پر سپارلي د نجاست موجودېدل وَلَوْ كَانَتْ فِي السَّرْجِ وَالرِّكَابَيْنِ که څه هم نجاست په زین (ځین) او رکابو کي وي عَلَى الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

لغات: ﴿السّرج﴾ زین (ځین)، د لرګي او څرمني څخه جوړه سوې هغه آله چي د انسان د سپرېدلو لپاره د آس په ملا باندي اېښوول کېږي، ﴿رکابین﴾ تثنیه د رِكَابٌ ده: هغه د اوسپني یا بل څه حلقه (کړی) ته وایي کوم چي د آس د زین دوارو خواوو ته راځړېږي چي په هغه کي پښې اېښوول کېږي.

تشریح: یعني که د سپارلۍ پر څاروي نجاست لګېدلی وي برابره ده په زین باندي وي یا د پښو اېښوولو په ځاي (رکاب) باندي وي، نو هم د هغه لمونځ صحیح کېږي، او د دې نجاست او مرداری په

وجه د هغه په لمانځه باندې څه اثر نه پرېوځي، بس! د لمونځ گزار بدن او جامه پاکېدل پکار دي. (شفاء الارواح، مراقي الفلاح)

د تګ په حالت کي لمونځ کول

﴿٦٥٢﴾ وَلَا تَصِحُّ صَلوٰةُ الْمَاشِيْ بِالْإِجْمَاعِ او نه صحيح کيږي د پياده تګ کونکي لمونځ په اجماع سره (بالاتفاق).

تشريح: يعني د پياده تللو (تګ کولو) په وخت کي لمونځ کول که څه هم نفلي لمونځ وي بالاجماع صحيح نه دی؛ ځکه په لمانځه کي په عملِ کثير سره لمونځ فاسديږي. او تګ کول هم يو عمل دی، لهذا په لمانځه کي په زيات تګ کولو سره لمونځ فاسديږي. برابره فرض وي او که نفل. د دواړو حکم يو دی، او په لمانځه کي د عملِ قليل گنجايش سته. لهذا که لږ ولاړ سي، نو لمونځ نه فاسديږي، فقهاؤ دا مسئله داسي بيان کړې ده چي که لمونځ گزار پرله پسې درې قدمه يا تر درې زيات ولاړ سي، نو لمونځ يې فاسديږي او که تر دريو قدمو کم ولاړ سي، يا څلور. پنځه قدمه ولاړ سي خو په وقفه، وقفه سره ولاړ سي، نو لمونځ يې نه فاسديږي، د فرضو او نفلو دواړو هم دغه حکم دی، خو فرض د الله ﷻ په دربار کي خاص حاضري ده، نو ځکه لږ غوندي هم تلل پکار نه دي او نفلي لمونځ خصوصي معامله ده، نو ځکه د لږ تللو گنجايش سته. (شفاء الارواح. انوار الايضاح بحوالة حلبي کبير و شامي)

* * *

فَصْلٌ فِيْ صَلَاةِ الْفَرْضِ وَالْوَاجِبِ عَلَى الدَّابَةِ

(دا) فصل پر سپارلي د فرضي لمانځه او واجب لمانځه د اداء کولو په بیان کی دی

﴿۶۵۷﴾ لَا يَصِحُّ عَلَى الدَّابَّةِ صَلٰوةُ الْفَرَائِضِ نه صحیح کیږي پر سپارلي فرض لمنځونه وَالْوَاجِبَاتِ كَالْوِتْرِ وَالْمَنْذُوْرِ واجب لمنځونه لکه وتر او نذر کړی سوی لمونځ.

﴿۶۵۸﴾ وَمَا شَرَعَ فِيْهِ نَفْلًا فَأَفْسَدَهٗ او هغه لمونځ کوم چي يې د نفلو په توګه شروع کړي بیا هغه فاسد کړي (یعني هغه نفلي لمونځ چي تر شروع کولو وروسته یې بیرته مات کړي).

لغات: ﴿المنذور﴾ نذر کړی سوی لمونځ، مثلاً یو سړي داسي ویلي وي چي د الله تعالیٰ لپاره پر ما څلور رکعته نذر دي چي سبا به یې کوم، نو پر هغه دا څلور رکعته واجب دي.

تشریح: بېله عذره فرضي لمونځ د سپرتیا په حالت کي کول جائز نه دي، بلکي را شوه کېدل او لاندي اداء کول ضروري دي، همدارنګه واجب لمونځ مثلاً وتر او نذر کړی سوی لمونځ پر سپارلي کول جائز نه دي: ځکه په دې کي قیام، رکوع، سجود او استقبال القبلة (مخ پر قبله کېدل) شرط دي. همدارنګه هغه سنت یا نفلي لمونځ چي له شروع کولو څخه وروسته مات کړل سي، نو څرنګه چي د هغه قضاء هم واجب ګرځي، نو ځکه هغه هم د سپرتیا په حالت کي اداء کول جائز نه دي (چي په را روانه عبارت کي به هم د دې تذکره وسي). (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

د فاسد کړل سوي نفلي لمانځه حکم

وَمَا شَرَعَ فِيْهِ: سنت او نفلي لمنځونه په شروع کولو سره واجبیږي، لهذا که څوک په هغه شروع وکړي او بیا په یو وجه هغه مات وکړي، نو وروسته د هغه قضاء واجبیږي. او د واجب لمنځونو حکم پورته ذکر سو چي بېله عذره پر سپارلي اداء کول جائز نه دي. (مراقی الفلاح)

د جنازې د لمانځه صحیح کېدلو شرط

﴿۶۵۹﴾ وَلَا صَلٰوةُ الْجَنَازَةِ او نه (صحیح کېږي پر سپارلې) د جنازې لمونځ.

تشریح: د جنازې د لمانځه د صحیح کېدلو څو شرطونه دي، له هغوی څخه یو شرط دا دی چې مړی او جنازه به پر ځمکه وي، لهذا که بېله عذره مړی خلکو پورته کړی وي، یا مړی پر سپارلې وي، نو لمونځ نه صحیح کېږي. (در مختار الشامی ج۲، ص۱۰۳، ۱۰۴)

پر سپارلې سجدهٔ تلاوت کول

﴿۶۶۰﴾ وَسَجْدَةٌ تُلِيَتْ آيَتُهَا عَلَى الْأَرْضِ او هغه سجدهٔ تلاوت چې د هغې آیت پر ځمکه تلاوت کړی سوی وي.

لغات: ﴿تلیت﴾ د نصر له بابه ماضي مجهوله ده: لوستل (قرآن ویل)، تلاوت کول.

تشریح: مسئله دا ده چې که څوک د سجدې آیت پر ځمکه ووایي او تر دې وروسته سپور سي، نو دا سجدهٔ تلاوت پر سپارلې نه سي اداء کولای، خو که د سپرتیا په حالت کې پر سپارلې د سجدې آیت ووایي، نو دا سجدهٔ تلاوت پر سپارلې اداء کول صحیح دي. (طحطاوي على مراقي الفلاح)

د عذر په وجه فرض او واجب لمونځ پر سپارلې کول

﴿۶۶۱﴾ إِلَّا لِضَرُوْرَةٍ مګر د یو ضرورت (عذر) په وجه (پر سپارلې فرض او واجب کولای سي) كَخَوْفِ لِصٍّ عَلَى نَفْسِهٖ أَوْ دَابَّتِهٖ أَوْ ثِيَابِهٖ لَوْ نَزَلَ لکه د غله بېره (له غله څخه بېرېدل) پر خپل ځان یا پر خپل سپارلې یا پر خپلو جامو که چېرې هغه را شوه سي وَخَوْفِ سَبُعٍ او (لکه) د درنده بېره وَطِيْنِ الْمَكَانِ او د ځای ختې (یعنې چې ځای ټول ختې وي) وَجُمُوْحِ الدَّابَّةِ او د سپارلې سرکښې (ترهېدل) وَعَدَمِ وِجْدَانِ مَنْ يُرْكِبُهٗ لِعَجْزِهٖ او داسې کس نه موجودېدل کوم چې دئ سپور کړي د ده د عاجزوالي په وجه.

لغات: ﴿سَبُعٌ﴾ درنده، ځیرونکی حیوان لکه زمری، پړانګ، لېوه. جمع: سِبَاعٌ و سُبُوْعٌ. ﴿جموح﴾ د فتح د باب مصدر دی: سر کښه کېدل، ترهېدل چې د سپور کس له قابو څخه ووځي. ﴿عجز﴾ د ضرب د باب مصدر دی: عاجزه کېدل، له یو شي څخه بې وسه کېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که يو عذر وي، نو بيا فرائض او واجبات وغيره د سپرتيا په حالت کي پر سپارلي اداء کول صحيح دي، او معقول عذرونه دا دي: ① که دا ېيره او خطره وي چې که له سپارلي څخه شوه سم، نو غل به مي ووژني، يا زما مال او سامان به يووسي، يا سپارلي به بوځي. ② يا دا ېيره وي چې يو درنده به پر ما يا زما پر سپارلي حمله وکړي، ③ يا تو له ځای او ځمکه لنده خيشته خټه وي (په دې توګه چې که سجده پرې وکړل سي. نو سر به نښوځي او جامه به خټو ککړېږي)، او وچ ځای د لمانځه لپاره نه پيدا کيږي، ④ يا سپارلي (چارپای) داسي سرکښه وي چې که له هغه څخه شوه سي، نو بيا هغه ته نه سي ختلای او هلته هيڅ کومکي موجود نه وي.

نو دې عذرونو په وجه فرض او واجب لمنځونه پر سپارلي کولای سي او وروسته يې اعاده هم نسته، لېکن حتى الامکان د مخ پر قبله کېدلو خيال ساتل ضروري دي. (انوار الايضاح. شفاء الارواح)

﴿۲۶۲﴾ وَالصَّلٰوةُ فِي الْمَحْمَلِ عَلَى الدَّابَّةِ كَالصَّلٰوةِ عَلَيْهَا او لمونځ کول په هغه کجاوه کي کوم چې پر سپارلي (پرته) وي داسي دی لکه پر (خودي) سپارلي لمونځ کول سَوَاءٌ كَانَتْ سَائِرَةً أَوْ وَاقِفَةً برابره ده سپارلي تلونکې (روانه) وي او که ولاړه وي.

لغات: ﴿المحمل﴾ کجاوه (هودج)، د لښتو او لرګيو څخه جوړ سوی هغه ځای کوم چې به پر اوښ د سپرېدلو او کښېنستلو لپاره ايښوول کېدی (چې هغه به د کوچنۍ خوني په ډول وو چې سر به يې د ګومبټي په شېر وو. او غالبًا په هغه کي به ښځي ازناني اسپرول کېدې)، جمع: محامل، ﴿سائرة﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث فاعل صيغه ده، مصدر: سَيْرًا: تلل، روانېدل.

تشريح: مسئله دا ده چې کجاوه کوم چې پر سپارلي ايښوول کيږي، په هغه کي لمونځ کول داسي دي لکه پر سپارلي لمونځ کول، يعني په دواړو کي هيڅ فرق نسته. (انوار الايضاح)

﴿۲۶۳﴾ وَلَوْ جَعَلَ تَحْتَ الْمَحْمَلِ خَشَبَةً حَتّٰى بَقِيَ قَرَارُهٗ إِلَى الْأَرْضِ او که له کجاوې څخه لاندي يو لرګی ودروي تر دې چې د کجاوې قرار پر ځمکه پاته سي (يعني پر ځمکه قرار ونيسي) كَانَ بِمَنْزِلَةِ الْأَرْضِ نو بيا هغه د ځمکه په درجه کي ده فَتَصِحُّ الْفَرِيْضَةُ فِيْهِ قَائِمًا نو په هغې کي فرضي لمونځ په ولاړه کول صحيح کيږي.

لغات: ﴿خشبة﴾ لرګی (د لرګي تخته يا لويه ټوټه)، ﴿بقي﴾ د سمع د باب ماضي ده: پاتېدل (باقي پاتېدل).

تشریح: مسئله دا ده چي کجاوه کوم چي پر سپارلي پرته وي که تر هغه لاندي لرګی داسي ودرول سي او پر ځمکه تکیه کړل سي چي کجاوه حرکت نه کوي او پر ځمکه قرار ونیسي، نو داسي کجاه د ځمکي او د تخت او کټ په حکم کي ده چي څرنګه پر ځمکه او پر تخت وغیره فرضي لمونځ په ولاړي کول صحیح دي، همداسي په دغه کجاوه کي هم فرضي لمونځ په ولاړي کول صحیح دي. او په دې کي هم بېله عذره فرضي لمونځ په ناستي کول صحیح نه دي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِي الصَّلَاةِ فِي السَّفِيْنَةِ

(دا) فصل دی په کښتی کي د لمونځ کولو په بیان کي

په کښتی کي د لمونځ کولو بیان

﴿٦٦٣﴾ صَلوٰةُ الْفَرْضِ فِيْهَا وَهِيَ جَارِيَةٌ قَاعِدًا بِلَا عُذْرٍ صَحِيْحَةٌ په کښتی کي فرض لمونځ کول په داسي حال کي چي هغه روانه وي بېله عذره (هم) صحیح دی عِنْدَ أَبِيْ حَنِيْفَةَ د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ په رکوع او سجده سره وَقَالَا: لَا تَصِحُّ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ او صاحبین (یاران) رَحِمَهُمَا الله فرمایي: چي نه صحیح کېږي مګر د عذر په وجه وَهُوَ الْأَظْهَرُ او همدا اظهر قول دی.

لغات: ﴿جارية﴾ د ضرب له بابه د واحد مؤنث فاعل صیغه ده، مصدر: جَرْيًا: روانېدل، تلل.

تشریح: که کښتی روانه وي، نو د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بېله عذره هم په ناستي فرض او واجب لمونځ کول صحیح دي، خو په دې صورت کي دا ضروري ده چي په رکوع او سجده سره به لمونځ اداء کوي، یعني رکوع او سجده په اشاره سره نه صحیح کېږي، او صاحبین رَحِمَهُمَا الله فرمایي چي بېله عذره په ناستي لمونځ پکښي کول جائز نه دي او همدا ظاهر مذهب دی. ها! که یو عذر وي، نو په داسي صورت کي بالاتفاق په ناستي لمونځ کول صحیح دي (عذرونه به راروان عبارت کي بیان سي).

﴿۲۶۵﴾ وَالْعُذْرُ كَدَوَرَانِ الرَّأْسِ او عذر لکه سر ګرځېدل (د سر چکر کول) وَعَدَمِ الْقُدْرَةِ عَلَى الْخُرُوْجِ او (لکه) قدرت نه لرل (له کښتۍ څخه) پر وتلو.

لغات: ﴿دوران﴾ د نصر د باب مصدر دی: سر ګرځېدل (چکر باندي راتلل).

تشريح: او هغه عذر چي د هغه په وجه په کښتۍ کي په ناستي لمونځ کول جائز دي مثلاً په ولاړه د لمونځ کولو په صورت کي د لمونځ ګزار سر ګرځي، يا د لمونځ ګزار پښې پر يوه ځای قرار نه نيسي، او له کښتۍ څخه بهر نه سي وتلای.

﴿۲۶۶﴾ وَلَا تَجُوْزُ فِيْهَا بِالْإِيْمَاءِ اِتِّفَاقًا او جائز نه دي په کښتۍ کي په اشاره سره لمونځ کول (د ټولو) په اتفاق.

تشريح: يعني که لمونځ ګزار په رکوع او سجده کولو باندي قادر وي، نو د هغه لپاره په کښتۍ کي په اشاره سره لمونځ کول جائز نه دي (لکه مخکي چي مو ورته ذکر کړه)، دا حکم بالاتفاق دی.

﴿۲۶۷﴾ وَالْمَرْبُوْطَةُ فِيْ لُجَّةِ الْبَحْرِ وَتُحَرِّكُهَا الرِّيْحُ شَدِيْدًا كَالسَّائِرَةِ او هغه کښتۍ کوم چي تړل سوې وي د سمندر (درياب) په مېنځ کي او باد هغې ته سخت حرکت ورکوي (نو) هغه د رواني کښتۍ په شان ده وَإِلَّا فَكَالْوَاقِفَةِ کنې (يعني که هغې ته باد حرکت نه ورکوي) نو د ولاړي (درېدلي) کښتۍ په شان ده عَلَى الْأَصَحِّ د صحيح ترين قول مطابق.

لغات: ﴿المربوطة﴾ د نصر له بابه د واحد مؤنث مفعول صيغه ده: تړل سوې، مصدر: رَبْطًا: تړل (غوټه کول). ﴿لجة البحر﴾ د سمندر (درياب) هغه حصه چي هلته اوبه زياتي وي. ﴿تحرك﴾ د تفعيل له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع صيغه ده: حرکت ورکول، ښورول.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي هغه کښتۍ کوم چي د سمندر په مېنځ کي درول سوې او تړل سوې وي، خو د باد (هوا) د سمندري څپو په وجه هغه حرکت کوي، نو د هغې حکم د رواني کښتۍ په شان دی چي په هغه کي د امام صاحب رَحِمَهُ الله په نېز بېله عذره هم په ناستي لمونځ کول صحيح دي او د صاحبينو رَحِمَهُمَا الله په نېز صحيح نه دی، او که باد هغې ته حرکت نه ورکوي، بلکي هغه پر خپل ځای ثابته ولاړه وي، نو بيا د هغې حکم د ولاړي او تړل سوي کښتۍ په شان دی چي د هغه حکم به په را روان عبارت کي ذکر سي.

[illegible] وَإِنْ كَانَتْ [illegible] که کښتۍ [illegible]

[illegible]

لغات: [illegible] جمع: [illegible]

تشریح: صورت د مسئلې [illegible] چې که کښتۍ [illegible]

[illegible] کښتۍ [illegible]

[illegible] صحیح [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

تشریح: [illegible] چې کښتۍ [illegible]

[illegible]

[illegible] کښتۍ [illegible]

[illegible]

[illegible] کښتۍ [illegible]

[illegible] کښتۍ [illegible]

[illegible]

تشريح: يعني کله چې په کښتۍ کې لمونځ شروع کړي، نو د لمونځ ګزار مخ پر قبله کېدل ضروري دي، برابره ده فرض لمونځ وي او که نفل وي (ځکه په هغه کې عموماً مخ ګرځول ممکن دي. په خلاف د چارپائ لو په خلاف د موټر وغيره چې په هغه کې په نفلو کې حکم جلا دی کوم چې په ﴿٦٥١﴾ نمبر مسئله کې تېر سو چې "إلى أيّ جهة توجّهت دابّته". د تفصيل لپاره د هغه عبارت تشريح وګورئ!)، او که د لمانځه په دوران کې کښتۍ وګرځي او د لمونځ ګزار مخ له قبلې څخه واوړي، نو هغه دې بېرته خپل مخ د قبلې طرف ته وګرځوي (همدا حکم په طياره او رېل ګاډۍ کې د لمونځ کولو دی... کله چې مخ ګرځول ممکن وي).

﴿٦٧١﴾ وَكُلَّمَا اسْتَدَارَتْ عَنْهَا او هر کله چې هم کښتۍ له قبلې څخه وګرځي (له قبلې څخه يې مخ واوړي) ا يَتَوَجَّهُ إِلَيْهَا فِيْ خِلَالِ الصَّلٰوةِ نو لمونځ ګزار دې هم د قبلې وطرف ته مخ کوي د لمانځه په مينځ (دوران) کې حَتّٰى يُتِمَّهَا مُسْتَقْبِلًا تر دې چې لمونځ په داسې حال کې پوره کړي چې هغه مخ پر قبله وي.

لغات: ﴿استدارت﴾ د استفعال له بابه د واحد مؤنث غائب ماضي معلومي صيغه ده. مصدر: اِسْتِدَارًا: ګرځېدل. ﴿خلال﴾ د دوو شيانو تر مينځ خالي ځای، مينځ. لکه په دې آيت کې چې دی ﴿جَاسُوْا خِلَالَ الدِّيَارِ﴾ (هغوی د کورونو په مينځ کې وګرځېدل را وګرځېدل. "في خلال الصلاة" (په مينځ د لمانځه کې يعني د لمانځه په دوران (جريان) کې).

تشريح: يعني که د لمانځه په دوران کې کښتۍ له قبلې څخه واوړي (او لمونځ ګزار ته علم وي). نو لمونځ ګزار دې په لمانځه کې دننه د قبلې وطرف ته ګرځي، تر دې چې لمونځ د قبلې وطرف ته پوره کړي. يعني کله چې هغه لمونځ پوره کوي. په هغه وخت کې د ده مخ پر قبله کېدل ضروري دي. او دا د مخ ګرځول لمونځ نه باطلوي، او که باوجود د علم او قدرت د قبلې وطرف ته مخ نه وګرځوي. نو لمونځ يې نه صحيح کېږي. (همدا حکم د طيارې او رېل ګاډۍ دی چې که د لمانځه په دوران کې د طيارې يا رېل ګاډې وغيره مخ له قبلې څخه واوړي او لمونځ ګزار په پوهېږي او پر مخ اړولو قادر هم وي. نو هغه دې هم وګرځي او خپل مخ دې د قبلې وطرف ته کړي. خو که د ګرځېدلو علم ورته نه وي. نو همداسې يې لمونځ صحيح کېږي). (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

يادونه: دا پورتنی حکم (چې په کښتۍ وغيره کې به مخ پر قبله ګرځي) په هغه صورت کې دی کله چې د قبلې وطرف ته پر مخ ګرځولو قادر وي يا په بله وړنا قبلې ته مخامخ کېدل ممکن وي (کماز کرنا)، او که هغه پر دې قدرت نه لري او وخت هم ډېر پاته نه وي، نو څرنګه چې ممکنه وي، لمونځ دې اداء کړي (ځکه له کښتۍ، رېل ګاډۍ او طيارې څخه ښکته کېدل ممکن نه دي چې فرض لاندې اداء کړي). که وخت ډېر پاته وي، نو انتظار دې وکړي، څرنګه چې قادر سي، نو مخ پر قبله دې لمونځ اداء کړي. (عون الفتاح)

⁂

فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيْحِ

(دا) فصل په (بیان د) تراویحو کي دی

تشریح: جمع د ترويحةٌ ده، د ترويحة معنیٰ ده: إيصال الرّاحة آرام رسول (هوسا کول). او په اصطلاح کي ترويحه هرو څلورو رکعتو ته وايي؛ ځرنګه چي لمونځ ګزار په تروايحو کي تر هر څلورو رکعتو وروسته د ځان هوسايني او استراحت لپاره کښېني، نو ځکه هرو څلورو رکعتو ته ترويحة ويل کيږي. او ټولو شلو رکعتو ته تراويح ويل کيږي. (عنايه ج:۱، ص:۲۸۴)

تراويح د صحيح روايت مطابق سنتِ مؤکده دی. ځکه خلفاءِ راشدينو (حضرت ابوبکر، عمر، عثمان او علي رَضِيَ اللهُ عَنهُمْ) پر تراويحو همېشتوب کړی دی، او نبي ﷺ فرمايلي دي: «عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الْمَهْدِيِّيْنَ الرَّاشِدِيْنَ». [ابوداؤد شريف، باب في لزوم السنة، حديث شمېره: ۴۶۰۹]. (پر تاسو لازم دی! زما او د خلفاءِ راشدينو طريقه)، يعني زما او د خلفاءِ راشدينو پر لاره به ځئ! او زموږ پر طريقه به عمل کوئ!. او خلفاءِ راشدينو پر تراويحو همېشتوب کړی دی. نو ځکه سنتِ مؤکده به وي.

او تراويح زموږ په نيز شل رکعته دي، دليل د سائب بن يزيد رضی الله عنه دا رايت دی: «كَانُوْا يَقُوْمُوْنَ عَلَى عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رضی الله عنه فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ بِعِشْرِيْنَ رَكْعَةً وَعَلَى عَهْدِ عُثْمَانَ وَ عَلِيٍّ مِثْلَه وَكَانُوْا يَتَوَكَّئُوْنَ عَلَى عُصِيِّهِمْ فِيْ عَهْدِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضی الله عنه مِنْ شِدَّةِ الْقِيَامِ». [سنن بيهقي، باب ما جاء في عدد ركعات القيام، حديث شمېره: ۴۸۰۱]. (يعني خلکو به د حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنهُمْ په زمانه کي شل رکعته تراويح کول، او د عثمان رضی الله عنه په زمانه کي به يې د ولاړي (دربېدلو) د سختۍ په وجه پر لکړو تکيه کوله. [يعني کله چي به په تراويحو کي ولاړه پر خلکو درنه سوه، نو بيا به يې پر لکړو تکيه کوله. او مخکي ذکر سوه چي په تطوع لمانځه کي پر يو شي تکيه کول جائز دي]). له دې روايت څخه معلومه سوه چي تراويح شل رکعته دي.

د تراویحو شرعي حیثیت

﴿۶۷۲﴾ اَلتَّرَاوِيْحُ سُنَّةٌ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ تراويح سنت دي د سړيو او ښځو لپاره.

لغات: ﴿تراویح﴾ مخکښې یې وضاحت وسو چې تراویح جمع د تَرْوِيْحَةٌ ده، اصل معنیٰ یې د استراحت ده کوم چې له راحت څخه مأخوذ دی، له څلورو رکعتو څخه وروسته چې کوم دلږ وخت لپاره ناسته کول کیږي، هغه ناستې ته ترویحه وایي، څرنګه چې په شلو رکعتو کې پنځه ترویحې دي، نو ځکه دغه لمانځه ته تراویح وایي.

تشریح: په رمضانُ المبارک کې شل (۲۰) رکعته تراویح کول د سړیو او ښځو په حق کې بالاجماع سنتِ مؤکده علی العین دي؛ ځکه مخکښې ذکر سوه چې خلفاء راشدینو او عامو صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ پر تراویحو همېشتوب کړی دی، تراویح (په اصل کې) د نبي کریم ﷺ سنت دي او بعضې حضراتو هغه ته د حضرت عمر رضی اللہ عنہ سنت ویلي دي، لیکن اول قول اصح دی. کوم څوک چې هم تراویح پرېږدي، هغه د سنت پرېښوولو ګناهکاره کیږي او د مکروه مرتکب کیږي. د تراویحو له سنت کېدو څخه د اسلام هیڅ فرقه منکر نه ده. ماسوا له روافضو څخه. (شفاء الارواح بحوالة عمدة الفقه)

د تراویحو د جماعت حکم

﴿۶۷۳﴾ وَصَلٰوتُـهَا بِالْجَمَاعَةِ سُنَّةٌ كِفَايَةٌ او د تراویحو لمونځ په جماعت سره اداء کول سنت کفایي دی.

تشریح: په جماعت سره د تراویحو اداء کول هم سنتِ مؤکده دي بناء پر کفایت، یا په بله وینا کفایي سنتِ مؤکده دي، حتیٰ که د محلې یو څو خلک په کور کې تراویح وکړي او نور یې په مسجد کې په جماعت سره وکړي، نو د کور والا ورغاړه خلاصیږي، او سنت یې اداء کیږي، خو د جماعت له فضیلت څخه بې برخې کیږي، او که د کلي ټوله خلک یې په کورونو کې وکړي او جماعت یې پرېږدي، نو ټوله کلي والا یې د جماعت پرېښوولو په وجه ګنهکاره کیږي.

❀ ❀ ❀

په نارینه امام پسې د ښځو تراویح کول

مسئله (۱): که سړی د تراویحو امامت کوي او شا ته یې خلک وي او تر هغو شا ته په پرده کې ښځې وي او دا امام د ښځو نیت هم وکړي، نو دا لمونځ شرعاً صحیح دی. په دې کې څه قباحت سته. او که امام یوازې وي او نور ټوله ښځې وي، نو د امامت د نیت کولو سره دا هم ضروري ده چې په

دې اقتداء کونکو ښځو کې به د امام يوه محرمه قريبه ښځه يا خپله ښځه (زوجه) هم شامله وي. کنې تنها صرف د اجنبيا تو امامت کول مکروه دي. (شامي ج۲، ص:۳۰۷، کتاب المسائل ص:۴۸۵)

په يوه مسجد کې د تراويحو دوه جماعتونه

مسئله (۲): په يوه مسجد کې په يوه وخت کې دوه ځايه جلا د تراويحو جماعت کول (مثلاً يو جماعت لاندې او بل په لوړ منزل کې کول، همدارنګه پرلپسې يعني د جماعت له ختمېدو څخه وروسته بل د تراويحو جماعت کول) مکروه دي. (فتاویٰ خانيه ج۱، ص۲۳۴، کتاب المسائل ص۴۸۵)

د تراويحو وخت

﴿۶۷۴﴾ وَوَقْتُهَا بَعْدَ صَلٰوةِ الْعِشَاءِ او د تراويحو وخت د ماخوستن تر لمانځه وروسته دی، وَيَصِحُّ تَقْدِيْمُ الْوِتْرِ عَلَى التَّرَاوِيْحِ وَتَاْخِيْرُهٗ عَنْهَا او صحيح دي د وترو مخکې کول پر تراويحو او د وترو وروسته کول له تراويحو څخه.

تشريح: د تراويحو وخت د ماخوستن تر لمانځه وروسته تر صبح صادقه (سپېده چاوده) پوري دی. او په وترو کې افضل دا ده چې له تراويحو څخه وروسته اداء کړل سي. ليکن که وتر له تراويحو څخه مخکې اداء کړل سي او بيا تراويح، نو هم شرعاً صحيح دي. (البحر الرائق ج:۲. ص:۷۳)

فايده: د تراويحو د وخت په سلسله کې درې قوله دي: ① ټوله شپه د تراويحو وخت دی. د ماخوستن تر لمانځه مخکې او وروسته، له وترو څخه مخکې او وروسته (په دې هر وخت کې تراويح اداء کولای سي)، ② د ماخوستن د لمانځه او د وترو په مينځ کې د تراويحو وخت دی، ③ د تراويحو وخت د ماخوستن تر لمانځه وروسته تر صبح صادقه پوري دی. همدا قول صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله غوره کړی دی، وصححه في الهداية والخانية والمحيط. (البحر الرائق ج:۲، ص۷۲)

د تراويحو مستحب وخت

﴿۶۷۵﴾ وَيُسْتَحَبُّ تَاْخِيْرُ التَّرَاوِيْحِ إِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفِهٖ او مستحب دي د تراويحو ځنډول تر دريمې حصې د شپې يا نيمې شپې پوري وَلَا يُكْرَهُ تَاْخِيْرُهَا إِلٰى مَا بَعْدَهٗ او مکروه نه دي د تراويحو ځنډول له دې (نيمې شپې) څخه تر وروسته پوري (هم) عَلَى الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق.

تشريح: يعني تراويح دومره ځنډول چې د شپې دريمه حصه يا نيمه شپه راسي دا مستحب دي او تر نيمې شپې وروسته په اداء کولو کې [illegible] اختلاف دی بعضو دې ته مکروه ويلي دي. ليکن صحيح

دا ده چي تر نیمي شپې وروسته هم تراویح کول مکروه نه وي، بلکي د بعضو په نیز مستحب او افضل دي؛ ځکه چي دا قیامُ اللیل دی، لیکن کوم چا ته چي د تراویحو په ځنډولو سره د تراویحو د فوت کېدلو ببره وي، نو د هغه لپاره غوره دا ده چي تراویح نه وځنډوي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

د تراویحو رکعات

﴿٦٧٦﴾ وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً بِعَشْرِ تَسْلِيْمَاتٍ او تراویح شل رکعته دي په لسو سلامونو سره.

تشریح: فرمایي چي د تراویحو شل رکعته دي په لسو سلامونو سره، نه تر دې کم او نه تر دې زیات، یعني پر هرو دوو رکعتو به سلام ګرځول کیږي، لاندي یو څو مسئلې ملاحظه کړئ!:

❀ ❀ ❀

مسئله (١): که څوک درې رکعته وکړي، خو پر دویم رکعت کښېني، نو د شروع دوه رکعته صحیح کیږي او آخري رکعت باطلیږي، په آخري رکعت کي لوستل سوی قرآن (په راروان رکعت کي) راګرځول لازم دي، او که پر دویم رکعت یې قعده (ناسته) نه وي کړې، نو درې سره رکعته باطلیږي، په هغوی کي لوستل سوی قرآن به راګرځول کیږي. (ایضاح المسائل ص:١٢٩، امداد الفتاویٰ ج:١، ص:٤٩٨)

مسئله (٢): که په یوه سلام سره څلور رکعته وکړي او پر دویم رکعت قعده وکړي، نو څلور سره رکعته صحیح کیږي او سجدهٔ سهو نه لازمیږي. (حاشیه امداد الفتاویٰ ج:١، ص:٤٩٨)

مسئله (٣): که په یوه سلام سره څلور رکعته وکړي او پر دویم رکعت نه کښېني (یا په بله وینا قعدهٔ اولیٰ نه وکړي)، نو صرف آخري دوه رکعته معتبر دي او د شروع دوه رکعتونه باطلیږي، لهذا په اولو دوو رکعتونو کي لوستل سوی قرآن به راګرځول کیږي، کنې قرآن کریم به مکمّل نه سي؛ ځکه دا دوه رکعته په تراویحو کي شمار نه دي. (امداد الفتاویٰ مطبوعه دیوبند ج:١، ص:٢٩٧، کفایت المفتي ج:٣، ص:٣٤٩)

تر هر څلورو رکعتو وروسته کښېنستل

﴿٦٧٧﴾ وَيُسْتَحَبُّ الْجُلُوْسُ بَعْدَ كُلِّ أَرْبَعٍ بِقَدْرِهَا او مستحب دي کښېنستل تر هرو څلورو رکعتو وروسته د هغوی (څلورو رکعتو) په اندازه وَكَذَا بَيْنَ التَّرْوِيْحَةِ الْخَامِسَةِ وَالْوِتْرِ او همدارنګه (مستحب دي کښېنستل) د پنځمي ترویحې او وترو په مینځ کي.

تشریح: فرمایي له هرو څلورو رکعتو څخه وروسته دومره وخت کښېنستل مستحب دي په څومره وخت کي چي څلور رکعته سوي دي، که په دومره وخت کښېنستلو کي خلکو ته تکلیف

وي او د جماعت د کمېدلو بېره وي، نو تر هغه دي کم کېږي، او د پنځمي ترويحې او وترو په مينځ کي هم دومره اندازه کېښتل مستحب دي، لېکن که دا هم پر خلکو درنه وي، نو نه دي کېږي.

او د ناستي په دوران کي خلکو ته اختيار دی، برابره ده تسبيح وايي، يا قرآن کريم وايي، يا يو بل ورد وايي، بعضي فقهاؤ لیکلي دي چي درې واره دي دا تسبيح وايي:

"سُبْحَانَ ذِی الْمُلْكِ وَالْمَلَكُوْتِ سُبْحَانَ ذِی الْعِزَّةِ وَالْعَظَمَةِ وَالْقُدْرَةِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْجَبَرُوْتِ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْحَيِّ الَّذِیْ لَا يَنَامُ وَلَا يَمُوْتُ سُبُّوْحٌ قُدُّوْسٌ وَرَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوْحِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ نَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ نَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَنَعُوْذُبِهٖ مِنَ النَّارِ". (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

د قرآن ختمولو حکم

﴿٦٧٨﴾ وَسُنَّ خَتْمُ الْقُرْآنِ فِيْهَا مَرَّةً فِي الشَّهْرِ او سنت دي د قرآن ختمول په تراويحو کي يو وار په مياشته کي عَلَى الصَّحِيْحِ د صحيح قول مطابق.

تشريح: په تراويحو کي قرآن کريم په ټوله مياشته کي يو وار په ترتيب سره ختمول سنت مؤکده دي، او د خلکو د غفلت او سستۍ په وجه يو وار ختم نه سي پرېښوول کېدلای او نه د خلکو رعايت په دې کي لازم دی، که په ټوله رمضانُ المبارک کي يو ختم کوي، نو دا ورشتم په شپه ختم کو

مستحب او افضل دي. دلته دا خبره هم ياد لرئ! چي په رمضانُ المبارک کي تراويح مستقل سنت

او په تراويحو کي لږ تر لږه يو وار قرآن ختمول جلا سنت دی، لهذا د "الم ترکيف" په تراويحو سر

خو پر يوه سنت عمل کېږي، لېکن د دويم سنت ترک لازمېږي.

﴿٦٧٩﴾ وَإِنْ مَلَّ بِهِ الْقَوْمُ او که په تکليف کېدل (تنګېدل) په دې (يو، وار قرآن ويلو) سره خلک قَرَأَ بِقَدْرِ مَا لَا يُؤَدِّیْ إِلَى تَنْفِيْرِهِمْ نو دومره اندازه دي وايي کوم چي د هغو متنفر کولو لره رسول نه کوي (يعني چي د هغو د نفرت او زړه تنګۍ سبب نه ګرځي) فِي الْمُخْتَارِ د مختار (خوښ کړی سوي) قول مطابق.

لغات: ﴿مَلَّ﴾ د سمع له بابه ماضي معلومه ده؛ مصدر: مَلَلًا و مَلَالًا، مَلَالَةً: له يو شي څخه ستړي کېدل، په تکليف کېدل، تنګېدل (زړه توربدل). ﴿تنفير﴾ د تفعيل د باب مصدر دی؛ نفرت پيدا کول، متنفر کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې که خلک دومره اندازه سُست وي چې دا بېره وي چې که په تراویحو کې ټوله قرآن مجید ویل کېږي او قرائت اوږدول کېږي، نو خلک به متنفر سي او تراویح به پرېږدي او جماعت به مات سي، نو بیا غوره دا ده چې څومره اندازه قرائت پر خلکو نه بوج کېږي.

هغومره دي ویل کېږي او د قرآن ختمولو سنت دي پرېږدي، یا دي په "ألم ترکیف" سره تراویح ورکول کېږي.

صاحب د "انوارالایضاح" (غفر الله لهٔ) وایي چې نن سبا چې په تراویحو کې پاؤ بالا یوه سپاره یا یوه نیمه سپاره ویل کېږي، زما په خیال د خلکو زړونه په دومره قرائت سره نه متنفر کېږي؛ ځکه د ټولو په ذهن کې دا خبره ده چې په (۲۷) د رمضان قرآن شریف ختمېږي. او که په دومره قرائت سره هم خلک ستړي کېږي، نو بیا دي قرآن ختمولو سنت پرېږدي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

سنت اوراد پرېښوول

﴿۶۸۰﴾ وَلَا يَتْرُكُ الصَّلٰوةَ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ مِنْ كُلِّ تَشَهُّدٍ مِنْهَا او نه دي پرېږدي پر نبي کریم ﷺ درود د تراویحو په هر تشهّد (التحیات) کې وَلَوْ مَلَّ الْقَوْمُ که څه هم خلک په تکلیف کېږي عَلَى الْمُخْتَارِ د مختار قول مطابق وَلَا يَتْرُكُ الثَّنَاءَ وَتَسْبِيحَ الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ او نه دي پرېږدي ثناء (سبحانك اللهم وبحمدك الخ) او د رکوع او سجدې تسبیح وَلَا يَأْتِيْ بِالدُّعَاءِ إِنْ مَلَّ الْقَوْمُ او (تر درود شریف وروسته) دعاء دي نه وایي که خلک په تکلیف کېدل.

تشریح: له تکبیرِ تحریمه څخه وروسته ثناء (یعني سُبحانك اللهم وبحمدك...) ویل سنت دي او له ثناء څخه وروسته او تر سورة الفاتحه مخکې "أعوذ بالله..." او "بسم الله..." ویل هم سنت دي. په رکوع کې لږ تر لږه درې واره "سبحان ربّي العظیم" ویل سنت دي او په سجده کې لږ تر لږه درې واره "سبحان ربّي الأعلیٰ" ویل سنت دي او په آخره ناسته کې له التحیات (تشهّد) څخه وروسته درود شریف ویل سنت دي، همدارنګه له درود شریف څخه وروسته او تر سلام مخکې مأثوره دعاګانې ویل سنت دي.

مسئله دا ده چې دغه سنتونه به په هیڅ حال کې هم نه پرېښوول کېږي یعني د خلکو د ستړي کېدو له بېرې څخه به امام دغه شیان نهِ پرېږدي، ها! دا خبره یاد ساتل پکار دي چې که خلک

ستړي کيږي، نو له درود شريف څخه وروسته دي اوږده دعاء نه ويل کيږي. بلکي يو مختصره دعاء (لکه "ربّنا آتنا في الدنيا حسنة الخ") دي ويل کيږي. يا دي دعاء پرېښوول کيږي (ددې ګنجائش شته).(انوار الايضاح، شفاء الارواح)

د تراويحو قضاء نشته

﴿۶۸۱﴾ وَلَا تُقْضَى التَّرَاوِيْحُ بِفَوَاتِهَا او قضاء به نه راوړل کيږي د تراويحو د هغوی په فوتېدلو (تېرېدلو) سره (يعني که له يو چا څخه تراويح پاته او تېري سي، نو نه به راګرځول کيږي) مُنْفَرِدًا وَلَا بِجَمَاعَةٍ نه يوازي (انفرادي) او نه په جماعت سره.

تشريح: که له يو چا څخه د تراويحو پوره لمونځ پاته سي او وخت يې ووځي، نو اوس د هغه قضاء نشته، نه په جماعت سره او نه بغير له جماعته، که يې قضاء راګرځوي، نو هغه محض نفل ګرځي. نه سنت تراويح.

* * *

د تراويحو بعضي رکعتونه تېرېدل

که له يو چا څخه د تراويحو بعضي رکعتونه تېر سي، نو هغه دي د ترويحه په وقفو کي رکعتونه پوره کړي، که بيا هم پاته سي او امام تر آخري ترويحې وروسته د وترو لپاره ولاړ سي، نو د امام سره دي اولاً وتر اداء کړي، تر هغه وروسته دي خپل پاته رکعتونه راوګرځوي. (درمختار ج:۱. ص:۴۳۶)

بېلابېلي مسئلي

مسئله (۱): په تراويحو کي د نابالغه کس امامت د مفتیٰ به قول مطابق جائز نه دی. (حلبي کبير ص:۴۰۸)

مسئله (۲): کوم چا چي د ماخوستن لمونځ تنها کړی وي، نو هغه د تراويحو او وترو په جماعت کي شريک کېدلای سي، په دې کي څه شرعي ممانعت نشته. (در مختار ج:۲. ص:۴۳۶ ط: بيروت)

مسئله (۳): په کوم مسجد کي چي د ماخوستن لمونځ په جماعت سره نه وي سوی. بلکي ټولو تنها، تنها لمونځ کړی وي. نو اوس که هغوی (فقط) تراويح په جماعت سره کوي، دا د هغو لپاره ښه نه دي.(پورتنی حواله)

مسئله (۴): کوم چا چي يو وار تراويح کړي وي. يا يې د تراويحو امامت کړی وي، نو بل ځای که بيا د نفلو په نيت سره د تراوايحو په جماعت کي شامل سي، نو په دې کي څه شرعي حرج نشته.(حلبي کـ ص:۴۰۸)

مسئله (۵): په ټوله تراويحو کې فقط يو وار بسم الله جهراً (په لوړ آواز سره) ويل لازم دي، کنې قرآن به ناقص پاتې سي، خو د هر سورت په شروع کې بسم الله جهراً ويل له نبي کريم ﷺ او له خلفاء راشدينو څخه ثابت نه دي، نو ځکه د امام صاحب رَحِمَهُ‌الله په نيز په هر سورت کې بسم الله جهراً ويل سنت نه دي. (انوار الايضاح)

په تراويحو کې د قرآن پر ختم پيسې اخيستل

مسئله (۶): د قرآن کريم تلاوت او د هغه ختم مستقل عبادت دی، د هغه په ذريعه دنيا حاصلول يا په معروفه (مروجه) طريقه باندې د قرآن پر ختم اُجرت اخيستل جائز نه دي، صاحب د انوار الايضاح (غفر الله له) په دې هکله تفصيلي بحث کړی دی (او کومو حضراتو چې د تراويحو د اُجرت جواز د امامت او تعليم پر اُجرت قياس کړی دی، هغه يې په دليل سره قياس مع الفارق ګرځولی دی) او ويلي يې دي: په اوسني دَور کې مشرانو مفتيانو دا فتویٰ جاري کړې ده چې په تراويحو کې د قرآن کريم پر ختم په ټاکلې توګه يا په نا ټاکلې توګه اُجرت اخيستل جائز نه دي، په ټوله معتبرو فتاویٰ وو کې د دې صراحت موجود دی (اوګورئ: فتاویٰ رشيديه ص: ۳۹۲، فتاویٰ مظاهر علوم ج: ۱، ص: ۴۸، امداد الفتاویٰ ج: ۱، ص: ۴۸۱، کفايت المفتي ج: ۳، ص: ۲٦۵، فتاویٰ دار العلوم ج: ۴، ص: ۲۴٦، جواهر الفقه ج: ۱، ص: ۳۸۲، فتاویٰ محموديه ج: ۷ ص: ۱۷۱، احسن الفتاویٰ ج: ۳، ص: ۵۱۴، فتاویٰ رحيميه ج: ۱، ص: ۳۴۹ [په مذکوره فتاویٰ وو کې بعضې پښتو ته هم ترجمه سوي دي]).

مسئله (۷): که يو حافظ صاحب ته ديوه وخت يا يوې مياشتې د مسجد امامت وسپارل سي، نو هغه د تراويحو پر ختم اُجرت اخيستلای سي، که نه؟ د دې جواب حضرت تهانوي رَحِمَهُ‌الله داسې ليکلی دی چې دلته مقصود په تراويحو کې قرآن ويل دي، امامت مقصود نه دی، نو ځکه دا هم جائز نه دي. (امداد الفتاویٰ ج: ۱، ص: ۳۲۲، ايضاح المسائل ص: ۲۸)

مسئله (۸): حافظ صاحب ته د ټک راټک کرايه ورکول او د حافظ صاحب ميلمستيا کول شرعاً په اُجرت کې داخل نه دي، نو ځکه دا جائز دي. (فتاویٰ دار العلوم ج: ۴، ص: ۲۹۴، ايضاح المسائل ص: ۲۸)

❁ ❁ ❁

بَابُ الصَّلَاةِ فِي الْكَعْبَةِ

(دا) باب دی (په بیان کي) دلمونځ کولو په کعبه شریفه کی

تشریح: یو لفظ کعبه ده او بل لفظ قبله ده، کعبه د هغه خاص ځای نوم دی کوم چي د مکې په ښار په مسجدِ حرام کي واقع دی (او چاپېره دېوال پرې را ګرځېدلی دی، کوم چي عموماً په تور مبارک پوښ سره پوښل سوی وي). او قبلةُ الصّلاة د احنافو په نيز په حقيقت کي هغه فضا ده کوم چي د څلورو طرفونو په اعتبار سره د دې کعبې په حدُ کي محدوده ده او د لاندي او لوړ په اعتبار سره له تحت الثرىٰ څخه تر آسمانه پوري ده. (لهذا که دا د کعبې کوټه او دېوالونه پاته نه سي. بيا هم قبله باقي پاتېږي). (در مختار ج۱، ص۲۰۱،۲۰۲)

په کعبه کي دننه يا پر کعبې د پاسه لمونځ کول

﴿٦٨٢﴾ صَحَّ فَرْضٌ وَنَفْلٌ فِيهَا صحيح دي فرض او نفل په کعبه شريفه کي وَكَذَا فَوْقَهَا او همداسي د کعبې شريفي د پاسه (هم صحيح دي) وَإِنْ لَمْ يَتَّخِذْ سُتْرَةً که څه هم سُتره يې نه وي درولې لٰكِنَّهُ مَكْرُوهٌ لېکن دا مکروه دي لِإِسَاءَةِ الْأَدَبِ بِاسْتِعْلَائِهِ عَلَيْهَا د بې ادبی له وجهي پر کعبې شريفي د پاسه ختلو په سبب.

لغات: ﴿لم يتخذ﴾ د افتعال له بابه د واحد مذکر غائب نفي جحد بلم صيغه ده، د دې باب څو معناوي دي چي د صلې په بدلون سره يې معنىٰ هم بدليږي: دلته په معنىٰ د درولو (قائمولو) سره ده. ﴿استعلاء﴾ پورته کېدل، ختل.

تشريح: په کعبه شريفه کي دننه فرض او نفل هر قسم لمونځ کول بلا کراهته صحيح دي، برابره ده تنها لمونځ کوي يا په جماعت سره، که څه هم خپل مخ ته يې يو سُتره نه وي درولې، همدارنګه د کعبې شريفي پر بلم (چت) هم لمونځ کول جائز دي، خو په کراهت تنزيهي سره او بعضو ويلي دي چي په کراهت تحريمي سره. يعني پر کعبې شريفي د پاسه لمونځ کَول مکروه تحريمي دي: ځکه دا د کعبې د تعظيم خلاف دي. ښکاره دي وي چي په کعبه شريفه کي دننه يا پر هغې د پاسه تنها لمونځ کونکی هر طرف ته مخ کولای سي، هلته هر طرف د هغه لپاره قبله ده. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

په کعبه کي په جماعت سره د لمونځ کولو يو صورت

﴿٦٨٣﴾ وَمَنْ جَعَلَ ظَهْرَهُ إِلَىٰ غَيْرِ وَجْهِ إِمَامِهِ فِيْهَا أَوْ فَوْقَهَا او څوک چي وګرځوي خپله شا د خپل امام له مخ څخه بغير وبل طرف ته په کعبه کي دننه يا پر کعبې د پاسه صَحَّ نو (د ده لمونځ) صحيح کيږي وَإِنْ جَعَلَ ظَهْرَهُ إِلَىٰ وَجْهِ إِمَامِهِ او که وګرځوي خپله شا د خپل امام د مخ وطرف ته لَايَصِحُّ نو نه صحيح کيږي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که په کعبه کي دننه يا پر کعبې د پاسه په جماعت سره لمونځ اداء کول کيږي او خلک په امام پسي داسي ودريږي چي د کعبې وطرف ته په مخ کولو کي د ټولو مقتديانو مخونه جلا، جلا طرف ته وي، نو په دې صورت کي چي د کوم مقتدي شا دامام د مخ وطرف ته وي، د هغه لمونځ نه صحيح کيږي، له دې څخه بغير نور چي څومره صورتونه جوړيږي. مثلاً د مقتدي شا دامام راسته يا چپه طرف ته وي، يا د مقتدي مخ دامام راسته يا طرف ته وي. يا د مقتدي مخ دامام د شا وطرف ته وي او داسي نور، په دې ټولو صورتونو کي بلا کراهته لمونځ جائز صحيح کيږي، صرف په يوه صورت کي کراهت سته او هغه دا دی چي د مقتدي مخ دامام د مخ وطرف ته وي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه)

﴿٦٨٤﴾ وَصَحَّ الْإِقْتِدَاءُ خَارِجَهَا بِإِمَامٍ فِيْهَا وَالْبَابُ مَفْتُوْحٌ او صحيح دي اقتداء کول له کعبې څخه دباندي په هغه امام پسي کوم چي په کعبه کي دننه وي، په داسي حال کي چي (د کعبې شريفي) دروازه خلاصه وي.

تشريح: اولاً په دې خبره پوهېدل پکار دي چي په يو امام پسي د اقتداء د صحيح کېدو لپاره ډېر شرطونه دي چي له هغوی څخه يو شرط دا دی چي مقتدی به د خپل امام په نقل او حرکت خبريږي چي اوس هغه ولاړ دی يا رکوع يا سجدې ته ولاړ ی...

صورت د مسئلې دا دی چي که امام په کعبه کي دننه وي او دروازه خلاصه وي، نو کوم مقتديان چي له کعبې څخه دباندي په امام پسي ولاړ وي، د هغو لمونځ صحيح کيږي. همدارنګه که دروازه بنده وي، خو مقتديان دامام په نقل او حرکت خبريږي، نو په دې صورت کي هم اقتداء صحيح کيږي. معلومه سوه چي د "الباب مفتوح" قيد اتفاقي دی. (مراقي الفلاح)

په مسجد حرام کي مقتدی له امام څخه مخکي کېدل

﴿٦٨٥﴾ وَإِنْ تَحَلَّقُوْا حَوْلَهَا وَالْإِمَامُ خَارِجَهَا او که حلقه جوړه کړي (راوګرځي) مقتديان

پر کعبې شا وخوا او امام (هم له کعبې څخه) دباندې وي صَحَّ نو (اقتداء يې) صحيح کيږي إِلَّا مَنْ كَانَ أَقْرَبَ إِلَيْهَا فِيْ جِهَةِ إِمَامِهِ مګر د هغه کس (اقتداء نه صحيح کيږي) کوم چې (له خپل امام څخه) کعبې ته زيات نژدې وي د خپل امام په طرف کې.

لغات: ﴿تحلقوا﴾ د تفعل له بابه د جمع مذکر غائب ماضي معلومي صيغه ده: حلقه جوړول (څمک د حلقې په توګه شا وخوا اچاپېره اکېښتل يا درېدل). ﴿حَول﴾ د دې لفظ له معناوو څخه يوه معنی ده: شا وخوا (چاپېره)، چار طرفه.

تشريح: که امام له کعبې څخه دباندې ولاړ وي، او مقتديان چار طرفه (شا وخوا) پر کعبې راګرځېدلي وي، نو د ټولو لمونځ صحيح کيږي، ماسوا د هغه مقتدي کوم چې د امام په طرف کې د امام په نسبت کعبې ته زيات نژدې وي؛ ځکه داسې کس تر امام مخکې شمېرل کيږي. خو کوم مقتدي چې د امام نه طرف څخه بغير په بل طرف کې د امام په نسبت کعبې ته زيات نژدې وي، نو د هغه لمونځ صحيح کيږي؛ ځکه هغه حکماً د امام شاته دی: ځکه چې له امام څخه مخکې کېدل هغه وخت راځي کله چې د دوارو جهت يو وي او دلته جهت مختلف دی.

* * *

بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

(دا) باب د مسافر د لمانځه (د احکامو په بیان) کې دی

تشریح: په دې باب کې مصنف رَحِمَهُ الله د مسافر د لمانځه احکام او مسائل بیانوي.

د سفر لغوي او اصطلاحي معنیٰ: د سفر لغوي معنیٰ ده: مسافه او فاصله پرېکول. د سفر اصطلاحي معنیٰ ده: دومره تګ کول چې په هغه سره احکام بدل سي. د مثال په توګه په لمانځه کې د قصر حکم، په روژه کې د روژې ماتولو حکم، د جمعې لمونځ او د اختر لمونځ ساقطېدل. د مسحې موده تر درېو ورځو او درېو شپو پورې رسېدل. او س شرعي سفر چې په هغه سره احکام بدلېږي او سړی د شریعت په نظر کې مسافر ګرځي، هغه به په عبارت کې بیان سي.

د سفر آداب: صاحب د "انوار الایضاح" دلته د "کتاب المسائل" په حواله سره د سفر شپږ آداب لیکلي دي چې هغه په لاندي ډول دي:

① سهار وختې سفر کول مبارک دي، ② د پنجشنبې (جمعرات) په ورځ د سفر شروع کول ښه دي، ③ کله چې په سفر کې څو ملګري وي، نو ښه دا ده چې په هغوی کې یو مناسب کس د سفر امیر جوړ کړی سي، ④ د سفر لپاره له کور څخه تر وتلو مخکې دوه رکعته نفل کول سنت دي. ⑤ که څه ستونزه او خطر نه وي، نو په سفر کې خپله ښځه د ځان سره بېول سنت دي، ⑥ کله چې کار پوره سي، نو ژر تر ژره له سفر څخه واپس کېدل پکار دي، ⑦ له سفر څخه د واپس کېدلو پر موقع د خپلې کورنۍ لپاره څه تحفه وړل سنت دي، ⑧ له سفر څخه د واپس کېدلو او رسېدلو په وخت کې معانقه سنت ده، ⑨ د واپس کېدلو پر مهال اولاً مسجد ته تلل یا په خپل کور کې دوه رکعته لمونځ کول سنت دي، ⑩ د سفر په حالت کې په اذکارو، تلاوت او په دیني مشغله کې وخت تېرول پکار دي، تلك عشرة كاملة. (کتاب المسائل ص: ٥١٠)

د شرعي سفر اندازه

﴿٦٨٦﴾ اَقَلُّ سَفَرٍ تر ټولو کم سفر (یعني د سفر کمه اندازه) تَتَغَيَّرُ بِهِ الْأَحْكَامُ چې په هغه سره احکام بدلیږي مَسِيْرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ أَقْصَرِ أَيَّامِ السَّنَةِ هغه مسافه (فاصله) د درېو ورځو ده د کال له ټولو څخه د کوچنیو ورځو بِسَيْرٍ وَسَطٍ مَعَ الْإِسْتِرَاحَاتِ په مینځوي

مزل (تګ) سره د استراحتونو سره وَالْوَسَطُ او مېنځوی (میانه) مزل سَيْرُ الْإِبِلِ وَمَشْيُ الْأَقْدَامِ فِي الْبَرِّ د اوښانو مزل دی او پیاده (په پښو) مزل دی په وچه کې وَفِي الْجَبَلِ بِمَا يُنَاسِبُهُ او په غرونو کې په هغه مزل سره کوم چې ور سره مناسب وي (د غرنی علاقې سره) وَفِي الْبَحْرِ اِعْتِدَالُ الرِّيْحِ او په درياب (سمندر) کې د هوا په معتدل کېدو سره (چې هوا معتدله وي).

لغات: ﴿تتغیّر﴾ د تفعّل له بابه د واحد مؤنث غائب مضارع معلومي صیغه ده: بدلېدل، متغیر کېدل. ﴿مسیرة﴾ د ضرب له بابه مصدرِ میمي دی: تګ، تلل، مراد مسافه ده. ﴿سَیْر﴾ دا هم د ضرب د باب مصدر دی: مزل (تګ)، رفتار. ﴿أقصر﴾ د نصر له بابه اسم تفضیل دی: تر ټولو لنډی (کوچنی). ﴿استراحات﴾ جمع د اِستراحةٌ ده کوم چې د استفعال له بابه مصدر دی: آرام کول، ځان هوساینه او بیدېدنه. ﴿مشی﴾ د ضرب د باب مصدر دی. مشی الأقدام: په پښو (پیاده) تګ کول.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چې په کوم سفر سره احکام بدلېږي او په لمانځه کې قصر په ثابتېږي، له هغه څخه مراد مطلق سفر نه دی، بلکې هغه سفر مراد دی چې انسان درې ورځې د تګ اراده وکړي (یا په بله وینا: چې له خپل کوره څخه د دومره لیرې تللو په اراده ووځي چې هلته انسان په درېو ورځو کې رسېدلای شي). هغه که د اوښ په مزل (رفتار) سره وي، یا د پیاده تلونکو په مزل سره وي. او په کال کې له ټولو څخه کوچنۍ ورځ معتبره ده (لکه ژمي په میاشتو کې چې په سخت ژمي کې تر ټولو کوچنۍ ورځ راځي)، همدارنګه شپه او ورځ (۲۴ ساعته) مزل کول مراد نه دي، بلکې له سهار څخه تر زواله پورې تلل مراد دي، هغه هم په دې توګه چې په مېنځ کې د استراحاتو (یعنې د خوراک، څښاک وغیره) لپاره دومره اندازه ودرېږي څومره چې عادتاً درېږي؛ ځکه چې ۲۴ ساعته مسلسل مزل نه د انسان په وس کې دی او نه د یو سپارلۍ په طاقت کې دی، او له مزل (تګ) څخه مراد مېنځوی مزل دی او هغه په وچه کې د اوښانو او د پیاده تلونکو مزل دی.

لنډه دا چې هره ورځ له سهاره څخه تر زواله پورې چې په درېو کوچنیو ورځو کې کومه مسافه پرېکړل شي، هغه د سفر مسافه ده. د عوامو د آسانۍ لپاره د سفر مسافه د میل په اعتبار سره اته څلوېښت (۴۸) شرعي میله تاکل شوې ده چې د فرسخ په اعتبار سره شپاړس (۱۶) فرسخه کېږي. او د انګرېزي میل په اعتبار سره څلور پنځوس (۵۴) میله کېږي، ځکه انګرېزي میل تر شرعي میل کوچنی دی. په یوه ورځ کې په مېنځوي مزل سره عموماً شپاړس شرعي میله مسافه قطع کېږي، نو په درېو ورځو کې اته څلوېښت میله مسافه شوه. لهذا که یو څوک اته څلوېښت میله سفر وکړي، نو د سفر احکام به جاري کېږي. (شفاء الارواح ص: ۲۵۵، العار الهدایه ج: ۲، ص: ۲۱۵)

وفي الجبل: او په غرنۍ لاره کي د سفر کولو په صورت کي د هغه غرنۍ لاري د دريو ورځو تګ او مسافې لره اعتبار دی: ځکه په غرنۍ لاره کي پورته او کښته ځايونه راځي. يعني د غره په لاره کي بعضي ځايونه داسي وي چي هلته سړی پورته ځي او په تګ کي زيات وخت لګيږي او بعضي ځايونه داسي وي چي هلته انسان لاندي طرف ته ښوه کېدونکی ځي او تېز سي چي مسافه ژر پرېکيږي، لهذا په داسي لاره کي هغه تګ لره اعتبار دی کوم چي ور سره مناسب وي يعني چي هلته په مناسب تګ سره په دريو ورځو کي کومه مسافه پرېکړل سي. هغه د سفر مسافه ده او د سفر حکم په ثابتيږي، که څه هم په هواره ځمکه کي هغه مسافه تر دريو ورځو په کم وخت کي پرېکول کيږي.

وفي البحر: که په سمندر کي د کښتۍ (بېړۍ) د لاري سفر کوي، نو درې ورځي د کښتۍ په تګ (رفتار) سره معتبره دي، کله چي هوا معتدله وي يعني نه ډېره تېزه وي او نه درېدلې وي په داسي صورت کي چي په دريو ورځو کي کښتۍ څومره مسافه پرېکړي، هغه د سمندري لاري د سفر مسافه ده.

خلاصه دا چي په هر ځای کي هغه تګ لره اعتبار دی کوم چي د هغه ځای د حالت لائق وي.

لهذا په سمندري سفر او غرني سفر کي د وچي هواري ځمکي مزل لره اعتبار نسته. مثلاً يو ښار ته د رسېدلو لپاره دوې لاري دي: يوه د سمندر (اوبو) لاره ده او بله د وچي لاره ده. د وچي د لاري څخه سړی هغه ځای ته په دريو ورځو کي رسيږي او د سمندر د لاري څخه په دوو ورځو کي رسيږي، نو په داسي صورت کي که د وچي لاره اختيار کړي، نو هغه مسافر ګرځي او که د سمندري لاري څخه ولاړ سي، نو مسافر نه ګرځي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

د شرعي ميل، انګريزي ميل، ميټر او کيلو ميټر اندازه د لاس او ګز په اعتبار سره

څه شي؟	څومره؟ کيږي
يو شرعي ميل	څلور زره (۴۰۰۰) لاسه کيږي
يو شرعي ميل	دوه زره (۲۰۰۰) ګزه کيږي
يو شرعي ميل	تقريباً (څه د پاسه) اتلس سوه اته ويشت (۱۸۲۸،۷۹۸) ميټره کيږي
يو شرعي ميل	تقريباً (څه د پاسه) يو کيلوميټر کيږي
۴۸ شرعي ميله	تقريباً اووه اتيا (۷۸۲،۸۷) کيلو ميټره کيږي
يو کيلوميټر	زر (۱۰۰۰) ميټره کيږي
يو ميټر	له يوه ګز څخه لږ زياتيږي
يو انګريزي ميل	درې زره پنځه سوه شل (۳۵۲۰) لاسه کيږي

يو انګريزي ميل	اوولس سوه شپېته (۱۷۶۰) ګزه کېږي
۴۸ شرعي ميله	تقريباً څلور پنځوس (۵۴) انګريزي ميله کېږي

د قصر حکم

﴿۶۸۷﴾ فَيَقْصُرُ الْفَرْضَ الرُّبَاعِيَّ مَنْ نَوَى السَّفَرَ نو قصر به کوي په څلور رکعتيز فرضي لمانځه کي هغه کس کوم چي د سفر نيت کړی وي

﴿۶۸۸﴾ وَلَوْكَانَ عَاصِيًا بِسَفَرِهٖ که څه هم هغه په خپل سفر کي ګنهګاره وي (يعني د جرم لپاره سفر کونکی وي).

لغات: ﴿يقصر﴾ د نصر له بابه د واحد مذکر غائب مضارع معلومي صيغه ده، مصدر: قَصْرًا: قصر کول. د شرعي رخصت پر بناء څلور رکعتيز لمونځ دوه رکعته کول. (انوار الايضاح)

تشريح: يعني کله چي انسان د سفر په نيت سره ووځي، نو د هغه لپاره په څلور رکعتيز فرضو (يعني دماپښين، مازيګر او ماخوستن په لمنځونو) کي قصر کول يعني دوه رکعته کول واجب دي، که پوره يې وکړي، نو ګنهګاره کېږي او له څلور رکعتيز لمنځونو څخه بغير په نورو کي (يعني د سهار او ماښام په لمنځونو) کي قصر نشته، همدارنګه په سنتو کي هم قصر نشته. بعضي فقهاؤ د مسافر لپاره مؤکده سنتونه پرېښوول جائز ليکلي دي، لېکن مختار قول دا دی چي که د تلوار يا د بېړي حالت وي، نو سنت دي نه کوي او که د امن او قيام حالت وي، مثلاً پر يو منزل او پړوا باندي درېدلی وي، نو هغه دي کوي، لېکن د سهار د سنتو دي خاص خيال ساتي دي او هغه دي نه پرېږدي. (شفاء الارواح بحوالة عمدة الفقه)

د ګناه په اراده سره سفر کونکي لره هم د قصر حکم دی

وَلَوْكَانَ عَاصِيًا بِسَفَرِهٖ: يعني د سفر په وجه چي کوم د قصر کولو حکم دی، دا حکم د هر مسافر لپاره دی، برابره ده د هغه سفر د طاعت لپاره وي يعني د يو مشروع کار لپاره ځي لکه حج او عمره يا تجارت وغيره، يا د معصيت يعني د غيرِ مشروع کار لپاره ځي لکه ډاکه ماري، سېنما يا ساقي خانې ته ځي، نو د مسافر احکام د هغه لپاره هم ثابتيږي. (شفاء الارواح)

د سفر د مسافې اعتبار له کومه ځايه کېږي

﴿۶۸۹﴾ إِذَا جَاوَزَ بُيُوْتَ مَقَامِهٖ وَجَاوَزَ أَيْضًا مَا اتَّصَلَ بِهٖ مِنْ فِنَائِهٖ کله چي تېر سي د خپل ځای (استوګنې) له کورونو څخه او همدارنګه تېر سي له هغه (ځايونو) څخه کوم چي د ده د

ځای سره متصل وي يعنې د هغه فناء (اطراف) وَإِنِ انْفَصَلَ الْفِنَاءُ بِمَزْرَعَةٍ أَوْ قَدْرِ غَلْوَةٍ او که جلا (لیرې) وي فناء دیوه کښت (کېتۍ) یا دیوه غلوي په اندازه (تقریبا د څلور سوه شرعي ګزو په اندازه) لَا يُشْتَرَطُ مُجَاوَزَتُهُ نو (د قصر کولو لپاره) له هغه څخه تېرېدل شرط نه دي (بلکې صرف د خپل ځای او علاقې له کورونو او ودانیو څخه تر تېرېدلو وروسته قصر کولای شي، ځکه اوس فناء د دې ځای او علاقې سره متصل پاتې نه شوه).

لغات: ﴿جاوز﴾ د مفاعلې د باب ماضي معروفه ده: تېرېدل، (پورې وتل، اوښتل، عبور کول). ﴿اتصل﴾ د افتعال له بابه ماضي معلومه ده: متصل کېدل، جوختېدل. ﴿الفناء﴾ دیو ځای اطراف. په راروان عبارت کې به د دې تفصیلي معنیٰ ذکر شي. ﴿مزرعة﴾ کښت، کېتۍ، کرل کېدونکې ځمکه. جمع: مَزَارِعُ. ﴿غلوة﴾ له ۳۰۰ لاسو څخه تر ۴۰۰ لاسو پورې فاصله (یا له ۳۰۰ څخه تر ۴۰۰ ګامو پورې فاصله). یعنې آخر حد یې څلور سوه (۴۰۰) لاسه یعنې څلور سوه شرعي ګزه کېږي، کوم چې د اوسني ګز په اعتبار سره دوه سوه ګزه کېږي. جمع: غِلَاءٌ وغَلَوَاتٌ.

تشریح: یعنې کله چې مسافر د سفر په نیت د خپل استوګنځي له آبادۍ او د هغه له ملحقاتو څخه تېر شي، نو پر هغه د قصر حکم شروع کېږي، محض له کور څخه په وتلو هغه مسافر نه شمېرل کېږي، لهذا تر څو چې د خپل ځای په آبادۍ کې دننه روان وي، نو قصر به نه کوي.

وجاوز أيضا: یعنې که د استوګنځي فناء (یعنې په اطرافو کې چې کوم ځایونه د دې علاقې د کارو لپاره جوړ شوي وي مثلاً کارخانه، د لوبو او بازۍ میدان، هدیره او داسې نور که) متصله وي، نو د قصر کولو لپاره له هغه څخه هم بهر وتل ضروري دي.

وان انفصل الخ: یعنې که د ده د علاقې او فناء تر منځ یو کښت وي، یا د دوی په منځ کې (د اوسني ګز په اعتبار سره) دوه سوه ګزه یا تر دې زیات خالي ځای وي، نو اوس له فناء څخه بهر کېدل ضروري نه دي. او که له دې څخه کمه فاصله وي، نو هغه فناء د علاقې سره د متصل په حکم کې ده او له هغه څخه بهر کېدل شرط دي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

❀ ❀ ❀

د لویو ښارونو حکم

له لوی ښار څخه چې څوک سفر شروع کړي (یعنې داسې ښار چې د هغه آبادي تر څو میلو پورې پرته وي، لکه نن سبا چې زیاتره ښارونه همدې حد ته رسېدلي دي)، نو هغه وخت مسافر شمېرل کېږي کله چې د دې ښار له عرفي او حکومتي حدودو څخه ووځي (یعنې په عرف کې یا د حکومت له طرفه چې د دې ښار کوم حدود ټاکل شوي وي لکه نن سبا چې د ښار شروع کېدلو پر ځای بورډ یا داسې بل شی درول شوی وي چې

پر هغه نوشته سوي وي)، نو هغه مسافر شمېرل کیږي، که څه هم د ښار آبادي لا ختمه سوې نه وي. مثلاً له یو ولسوالی څخه چي انسان و بلي داسي نژدې علاقې ته د سفر په اراده ورځي چي هغه علاقه د ده له کور څخه د سفر پر مسافه (یعني ۴۸ میله لیري) واقع وي، نو هغه مسافر شمېرل کیږي که څه هم د ولسوالی آبادي هغه علاقې ته رسېدلې وي. (انوار الایضاح بتغیر بحواله فتاوی رحیمیه ص: ۳۶۳، احسن الفتاوی ج:۴، ص:۷۳)

او دا خبره هم یاد ساتئ! چي د ښار سره ملحق هوایي ډګر، یا اډه یا اسټېشن او داسي نور ټول له د ښار په حکم کي دي، لهذا له ښار څخه سفر کونکی یا ښار ته واپس راتلونکی په هغه اډه وغیره کي قصر نه سي کولای، لیکن که دا ځایونه له ښار او آبادی څخه لیري وي. لکه نن سبا چي په بعضي ښارو کي هوایي ډګر له ښار څخه ډېر لیري وي، نو بیا انسان د ښار له حدودو څخه په وتلو مسافر ګرځي او هوایي ډګر وغیره کي به قصر کوي. (انوار الایضاح شرح اردو نور الایضاح)

د ښار د فناء تعریف

﴿۶۹۰﴾ وَالْفِنَاءُ الْمَكَانُ الْمُعَدُّ لِمَصَالِحِ الْبَلَدِ او فناء هغه ځای دی کوم چي تیار سوی وي د ښار د مصلحتونو (او ضرورتونو) لپاره كَرَكْضِ الدَّوَابِّ وَدَفْنِ الْمَوْتٰى مثلاً د څارویو (آسونو) د ځغلولو او د مړو (مړګانو) د ښخولو لپاره.

لغات: ﴿الفناء﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي: ① د یو ځای اطرف. مثلاً "فناء الدار" د کور څنګ والا اطرافو څمکي ته وایي، ② د یو ځای د مینځ خالي ساحه. مثلاً "فناء الدار" د کور د مینځ خالي میدان (غولې) ته هم وایي، ③ د یو ځای مخ ته خالي ساحه، مثلاً د "فناء المسجد" معنیٰ ده: د مسجد مخ ته خالي میدان، جمع: أَفْنِيَة (معجم لغة الفقهاء)، او دلته مراد معنیٰ به په تشریح کي ذکر سي.

تشریح: د ښار د فناء اطلاق د ښار د اطرافو پر هغه ځایو کیږي چي د هغه سره د ښار ضروریات متعلق وي مثلاً صنعتي کارخانه، متصل هوایي ډګر، د آس ځغلولو یا د لوبي او بازی میدان، هدیره او داسي نور. او د ښار د فناء ساحه د ښار د لوی والي او کوچني والي په اعتبار سره مختلفه کېدلای سي. (شامي ج:۱، ص:۷۴۹، طبع: مصري، کتاب المسائل ص: ۴۲۲)

د سفر د نیت شرائط

﴿۶۹۱﴾ وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ نِيَّةِ السَّفَرِ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ او شرط دي د سفر د نیت د صحیح والي لپاره درې شیان الْإِسْتِقْلَالُ بِالْحُكْمِ په حکم کي مستقل کېدل وَالْبُلُوْغُ او بالغ کېدل وَعَدَمُ

نُقْصَانِ مُدَّةِ السَّفَرِ عَنْ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ او د سفر موده له دریو ورځو څخه نه کمېدل.

لغات: ﴿الاستقلال﴾ د استفعال د باب مصدر دی: مستقل کېدل، خود مختاره کېدل، خود مختاري.

تشریح: د سفر د نیت او ارادې د صحیح کېدو لپاره درې شیان شرط دي، که هغه موجود سي، نو د سفر نیت معتبر او صحیح دی، کنې اعتبار ورلره نسته: ① یو دا چي سفر کونکی به په خپله اراده کې مستقل او خود مختاره وي یعني د چا تابع نه وي، نو که څوک د یو چا تابع وي، د هغه نیت لره اعتبار نسته. ② سفر کونکی به بالغ وي، نو د نابالغه هلک نیت لره اعتبار نسته. ③ د سفر کونکي اراده به لږ ترلږه د دریو ورځو د سفر کولو وي، لهذا که له دریو ورځو څخه د کم سفر کولو په نیت له کور څخه ووځي، نو مسافر نه ورته ویل کیږي.

﴿۶۹۲﴾ فَلَا يَقْصُرُ مَنْ لَّمْ يُجَاوِزْ عِمْرَانَ مَقَامِهٖ نو قصر به نه کوي هغه کس کوم چي تېر سوی نه وي د خپل ځای له آبادۍ څخه.

تشریح: مخکي د شرعاً مسافر کېدو لپاره څلور شرائط ذکر سول: درې شرطونه په تېر عبارت کې ذکر سول او یو شرط مخکي په "إذا جاوز بیوت مقامه إلخ" سره ذکر سو. اوس نه دې ځایو د هغه شرائطو تفریعات بیانوي، مذکوره مسئله پر اول شرط "إذا جاوز بیوت مقامه إلخ" باندي تفریع ده، نو ترڅو چي انسان د خپل استوګنځي له آبادیو (کورونو) او د هغه له محلقاتو څخه تېر نه سي. تر هغه وخته پوري نه مسافر کیږي او د هغه لپاره د قصر حکم نه ثابتیږي.

﴿۶۹۳﴾ أَوْ جَاوَزَ وَكَانَ صَبِيًّا یا تېر سوی وي (د خپل ځای له آبادۍ څخه) او هغه بچی وي.

تشریح: دا عبارت پر درېیم شرط "البلوغ" باندي متفرع دی، یعني که یو څوک د خپل استوګنځي له آبادیو او ملحقاتو څخه تېر خو سي، لېکن هغه بچی او نابالغه هلک وي، نو هغه نه مسافر کیږي او که دا نابالغه هلک د سفر په دوران کې بالغ سي، نو په کوم ځای کې چي بالغ سوی وي، له هغه ځایه به د سفر د ځای مسافه ته کتل کیږي، که هغه مسافه د سفر په اندازه وي، نو دا هلک شرعاً مسافر کیږي، کنې نه کیږي. (خانیة علی الهندیة ج۱، ص۱۶۸، حلبي کبیر ص۵۴۲)

﴿۶۹۴﴾ أَوْ تَابِعًا لَمْ يَنْوِ مَتْبُوْعُهُ السَّفَرَ یا (تېر سوی وي خو) تابع وي چي نیت نه وي کړی د ده متبوع د سفر (یعني د چا چي دی تابع وي، هغه د سفر نیت نه وي کړی) كَالْمَرْأَةِ مَعَ زَوْجِهَا لکه ښځه د

خپل خاوند سره وَالْعَبْدِ مَعَ مَوْلَاهُ او غلام د خپل مالک سره وَالْجُنْدِيِّ مَعَ أَمِيْرِهٖ او پوځي د خپل امیر (مشر) سره.

تشريح: دا عبارت پر دویم شرط "الاستقلال بالحکم" باندي متفرع دی، یعني هغه کس هم مسافر نه شمېرل کیږي کوم چي په خپله اراده کي مستقل او خود مختار نه وي، بلکي هغه په حکم کي د یو چا تابع وي مثلاً ښځه د خپل خاوند سره، یا غلام د خپل مالک سره او پولیس یا نوکر د خپل مشر سره سفر وکړي، نو دا خلک په خپل نیت سره نه مسافر کیږي، تر څو چي د دوی متبوع (یعني خاوند، مالک او مشر) د سفر نیت نه وکړي.

﴿۶۹۵﴾ أَوْ نَاوِيًا دُوْنَ الثَّلَاثَةِ یا له دریو ورځو څخه د کم نیت کونکی وي.

تشريح: د دې عبارت تعلق د څلورم شرط سره دی، یعني چي د سفر موده به له دریو ورځو څخه کمه نه وي، لهذا که د سفر موده له دریو ورځو څخه کمه وي، نو هغه مسافر نه شمېرل کیږي.

﴿۶۹۶﴾ وَتُعْتَبَرُ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ وَالسَّفَرِ مِنَ الْأَصْلِ دُوْنَ التَّبَعِ او معتبر دی د اقامت او سفر کولو نیت له اصل (متبوع) څخه، نه له تابع څخه (یعني اعتبار د متبوع نیت لره دی، نه د تابع نیت لره) إِنْ عُلِمَ نِيَّةُ الْمَتْبُوْعِ که چیري د متبوع نیت (تابع ته) معلوم سي فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

تشريح: یعني کوم کس چي د یو چا تابع وي او د هغه تابعداري او پېروي پر ده لازمه وي، نو دیٚ د هغه د سفر په نیت سره مسافر کیږي او د هغه د اقامت په نیت سره مقیم کیږي: ځکه نیت د اصل یعني د متبوع معتبر دی، د تابع نیت معتبر نه دی.

إن علم إلخ: اوس ذکر سوه چي د تابع مسافر کېدل یا مقیم کېدل د متبوع پر نیت موقوف دي، لهذا کله چي تابع ته د متبوع د سفر نیت یا د اقامت نیت معلوم سي، نو د متبوع سره دا تابع هم مسافر یا مقیم کیږي، لېکن که د اصل (متبوع) نیت تابع ته معلوم نه وي، مثلاً اصل د اقامت نیت کړی وي او تابع ته د دې علم نه وي، نو تابع به قصر کوي، خو پر تابع واجب دي چي د اصل د نیت معلومولو کوښښ به کوي، لېکن د دې باوجود که تابع د هغه نیت معلوم نه کړی سي او بیا د اصل د ارادې په خلاف تابع خپل قصر کوي، نو د ده لمونځ صحیح دی.

قصر عزیمت دی که رخصت

﴿۶۹۷﴾ وَالْقَصْرُ عَزِيْمَةٌ عِنْدَنَا او قصر زموږ په نیز عزیمت (اصل حکم اصل مشروع) دی (یعني په

سفر کي د شریعت اصل حکم قصر کول دي. لکه څرنګه چې په غیر سفر کي د شریعت حکم پوره لمونځ کول دي).

لغات: ﴿عزیمةٌ﴾ د ضرب د باب مصدر دی، د رخصةٌ ضد دی، د عزیمة لغوي معنیٰ ده: پخه اراده (ټینګه اراده)، اصطلاحي معنیٰ یې ده: اصل مشروع، صاحب د تعریفات یې اصطلاحي معنیٰ داسي ذکر کړې ده: "وفي الشریعة اسم لما هو أصل المشروعات غیر متعلق بالعوارض".

تشریح: قصر عزیمت یعني اصل مشروع او اصلي فریضه ده، یا په بله وینا د سفر د لمانځه لپاره مشروع همدا دوه رکعته دي یعني په شریعت کي همدا دوه رکعته د سفر د لمانځه لپاره تاکل سوي دي. داسي نه ده چې اول څلور رکعتونه مشروع وه، بیا وروسته تخفیف پکښي وسو او دوه رکعتونه کم کړل سوه. بلکي په سفر کي د څلورو پر ځای صرف دوه رکعته فرض دي، لېکن څرنګه چې دا په ظاهره تخفیف دی، نو ځکه مجازاً رخصت ورته ویل کیږي (تفصیل به په نور الانوار کي راسي).

که مسافر څلور رکعته وکړي، نو څه حکم دی؟

﴿۶۹۸﴾ فَإِذَا أَتَمَّ الرُّبَاعِيَّةَ وَقَعَدَ الْقُعُوْدَ الْأَوَّلَ بیا که چېري (مسافر) پوره کړي څلور رکعتیز لمونځ او کښېني په اوله ناسته کي صَحَّتْ صَلٰوتُهٗ مَعَ الْكَرَاهَةِ نو صحیح کیږي د ده لمونځ د کراهت سره وَإِلَّا فَلَا تَصِحُّ کنې (یعني که نه کښېني نو) نه صحیح کیږي إِلَّا إِذَا نَوَى الْإِقَامَةَ لَمَّا قَامَ لِلثَّالِثَةِ مګر دا چې کله نیت وکړي د اقامت کله چې د دریم رکعت لپاره ولاړ سي.

تشریح: یعني که مسافر په څلور رکعتیز لمانځه کي قصر نه وکړي، بلکي پوره څلور رکعته وکړي، نو که په دویم رکعت کي یې د تشهد په اندازه ناسته کړې وي، نو د هغه لمونځ صحیح کیږي او په دې صورت کي اول دوه رکعته فرض او آخري دوه رکعته نفل شمېرل کیږي، لېکن قصداً داسي کول مکروه تحریمي دي، او که په دویم رکعت کي د تشهّد په اندازه ناسته نه وکړي، نو د هغه دا لمونځ نه صحیح کیږي او باطلیږي، لېکن که دریم رکعت ته د ولاړېدلو په وخت کي د اقامت (مقیم والي) نیت وکړي، نو لمونځ یې صحیح کیږي او دا څلور رکعتونه اوس د فرضو له طرفه اداء کیږي. (شفاء الارواح)

د قصر حکم تر کومه وخته پاتېږي؟

﴿۶۹۹﴾ وَلَا يَزَالُ يَقْصُرُ حَتّٰى يَدْخُلَ مِصْرَهٗ او مسلسل به قصر کوي (قصر به نه پرېږدي) تر

دې چې وخپل ښار ته داخل سي (يعني تر هغه وخته به قصر کوي تر څو چې خپل ښار ته داخل سي) أَوْيَنْوِيَ إِقَامَتَهٗ نِصْفَ شَهْرٍ بِبَلَدٍ أَوْقَرْيَةٍ يا (تر څو چې) نيت وکړي د نيمي مياشتي (پنځلسو ورځو) د پاتېدلو په يو ښار يا په يو کلي کي وَقَصَرَ إِنْ نَوَى أَقَلَّ مِنْهُ او قصر به کوي که له دې څخه (د کم وخت) نيت وکړي أَوْلَمْ يَنْوِ وَبَقِيَ سِنِيْنَ يا (کرد سره) نيت نه وکړي او څو کاله (همداسي) پاته سي (يعني د نيت کولو په صورت کي که څه هم څو کاله يو ځای پاته سي، نو هم به قصر کوي).

لغات: ﴿القَرْيَة﴾ قصبه، لوی کلی او علاقه کوم چې د ښار په اطرافو (صحراء) کي وي، چې هغه ته زموږ په اصطلاح کي د صحرا کلی او علاقه وايي.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چې کله سړی د سفر په نيت سره له خپل ښار يا له خپلي آبادۍ څخه ووځي، نو اوس به هغه قصر لمونځ شروع کوي او تر څو چې په سفر کي وي، قصر به مسلسل کوي، لېکن کله چې خپل ښار او علاقې ته واپس راسي، نو تر څو چې آبادۍ ته دننه داخل نه سي، تر هغه وخته پوري مسافر پاتېږي او قصر به کوي او کله چې وهغه آبادۍ ته داخل سي له کومي آبادۍ څخه پر وتلو چې يې قصر شروع کړی وي (يعني د خپل ښار او علاقې آبادۍ ته)، نو هلته مقيم کېږي او پر هغه پوره لمونځ کول لازمېږي.

أوينوي إلخ: يعني تر هغه وخته پوري به قصر لمونځ کوي، تر څو چې په يو ښار يا په يو کلي او علاقه کي د پنځلسو ورځو يا تر دې د زيات پاتېدلو (اوسېدلو) نيت نه وکړي، لهذا کله چې د پنځلسو ورځو پاتېدلو نيت وکړي، نو د سفر حکم ختمېږي او هغه مقيم ګرځي، اوس پر هغه پوره لمونځ کول لازمېږي.

وقصر إلخ: او که تر پنځلسو ورځو د کم پاتېدلو نيت وکړي، يا هيڅ نيت هم نه وکړي بلکي يو ښار ته په دې اراده سره داخل سي چې که په څلور، پنځه ورځو کي زما کار وسي، نو بېرته ځم، لېکن کار پوره نه سي، بيا يې همدا خيال وي چې څلور، پنځه ورځي يا مثلاً لس ورځي به نوري واخلي، خو بيا هم کار پوره نه سي او په دې ډول پنځلس ورځي يا تر دې زيات وخت تېر سي بلکي که کال يا څو کاله تېر سي هم، نو هم به هغه په قصر سره لمونځ کوي.

﴿۴۰۰﴾ وَلَاتَصِحُّ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ بِبَلْدَتَيْنِ لَمْ يُعَيِّنِ الْمَبِيْتَ بِأَحَدِهِمَا او نه صحيح کېږي د اقامت (پاتېدلو) داسي نيت په دوو ښارونو کي چې متعين کړی يې نه وي شپه تېرول په يوه ښار کي د دې دواړو ښارونو (يعني که په دوو ښارونو کي د پاتېدلو په وخت کي يې په يوه کي شپه تېرول متعين کړي نه

وي اچې شپه به په دې ښار کې کوم، تر هغه وخت پوره د ده داقامت نیت صحیح نه دی).

لغات: ﴿بدلتین﴾ تثنیه د بَلْدَةٌ ده: دوه ښارونه (ښار کوټي)، له دې څخه مراد دوې داسې علاقې او آبادۍ دي کوم چې یوه له بلې څخه جلا شمېرل کېږي، خو که یوه علاقه او آبادي د بلې علاقې حصه شمېرل کېږي، نو هلته دا مسئله نه جاري کېږي.

تشریح: مسئله دا ده چې که یو سړی په دوو جلا، جلا نژدې ښارونو او علاقو کې د پنځلسو ورځو د پاتېدلو نیت داسې وکړي چې د ورځې به په دې ښار کې یم او شپې به په دې بل ښار کې تېروم، نو دا بول خو داقامت نیت صحیح دی، چې په کوم ښار کې یې د شپې تېرولو اراده ده، د هغه په حساب د پنځلسو ورځو په نیت سره مقیم ګرځي او دواړه ځایونه به پوره لمونځ کوي، لېکن که په دوو جلا، جلا ښارونو کې د پنځلسو ورځو د پاتېدلو نیت داسې وکړي چې مستقل په یوه ښار کې هم پنځلس شپې نه پاتېږي، بلکې دواړه ځایونه به شپې تېروي، مثلاً یو ځای لس شپې او بل ځای پنځه شپې، نو په دې صورت کې هغه نه مقیم کېږي بلکې مسافر پاتېږي او قصر به کوي.

❀ ❀ ❀

د شپې قیام لره اعتبار دی

مسئله: که یو څوک دا نیت وکړي چې زه به پنځلس شپې دلته تېروم او د هغه اراده دا وي چې د ورځې به شا وخوا علاقو ته هم ځم، نو داسې کس شرعاً مقیم شمېرل کېږي: ځکه چې داقامت په نیت کې د شپې قیام لره اعتبار دی. (عالمګیري ج:۱، ص:۱۴۰، کتاب المسائل ص:۵۲۲)

په دښت کې د اقامت نیت کول (او د کوچیانو حکم)

﴿۵۱﴾ وَلَا فِیْ مَفَازَةٍ لِغَیْرِ أَهْلِ الْأَخْبِیَةِ او نه (صحیح کېږي داقامت نیت) په دښت کې له خېمو والا (کېږدیو والا اکرچیترا) څخه بغیر د بل چا لپاره.

لغات: ﴿مفازة﴾ دښت، بیابان، ﴿أخبیة﴾ جمع د خِبَاءٌ ده، له وړیو یا وژغنو او داسې نورو څخه جوړه سوې خېمه، أهل أخبية خېمو (کېږدیو) والا کوچیان.

تشریح: اول په دې پوهېدل پکار دي چې په کوم ځای کې داقامت او پاتېدلو نیت کول کېږي، هلته به د قیام او اوسېدلو صلاحیت وي (لکه ښار، کلی او علاقه)، لهذا په دښت او بیابان کې داقامت نیت کول صحیح او معتبر نه دي، لېکن خېمو او کېږدیو والا یعنې کوچیان کوم چې له آبادۍ څخه بهاندې په دښت او صحرا کې خېمې دروي او پکښې اوسي، نو دا خلک چې په کوم ځای کې هم اوسېږي، هلته مقیم شمېرل کېږي، ها! که دوی د خپل اوسېدلو له ځای څخه داسې ځای ته د تللو

نيت وکړي کوم چې له هغه ځايه د سفر پر مسافه وي، نو مسافر ګرځي، بيا که په هغه ځاى کې هم پنځلس ورځې يا زيات وخت د اقامت نيت وکړي، نو مقيم ګرځي، او که هغه د سفر له مسافې څخه پر کمه فاصله وي، نو مقيم پاتې کېږي.

په دار الحرب کې د اقامت نيت کول

﴿۷۰۲﴾ وَلَا لِعَسْكَرِنَا بِدَارِ الْحَرْبِ او نه (صحيح کېږي د اقامت نيت) زموږ د لښکر (مجاهدينو) لپاره په دارُ الحرب کې.

لغات: ﴿عسكر﴾ لښکر، پوځ.

تشريح: يعني که اسلامي لښکر دارُ الحرب ته داخل سي او هلته د پنځلسو ورځو د قيام او پاتېدلو نيت وکړي، نو د هغو نيت هم معتبر نه دى، ځکه د اقامت نيت په هغه ځاى کې معتبر دى چېرې چې د اقامت (پاتېدلو) صلاحيت او قدرت وي، څرنګه چې د دښمن په ځمکه کې د اقامت او اوسېدلو صلاحيت نسته، چې ممکنه ده همدا نن به دښمن غالب سي او اسلامي لښکر به شاته سي يا فتح به حاصله کړي او مخ ته به ولاړ سي، نو ځکه د پنځلسو ورځو د اقامت د نيت کولو باوجود هم حکم دا دى چې اسلامي لښکر به قصر کوي. (البحر الرائق ج: ۲، ص: ۱۴۴)

﴿۷۰۳﴾ وَلَا بِدَارِنَا فِيْ مُحَاصَرَةِ أَهْلِ الْبَغْيِ او نه (صحيح کېږي د اقامت نيت) زموږ په دار (دار الاسلام) کې په (وخت کې د) محاصره کولو د باغيانو.

لغات: ﴿محاصرة﴾ د مفاعلې د باب مصدر دى: محاصره کول. له څلورو سره طرفونو څخه نيول. چاپېره پرې راګرځېدل. ﴿اهل البغي﴾ باغيان. د امام او اسلامي حکومت له اطاعت کولو څخه وتونکي او مخالفت کونکي.

تشريح: که اسلامي لښکر په دارُ الاسلام کې له ښار څخه دباندې باغيان محاصره کړي او هلته پنځلس ورځې د پاتېدلو نيت وکړي، نو د هغو دا نيت هم معتبر نه دى. للتردد کما ذکرنا في المسئلة السابقة. نو ځکه دلته به هم اسلامي لښکر قصر کوي.

د مقيم کس د اقتداء حکم

﴿۷۰۴﴾ وَإِنِ اقْتَدٰى مُسَافِرٌ بِمُقِيْمٍ فِي الْوَقْتِ او که اقتداء وکړي مسافر په مقيم پسې په وخت کې دننه صَحَّ نو صحيح کېږي وَأَتَمَّهَا أَرْبَعًا او پوره کوي به مسافر دا لمونځ څلور

رکعته وَبَعْدَهٗ لَايَصِحُّ او تر وخت وروسته (يې اقتداء) نه صحيح کيږي وَبِعَكْسِهٖ صَحَّ فِيهِمَا او دي په برعکس صورت کي په دواړو (يعني په وخت کي دننه او تر وخت وروسته) دواړو وختونو کي صحيح کيږي.

تشريح: که يو مسافر په مقيم امام پسي اقتداء وکړي په وخت کي دننه (مثلا د ماپښين په وخت کي امام د ماپښين لمونځ ورکوي او مسافر د ماپښين په لمانځه کي اقتداء پسي وکړي)، نو هغه به د امام په اقتداء کي پوره لمونځ اداء کوي، قصر به نه کوي. او که مقيم کس په مسافر امام پسي اقتداء وکړي، نو پر دويم رکعت د امام له سلام ګرځولو څخه وروسته به مقيم خپل دوه رکعته جلا کوي او لمونځ به پوره کوي.

وبعده لايصح: او که د لمانځه وخت وتلی وي يعني امام او مقتديان د لمانځه قضاء راګرځوي (قضائي لمونځ اداء کوي)، نو په داسي صورت کي په مقيم امام پسي د مسافر اقتداء صحيح نه ده (د ماپښين. مازيګر او ماخوستن په لمنځونو کي. او د سهار او ماښام په لمانځه کي اقتداء پسي کولای سي).

وبعكسه إلخ: يعني که امام مسافر وي او اقتداء کوونکی مقيم وي، نو برابره ده وخت پاته وي او که وتلی وي، په دواړو صورتونو کي اقتداء صحيح ده (يعني په اداء او قضاء دواړو کي د مقيم اقتداء په مسافر امام پسي صحيح کيږي).

❀ ❀ ❀

مسئله: که مسافر امام په هېره څلور رکعته لمونځ وکړي، نو د مقتدیانو لمونځ باطليږي. او مسافر امام که قعدهٔ اولیٰ (اوله ناسته) کړې وي او په آخر کي سجدهٔ سهو هم وکړي، نو خپله د هغه فرض اداء کيږي. او که قعدهٔ اولیٰ يې پرې ايښې وي، نو د امام فرض هم نه اداء کيږي. (شامي ج: ۲، ص: ۶۱۲)

مسافر امام ته هدايت

﴿۵۰۵﴾ وَنُدِبَ لِلْإِمَامِ أَنْ يَقُوْلَ او مستحب دي د امام لپاره چي (تر سلام وروسته) ووايي أَتِمُّوْا صَلٰوتَكُمْ فَإِنِّيْ مُسَافِرٌ چي تاسي خپل لمونځ پوره کړئ! زه مسافر يم وَيَنْبَغِيْ أَنْ يَقُوْلَ ذٰلِكَ قَبْلَ شُرُوْعِهٖ فِي الصَّلٰوةِ او پکار ده چي ووايي دا (چي زه مسافر يم) مخکي تر شروع کولو په لمانځه.

تشريح: که امام مسافر وي، نو د هغه لپاره مستحب دي چي دواړو طرفونو ته له سلام ګرځولو څخه وروسته سمدستي خپلو مقتديانو ته [illegible] "تاسي [illegible]

یم". او زیاته غوره دا ده چې د لمانځه له شروع کولو څخه مخکې دا ووایي. او که په شروع کې یې ویلي وي، نو بیا هم تر لمانځه وروسته ویل غوره دي، د دې لپاره چې کوم خلک په هغه وخت کې موجود نه وي، هغو ته هم معلومه سي.

په مسافر امام پسې لمونځ کوونکی مقیم به په خپل پاتې لمانځه کې قرائت نه کوي

﴿۴۰۶﴾ وَلَا يَقْرَأُ الْمُقِيْمُ فِيْمَا يُتِمُّهُ بَعْدَ فَرَاغِ إِمَامِهِ الْمُسَافِرِ او قرائت به نه کوي مقیم په هغو رکعتونو کې کوم چې د خپل مسافر امام تر فارغېدلو وروسته پوره کوي فِي الْأَصَحِّ د صحیح ترین قول مطابق.

تشریح: کله چې مسافر امام سلام وګرځوي او مقیم کس د خپل پاتې دوو رکعتو لپاره ولاړ سي، نو په هغوی کې به قرائت نه کوي، نه به سورة الفاتحه "الحمد لله..." وایي او نه یو سورت. بلکې په دواړو رکعتونو کې به د سورة الفاتحه ویلو په اندازه چپ درېږي، پر همدې قول فتوی ده. (کفایت المفتي ج: ۳، ص: ۳۲۲)، وقال بعض المشائخ: يقرأ كالمسبوق. (طحطاوي على مراقى الفلاح ص: ۲۳۳)

﴿۴۰۷﴾ وَفَائِتَةُ السَّفَرِ وَالْحَضَرِ تُقْضٰى رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعًا او د سفر او غیر سفر د فوت سوی (قضائي) لمانځه قضاء به راوړل کېږي دوه رکعته او څلور رکعته وَالْمُعْتَبَرُ فِيْهِ آخِرُ الْوَقْتِ او معتبر په دې کې آخري وخت دی (یعني د لمانځه د وخت په آخر کې چې پر انسان څومره رکعته لمونځ لازم سوی وي، هغه لره اعتبار دی. که څلور لازم سوي وي، نو وروسته به هم څلور رکعته راګرځول کېږي. او که دوه لازم سوي وي، نو وروسته هم دوه لازمېږي).

تشریح: په دې عبارت کې لف و نشر مرتب دی. حاصل د عبارت دا دی چې که د سفر په حالت کې رباعي (څلور رکعتیز) لمونځ قضاء سي (مثلاً د ماپښین یا ماز یګر لمونځ قضاء سي). او په حضر کې د هغه قضاء راوړي، نو دوه رکعته به اداء کوي، او که د حضر په زمانه کې یو رباعي لمانځ قضاء سي او بیا د سفر په حالت کې د هغه قضاء راوړي، نو څلور رکعته به اداء کوي.

والمعتبر الخ: یعني د قضائي لمانځه د څلورو رکعتو یا دوو رکعتو په واجبېدلو کې آخري وخت لره اعتبار دی. مطلب دا چې که له یو چا څخه لمونځ قضاء سي، نو اوس د دې لمانځه د وخت په آخر کې که هغه مسافر وو، نو دوه رکعته به قضاء راوړي او که مقیم وو، نو څلور رکعته به قضاء راوړي، مثلاً د ماپښین په اول کې مقیم وو، بیا یې سفر شروع کړی او د وخت په آخر کې له ښار او آبادۍ څخه

ورتی، نو پر هغه د دوو رکعتو قضاء واجب ده چي د ماپښین لمونځ به دوه رکعته راګرځوي؛ ځکه په آخري وخت کي مسافر سو. (شفاء الارواح)

وطنِ اصلي کله ختميږي؟

﴿ ۷۰۸ ﴾ وَيَبْطُلُ الْوَطَنُ الْأَصْلِيُّ بِمِثْلِهِ فَقَطْ او باطليږي وطنِ اصلي فقط په خپل مثل (وطن اصلي) سره.

تشريح: که یو څوک له خپل ښار څخه کوچ او کډه وکړي او هلته د مستقل اوسېدلو اراده ختمه کړي او یو بل ځای خپل کور او وطن وګرځوي او د خپلي ښځي او بچیانو سره هلته استوګنه اختیار کړي او خپل ښار او ځای بالکل پرېږدي، نو اوس دا بل ښار د ده وطنِ اصلي سو. او اول وطنِ اصلي یې باطل سو یعني اوس هغه د ده لپاره پردی وطن سو. لهذا اوس که هغه په سفر خپل دغه اول وطن ته داخل سي، نو مقیم نه پاتیږي، بلکي قصر به کوي، مثلاً د یو سړي وطنِ اصلي کندهار دی. بیا هغه کندهار پرېښوولی، هلمند ته ولاړی او هغه یې خپل وطن جوړ کړی، بیا هغه له هلمند څخه وکندهار ته سفر وکړي، نو اوس به قصر کوي؛ ځکه ګندهار اوس د ده وپاته نه سو.

او که له وطنِ اصلي څخه د خپل اهل وعیال او د خپل کډي او سامان سره بل ښار ته ولاړ سي او هغه خپل وطن وګرځوي، لېکن په وطنِ اصلي (اول ښار) کي د ده کور او جائیداد پاته وي، نو بعضو ویلي چي بیا هم هغه وطنِ اصلي نه پاتیږي؛ ځکه چي اعتبار اهل لره دی، نه کور لره. او بعضو ویلي دي چي هغه د ده وطن باقي پاتیږي او هغه به په دې دواړو ښارونو کي پوره لمونځ کوي. خو محض په سفر کولو یا په بل ځای کي په مقیم کېدلو سره وطنِ اصلي نه باطليږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

یادونه: د وطنِ اصلي، وطنِ اقامت او وطنِ سکنیٰ تعریفونه به څه وروسته خپله په عبارت کي راسي.

وطنِ اقامت کله باطليږي؟

﴿ ۷۰۹ ﴾ وَيَبْطُلُ وَطَنُ الْإِقَامَةِ بِمِثْلِهِ وَبِالسَّفَرِ وَبِالْأَصْلِيِّ او باطليږي وطنِ اقامت په خپل مثل (وطنِ اقامت) سره او په سفر سره او په وطنِ اصلي سره.

تشريح: وطنِ اقامت په سفر کولو سره، یا بل وطن ته په تللو او اقامت کولو سره. یا وطنِ اصلي ته په واپس تللو سره باطليږي؛ ځکه په یوه وخت کي دوه وطنه وطنِ اقامت نه سي کېدلای.

له وطنِ اقامت څخه د نژدې علاقې وطرف ته سفر کول

مسئله: که یو څوک یو ځای خپل وطنِ اقامت جوړ کړي، بیا هغه یو نژدې علاقې ته ولاړ سي یعني داسي علاقه او آبادي کوم چي د سفر له مسافې څخه پر کمه مسافه واقع وي او اراده یې د واپس

کېدلو او وطنِ اقامت ته دراتللو وي، نو په دې نژدې سفر سره د هغه وطنِ اقامت نه باطليږي او هغه به دواړه ځايونه پوره لمونځ کوي. (شامي ج:۲، ص:۶۱۵، کتاب المسائل ص ۵۲۲)

د وطن اصلي تعريف

﴿۷۱۰﴾ وَالْوَطَنُ الْأَصْلِيُّ هُوَالَّذِيْ وُلِدَ فِيْهِ او وطنِ اصلي هغه وطن دی چي انسان په هغه کي پيدا سوی وي أَوْ تَزَوَّجَ يا (هغه وطن) چي واده يې (پکښې) کړی وي أَوْلَمْ يَتَزَوَّجْ وَقَصَدَ التَّعَيُّشَ لَا الْاِرْتِحَالَ عَنْهُ يا يې واده نه وي (پکښې) کړی (لېکن هلته يې) دژوند تېرلو اراده کړې وي، نه له هغه ځای څخه د کوچ کولو (کډه کولو

لغات: ﴿التعيّش﴾ د تفعّل د باب مصدر دی: ژوند تېرول، دژوندي پاتېدلو کوښښ کول.

﴿الارتحال﴾ د افتعال د باب مصدر دی: کوچېدل (کوچ کول، کډه کول)، روانېدل.

تشريح: عامو مشائخو د وطنِ اصلي درې قسمونه بيان کړي دي: ① وطنِ اصلی، ② وطنِ اقامت، ③ وطنِ سکنی.

وطنِ اصلی هغه وطن ته وايي چيري چي انسان پيدا سوی وي، همدارنګه هغه وطن هم وطنِ اصلی دی چيري چي انسان واده وکړي، که څه هم هغه خپل وطن نه وګرځوي، يا هلته د پنځلسو ورځو يا د زيات وخت اقامت نيت نه وکړي، همدا أوجه قول دی (عمدة الفقه بحوالة شفاء الارواح)، همدارنګه هغه وطن هم وطنِ اصلی دی چي هلته دژوند تېرلو قصد وکړي چي اوس به له دې ځايه نه منتقل کېږم.

❀ ❀ ❀

مسئله: که خاوند تر واده کولو وروسته ښځه په خپل کور کي مستقل پرېږدي او هلته ورځي راځي، نو د دې خاوند لپاره د ښځي وطن د وطنِ اصلي په درجه کي دی (چي داسې وطن ته وطنِ تأهل هم وايي)، لهذا هلته که هر وخت ولاړ سي، نو پوره لمونځ به کوي او تر څو چي يې د ښځي پرېښوولو اراده وي، هغه وطن باقي پاتېږي.

همدارنګه کله چي ښځه د خاوند او خسرګنی کور ته راسي او هلته استوګنه اختيار کړي، نو د پلار کور د هغې وطنِ اصلي نه پاتېږي، بلکي د خسرګنی کور د هغې وطنِ اصلي ګرځي، د دې په خلاف هغه ښځه کوم چي د خپل پلار په کور کي اوسېږي او د خاوند (خسرګنی) په کور کي يې

مستقل اقامت اختیار کړی نه وي، که هغه د څه وخت لپاره د خاوند کور ته ولاړه سي. نو تر څو چي هلته د پنځلس ورځو د پاتېدلو نیت نه وکړي، قصر به کوي؛ ځکه د پلار په کور کي د مستقل قیام په وجه د خاوند کور د هغې لپاره د وطنِ اصلي په درجه نه دی ګرځېدلی. (کتاب المسائل ص: ۵۱۷. الفتاوی التاتارخانیه ج: ۲، ص: ۵۱۰.مسئله: ۲۱۴۵، ط: مکتبه زکریا)

د وطنِ اقامت تعریف

﴿۱۱﴾ وَوَطَنُ الْإِقَامَةِ مَوْضِعٌ نَوَى الْإِقَامَةَ فِيْهِ نِصْفَ شَهْرٍ فَمَا فَوْقَهُ او وطنِ اقامت هغه ځای دی چي په هغه کي یې نیت د اقامت (پاتېدلو) کړی وي نیمه میاشته یا تر دې د پاسه (زیات وخت).

تشریح: وطنِ اقامت هغه ځای او وطن ته وایي چي په هغه کي مسافر د پنځلسو ورځو یا تر دې د زیات وخت پاتېدلو نیت کړی وي، په دې شرط چي هغه ځای د ده لپاره د وطن اصلي په حکم کي نه وي.

که څوک په یو ځای کي د پنځلسو ورځو د پاتېدلو نیت وکړي او پوره لمونځ شروع کړي، لېکن بیا د هغه اراده بدله سي او تر پنځلسو ورځو مخکي د سفر کولو نیت وکړي، نو تر څو چي هغه سفر شروع کړی نه وي، تر هغه وخته پوري مقیم پاتېږي او پوره لمونځ به کوي.

❀ ❀ ❀

د نوکرۍ او دندې د ځای حکم

مسئله: داوسني وخت د بعضي محققینو علماؤ او مفتیانو په نېز په موجوده دور کي چي کوم حضرات مستقل په یو اداره کي نوکري کوي، یا په یو ښار کي د تجارت او دندې په غرض سره مقیم وي او د هغو قصد دا وي چي له دې ځایه به له یو خاص سبب څخه بغیر بل ځای ته نه منتقل کېږي، نو دا ځای هم د هغو لپاره د وطن اصلي په درجه کي دی او دلته د پوره لمونځ کولو (اِتمام) حکم جاري کېږي(البحر الرائق ج: ۲، ص: ۱۳۹، ط: زکریا). اصلاً په دې مسئله کي د علماؤ اختلاف دی. په ځیني کتابو کي د نوکرۍ او دندې ځای د وطنِ اقامت په درجه کي شمېرل سوی دی. لېکن په دلائلِ فقهیه وو سره د دې خبري تائید کېږي چي د نوکرۍ ځای او د دندې او معاش ځای د وطنِ اصلي په حکم کي دی، او احتیاط هم په همدې قول کي دی. د تفصیل لپاره دې دا کتابونه وکتل سي: (امداد الإحکام، احسن الفتاوی، احکام السفر، کتاب المسائل)

وطن سکنیٰ

﴿۷۱۲﴾ وَلَمْ يَعْتَبِرِ الْمُحَقِّقُوْنَ وَطَنَ السُّكْنٰى او اعتبار نه دی کړی محققینو علماؤ د وطنِ سکنیٰ وَهُوَ مَا يَنْوِى الْإِقَامَةَ فِيْهِ دُوْنَ نِصْفِ شَهْرٍ او وطنِ سکنیٰ هغه وطن دی چي په هغه کي نیت د اقامت (پاتېدلو) وکړي له نیمي میاشتي څخه کم وخت.

لغات: ﴿لم يعتبر﴾ د افتعال له بابه د نفي جحد صیغه ده، مصدر: اعتبارًا: اعتبار کول، یو شي ته اهمیت او حیثیت ورکول.

تشریح: وطنَ سکنیٰ هغه ځای او وطن ته وایي چي هلته انسان له پنځلسو ورځو څخه د کم وخت پاتېدلو نیت کړی وي (په دې شرط چي هغه ده د وطنِ اصلي په حکم کي نه وي). محققینو د وطنِ سکنیٰ اعتبار نه دی کړی، یعني د هغه په وجه نه مسافر مقیم کیږي او نه مقیم مسافر کیږي، بلکي محققینو وطن صرف پر دوو تقسیم کړی دی (یعني وطنِ اصلي او وطنِ اقامت)؛ ځکه په وطنِ سکنیٰ کي اقامت نه ثابتیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

* * *

بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيْضِ

(دا) باب د ناروغه کس د لمانځه (په بيان کي) دی

تشریح: د مسافر او مریض لپاره په ډېرو احکامو کي تخفيف هم سته او اسقاط هم سته. نو ځکه له "باب صلاة المسافر" څخه وروسته يې د مریض د لمانځه احکام بيان کړي دي.

کوم مریض په ناسته لمونځ کولای سي؟

﴿۴۱۳﴾ إِذَا تَعَذَّرَ عَلَى الْمَرِيْضِ كُلُّ الْقِيَامِ کله چي ناممکنه سي پر مریض پوره ولاړه (درېدل) أَوْ تَعَسَّرَ بِوُجُوْدِ أَلَمٍ شَدِيْدٍ يا مشکله سي (ولاړه) د سخت تکليف موجودېدلو په وجه أَوْ خَافَ زِيَادَةَ الْمَرَضِ أَوْ إِبْطَاءَهُ بِهِ يا مریض وېرېږي د مرض پر زياتېدو يا د مرض پر ځنډېدو د ولاړي په سبب (چي د درېدلو په وجه به مي مرض زيات سي، يا د مرض روغتيا به ډېره وځنډېږي) صَلّٰى قَاعِدًا بِرُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ نو هغه دي په ناسته لمونځ وکړي په رکوع او سجده کولو سره.

لغات: ﴿مريض﴾ ناروغ، ناجوړ. ﴿تعذّر﴾ د تفعّل د باب ماضي ده، د دې باب دوې معناوي نقل سوي دي: ① مشکل کېدل. ② ناممکن کېدل. دلته همدا دويمه معنیٰ مراد ده. ﴿تعسّر﴾ دا هم د تفعّل د باب ماضي ده: سختېدل، مشکل کېدل. ﴿ألم﴾ درد، تکليف (جسماني يا روحاني). جمع: آلام.

﴿إبطاء﴾ د افعال د باب مصدر دی؛ ځنډېدل، ځنډول. (معجم الوسيط)

تشریح: ① که انسان داسي مریض وي چي د هغه لپاره له ګري درېدل هم مشکل وي. ② يا د سخت درد او تکليف په وجه د انسان لپاره درېدل مشکل وي. ③ يا اوس خو درېدلای سي. لېکن له هغه شخصه د مرض زياتېدلو غالب ګومان وي. ④ يا مریض ته دا بېره وي چي که په ولاړي لمونځ کوم، نو صحت او روغتيا به وځنډېږي (ډېر وخت به په کښېوځي).

نو په دې څلور سره صورتونو کي هغه ته پکار دي چي قيام (ولاړه) پرېږدي او په ناسته په رکوع او سجده سره لمونځ اداء کړي، نه په اشاره سره.

﴿۴۱۴﴾ وَيَقْعُدُ كَيْفَ شَاءَ فِي الْأَصَحِّ او کښېني دي څرنګه چې د ده خوښه وي، د صحیح ترین قول مطابق (یعني اصح قول دا دی چې څه ډول د ده خوښه وي. هغسې دي کښېني).

تشریح: د اصح قول مطابق د ناستي په کیفیت کي پر مریض وغیره هیڅ پابندي نشته. څرنګه چې یې خوښه وي، هغسې دي په لمانځه کي کښېني، برابره ده د التحیات پر هیئت کښېني او که چار زانو کښېني، خو اولیٰ دا ده چې که زیات تکلیف نه وي، نو د التحیات پر هیئت دي کښېني. (در مختار مع الشامي ج: ۲، ص: ۲۹۵)

که څوک لږ وخت پر دربدلو قدرت لري، نو څه حکم دی؟

﴿۴۱۵﴾ وَإِلَّا قَامَ بِقَدْرِ مَا يُمْكِنُهُ کنې (که پوره ولاړه مشکله وي. نو) ودي دربږي څومره چې ده لره ممکنه وي (یعني څومره وخت چې ده په قدرت کي وي).

تشریح: که یو څوک په قیام باندي قادر خو وي، لېکن زیات ګړی نه سي درېدلای. نو پر هغه لازم دي چې څومره ګړی قدرت لري، هغومره دي په ولاړه لمونځ وکړي. بیا دي په ناسته لمونځ پوره کړي، حتیٰ که صرف د الله اکبر ویلو په اندازه د ولاړي قدرت لري، نو تکبیر دي په ولاړه ووایي. همدارنګه که څوک پر یو شي باندي په تکیه کولو سره پر ولاړي قدرت لري مثلاً پر دېوال، لکړه یا د یو خادم په مرسته او تکیه سره په ولاړي لمونځ کولای سي، نو د داسي کس لپاره په ولاړه لمونځ کول لازم دي، په ناسته د هغه لمونځ نه اداء کېږي. (انوار الایضاح بحوالۀ در مختار مع الشامي ج: ۲، ص: ۲۹۵ ط: بیروت)

﴿۴۱۶﴾ وَإِنْ تَعَذَّرَ الرُّكُوعُ وَالسُّجُودُ او که ناممکنه سي رکوع او سجده کول صَلّٰى قَاعِدً بِالْإِيمَاءِ نو هغه دي په ناسته په اشاره کولو سره لمونځ وکړي.

﴿۴۱۷﴾ وَجَعَلَ إِيمَاءَهُ لِلسُّجُودِ أَخْفَضَ مِنْ إِيمَائِهِ لِلرُّكُوعِ او ودي ګرځوي خپل اشاره د سجدې لپاره زیاته ټیټه (کښته) له خپل اشارې څخه د رکوع لپاره (یعني د سجدې لپاره دي د رکوع د اشارې په نسبت ټیټه اشاره کوې) فَإِنْ لَمْ يَخْفِضْهُ عَنْهُ او که ټیټه (کښته) نه کړي د سجدې اشاره د رکوع له اشارې څخه لَا يَصِحُّ نو (لمونځ) نه صحیح کېږي.

لغات: ﴿ایماء﴾ د افعال د باب مصدر دی، اشاره کول، ﴿أخفض﴾ د ضرب له بابه اسم تفضیل دی؛ زیات ټیټ، کښته.

تشريح: کوم څوک چي په قيام باندي خو قادر وي، لېکن له رکوع او سجده کولو څخه عاجزه وي، يا په قيام، رکوع او سجود يوه باندي هم قدرت نه لري، لېکن پر ناستي قدرت لري، نو هغه دي په ناسته په اشاره سره لمونځ وکړي او د اشارې حقيقت سر کږول دي.

په اشاره سره لمونځ کونکي به رکوع او سجده څنګه کوي؟

وجعل ايمائهٗ للسجود الخ: فرمايي چي د سجدې اشاره دي له رکوع څخه زياته کښته (ټيټه) کوي، يعني د رکوع لپاره دي لږ کږېږي او په سجده کي دي تر هغه زيات کږېږي چي سجده له رکوع څخه بېله سي، لهذا که د رکوع او سجدې دواړو لپاره برابره اشاره کوي، نو لمونځ يې نه صحيح کېږي. (شفاء الارواح)

❀ ❀ ❀

مسئله: کوم څوک چي په رکوع او سجده باندي قادر نه وي، نو د هغه لپاره په ناستي پر بالښت، مېز وغيره باندي د سجده کولو ضرورت نسته (صرف اشاره دي کوي)، بيا هم که پر دې شيانو باندي سجده وکړي نو په حاصل کي په سر کږولو سره سجده اداء کېږي (يعني ګواکي هغه په اشاره سره سجده اداء کړه). (حلبي کبير ص: ۲۶۲ بحوالهٔ کتاب المسائل)

مخ ته يو شی را پورته کول او سجده باندي کول

﴿۴۱۸﴾ وَلَايَرْفَعُ لِوَجْهِهٖ شَيْءٌ يَسْجُدُ عَلَيْهِ او نه دي پورته کوي د خپل مخ وطرف ته يو شی چي پر هغه سجده وکړي فَإِنْ فَعَلَ وَخَفَضَ رَأْسَهٗ نو که داسي وکړي او خپل سر (د سجدې لپاره) ټيټ کړي صَحَّ نو صحيح کېږي وَإِلَّا لَا کنې نه (صحيح کېږي).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د سجدې لپاره بالښت، يا خښته يا تخته يا داسي بل شی را پورته کول او د تندي سره لګول صحيح نه دي، لهذا که يو مريض بالښت را پورته کړي او د تندي سره يې ولګوي، نو له دوو حالو څخه به خالي نه وي: يا خو هغه به د رکوع او سجدې لپاره خپل سر هم کوږ کړی وي يا به نه وي، که سر يې هم کوږ کړی وي، نو لمونځ يې صحيح کېږي او هغه په اشاره سره سجده اداء کونکی شمېرل کېږي، لېکن دا بد فعل دی، او که بالښت را پورته کړي او پر تندي يې ولګوي او سر بالکل ټيټ نه سي، نو په دې سره سجده او رکوع نه اداء کېږي، لهذا د هغه لمونځ نه صحيح کېږي. (شفاء الارواح)

له ناستي څخه عاجز کس به څنګه لمونځ کوي؟

﴿۷۱۹﴾ وَإِنْ تَعَسَّرَ الْقُعُوْدُ او که مشکله سي ناسته (یعني په ناستي هم لمونځ نه سي کولای) أَوْمَأَ مُسْتَلْقِيًا أَوْعَلَى جَنْبِهٖ نو اشاره دي کوي په پروتي سره ستوني ستخ یا پر خپل بغل وَالْأَوَّلُ أَوْلَى او اول (ستوني ستخ پروته) غوره ده وَيَجْعَلُ تَحْتَ رَأْسِهٖ وِسَادَةً او اږدي به تر خپل سر لاندي بالښت لِيَصِيْرَ وَجْهُهٗ إِلَى الْقِبْلَةِ لَا السَّمَاءِ د دې لپاره چي وګرځي د ده مخ د قبلې وطرف ته، نه د آسمان وطرف ته وَيَنْبَغِيْ نَصْبُ رُكْبَتَيْهِ إِنْ قَدَرَ او مناسب دي د خپلو زنګنو درول که یې قدرت (طاقت) وي حَتّٰى لَا يَمُدُّهُمَا إِلَى الْقِبْلَةِ د دې لپاره چي نه وغځوي زنګونان (پښې) د قبلې وطرف ته.

لغات: ﴿مستلقيًا﴾ د استفعال له بابه اسم فاعل دی، مصدر: اِسْتِلْقَاء: ستوني ستخ پرېوتل. ﴿جنب﴾ اړخ، څنګ، بغل. ﴿وِسادة﴾ بالښت، یا د بالښت په توګه تر سر لاندي کونکی بل شی. جمع: وِسَادَات. ﴿نصب﴾ د ضرب د باب مصدر دی: درول، جګول. ﴿رکبتیه﴾ تثنیه د رُكْبَةٌ ده: زنګون (څنګون). ﴿یمدّ﴾ د نصر له بابه مضارع ده: غوړول (غځول).

تشریح: د عبارت حاصل دا دی چي که مریض یا معذوره کس پر ناستي هم قدرت نه لري. نو په پروته یا پر بغل دي په اشاره لمونځ وکړي، په پورته د لمونځ کولو صورت دا دی چي ستوني ستخ پرېوځي او خپل دواړي پښې د قبلې وطرف ته کړي. زموږ په هیواد (افغانستان) کي قبله د مغرب وطرف ته ده نو د دې مریض سر به د مشرق وطرف ته وي او پښې به یې د مغرب وطرف ته وي. او پر بغل د پرېوتلو صورت دا دی چي د شمال وطرف ته سر کړي په راسته اړخ باندي پرېوځي. یا د جنوب و طرف ته سر کړي په چپه اړخ باندي پرېوځي، لېکن ستوني ستخ پرېوتل اولیٰ او افضل دي، او د هغه تر سر لاندي دي یو بالښت کېښېږدي، د دې لپاره چي مخ یې د قبلې وطرف ته سي. نه د آسمان وطرف ته او د دې لپاره چي د رکوع او سجدې لپاره اشاره کول هم ممکن سي؛ ځکه بغیر له بالښت څخه روغ سړی هم اشاره نه سي کولای مریض خو پرېږده!!!. او که څه قدرت لري. نو دواړه زنګونان دي هم ودروي. د دې لپاره چي پښې یې د قبلې وطرف ته رانه سي؛ ځکه دا فعل بې له ضرورته مکروه تنزیهي دی او که قدرت یې نه وي، نو پښې دي وغوړوي. (شفاء الارواح)

﴿۲۰﴾ وَإِنْ تَعَذَّرَ الْإِيْمَاءُ او كه ناممكنه سي (يامشكله سي) اشاره كول (يعني په اشاره هم لمونځ ب سي كولاى) أُخِّرَتْ عَنْهُ مَا دَامَ يَفْهَمُ الْخِطَابَ نو له ده څخه به لمونځ مؤخر كيږي (يعني نه ده څخه لمانځه فرضيت ساقطيږي) تر دې چې هغه په خبره (الهي خطاب) پوه سي قَالَ فِي الْهِدَايَةِ: هُوَ الصَّحِيْحُ په هدايه كي يې ويلي دي: همدا صحيح ده وَجَزَمَ صَاحِبُ الْهِدَايَةِ فِي "التَّجْنِيْسِ وَالْمَزِيْدِ" بِسُقُوْطِ الْقَضَاءِ إِذَا دَامَ عَجْزُهُ عَنِ الْإِيْمَاءِ أَكْثَرَ مِنْ خَمْسِ صَلَوَاتٍ او قطعي فيصله يې كړې ده (ټينګه ريا يې كړې ده) صاحب د هدايې (په خپل كتاب) "التجنيس والمزيد" كي د قضاء د ساقطيدلو (لمونځ معاف كيدلو) كله چي باقي پاته سي دا نسان عاجزه كيدل له اشاره كولو څخه تر پنځو لمنځونو زيات وَإِنْ كَانَ يَفْهَمُ الْخِطَابَ كه څه هم هغه په خبره پوهيږي وَصَحَّحَهُ قَاضِيْخَان او قاضي خان همدا صحيح بللي دي وَمِثْلُهُ فِي الْمُحِيْطِ او همداسي په محيط كي (ذكر سوي) دي وَاخْتَارَهُ شَيْخُ الْإِسْلَامِ وَفَخْرُ الْإِسْلَامِ او شيخ الاسلام او فخر الاسلام همدا اختيار كړي (خوښ كړي) دي وَقَالَ فِي الظَّهِيْرِيَّةِ: هُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى او په ظهيريه كي يې ويلي دي: همدا ظاهر روايت دی او پر همدې فتوىٰ ده وَفِي الْخُلَاصَةِ: هُوَ الْمُخْتَارُ او په خلاصه كي (ذكر سوي) دي: همدا مختار قول دی وَصَحَّحَهُ فِي الْيَنَابِيْعِ وَالْبَدَائِعِ او په ينابيع او بدائع كي يې همدا صحيح بللي دي وَجَزَمَ بِهِ الْوَلْوَالِجِيُّ او پر همدې قطعي فيصله كړې ده ولوالجي رَحِمَهُمُ اللهُ الله تعالىٰ دي پر دوی (ټولو) رحم وكړي.

لغات: ﴿ما دام﴾ له افعالِ ناقصه وو څخه دی، د خپل ما بعد والا فعل يا حكم تر بقاء پوري د ما قبل فعل پر نفي يا اثبات باندي دلالت كوي، لكه: لاأجلسُ مادمتَ قائمًا، زه نه كښېنم تر څو چي ته ولاړ يې. ﴿الخطاب﴾ خبرې. ﴿جزم﴾ د ضرب د باب ماضي ده: قطعي كړ څول. قطعي فيصله كول.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي د يو چا مرض كه دومره زيات سي چي په سر باندي د اشاره كولو قدرت يې هم نه وي، خو عقل او پوهه يې پر ځای وي چي په خبره پوهيږي، نو په هغه وخت كي له ده څخه د لمانځه فرضيت ساقطيږي او قضاء يې لازميږي، يعني په هغه وخت كي پر ده لمونځ

فرض نه پاتېږي او د سترګو يا وروځو يا زړه په اشاره سره د لمونځ کولو ضرورت نشته ؛ ځکه د دې شيانو اشارې لره اعتبار نه دی ورکول سوی او وروسته پر هغه قضاء لازم ده، برابره ده مرض له پنځو لمنځونو څخه زيات وخت پاته سوی وي او که کم وخت پاته سوی وي (په هر صورت کې پر دې مريض د هغه لمنځونو قضاء لازم ده).

وجزم إلخ: يعني صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله په خپل کتاب "التجنيس والمزيد" کې ليکلي دي چې که مرض دومره زيات سي چې په سر د اشاره کولو قدرت هم پاته نه سي، نو برابره ده عقل پر ځای پاته وي، که نه، که چيرې دا مرض له پنځو لمنځونو څخه زيات وخت پاته وي، نو پر دې مريض د هغه لمنځونو قضاء لازم نه ده، او که مرض يې له دې څخه کم پاته سوی وي، نو قضاء لازم ده، ځرنګه چې "التجنيس والمزيد" صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله له هدايې څخه وروسته ليکلی دی، نو ځکه علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله فرمايي چې کوم قول په "التجنيس والمزيد" کې دی، هغه لره به اعتبار وي. (شفاء الارواح)

﴿۴۲۱﴾ وَلَمْ يُؤْمِ بِعَيْنِهِ وَقَلْبِهِ وَحَاجِبِهِ او اشاره دې نه کوي په خپل سترګه او زړه او وروځي سره.

لغات: ﴿لم يؤم﴾ د افعال له بابه د جحد نفي بلم صيغه ده، مصدر: إيماء: اشاره کول، ﴿حاجب﴾ د سترګو وروځه، د سترګو د پاسه وربېښتان.

تشريح: که يو څوک په سر هم اشاره نه سي کولای، نو هغه ته به د سترګو يا د زړه يا د وروځو په اشاره سره د لمونځ کولو حکم نه ورکول کيږي ؛ ځکه د دې شيانو اشارې لره اعتبار نشته (لکه په تېر عبارت کې چې هم ذکر سوه)، لهذا د سترګو يا زړه يا وروځو په اشاره سره اداء سوی لمونځ غير معتبر دی.

که پر دربدلو قادر وي خو رکوع او سجده نه سي کولای، نو څه حکم دی؟

﴿۴۲۲﴾ وَإِنْ قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ وَعَجَزَ عَنِ الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ او که قادر وي (قدرت لري) په ولاړه باندې او عاجزه وي له رکوع او سجدې څخه صَلّٰى قَاعِدًا بِالْإِيْمَاءِ نو لمونځ دې په ناسته په اشاره سره وکړي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې که يو څوک داسې مريض وي چې په قيام (ولاړه) باندې قادر وي لېکن په رکوع او سجده کولو باندې قادر نه وي، يا صرف په سجده باندې قادر نه وي، نو د هغه لپاره په ولاړه لمونځ کول لازم نه دي، بلکې هغه دې په ناسته په اشاره سره لمونځ وکړي. همدا افضل

دي او که په ولاړه په اشاره سره لمونځ وکړي، نو بیا هم جائز دي (داسي کس پر کُرسۍ اچوکۍ) باندي په ناستي سره هم په اشاره لمونځ کولای سي). (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

که روغ کس د لمانځه په دوران کي مریض سي؟

﴿۴۲۲﴾ وَإِنْ عَرَضَ لَهٗ مَرَضٌ او که پېښ سي لمونځ گزار ته (په لمانځه کي) یو مرض يُتِمُّهَا بِمَا قَدَرَ نو پوره دي کړي لمونځ په داسي توکه چي د هغه قدرت لري (یعني په هر ډول چي د لمونځ په پوره کولو باندي قدرت لري. هغسي دي یې پوره کړي) وَلَوْ بِالْإِيْمَاءِ که څه هم په اشاره سره وي فِي الْمَشْهُوْرِ د مشهوره قول مطابق.

لغات: ﴿عرض﴾ د ضرب د باب ماضي ده: پېښېدل، مثلاً: عَرَضَ لِفُلَانٍ أَمْرٌ و عَرَضَ لَهٗ عَارِضٌ: فلانکي ته یو خبره یا یو ضرورت پېښ سو.

تشریح: یعني که جوړ او روغ کس د لمانځه څه حصه په ولاړه اداء کړي. بیا د لمانځه په دوران کي داسي مرض او عذر ورته پېښ سي چي د قیام (درېدلو) قدرت یې ختم سي او نور لمونځ په ولاړه نه سي کولای، مثلاً یو رګ یې بې ځایه سي، نو اوس پاته لمونځ چي څرنګه ممکنه وي. هغسي دي یې پوره کړي، که په رکوع او سجده کولو باندي قدرت لري، نو پاته لمونځ دي په ناستي په رکوع او سجده سره پوره کړي، او که په رکوع او سجده باندي یې هم قدرت نه وي، نو په ناستي دي په اشاره سره لمونځ پوره کړي او که پر ناستي هم قدرت نه لري، نو ستوني ستخ دي په اشاره سره لمونځ پوره کړي. (شفاء الارواح)

که په ناسته لمونځ کونکی د لمانځه په دوران کي روغ سي؟

﴿۴۲۴﴾ وَلَوْ صَلّٰى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ او که لمونځ کوي په ناستي (او) رکوع او سجده کوي (یعني که یو چا د عذر په وجه په ناستي په رکوع او سجده سره لمونځ شروع کړی وي) فَصَحَّ بیا (د لمانځه په دوران کي) روغ (جوړ) سي بَنٰى نو بناء دي وکړي (یعني هغه لمونځ دي له سره نه شروع کوي. بلکي د هغه لمانځه پاته حصه دي په ولاړه پوره کړي).

تشریح: که څوک د عذر په وجه په ناستي په رکوع او په سجده سره لمونځ کوي، بیا د لمانځه په دوران کي روغ سي او په قیام باندي قادر سي، نو داسي کس دي پاته لمونځ پر هغه مخکیني لمانځه بناء کړي یعني پورته دي سي او پاته لمونځ دي په ولاړه پوره کړي. (شفاء الارواح)

که په اشاره سره لمونځ کونکی روغ سي؟

﴿۴۲۵﴾ وَلَوْكَانَ مُؤْمِيًا او که اشاره کونکی وي (یعني په اشاره سره یې لمونځ شروع کړی وي. بیا په لمانځه کي روغ سي) لَا نو نه (سي کولای بناء. بلکي له نوي سره به لمونځ کوي).

تشریح: که څوک د عذر په وجه رکوع او سجده په اشاره سره کوي، بیا د لمانځه په دوران کي روغ سي او په رکوع او سجده کولو باندي قادر سي، نو په دې صورت کي به بناء نه کوي، بلکي له نوي سره به لمونځ کوي. (شفاء الارواح)

د لېوني او بېهوښه کس د لمنځونو حکم

﴿۴۲۶﴾ وَمَنْ جُنَّ أَوْ أُغْمِيَ عَلَيْهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ او څوک چي لېونی یا بې هوښه سي تر پنځو لمنځو پوري قَضٰي نو (د هغو) قضاء به راوړي وَلَوْأَكْثَرَ او که زیات سي (یعني که لېونتوب او بې هوښي یې د پنځو لمنځونو له وخت څخه واوړي) لَا نو نه (به یې راوړي قضاء).

لغات: ﴿جُنَّ﴾ د ضرب د باب ماضي مجهوله ده: عقل زائلېدل (عقل کار پرېښوول)، لېونی کېدل. ﴿أُغمی﴾ د افعال د باب ماضي مجهوله ده: بې هوښه کېدل (بېهوښي)، چي په هغه کي د انسان قواوي کمزوري کېږي او عقل مغلوبېږي.

تشریح: که د یو چا عقل زائل سي، لېونی سي، یا بېهوښه سي او دا د لېونتوب یا بېهوښۍ حالت پنځه لمنځونه (یعني څلور ویشت ساعته) یا تر هغه کم وخت پاته سي او بیرته جوړ سي، نو پر هغه د دې لمنځونو قضاء لازم ده، او که له پنځو لمنځونو (څلور ویشتو ساعتو) څخه زیات وخت پاته سي، نو پر هغه د دې لمنځونو قضاء نسته؛ ځکه د حرج په سبب له هغه څخه ساقط سول.

❀ ❀ ❀

که مریض د لمانځه رکعتونه او سجدې یاد نه سي ساتلای؟

مسئله: که د یو چا حافظه د ومره کمزورې سي او دې حالت ته ورسیږي چي هغه ته د رکعتونو او سجدو شمېر یاد نه وي او د بېهوښۍ غوندي کیفیت باندي طاري وي، نو پر هغه د لمانځه اداء کول لازم نه دي، خو بیا هم که په لمونځ کولو کي یو څوک د هغه سره مرسته وکړي، نو امید سته چي د هغه لمونځ به صحیح سي. (کتاب المسائل ص، ۵۴۶، در مختار مع الشامی ج، ۲، ص: ۴۹۸)

❀ ❀ ❀

فَصْلٌ فِیْ إِسْقَاطِ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ

(دا) فصل دی په (بیان د) ساقطېدلو (معاف کېدلو) کي د لمانځه او روژي

تشریح: په دې فصل کي مصنف رَحِمَهُ الله هغه مسئلې بیانول غواړي چي په هغوی کي له مکلف شخصه لمونځ او روژه ساقطیږي.

﴿۷۲۷﴾ إِذَا مَاتَ الْمَرِیْضُ کله چي مریض مړ سي وَلَمْ یَقْدِرْ عَلَی الصَّلٰوۃِ بِالْإِیْمَاءِ حال دا چي هغه قادر نه وي په اشاره سره پر لمونځ کولو (یعني په اشاره سره هم لمونځ نه سي کولای) لَایَلْزَمُهُ الْإِیْصَاءُ بِهَا نو لازم نه دي پر هغه وصیت کولو دې (قضائي) لمنځونو وَإِنْ قَلَّتْ که څه هم هغوی لږ وي وَکَذَا الصَّوْمُ إِنْ أَفْطَرَ فِیْهِ الْمُسَافِرُ وَالْمَرِیْضُ او همدارنګه روژه ده چي که یې نه ونیسي په رمضان کي مسافر او مریض وَمَاتَا قَبْلَ الْإِقَامَةِ وَالصِّحَّةِ او (بیا) دوی مړه سي له مقیم کېدلو او روغېدلو (روغتیا) څخه مخکي.

تشریح: که یو څوک دومره مریض سي چي د سر په اشاره سره هم په لمونځ کولو قدرت نه لري او په همدې مرض کي مړ سي، یا دومره مریض وي چي د روژې نیولو قدرت نه لري او په همدې حالت کي مړ سي. یا یو څوک د دومره سفر په اراده سره ووځي چي په شریعت کي د هغه لپاره د روژې نه نیولو اجازه دوي او بیا له مقیم کېدلو څخه مخکي مړ سي، نو اوس پر دې ټولو کسانو د لمانځه او روژو قضاء نه لازمیږي؛ ځکه پر دوی قضاء هغه وخت واجبیږي کله چي د مرض او سفر له ختمېدلو څخه وروسته دومره وخت ومومي چي په هغه کي قضائي لمنځونه او روژې اداء کولای سي. خو دلته حالت دا دی چي دوی ته د قضاء وخت بالکل نه دی ترلاسه سوی. نو ځکه پر دوی نه قضاء سته او نه وصیت کول باندي لازم دي. ها! که مریض روغ سي، یا مسافر مقیم سي، بیا مړه سي، نو بیا پر دوی قضاء لازمیږي. مثلاً که له روغېدو یا له مقیم کېدلو څخه وروسته دومره ورځي ژوندی پاته سي، د څومره ورځو لمنځونه او روژې چي څني قضاء سوي وي، نو د ټولو قضائي لمنځونو او روژو قضاء راوړل باندي لازمیږي. او که یو څو ورځي ژوندی پاته سي، نو د هغه ورځو یعني د روغتیا او اقامت د ورځو په اندازه د لمنځونو او روژ قضاء راوړل باندي لازمیږي. (انوار الایضاح)

﴿۴۲۸﴾ وَعَلَيْهِ الْوَصِيَّةُ بِمَا قَدَرَ عَلَيْهِ وَبَقِيَ بِذِمَّتِهِ او پر ده لازم دي وصيت کول د هغه مقدار پر کوم چي دئ قادر وي او د ده پر ذمه باقي پاته سوی وي فَيُخْرِجُ عَنْهُ وَلِيُّهُ مِنْ ثُلُثِ مَا تَرَكَ نو باسي به د ده ولي (سرپرست) د ده له طرفه د هغه مال (میراث) له درېیمي حصې څخه کوم چي ده پرې ایښی وي لِصَوْمِ كُلِّ يَوْمٍ وَلِصَلوٰةِ كُلِّ وَقْتٍ حَتَّى الْوِتْرِ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ قِيمَتَهُ دهري ورځي د روژې او د هر يوه وخت د لمانځه په بدله کي تر دې چي د وترو په بدله کي (هم) نيم صاع د غنمو يا د هغه قيمت.

لغات ﴿وصية﴾ لغوي معنیٰ يې ده: نصيحت. او په اصطلاح کي هغه کار ته ويل کېږي چي انسان يې پر خپل مرګ معلق کوي چي مثلاً زما تر مرګ وروسته داسي وکړئ! (انوار الایضاح).

﴿ولي﴾ سرپرست، مشر ميراث خور، ﴿صاع﴾ د اوسني وخت په اعتبار د پاکستاني کېلو په حساب سره يو صاع درې کېلو او ۱۴۹ ګرامه او ۲۸۰ ملي ګرامه کېږي. يا په بله وينا دا چي څه د پاسه درې کېلو (او ځيني علماؤ د آسانۍ لپاره درې کېلو ليکلي دي)، نو نيم صاع يو نيم کېلو او ۷۴ ګرامه او ۱۴۰ ملي ګرامه کېږي يعني څه د پاسه يو نيم کېلو. خو په فديه کي دي احتياطاً پاؤ کم يو کېلو يا دوه کېلو غنم ورکوي (ځکه غنم د خرما، کشمشو او نسي نورو په نسبت ډېر ارزانه پرېوځي، نو په غنمو سره د فديه ورکولو په وخت کي دي احتياطاً څه زيات وب کوي).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که يو څوک د عذر په وجه روژې نه ونيسي مثلاً مريض يا مسافر کس روژې نه ونيسي او بيا دا مريض روغ سي، يا مسافر مقيم سي او دوی دومره زمانه ومونډي چي په هغه کي د دې روژو قضاء راوړلای سي، لېکن بيا يې هم قضاء نه راوړي، نو اوس پر دوی واجب دي چي د روژو د فديې وصيت وکړي، او همدا حکم د هغه کس لپاره هم دی کوم چا چي بغير له څه عذره محض د سستۍ په وجه روژې نه وي نيولي، اميد سته چي رب تعالیٰ په خپل فضل سره د هغه فديه قبوله کړي (ايضاح الاصباح)، او فديه به د هغه ولي او وارث (ميراث خور) د هغه د ميراث له ثلث (درېيمې حصې) څخه اداء کړي او د هري روژې په عوض کي دي نيم صاع غنم يا د هغه بازاري قيمت ورکړي. همدارنګه د هر قضايي لمانځه مع الوتر په عوض کي دي نيم صاع غنم يا د هغه بازاري قيمت ورکړي. (نيم صاع د پاکستاني کېلو په حساب سره څه د پاسه يو نيم کېلو کېږي احتياطاً پاؤ کم دوه کېلو. يا احتياطاً دي دوه کېلو ورکړي چي سږ کال د روژې په مياشت کي د دوه کېلو قيمت ۱۲۰ کلداري کېږي. نو د هري روژې په عوض کي دي ۱۲۰ کلداري فديه ورکړي. او صدقة فطر لپاره هم نصف صاع کېږي چي د هغه حساب لوس بيان سو).

احقر حبيب الرحمن مدني
غفر الله له ولوالديه
۱۳/رمضان/ ۱۴۴۲ ھ

﴿۲۹﴾ وَإِنْ لَّمْ يُوْصِ او كه دهٔ وصيت نه وي كړى وَتَبَرَّعَ عَنْهُ وَلِيُّهُ او دا احسان په توګه (له ځانه) يې اداء كړي دده له طرفه دده ولي جَازَ نو جائز دي.

لغات: ﴿تبرّع﴾ د تفعّل د باب مصدر دى؛ غيرِ واجب شى اداء كول، غيرِ لازم كار كول، د احسان په توګه يو شى اداء كول، بلا عوضه يو شى وركول.

تشريح: يعني كه مړ كېدونكى كس وصيت نه وي كړي، خو وارثان (ميراث خوره) له خپل طرفه د احسان په توګه د هغه د قضائي روژو او لمنځونو فديه اداء كړي، نو جائز دي، او اُميد سته چې رب تعالىٰ په خپل فضل سره د دوى دا فديه قبوله كړي.

﴿۳۰﴾ وَلَايَصِحُّ أَنْ يَّصُوْمَ وَلَا أَنْ يُّصَلِّيَ عَنْهُ او صحيح نه ده چې روژه ونيسي او نه دا (صحيح دي) چې لمونځ وكړي د مړي له طرفه.

تشريح: يعني د ولي لپاره دا صحيح نه دي چې د خپل مړي له طرفه لمنځونه يا روژې وكړي؛ ځكه لمونځ او روژه خالص بدني عبادتونه دي چې په هغوى كي نيابت (نائب والى) جائز نه دى (يعني په هغوى كي يو څوک د بل چا له طرفه نه سي نائب كېدلاى)، لهٰذا د ميّت له طرفه د لمانځه او روژې په اداء كولو سره د ميّت له غاړي څخه هغه فرض نه ساقطيږي. (شفاء الارواح)

﴿۳۱﴾ وَإِنْ لَّمْ يَفِ مَا أَوْصٰى بِهٖ عَمَّا عَلَيْهِ او كه چيري پوره نه سي (كافي نه سي) هغه مال د كوم چې مړي وصيت كړى دى د هغو فديو له طرفه (كافي نه سي) كوم چې پر مړي واجب دي يَدْفَعُ ذٰلِكَ الْمِقْدَارَ لِلْفَقِيْرِ نو (حيله دا ده چې) ولي دي هغه مقدار (كوم چې دده سره موجود دى) فقير ته وركړي فَيَسْقُطُ عَنِ الْمَيِّتِ بِقَدْرِهٖ نو ساقطيږي له مړي څخه د هغه په اندازه فديه ثُمَّ يَهَبُهُ الْفَقِيْرُ لِلْوَلِيِّ بيا دي فقير هبه كړي هغه مال و ولي ته وَيَقْبِضُهٗ ثُمَّ يَدْفَعُهُ الْوَلِيُّ لِلْفَقِيْرِ او قبضه دي كړي (وادي خلي) ولي هغه مال بيا دي يې فقير ته وركړي وَهٰكَذَا حَتّٰى يَسْقُطَ مَا كَانَ عَلَى الْمَيِّتِ مِنْ صَلٰوةٍ وَّصِيَامٍ او همداسي دي كوي تر دې چې ساقط سي هغه لمنځونه او روژې كوم چې پر مړي واجب وه.

لغات: ﴿لم يف﴾ د ضرب له بابه د جحد صيغه ده، مصدر: وفاءً: پوره کول، پوره کېدل، کافي کېدل. ﴿أوصٰى﴾ د افعال د باب ماضي ده: وصيت کول، يو څوک خپل وصي او ځای ناستی جوړول. ﴿يَهَبُ﴾ د فتح د باب مضارع ده: هبه کول، بېله عوضه (مفت) ورکول، ﴿يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ﴾ (الشورى: ۴۹). ﴿هٰكذا﴾ له هاء "هٰ" او "كذا" څخه مرکب دی، په "كذا" کي کاف د تشبيه دی او "ذا" اسم اشاره ده په معنی سره د("مثل"، "همداسي")، او کله بيا پر دې هاء د تنبيه هم داخلېږي يعني "هكذا" لکه دلته په عبارت کي.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي که د مړي ميراث دومره نه وي چي د هغه ټوله فديه په اداء کړل سي، نو څومره مال چي د ولي سره وي، هغه دي فقير ته ورکړي، مثلاً دومره وي چي صرف د څلورو لمنځونو فديه په اداء کېدلای سي، نو دا مال چي کله ته فقير ته ورکول سي، نو د مړي له طرفه د څلورو لمنځونو فديه اداء سوه، بيا دي فقير له خپل طرفه هغه مال ولي ته هبه کړي او ولي دي پر هغه قبضه وکړي او دويم وار دي يې فقير ته ورکړي، نو د مړي له طرفه بيا د نورو څلورو لمنځونو فدايه اداء سوه، لنډه دا چي فقير او ولي دي يو بل ته داسي ورکړه راکړه جاري وساتي تر دې چي (په همدې توګه) ټوله کفاره پوره سي. (شفاء الارواح)

﴿۴۳۲﴾ وَيَجُوْزُ إِعْطَاءُ فِدْيَةِ صَلَوَاتٍ لِوَاحِدٍ جُمْلَةً او جائز دي د څو لمنځونو فديه ورکول يوه کس ته پريوه ځای بِخِلَافِ كَفَّارَةِ الْيَمِيْنِ په خلاف د قسم د کفارې وَاللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى أَعْلَمُ او الله تعالیٰ پاک دی، لوړ شان والا دی او ډېر ښه علم والا (خبردار) دی.

لغات: ﴿إعطاء﴾ د افعال د باب مصدر دی: ورکول، ﴿جملةً﴾ د دې لفظ څو معناوي نقل سوي دي: ټوله، پريوه ځای (مجتمعًا)، يقولون: اشتراه جملةً، أي مجتمعًا، غير مفرّقٍ. (معجم لغة الفقهاء)

تشريح: يعني د ټولو لمنځونو او روژو فديه يوازي يوه فقير ته پريوه ځای ورکول جائز دي (او که ټوله فديه د نصاب له مقدار څخه زياته وي، نو فديه خو اداء کېږي، لېکن داسي کول مکروه تحريمي دي)، او د قسم (يمين) د کفارې د روژو په فديه کي يوه فقير ته له يوې فديې (نصف صاع) څخه زيات نه سي ورکولای؛ ځکه د قسم په کفاره کي الله تعالیٰ د عدد صراحت کړی دی: ﴿فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِيْنَ...﴾، او همدا حکم د کفارهٔ ظهار دی چي په قرآن کي د عدد صراحت پکښي سوی دی: ﴿فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا﴾. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

* * *

بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ

(دا) باب د پاته سوو لمنځونو د قضاء (په بیان کي) دی

(یا په بله وینا "دا باب د قضائي لمنځونو د راګرځولو په بیان کي دی)

تشریح: صاحب د کتاب رَحِمَهُ الله د "قضاء المتروکات" پر ځای "قضاء الفوائت" وویل: ځکه چي د مؤمن له شان ځخه دا خبره لیري ده چي هغه قصداً لمونځ پرېږدي. کله نا کله د خوب. هېري وغیره په وجه له هغه ځخه لمونځ فوت سي.

د "**قضاء**" **تعریف**: کوم شی چي اولاً واجب سوی وي، هغه له خپل تاکلي وخت ځخه وروسته خپل مستحق ته سپارل، دي ته قضاء وایي. (انوار الایضاح)

﴿۴۳﴾ اَلتَّرْتِیْبُ بَیْنَ الْفَائِتَةِ وَالْوَقْتِیَّةِ وَبَیْنَ الْفَوَائِتِ مُسْتَحَقٌّ ترتیب په مینځ کي د فوت سوي (قضائي) لمانځه او وقتي لمانځه او (په مینځ کي) د فوت سوو (قضائي) لمنځونو لازم دی.

لغات: ﴿ترتیب﴾ د تفعیل د باب مصدر دی چي د هغه معنیٰ ده: ثابتول، هر شی د خپلي مرتبې په لحاظ سره (پر ځای) اېښوول. همدا مفهوم دلته دی چي لمنځونه د هغوی د وختونو د ترتیب په لحاظ سره اداء کول. ﴿فائتة﴾ د نصر له بابه د مؤنث اسم مفعول صیغه ده: فوت سوی لمونځ (کوم چي په خپل وخت کي نه وي اداء سوی)، یا په بله وینا: قضاء سوی لمونځ (قضائي لمونځ)، جمع: فَوَائِت. ﴿مُستحَق﴾ د استفعال له بابه مفعول دی: مستحق سوی، واجب او لازم.

تشریح: د عبارت تر حل مخکي اولاً "صاحبِ ترتیب" تعریف وپېژنئ!. صاحب ترتیب هغه کس دی چي پر هغه هیڅ قضائي لمونځ پاته نه وي، یا صرف پنځه یا تر دې کم لمنځونه د هغه پر نمه پاته وي، برابره ده هغه لمنځونه نوي (قضاء سوي) وي یا پخواني وي یا دواړه ډوله وي. لهذا که دیو کس پر نمه شپږ یا تر دې زیات قضائي لمنځونه وي، نو هغه کس صاحبِ ترتیب نه پاتېږي.

د عبارت حاصل دا دی چي د صاحبِ ترتیب کس لپاره د قضائي لمنځونو په اداء کولو کي د ترتیب خیال ساتل ضروري دي، یعني کوم لمونځ چي اول ځني قضاء سوی وي، هغه به اول راګرځوي او بیا به تر هغه وروسته والا لمونځ راګرځوي، همدارنګه د صاحبِ ترتیب لپاره دا هم ضروري ده چي اول قضائي لمنځونه اداء کړي، بیا وقتي، کنې وقتي لمونځ یې نه صحیح کېږي، دویم وار به یې کوي. په متن کي له "فوائت" ځخه مراد تر شپږو کم لمنځونه دي. لو کوم ځوک چي

صاحبِ ترتیب نه وي (یعني شپږ یا تر دې زیات لمنځونه ځني قضاء سوي وي). د هغه لپاره په ترتیب سره قضاء راوړل واجب نه دي، بلکې هغه ته اختیار دی چې هر لمونځ وغواړي، هغه دې اول راوګرځوي.

ترتیب په کومو شیانو سره ساقطیږي؟

﴿۲۴﴾ وَيَسْقُطُ بِأَحَدِ ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ او ساقطیږي ترتیب په یوه د دریو شیانو سره ضِيْقُ الْوَقْتِ الْمُسْتَحَبِّ فِي الْأَصَحِّ (۱) د (لمانځه) مستحب وخت تنګیدل، د صحیح ترین قول مطابق.

لغات: ﴿ضيق﴾ د ضرب د باب مصدر دی: تنګیدل (تنګ کېدل).

تشریح: په تېره مسئله کې ذکر سوه چې د قضائي او وقتي لمانځه په مینځ کې ترتیب واجب دی. اوس دلته هغه شیان بیانوي چې د هغوی په وجه ترتیب ساقطیږي. یعني که له دغه لاندیني دریو شیانو څخه یو شی موجود سي، نو ترتیب واجب نه پاتیږي، بلکې په داسې صورت کې به اول وقتي لمونځ کوي، بیا به تر هغه وروسته قضائي لمونځ کوي.

①... د وخت د تنګی په وجه د قضائي او وقتي لمانځه په مینځ کې ترتیب ساقطیږي. لهذا که وخت تنګ سي او د دې خبرې ډېره وي چې که د قضائي لمانځه په راګرځولو مشغوله سم، نو وخت به ووځي، نو په داسې صورت کې دې اول وقتي لمونځ وکړي او تر هغه وروسته دې قضائي لمونځ وکړي.

هسې خو د اصل وخت تنګوالي لره اعتبار دی، نه د مستحب وخت، لېکن د مازیګر په وخت کې د شیخینو (امام ابو حنیفه او امام ابو یوسف) رَحِمَهُمَا الله په نېز اصل وخت لره اعتبار دی، او د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز مستحب وخت لره اعتبار دی او مصنف رَحِمَهُ الله د امام محمد رَحِمَهُ الله قول ته اصح ویلي دي، د دغه اختلاف ثمره په هغه صورت کې ښکاره کیږي کله چې له یو چا څخه د ماپښین لمونځ قضاء سي او د مازیګر په وخت کې په یاد ورسي او وخت صرف دومره پاته وي چې که هغه اول د ماپښین قضائي لمونځ راګرځوي او بیا د مازیګر لمونځ اداء کوي، نو د مازیګر لمونځ یا د هغه څه حصه به په مکروه وخت یعني د لمر د تغیّر (سور کېدو) په وخت کې واقع سي، نو د شیخینو رَحِمَهُمَا الله په نېز پر هغه ترتیب لازم دی چې اول دې د ماپښین لمونځ را وګرځوي بیا دې د مازیګر لمونځ اداء کړي، خو د امام محمد رَحِمَهُ الله په نېز ترتیب ساقطیږي (ځکه د مازیګر لمونځ له خپل مستحب وخت څخه وځي او په مکروه وخت کې اداء کیږي)، نو ځکه اول دې د مازیګر لمونځ وکړي او بیا دې د ماپښین لمونځ را وګرځوي. دا اختلاف د یوه روایت پر بناء دی او په بل روایت کې خو د شیخینو او د امام

محمد رَحِمَهُ الله ټولو په نېز اصل وخت لره اعتبار دی او اکثرو همدې ته صحیح ویلي دي. (شفاء الارواح بحواله عمدة الفقه)

﴿۴۳۵﴾ وَالنِّسْيَانُ (۲) او هېره (چې قضائي لمونځ ځنې هېر سي).

تشریح: ②...د هیري په وجه هم ترتیب ساقطیږي چې د قضائي لمونځ ځني هېر وي، مثلاً د ماپښین د لمونځ کولو په وخت کي دا ځني هېره وي چې زما څخه د سهار لمونځ قضاء سوی دی او د ماپښین لمونځ وکړي، نو دا وقتي د ماپښین لمونځ صحیح کېږي، لېکن که د وقتي لمانځه تر سلام ګرځولو مخکي قضائي لمونځ ورته یاد سي او په وخت کي ګنجائش وي، نو پر هغه ترتیب لازمیږي او وقتي لمونځ فاسدیږي، نو اول به قضائي لمونځ راګرځوي، بیا به وقتي لمونځ کوي.

﴿۴۳۶﴾ وَإِذَا صَارَتِ الْفَوَائِتُ سِتًّا غَيْرَ الْوِتْرِ (۳) او کله چې وګرځي فوت سوي (قضائي) لمنځونه شپږ بغیر له وترو څخه (یعني په دې صورت کي هم ترتیب ساقطیږي کله چې له وترو څخه بغیر نور فرض قضاء سوي لمونځونه شپږو ته ورسیږي) فَإِنَّهُ لَا يُعَدُّ مُسْقِطًا ځکه وتر (د ترتیب) ساقطونکی نه شمېرل کیږي وَإِنْ لَزِمَ تَرْتِيبُهُ که څه هم د وترو خپل ترتیب لازم دی (چې د ماخوستن تر لمانځه وروسته کول لازم دي. مخکي کول یې جائز نه دي).

تشریح: ③...که قضاء سوي (فوت سوي) لمنځونه شپږو ته ورسیږي، نو هم ترتیب ساقطیږي، لهذا تر دې وروسته د قضائي لمنځونو او وقتي لمانځه په مینځ کي ترتیب واجب نه پاتیږي، مثلاً له یو چا څخه دیوې ورځې او شپې لمنځونه قضاء سي او په دا بله ورځ هم د سهار لمونځ ځني قضاء سي، نو اوس هغه صاحبِ ترتیب پاته نه سو، لهذا اوس د دې بلي ورځې د ماپښین وقتي لمونځ مخکي اداء کولای سي، لېکن د وترو لمونځ به په دې شپږو لمنځونو کي نه شمېرل کیږي، که څه هم د وترو او د ماخوستن د لمانځه په مینځ کي خپل ترتیب لازم دی او نه ساقطیږي چې د ماخوستن تر لمانځه وروسته او د سهار تر لمانځه مخکي به وتر اداء کول کیږي، لهذا که وتر ځني پاته سي، نو د سهار تر فرضو مخکي د هغوی اداء کول ضروري دي، که د یاد والي او د وخت د ګنجایش باوجود یې اداء نه کړي او د سهار لمونځ وکړي، نو نه صحیح کیږي. (شفاء الارواح، انوار الایضاح)

ساقط سوی ترتیب کله راګرځي؟

﴿۴۳۷﴾ وَلَمْ يَعُدِ التَّرْتِيبُ بِعَوْدِهَا إِلَى الْقِلَّةِ او ترتیب نه راګرځي په راګرځېدلو سره د قضائي لمنځونو د لږوالي و طرف ته (یعني د قضائي لمنځونو په لږېدلو سره ساقط سوی ترتیب بېرته نه لازمیږي).

لغات: ﴿لم يعد﴾ د نصر له بابه د نفي صيغه ده، مصدر: عَوْدًا، راګرځېدل، واپس كېدل، بحاله كېدل، ﴿القِلّة﴾ د ضرب له بابه اسم مصدر دی: لږوالی، لږ كېدل.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چې كله د شپږو يا د زياتو لمنځونو په وجه ترتيب ساقط سي، نو اوس په هغوی كي د بعضي لمنځونو په راګرځولو سره ترتيب بيرته نه را ګرځي، لهذا اوس چي كوم لږ لمنځونه پاته دي، د هغوی د ياد والي باوجود وقتي لمونځ كول جائز دي، مثلاً له يو چا څخه پنځلس لمنځونه قضاء سوي وي او بيا د هغوی قضاء راوړل شروع كړي، تر دې چي له پنځو څخه كم لمنځونه پاته سي، نو په دې سره هغه بيرته صاحبِ ترتيب نه ګرځي، بلكي اوس هم د دې پاته لږ لمنځونو له قضاء راوړلو څخه بغير وقتي لمونځ كول صحيح دي، همدا اصح قول دی.

او د بعضي حضراتو په نيز ترتيب راګرځي، نو د هغو په نيز په پورتني صورت كي وقتي لمونځ پر پاته قضائي لمنځونو مخكي كول صحيح نه دي او صاحب د هدايې رَحِمَهُ الله همدې قول ته اظهر ويلي دي، او احتياط په همدې كي دی چي (بيرته) ترتيب ثابت ومنل سي. (شفاء الارواح، ايضاح الاصباح)

﴿۴۳۸﴾ وَلَا بِفَوْتِ حَدِيْثَةٍ بَعْدَ سِتٍّ قَدِيْمَةٍ او نه (ترتيب راګرځي) د نوي لمانځه په فوت كېدو (قضا كېدو) سره تر شپږو پخوانيو قضائي لمنځونو وروسته (يعني چي تر پخواني شپږو قضائي لمنځونو څه موده وروسته يو بل نوی لمونځ قضاء سي، نو په هغه نوي قضائي لمانځه كي ترتيب بيرته نه راګرځي) عَلَى الْأَصَحِّ فِيْهِمَا د صحيح ترين قول مطابق په دواړو مسئلو كي.

لغات: ﴿حديثة﴾ مؤنث د حديثٌ ده: نوی، جمع: حِدَاثٌ وحُدَثَاءُ، ﴿قديمة﴾ مؤنث د قديمٌ ده: مخكينی، پخوانی، فيهما: په دې كي د تثنيه ضمير مرجع دغه مذكوره مسئله او مخكينی مسئله ده.

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي كه له يو چا څخه پخوا شپږ لمونځونه قضاء سوي وي او هغه يې تر اوسه راګرځولي نه وي او بيا څه موده وروسته يو بل لمونځ ځني قضاء سي، نو په دې صورت كي هم ترتيب نه راګرځي، مثلاً له يو كس څخه يو كال مخكي شپږ لمنځونه قضاء سوي وه كوم چي يې تر اوسه اداء كړي نه وه، اوس يو كال وروسته يو بل لمونځ مثلاً د سهار لمونځ ځني قضاء سو. نو څرنګه چي دغه كس له مخكي څخه صاحبِ ترتيب نه وو (ترتيب ځني ساقط وو)، نو ځكه په نوي قضاء سوي لمانځه كي هم ترتيب نه لازميږي چي دا د سهار لمونځ به د ماپښين تر لمانځه مخكي راګرځوي، بلكي كه د سهار د لمانځه له راګرځولو څخه بغير د ماپښين لمونځ اداء كړي، نو صحيح كيږي. (شفاء الارواح)

که صاحبِ ترتیب ته قضائي (فوت سوی) لمونځ په یاد وي، نو څه حکم دی؟

﴿۴۳۹﴾ فَلَوْصَلّٰى فَرْضًا ذَاكِرًا فَائِتَةً وَلَوْ وِتْرًا نو که اداء کړي یو فرضي لمونځ په داسې حال کې چې ورته یاد وي قضائي لمونځ که څه هم هغه (قضائي لمونځ) وتر وي فَسَدَ فَرْضُهٗ فَسَادًا مَوْقُوْفًا نو فاسدیږي د ده فرضي لمونځ په موقوف فساد سره (په موقوفه توګه فاسدیږي) فَإِنْ خَرَجَ وَقْتُ الْخَامِسَةِ مِمَّا صَلَّاهُ بَعْدَ الْمَتْرُوْكَةِ ذَاكِرًا لَهَا بیا که ووځي د پنځم لمانځه وخت له هغه لمونځونو څخه (یعني د هغه لمونځونو د پنځم لمانځه وخت ووځي) کوم چې ده اداء کړي وي له پرېښوول سوي (قضائي) لمانځه څخه وروسته په داسې حال کې چې هغه (پرېښوول سوی لمونځ) ورته یاد وي (په لنډه ورناداچې که دغه کس د متروکه (قضائي) لمانځه د یادوالي په حالت کې د پنځو وختو لمونځونه اداء کړي) صَحَّتْ جَمِيْعُهَا نو ټوله لمونځونه یې صحیح کیږي فَلَا تَبْطُلُ بِقَضَاءِ الْمَتْرُوْكَةِ بَعْدَهٗ نو نه باطلیږي (ادا کړل سوي لمونځونه) د متروکه لمانځه په قضاء راوړلو سره تر دې وروسته (یعني د پنځه لمانځه د وخت تر وتلو وروسته د متروکه (قضائي) لمونځ په قضاء راوړلو سره بیا هغوی نه باطلیږي) وَإِنْ قَضَى الْمَتْرُوْكَةَ قَبْلَ خُرُوْجِ وَقْتِ الْخَامِسَةِ او که قضاء راوړي د متروکه لمانځه مخکې تر وتلو د پنځم لمانځه د وخت (یعني که د پنځم لمانځه د وخت تر وتلو مخکې هغه قضائي لمونځ راوګرځوي) بَطَلَ وَصْفُ مَا صَلَّاهُ مُتَذَكِّرًا قَبْلَهَا نو باطلیږي د هغه لمونځونو وصف (فرضیت) کوم چې یې اداء کړي وي تر متروکه (قضائي) لمانځه مخکې د متروکه لمونځ د یادوالي په حالت کې (یعني فرض نه پاتیږي) وَصَارَ نَفْلًا او هغوی (فرضي لمونځونه) نفل ګرځي.

لغات: ﴿ذاكرًا﴾ د نصر د باب فاعل دی: یادونکی (یادلرونکی)، مصدر: ذِکْرًا او ذُکْرًا: یادول، په ذهن کې راوستل. ﴿المتروكة﴾ د نصر له بابه مفعول دی: پرېښوول سوی لمونځ.

تشریح: دا د ترتیب په واجب کېدلو باندې تفریع ده، حاصل یې دا دی چې که له یو صاحبِ ترتیب کس څخه یو لمونځ قضاء (فوت) سي که څه هم د وترو لمونځ وي، او بیا د هغه د یادوالي باوجود وقتي لمونځ وکړي، نو هغه وقتي لمونځ د فسادِ موقوف په توګه فاسدیږي، مثلاً یو صاحبِ ترتیب

کس د مازیګر لمونځ وکړي حال دا چي هغه ته یاد وي چي زما څخه د ماپښین لمونځ قضاء سوی دی او هغه مي تر اوسه نه دی کړی، نو د هغه دا د مازیګر لمونځ موقوفاً فاسدیږي.

فإن خرج إلخ: له دې ځایه د فساد موقوف (موقوفاً فاسدېدلو) مطلب ښیي چي د هغه حاصل دا دی چي داسي لمانځه ته به په قطعي توګه فاسد نه ویل کیږي، بلکي د یوه شکل په پیدا کېدو باندي د هغه د فساد او صحت حکم موقوف کیږي، تفصیل یې دا دی چي دغه کس کوم چي صاحبِ ترتیب دی او له ده څخه یو لمونځ قضاء سو، بیا ده د هغه قضائي لمانځه د یاد والي باوجود وقتي لمنځونه جاري وساتله تر دې چي پنځه لمنځونه یې وکړه، نو ځرنګه چي هغه صاحبِ ترتیب وو او د قضائي لمونځ له راګرځولو څخه بغیر یې وقتي لمنځونه وکړه، نو ځکه دا وقتي لمنځونه ټوله فاسد سوه، اوس ګواکي ټوله شپږ لمنځونه له ده څخه قضاء سوه، او کله چي قضائي لمنځونه شپږ سوه، نو په دې وجه ترتیب هم ساقط سو، او د دغه وقتي پنځو لمنځونو فساد (فاسدېدل) خو د ترتیب په وجه وو (چي ترتیب پکښي واجب وو)، حال دا چي اوس ترتیب ساقط سو، نو هغه فساد د ترتیب په ساقطېدلو سره ختم سو، نو ځکه اوس هغه پنځه وقتي لمنځونه صحیح سوه، اوس پر ده صرف یو لمونځ کوم چي حقیقتاً قضاء سوی وو پاته سو.

او که دغه صاحبِ ترتیب کس د پنځو وقتي لمنځونو د وخت له پوره کېدلو څخه مخکي هغه یو قضاء سوی لمونځ را وګرځوي، نو اوس هغه اداء کړل سوي وقتي لمنځونه فرض نه پاتیږي. بلکي نفل ګرځي او هغوی ټوله به راګرځول کیږي (قضاء به یې راوړل کیږي)، مثلاً زید صاحبِ ترتیب دی او د سهار لمونځ ځني قضاء سو او زید د هغه له راګرځولو څخه بغیر وقتي لمنځونه کوله، تر دې چي د دویمي ورځي لمر راوختلی او زید هغه قضائي (د سهار) لمونځ د یاد والي باوجود په دې موده کي نه را وګرځوی، نو هغه ټوله وقتي لمنځونه صحیح کیږي او که د دویمي ورځي د لمر راختلو څخه مخکي زید په یو وخت کي مثلاً د ماخوستن یا ماښام په وخت کي هغه قضائي لمونځ راوګرځوي، نو اوس تر دې مخکي چي څومره وقتي لمنځونه یې کړي دي، هغه ټوله نفل ګرځي، نو هغوی به هم بیرته راګرځول کیږي.

د قضائي لمنځونو نیت

﴿۴۰﴾ وَإِذَا كَثُرَتِ الْفَوَائِتُ او کله چي زیات سي فوت سي (قضائي) لمنځونه يَحْتَاجُ لِتَعْيِيْنِ كُلِّ صَلٰوةٍ نو محتاج دی د هر لمانځه و متعینولو ته (یعني په دې صورت کي د هر لمانځه و معلومولو ته احتیاج دی).

﴿۴۱﴾ فَإِنْ أَرَادَ تَسْهِيْلَ الْأَمْرِ عَلَيْهِ بیا که چیري وغواړي د دې کار آسانه کېدل پر خپل

ځان (چې دا د هر لمانځه متعینولو کار ورته آسانه سي) نَوىٰ أَوَّلَ ظُهْرٍ عَلَيْهِ أَوْ آخِرَهٗ نو نیت دي وکړي د اول هغه ماپښین د لمانځه کوم چې پر ده (واجب) دی یا تر ټولو آخري د ماپښین د لمانځه.

لغات: ﴿تسهیل﴾ د تفعیل د باب مصدر دی: کار آسانه کول.

تشریح: که قضاء سوي لمنځونه ډېر سي، نو د هغوی د قضاء راوړلو په وخت کي د وخت او ورځي تعیین ضروري دی چې د فلانکۍ ورځي فلانکی لمونځ راګرځوم، صرف دا نیت کول چې د سهار یا د ماپښین د لمانځه قضاء راوړم کافي نه دي، په داسي نیت کولو کي اشتباه ده. نو ځکه په را روان عبارت کي د دې لپاره یو آسانه طریقه بیانوي.

فإن أراد تسهیل الخ: یعني که پر یو چا د ډېر وخت لمنځونه پاته وي، نو د هغوی د نیت آسانه طریقه دا ده چې مثلاً داسي نیت وکړي چې پر ما څومره د ماپښین لمنځونه دي (یا زما څخه چې څومره د ماپښین لمنځونه قضاء سوي دي) له هغوی څخه د اول یا د آخري ماپښین قضاء راوړم، په هر قضائي لمانځه کي دي همداسي نیت کوي، نو په همدې نیت سره به د هغه لمنځونه (په ترتیب سره) اداء کیږي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح)

﴿۴۲﴾ وَكَذَا الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَيْنِ او همداسي د دوو رمضانو روژې (متعینولو ته احتیاج دی) عَلَى أَحَدِ تَصْحِيحَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ د یوې تصحیح مطابق له دوو مختلفو (بېلابېلو) تصحیح ګانو څخه (یعني له دوو مختلفو صحیح قولونو څخه د یوه صحیح قول مطابق د دوو رمضانو د روژو متعینول هم ضروري دي).

تشریح: یعني که له یو چا څخه د دوو رمضانو څه روژې قضاء سوي وي (لکه حائضه ښځه چې عموماً پر هغې د څو کلونو روژې پاته وي)، نو د هغوی د قضاء راوړلو په وخت کي هم تعیین ضروري دی چې د فلاني رمضان د روژو قضاء راوړم، دې قول ته (چې تعیین ضروري دی) علامه زیلعي رَحِمَهُ الله صحیح ویلې دې او د بعضو په نېز تعیین ته ضرورت نسته او دې قول ته په خلاصه کي صحیح ویل سوي دي، نو په دې توګه تصحیح مختلفه سوې ده. (شفاء الارواح، حاشیه)

﴿۴۳﴾ وَيُعْذَرُ مَنْ أَسْلَمَ بِدَارِ الْحَرْبِ او معذوره به ګڼل کیږي هغه کس کوم چې اسلام راوړی وي په دار الحرب کي بِجَهْلِهِ الشَّرَائِعَ (هغه په معذوره ګڼل کیږي) د خپل ناخبرۍ په وجه سره په شرعي احکامو (یعني له شرعي مسائلو څخه د ناخبرۍ په وجه به هغه معذوره شمېرل کیږي).

لغات: ﴿جهل﴾ د سمع د باب مصدر دی: ناخبره کېدل، ناواقف کېدل. ﴿شرائع﴾ جمع د شَرِيعَةٌ ده: د الهي احکامو مجموعه، اسلامي قانون.

تشریح: یعني که یو کس د کافرانو په ملک کي مسلمان سي او هلته داوسېدلو په وجه هغه ته د شرعي احکامو مثلاً د لمانځه، روژې، زکاة او داسي نورو علم او خبر نه وي، نو په دې وجه یې شرعي احکام اداء کړي نه وي، نو هغه معذوره شمېرل کېږي، تر څو چي دا کس هلته د کافرانو په ملک کي وي، د هغه ورځو د لمنځونو او روژو قضاء نه باندي لازمېږي، او که هغه په همدې حالت کي مړ سي. نو سبا د قیامت په ورځ به ان شاء الله نه مأخوذ کېږي، او دار الاسلام ته له راتګ څخه وروسته چي کوم لمنځونه او روژې ځني فوت سي، د هغوی قضاء باندي فرض ده. همدا حکم د هغه کس دی چي په داسي قبائلي او غرنی علاقه کي استوګن وي چي هلته د شرعي احکامو هیڅ ښوونکی او د زده کړې هیڅ لاره نه وي. (انوار الایضاح، شفاء الارواح بتغیر)

⁂

بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيْضَةِ

(دا) باب د فرضي لمانځه د نیولو (په بیان کي) دی

که د یوازي لمونځ کولو په وخت کي جماعت ودرېږي؟

﴿۴۴﴾ إِذَا شَرَعَ فِيْ فَرْضٍ مُنْفَرِدًا کله چي شروع وکړي په یو فرضي لمانځه باندي یوازي فَأُقِيْمَتِ الْجَمَاعَةُ بیا (په دې دوران کي) جماعت ودرول سي قَطَعَ نو (فرض) دي مات کړي (یعني هغه شروع کړی فرضي لمونځ دي پرېږدي) وَاقْتَدٰى او اقتداء دي وکړي (په امام پسې) إِنْ لَمْ يَسْجُدْ لِمَا شَرَعَ فِيْهِ (په دې شرط) که چېري یې سجده نه وي کړې د هغه لمانځه لپاره چي شروع یې په کړې ده أَوْ سَجَدَ فِيْ غَيْرِ رُبَاعِيَّةٍ یا یې سجده کړې وي په غیرِ څلور رکعتیز لمانځه کي (یعني سجده خو یې کړې وي. لېکن هغه څلور رکعتیز لمونځ نه وي).

تشریح: که یو چا یوازي (تنها) بغیر له جماعت څخه فرضي لمونځ شروع کړی وي او په همدې وخت کي هلته د همدې فرضو جماعت ودرېږي، نو اوس دا یوازي لمونځ کونکی (منفرد) به څه کوي؟ په دې باره کي فقهاؤ څو صورتونه بیان کړي دي او په دغه عبارت کي صرف دوه صورتونه بیان سوي دي، نور صورتونه به په راروانو عبارتونو کي ذکر سي۔

①... که یوازي لمونځ کونکی (منفرد) د فرضو په اول رکعت کي وي او تر اوسه یې د هغه سجده نه وي کړې چي په همدې ځای کي د همدې فرضو جماعت ودریږي یعني امام تکبیر تحریمه ووایی، نو هغه دي خپل لمونځ مات کړي (پرېږدي) او په جماعت کي دي شریک سي، برابره ده هر فرضي لمونځ وي یعني برابره ده څلور رکعتیز وي لکه د ماپښین، مازیګر او ماخوستن لمونځ، یا درې رکعتیز یا دوه رکعتیز وي لکه د ماښام او سهار لمونځ، د ټولو همدغه حکم دی.

②... او سجدة في غير رباعية: یعني دا پورتنی حکم په هغه صورت کي هم دی کله چي هغه (منفرد) د اول رکعت سجده کړې وي مثلاً په دویم رکعت کي وي او هغه څلور رکعتیز لمونځ نه وي، یعني د سهار یا ماښام لمونځ وي، نو هم دي هغه مات کړي (پرېږدي) او په جماعت کي دي شرکت وکړي. (شفاء الارواح)

﴿٥٣٥﴾ وَإِنْ سَجَدَ فِيْ رُبَاعِيَّةٍ او که سجده یې کړې وي په څلور رکعتیز لمانځه کي ضَمَّ رَكْعَةً ثَانِيَةً نو ورسره یو ځای دي کړي دویم رکعت وَ سَلَّمَ او سلام دي وګرځوي (پر دې دویم رکعت) لِتَصِيْرَ الرَّكْعَتَانِ لَهُ نَافِلَةً ددې لپاره چي وګرځي دوه رکعته د ده لپاره نفل ثُمَّ اقْتَدٰى مُفْتَرِضًا بیا دي اقتداء وکړي (په امام پسي) د فرضو د اداء کولو لپاره.

تشریح: ③... په دې عبارت کي د درېیم صورت بیان دی، درېیم صورت دا دی چي که څلور رکعتیز لمونځ وي (لکه د ماپښین، مازیګر او ماخوستن لمونځ)، او یوازي لمونځ کونکي (منفرد) د اول رکعت سجده کړې وي، نو فوراً دي لمونځ نه ماتوي بلکي دوه رکعته دي پوره کړي بیا دي سلام وګرځوي او په جماعت کي دي شریک سي، ددې لپاره چي دا دوه رکعته نفل سي او فرض په جماعت سره اداء سي، او که تر اوسه یې د اول رکعت سجده نه وي کړې، نو فوراً دي په ولاړه سلام وګرځوي (یا په بله ړنا په ولاړه دې په سلام سره لمونځ مات کړي) او په جماعت کي دي شریک سي.

﴿٥٣٦﴾ وإنْ صَلّٰى ثَلَاثًا او که اداء کړې یې وي درې رکعته (په څلور رکعتیز فرضي لمانځه کي) أَتَمَّهَا نو هغه (څلور رکعت) دي پوره کړي ثُمَّ اقْتَدٰى مُتَنَفِّلًا إِلَّا فِي الْعَصْرِ بیا دي اقتداء وکړي (په امام پسي) د نفلو په نیت سره مګر (نه) د مازیګر په لمانځه کي.

تشریح: ④... په دې عبارت کي د څلورم صورت بیان دی او هغه دا چي که په څلور رکعتیز لمانځه کي یې درې رکعته پوره کړي وي چي په همدې دوران کي جماعت ودریږي، نو اوس دي خپل لمونځ نه ماتوي، بلکي هغه دي پوره کړي او وروسته دي د نفلو په نیت د امام سره شریک سي.

خو دا صورت د مازيګر په لمانځه کي نه سي کېدلای؛ ځکه د مازيګر تر لمانځه وروسته نفل کول منع دي.

﴿۳۰﴾ وَإِنْ قَامَ لِثَالِثَةٍ فَأُقِيمَتْ قَبْلَ سُجُوْدِهٖ او که ولاړ سي د درېيم رکعت لپاره بيا جماعت ودرول سي د ده تر سجده کولو مخکي قَطَعَ قَائِمًا بِتَسْلِيْمَةٍ فِي الْأَصَحِّ نو لمونځ دي مات کړي (پرېږدي) په ولاړي په يوه سلام سره، د اصح قول مطابق (يعني په ولاړه دي په سلام ګرځولو سره لمونځ ختم کړي).

تشريح: ⑤... پنځم صورت دا دی چي که منفرد په څلور رکعتيز لمانځه کي دوه رکعته پوره کړي وي او د درېيم رکعت لپاره ولاړ سوی وي او تراوسه يې د درېيم رکعت سجده نه وي کړې چي په همدې دوران کي جماعت ودرېږي، نو حکم دا دی چي په ولاړي سلام وګرځوي (يعني په ولاړه دي په سلام سره لمونځ مات کړي) او په جماعت کي دي شريک سي.

يادونه: په مذکوره صورت کي دوېم قول دا دی چي په ولاړه دي سلام نه ګرځوي، بلکي هغه دي کښېني او په قعده (ناسته) کي دي سلام وګرځوي (يعني په ناسته دي په سلام سره لمونځ مات کړي) او په جماعت کي دي شريک سي، دا قول د شمسُ الائمه سرخسي رَحِمَهُ الله دی، او علامه فخر الاسلام رَحِمَهُ الله فرمايي چي په ولاړه دي په تکبير ويلو سره په جماعت کي شريک سي، خو اصح او مفتیٰ به قول هغه دی کوم چي په تشريح کي ذکر سو چي هغه ته مصنف رَحِمَهُ الله اصح ويلي دي. (مراقی الفلاح ص، ۲۲۴۵)

❀ ❀ ❀

که د نفلو يا سنتو په دوران کي جماعت ودرېږي، نو څه حکم دی؟

مسئله: که يو چا نفلي لمونځ يا سنت شروع کړي وي چي په همدې دوران کي لمونځ ودرېږي، نو د دې درې صورتونه دي: ① که چيري هغه تراوسه دوه رکعته نه وي پوره کړي، نو فوراً دي لمونځ نه ماتوي بلکي دوه رکعته دي پوره کړي، بيا دي سلام وګرځوي او په لمانځه کي دي شريک سي. ② او که د نفلو يا سنتو د درېيم رکعت لپاره ولاړ سوی وي او تراوسه يې د هغه سجده نه وي کړې، نو بيرته دي ناستي ته راوګرځي، سلام دي وګرځوي او په جماعت کي دي شريک سي، ③ او که د درېيم رکعت سجده يې هم کړې وي، نو بيا دي څلور سره رکعته پوره کړي او په جماعت کي دي شريک سي. (کتاب المسائل ص، ۳۸۹، در مختار مع شامي ج: ۲، ص، ۵۰۷)

که د ماپښین د سنتو په دوران کې د ماپښین لمونځ یا د جمعې خطبه شروع سي؟

﴿۳۸﴾ وَإِنْ كَانَ فِيْ سُنَّةِ الْجُمُعَةِ فَخَرَجَ الْخَطِيْبُ او که د جمعې په سنتو کي وي او (په دې دوران کي) خطیب راووځي (راسي) أَوْ فِيْ سُنَّةِ الظُّهْرِ فَأُقِيْمَتْ یا د ماپښین په سنتو کي وي او جماعت ودرول سي سَلَّمَ عَلٰى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ نو سلام دي وګرځوي پر سر د دوو رکعتونو (یعني دوه رکعته دي پوره کړي او سلام دي وګرځوي) وَهُوَ الْأَوْجَهُ او همدا زیات مُدلل دی (همدا مستند خبره ده) ثُمَّ قَضَى السُّنَّةَ بَعْدَ الْفَرْضِ بیا دي له فرضو څخه وروسته د سنتو قضاء راوړي.

تشريح: که د جمعې تر لمانځه مخکي سړی په څلورو رکعتو سنتو کي وي او په دې دوران کي خطیب راووځي یعني خطبه شروع سي، یا د ماپښین تر لمانځه مخکي په څلورو رکعتو سنتو کي وي او په دې دوران کي د ماپښین جماعت ودرېږي، نو د مصنف رَحِمَهُ الله په نېز راجح دا ده چي که سنت کونکی په اولو دوو رکعتو کي وي، نو دوه رکعته دي پوره کړي او سلام دي وګرځوي او بیا دي له فرضو څخه وروسته سنت را وګرځوي (خو که په آخري دوو رکعتو کي وي نو که د درېیم رکعت سجده یې کړې وي نو څلور سره رکعته دي پوره کړي، او که د درېیم رکعت سجده یې نه وي کړې نو د بعضي مشایخو رایه دا ده چي د ناستي و طرف ته دي را وګرځي او پر دویم رکعت دي سلام وګرځوي او په آخر کي دي سجدهٔ سهو هم وکړي)، خو د بعضو په نېز صحیح دا ده چي مطلقاً دي خپل څلور رکعته سنت په مختصره قرائت سره پوره کړي. برابره ده د جماعت درېدلو په وخت کي سنت کونکی په اولو دوو رکعتو کي وي او که په آخري دوو رکعتو کي وي، د دواړو صورتونو ګنجایش سته. د موقع مطابق چي کوم صورت مناسب وګڼي، پر هغه دي عمل وکړي. (شفاء الارواح بحوالهٔ عمدة الفقه. انوار الایضاح)

د سهار د سنتو مسئله

﴿۳۹﴾ وَمَنْ حَضَرَ وَالْإِمَامُ فِيْ صَلٰوةِ الْفَرْضِ او څوک چي حاضر سي په داسي حال کي چي امام په فرضي لمانځه کي وي اِقْتَدٰى بِهٖ نو په هغه پسي دي اقتداء وکړي وَلَا يَشْتَغِلُ عَنْهُ بِالسُّنَّةِ إِلَّا فِي الْفَجْرِ او نه دي مشغولېږي له دې (فرضي لمانځه) څخه په سنتو مګر په (سنتو د) سهار کي إِنْ أَمِنَ فَوْتَهٗ (په دې شرط) که چیري د هغه (سهار د لمانځه) له فوتېدلو څخه په امن وي (یعني

د جماعت فوتېدلو [تېرېدلو] بېره نه وي) وَإِنْ لَمْ يَأْمَنْ او كه په امن نه وي (يعني د جماعت فوتېدلو بېره وي) تَرَكَهَا نو سنت دي پرېږدي.

لغات: ﴿حضر﴾ د نصر د باب ماضي ده: حاضرېدل، راتلل، ﴿يشتغل﴾ مشغولېدل، توجه ليري كېدل، ﴿أَمِنَ﴾ د سمع د باب ماضي ده، أَمْنًا: مطمئن كېدل، بې خوفه كېدل.

تشريح: كه يو كس داسي وخت مسجد ته ورسيږي چي جماعت ولاړ وي او تر اوسه هغه كس سنت مؤكده نه وي كړي لكه د ماپښين او جمعې په لمانځه كي، نو په عبارت كي خو مطلق حكم سوی دی چي هغه دي په سنتو نه مشغوله كيږي بلكي په امام پسي دي قتداء وكړي. لېكن په دې كي څه تفصيل دی لكه په حاشيه كي چي هم ذكر دي چي كه د دې كس غالب ګومان دا وي چي ركوع ته د امام له تللو څخه مخكي زه سنت پوره كولای سم او د جماعت يو ركعت به هم را څخه تېر نه سي، نو له مسجد څخه دباندي په جلا ځای كي دي هغه وكړي، بيا دي اقتداء وكړي. او كه د ركعت تېرېدلو بېره وي، نو سنت دي نه كوي بلكي په جماعت كي دي شريک سي.

إِلَّا الفجر الخ: خو كه د سهار په لمانځه كي داسي وخت مسجد ته ورسيږي چي جماعت ولاړ وي، نو څرنګه چي د سهار سنت زيات مؤكد دي چي په ټوله سنن مؤكده وو كي په اوله درجه سره مؤكد دي، نو ځكه د سهار په سنتو كي حكم دا دی چي كه د آخري ناستي د نيولو اُميد وي چي امام به په آخره ناسته كي ونيسم، نو مخكي دي سنت له مسجد څخه بهر په يو ځای كي وكړي او كه ځای نه وي، نو په مسجد كي دننه په يو كونج او ګوښه كي دي يې وكړي (يا د كومو مسجدونو په مېنځ كي چي پايې (ستني) يعني پيلران جوړ سوي وي، هغه ته دي ودرېږي او سنت دي پوره كړي)، او كه د آخري ناستي (تشهد) د نيولو اُميد نه وي، نو سنت دي پرېږدي او په جماعت كي دي شريک سي. (شفاء الارواح)

د سهار د سنتو قضاء

﴿۵۰﴾ وَلَمْ تُقْضَ سُنَّةُ الْفَجْرِ إِلَّا بِفَوْتِهَا مَعَ الْفَرْضِ او قضاء به نه راوړل كيږي د سهار د سنتو مګر د فرضو سره د هغوی د فوتېدلو په صورت كي (يعني كله چي فرض او سنت دواړه فوت [قضاء] سي. نو بيا د سنتو قضاء راوړل كېدلای سي).

لغات: ﴿لم تقض﴾ د ضرب له بابه د جحد صيغه ده، مصدر: القضاءَ: اداء كول، د لمانځه قضاء راوړل (له وخت تېرېدلو څخه وروسته راګرځول).

تشريح: د سهار سنت که د فرضو سره قضاء سي، نو تر زوال مخکي د فرضو سره يو ځاى د سنتو راګرځول هم پکار دي او که تر زوال وروسته يې راګرځوي، نو صرف فرض دي وکړي. او که صرف سنت پاته سوي وي، نو د سنتو قضاء نسته، خو په همدې ورځ د اشراق له وخت څخه بيا د زوال تر وخته پوري د هغه سنتو اداء کول ښه دي. (در مختار مع الشامي ج:۱، ص: ۶۷۲)

د ماپښين د سنتو قضاء

﴿١٥٢﴾ وَقَضَى السُّنَّةَ الَّتِيْ قَبْلَ الظُّهْرِ فِيْ وَقْتِهٖ قَبْلَ شَفْعِهٖ او قضاء دي راوړي د هغه سنتو کوم چي د ماپښين تر لمانځه مخکي دي د ماپښين په وخت کي د ماپښين تر دوه رکعته سنتو مخکي.

لغات: ﴿شفع﴾ جوړه، دوه، هغه شمېر کوم چي پر دوو برابر تقسيم سي، دلته څني مراد د ماپښين تر فرضو وروسته دوه رکعته سنت دي.

تشريح: که د ماپښين تر لمانځه مخکي څلور رکعته سنت نه وکړل سي، نو د ماپښين تر لمانځه وروسته دي هغه راوګرځوي، اوس به هغه د ماپښين تر دوه رکعته سنتو مخکي راګرځوي او که وروسته. نو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله مسلک دا دی چي اول دي دوه رکعته سنت وکړي، بيا دي هغه څلور رکعته سنت راوګرځوي، او امام محمد رَحِمَهُ الله فرمايي چي اول دي څلور رکعته سنت راوګرځوي بيا دي دوه رکعته سنت اداء کړي، مصنف رَحِمَهُ الله د امام محمد رَحِمَهُ الله قول اختيار کړی دی. لېکن دواړه قولونه مفتیٰ به دي، خو د امام ابو يوسف رَحِمَهُ الله پر قول عمل زيات دی. (شفاء الارواح بحوالة عمدة الفقه)

لمونځ ګزار کله د جماعت نيونکی يا د جماعت د فضيلت حاصلونکی شمېرل کېږي؟

﴿١٥٣﴾ وَلَمْ يُصَلِّ الظُّهْرَ جَمَاعَةً بِإِدْرَاكِ رَكْعَةٍ او لمونځ يې نه دی کړی د ماپښين په جماعت سره د يوه رکعت په نيولو سره (يعني د يوه رکعت په نيولو سره لمونځ ګزار د جماعت نيونکی نه شمېرل کېږي) بَلْ أَدْرَكَ فَضْلَهَا بلکي هغه د جماعت فضيلت ونيوی (وموندی).

تشريح: د عبارت حاصل دا دی چي کوم څوک د امام سره د فرضي لمانځه يو رکعت ونيسي، نو دا به ويل کېږي چي هغه جماعت نه دی نيولی (يا په بله وينا په جماعت سره يې لمونځ نه دی کړی)، خو هغه ته د جماعت فضيلت حاصلېږي. (شفاء الارواح)

يادونه: د دې مسئلې تعلق په حقيقت کي د قسم سره دی، نو که يو څوک قسم واخلي چي (معاذ الله!) نن به د ماپښين لمونځ په جماعت سره نه کوم، نو داسي څوک که صرف يو رکعت د امام سره

ونیسي (یو رکعت په جماعت سره وکړي)، نو هغه نه حانث کیږي (یعني قسم یې نه ماتیږي)، ځکه د یوه رکعت نیولو ته عرفاً په جماعت سره اداء کول نه وایي او د قسم دار ومدار پر عُرف وعادت دی.

او د جماعت د فضیلت حاصلېدلو په هکله په عبارت کې مذکوره حکم د امام محمد رَحِمَهُ الله په نیز دی یعني چې تر څو د امام سره لږ تر لږه په یوه رکعت کې شریک نه سي، د جماعت فضیلت نه حاصلیږي، لیکن د جمهورو احنافو موقف دی دا دی چې که د لمانځه په هسې یوه جزء کې د امام سره شریک سي، حتی چې په آخره ناسته کې هم، نو په جماعت سره د لمونځ کولو فضیلت ورته حاصلیږي. (کبیري ص: ۵۱۰، شامي ج: ۲، ص: ۵۱۰، کتاب المسائل ص: ۳۸۸)

﴿۵۲﴾ وَ اخْتُلِفَ فِيْ مُدْرِكِ الثَّلَاثِ او اختلاف سوی دی د دریو رکعتو د نیونکي په باره کې.

لغات: ﴿مدرك﴾ د افعال له بابه فاعل دی: نیونکی، موندونکی.

تشریح: که څوک په څلور رکعتیز لمانځه کې دري رکعته د امام سره ونیسي او یو رکعت ځني تېر سوی وي، نو په دې کې اختلاف دی: یو قول دا دی چې داسي کس ته هم د جماعت نیونکی (په جماعت سره لمونځ کونکی) نه ویل کیږي، همدا اظهر قول دی او پر همدې فتویٰ ده او د بعضو په نیز داسي کس ته د جماعت نیونکی (موندونکی) ویل کیږي. (لهذا که څوک قسم واخلي چې په جماعت سره به لمونځ نه کوم او هغه دري رکعته د امام سره وکړي، نو هغه نه حانث کیږي (قسم یې نه ماتیږي)؛ ځکه د اظهر او مفتی به قول مطابق دریو رکعتو په نیولو سره هم د جماعت نیونکی نه ورته ویل کیږي (شفاء الارواح). خو څرنګه چې د دې مسئلې مدار پر عُرف دی، نو ځکه د حانث کېدلو او نه حانث کېدلو په هکله به عُرف ته کتل کیږي چې په عُرف کې د څومره رکعتو نیونکی د پوره جماعت نیونکی شمېرل کیږي (مدني)).

د سنتو او نفلو اهمیت

﴿۵۳﴾ وَيَتَطَوَّعُ قَبْلَ الْفَرْضِ إِنْ أَمِنَ فَوْتَ الْوَقْتِ او نفل به تر فرضو مخکې کوي که چیري په امن وي له وخت فوتېدلو څخه (یعني د وخت تېرېدلو بېره نه وي) وَإِلَّا فَلَا کنې نو نه (دي یې کوي).

تشریح: دا عبارت مجمل دی، تفصیل یې دا دی چې نفل پر دوه قسمه دي: ① سنت مؤکده، ② سنت غیر مؤکده، او لمونځ ګزار له دوو حالو څخه خالي نه دی، یا هغه به فرضي لمونځ په جماعت سره اداء کوي یا منفرداً (یوازي) به یې اداء کوي، که هغه په جماعت سره اداء کونکی وي، نو د هغه لپاره لازم دي چې سنت مؤکده وکړي او که منفرد وي، نو د یوه روایت مطابق پر هغه هم لازم دي او بعضو ویلي دي چې هغه ته اختیار دی یعني کوي یې او که یې نه کوي (حاشیه بحوالهٔ شفاء الارواح). (خو په اکثره عبارتو کې د منفرد او غیر منفرد تر منځ هیڅ فرق نسته. بلکې د وخت د ګنجایش په

وخت کي د هر يوه لپاره د سنتو خيال ساتل ضروري دي، او سنت هم درجه په درجه دي، تر ټولو اعلیٰ مقام د سهار د سنتو دی. بيا له ماپښين څخه مخکي د څلورو رکعتو سنتو دی...)، او پاته سو سنت غير مؤکده، نو په هغه کي مطلق اختيار دی چي کوي يې او که يې نه کوي (حاشيه)، لېکن تر فرضو مخکي سنت او نفل به هغه وخت کوي کله چي په وخت کي ګنجائش وي او که وخت تنګ وي، نو اول به فرضي لمونځ کوي چي هسې نه فرض له خپل وخت څخه واوړي. (شفاء الارواح)

يادونه: علامه طحطاوي رَحِمَهُ الله ليکلي دي چي که مصنف رَحِمَهُ الله د "فوت الوقت" پر ځای "فوت الجماعة" ويلي وای، نو ښه به وای؛ ځکه کله چي دا معلومه سي چي د جماعت فوتېدلو د بيري په وخت کي نفل او سنت پرېښوولای سي، نو د وخت فوتېدلو د بيري په وخت کي به په درجه اولیٰ د هغوی پرېښوول معلوم سي. (انوارُ الايضاح بحوالهٔ طحطاوي على مراقي الفلاح)

د رکوع نيونکي حکم

﴿[illegible]﴾ وَمَنْ أَدْرَكَ إِمَامَهُ رَاكِعًا او څوک چي ونيسي (ومومندي) خپل امام په رکوع کي فَكَبَّرَ وَوَقَفَ حَتَّى رَفَعَ الْإِمَامُ رَأْسَهُ نو دئ تکبير ووايي او ودرېږي تر دې چي امام (له رکوع څخه) خپل سر راپورته کړي لَمْ يُدْرِكِ الرَّكْعَةَ نو هغه دغه رکعت نه ونيوی.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که يو څوک مسجد ته په داسې وخت کي ورسېږي چي امام په رکوع کي وي، او هغه د ولاړي په حالت کي تکبير ووايي او رکوع ته ولاړ نه سي بلکي همداسي ودرېږي يا لږ غوندي کوږ سي او امام د هغه له رکوع څخه مخکي سر راپورته کړي، نو په دې دواړو صورتونو کي هغه د رکعت نيونکی نه شمېرل کيږي.

که مقتدی له امام څخه مخکي رکوع ته ولاړ سي، نو څه حکم دی؟

﴿[illegible]﴾ وَإِنْ رَكَعَ قَبْلَ إِمَامِهِ بَعْدَ قِرَاءَةِ الْإِمَامِ مَا تَجُوْزُ بِهِ الصَّلٰوةُ او که چيري مقتدی تر خپل امام مخکي رکوع وکړي، د امام له دومره قرائت څخه وروسته چي په هغه سره لمونځ جائز کيږي فَأَدْرَكَهُ إِمَامُهُ فِيْهِ بيا امام هغه په رکوع کي ونيسي (يعني هغه د امام د رکوع کولو تر وخته پوري په رکوع کي پاته سي) صَحَّ نو (د مقتدي رکوع) صحيح ده وَإِلَّا لَا كنې (صحيح) نه ده.

تشريح: مسئله دا ده چي که مقتدی له امام څخه مخکي رکوع ته ولاړ سي، نو په دې صورت کي د مقتدي رکوع په دوو شرطونو سره صحيح کيږي ۱ يو دا چي مقتدی د امام د رکوع کولو تر وخته په

رکوع کي پاته سي تر دې چي هغه د امام سره په رکوع کي شریک سي (که څه هم داسي کول مکروه تحریمي دي. خو رکوع يې صحیح کیږي) ، دویم شرط دا دی چي مقتدي به د امام له دومره قرائت کولو څخه وروسته رکوع کړې وي چي په هغومره قرائت سره لمونځ جائز کیږي. لهذا که مقتدي د امام له "ما تجوز به الصلاة قرائت" څخه مخکي رکوع کړې وي. نو بیا که څه هم امام هغه په رکوع کي نیولی وي، نو هم د هغه رکوع نه صحیح کیږي. همدارنگه که مقتدي له "ما تجوز به الصلاة قرائت" څخه وروسته رکوع کړې وي، خو د امام له رکوع کولو څخه مخکي يې سر پورته کړی وي. نو بیا هم د هغه رکوع نه صحیح کیږي. لهذا د داسي مقتدي لپاره ضروري ده چي دوباره د امام سره رکوع وکړي، که يې نه وکړي، نو لمونځ يې نه کیږي. (شفاءُ الارواح. حاشیه)

تر اذان وروسته له مسجد څخه د وتلو حکم

﴿۴۵۶﴾ وَكُرِهَ خُرُوْجُهُ مِنْ مَسْجِدٍ أُذِّنَ فِيْهِ او مکروه دي د سړي وتل له داسي مسجد څخه چي په هغه کي اذان سوی وي حَتّٰى يُصَلِّيَ تر دې چي لمونځ وکړي إِلَّا إِذَا كَانَ مُقِيْمَ جَمَاعَةٍ أُخْرىٰ مگر دا چي کله هغه وي درونکی (لمونځ ورکونکی) د بل جماعت (یعني بل ځای امام وي).

لغات: ﴿كُرِهَ﴾ د سمع له بابه ماضي مجهوله ده: مکروه کېدل. دلته مراد ځني مکروه تحریمي دي.

تشریح: صورت د مسئلې دا دی چي که یو څوک مسجد ته په داسي وخت کي داخل سي چي اذان سوی وي، یا د هغه تر داخلېدلو وروسته اذان وسي، نو په داسي صورت کي که هغه د لمونځ کولو څخه بغیر له مسجده څخه ووځي، نو لیدونکي کسان به پر هغه دا بد گوماني وکړي چي دا کس گردسره لمونځ نه کوي، نو په دې جه له مسجد څخه وتل مکروهِ تحریمي دي (او له اذان څخه په ظاهره دا مراد دي چي صرف د لمانځه وخت شروع سوی وي او سړی په مسجد کي وي. برابره ده اذان په هغه مسجد کي سوی وي او که په یو بل مسجد کي. یا هیڅ ځای هم سوی نه وي (حاشیه)). د ابنِ ماجه وغیره په یوه روایت کي له مسجد څخه وتونکي ته منافق ویل سوي دي، خو هلته د دې خبري صراحت هم سته چي هغه بلا ضرورته ووځي او د واپس راتللو اراده يې هم نه وي. همدارنگه فقهاؤ نور څه هم مستثنیٰ کړي دي. مثلاً هغه کس په بل مسجد کي د امامت یا د اذان یا د جماعت د انتظام ذمه وار وي. نو د هغه لپاره وتل جائز دي. (شامي ج:۱، ص:۶۸۸)

﴿۴۵۷﴾ وَإِنْ خَرَجَ بَعْدَ صَلٰوتِهِ مُنْفَرِدًا او که ووځي وروسته له خپل تنها لمونځ کولو څخه (یعني ځان ته یوازي لمونځ وکړي او بیا له مسجد څخه ووځي) لَا يُكْرَهُ إِلَّا إِذَا أُقِيْمَتِ الْجَمَاعَةُ

قَبْلَ خُرُوْجِهٖ فِي الظُّهْرِ وَالْعِشَاءِ نو مکروه نه دي، مګر دا چي کله ودرېږي جماعت د هغه له وتلو څخه مخکي په ماپښين او مازيګر کي فَيَقْتَدِيْ فِيْهِمَا مُتَنَفِّلًا نو اقتداء دي وکړي په دې دواړو کي د نفلو په نيت سره.

تشريح: صورت د مسئلې دا دی چي که يو څوک تر اذان وروسته په مسجد کي تنها (يوازي) لمونځ وکړي، نو بيا له جماعت درېدلو څخه مخکي ببله کراهته وتلای سي، لېکن که هغه په مسجد کي وي او په همدې دوران کي جماعت ودرېږي، نو اوس به څه کوي؟، نو فرمايي چي که د ماپښين يا د ماخوستن د لمانځه جماعت وي، نو هغه دي د نفلو په نيت سره په امام پسي اقتداء وکړي او که د مازيګر يا سهار لمونځ وي، نو د نفلو په نيت سره دي نه ور سره شريک کيږي؛ ځکه د مازيګر او سهار تر لمانځه وروسته نفل ممنوع دي، همدارنګه د ماښام په لمانځه کي دي هم نه ور سره شريک کيږي: ځکه نفل درې رکعته نه کيږي. (انوار الايضاح بحواله مراقی الفلاح)

تر لمونځ کولو وروسته د هغسي لمونځ کولو حکم

﴿۵۸﴾ وَلَا يُصَلّٰى بَعْدَ صَلٰوةٍ مِثْلُهَا او نه به اداء کول کيږي تر يوه لمانځه وروسته د هغه په څېر (بل) لمونځ.

تشريح: د دې عبارت څو مطلبونه بيان سوي دي: ① يو مطلب يې دا دی چي د اجر او ثواب په شوق کي دي يو فرض لمونځ بل وار نه کول کيږي، ② بل مطلب يې دا دی چي بلا وجه محض د فاسد بللو په وسوسه او وهم سره دي هغه لمونځ بيا نه راګرځول کيږي، ③ درېيم دا چي تر جماعت کولو وروسته دي بل جماعت په هغه مسجد کي پر هغه ځای نه کول کيږي (يعني تکرار الجماعة دي پر مخکيني هيئت په مسجد کي دننه نه کول کيږي)، ④ بل دا چي دوه رکعته په قرائت سره او دوه رکعته بلا قرائته داسي دي نه کول کيږي. (شفاء الارواح، انوار الايضاح)

قد تم الجزء الأول من "فتح الإيضاح لشرح نور الإيضاح" ويليه الجزء الثاني، أوله باب سجود السهو

اللّٰهم اغفر لنا وارحم ولوالدينا ولأساتذتنا ولمن قام بالمساعدة عليه

ربنا تقبل منا إنك أنت السميع العليم وتب علينا إنك أنت التواب الرحيم

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله وصحبه أجمعين

* * *

فهرس

د پيل خبري ۱
د فتحُ الايضاح خصوصيات ۳
مباديات (بنيادي خبري) ۴
د فقهي لغوي تعريف ۴
د فقهي اصطلاحي تعريف ۵
د فقهي موضوع ۵
د فقهي غرض او هدف ۵
د فقهي حکم ٦
د "نور الايضاح" د مصنف لنډ ژوند ليک ٦
مصنف رَحِمَهُ الله د سترو علماؤ په نظر کي ۷
تصنيفات و تأليفات ۷
د علمُ الفقه فضيلت ۸
د علم فقه تدين (او د علم فقه مدوّن او باني) ۹
ځيني ضروري اصطلاحات ۱۱
بيلا بيلي فايدې ۱۲
علامات افتاء ۱۳
وجوهِ ترَجيح ۱۳
د فقهي اصطلاحات (د شرعي احکامو تسمونه) ۱۴
د "الله" او "إله" په مينځ کي فرق ۱۸
د "رَحْمٰن" او "رَحِيْم" په مينځ کي فرق ۱۹
د "حمد" تعريف ۱۹
د "الحمد" الف لام ۱۹
د "مدح" او د "شُکر" تعريف ۲۰
د "صلاة" تعريف ۲۲

كِتَابُ الطَّهَارَةِ ۲۸
د كتاب لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۲۹
د طهارت لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۲۹
په كومو اُوبو سره طهارت (پاكي) حاصلول جائز دي؟ ۳۰
داوبو قسمونه ۳۱
ماء مستعمل ۳۲
داودس د پاسه بل اودس كول ۳۲
اوبه كله مستعملي گرځي؟ ۳۳
داستعمال سوو اوبو حكم ۳۳
په كومو اُوبو سره پاكي حاصلول جائز نه دي؟ ۳۳
د "ماء نجس" (مردارو اوبو) بيان ۳۸
دماء كثير تعريف ۳۹
دماء قليل تعريف ۳۹
دماء جاري تعريف ۳۹
داوسنی زمانې په حساب سره دماء كثير اندازه ۳۹
د "ماء مشكوك" بيان ۴۰
د پسخوردي بيان ۴۲
څلور قسمه پسخورده په يوه جدول كي ۴۲
فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ أَحْكَامِ السُّؤْرِ) ۴۲
دانسان د پسخوردي حكم ۴۲
دمري او بيده كس دناړو (لاړو) حكم ۴۳
دسپي وغيره د پسخوردي حكم ۴۳
(۱) د كورنی پيشي د پسخوردي حكم ۴۵
(۲) دآزادي چرگي حكم ۴۵
(۳) دښكاري مرغانو حكم ۴۵
دوحشي او ځنگلي پيشي حكم ۴۶
د پيشي د پسخورده خوراک حكم ۴۶

فَصْلٌ (فِی التَحَرِّیْ) ۴۷
د تحرّي بيان ۴۷
که څاه ته بهيدونکې نجاست (باريکه مرداري) ولوېږي ۴۹
فَصْلٌ فِیْ مَسَائِلِ الآبَارِ ۴۹
څاه ته د خنزير د لوېدلو حکم ۵۰
څاه ته د انسان، يا د پسه او سپي د لوېدلو حکم ۵۰
د جاري څاه حکم او تفصيل ۵۱
څاه ته د چرګې يا پيشي د لوېدلو حکم ۵۲
د موږک او مرغۍ حکم ۵۲
که ور لوېدلی نجس شی له څاه څخه را کښل ناممکن وي، نو څه حکم دی؟ ۵۳
د اوبو په ماشين سره څاه يا تالاب خالي کول ۵۳
څاه ته د پچو او خوشايو وغيره د لوېدلو حکم ۵۴
د مرغيو د ګندګۍ (فضلې) حکم ۵۵
د ماهي او د اوبو د حيوان حکم ۵۵
که انسان يا څاروی څاه ته ولوېږي او ژوندي را ووځي، نو څه حکم دی؟ ۵٦
که غاتره، خر او داسي نور څاه ته ولوېږي او ژوندي را ووځي، نو څه حکم دی؟ ۵۷
که مردار سوی حيوان په اوبو کي وپرسېږي نو څه حکم دی؟ ۵۷
که د شيانو له پرېوللو څخه وروسته معلومه سي چي تالاب مردار دی؟ ۵۸
فَصْلٌ فِی الاِسْتِنْجَاءِ ۵۹
استبراء ضروري ده ۵۹
د وسوسې مريض به څه کوي؟ ٦۰
د استنجاء حکم ٦۱
د اوسني او پخواني حساب مطابق د درهم اندازه ٦۱
د جنابت د غسل حکم ٦۲
د استنجاء اقسام ٦۲
د تشناب کاغذ حکم ٦۳
په استنجاء کي معين عدد ٦۳
د استنجاء طريقه ٦۴

د استنجاء په وخت کي پرده ضروري ده ۶۸
څومره نجاست معاف دی؟ ۶۸
فَصْلٌ (فِيْمَا يَجُوْزُ بِهِ الإِسْتِنْجَاءُ وَمَا يُكْرَهُ فِعْلُهُ) ۶۸
په کوم صورت کي بغیر له استنجاء څخه لمونځ صحیح کیږي؟ ۶۹
د استنجاء په وخت کي د عورت پټولو یوه حیله ۶۹
په هډوکو او داسي نورو سره د استنجاء کولو حکم ۷۰
د قضاء حاجت او بیت الخلاء آداب ۷۱
د قضاء حاجت مکروهات ۷۲
فَصْلٌ فِي الْوُضُوْءِ ۷۵
د اودس فرضونه ۷۵
څومره اوبه بهول (بیول) فرض دي؟ ۷۷
د گڼو ورو څو حکم ۷۷
د اودس د فرضیت سبب ۷۷
د اودس شرائط ۷۸
د اودس صحیح کېدلو شرائط ۷۹
فَصْلٌ (فِيْ تَمَامِ أَحْكَامِ الْوُضُوْءِ) ۸۰
د گڼي ږيري او نا گڼي (رنګړي) ږيري د پرېوللو حکم ۸۰
د ښونډانو ښکاره حصه پرېولل ۸۱
که ګوتي سره لګېدلي وي یا نوکان اوږده وي؟ ۸۲
د خیرو حکم ۸۲
تنکه ګوتمۍ وغیره ښورول ۸۳
د درمل له پاسه د اوبو تېرولو حکم ۸۳
تر خرېیلو وروسته به مسح او پرېولل نه راګرځول کیږي ۸۳
فَصْلٌ فِيْ سُنَنِ الْوُضُوْءِ ۸۴
د اودا سه سنتونه ۸۴
بسم الله ویل ۸۴
که په شروع کي د بسم الله ویل هېر سي؟ ۸۵
که د اودا سه ځای په بیت الخلاء کي وي، نو د بسم الله ویلو حکم ۸۵

مسواک وهل ٨٥
د مسواک وهلو طریقه ٨٦
خوله او پزه پرېولل ٨٧
د ږيري خلالول ٨٨
د ګوتو خلالول ٨٨
دري واره اندامونه پرېولل ٨٨
د وسوسي مریض به په شک عمل نه کوي ٨٩
د ټوله سر مسح کول ٨٩
د مسح طریقه ٨٩
د غوږونو مسح کول ٩٠
نیت کول ٩١
په اندامونو کي د ترتیب خیال ساتل ٩١
له راسته طرف څخه شروع کول ٩١
تر اوداسه وروسته په پرتوګ باندي اوبه پاشل ٩٢
فَصلٌ فِي آدَابِ الوُضُوءِ ٩٣
د اوداسه ادبونه ٩٣
مخ پر قبله کښېنستل ٩٣
له بل چا څخه مدد نه اخیستل ۹۴
دنیاوي خبري نه کول ۹۴
د اوداسه په دوران کي دعاګاني ویل ۹۴
د هر اندام د پرېوللو په وخت کي بسم الله ویل ٩٥
خچې ګوته د غوږو په سوریو ننه کول ٩٦
پراخه ګوتمۍ ښورول ٩٦
مضمضه او استنشاق په راسته لاس کول او په چپه لاس پزه سونل ٩٦
له وخت داخلېدلو څخه مخکي اودس کول ٩٦
تر اوداسه وروسته دعاء کول ٩٧
تر اوداسه وروسته اوبه څښل ٩٧

فَصْلٌ فِي الْمَكْرُوْهَاتِ ٩٩
داولسمه د مکروهاتو بیان ٩٩
لوبه په زوره پر مخ وهل ١٠٠
دنیاوي خبري کول ١٠٠
له بل چا څخه مدد غوښتل ١٠١
دري واره مسح کول ١٠١
فَصْلٌ فِيْ أَوْصَافِ الْوُضُوْءِ ١٠٢
د اودس قسمونه، فرض اودس ١٠٢
واجب اودس ١٠٢
د مستحب اودس مواقع ١٠٣
فَصْلٌ (فِيْ نَوَاقِضِ الْوُضُوْءِ) ١٠٦
په کومو شیانو سره اودس ماتیږي؟ ١٠٦
په ډکه خوله قی وهل ١٠٧
په نارو (لاړو) کي د وینې اثر راتلل ١٠٨
په کوم خوب سره اودس ماتیږي؟ ١٠٩
د بې هوښی، لیونتوب او نشې حکم ١٠٩
د خندا حکم ١١٠
د مباشرتِ فاحشه حکم ١١١
فَصْلٌ (فِيْمَا لَا يَنْقُضُ الْوُضُوْءَ) ١١٢
په کومو شیانو سره اودس نه ماتیږي؟ ١١٢
د غوښي پریکېدلو حکم ١١٢
له زخم یا پزي او غوږ څخه د چینجي راوتلو حکم ١١٣
له پزي یا سترګي څخه راوتونکي اوبه ١١٣
له غوږ څخه رابهیدونکي مواد، وینه یا اوبه ١١٣
خپله شرمګاه یا ښځه مس کول ١١٣
له ډکي خولې څخه کم قی وهل ١١٤
د بلغمو قی وهل ١١٤
د ناستي په حالت کي بیدیدل ١١٤

د خوب په حالت کي بيدېدل ۱۱۵
ښځه د سجدې په حالت کي بيدېدل ۱۱٦
که مريض کس د ناستي په لمانځه کي بيده سي؟ ۱۱٦
فَصْلٌ (فِيْمَا يُوْجِبُ الْاِغْتِسَالَ) ۱۱۷
مني په شهوت سره وتل ۱۱۷
حشفه پټېدل ۱۱۸
د مړه يا چارپای سره وطي کول ۱۱۸
تر خوب وروسته د اوبو ليدل ۱۱۹
د حيض او نفاس پر ختمېدلو غسل واجبېدل ۱۱۹
مړي ته د غسل ورکولو حکم ۱۲۰
فَصْلٌ (فِيْمَا لَا يَجِبُ الْاِغْتِسَالُ مِنْهُ) ۱۲۱
د مذي او ودي حکم او تعريف ۱۲۱
يوه مسئله او د هغې شپږ صورتونه ۱۲۱
له ولادت څخه وروسته وينه نه ليدل ۱۲۲
د مانع لذت شي حکم ۱۲۲
د حقنه حکم ۱۲۳
په سبيلينُ کي ګوته وغيره داخلول ۱۲۳
د چارپای يا د مړي ښځي سره وطي کول ۱۲۳
د باکره ښځي سره د کور والي حکم ۱۲۳
فَصْلٌ (فِيْ بَيَانِ الْغُسْلِ) ۱۲۴
د غسل فرائض ۱۲۴
د ناسُته کس حکم ۱۲۴
د ټو سوری پرېولل ۱۲۵
په غسل کي د نر او ښځي د کوڅيو حکم ۱۲۵
د ږيري، برېتو وغيره څرمن ته اوبه رسول ۱۲٦

فَصْلٌ فِیْ سُنَنِ الْغُسْلِ ۱۲۷
دغسل سنت طریقه ۱۲۷
فَصْلٌ (فِیْ آدَابِ الْاِغْتِسَالِ وَمَکْرُوْهَاتِهٖ) ۱۲۹
دغسل ادبونه او مکروهات ۱۲۹
فَصْلٌ ۱۳۱
مستحب غسلونه ۱۳۱
سنت غسلونه ۱۳۱
بَابُ التَّیَمُّمِ ۱۳۴
د تیمم لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۱۳۴
تیمم دامتِ محمدیه خصوصیت دی ۱۳۴
د تیمّم صحیح کېدلو شرطونه ۱۳۴
دنیت صحیح کېدلو شرطونه ۱۳۵
د تیمم دنیت نور وضاحت ۱۳۵
تیمّم کله جائز دی؟ ۱۳۷
د قیدي (بندي) لپاره د تیمّم حکم ۱۳۹
په رېل ګاډی (اور ګاډی) کي د تیمّم حکم ۱۳۹
دغسل تیمّم داودس لپاره کافي دی ۱۳۹
د کومو لمنځونو لپاره د تیمّم خصوصي اجازه سته ۱۳۹
دوقت د تنګی په وجه د تیمّم حکم ۱۴۰
پر کومو شیانو تیمّم جائز دی؟ ۱۴۰
پر ګرز (ګرد) د تیمم حکم ۱۴۱
پر سمېټي دېوال او داسي بل شي بلندي د تیمّم حکم ۱۴۱
د تیمّم طریقه ۱۴۱
په توله یا اکثره لاس سره مسح کول، نه په دوو ګوتو سره او د سره مسح او د تیمم د مسح ترمینځ فرق ۱۴۲
د تیمم د نورو شرطونو بیان ۱۴۳
د تیمم سنتونه ۱۴۴
که داوبو ترلاسه کېدلو امید وي، نو څه حکم دی؟ ۱۴۵
که شوک داوبو رلورلو و [illegible] ؟ ۱۴۶

په پورتني صورت کي د کېړي حکم ١٤٦
تر څومره ځایه پوري داوبو تلاش واجب دی؟ ١٤٧
له ملګري څخه داوبو طلب کول ١٤٧
په یوه تیمم سره هر څو لمنځونه کېدلای سي؟ ١٤٨
داکثره اندامونو دزخمي کېدو په صورت کي د تیمم حکم ١٤٨
تیمم په کومو شیانو سره ماتیږي؟ ١٤٩
که دیو چا دواړه لاسونه پرې وي او مخ یې هم زخمي وي ١٥٠
په بل چا تیمم کول ١٥٠
بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ ١٥١
دمسح لغوي او اصطلاحي معنیٰ ١٥١
دمسح على الخفين ثبوت ١٥١
دموزو دمسح بیان ١٥٢
د څو جراپو حکم ١٥٣
پر موزو دمسح صحیح کېدلو شرطونه ١٥٣
دمسح موده ١٥٧
دمسح دمذکوره مودې ابتداء له کومه وخته کیږي؟ ١٥٧
مسح کونکی مقیم که مسافر سي؟ ١٥٧
مسح کونکی مسافر که مقیم سي؟ ١٥٨
دمسح فرض مقدار ١٥٨
دمسح سنت طریقه ١٥٨
صرف په یوه ګوته سره مسح کول ١٥٩
دمسح پر ځای په لندو وابنو باندي تلل ١٥٩
په بل چا مسح کول ١٥٩
په کومو شیانو سره مسح ماتیږي؟ ١٥٩
پر لنګوته وغیره باندي دمسح حکم ١٦١
فَصْلٌ (فِي الْجَبِيْرَةِ وَنَحْوِهَا) ١٦٢
پر زخم دمسح کولو مسئلې ١٦٢
تر پټۍ لاندي داضافي حصې حکم ١٦٣

د مسح علی الجبیرة او مسح علی الخُفین ترمینځ فرق ۱۶۳
که د زخم والا لپاره اوبه تاواني وي نو څه به کوي؟ ۱۶۴
بَابُ الْحَیْضِ وَالنِفَاسِ وَالْاِسْتِحَاضَةِ ۱۶۶
حیض په لغت او اصطلاح کي ۱۶۶
نفاس په لغت او اصطلاح کي ۱۶۶
د استحاضة تعریف ۱۶۶
د حیض اقل او اکثر وخت ۱۶۷
د حمل تر اسقاط (نخسان) وروسته د راتلونکي وینې حکم ۱۶۸
د آپریشن په ذریعه د بچي پیدا کېدلو په صورت کي د نفاس حکم ۱۶۸
له نهو کالو څخه په کم عمر کي د راتلونکي وینې حکم ۱۶۹
د پاکی (طهر) موده ۱۶۹
د حیض په حالت کي یو مستحب عمل ۱۷۰
د لمانځه په دوران کي حیض راتلل ۱۷۰
د قرآن استاذه ښځه (معلمه) به د حیض په حالت کي څنګه سبق ورته وایي؟ ۱۷۰
د حیض په حالت کي د حدیثو او د فقهي تدریس ۱۷۰
د تلاوت له نیت څخه بغیر قرآني آیتونه ویل ۱۷۰
د حیض په حالت کي قرآني او نبوي دعاګاني ویل ۱۷۱
د حیض او نفاس په حالت کي قرآن کریم ته لاس وروړل ۱۷۱
د حیض په حالت کي مسجد ته تلل ۱۷۱
د حیض او نفاس په حالت کي د طواف حکم ۱۷۲
د حیض او نفاس په حالت کي د جماع حکم ۱۷۲
د حیض او نفاس په حالت کي له ښځي څخه لذت حاصلول ۱۷۲
د حیض په حالت کي له ښځي څخه ځای او بستره جلا کول ۱۷۳
د وینې تر انقطاع وروسته د جماع حکم ۱۷۳
د دواء په ذریعه حیض بندول ۱۷۳
تر لسو ورځو مخکي د حیض تر انقطاع وروسته د جماع حکم ۱۷۳
د حیض او نفاس په حالت کي د لمانځه او روژې حکم ۱۷۵
د جنابت په حالت کي کوم شیان حرام دي؟ ۱۷۶
د استحاضه د وینې حکم ۱۷۶

دمعذوره کس حکم ۱۷۷
دمعذورینو اودس کله باطلیږي؟ ۱۷۸
معذور شرعي څوک دی؟ ۱۷۸
داشراق یا څاښت په اوداسه سره دماپښین لمونځ کول ۱۷۹
دلمانځه له وخت داخلېدلو څخه وروسته عذر پېښېدل ۱۷۹
دبادوتلو (خروج رياح) والا مريض اودس په خوب سره نه ماتیږي ۱۸۰
دڅاڅکو دمریض لپاره دطهارت آسانه طريقه ۱۸۰
بَابُ الْأَنْجَاسِ وَالطَّهَارَةِ مِنْهَا ۱۸۱
دنجاست (مرداری) قسمونه ۱۸۱
دنجاست غلیظه څومره مقدار معاف دی؟ ۱۸۴
دنجاستِ خفیفه څومره مقدار معاف دی؟ ۱۸۴
دمتیازو څاڅکي (قطري) ۱۸۵
دپړبولل کېدونکي مرداري جامې دڅاڅکو حکم ۱۸۵
پر مرداره لنده بستره یا ځمکه باندي بدن یا پښه لګېدل ۱۸۵
لنده جامه پر مرداره ځمکه هوارول ۱۸۷
دنجاستِ مرئیه بیان ۱۸۷
دنجاست غیرِ مرئیه بیان ۱۸۸
دلوی فرش، غالی او کارپیټ د پاکولو طريقه ۱۸۹
په کومو شیانو سره نجاست حقیقي لیري کول جائز دي؟ ۱۸۹
دچرمي موزې او څپلی د پاکولو طريقه ۱۸۹
دتوري او هینداري وغیره د پاکولو طريقه ۱۹۰
دناپاکه ځمکي د پاکېدلو طريقه ۱۹۰
پر ناپاکه وچه ځمکه تیمم صحیح نه دی ۱۹۱
دسمبتي یا ببرني ځمکي د پاکولو طريقه ۱۹۱
ددرختي او ونو حکم ۱۹۱
دذات په بدلېدلو سره د پاکی حکم ۱۹۲

فَصْلٌ فِي الدِّبَاغَةِ ۱۹۳
په دباغت سره د څرمني پاکولو بيان ۱۹۳
د مردار څاروي د هډوکو، ورېښتو او داسي نورو حکم ۱۹۵
د پلو حکم ۱۹۵
د مشک حکم ۱۹۶

كِتَابُ الصَّلَاةِ ۱۹۷

د صلاة لغوي معنیٰ ۱۹۷
د صلاة اصطلاحي معنیٰ ۱۹۷
د لمانځه فرضيت ۱۹۷
د فرضيت شرائط ۱۹۸
د لمانځه د وجوب اسباب ۱۹۹
د سهار د لمانځه وخت ۱۹۹
د ماپښين د لمانځه وخت ۲۰۰
د اصلي سايې (ظل الاستواء) د پېژندګلوۍ طريقه ۲۰۱
په عربستان کي د مازيګر لمونځ له دوچنديٖ (مثلينو) څخه مخکي کول ۲۰۱
د مازيګر د لمانځه وخت ۲۰۲
د ماښام د لمانځه وخت ۲۰۲
د ماخوستن د لمانځه وخت ۲۰۳
د وترو د لمانځه وخت ۲۰۴
چيري چي شپې مياشتي ورځ او شپې مياشتي شپه وي، هلته څه حکم دی؟ ۲۰۵
د دوو فرضونو د جمع کولو حکم ۲۰۵
د سهار د لمانځه مستحب وخت ۲۰۷
د روژې په مياشت (رمضان) کي د سهار لمونځ وختي کول ۲۰۷
د ماپښين مستحب وخت ۲۰۷
د مازيګر مستحب وخت ۲۰۸
د ماښام د لمانځه مستحب وخت ۲۰۹
د روژې په مياشت کي د ماښام لمونځ څه ځنډول ۲۰۹

د ماخوستن د لمانځه مستحب وخت ۲۰۹
یادونه ۲۱۰
د وترو مستحب وخت ۲۱۰
فَصْلٌ (فِي الْأَوْقَاتِ الْمَكْرُوهَةِ) ۲۱۱
په مکروه وختونو کي د نفلي لمانځه حکم ۲۱۳
تر صبح صادق وروسته د نوافلو ممانعت ۲۱۳
د خطبې په وخت کي د لمانځه حکم ۲۱۴
د سهار د سنتو مسئله ۲۱۴
داختر تر لمانځه مخکي نفل کول ۲۱۵
په عرفات او مزدلفه کي د جمع بین الصلاتین په مینځ کي نفل کول ۲۱۵
د وقت د تنګوالي په حالت کي نوافل کول ۲۱۵
د قضاء حاجت په وخت کي د لمانځه ممانعت ۲۱۶
د لوږي په وخت کي د لمانځه ممانعت ۲۱۶
بَابُ الْأَذَانِ ۲۱۸
داذان اصطلاحي او لغوي معنیٰ ۲۱۸
اذان کله شروع سو؟ ۲۱۸
داذان د مشروعیت واقعه ۲۱۸
داذان اجر او ثواب ۲۱۹
اذان د شیطان لپاره عذاب ۲۱۹
څوک به مؤذن جوړول کیږي؟ ۲۲۰
داذان حکم ۲۲۰
په کور کي د جماعت کولو پر مهال د اذان او اقامت حکم ۲۲۱
په مسجد کي د منفرد د اذان حکم ۲۲۱
داذان د کلماتو تفصیل ۲۲۲
د ترجیع حکم ۲۲۲
داقامت کلمات ۲۲۲
د "الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ" بیان او ثبوت ۲۲۳

که "الصلاة خیر من النوم" پاته سي نو څه حکم دی؟........ ۲۲۳
د اذان او اقامت سنت طریقه ۲۲۴
د اقامت سنت طریقه ۲۲۴
د اذان یا اقامت یوه کلمه پاتېدل ۲۲۴
له عربي څخه بغیر په بله ژبه اذان او تکبیر ویل ۲۲۵
د اذان مستحبات ۲۲۵
په غوږو کي د ګوتو نیولو حکم ۲۲۶
د اذان او اقامت تر مینځ د فصل کولو بیان ۲۲۸
د تثویب تعریف او حکم ۲۲۹
په اذان کي د لحن بیان........ ۲۳۰
د بې اودسه کس د اذان او اقامت حکم ۲۳۱
د جنب د اذان حکم ۲۳۱
د نا پوهه کوچني د اذان حکم ۲۳۱
د لېوني او نشه کس د اذان حکم........ ۲۳۱
د ښځي د اذان حکم........ ۲۳۲
د فاسق د اذان حکم ۲۳۲
په ناستي د اذان کولو حکم........ ۲۳۲
د اذان او اقامت په مینځ کي خبري کول ۲۳۲
د جمعې په ورځ د ماپښین د لمانځه لپاره اذان او اقامت کول ۲۳۲
د قضائي لمانځه او اذان لپاره د اذان او اقامت کولو حکم ۲۳۳
د اذان د جواب حکم او تفصیل........ ۲۳۳
د "الصلاة خیر من النوم" جواب........ ۲۳۵
د اذان دعاء........ ۲۳۵

بَابُ شُرُوطِ الصَّلَاةِ وَأَرْكَانِهَا........ ۲۳۷

د "شرط" لغوي او اصطلاحي معنیٰ........ ۲۳۷
د "رکن" لغوي او اصطلاحي معنیٰ........ ۲۳۷
د لمانځه د صحت شرطونه په یوه جدول کي (د مصنف رحمه الله د ترتیب مطابق) ۲۳۸
د لمانځه د صحت شرطونه، طهارت........ ۲۳۹

پر خوشايو تيل سوي ځمکه دلمونځ کولو حکم ۲۴۰
دعورت پټول ۲۴۰
مخ پر قبله کېدل ۲۴۱
له قبلې څخه معمولي انحراف تاواني نه دی ۲۴۲
لمونځ په خپل وخت کي اداء کول ۲۴۲
دوخت داخلېدو يقين کېدل ۲۴۲
دنيت حقيقت ۲۴۳
تکبير تحريمه ويل ۲۴۳
دنيت وخت ۲۴۴
آيا په ټوله لمانځه کي دنيت استحضار ضروري دی؟ ۲۴۴
دمقتدي نيت او دفرضو او واجبو د تعيين نيت ۲۴۵
قيام (په ولاړه لمونځ کول) ۲۴۶
قرائت (په لمانځه کي قرآن شريف لوستل) ۲۴۶
رکوع کول او دفرض رکوع حدّ ۲۴۷
سجده کول ۲۴۸
دغلې پر گونې سجده کول ۲۴۸
په سجده کي د تندي او پزي داېښوولو حکم ۲۴۹
صرف پر تندي سجده کول ۲۴۹
صرف پر زنه يا باړخوگانو سجده کول ۲۵۰
دجلسې بيان ۲۵۱
دوېښوالي په حالت کي دلمانځه ارکان اداء کول ۲۵۲

فَصْلٌ (فِيْ لَوَاحِقِهَا) ۲۵۵
پر داسي کراسته، فرش يا پر داسي بل پنډ شي لمونځ کول چي يو مخ يې مردار وي؟ ۲۵۵
پر داسي استرداره (دوه غبرگې) کپړه لمونځ کول چي استر يې مردار وي؟ ۲۵۶
پر داسي کپړه، فرش وغيره لمونځ کول چي يو سر يې مردار وي؟ ۲۵۶
د داسي لنگوټې او څادر حکم چي يو سر يې مردار وي ۲۵۷
که د بعضي عورت د پټولو لپاره يو شی پيدا سي، نو څه حکم دی؟ ۲۵۹
لڅ کس به څنگه لمونځ کوي؟ ۲۶۰
د سړي د عورت اندازه ۲۶۰

دمېنځي د عورت اندازه ۲۶۱
دآزادي ښځي د عورت اندازه ۲۶۱
څومره عورت ښکاره کېدل مانع د لمانځه دي ۲۶۱
بېلابېل ځايونه ښکاره کېدل (لڅېدل) ۲۶۲
په لمانځه کي قصداً عورت ښکاره کول ۲۶۳
په تنکه جامه کي لمونځ کول ۲۶۳
په نرۍ (باريکه) جامه او پوړني کي لمونځ کول ۲۶۳
که څوک له استقبالُ القبله څخه عاجزه وي، نو څه حکم دی؟ ۲۶۳
که چا ته د قبلې طرف معلوم نه وي، نو څه حکم دی؟ ۲۶۴
که د لمانځه په دوران کي معلومه سي چي قبله بل طرف ته ده؟ ۲۶۵
بغير له تحرّی څخه لمونځ کول ۲۶۵
که مقتديانو ته د امام طرف نه معلومېږي، نو څه حکم دی؟ ۲۶۶
آيا د قبلې په تعيين کي د کافر قول هم معتبر دی؟ ۲۶۷
د قبلې د طرف معلومولو ذرائع ۲۶۷
په افغانستان او پاکستان کي د قبلې د صحيح طرف معلومولو آسانه طريقه ۲۶۷
فَصْلٌ (فِيْ وَاجِبِ الصَّلَاةِ) ۲۶۸
سورة الفاتحه ويل ۲۶۸
د سوة الفاتحه سره بل سورت يو ځای کول ۲۶۹
د فرضو په اولو دوو رکعتونو کي د قرائت تعيين ۲۶۹
سورة الفاتحه له قرائت څخه مخکي ويل ۲۶۹
په هر رکعت کي دوې سجدې پرله پسې کول ۲۷۰
د تعديلِ ارکان بيان ۲۷۰
قعدۀ اولیٰ (اوله ناسته) ۲۷۱
په اوله ناسته کي تشهّد ويل ۲۷۱
په آخره ناسته کي تشهّد ويل ۲۷۱
تر قعدۀ اولیٰ وروسته بېله ځنډه دريم رکعت ته ولاړېدل ۲۷۱
د "سلام" په لفظ سره لمونځ ختمول ۲۷۲
دوترو په لمانځه کي قنوت ويل ۲۷۳

په اخترونو کي تکبیرات زوائد ویل ۲۷۳
په تحریمه کي تکبیر (الله اکبر) ویل ۲۷۳
په جهري لمنځونو کي په لوړ آواز سره قرائت کول ۲۷۴
په سرّي لمونځو کي په کراره قرائت کول ۲۷۵
د فرضو په اولو دوو رکعتو کي سورت پرېښوول ۲۷۵
فاتحه پرېښوول ۲۷٦
سورة الفاتحه مکرّره ویل ۲۷٦
د لمانځه په افعالو کي پسله فصله ترتیب باقي ساتل ۲۷٦
فَصْلٌ فِيْ سُنَنِهَا ۲۷۷
د سنت لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۲۷۷
په لمانځه کي څو سنتونه دي؟ ۲۷۷
د تکبیرِ تحریمه په وخت کي دواړه لاسونه پورته کول ۲۷۸
د لاسونو د پورته کولو په وخت کي ګوتي خلاصي ساتل ۲۷۸
راسته لاس په چپه لاس باندي اېښوول او د نیولو طریقه ۲۷۹
د ښځي د لاس اېښوولو ځای او طریقه ۲۷۹
څو نور سنتونه ۲۸۰
د تکبیرِ تحریمه په وخت کي به څنګه درېږي؟ ۲۸۱
تکبیرات انتقالیه په لوړ آواز سره ویل ۲۸۱
په لمانځه کي د قرائت سنت مقدار ۲۸۱
د سهار په لمانځه کي اول رکعت اوږدول ۲۸۳
د ښځي د سجدې طریقه ۲۸٦
درود شریف او دعاء ویل ۲۸۸
تر درود وروسته قرآني دعاګاني ۲۸۸
تر درود وروسته نبوي دعاګاني ۲۸۹
د دعاء د قبولیت په هکله د ځینو علماؤ قول ۲۸۹
راسته او چپه طرف ته مخ ګرځول ۲۹۰
د سلام ګرځولو په وخت کي به امام څه نیت کوي؟ ۲۹۰
مقتدي به څه نیت کوي؟ ۲۹۱
منفرد به څه نیت کوي؟ ۲۹۲

د مسلمان سره د فرشتو شمېر ۲۹۲
مسبوق به د خپل پاته لمانځه د پوره کولو لپاره کله ولاړېږي؟ ۲۹۳
تر سلام مخکي د پاته لمانځه د پوره کولو لپاره ولاړېدل ۲۹۴
فَصْلٌ فِيْ آدَابِهَا ۲۹۵
د ادب لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۲۹۵
په ولاړه، رکوع، سجده او سلام گرځولو کي به لمونځ گزار کوم ځای ته گوري؟ ۲۹۶
ټوخی وغیره دفع کول ۲۹۶
اربدمی دفع کول ۲۹۷
مقتدیان به کله د جماعت لپاره درېږي؟ ۲۹۷
فَصْلٌ فِيْ كَيْفِيَّةِ تَرْكِيْبِ الصَّلَاةِ ۲۹۹
د لمانځه طریقه ۲۹۹
په "الله اکبار" ویلو سره لمونځ فاسدېږي ۳۰۰
له "الله اکبر" څخه بغیر بل ذکر ویل یا په بله ژبه ویل یا په بله ژبه قرائت کول ۳۰۰
هر لمونځ گزار به ثناء وایي ۳۰۲
د رکوع بیان ۳۰۴
تکبیرات څنګه ویل پکار دي؟ ۳۰۵
د قومه بیان ۳۰۵
د سجدې بیان ۳۰۶
د جلسې بیان ۳۰۷
له دویمي سجدې څخه د ولاړېدلو طریقه ۳۰۸
د رفع الیدین بیان ۳۰۹
د تشهد بیان ۳۱۱
د تشهد (التحیات) الفاظ ۳۱۲
د التحیات لغوي څېړنه ۳۱۳
د التحیات اصل او تفصیلي ژباړه ۳۱۳

بَابُ الْإِمَامَةِ ۳۱۶
دامامت مرتبه ۳۱۶
دجماعت حکم او ارزښت ۳۱۶
دامامت شرطونه ۳۱۷
داقتداء شرطونه ۳۱۸
دامامت نیت ۳۱۹
داقتداء نور شرطونه ۳۱۹
دمتیمّم اقتداء ۳۲۴
دمسح کونکي اقتداء ۳۲۴
دناست کس اقتداء ۳۲۵
داشاره کونکي اقتداء ۳۲۵
دجنابت په حالت کي امامت ۳۲۵
فَصْلٌ فِيْ مُسْقِطَاتِ الْجَمَاعَةِ ۳۲۷
دکومو عذرونو په وجه دجماعت پرېښوول جائز دي؟ ۳۲۷
فَصْلٌ فِي الْأَحَقِّ بِالْإِمَامَةِ وَتَرْتِيْبِ الصُّفُوْفِ ۳۳۳
دامامت زیات حقدار ۳۳۳
دصفونو د ترتیب اهمیت ۳۳۳
دصفونو د سیده کولو طریقه ۳۳۳
داول صف فضیلت ۳۳۴
دامامت زیات مستحق درجه په درجه ۳۳۴
دلغړزني امامت ۳۳۶
دغلام امامت ۳۳۷
دنابینا امامت ۳۳۸
دصحرايي امامت ۳۳۸
دحرامي (ارموني) امامت ۳۳۸
دفاسق امامت ۳۳۸
دبدعتي امامت ۳۳۹
لوېد لمونځ کول ۳۳۹

دلځو خلکو او د ښځو د جماعت حکم ٣٤٠
دیوه مقتدي حکم ٣٤٠
د صفونو ترتیب ٣٤١
فَصْلٌ فِیْمَا یَفْعَلُهُ الْمُقْتَدِیْ بَعْدَ فَرَاغِ إِمَامِهٖ مِنْ وَاجِبٍ وَغَیْرِهٖ ٣٤٢
دمقتدي له فارغېدلو څخه مخکې د امام سلام ګرځول ٣٤٢
دمقتدي له تسبیح پوره کېدلو څخه مخکې د امام سر پورته کول ٣٤٣
که امام په هېره درې سجدې کړې یا په آخره ناسته کې ولاړ سي؟ ٣٤٣
که امام آخره ناسته پرېږدي؟ ٣٤٣
فَصْلٌ فِی الْأَذْکَارِ الْوَارِدَةِ بَعْدَ الْفَرْضِ ٣٤٥
تر فرض لمانځه وروسته نوافل یل ځای کول ٣٤٦
تر فرضي لمانځه وروسته مخ را اړول ٣٤٧
د مختلفو ذکرونو بیان ٣٤٨
بَابُ مَا یُفْسِدُ الصَّلَاةَ ٣٤٩
په لمانځه کې خبرې کول ٣٤٩
په لمانځه کې په انساني کلام سره دعاء غوښتل ٣٤٩
په لمانځه کې سلام اچول ٣٥٠
په لمانځه کې د سلام جواب ورکول ٣٥٠
په لمانځه کې مصافحه کول ٣٥١
په لمانځه کې عملِ کثیر کول ٣٥١
په لمانځه کې سینه له قبلې څخه اړول ٣٥١
دلمانځه په دوران کې یو شی خوړل ٣٥٢
په غاښو کې بند شی خوړل ٣٥٢
دلمانځه په دوران کې یو شی چیچل ٣٥٢
بې له عذره توخل او غاړه تازه کول ٣٥٣
په لمانځه کې اُف، اُف کول یا پوکل ٣٥٣
په لمانځه کې زګیروی کول یا آه وغیره کول ٣٥٣
په لمانځه کې ژړل ٣٥٣
په "یرحمك الله" سره د جواب ورکولو حکم ٣٥٤

د پوښتنې یا د بد خبر یا تعجّب والا خبر په جواب کې د ذکر کلمات ویل ۳۵۴
د قرآن آیت وغیره د جواب پر ځای استعمالول ۳۵۵
تیمم کونکي لمونځ گزار ته اوبه حاصلېدل ۳۵٦
د لمانځه په دوران کې د مسحې موده پوره کېدل یا موزه ختل ۳۵٦
امي کس ته د لمانځه په دوران کې یو آیت یادېدل ۳۵٦
په لڅه لمونځ کونکي ته جامه حاصلېدل ۳۵۷
په رکوع او سجده باندې قادر کېدل ۳۵۷
صاحبُ الترتیب ته قضاء سوی لمونځ یادېدل ۳۵۷
نا اهل کس نائب جوړول ۳۵۸
د لمانځه په دوران کې وخت وتل ۳۵۸
د لمانځه په دوران کې زخم جوړېدل او پټی لوېدل ۳۵۹
د معذوره عذر ختمېدل ۳۵۹
د لمانځه په دوران کې بې اودسه کېدل ۳۵۹
د لمانځه په دوران کې بې هوښه یا مجنون کېدل ۳٦۰
د لمانځه په دوران کې جنابت یا احتلام پېښېدل ۳٦۰
ښځه د سړي راسته یا چپه طرف ته درېدل ۳٦۰
په مسجد حرام او مسجد نبوي کې به لمونځ گزار څنگه احتیاط کوي؟ ۳٦۱
د عورت ښکاره کېدلو یو صورت ۳٦۲
تر بې اودسیا وروسته د اودس لپاره د تگ او راتگ په وخت کې قرائت کول ۳٦۳
په لمانځه کې له اودس ماتېدو څخه وروسته بېله عذره پر خپل ځای درېدل ۳٦۳
د نژدې اوبو پر ځای لیرې اوبو ته تلل ۳٦۴
د بې اودسیا په گومان سره له مسجد یا صفونو څخه وتل ۳٦۴
د مسح د مودې ختمېدل یا د نجاست په گومان د لمانځه څخه وتل ۳٦۵
له خپل امام څخه بغیر بل چا ته فتحه ورکول ۳٦٦
له مقتدي څخه بغیر له بل چا څخه فتحه اخیستل ۳٦٦
د نوي لمانځه د شروع کولو په نیت سره تکبیر تحریمه ویل ۳٦٦
په لمانځه کې له قرآن شریف څخه قرائت کول ۳٦۷
د عورت د لڅوالي او د نجاست د موجودوالي په حالت کې لمونځ کول ۳٦۸
د مسبوق لپاره په سجدهٔ سهو کې د امام پېروي کول ۳٦۹

قعدهٔ اخیره نه راګرځول ۳۶۹
یو رکن د خوب په حالت کي اداء کول ۳۷۰
له قعدهٔ اخیره څخه وروسته د امام عمداً اودس ماتول ۳۷۰
په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه کي پر دویم رکعت سلام ګرځول ۳۷۰
د لمانځه په دوران کي د بچي شیدې رودل ۳۷۱
د لمانځه په دوران کي مرګ راتلل ۳۷۱
بَابُ زَلَّةِ الْقَارِئِ ۳۷۲
فَصْلٌ مَا لَا يُفْسِدُ الصَّلٰوةَ ۳۷۲
د لمونځ ګزار مخ ته پر څومره فاصله تېرېدل جائز دي؟ ۳۷۳
د ښځي پر شرمګاه د نظر لوېدلو حکم ۳۷۴
فَصْلٌ فِي الْمَكْرُوهَاتِ ۳۷۵
د کراهت قسمونه ۳۷۵
په لمانځه کي د مکروه اثر ۳۷۵
د لمانځه په دوران کي په جامه یا بدن لاس وهل ۳۷۶
د لمانځه په دوران کي د سجدې ځای بار، بار صفا کول ۳۷۷
په ګوتو تکان کول (له ګوتو څخه تکان ایستل) ۳۷۷
ګوتي په ګوتو کي اچول ۳۷۷
د لمانځه په دوران کي پر تشي لاس ایښوول ۳۷۸
په لمانځه کي شا و خوا مخ اړول ۳۷۸
په لمانځه کي پر کوناټو کښېنستل او اقعاء کول ۳۷۸
لیڅي پر ځمکه غوړول ۳۷۹
د لمانځه په دوران کي لستوني پورته ساتل ۳۷۹
یوازي په پرتوګ کي لمونځ کول ۳۸۰
په اشاره سره د سلام جواب ورکول ۳۸۰
بېله عذره چارزانو کښېنستل ۳۸۰
د سر وېښتان سره ټولول او تړل ۳۸۰
د سر مینځ لڅ پرېښوول ...... [illegible]
جامه را ټولول ۳۸۱

په سر یا اوږو باندي کپړه ځړېدونکې پرېښوول ۳۸۱
په څادروغیره کي ځان په پوره توګه پېچل ۳۸۲
اوږه ښکاره ساتل ۳۸۲
له ولاړي څخه بغیر په بل حالت کي قرائت کول ۳۸۲
په نوافلو کي اول رکعت اوږدول ۳۸۳
دویم رکعت اوږدول ۳۸۳
د سورت تکرار ۳۸۳
د ترتیب خلاف قرائت کول ۳۸۴
د دوو سورتونو په مینځ کي فصل کول ۳۸۴
په لمانځه کي قصداً خوشبویي بویول ۳۸۵
په لمانځه کي باد پکه (پیک) وهل ۳۸۵
په سجده کي د پښو د ګوتو حکم ۳۸۶
په لمانځه کي ارږمی کښل ۳۸۷
په لمانځه کي سترګي پټول ۳۸۷
په لمانځه کي سترګي پورته کول ۳۸۸
په لمانځه کي سره غځېدل (ځان کشول) ۳۸۸
د عملِ قلیل حکم ۳۸۸
په لمانځه کي بېله ضرورته سپږه وغیره وژل ۳۸۸
په لمانځه کي پزه یا خوله پټول ۳۸۹
په خوله کي داسي شی ایښوول کوم چي قرائت لره مانع وي ۳۸۹
د لنګوټې پر وَلْ یا پر تصویر سجده کول ۳۸۹
یوازي پر تندي سجده کول ۳۹۰
په لاره کي لمونځ کول ۳۹۰
په حمام کي لمونځ کول ۳۹۰
په بیتُ الخلا کي لمونځ کول ۳۹۰
په هدیره کي لمونځ کول ۳۹۱
د بل چا په ځمکه کي لمونځ کول ۳۹۱
نجاست ته نژدې لمونځ کول ۳۹۱
د متیازو یا غائطو د تقاضا په وخت کي لمونځ کول ۳۹۱

دکار په خیرنو جامو کي لمونځ کول ۳۹۳

په لڅ سر لمونځ کول ۳۹۳

دډوډۍ حاضرېدلو په وخت کي لمونځ کول ۳۹۳

دبې اطمینانۍ په ځای کي لمونځ کول ۳۹۴

تسبیحات په ګوتو سره شمېرل ۳۹۴

امام په محراب کي دننه درېدل ۳۹۵

امام پر لوړ ځای درېدل ۳۹۵

دداسي صف شا ته درېدل چي په هغه کي خالي ځای پاته وي ۳۹۵

که له نیت تړلو څخه وروسته وویني چي دمخ په صف کي ځای خالي دی ۳۹۶

دشا په نوي صف کي تنها درېدل ۳۹۶

په تصویر داره کي جامه کي لمونځ کول ۳۹۶

دتصویر په ځای کي لمونځ کول ۳۹۶

دلور مخ ته لمونځ کول ۳۹۷

تندی صفا کول ۳۹۸

یو خاص سورت متعینول ۳۹۸

په داسي ځای کي سُتره نه درول چي هلته دیو چا د تېرېدلو ګومان وي ۳۹۹

فَصْلٌ فِي اتِّخَاذِ السُّتْرَةِ وَدَفْعِ الْمَارِّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ ۳۹۹

دلمونځ ګزار مخ ته څومره اندازه لیري تېرېدل جائز دي دي؟ ۴۰۰

دسُترې حکم ۴۰۰

دسُترې درولو سنت طریقه ۴۰۱

دتېرېدونکي کس دمنع کولو طریقه ۴۰۲

دتېرېدونکي کس سره دجنګ نه کولو حکم ۴۰۴

فَصْلٌ فِيْمَا لَا يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّيْ ۴۰۵

دلمونځ ګزار لپاره دملا تړلو یا پر ځان دیو شي څرولو حکم ۴۰۵

قرآن یا توري وغیره ته مخامخ لمونځ کول ۴۰۷

دلمانځه په دوران کي مار او لړم وژل ۴۰۷

دلمانځه په دوران کي له بدن څخه جامه لیري کول ۴۰۸

فَصْلٌ فِيْمَا يُوْجِبُ قَطْعَ الصَّلَاةِ وَمَا يُجِيْزُهٗ وَغَيْرِ ذٰلِكَ ۴۱۱
په کومو صورتونو کي لمونځ ماتول واجب دي؟ ۴۱۱
د تارک الصلاة سزا ۴۱۴
بَابُ الْوِتْرِ ۴۱۶
دوترو لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۴۱۶
دوترو حکم ۴۱۱
دوترو دلمانځه طريقه ۴۱۷
د "دعاءِ قنوت" محل ۴۱۸
له دعاءِ قنوت شخه وروسته بله دعاء ۴۲۰
که دچا دعاءِ قنوت زده نه وي، نو څه حکم دی؟ ۴۲۳
دحنفي کس لپاره په شافعي امام پسي دسهار لمونځ کول ۴۲۴
په شافعي امام پسي وتر اداء کول ۴۲۴
که مقتدی دعاءِ قنوت هېره کړي او رکوع ته ولاړ سي ۴۲۵
که امام دعاءِ قنوت هېره کړي او رکوع ته ولاړ سي؟ ۴۲۶
مسبوق به دامام سره دعاءِ قنوت وايي ۴۲۷
په رمضان کي وتر په جماعت سره کول سنت دي ۴۲۷
دروژې په مياشته کي دماخوستن لمونځ تېرېدل ۴۲۸
فَصْلٌ فِي النَّوَافِلِ ۴۲۹
دنوافلو ضرورت ۴۲۹
دسنتو نيت ۴۳۰
دسنن غيرِ مؤکده بيان ۴۳۰
دسنن مؤکده په اوله ناسته (قعدۀ اولیٰ) کي به درود شريف نه وايي ۴۳۱
د قعده اولیٰ د پاته کېدلو حکم ۴۳۲
څلور رکعته نفل په يوه سلام سره کول افضل دي ۴۳۳
دشپې نفل دورځي له نفلو څخه افضل دي ۴۳۳
په لمانځه کي زياته ولاړه (درېدل) له زياتو سجدو څخه افضل دي ۴۳۴

فَصْلٌ فِیْ تَحِیَّةِ الْمَسْجِدِ وصَلَاةِ الضُّحٰی وَإِحْيَاءِ اللَّيَالِيْ ۴۳۵

د تحیة المسجد بیان ۴۳۵

د تحیة المسجد قائم مقام لمنځونه ۴۳۵

د تحیّة الوضوء بیان ۴۳۶

د تحیّة الوضوء فضیلت ۴۳۶

د څاښت د لمانځه بیان ۴۳۷

د څاښت د لمانځه وخت ۴۳۷

د څاښت د لمانځه فضیلت ۴۳۷

د څاښت په لمانځه کي کوم سورتونه ویل مستحب دي؟ ۴۳۷

د اشراق او د څاښت وضاحت ۴۳۸

د تهجّد و بیان ۴۳۸

د "صلاة الاستخاره" بیان ۴۳۸

که د لمونځ کولو موقع نه وي، نو استخاره به څنګه کوي؟ ۴۴۰

له استخارې څخه وروسته اصل د زړه میلان او رجحان دی ۴۴۱

آیا تر استخارې وروسته یوه طرف ته عمل ضروري دی؟ ۴۴۱

د استخارې حکمت ۴۴۱

د "صلاة الحاجة" بیان ۴۴۱

د صلاة الحاجة حکمت ۴۴۲

د روژې د میاشي د آخري لسو ورځو فضیلت ۴۴۲

د اختر د شپې فضیلت ۴۴۳

د ذی الحجې د اولو لسو شپو فضیلت ۴۴۳

د برات د شپې فضیلت ۴۴۴

فَصْلٌ فِیْ صَلَاةِ النَّفْلِ جَالِسًا وَالصَّلٰوةِ عَلَی الدَّابَّةِ ۴۴۵

نفلي لمونځ په ناسته کول ۴۴۵

نفلي لمونځ کونکي به څه ډول کېني؟ ۴۴۵

نفلي لمونځ څه په ولاړه او څه په ناسته کول ۴۴۵

د سپرتیا په حالت کي نفلي لمونځ کول ۴۴۶

نفل کونکي به بناء څنګه کوي؟ ۴۴۷

د سهار سنت پر سپارلي کول ۴۴۷

د نفل کولو په دوران کي پر یو شي تکیه کول ۴۴۸

پر سپارلي د نجاست سره لمونځ کول ۴۴۸

د تګ په حالت کي لمونځ کول ۴۴۹

فَصْلٌ فِيْ صَلَاةِ الْفَرْضِ وَالْوَاجِبِ عَلَى الدَّابَةِ ۴۵۰

د فاسد کړل سوي نفلي لمانځه حکم ۴۵۰

د جنازې د لمانځه صحیح کېدلو شرط ۴۵۱

پر سپارلي سجدهٔ تلاوت کول ۴۵۱

د عذر په وجه فرض او واجب لمونځ پر سپارلي کول ۴۵۱

فَصْلٌ فِي الصَّلَاةِ فِي السَّفِيْنَةِ ۴۵۳

په کښتۍ کي د لمونځ کولو بیان ۴۵۳

فَصْلٌ فِي التَّرَاوِيْحِ ۴۵۷

د تراویحو شرعي حیثیت ۴۵۸

د تراویحو د جماعت حکم ۴۵۸

په نارینه امام پسي د ښځو تراویح کول ۴۵۸

په یوه مسجد کي د تراویحو دوه جماعتونه ۴۵۹

د تراویحو وخت ۴۵۹

د تراویحو مستحب وخت ۴۵۹

د تراویحو رکعات ۴۶۰

تر هر څلورو رکعتو وروسته کېنستل ۴۶۰

د قرآن ختمولو حکم ۴۶۱

سنت اوراد پرېښوول ۴۶۲

د تراویحو قضاء نسته ۴۶۳

د تراویحو بعضي رکعتونه تېرېدل ۴۶۳

بېلابېلي مسئلې ۴۶۳

په تراویحو کي د قرآن پر ختم پیسې اخیستل ۴۶۴

په کعبه کي دننه یا پر کعبې د پاسه لمونځ کول ۴۶۵

بَابُ الصَّلَاةِ فِی الْكَعْبَةِ ۴۶۵
په کعبه کي په جماعت سره دلمونځ کولو يو صورت ۴۶۶
په مسجد حرام کي مقتدی له امام څخه مخکي کېدل ۴۶۶
بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ ۴۶۸
د سفر لغوي او اصطلاحي معنیٰ ۴۶۸
د سفر آداب ۴۶۸
د شرعي سفر اندازه ۴۶۸
د شرعي ميل، انګريزي ميل، ميتر او کيلو ميتر اندازه د لاس او ګز په اعتبار سره ۴۷۰
د قصر حکم ۴۷۱
د ګناه په اراده سره سفر کونکي لره هم د قصر حکم دی ۴۷۱
د سفر د مسافې اعتبار له کومه ځايه کيږي ۴۷۱
د لويو ښارونو حکم ۴۷۲
د ښار د فناء تعريف ۴۷۳
د سفر د نيت شرائط ۴۷۳
قصر عزيمت دی که رخصت ۴۷۵
که مسافر څلور رکعته وکړي، نو څه حکم دی؟ ۴۷۶
د قصر حکم تر کومه وخته پاتيږي؟ ۴۷۶
د شپې قيام لره اعتبار دی ۴۷۸
په دښت کي د اقامت نيت کول (او د کوچيانو حکم) ۴۷۸
په دارُ الحرب کي د اقامت نيت کول ۴۷۹
د مقيم کس د اقتداء حکم ۴۷۹
مسافر امام ته هدايت ۴۸۰
په مسافر امام پسي لمونځ کونکی مقيم به په خپل پاته لمانځه کي قرائت نه کوي ۴۸۱
وطنِ اصلي کله ختميږي؟ ۴۸۲
وطنِ اقامت کله ختميږي؟ ۴۸۲
له وطنِ اقامت څخه د نژدې علاقې وطرف ته سفر کول ۴۸۲
د وطنِ اصلي تعريف ۴۸۳
د وطنِ اقامت تعريف ۴۸۴

دنوکرۍ او دنديې د ځای حکم ۴۸۴

وطن سکنیٰ ۴۸۵

بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيْضِ ۴۸۶

کوم مریض په ناسته لمونځ کولای سي؟ ۴۸۶

که څوک لږ وخت پر درېدلو قدرت لري، نو څه حکم دی؟ ۴۸۷

په اشاره سره لمونځ کونکي به رکوع او سجده څنګه کوي؟ ۴۸۸

مخ ته یو شی را پورته کول او سجده باندي کول ۴۸۸

له ناستي څخه عاجز کس به څنګه لمونځ کوي؟ ۴۸۹

که پر درېدلو قادر وي خو رکوع او سجده نه سي کولای، نو څه حکم دی؟ ۴۹۱

که روغ کس د لمانځه په دوران کي مريض سي؟ ۴۹۲

که په ناسته لمونځ کونکی د لمانځه په دوران کي روغ سي؟ ۴۹۲

که په اشاره سره لمونځ کونکی روغ سي؟ ۴۹۳

دلېوني او بېهوښه کس د لمنځونو حکم ۴۹۳

که مریض د لمانځه رکعتونه او سجدې یاد نه سي ساتلای؟ ۴۹۳

فَصْلٌ فِيْ إِسْقَاطِ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ ۴۹۴

بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ ۴۹۸

ترتیب په کومو شیانو سره ساقطېږي؟ ۴۹۹

ساقط سوی ترتیب کله راګرځي؟ ۵۰۰

که صاحبِ ترتیب ته قضائي (فوت سوی) لمونځ په یاد وي، نو څه حکم دی؟ ۵۰۲

د قضائي لمنځونو نیت ۵۰۳

بَابُ إِدْرَاكِ الْفَرِيْضَةِ ۵۰۵

که د یولزي لمونځ کولو په وخت کي جماعت ودرېږي؟ ۵۰۵

که د نفلو یا سنتو په دوران کي جماعت ودرېږي، نو څه حکم دی؟ ۵۰۷

[illegible]

دسهار دسنتو مسئله ۵۰۸
دسهار دسنتو قضاء ۵۰۹
دماپښین دسنتو قضاء ۵۱۰
لمونځ ګزار کله دجماعت نیونکی یا دجماعت دفضیلت حاصلونکی شمېرل کیږي؟ ۵۱۰
دسنتو او نفلو اهمیت ۵۱۱
درکوع نیونکی حکم ۵۱۲
که مقتدی له امام څخه مخکي رکوع ته ولاړ سي، نو څه حکم دی؟ ۵۱۲
تر اذان وروسته له مسجد څخه دوتلو حکم ۵۱۳
تر لمونځ کولو وروسته دهغسي لمونځ کولو حکم ۵۱۴

* * *

﴿د فتحُ الایضاح خصوصیات﴾

(۱)... د عربي عبارت د هرې جملې تر څنگ آسانه ژباړه او په کوم ځای کې چې جمله او عبارت مشکل وي، په قوسَینو کې په آسانه الفاظو سره د هغه وضاحت.

(۲)... هرې مسئلې ته نمبر (رقم) ورکړل سوی دی او په دې توگه له کتابُ الطهارة څخه تر کتابُ الحج پورې په ټوله کتاب کې (۱۴۸۲) ارقام په وجود کې راغلي دي، په نُور الایضاح کې (۱۴۸۲) مسائل دي، خو ځینو اوږدو مسئلو یا څو نورو ضمني مسائلو ته هم جلا نمبر ورکړل سوی دی.

(۳)... د عربي عبارت بشپړ د هر حرف اعراب، په پوره تحقیق او تدقیق سره.

(۴)... د لغاتو پوره، کافي حلّ او د هغوی صرفي تحقیق.

(۵)... د هرې مسئلې تشریح او بشپړ وضاحت.

(٦)... د عنواناتو اضافه.

(۷)... د ضروري مسئلو اضافه، په بعضي عباراتو کې د مسئلې تر تشریح وروسته د هغه عبارت سره مناسبې مسئلې هم اضافه سوي دي، د دې لپاره چې د عبارت د مسئلې تر څنگ په نورو مسئلو باندې هم علم راسي.